فسئلوا اهل الذكر ان كنتم لا تعلمون

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

افادات

محدث کبیر فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ مولانا مفتی محمد فرید رحمہ اللہ

جامعہ دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

تخریج و ترتیب

مفتی محمد وہاب منگلوری مدرس دار العلوم صدیقیہ زروبی

مکتبہ رشیدیہ

جی ٹی روڈ سردار پلازہ اکوڑہ خٹک

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فَاسْئَلُوٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوی فریدیہ

پنجم جلد

افادات
محدث کبیر فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ
مولانا مفتی **محمد فرید** رحمۃ اللہ علیہ
جامعہ دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

تخریج وترتیب
مفتی محمد وہاب منگلوری
مدرس دار العلوم صدیقیہ زروبی

ترجمہ وکمپوزنگ
دار الترجمہ وکمپوزنگ سنٹر
عبد الغنی پلازہ محلہ جنگی پشاور

زیر سرپرستی
مولانا حافظ **حسین احمد صدیقی** نقشبندی
مہتمم دار العلوم صدیقیہ زروبی ضلع صوابی

ناشر
مکتبہ رشیدیہ اکوڑہ خٹک

دکتاب نوم: فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (پنځم جلد)

افادات: محدث کبیرفقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله مولانا
مفتی محمد فرید مجددی زروبوی رحمه الله
شیخ الحدیث وصدر دارالافتاء جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

ترتیب و تخریج: مولانا مفتی محمد وهاب منګلوری نقشبندی
دارالافتاء دارالعلوم صدیقیه

معاون: مولانا مفتی عصمت الله حقانی

مترجمین: مولانا محمد منظر مردانی فاضل جامعه امداد العلوم صدر
برهان الدین صدیقی فاضل جامعه دارالعلوم کراچی
ایم اے پشاور یونیورستی (فون: ۰۳۴۴_۹۱۲۹۰۲۳)

مصحح: مولانا لطف الرحمن صاحب مدرس ونګران قاسم العلوم شبقدر

کمپوزنګ: دارالترجمه وکمپوزنګ سنټر عبدالغنی پلازه محله جنګی پشاور

ضخامت: ۶۰۷ صفحات

رومبی چهاپ: اکتوبر ۲۰۱۱ء .... شوال ۱۴۳۲ھ

زیر سر پرستی: مولانا حافظ حسین احمد صدیقی نقشبندی
مهتمم دارالعلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی (پاکستان)

ناشر: مکتبه رشیدیه سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره

رابطه نمبر: ۰۳۴۴-۹۰۸۴۶۹۳

فهرست مضامین

مضمون	صفحه
باب المهر	
د مهرعدم تقرریا مهر نه کیخودلوسره په نکاح باندې هیڅ اثر نه پریوځی	۳۹
حق مهر نه ورکولو یا خرڅولوسره په نکاح باندې څه اثر نه پریوځی	۳۹
په مهر کښې هر قسمه مال متقوم مقرر کولې شی	۴۰
د مهرفاطمی مطلب او مقدار	۴۱
د مهر شرعی مقدار	۴۳
د مهر شرعی د کم نه کم مقدار	۴۴
د مهرشرعی د کم نه کم مقدار اود موجوده کرنسۍ حساب سره تفصیل	۴۵
کم نه کم د مهر شرعی په مقدار او زیاتوالی کښې مبالغه ښه نده	۴۶
زیاتوالې د مهر مباح دې لیکن افضل نه دې	۴۸
زیاتوالې د مهر امر مندوب نه دې بلکه کموالې د مهر مندوب دې	۵۰
تکثیر مهرمباح دې خو د ذریعې د محرماتو د جوړیدلو د وجهې نه منع کړې شوې دې	۵۱
په مغالات فی المهر کښې د اعتداء مخ نیوې داهل حل وعقد (حکمرانانو) د پاره جائزدې	۵۲
باقاعده مهر مقررولو سره شغار متحقق کیږی نه	۵۳
مهر مقرر کولو نه پس مشترکه رضامندۍ سره دې کښې کمې زیاتې جائزدې	۵۴
د ښځې د مرضۍ نه بغیر مهرکښې کمې جائزنه دې	۵۴
یوځلې مجلس کښې د مهر مقررولونه پس د زیاتوالی د مطالبې حکم	۵۵
د مهر د کمی اختیارجینۍ ته حاصل دې والدین اوجرګې ته نه	۵۶

باب فی الاولیاء

صفحه	مضمون

باب الرضاعة

صفحه	مضمون

باب حرمة المصاهرة

مضمون	صفحه

باب الحضانة

باب الولیمة

مضمون	صفحه

باب حقوق الزوجین

کتاب الطلاق

باب شرائط الطلاق

باب صريح الطلاق

باب کنایات الطلاق

باب تعلیق الطلاق

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

باب ما لایقع به الطلاق

باب القضاء ودعوی الطلاق والنکاح

مضمون	صفحه

فصل فی تنسیخ النکاح

صفحه	مضمون

فصل فی تفریق زوجة مفقود الخبر والمجنون وغیره

صفحه	مضمون

فصل فی العنین

بسم الله الرحمن الرحیم

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (پنځم جلد)

الحمد لله الذي اجري بحكمته مقادير الامور، ودبر السموت والارضين على مر الدهور، والصلاة والسلام على سيدنا ومولانا محمد عبده ورسوله شفيع العصاة يوم النشور، وعلى آله واصحابه ما اضاء النهار واظلم الديجور، اما بعد!

د الله تعالی ډیر شکر دې چه هغه په خپل ډیرزیات رحمت او خصوصی فضل وکرم سره زما په شان بې وسه کمزورې بنده د فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه د ترتیب اوتحقیق اوتخریج اوتحشیه په علمی خدمت باندې لګولې یم، بنده فقیر(مرتب) یو ادنی طالب علم دې او د لوستلو او لیکلو لږ ډیر شوق لرې، ورنه من آنم که من دانم، خودا دالله تعالی دخصوصی مهربانۍ او فضل وکرم کرشمه ده، چه په دې خدمت کښې ئې کامیابی راکړه او حوصله افزائی ئې راکړې ده.

بعضې دوستان کله کله دا اظهارکوی چه وخت زیات لګی ددوی خواهش دې چه په کم نه کم وخت کښې فتاوی مکمله شی اومنظرعام ته راشی، بنده ته هم ددې احساس شته چه ددوی دا جذبه دې کار لره زر تکمیل ته د رسولو اود محبت په وجه ده، لیکن اهل علمو ته ښۀ معلومه ده چه دا کار د څومره محنت غواړی، څومره مشکل اود سکون او اطمینان تقاضا کوی، ځکه چه په رجسترو کښې د خورو ورو په زرګونو مسئلو د کتاب، باب اود فصل وار ترتیب، د هر عربی عبارت تخریج او بالخصوص په کومو فتاوو کښې چه حوالې درج نه دی دهغې دپاره باقاعده حواله جات په تلاش کولو کښې په درجنونو کتابونه کتل اوپه بعضې ځایونو کښې د تحقیقی حواشی لیکل وغیره څه آسان کارنه دې، بالخصوص دحضرت شیخنا المعظم حضرت مفتی اعظم دامت برکاتهم د ذات بابرکات د فتاوې حوالې سره دلائل او براهین او د تفصیل او اعجاز په اعتبارسره د منفرد او امتیازی شان حامل ده، دغسې ددوی د مخصوص طرز فکر لحاظ هم دې، چه هغه هم هغسې اهل علمو ته منتقل شی، په دې وجه دا کار پخپله د زیات وخت تقاضا کوی، او مونږ دې لره د معیاری جوړولو کوشش کوو.

په دې جلد کښې د کتاب النکاح او کتاب الطلاق ابواب او فصول جمع کړې شوې دی، اوچرته چه په یوه مسئله کښې دحضرت صاحب مخصوص طرز فکر او علمی

تحقیق دې هلته مونږ کوشش کړې دې چه دحضرت د نورو تصانیفو مثلاً منهاج السنن او هدایة القاری وغیره نه دا مدلل کړې شی چه ددې په تعیین او تحقیق کښې هیڅ شبه باقی پاتې نه شی.

ددې جلد هره یوه مسئله او تحقیق او تحشیه رئیس دارالافتاء جامعه حقانیه سیدی واستادی حضرت مولانا مفتی سیف الله حقانی صاحب مدظله العالی ډیر په ژور نظرسره کتلې ده، ددې نه علاوه ددې جلد هم ټول ابواب او فصول وخت په وخت دحضرت مولانا شیخنا المعظم حضرت مفتی اعظم دامت برکاتهم په خدمت کښې پیش کړې شول، اود سختې کمزورئ او تکلیف او بیمارئ باوجود ئې اوکتل اود خوشحالئ اظهار ئې اوکړو، او بنده ته ئې خصوصی دعاګانې اوکړې.

بنده دهغه ټولو دوستانو شکریه اداکول ضروری ګڼړی چه هغوی د کتابونو مطالعه کولو اوپه تخریجی امورو کښې معاونت کړې دې بالخصوص مولانا محمد اسحاق حقانی،اود درجه تخصص فی الفقه بعضې طلباء کرام مولانا عزیزالرحمن، مولانا پروانت خان، مولانا احسان الله، مولانا عبدالحئ او مولانا عبدالغفار صاحب، په اردو محاوره او پروف کتلو کښې مولانا احسان الله تانو او نورحضرات، دغسې مولانا حافظ ولی الرحمن صاحب صدیقی په کمپوزنګ کښې د پوره کوشش اومشقت نه کار واخستلو، الله تعالی دې زمونږ د ټولو محنتونه قبول کړی اود فلاح دارین ذریعه دې جوړه کړی.

په آخرکښې سرپرست اونګران او خپل مهربان استاذ حضرت مولانا مفتی سیف الله حقانی مدظله العالی اود مولانا خواجه حافظ حسین احمد صدیقی صاحب زیدمجدهم اود خپلو ټولو استاذانو دامت فیوضهم په خدمت عالیه کښې هدیه د تشکر پیش کول خپله فریضه ګڼم، چه ددوی تعلیم او تربیت، حوصله افزائی اود دعاګانو په برکت سره دا کار سرته رسیدلو والا دې، الله تعالی دې دې ټولو بزرګانو، زما مورپلار اوحضرت شیخنا المعظم حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم د عاطفت سورې همیشه دپاره زمونږ په سرونو قائم اوساتی......آمین یارب العالمین.

طالب دعا

محمد وهاب منګلوری عفی عنه (سوات)

مرتب فتاوی دیوبند پاکستان

بسم الله الرحمن الرحیم

باب المهر

د مهرعدم تقررئ یا مهر نه کیخودلوسره په نکاح باندې هیڅ اثر نه پریوځی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه څما د نکاح په وخت کښې حق مهر شل زره روپئ لیکل خوښ کړئ شو، ما په هغې باندې اعتراض اوکړو چه دا زیاتې دی حالانکه مونږ خبره د پنځوزرو کړې وه، هغوی اووئیل چه مهر څوک ورکوی او اخلی دا خو محض خودنه ده، بیا ما د چا نه واوریدل چه د نکاح په وخت کښې داسې وئیلوسره نکاح باطلیږی شرعی مسئله خودلوسره په مونږ باندې مهربانی اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: اخترخضری کهاریان. ۱۹۷۹ء ۱۷/۱/۷۱

الجواب: ټولوفقهائې کرامو لیکلی دی چه د مهرعدم تقررئ او نه کیخودلو سره نکاح ته څه نقصان نه رسی. کما فی الهدایه﴿۱﴾ وهوالموفق

حق مهر نه ورکولو یا خرڅولوسره په نکاح باندې څه اثر نه پریوځی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو کس نکاح کولوسره حق مهر(اووه تولې سونا) ښځې ته ورکړه، لیکن روستو ښځې په رضامندئ سره هغه مهرزیورات ئې خرڅ کړل او کاروبارئې پرې شروع کړو، ایا ددې حق مهر په خرڅولوسره په نکاح باندې څه اثرپریوځی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مثل خان خلیل خیبر کالونئ تهکال پشاور.....۱۴۰۱/۷/۱۴ه

﴿۱﴾ قال العلامة المرغینانی: ویصح النکاح وان لم یسم فیه مهرا لان النکاح عقد انضمام وازدواج لغة فیتم بالزوجین ثم المهر واجب شرعا ابانة ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

حق مهر نه ورکولو یا واپس اخستلو یا خرڅولو سره په نکاح باندې

الجواب: حق مهر نه ورکولو یا واپس اخستلو یا خرڅولو سره په نکاح باندې هیڅ اثر نه غورځیږي ځکه چه د ګواهانو یا د نکاح خوان وغیره په مړ کیدلو سره په نکاح باندې هیڅ اثر نه پریوځي.﴿۱﴾ وهو الموفق.

په مهر کښې هر قسمه مال متقوم مقرر کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په لسم نومبر ۱۹۸۱ء پیښور چهاونۍ کښې یو نکاح منعقد شوه، څلور تولې طلائی د کالو په حساب سره مبلغ اته زره روپۍ مقرر شوۍ، پنځم نومبر ۱۹۸۲ء کښې واده کیدلو والا وو چه یو سړی د مجلس حاضرینو ته په اوچت اواز سره اووئیل چه ړومبۍ نکاح منعقد شوې نه ده ځکه چه تاسو خلقو په مهر کښې کالی مقرر کړی دی، او په مهر کښې کالی نامنظور وی ددې وجه نه نکاح باطله ده، ایا ددې سړې دا خبره صحیح ده او نکاح به دوباره تړلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مستحب ګل عباس کلې سرډهیری چارسده ۲۷\محرم ۱۴۰۳ هـ

الجواب: مال متقوم مهر کښې مقررولې شی، اګرچه سونا چاندی وی یا روپۍ(نوټ) وی او اګر چه سونا چاندی د کالو په شکل کښې وی یا په بل شکل کښې وی.(شامی﴿۲﴾.........................

(بقیه حاشیه)لشرف المحل فلا یحتاج الی ذکره لصحة النکاح.

(هدایه ۲:۳۴۵ باب المهر)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: للمرأة ان تهب مالها لزوجها من صداق دخل بها زوجها اولم یدخل...... ولو وهبت من ورثته یجوز ولو وهبت مهرها بشرط فان وجد الشرط یجوز وان لم یوجد یعود المهر کما کان هکذا فی التتارخانیة.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۳۱۶ الفصل العاشر فی هبة المهر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: فضة وزن سبعة مثاقیل کما فی الزکاة مضروبة کانت اولا ولو دینا او عرضاً قیمته عشرة وقت العقد، قال ابن عابدین: وکذا لو منفعة کسکنی داره ورکوب دابته وزراعة ارضه حیث علمت المدة ......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

.........بحر﴿۱﴾ هندیه﴿۲﴾ وهو الموفق.

د مهرفاطمی مطلب او مقدار

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د مهرفاطمی څه مطلب دې او ددې حساب په کومه طریقه وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحیم صدرتحفظ حقوق ډیره... ۳۰\ربیع الاول ۱۴۰۲ هـ

الجواب: ددې اصطلاح څه پته نشته، خوبیا هم مهرفاطمه رضی الله عنها د نورو بیبیانو په رنګې دولس نیمې اوقیې وو، او یو اوقیه د څلویښتو درهمو برابر وی، نو پنځه سوه درهمه شو او لس درهمه د اوو مثقالو برابر وی نو دوه سوه درهمه د یو سل څلویښتو مثقالو برابرشو، او پنځه سوه درهمه د دریوسوو پنځوسو مثقالو برابر شو، یو مثقال څلور نیمې ماسې وی نو ټول ۳۵۰×۴،۱\۲ = ۱۵۷۵ ماسې شوۍ، بیا ددینه تولې جوړې کړۍ او د چاندۍ قیمت معلوم کړۍ نو هغه به د مهر فاطمی مقدار وی. وهو الموفق

کتبه: رشیداحمد حقانی

رواه ابوداؤد فی باب الصداق﴿۳﴾ نو تقریباً یوسل یودیرش تولې او درې

(بقیه حاشیه) کما فی الهندیة قلت ولا بد من کونها مما یستحق المال المال بمقابلتها لیخرج ما یأتی من عدم صحة التسمیة فی خدمة الزوج الحر لها وتعلیم القرآن.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۵۸ باب المهر)

﴿۱﴾قال العلامة ابن نجیم: ومراد المصنف ان اقله عشرة او ما یقوم مقامها بالقیمة.

(البحر الرائق ۳:۲۵۰ باب المهر)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: المهر انما یصح بکل ماهو مال متقوم والمنافع تصلح مهراً الخ.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۰۲ الباب السابع فی المهر)

﴿۳﴾عن ابی العجفاء السلمی قال خطبنا عمر فقال الا.....

(بقیه حاشیه اګلے صفحه پر)

ماشې چاندی دی ﴿١﴾ وهو الموفق.

الجواب صحیح... محمد فرید عفی عنه

(بقیه حاشیه) لا تغالوا بصدق النساء فانها لو كانت مكرمة في الدنيا او تقوى عند الله كان اولاكم بها النبي ﷺ ما اصدق رسول الله ﷺ امرأة من نسائه ولا اصدقت امرأة من بناته اكثر من ثنتى عشرة اوقية. (سنن ابی داؤد ١: ٢٨٧ باب الصداق)

﴿١﴾ شیخ الاسلام مولانا سید حسین احمد مدنی رحمة الله علیه په خپلو مکتوباتو کښې فرمائی: چه څنګه دغلط رسمونو داصلاح کوشش کړې شوې دې ددې (مغالاة فی الامهار) هم پکاردې، یوسل دوه دیرش تولې سپین زر (پنځه سوه درهم) داسې مقداردې چه عام طور ئې مسلمانان اداکولې شی، اوددې اراده هم کولې شی، ددې نه علاوه دا یوه برکتناکه طریقه دجنت دبی بی (رضی الله عنها) ده، چه دې سره د فال حسن او برکات عظیمه موقع حاصلیږی ظاهره ده چه هرکله په هندوستانی ذهنونو کښې دمهر وصولول موجود هم نه دی او نه دې لره د بضعې معاوضه ګڼړلې کیږی بلکه شرعی رسم ګڼړلو سره ددې ذکرکول ضروری ګڼړلې شی، نو ولې نه هغه عدد وانخستلې شی چه هغه په ټولو کښې برکت والا وی نه ډیرکم مقدار دمهر (لس درهم) دې اونه اعلی ترین (قناطیر مقنطرة) وی، شرافت او عزت به ددې نه زیات څه وی چه سیدة نساء اهل الجنة اود سرکار کائنات علیه الصلاة والسلام دجسم مبارک د ټکړې دا مهردې، فاطمة بضعة منی، مشکوٰة ٥٦٨ حدیث باندې غور اوکړئ. (فتاوی شیخ الاسلام ص٩٣ د مهرفاطمی باره کښې دحضرت موقف)

بهرحال دسیدة النساء فاطمة الزهرا رضی الله عنها چه کوم مهر مقررشوې وو هغې ته مهرفاطمی وائی، دعهدرسالت د اوزان مطابق دا دولس نیم اوقیه سپینو زرو باندې شوې وه، یوه اوقیه د څلویښتو درهمو برابر، دې حساب سره د دولس نیم اوقیه پنځه سوه درهم شو، یو اوقیه ١٠.٥ تولې وی نو دولس نیم اوقیه ١٣١,٢٥ تولو برابر شو یعنی ١٣١ تولې او درې ماشه. په منهاج السنن شرح ترمذی کښې دی.

صداق رسول الله ﷺ ثنتا عشرة اوقية ونش اى نصف اوقية، والاوقية اربعون درهماً فالمجموع خمس مأة ويحصل منها مأة وواحدة وثلثون تولجة وثلاث ماهجات وهى تساوى...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د مهر شرعی مقدار

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه موجوده دور کښې د شرعی حق مهر مقدار څه دې او په هغې کښې کمئ زیاتې کیدلې شی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: امان الله ډائریکټر W.S.M پشاور...... ١٩٧٩ء١٧/٧/١٧

الجواب: د حق مهر څه اوچت حد نشته، البته دا ضروری ده چه د لسو روپو شرعی نه به کم نه وی ﴿١﴾ چه پاکستانی وزن سره دوه تولې اووه نیمې ماشې

ثلثمأة وخمسون مثقالا وذكر صاحب المواهب ان مهر فاطمة كان اربع مأة مثقال فضة فلعل المثاقيل كانت مختلفة.

(منهاج السنن شرح ترمذی ٤: ٢٦٨ باب فی مهور النساء)

داقول (١٣١ توله ٣ ماشه) دحضرت مولانا مفتی عزیزالرحمٰن دیوبندی اود مولانا مفتی محمد شفیع رحمهم الله هم دې اوس په دې حساب سره چه پنجابی توله ١١,٦٦٤ ګرام وی نو مهرفاطمی یوکلو ٥٣١ ګرام سپین زر جوړیږی اودا احوط دې

دمهر فاطمی په باره کښې دوه اقواله دی لکه څنګه چه د منهاج السنن دعبارت نه واضح کیږی لیکن په دې کښې رومبې مقدار دحدیث اوسیرت د روایاتو نه ثابت دې، اودویم مقدار څلورسوه مثقالو والا یاخو په اختلاف د اوزان باندې محمول دې یا داچه دا صرف د تاریخ الخمیس روایت دې لهٰذا رومبې مقدار راجح دې، ددې نه علاوه په مهرفاطمی کښې د موجوده اوزانو په حساب سره نور اقوال هم شته، دمولانا مفتی محمود الحسن صاحب ګنګوهی دتحقیق مطابق مهر فاطمی څلورسوه مثقاله چه د یونیم سل توله سپین زر برابردې (ماهنامه نظام جولائی ١٩٧٥ء) دا قول دمولانا سید احمد رضا بجنوری هم دې (انوارالباری شرح بخاری ٤: ٢١) د بعضې محققینو په نزد مهرفاطمی د ١٤٠ توله سپین زر برابردې (نظام الفتاوی ٢: ٢٠٨) اوپه احسن الفتاوی کښې مهرفاطمی ٤٨٠ درهم یعنی یوکلو ٢٣٢٩٦ ګرام سپین زر لیکلې شوې دې.

زمونږ په نزد هغه وزن ماخوذ به دې کوم چه په جواب کښې لیکلې شوې دې او اکثرعلماء هم ددې قائل دی. والله اعلم (از مرتب)

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفي: المهر اقله عشرة دراهم ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

کیږی او فی توله د پنځه ویشت روپو په نرخ سره تقریباً پنځه شپیته روپئ پاکستانئ جوړیږی.﴿۱﴾ وهوالموفق

د مهر شرعی د کم نه کم مقدار

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه مهرشرعی لس درهمه پاکستانی لحاظ سره څومره جوړیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حامدانور متعلم حقانیه......۳۱\۱۲\۱۹۸۵

جواب: دمهرشرعی دکم نه کم مقدار لس روپې شرعی (دوه تولې اوونیمې ماشې) دی اوپنځوس روپئ فی تولې حساب سره ۱۳۰ روپئ ۲۵ پیسې جوړیږې صرح به الحنفیه﴿۱﴾ولحدیث ....

(بقیه حاشیه) لحدیث البیهقی وغیره لا مهر اقل من عشرة دراهم...... فضة وزن سبعة مثاقیل کما فی الزکاة...... وتجب العشرة ان سماها او دونها ویجب الاکثر منها ان سمی الاکثر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۵۷ باب المهر)

﴿۱﴾ په فتاوٰی دارالعلوم دیوبند کښې لیکلی دی چه لس درهم سپین زر دوه تولې اووه نیم ماشې وی. (فتاوٰی دارالعلوم دیوبند ۸: ۲۳۰ احکام مهر) حالانکه د مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله په اوزان شرعیه کښې دمهر کم نه کم مقدار ۳۱,۵ ماشه مطابق ۳۰,۶۱۸ گرام سپین زر لیکلی شوی دی. داپه دې حساب سره چه یو درهم درې ماشه ۱\۵ ۲ رتی وی. ددې حساب کولو سره دوه تولې اووه ماشې څلور رتئ راځی. ددې نه علاوه مولانا مفتی رشید احمد لدهیانوی رحمه الله په ``بسط الباع لتحقیق الصاع،، کښې د درهم په وزن کښې دخپل تحقیق په بنا باندې اختلاف کړې دې، او لس درهم ئې ۳۴.۰۲ گرام چاندی گرځولې دی. بهرحال دا کمې زیاتې دمختلف علاقو ناپ تول د نورو علاقو ناپ تول کښې د اچولو په وجه ضروری دې. اود بنیاد مختلف کیدو په وجه دا اختلاف راوځی. او دا کمې زیاتې دومره لږ مقدار کښې وی چه ددې لحاظ نه کیږی پس ددې ټولو علماؤ تحقیقات صحیح او معتبر منلې شی.....(از مرتب)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: المهر اقله عشرة دراهم ...... (بقیۀ حاشیه په راروانه صفحه)

ورد بذلک﴿۱﴾وهوالموفق

د مهرشرعی د کم نه کم مقدار اود موجوده کرنسئ حساب سره تفصیل

سوال: څه فرمایئ علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دانگریزحکومت په وخت کښې شرعی حق مهر۳۵ روپئ لس آنې ووچه کله دشپاړسوآنوروپئ شمارلې کیدله اوس غالباً د سنه ۷۱، ۷۲ ء نه د روپئ قیمت کم شو لس

(بقیه حاشیه) لحدیث البیهقی وغیره لا مهر اقل من عشرة دراهم...... فضة وزن سبعة مثاقیل کما فی الزکاة مضروبة کانت اولا.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۵۷ باب المهر)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن الهمام: عن جابر رضی الله عنه یقول قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ولا مهر اقل من عشرة، من الحدیث الطویل قال الحافظ: انه بهذا الاسناد حسن ولا اقل منه، وقال فی تخریجه الشیخ عبد الرزاق غالب المهدی: غریب فهذا الطریق لم یذکر وابن ابی حاتم فی علله ۱۲۰۸ عندما سأل ایاه عن هذا الحدیث وطرقه وتقدم کیف ابطله ابوحاتم فلو کان عند هذا الاسناد الحسن لذکره، وهذا الحدیث یعرف عن جابر من طریق مبشر بن عبید کذا رواه غیر واحد والیک الخبر، اخرج الدارقطنی ۳: ۲۴۵ والبیهقی ۷: ۱۳۳ کلاهما من حدیث جابر، لا تنکحوا النساء الا الاکفاء ولا یزوجهن الا الاولیاء ولا مهر دون عشرة دراهم، قال الدارقطنی والبیهقی فی اسناده مبشربن عبید وهو متروک واخرجه ابن الجوزی فی الموضوعات ۲: ۲۶۳ وقال: قال ابن عدی: هذا حدیث باطل لا یرویه الا مبشر بن عبید، قال احمد احادیثه موضوعات کذب، ومما یدل علی ذلک ان ابن حجر خرج حدیث الکفاءة فی الکشاف ۱: ۲۶۳ مستوفیا فذکره من جمیع طرقه دون کونه من حدیث جابر ثم اذ عن لقول ابی حاتم: هذا الحدیث ضعیف من جمیع طرقه ولذا قال الزیلعی: طرقه کلها ضعیفة استوفیناها فی الاسعاف بتخریج الکشاف.

(فتح القدیر ۳: ۲۸۱ فصل فی الکفاءة)

یولس آنې شوخو په اندرون ملک کښې شپاړس آنې هم حساب چلیګې اوس دا افواه چلیګې چه سابقه ۳۵ روپۍ اولس انې دموجوده حساب یوسل شپږ یا یوسل اوورو پۍ جوړیګې. ځما ذاتی فهم او پوهې مطابق که د روپۍ قمیت یولس انې حساب باندې خیال کړائشی نو موجوده باقی اوؤه پنځوس روپۍ جوړیګی. خو یوسل شپږ یا یوسل اوورو پۍ دهیڅ حساب نه صحیح نه معلومیږی تاسو په دې قسم باندې غوراو کړئ او دتفصیلی حکم نه مو خبر کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: نائب صوبیدار شیر محمد راولپنډی......١٩٧٥ء١٤١\١٢

جواب: واضحه دې وی چه مهر شرعی کم نه کم لس روپۍ شرعی دې یعنی دوه تولې او ونیمی ماشې نو د پنځلس روپۍ فی تولې حساب سره تقریباً پو کم یو کم څلویښت روپۍ کم نه کم شو ﴿۱﴾ او په مهر کښې دزیاتوالی څه حد مقرر نه دې. کما صرح حوابه ﴿۲﴾. وهو الموفق

کم نه کم د مهر شرعی په مقدار او زیاتوالی کښې مبالغه ښه نده

سوال: څه فرمايئ علماء دین دې مسئلې باره کښې چه بعضې خلق په مهر کښې شپږ دیرش زره روپۍ او بعضې خلق شل زره روپۍ مقررولی شی او په اوله

﴿۱﴾ قال الشیخ الغنیمی: واقل المهر عشرة دراهم وزن سبعة مثاقیل سواء کانت مضروبة او غیر مضروبة او ما قیمته عشرة دراهم یوم العقد.

(اللباب فی شرح الکتاب ۲: ۱۴۹ کتاب النکاح)

﴿۲﴾ قال العلامة ابی الحسن السغدی: واما المهر فانه لا نهایة لاکثره وفی اقله ثلاثة اقاویل قال ابو حنیفة واصحابه اقل المهر عشرة دراهم وما یکون دونها فهو مهر البغی الخ.

(النتف فی الفتاویٰ ص ۱۹۰ باب المهر)

ورځ دواده جینۍ او هلک په یو کمره کښې بنده وی او تقریباً جینۍ مجبوره کړې او هغه ښښنه او کړی ایا دا مقدار مهر مقررول جائز دی

المستفتی: نامعلوم......١٢\١ محرم١٣٩٧ھ

الجواب: ښکاره دې وی چه مهر کم از کم لس روپۍ شرعی (دوه تولې او وه نیمې ماشې چاندی) کیدل پکار دی ﴿۱﴾ د دینه زیات مقررول مشروع دی. البته زیاتوالې ممدوح نه دې، ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: اقله عشرة دراهم فضة وزن سبعة مثاقیل قال ابن عابدین: هو ان یکون کل درهم اربعة عشر قیراطاً شرنبلالیة.

(الدر المختار مع رد المحتار ۲: ۳۵۷ باب المهر)

د اوزان شرعیه (مفتی محمد شفیع رحمة الله علیه) په آخر کښې نقشه رائج الوقت کښې د مهر کم از کم مقدار ۱۳,۵ ماشه سپین زر لیکلې شوې دې. مطابق ۳۰,۲۱۸ ګرام سپین زر لیکلې شوې دې. او مولانا مفتی رشید احمد رحمة الله علیه ۳۴,۰۲ ګرام سپین زر لیکلې دې.

وقال العلامة عبد الرحمن الجزیری: وقدر بعضهم الدرهم الشرعی باربعة عشر قیراطاً وقدر القیراط باربع قمحات وسط، فیکون الدرهم ۵۶ قمحة، وقدره بعضهم بالخرنوبة، وقال ان الخرنوبة تزن اربع قمحات وهو یزن ۱۶ خرنوبة، فتکون زنة الدرهم ۶۴ قمحة، ولکن التحقیق ان المعتبر فی وزن الدرهم الشرعی ان یکون اربعة عشر قیراطاً کل قیراط یساوی خمس حباب، فتکون زنة الدرهم الشرعی سبعین حبة، فالمراد بالدرهم الصنجة وهی آلة الوزن المعروفة، وهی بالخرنوبة ۲/۱۷۱ لان الخرنوبة ۴ قمحات ویساوی الدرهم فی زماننا اربعة قروش صاغ تقریباً.

(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ۴: ۹۰ شروط المهر)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری: (عن عمر بن الخطاب قال الا لا تغالوا صدقة النساء) ...... المغالاة التکثیر ای لا تکثروا مهورهن (فانها لو کانت مکرمة فی الدنیا وتقوی عند الله لکان اولاکم بها) ای بمغالاة المهور...... فان قلت: نهیه ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

زیاتوالي د مهر مباح دي لیکن افضل نه دي

سوال: څه فرمائی علماء دین دي مسئلي باره کښي چه قبائل او خصوصاً افغانستان کښي مهر لس دولس لاکهـ روپۍ ایخودلي کیږی ددي څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی سعیدگل حقانی جلال اباد...۱۹۸۷ء ۱۱۲۱

جواب: زیاتوالي په مهر کښي مباح دي لیکن افضل نه دي، لاثر: **لاتغالوا** بصداق النساء (ابوداؤد شریف: ۲۸۷)﴿۱﴾ اوکوم مباح چه د فساد او گناه ذریعه جوړه شی هغه ممنوع کیږی، کما صرحوا بـه﴿۲﴾ تکثیرکه دربلاد افغانستان وغیره است ذریعه کثرت زناولواطت واستمناء بالیدوحرام خوری (والدین منکوحه) وغیرها است. پس د حکامو او علماؤ دپاره

(بقیه حاشیه) عن المغالاة مخالف لقوله تعالیٰ، فان آتیتم احداهن قنطاراً فلا تأخذوا منه شیئاً، قلت: النص یدل علی الجواز لا علی الافضلیة والکلام فیها لا فیه، لکن ورد فی بعض الروایات انه قال: لا تزیدوا فی مهور النساء علی اربعین اوقیة فمن زاد القیت الزیادة فی بیت المال، فقالت امرأة: ما ذاک لک؟ قال: ولم؟ قالت: لان الله یقول: وآتیتم احداهن قنطاراً، فقال عمر امرأة اصابت ورجل اخطأ.

(مرقاة المفاتیح ۶: ۳۵۹ باب الصداق الفصل الثانی)

﴿۱﴾ (سنن ابی داؤد ۱: ۲۸۷ کتاب النکاح باب الصداق

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: لان الجهلة یعتقدونها سنة او واجبة وکل مباح یؤدی الیه فمکروه.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۷۷ قبیل باب صلاة المسافر)

وقال العلامة ابراهیم الحلبی: وکل مباح یؤدی الیه فمکروه انتهیٰ.

(غنیة المستملی المعروف بالکبیری ۱: ۵۲۹ فصل فی مسائل شتیٰ)

ضروری ده چه ددي مباحو مخ نیوي اوکړی ﴿۱﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ اسلامی شریعت د هربالغ او بالغي په نکاح کولو اوډ وادۀ ژوند تیرولو باندي زور ورکړي دي چه هرمسلمان په حلال او طیب طریقي سره نفساني خواهشات پوره کړی اودا هغه وخت ممکن ده چه په وادۀ او ازدواجی رشته کښي منسلک کیدل په آسانه او سهل طریقي سره وی. چه فقراء هم په آسانۍ سره فائده حاصله کړی اوبالخصوص کله چه په عالم اسلام کښي نن صبا د فقراء اکثریت هم دي په دي وجه اسلام مغالات فی المهور مکروه گرځولي دي اودا خبرئي ورکړي دي چه کله مهرکم وی نوهغه وادۀ مبارک وی. اوکم مهر د ښځي مبارکی وی. **عن عائشة رضی الله عنها ان النبی ﷺ قال: ان اعظم النکاح برکة، أیسره مؤنة"، وقال: یمن المرأة خفة مهرها ویسر نکاحها وحسن خلقها وشؤمها غلاء مهرها وعسر نکاحها وسوء خلقها".**

لیکن نن صبا ډیرخلق ددي اسلامی تعلیماتو نه غافل دی اود جاهلیت عادت مغالات فی المهور کښي راگیرشوی دی اود وادۀ نه ډډه کول اختیاروی. البته که خاوند ورته ډیرمال ورکوی. اوښځه ئي کنگال کړی گویا چه ښځه د تجارت سامان جوړشوي دي او باقاعده بولی ئي کیږی. چه دي سره ډیر مفاسد پیداشوی دی چه ذمه دار مورپلار باقاعده دي ځوانانو هلکانو او جینکو ته ضرر او نقصان رسوی. چه ددي په نتیجه کښي ډیر مفاسد او شرونه پیداکیږی گویا چه حرام ته رسیدو نه حلال ته رسیدل ډیرمشکل او گران جوړشوی دی

شیخ الاسلام سید حسین احمد مدنی رحمه الله په یو مکتوب کښي لیکلی دی چه د هندوستان په عام رواج کښي مهر نه شی وصولوی. که کله ضرورت وی نود طلاق یا مرگ نه پس جائیداد والو سره کیږی گڼی عام طور باندي شمارلي شی آیا دا دښځو حق تلفی نه ده؟...... مهرمثل د ډیرو خاندانونو دومره دي چه د موجوده مسلمان هندوستانی ددي دادا کولو خیال هم نه شی کولي. واقعیت خو څه کوي په کتب فقه کښي دا جزئیه موجود ده چه که په نکاح کښي زوج اراده د مهر اداکولو نه وی نود زوجینو اجتماع به سفاح وی. حضرت عمر رضی الله عنه ولي ددي حق تلفۍ احساس اوکړو اود مغالاة فی الصداق نه ئي ولي منع اوکړه اود جناب رسول الله ﷺ بیبیانی او لونړه ئي په مثال کښي پیش کړلي لکه څنگه چه د غلطو رسمونو د اصلاح کوشش شوي دي ددي هم کول پکار دی الخ. (فتاوی شیخ الاسلام ص ۹۲ نکاح وطلاق.

په منهاج السنن شرح جامع ترمذی کښي دی فی

(بقیه په راروانه صفحه)

زياتوالې د مهر امر مندوب نه دې بلکه کموالې د مهر مندوب دې

سوال: څه فرمايئ علماءدين دې مسئله باره کښې چه په مهر مقرر کولو باندې اسلام څه پابندي نه ده لګولې خوليکن نن صبا د مهر مقرر کولو په وخت د زلمي جائيداد او ماليت ته هيڅ غور نه شي کولې بلکه د مالدارو خلقو د تقليد د وجهې نه د مهر قيمت زيات شو حالانکه د اکثرو د ذاتي حيثيت جائيداد منقوله او غير منقوله د درج شوې پينځوزرو روپونه هم کم وي. دې باره کښې وضاحت اوکړئ د دې د پاره چه اکثر عوام د دې روند تقليد نه نجات حاصل کړي؟ بينوا توجروا

المستفتي: ممتاز حسين بيروټ ايبټ آباد........ ۳۰۱۹۱۱۹۶۹

جواب: زياتوالې د مهر څه امر مندوب نه دې بلکې کموالې د مهر مندوب دې (کما في الحديث)﴿۱﴾ د عوامو د پاره د دې مندوب پابندي پکار ده﴿۲﴾ وهو الموفق

(بقيه حاشيه) هذا الحديث دلالة على عدم استحباب الزيادة في المهر، والقرآن يدل على مشروعية الزيادة واباحتها دون ندبها والاصل ان كل مباح اذا افضى الى مفسدة فيكون حراما، والزيادة المفرطة المعروفة في بعض الديار تذرعت للزنا واللواطة والاغواء والامراض المهلكة والتعنيس فيجب على اهل الحل والعقد المنع عن هذه الزيادة سداً لباب الفتنة. (منهاج السنن شرح ترمذي ۴:۲۶۸ باب مهور النساء)......ازمرتب

﴿۱﴾عن عمر بن الخطاب قال: الا لا تغالوا صدقة النساء فانها لو كانت مكرمة في الدنيا وتقوىٰ عند الله لكان اولكم بها نبي الله ﷺ ما علمت رسول الله ﷺ نكح شيئا من نسائه ولا انكح شيئا من بناته على اكثر من اثنتى عشرة اوقية رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي.

(مشكواة المصابيح ۲:۲۹۹ باب الصداق الفصل الثاني)

﴿۲﴾ قال الملاعلي قاري: فان قلت: نهيه ......

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

تکثير مهر مباح دې خو د ذريعې د محرماتو د جوړيدلو د وجهې نه منع کړې شوې دې

سوال: څه فرمايئ علماءدين دې مسئلې باره چه يو قوم اتفاق اوکړی چه د نښځې مهر به د ديرش زره نه زيات نه اينبودلې کيږي د افيصله د دې وجهې نه اوشوه چه عام خلقو ډير زيات مهر مقررولو نو د دې وجهې نه څه خرابياني پيدا شوې وې او س بعضې خلق وايئ چه د لفظ قنطار نه معلومه شوه چه قوم د کم مهر اينبودلو فيصله نشي کولې دې باره کښې د شريعت څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: زلفه خان ټانک جنوبی وزيرستان...... ۱۰۱۳۱۰۱۹۸۷

جواب: مهر کښې مبالغه په بنياد د ترمذی حديث افضل نه ده﴿۱﴾ او په بنياد د قرآن مباح او مشروع ده﴿۲﴾ او قاعده داده چه مباح ذريعه د محرماتو جوړه شی هغه حرام کيږي. والمغالاة في هذا العهد من هذا القبيل كما كثار الزنا وغيره وبيع الاحرار وغير ذلک﴿۳﴾. وهو الموفق

(بقيه حاشيه) عن المغالاة مخالف لقوله تعالىٰ: فان آتيتم احداهن قنطارا فلا تأخذوا منه شيئا، قلت: النص يدل على الجواز لا على الافضلية والكلام فيها لا فيه.

(مرقاة المفاتيح ۶:۳۵۹ باب الصداق الفصل الثاني)

﴿۱﴾عن عمر بن الخطاب قال الا لا تغالوا صدقة النساء فانها لو كانت مكرمة في الدنيا وتقوى عند الله لكان اولكم بها نبي الله ﷺ ما علمت رسول الله ﷺ نكح شيئاً من نسائه ولا انكح شيئا من بناته على اكثر من اثنتى عشرة اوقية رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجه والدارمي. (مشكواة المصابيح ۲:۲۹۹ باب الصداق الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال الله تبارک وتعالىٰ: وآتيتم احداهن قنطارا فلا تأخذوا منه شيئا.

(سورة النساء پاره: ۴ رکوع: ۱۴، آيت: ۲۰)

﴿۳﴾وفي المنهاج: في هذا الحديث دلالة على عدم استحباب الزيادة في المهر، والقرآن يدل على مشروعية الزيادة واباحتها دون ندبها، والاصل ..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په مغالات فى المهر کښې د اعتداء مخ نیوې د اهل حل وعقد (حکمرانانو) د پاره جائزدې

سوال: څه فرمايئ علماءدين دې مسئلې په باره کښې چه دمهرکثير حدڅه دې. زمونږپه علاقه کښې اميرصاحب اووزره روپيئ حدمقررکړې دې. اوددې نه زيات مقررکؤلوباندې جرمانه اخلی. آياداجائزدی؟بينوا توجروا

المستفتی: مولانامحمد طاهرميرانشاه شمالی وزيرستان ۱۳\شعبان ۱۴۰۳ء

جواب: کله چه قوم په اعتداءکښې مبتلاشی. نواهل حل و عقد دمخ نيوی اقدمات کولې شی کما اذاتجاوزواعن الحد فى التسعير﴿۱﴾پس داميرداقدام قابل دتعريف دې خصوصاًچه هرکله دیانتاً مهرکښې حسب حديث

(بقيه حاشيه) ان كل مباح اذا افضى الى مفسدة فيكون حراماً، والزيادة المفرطة المعروفة فى بعض الديار تذرعت للزنا واللواطة والاغواء والامراض المهلكة والتعنيس فيجب على اهل الحل والعقد المنع عن هذه الزيادة سدالباب الفتنة.

(منهاج السنن شرح ترمذى ۴:۲۶۸ باب مهور النساء)

﴿۱﴾قال الشيخ عبد الرحمن بن نصر الشيزرى: ولا يجوز للمحتسب تسعير البضائع على اربابها ولا ان يلزمهم بيعها بسعر معلوم لان السعر غلا على عهد رسول اللهﷺ فقالوا: يا رسول الله، سعر لنا فقال رسول اللهﷺ ان الله هو المسعر وانى لأرجوان القى الله وليس احد يطالبنى بمظلمة فى نفس ولا مال. (رواه ابوداؤد والترمذى وابن ماجة واحمد فى مسنده) واذا رأى المحتسب احدا قد احتكر الطعام من سائر الاقوات وهو ان يشترى ذلك فى وقت الرخاء ويتربص به الغلاء فيزداد ثمنه الزمه بيعه اجباراً لان الاحتكار حرام والمنع من فعل الحرام واجب وقد قال رسول اللهﷺ الجالب مرزوق والمحتكر ملعون...... الاحتكار يقال احتكر وتحكر الطعام جمعه وحبسه عن البيع ليقل فيغلو سعره...... والمحتكر هو من يجمع السلع انتظاراً لبيعها بسعر غال بحيث يضيق على المواطن شراؤها الخ. (كتاب السياسة ۲۱ ۷ نهاية الرتبة الباب الثانى فى الاسواق)........(بقيه حاشيه په راتلونکی صفحه)

(الا لا تغالوا بصداق النساء)﴿۱﴾کم والې دې. وهوالموفق

باقاعده مهر مقررولو سره شغار متحقق کيږی نه

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئله باره کښې چه دلور يادخور تبادله څنګه ده؟ چه هرکله دواړودپاره مهرهم مقررکړئ شوې وی؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالصمد افغانی پشاور........ ۱۹۸۴ء ۱۵\۴\۱

جواب: اگرمهرباقاعده مقررشده باشد ممنوع وشغارنيست شامی وغيره﴿۲﴾ وهوالموفق

(بقيه حاشيه) وقال العلامة محمد بن الحسينى الحنفى: سئل عن متولى الحسبة اذا سعر البضائع بالقيمة وتعدىٰ بعض السوقية وباع باكثر من القيمة هل له ان يعزره على ذلک اجاب اذا تعدى السوقى وباع باكثر من القيمة يعزر على ذلک من فتاوىٰ ابن نجيم. (فتاوىٰ انقروية ۱:۱۵۹ التعزير قبيل كتاب السرقة)

﴿۱﴾(سنن ابى داؤد ۱:۲۸۷ باب الصداق)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: وحاصله انه مع ايجاب مهر المثل لم يبق شغارا حقيقة وان سلم فالنهى على معنى الكراهة فيكون الشرع اوجب فيه امرين الكراهة ومهر المثل فالاول ماخوذ من النهى والثانى من الادلة الدالة على ان ما سمى فيه ما لا يصلح مهراً ينعقد موجبا لمهر المثل وهذا الثانى دليل على حمل النهى على الكراهة دون الفساد وبهذا التقرير اندفع ما اورد من ان حمله على الكراهة يقتضى ان الشغار الآن غير منهى عنه لا يجابنا فيه مهر المثل ووجه الدفع انه اذا حمل النهى على معنى الفساد فكونه غير منهى الآن اى بعد ايجاب مهر المثل مسلم وان حمل على معنى الكراهة فالنهى باق، فافهم.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۶۱ مطلب نكاح الشغار)

مهر مقرر کولونه پس مشترکه رضامندئ سره دې ښځې کمې زياتې جائزدې

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئله باره کښې چه پلار دلور دپاره دخپل طرف نه دحق مهر په طورباندې دنکاح نه مخکښې ددووزرورو پوکور اوليکلو، خوداصرف وعده ده بيا دنکاح په وخت دخپل دستور مطابق يوسل پنځويشت روپې حق مهراوتړولواوبس. اوس په دې صورت کښې به هغه اولنئ دووزرو روپووالا مهرصحيح منلې کيږی ياهغه چه دنکاح په وخت مقررشوې وو؟ بينوا توجروا

المستفتی: احمددين زرگرکيملپور...... ۱۹۷۵ء۲۱۶۱

جواب: که چرته دادوئم مهردجانبينوپه رضاسره مقررشوی وی نوهم دغه منظوردې کنی مهرسابق به منظوروی، لجوازالحط والزيادة فی المهر کماصرحوابه فليراجع الی ردالمحتار﴿۱﴾وهوالموفق

د ښځې د مرضئ نه بغير مهرکښې کمې جائزنه دې

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئله باره کښې چه يوسړی خپلې ښځې له د بدکارئ دالزام په وجهې سره طلاق ورکړواوښځې هم په بدکارئ اقراراوکړو اوس ښځه خپل مهرغواړی خوليکن خاوندکم مهرورکوی اوښځه پوره مهر غواړی. خاوندپه دې کښې دوادده خرچ اودنوروا خراجاتو هم مدعی دې اوس

﴿۱﴾قال العلامة الحصكفی: وما فرض بتراضيهما بعد العقد او زيد علی ما سمی فانها تلزمه بشرط قبولها فی المجلس او قبول ولی الصغيرة...... وصح حطها لكله او بعضه، قال ابن عابدين: (بشرط قبولها) افاد انها صحيحة ولو بلا شهود او بعد هبة المهر والا براء منه وهی من جنس المهر او من غير جنسه بحر وسواء كانت من الزوج او ولی فقد صرحوا بان الاب والجد لو زوج ابنه ثم زاد فی المهر صح الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۶۵ مطلب فی حط المهر والابراء منه)

ددې جهګړې دحل دپاره يوه جرګه اوشوه اودواړوښځه خاوند جرګې ته دفيصلې اختياروركړو. جرګې والاو مينځه ګړې فيصلې باندې خاوند نه مهر واخستلوخودخاونددعوی نه زيات اودښځې ددعوی نه کم. اوس شرعی حل ددې مسئله څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: اراکين جرګه...... ۱۹۸۴ء۲۹۱۳۱

جواب: واضحه دی وی چه صورت مسئوله کښې خاوندباندې ټول مهرښځې ته ورکول لازم اوفرض دی اودبدکارې دعيب په وجه سره په دې مهرکښې ددې ښځې دمرضې نه بغير کمې کول جائزنه دی﴿۱﴾البته که دې جرګې طرفينو نه اختياراخستلونه پس دامذکوره فيصله کړې وی نوطرفينو باندې ددې پابندی شرعاضروری ده﴿۲﴾ وهوالموفق

يوځلې مجلس کښې د مهر مقررولونه پس د زياتوالی د مطالبې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئله باره کښې چه يوسړی دخپلې اتوکالو نابالغه لورنکاح پنځه سوه روپومهرباندې اوکړو. اوس دجينئ دبلوغت نه پس پلارپه ضددې چه زه دخپلې لور نکاح به دوباره بعوض مهرمبلغ لس زره روپئ باندې کوم. په امردمجبورئ سره خاوندپه دې راضی شو اودوباره

﴿۱﴾ وفی الهندية: وان حطت عن مهرها صح الحط كذا فی الهداية ولا بد فی صحة حطها من الرضاحتی لو كانت مكرهة لم يصح.

(فتاویٰ عالمگيرية ۱: ۳۱۳ الفصل السابع فی الزيادة فی المهر والحط الخ)

﴿۲﴾قال الشيخ شمس الحق الافغانی: ولا ينفذ حكم المحكم الا فی حق الخصمين الذين حكماه دون غيرهما ولكل من المحكمين الرجوع قبل الحكم واذا حكم لزمهما اذا كان موافقاً لاصول الشرع كذا فی المجلة.

(معين القضاة والمفتيين ۶۴ الباب الحادی عشر فی التحكيم)

نکاح بعوض لس زره روپۍ اوتړلي شوه. اوس دریافت طلب مسئله داده چه دا خاوند خپلي ښځي ته داول مهردورکولو مجازدي یادلس زره روپۍ ورکولو؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد عمرثاقب خطیب مسجد ملک پوره مانسهره ۱۹۸۲ء/۶/۲۵

جواب: دا زیاتوالي په ظاهره جائزدي خوپه حقیقت کښي رشوت دي او ناجائز دي کما یدل علیه ما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲:۵۰۳ اخذ اهل المرأة شیئا عند التسلیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة، وفی ردالمحتار ای بان ابی ان یسلمها اخوها او نحوه حتی یأخذ شیئا وکذا لو ابی ان یزوجها فللزوج الاسترداد، فافهم ﴿۱﴾ فیما قصده ابوها من تجدید العقد. وهو الموفق

د مهر د کمی اختیارجینۍ ته حاصل دي والدین اوجرګې ته نه

سوال: څه فرمائي علماءدین دي مسئله باره کښي چه دیوسړي لوردبل سړي په کورکښي واده شوه اودهغه بل سړي لورددې په کورکښي آباده شوه یعني تبادله يې اوکړه اوس یوهلک دوه کاله پس وائي چه داجینۍ ساده ده زه دېته طلاق ورکوم حالانکه دساده والي ثبوت يې دنکاح په وخت وهم خودلي وواوس بغیردوجهي نه طلاق باندې مقررشوي مهرپنځه سوه روپۍ ورکول لازمي دي یانه؟ جرګه مهرمقررکمولي شي یانه؟ ایایوسړي دي جنیۍ ته دري سوه روپۍ مهرورکولي شي یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد مسکین بلندکوټ ...... یکم مارچ ۱۹۷۵ء

جواب: واضحه دي وي که داساده جینۍ عاقله اوبالغه وي نودټول یادبعضي مهرمعاف کولو اختیارهم دي سرد دي نه چه والدین یاجرګې سره اوکه دا

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۹۷ قبیل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة)

جینۍ عاقله اوبالغه نه وي نواوس دامهرتمام یابعضي هیڅوک هم معاف کولي نه شي یعني نه پخپله اونه نورخلق ﴿۱﴾ وهو الموفق

په مهرکښي ورکړې شوي دوکان دښځي د مرضي یاد هبې نه بغیربل کس ته ورکول جائزنه دي

سوال: څه فرمائي علماءدین دي مسئله باره کښي چه مسمی رجب دخپل زوئی د رشتې دپاره په مهرکښي دوکان ورکړو نقل کاغذات هم ستاسوپه خدمت کښي ارسال دی، بیاواده وشو خولیکن دنوروخامنو دتقسیم په وخت کښي دهغه دوکان هم په تقسیم کښي شامل کړو ددې شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد اقبال تحصیل مری ۱۹۷۹ء/۱۸/۵

جواب: که چرته رجب دمهرپه معاوضه کښي ددې دوکان ورکول مسلم یا مبرهن وي نوددې نه پس رجب ددې پاره جائزنه دی چه ددې جینۍ دمرضي یادهبې نه بغیردادوکان چاته ورکړي دادوکان دده دملکیت نه خارج شوي دي حالانکي درجب ضمانتي کیدل هم صریحا یاعرفا ثابت دی.

یدل علیه ما فی ردالمحتار ۳:۱۴۳ فی الفیض ولو اعطی ضیعة بمهر امرأة ابنه ولم تقبضها حتی مات الاب فباعتها المرأة لم یصح الا اذا ضمن الاب المهر ثم اعطی الضیعة به فحینئذ لا حاجة الی القبض ﴿۲﴾. وهوالموفق

په حق مهرکښي ورکړې شوي څیز د ښځې ملکیت دي

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئله باره کښي چه یوسړي دزوئ دواده په

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفي: وصح حطها لکله او بعضه عنه قبل اولا ویرتد بالرد کما فی البحر، قال ابن عابدین: الحط الاسقاط کما فی المغرب وقید بحطها لان حط ابیها غیر صحیح لو صغیرة ولو کبیرة توقف علی اجازتها ولا بد من رضاها ففی هبة الخلاصة خوفها بضرب حتی وهبت مهرها لم یصح لو قادراً علی الضرب الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۶۶ مطلب فی حط المهر والابراء منه)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۸۸ مطلب فی منع الزوجة نفسها لقبض المهر)

وخت هغه ښځې ته څه زمکه حق مهر کښې ورکړه ایاددې سړی دمرګ نه پس په حق مهر کښې ورکړې شوې زمکه په وارثت کښې واپس اخستل اوپه وارثانو تقسیم کول جائزدی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مصطفی خان مانسهره

جواب: حق مهر دښځې ملکیت دې لهذا په دې کښې به ددې سړی هیڅ حق نه وی﴿۱﴾ وهوالموفق

د نقد مهرپه عوض کښې زمکه وغیره ورکول په اجماع سره جائزدی

څه فرمائی علماءدین دې مسئله باره کښې چه دوه نیم کاله مخکښې دمسماة اپ| عقدنکاح دمسمی |ع| سره په عوض دحق مهرپه شپږزره روپۍ وشوه دمسماة اپ|وکیل دامقررکړو اومخامخ دنکاح په مجلس کښې د مسماة اع|وکیل قبول کړه بیاامام دخطبه مسنونه وئیلونه پس دعاء خیر اوکړه دواده درسم په وخت کښې مسماة اپ| زرروپۍ معاف کړې اود څلورو زرو په عوض کښې زمکه اودزرو روپوپه عوض کښې ئي یوغوا وصول کړه اوس درې میاشتې پس خلق پروپیګنډه کوی چه تجدیدد نکاح ضروری دې ددې مسئلې حقیقت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: سخی عمران

الجواب: دمهرپه عوض کښې زمکه وغیره اخستل په اجماع سره جائزدی او د

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الغنی الغنیمی: ومن سمی مهراً عشرة فما زاد ای فاکثر فعلیه المسمی ان دخل او خلابها خلوة صحیحة او مات عنها او ماتت عنه لانه بالدخول یتحقق تسلیم المبدل وبه یتأکد البدل وبالموت ینتهی النکاح والشئ بانتهائه یتأکد ویتقرر بجمیع مواجبه.

(اللباب فی شرح الکتاب ۲:۱۵۰ کتاب النکاح)

عوض دورکولو په وخت کښې نه تجدیددنکاح ضروری دې اونه خطبه د نکاح وئیل مسنون دی ددې پروپیګنډې نه تاسومتاثره نه شئ﴿۱﴾ وهوالموفق

مهرکښې بخشش کول جائزدی او ناجائزې حیلې ناجائزدی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئله باره کښې چه دافغانستان په بعضې علاقوکښې داحیله کولې شی چه عاقله بالغه جینۍ خپل روریاپلارته وائی چه ځمامهرپخپلې مرضې سره مقررکړه اوته ئي واخله دازمادطرف نه ستا دپاره بخشش دې اودیرش څلویښت زره روپۍ اخستلې شی ایاداطریقه او حیله صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: ریاض محمدنورستانی مدرسه احیاءالعلوم چارسده ۱۹۸۴ء۱\۵\۳

جواب: دابخشش اوهبه صحیح ده﴿۲﴾ البته دعقدنکاح په وخت کم مهر مقررولونه معلومیږی چه مخکینې ډیرمهرنه وو بلکه ثمن یا جبروو. وهوالموفق

په مهرکښې د کور د دریمې حصه اخستلو یا د هغې په بدله کښې د درې سوو روپو اخستلومسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئله باره کښې چه یوسړی خپلې ښځې ته

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واذا تزوجها علی هذا العبد وهو ملک الغیر او علی هذه الدار وهی ملک الغیر فالنکاح جائز والتسمیة صحیحة فبعد ذلک ینظر ان اجاز صاحب الدار وصاحب العبد ذلک فلها عین المسمی وان لم یجز المستحق لا یبطل النکاح ولا التسمیة حتی لا یجب مهر المثل وانما تجب قیمة المسمی کذا فی المحیط.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۰۳ الباب السابع فی المهر الفصل الاول)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: للمرأة ان تهب مالها لزوجها من صداق دخل بها زوجها اولم یدخل ولیس لاحد من اولیائها اب ولا غیره الاعتراض ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مهرکښې دنن نه څو کاله مخکښې دکوردریمه حصه لیکلې وه لیکن بیا فیصله په دې اوشوه که دې کله هم دکوردا خستلو مطالبه اوکړه نو دې به د کورپه ځائې درې سوه روپې ورکوی اوس هغه ښځې مطالبه اوکړه اوهغې ته درې سوه روپې ورکول غواړي مگرهغه وائی چه اوس دکورقیمت زیات دې ماته زیاتې روپې راکړه ایاداطالبه جائزده؟بینوا توجروا

المستفتی:امیرزاده کانگړه چارسده......١٥ربیع الاول١٤٠١

جواب: دا ښځه ددې کوردریمې حصه مالکه ده اوس ددې مرضی ده چه دریمې حصه باندې راضی کیږي یانه.لان الامهار من اسباب الملک﴿١﴾ وهوالموفق

د پورتنۍ مسئلې متعلق بل تپوس

سوال: یوسړی دنن نه څوکاله وړاندې دکوردریمه حصه په مقابله ددرې سوو روپو بوکنډې ښځې مهرمقررکړه فیصله اوشوه چه دیته ددریمې حصې د کوردرې سوه روپې ورکړی اوس لهذاقیمت زیات دې ددې وجهې نه ښځه زیاتې پسې غواړي شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی امیر زاده کانگړه......١٨رجب١٤٠١ء

جواب: بشرط صدق وثبوت دا ښځه صرف ددرې سوو روپو حقداره ده یعنی که چرته دامعامله معاوضه وی که چرته صرف وعده وه نو دښځې دمرضې خلاف به قیمت نامنظوروی﴿٢﴾وهوالموفق

(بقیه حاشیه) علیها...... ولو وهبت من ورثته یجوز.

(فتاویٰ عالمگیریة ١:٣١٦ الفصل العاشر فی هبة المهر)

﴿١﴾قال العلامة ابن نجیم: اسباب التملک المعاوضات المالیة والامهار والخلع العاشرة یملک الصداق بالعقد فالزوائد لها قبل القبض الخ.

(الاشباه والنظائر ٣٤٠ القول فی الملک)

﴿٢﴾وفی الهندیة: واذا تزوجها علی هذا العبد وهو......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د مهرسره د ماهوارۍ درقم د ورکولو رسم په اصل کښې نفقه ده مهرنه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئله باره کښې چه نن صبادواده په موقع باندې دمهرسره ماهوارهم لیکلې کیږی مثلاً یواوسل شل روپې مهر او پنځوس دماهوارۍ رقم وغیره دقرآن اوحدیث په رڼاکښې ددې حکم څه دې ماهانه رقم عموماهغه وخت طلب کیږی کله چه جینۍ دخه ناچارۍ دوجهې نه مورکره لاړه شی بیاجینۍ خواه هغلته پنځوس روپې خرچ کوی یالس روپې خرچ کوی ددې ماهوارۍ رقم شرعی حکم څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: مشتاق احمد......٢٤رجب١٣٩٣ء

جواب: چونکه دارقم بطورنفقه مقررکړې شوې دې لهذاپه ددې په ورکولو اخستلو کښې څه حرج نشته.البته دناشزې دپاره ددې اخستل حرام دی﴿١﴾وهوالموفق

(بقیه حاشیه) ملک الغیر او علی هذه الدار وهی ملک الغیر فالنکاح جائز والتسمیة صحیحة فبعد ذلک ینظر ان اجاز صاحب الدار وصاحب العبد ذلک فلها عین المسمی وان لم یجز المستحق لا یبطل النکاح ولا التسمیة حتی لا یجب مهر المثل وانما تجب قیمة المسمی کذا فی المحیط.

(فتاویٰ عالمگیریة ١:٣٠٣ الباب السابع فی المهر)

﴿١﴾قال العلامة القهستانی: تجب النفقة...... والکسوة...... والسکنیٰ...... علی الزوج ولو صغیرا...... بقدر حالهما ای الزوجین وعلیه الفتویٰ کما فی الهدایة وذکر فی الخزانة انه بقدر حالها فینفق بقدر ما یقدر والباقی دین علیه لکن فی ظاهر الروایة انه بقدر حاله وهو الصحیح فوجب بقدر طاقته...... لا تجب النفقة لناشزة ما دامت علی تلک الحالة...... خرجت من بیته خروجاً حقیقیا او حکمیا بغیر حق.

(جامع الرموز ١:٥٩٥ فصل فی النفقة)

د غیرمتعین یعنی د نامعلومو ښیزونو په مهرکښې د اخستلو ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئله باره کښې چه یو سړی دواده نه مخکښې خپلې ښځې ته څه زمکه زیورات یا یوکورپه عوض دحق مهر ورکولو سره منظورکړه اوددې ښیزونوستامپ یې هم اولیکلو لیکن د زیوراتو اود کورنه علاوه په پخپله ټوله زندګئ کښې نور څه ورنکړه ایا د خاوند د وفات نه پس هغه ښځه دمذکوره باقی حق مهردخاوند دوارثانو (فرزندان او دختران) نه دوصول کولو شرعاحق لری؟ بینوا توجروا

المستفی: محمدایوب مقام ډهکی ډی آی خان...... ١٢/٨/١٩٧٧ء

جواب: که چرته دازمکه متعین کړې شوې وی نوددې دحق مهرکیدلو اوپه میراث باندې مقدم کیدلو کښې هیڅ خفا نشته. اوکه چرته متعین شوې نه وی نوپه درمیانه زمکه چه (نه ډیره ښه وی اونه ډیره خرابه وی) یاددې قیمت به حق مهروی اوپه وراثت باندې به هم مقدم وی.

کما فی الهندیة: ونوع هو معلوم الجنس مجهول الوصف كما لو تزوجها على عبد او فرس او دابة او ثوب هروی يجب الوسط ان شاء ادی عينه وان شاء ادی قيمته كذا فی الظهيرية (١: ٣٢٩)﴿١﴾. وهوالموفق

مهر مؤجل وی یا معجل مشروع دې او د بعضو معجل کول سنت دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه ایا شرعاً دا ضروری ده چه د مهر رقم معجل (یکمشت) د نکاح د رسم په وخت کښې ادا کول بهتر دی یا څه رقم (عام طور باندې نیم) مؤجل کول هم لازمی دی؟ نیز یاد دې وی چه د مهر مؤجل رقم چه واجب الاداء دې روستو دنکاح نه د هغې په ورکولو باندې څه غور نه کیږی. بلکه په ژوند کښې اکثر نظر انداز کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: شیرمحمد نائب صوبیدار راولپنډی..... ١٣/ربیع الثانی ١٣٩٥ء

﴿١﴾ فتاویٰ عالمگیریه ١: ٣٠٩ الفصل الخامس فی المهر تدخله الجهالة

الجواب: مهرخواه ټول معجل وی یا ټول مؤجل وی یا بعضې معجل وی نو په دې کښې هیڅ یو صورت غیر مشروع نه دې ﴿١﴾ البته بعضې لره معجل کول سنت دی ﴿٢﴾ وهوالموفق

د مهر مؤجل او د معجل د اداکولو او د اقسامو احکام

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په نکاح نامه رجسټرار کښې لیکلې شوی وی (الف) مهر مؤجل به په وخت د مطالبې کښې ادا کوم (ب) یا مثلاً اته سوه روپئ مهر مقرر شوې وی نودا شرط درج وی چه سل روپئ به میاشت په میاشت ادا کوم. سوال دادې چه ایا دا مهرمؤجل دې یا معجل. کله کله مونږه د نکاح رجسټرارو ته په دې کښې قانونی رکاوټ مخې ته راځی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی فقیرحسین خطیب مسجد باباکرم شاه نوښهره ١٢/١٠/١٩٨٧

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفی: فتسليم البعض لا يوجب تسليم الباقی لاخذ ما بين تعجيله من المهر كله او بعضه او اخذ قدر ما يعجل لمثلها عرفا به يفتیٰ...... ان لم يؤجل او يعجل كله فكما شرط لان الصريح يفوق الدلالة الا اذا جهل الاجل جهالة فاحشة فيجب حالا غاية الا التاجيل الخ. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ٢: ٣٨٩ قبيل مطلب فی السفر بالزوجة)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدين: حديث التمس ولو خاتما من حديد يجب حملها على انه المعجل وذلك لان العادة عندهم تعجيل بعض المهر قبل الدخول حتى ذهب بعض العلماء الى انه لا يدخل بها حتى يقدم شيئا لها تمسكا بمنعه ﷺ عليا ان يدخل بفاطمة رضی الله عنها حتى يعطيها شيئا فقال يا رسول الله ليس لی شئ فقال اعطها درعک فاعطاها درعه رواه ابوداؤد والنسائی ومعلوم ان الصداق كان اربع مأة درهم وهی فضة لكن المختار الجواز قبله لما روت عائشة رضی الله تعالیٰ عنها قالت امرنی رسول الله ﷺ ان أدخل امرأة على زوجها قبل ان يعطيها شيئا رواه ابوداؤد.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٣٥٧ باب المهر)

جواب: مهر معجل هغه مهر ته وئيلي کيږی چه د جماع نه مخکښي ادا کولي کيږی. او د مهرمؤجل دري اقسام دی

(۱) چه دهغي د ادا کولو تاريخ متعين وی مثلاً يکم رمضان

(۲) چه دهغي د ادا کولو تاريخ (قسطوار) وی مثلاً دمياشتي سل روپۍ

(۳) چه د هغي د اداکولو تاريخ مجهول وی مثلاً مستقبل کښي د ائنده دپاره.

د مهرمعجل حکم ښکاره دي او د مهرمؤجل حکم دادي چه حسب شرط به ادا کولي شی او که چرته د شرط د وقوع نه مخکښي طلاق يا مرګ واقع شی نو مزيد تاخير کول جائز نه دی (ماخوذازهنديه) ﴿۱﴾ وهوالموفق.

د واده په غوختلو باندي د هلک نه رقم طلب کول حرام خوری ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دي مسئلي باره کښي چه شپږ کاله مخکښي ديو هلک او جينۍ په مينځ کښي رشته ترلي شوي وه اوس چه کله هلک والو شپږ کاله پس رشته طلب کړه ځکه چه هلک او جينۍ دواړه ځوانان دی. او د واده دپاره ئي اوويل نود جينۍ پلار په نفی کښي جواب ورکولو سره اوويل چه مزيد پنځلس سوه روپۍ راکړه هله به رشته ملاويږی. حالانکه ددي نه مخکښي ئي تقريباً شپږزره روپۍ خوړلي دی. شريعت محمدی کښي ددي سړی څه حکم دي؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمداکرم کوهاله مری......۱۹۷۸ء/۸/۳۰

﴿۱﴾ وفی الهندية: لا خلاف لاحد ان تأجيل المهر الی غاية معلومة نحو شهر او سنة صحيح وان كان لا الی غاية معلومة فقد اختلف المشائخ فيه قال بعضهم يصح وهو الصحيح وهذا لان الغاية معلومة فی نفسها وهو الطلاق او الموت الا يری ان تأجيل البعض صحيح وان لم ينصا علی غاية معلومة كذا فی المحيط.

(فتاویٰ عالمگيريه ۱: ۳۱۸ الفصل الحادی عشر فی التأجيل في المهر وغيره)

الجواب: دا سړي (دجينۍ پلار) حرام خور او فاسق دي. ناکح دا ټول رقم د ده نه واپس اخستلي شی.

كما فی شرح التنوير: اخذ اهل المرأة شيئا عند التسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة، وفی ردالمحتار ۲: ۵۰۳ قوله عند التسليم ای بان ابی ان يسلمها اخوها او نحوه وكذا لو ابی ان يزوجها فللزوج الاسترداد قائما او هالكا ﴿۱﴾. وهوالموفق

د واده په موقع باندي د جينۍ د کور د روټۍ خرچه د خاوند نه د وصولولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين دي مسئلي باره کښي چه د يو سړی صبا واده دي او ښځي نن د جينۍ په کور کښي جمع شي او د هغوی دپاره خوراک تيارولي شي او په هغه خوراک چه کومه خرچه راځي هغه ټول په ټوله د هلک والو نه وصولولي شی ددي څه حکم دي؟ بينوا توجروا

المستفتی: حبيب خان کراچي نمبر ۸. يکم ربيع الثانی ۱۴۰۳ هـ

جواب: که چرته د هلک نه وصول شده خرچه په مهر کښي شمارکړي شي نو څه جواز راوتلي شي ګني دا اوهم دغه شان جينۍ د طرف نه خوراک تيارول رسوم قبيحه دی. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۹۷ قبيل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عارية)

﴿۲﴾ قال العلامة مفتی كفايت الله الدهلوی: دا رقم کوم چه د زوج نه مخکښي د عقد نه يا روستو دعقد نه دي غرض دپاره اوپه دي نوم اخستلي شی چه په دي به دجنج خپلوانو عزيزانوته خوراک ورکولي شی. ناجائزدي. اوددي حکم هغه دي کوم چه په دي عبارت کښي ذکردي. ولو اخذ اهل المراة شيئاً عندالتسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة، اوپه دي عبارت کښي دی. ومن السحت ما ياخذه الصهر من الختن بسبب بنته بطيب نفسه حتی لو كان يطلبه يرجع الختن به، او معروف څيزونه كدرهم النقش والحمام (شامی كتاب النكاح ۳: ۱۳۰ سعيد) وغيره چه کوم حکم په شامی کښي ذکردي داټول هغه څيزونه دی کوم چه د ښځي په مهر کښي حسابيږی اوپه دي وجه دي لره بقدر مايعجل من المهر د وجوب تقديم دحکم په ضمن............(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د مهر په حیلې سره د جینۍ والدین پیسو اخستلوسره حرام خوري کوي

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زمونږ په علاقه کښې د ښځو حق مهر دومره زیات دې چه د نادارو او عامو خلقو دپاره د یو پریشانۍ باعث جوړ شوي دي. او د جینۍ والدینو هغې لره د امدنۍ یو مستقل ذریعه جوړه کړې ده. شپیته اوویازره نن صبا کم نه کم مقدار دې. مذکوره رقم کښې صرف د لسو پنځلسوزرو سامان وی باقی والدین اوخوری ددې متعلق د شریعت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد هاشم بلوچستان... ۹۱۲۱۔۱۹۸۷ء

جواب: د جینۍ دا پلار حرام خور دې﴿۱﴾ ددینه بچ کیدل د الله په ویره سره کیدلې شی یا د حکومت او د قوم په حدبندۍ سره. وهوالموفق

د والدینو د مهر په نوم پیسې اخستل د ازادې ښځې خرڅول او حرام خوري ده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دلته دا رواج دې چه د

(بقیه حاشیه) کښې بیان کړی دی او ددې ځیزونو دښځې دپاره کیدل ظاهر اوپه دې وجه په مهرکښې حساب کیدل یقینی دی او ددې وجوب علی انها من المهر هغه وخت دی چه عرف بین ثابت وی اور خاوند هم دا تسلیموی ګنی داهم غیرلازم دی. او مخکښې رقم کوم چه د خوراک ورکولو دپاره اخستلې شی ددې په مهر کښې نه حساب کیدل بلکه نه کیدل ظاهردی ځکه چه دمهر رقم په جنج والؤ او خپلوانو عزیزانوو باندې دخرچ کولو حق دښځې اولیاؤ ته نشته اود ښځې په کارنه راتلل ددې ښکاره دی.

(کفایت المفتی ۵:۱۱۴ کتاب النکاح)

﴿۱﴾قال العلامة الحصكفی: اخذ اهل المرأة شيئا عند التسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة، وقال ابن عابدين: ای بان ابی ان يسلمها اخوها او نحوه حتی يأخذ شيئا وكذا لو ابی ان يزوجها فللزوج الاسترداد قائما او هالكا لانه رشوة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۹۷ قبيل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عارية)

لور یا د خورد واده فیصله کولووخت کښې پلار یا رور دشلو زرو نه واخله تریولاکهه پورې پیسې اخلی بعضې خلق ددې په شپږمې حصې رقم باندې د جینۍ دپاره کالی او سامان اخلی. او بعضې په کښې ټول رقم خوری ددې حقیقت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد خان لکړمنډی بنوں...... ۲۱۱۱۰۱۔۱۹۸۴ء

جواب: د مهر کم نه کم مقدار دوه نیمې تولې چاندی ده او د زیاتو دپاره څه حد منقول نه دې﴿۱﴾ البته د حدیث په بناء په مهر کښې زیاتی کول بهتر او مستحب نه دی رواه ابوداؤد ۲۸۷ الالاتغالوا بصداق النساء فانها لوكانت مكرمة فی الدنيا او تقوی عندالله كان اولاكم بها النبی ﷺ ﴿۲﴾ او په افغانستان او یاغستان کښې چه کوم رواج دې هغه بلاشک وشبه ناجائز دې دا خلق ازادې ښځې لره خرڅوی او پیسې پخپله خوری لکه چه لونړو او خوئیندوته په وراثت کښې څه نه ورکوی﴿۳﴾ وهوالموفق.

د جینۍ په عوض کښې د څه رقم اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه بعضې خلق د لور خور

﴿۱﴾قال العلامة الحصكفی: المهر اقله عشرة دراهم لحديث البيهقی وغيره لا مهر اقل من عشرة دراهم ورواية الاقل تحمل علی المعجل فضة وزن سبعة مثاقيل كما فی الزكاة...... يجب الاكثر منها ان سمی الاكثر. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۵۷ باب المهر)

﴿۲﴾ رواه ابوداؤد ۱:۲۸۷ باب الصداق، والترمذی وصححه، والنسائی، وابن ماجة واحمد والبيهقی، وابن حبان وصححه والحاكم والدارمی ۲:۱۹۰ بلب كم كانت مهور ازواج النبی ﷺ وبناته.

﴿۳﴾قال العلامة الحصكفی: اخذ اهل المرأة شيئا عند التسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة، قال ابن عابدين: ای بان ابی ان يسلمها اخوها او نحوه حتی يأخذ شيئا وكذا لو ابی ان يزوجها فللزوج الاسترداد قائما او هالكا لانه رشوة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۹۷ قبيل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عارية)

په عوض کښې پیسې اخلی او هغې لره په خپل ذاتی مصرف کښې استعمالوی او بیا د جینئ نکاح کولو سره حواله کوی، ایا دا رقم اخستل جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی:عبدالستار رضافقیر والی بهاولنگر...۱۹۸۲ء۱۰۱/۲۵

جواب: که چرته دا رقم اعزازی طور سره په خوشحالئ ورکړې شوې وی نو ددې اخستل او ورکول جائز دی لحدیث احق ما اکرم علیه الرجل ابنته او اخته،(رواه ابوداؤد ۱۹۷)﴿۱﴾ اوکه چرته جبری طورباندې اخستلې شوې وی نو بیاواپس اخستلې شی.فی الدر المختارمع ردالمحتار(۲:۳۷۶)اخذاهل المرأة شیئا عند التسلیم ای بان ابی ان یسلمها اخوها او نحوه حتی یاخذ شیئا وکذا لو ابی ان یزوجها فللزوج الاسترداد قائما او هالکا لانه رشوة﴿۲﴾ اوکه چرته دا رقم ددې وجې نه اخستلې شوې وی چه د خاوند د طرف نه مطلوبه معروفه جهیزوغیره کښې صرف کړئ شی نو په دې کښې حرج نشته، ویقال له الدستیمان والتفصیل فی ردالمحتار ۲: ۳۷۷﴿۳﴾ کنې حرام دې.لانه رشوة او ثمن الحر وکلاهما محرمان، وهوالموفق

﴿۱﴾(سنن ابی داؤد ۱:۲۹۰ باب فی الرجل یدخل بامرأته قبل ان ینقدها، کتاب النکاح)

﴿۲﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۹۷ قبیل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة)

﴿۳﴾قال العلامة ابن عابدین: وفی البزازیة ما یفید التوفیق حیث قال تزوجها او اعطاها ثلاثة آلاف دینار الدستیمان وهی بنت موسر ولم یعط لها الاب جهازا افتی الامام جمال الدین وصاحب المحیط بان له مطالبة الجهاز من الاب علی قدر العرف والعادة او طلب الدستیمان قال وهذا اختیار الائمة وقال الامام المرغینانی الصحیح انه لا یرجع بشیئ لان المال فی النکاح غیر مقصود وکان بعض ائمة خوارزم یعترض بان الدستیمان هو المهر المعجل کما ذکر فی الکافی وغیره فهو مقابل......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د واده په موقع باندې د هلک والو نه د غوی وغیره خوړلو د پاره د غوښتلو حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه بعضې غریزو علاقو کښې دارواج دې چه دواده په موقع باندې دهلک درشته دارو نه حیوان یعنی غوئ وغیره لازمادذبحې دپاره راوستلې شی اوبیادواړه کوروالا هغه په مشترکه طورباندې خوری اوددې حیوان وغیره د نه اخستلو په صورت کښې دقوم اودبرادرې خلق دده نه خفه کیږی اودده سره همدردی وغیره پریږدی ایاداجائزدی؟ اوداهم وئیلې شی چه ددې غوئ په عوض کښې دجینئ دمهرنه څه څیزدهلک دپاره معاف کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبیدالله....

جواب: که چرته ددې غوئ قیمت دمهرنه جداکړې شی نودجینئ دباقاعده اجازت نه پس ددې اخستل اوخوړل جائزدی﴿۱﴾اوکه چرته داغوئ دمهرنه علاوه بغیردخوشحالې نه اخستلې شی نوداغوئ به په رشوت کښې داخل وی اوحرام به وی اوواجب الردبه وی﴿۲﴾کمافی الدرالمختارعلی هامش

(بقیه حاشیه) بنفس المرأة حتی ملکت حبس نفسها لاستیفائه فکیف یملک الزوج طلب الجهاز والشیئ لا یقابله عوضان واجاب عنه الفقیه ناقلا عن الاستأذان الدستیمان اذا ادرج فی العقد فهو المعجل الذی ذکرته وان لم یدرج فیه ولم یعقد علیه فهو کالهبة بشرط العوض وذلک ما قلناه الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۹۹ بعید مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة)

﴿۱﴾قال العلامة المرغینانی: وان حطت عنه من مهرها صح الحط لان المهر حقها. (هدایه ۲:۳۴۷ باب المهر)

﴿۲﴾عن ابی حرة الرقاشی عن عمه قال قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه رواه البیهقی فی شعب الایمان والدارقطنی فی المجتبیٰ.

(مشکواة المصابیح ۱:۲۶۱ باب الغصب والعاریة)

ردالمحتار۲:۵۰۳ اخذ اهل المراة شیئا عندالتسلیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة﴿۱﴾ وهوالموفق

د مهرنه علاوه د هلک والو نه د رقم اخستلو تفصیلي مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زمونږپه علاقه کښې د ډیر وخت نه دادستوررروان دې چه جینکولره دګډواوچیلوپه شان خرڅولې شی اونکاح په دې شرط باندې کوی چه مثلا ته څلوېښت زره روپې راکړه بیا دهلک والا مجبوراورکوی دې دپاره که چرته نه ورکوې نودهغې جینئ نکاح نه کوی حالانکه بعضې خلق دجوازدپاره دغه څلوېښت زره روپې داجینئ په مهرکښې داخلوی اوبیاهغه دجینئ داجازت یابغیرداجازت نه هغه په استعمال کښې راولی اوس سوال دادې چه په دواړوصورتونوکښې دپلار رورو غیره دپاره دارقم په دې طریقې سره اخستل جائزاوحلال دی؟

المستفتی: محمد ممتازدارالعلوم ربانیه کراچی نمبر ۴۱...... ۳/۱۹/۱۰ء۱۹۷۴

الجواب: په دواړوصورتونوکښې اخستل ناجائزاوحرام دی په اول صورت کښې واضح دی چه دجینئ خاوندله داطمعه اولالچ ورکوی چه دجنیئ نکاح ماسره اوشی اوپه طریقه اخستلوته فقهاءکرامو رشوت وئیلې دې ددې اخستل حرام اوناجائزدی اوداسې حرام دی چه داخستلونه پس هم دده په ملکیت کښې نه راځی.

قال فی الدر: اخذ اهل المرأة شیئا عند التسلیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة، وقال ابن عابدین: تحت (قوله عند التسلیم) ای بان ابى ان یسلمها اخوها او نحوه حتی یأخذ شیئا وکذا لو ابى ان یزوجها فللزوج الاسترداد قائماً اوها لکاً لانه رشوه، بزازیه (ردالمحتار ۳:۱۵۶)﴿۲﴾ وقال فی الدر المختار: الرشوة لا تملک بالقبض

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۹۷ قبیل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۹۷ قبیل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة)

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۹۷ قبیل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة)

(الشامیة ۶:۴۲۳)﴿۱﴾ وقال فی الهندیة: ولو تزوج امرأة علی ان یهب لابیها الف درهم فهذا الالف لا یکون مهراً ولایجبر علی ان یهب فلها مهر مثلها وان سلم الالف فهو للواهب وله ان یرجع فیها ان شاء (عالمگیریه ۱:۳۰۸)﴿۲﴾.

په دوئم صورت کښې دجینئ په رضادعدم تیقن په وجهې سره حرام دی بلکه دتیقن دعدم درضاوجهې نه ددې دپاره چه کله دغه جینئ د خاوندکورته لاړه شی اوپه دوودریوکالوکښې ددې شرم ختم شی نوپلار او مورصاحبه ته دیوزرې ورکولودپاره هم تیاره نه وی نودیرش څلوېښت زره روپې به څه ورکړی ددې نه معلومه شوه چه دواده په وخت دشرم دوجهې نه اجازت ورکړې دزړه نه راضی نه وی فقهاءکرامودې پورې لیکلی دی چه دمهردرقم نه پلاردلوردپاره سیوادهغه څیزونونه چه هغه عادتادمهردرقم نه اخستلې کیږی دنوروڅیزونواخستل ددې درضانه بغیرجائزنه دی نود پلار دپاره ذاتی مصرف کښې راوستل څنګه جائزدی لهذاپه دې صورت کښې هم اخستل حرام اوناجائزدی.قال فی الشامیة لکن فی الهندیة لوقبض بمهر البالغه ضیعة فلم ترض ان جری التعارف بذلک جازله والافلاولو بکرا،(ردالمحتار ۳:۱۶۱)﴿۳﴾ خلاصه دا چه په هیڅ طریقه هم په مهرکښې دپلاروغیره دپاره تصرف جائزنه دې ټول مهردجینئ حق دې اودابه دېته حواله کولې شی. والتفصیل فی الهندیة ۱:۳۱۶﴿۴﴾والشامیة......

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵:۳۰۰ فصل فی البیع کتاب الحظر والاباحة

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۳۰۸ الفصل الرابع فی الشروط فی المهر)

﴿۳﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۰۱ مطلب لابی الصغیره المطالبة بالمهر)

﴿۴﴾ وفی الهندیة: للمرأة ان تهب مالها لزوجها من صداق دخل بها زوجها اولم یدخل ولیس لاحد من اولیائها اب ولا غیره الاعتراض علیها...... ولیس للاب ان یهب مهر ابنته عند عامة العلماء کذا فی البدائع.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۳۱۶ الفصل العاشر فی هبة المهر)

١١٣:٣﴿١﴾والله اعلم

کتبه...... احمد عفی عنه

دارالافتاء دارالعلوم ربانیه توحید آباد کالونی کراچی

هذا الجواب صحیح

محمد فرید عفی عنه

(شیخ الحدیث وصدر دارالافتاء جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

د طلاق نه پس به د مهر او د جهیز سامان ښځې ته واپس کولې شي

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیو نادار او شریف سړي لور ته دیو زور سړي زوئ بغیر د څه قصور نه طلاق ورکړو او ټول زیورات ئې د جینئ نه واخستل او د مور پلار کور ته ئې واستول او وئیل ئې چه ته زما د مور پلار خدمت په ښه طریقې سره نه شې کولې په شریعت کښې د دې مهر د کالو او د جهیز د سامان څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: خان شیر دوبئ

جواب: په خاوند باندې فرض دی چه ټول مهر دې ښځې ته ورکړی﴿٢﴾ او هغه

﴿١﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله وصح حطها) قید بحطها لان حط ابیها غیر صحیح لو صغیرة ولو کبیرة توقف علی اجازتها ولا بد من رضاها ففی هبة الخلاصة خوفها بضرب حتی وهبت مهرها لم یصح لو قادراً علی الضرب الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٣٦٦ مطلب فی حط المهر والابراء منه)

﴿٢﴾قال العلامة الحصکفی: ویتاکد عند وطء او خلوة او موت احدهما...... قال ابن عابدین: وفی البدائع واذا تأکد المهر بما ذکر لا یسقط بعد ذلک وان کانت الفرقة من قبلها لان البدل بعد تأکده لا یحتمل السقوط الا بالابراء کالثمن اذا تأکد بقبض المبیع.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ٢:٣٥٨ باب المهر)

سامان چه د دې جینئ پلار وغیره ورکړی وی دا به هم دې ښځې ته واپس کولې شی. وذلک مما اجمعوا علیه﴿١﴾ وهو الموفق

مخکښې د رخصتئ نه د جینئ په وفات کیدلو باندې د مهر مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئله باره کښې چه یو سړي دیو جینئ سره نکاح اوکړه د اجینئ د رخصتې نه مخکښې مړه شوه د جینئ پلار د ټول مهر مطالبه کوی آیا دا مطالبه صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رسول شاهین مارکیټ بټ خیله.... ١٢ رمضان ١٤٠٩ھ

الجواب: په دې مهر کښې نیم د خاوند حق دې﴿٢﴾ او باقی نیم دوالدینو یا د پلار حق دې﴿٣﴾ وهو الموفق

پس د رخصتئ نه د طلاق ورکولو نه پس د ښځې ټول مهر واجب الاداء دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړي خپله ښځه یو کال پورې او ساتله څه وخت پس ناراض شو او ښځه ئې د مور پلار په کور کښې پریخودله او راغې. چه هلته هغې دوه نیم کاله تیر کړل روستو خلقو ده لره په

﴿١﴾وفی الهندیة: لو جهز ابنته وسلمه الیها لیس له فی الاستحسان استرداده منها وعلیه الفتوٰی..... واذا بعث الزوج الی اهل زوجته اشیاء عند زفافها منها دیباج فلما زفت الیه اراد ان یسترد من المرأة الدیباج لیس له ذلک اذا بعث الیها علی جهة التملیک کذا فی الفصول العمادیة.

(فتاوٰی عالمگیریه ١:٣٢٧ الفصل السادس عشر فی جهاز البنت)

﴿٢﴾قال الله تبارک وتعالی: ولکم نصف ماترک ازواجکم ان لم یکن لهن ولد.

(سورة النساء پاره۴ رکوع:١٣ آیت:١٢)

﴿٣﴾ قال العلامة الکاسانی: ومنها الارث من الجانبین جمیعا لقوله عز وجل ولکم نصف ما ترک ازواجکم. (بدائع الصنائع ٢:٣٣٢ فصل ومنها الارث)

مجبورِ کولو سره د طلاق ترغیب ورکړو او آخرهم دري کاله پس بغیر د څه شرط نه طلاق ورکړو روستو دیو څو کسانو په خبرو باندې دوه میاشتې پس د کالو د واپسئ مطالبه او کړه حالانکه د دې جینئ مهر زر روپې مقرر شوې وو د زیوراتو قیمت شپږ سوه او یاروپې په مهر کښې اداکړې وو او دري سوه دیرش روپئ د باقی مطالبې د پاره ایښې وې اوس سوال دادې:

(۱) ایا د هلک په ذمه باندې باقی دري سوه دیرش روپې اداکول واجب دی؟

(۲) د درېو کالو خرچه د هلک په ذمه باندې واجب ده؟ (۳) په رضا او خوشحالې سره د ګواهانو په مخکښې د طلاق ورکولو نه پس اوس د زیوراتو چه کومه مطالبه کیږی ایا اصحیح ده؟.

المستفتی: غلام قادر...... ۱۹۷۴ء۳۱۱۲۱

جواب: (۱) په دې خاوند باندې ټول مهر زر روپې ورکول واجب دی. لوجود الغایة وهو الطلاق کمافی الهندیة (۱: ۳۳۹) پس په صورت مسئوله کښې به دري سوه روپې واجب الاداوی﴿۱﴾ـ (۲) په دنیا کښې به په دې نفقه باندې ماخوذ نه وی. لعدم الرضاء والقضاء کمافي الـدر المختار علی هـامش ردالمحتـار ۲: ۹۰۶﴿۲﴾. (۳) دا مطالبه بې قاعدې او غلطه ده

ناواده کړې مطلقه ښځه د نیم مهر مستحقه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئله باره کښې چه یو کس نکاح کړی وی خو تراوسه پورې رخصتی نه ده شوې د څه ناچارې دوجهې نه دې سړی هغه ښځې ته طلاق ورکړو اوس جینئ د مهر مطالبه کولې شی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد شیر جهانګیره...... ۸۵\۱۲\۳

﴿۱﴾ وفی الهندیة: والمهر یتأکد باحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین سواء کان مسمی او مهر المثل حتی لا یسقط منه شیئ بعد ذلک الا بالابراء.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۰۳ الفصل الثانی فیما یتأکد به المهر والمتعة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: والنفقة لا تصیر دینا الا بالقضاء او الرضاء.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۷۱۵ مطلب لا تصیر النفقة دیناً)

جواب: واضحه دی وی چه منکوحه ناواده کړې ښځه د نیم مهر مستحقه ده. وهو واضح نص علیه فی القرآن﴿۱﴾ والفقه﴿۲﴾. وهو الموفق

د مال حرام د جهیز مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئله باره کښې که چرته پلار د لور د پاره په جهیز کښې سامان ورکړو او دا مال حرام وی یعنی په حرامه طریقې سره ئې پیدا کړی وی. ایا د هلک د پاره دا مال اخستل حرام دی یا حلال؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... ۲۰\۱ جمادی الاولی ۱۴۰۲ء

جواب: چه کله یقینی طور باندې حرمت معلوم نه وی نو صرف د شبهاتو دوجهې نه دا جهیز وغیره ردکول ضروری نه دی (شرح اشباه والنظائر ﴿۳﴾) وهو الموفق

جهیز کښې عاریتا ورکړې شوې سامان یا مال واپس اخستلې شی

سوال: څه فرمائی علماءدین شرع متین دې مسئله باره کښې چه زید د هنده سره

﴿۱﴾ قال الله تبارک وتعالیٰ: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن وقد فرضتم لهن فریضة فنصف ما فرضتم. (سورة البقرة پاره: ۲ رکوع: ۱۵ آیت: ۲۳۷)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویجب نصفه بطلاق قبل وطء او خلوة فلو کان نکحها علی ما قیمته خمسة کان لها نصفه ودرهمان ونصف.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۶۰ باب المهر)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: اذا کان غالب مال المهدی حلالا فلابأس بقبول هدیته واکل ماله مالم یتبین انه من حرام وان کان غالب ماله الحرام لا یقبلها ولا یأکل الا اذا قال: انه حلال ورثه او استقرضه.
(الاشباه والنظائر ۱۱۳ القاعدة الثانیة: اذا اجتمع الحلال والحرام غلب الحرام)

واده او کړو او د رواج او عرف مطابق اتیا او یا یازره روپۍ عاریتا جهیز ورکړو لیکن څو میاشتې پس هنده د خپل بارسوخ د والدینو په ویناباندې مور کره کیناسته د هنده مور او پلار هنده د زید سره په استولو باندې تیارنه دې او نه طلاق اخستل غواړی او نه هم د زیوراتو او جهیزو اپس کولو باندې آماده دی پس د دې عاریتاورکړې شوې جهیز د واپسې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری خلیل الرحمٰن کهلابټ ټاون هری پور....... ۱۴۰۱۱۶۱۱۲ء

جواب: که چرته د دې جهیز عاریت کیدل د طرفینو په نزد تسلیم شده وی یا په شهادت سره ثابت شده وی نو دا خاوند دا جهیز هر وخت اخستلې شی. لما فی شرح المجلة: ۸۲۵ ص: ۴۵۸ متی طلب المعیر العاریة لزم المستعیر ردها الیه فورا الخ(۱) وهو الموفق

په مهر کښې د مشاع زمکه او کور ورکول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئله باره کښې چه زما مور پلار زما د یو رور رشته کړې وه د رخصتې په وخت د جینۍ پلار زما پلار ته ووئیل چه زما لور ته نیم کور اولیکه نو هله به ډولۍ درکوم ګنې نه ئې درکوم هغه وخت د مجبورې د وجهې نه زما پلار نیم کور د هغه لور ته اولیکلو مګر ورسره ئې ووئیل چه لیکل خومې او کړل خو درکوم ئې نه د دې خبرې تقریبا پینځلس کاله اوشول تقریبا دوه کاله مخکښې زما پلار صاحب وفات شو اوس که چرته زما بهابی مطالبه او کړه چه هغه د نیم کور حقداره ده نو آیا د شریعت په رنړا کښې دا حقداره جوړې دې شی یا دا به په وراثت کښې تقسیمیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغفار اکوړه خټک....... ۱۹۷۲ء۱۱۱۳۱

جواب: که چرته ستا پلار صاحب دا نیم کور په حق مهر کښې شامل کړې وی نو

---

(۱) (شرح المجله للاتاسی ۳:۳۲۸ ماده: ۸۲۵ الفصل الثانی فی العاریة وضماناتها)

اوس د اتا سو میراثا تقسیمولې نه شئ. دا صرف د دې جینۍ حق دې لصحة جعل المشاع مهرا(۱) او که چرته د هبې یاد بخشش په طور باندې ورکړې وی نو دا ټول کور تا سو په شرعی وارثانو کښې تقسیمولې شئ د دې سره دا جینۍ څه شرعی حق نه لری. لعدم صحة هبة المشاع(۲). وهو الموفق

---

(۱) وفی الهندیة: ولو تزوج علی نصیبه من هذه الدار قال ابوحنیفة رحمه الله تعالیٰ لها الخیار ان شاءت اخذت النصیب وان شاءت اخذت مهر مثلها لا یزاد علی قیمة الدار وان کان مهر مثلها اکثر وعلی قول صاحبیه لها النصیب من الدار ان کان النصیب یساوی عشرة دراهم. (فتاوىٰ عالمگیریة ۱:۳۱۰ الفصل الخامس فی المهر تدخله الجهالة)

(۲) وفی الهندیة: ولا تصح (الهبة) فی مشاع یقسم ویبقی منتفعا به قبل القسمة وبعدها هکذا فی الکافی. (فتاوىٰ عالمگیریة ۴:۳۷۶ الباب الثانی فیما یجوز من الهبة وما لا یجوز)

باب فی الاولیاء

حدیث "لانکاح الا بولی" معنی او مطلب

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه داحنافو مذهب دادې چه بالغه پېغله ښځه خپله نکاح دولی دمرضې نه بغیرهم کولې شی حالانکې په حدیث کښې راغلی دی "لانکاح الابولی" نوددې معنی اومطلب به څه وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدزمان سنهری مسجدروډپشاورصدر

الجواب: عاقله بالغه په نکاح کښې خودمختاره ده البته بهترداده چه دولی دمرضې نه بغیرڅه اقدام اونه کړی. دقران اوحدیث نه داهم مستنبطه ده. او مخالفین چه دکوم احادیث نه تمسک کوی هغه په نابالغه اومجنونه باندې محمول دې یاپه تغلیظ باندې محمول دې﴿۱﴾وهو الموفق

﴿۱﴾وفی المنهاج: عن ابی موسی قال قال رسول الله ﷺ لا نکاح الی بولی الخ احتج الجمهور فی مسئلة اشتراط الولی فی النکاح بحدیثی الباب، وحجتنا ما رواه مسلم من حدیث ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال لا تنکح الایم حتی تستامرو لا تنکح البکر حتی تستاذن، قالوا: یا رسول الله وکیف اذنها، قال: ان تسکت، وفی النهایة الایم فی الاصل اللتی لا زوج لها بکرا کانت او ثیبا مطلقة کانت او متوفی عنها، وزاد فیه ابن جریر رجلا او امرأة، ولنا ایضا ما رواه مسلم من حدیث ابن عباس ان النبی ﷺ قال: الایم احق بنفسها من ولیها والبکر تستامرو اذنها صماتها، فان قیل: قد ورد فی روایة مسلم عن ابن عباس مرفوعا الثیب احق بنفسها من ولیها والبکر تستاذن فی نفسها واذنها سکوتها ومفهومه ان البکر لیست احق بنفسها من ولیها، قلنا:......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په ولایت او وکالت د نکاح کښې عدالت شرط نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زرباز خان خپلې لور لره د اشفاق د ځوی سره منسوب کړې ده هم دغه رنګې اشفاق خان خپلې لور لره د زرباز خان د ځوی سره منسوب کړې ده. دواړه جینکئ او هلکان د بلوغت عمرته رسیدلی دی. اود خپل خپل منسوبینو په حق کښې رضا مند هم دی. لیکن اوس بنیادی نکته دا پیدا شوې ده چه مسمی زرباز خان باندې د ستمبر د ابتداء ۱۹۷۴ء نه د تعزیر حلالې فتوی صادره شوې ده او مذکور ددې د اړولوډپاره قسماقسم حربې استعمالوی. لیکن فی الواقع ترڅو پورې چه د تعزیرحلالې تعمیل اونه کړی دهغه سره اسلامی برتاؤ نشی کیدلې. اوس حل طلب مسئله داده چه د جملې اول پیش نظر په کوم تجویز باندې عمل اوکړئ شی چه د زرباز خان دشراکت نه بغیر د نکاح رسم ادا کړئ شی. او د تعزیرحلالې تعمیل پورې په هغه باندې څرنګه پابندی اولګولې شی چه ددې عدم تعمیل د تعزیرحلالې اثر په ناکحینو او منکوحینو باندې رانشی. نیز یاد دې وی چه د هلکانو او د جینکو په مناسبت کښې د څه ایجاب او قبول رسم ادا شوې نه دې. دا صرف د والدینو انفرادی فیصله وه. اوس صرف عدم تعمیل د حلالې باعث د التوادې. اوس هم زرباز خان سره د اهلیې نه په یو رهائش ګاه کښې دی. زرباز خان ته څو ځلې د تعزیرحلالې د تعمل دپاره فرمائش کړئ شوې دې مګر هغه بدستور

(بقیه حاشیه) العموم اولی من المفهوم بلاخلاف کما صرح به ابن رشد، ولا یبعد ان یقال ان بعض الرواة روی الحدیث بمعناه فی زعمه، ولنا ایضا ما رواه احمد عن ابن عباس ان جاریة بکرا اتت النبی ﷺ فذکرت ان اباها زوجها وهی کارهة فخیرها النبی ﷺ ورجاله ثقات، وقال ابن قطان صحیح والجواب عن حدیث ابی موسیٰ اولاً ان فی سنده اختلافا کما صرح به الترمذی، وعن حدیث عائشة انه قد انکره الزهری کما سیأتی تحقیق العلتین، وثانیا انهما محمولان علی الصغیرة والمعتوهة والمملوکة والناکحة مع غیر الکفو جمعا بین الروایات المتخالفة او ارید منهما نفی الکمال.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴:۲۵۵ باب لا نکاح الا بولی)

منحرف دي، اوس سوال دادي چه دهغه د ځوی په نکاح کښې څه صورت اختیارکړئ شی، چه نکاح اوکړئ شی؟ بینوا توجروا

مرسله: شیرمحمد قریشی نائب صوبیدارراولپنډی

جواب: واضحه دي وی چه د حلالي نه کولو په وجه سره ولایت او وکالت ته هیڅ نقصان نه رسی لان الولایة والوکالة لایشرط فیهما العدالة﴿۱﴾ پس که چرته داسړي (زربازخان) د لور په مرضئ سره ایجاب اوقبول اوکړی نو په دې کښې هیڅ حرج نشته. نیزکه چرته دا جینئ په خپلې مرضئ سره کوم بل سړی له وکیل جوړ کړی نو په دې کښې هیڅ حرج نشته.د پلارغیر موجودګی یا عدم رضامندی نقصان ده امورو کښې نه دی. لکونها عاقلة بالغة﴿۲﴾ وهوالموفق.

د ولی یا د ګواه په وفات سره نکاح باندې څه اثرنه پریوځی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئله باره کښې چه هلک اوجینئ چه هغه نابالغ وی والدینو ددوی په مینځ کښې نکاح اوتړله دهلک دبالغ کیدلو نه مخکښې پلاروفات شوچه هغه دزوئ دنکاح ولی وو .بیادهلک له جانبه جینئ ته دواده پیغام ورکړې شوپه دې باندې جینئ انکاراوکړواووئیل چه زماڅه نکاح نه ده شوې اودنکاح په وخت زه نابالغه وم.اوس بعضې خلق داهم وائی چه دپلاردوفات په وجهې سره نکاح هم ختمېدلې شی،ددې مسئلې نوعیت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: صوبیدارمحمدیوسف واه کینټ...... ۱۹۸۸ء۱۲۱\۲۷

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: الولی هو البالغ العاقل الوارث ولو فاسقاعلی المذهب ما لم یکن متهتکا. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۳۲۱ باب الولی)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: ولا تجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ فان اسأذنها الولی او وکیله او رسوله او زوجها ولیها واخبرها رسوله او فضولی عدل فسکتت او ضحکت غیر مستهزئة او تبسمت او بکت بلا صوت فهو اذن.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۳۲۴ باب الولی)

جواب: که چرته داتحریرحقیقت وی نودانکاح لازم اوناقابل تنسیخ ده دکوم سرپرست یادګواه په وفات کیدلو سره نکاح ته څه نقصان نه رسیږی﴿۱﴾ عالمګیری وغیره﴿۲﴾.وهوالموفق

ښځه د میراث په طور باندې په نکاح کښې د ورکولوحکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئله باره کښې چه یو سړې وفات شواودهغه دوه علاتی رونړه ژوندی دی ددې سړی کوږدنه دبې بهاسره شوې وه لیکن هغه دواده نه مخکښې وفات شو،اوس دهغه علاتی روردعوی کوی چه بې بهاماته په میراث کښې د رورنه پاتې شوې ده ددې وجهې نه زه دادخپل ماما زوئ ته په نکاح سره ورکوم دازما حق دې ایادا کونډه ښځه جبراً یا استحقاقاً دخپل ماما زوئ ته ورکولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... ۱۹۷۲ء۱۷۱\۱۲

الجواب: دې ښځې ته میراث وئیل حرام اودقرآن مخالفت دې، الله تعالی فرمائی:

لا یحل لکم ان ترثوا النساء کرها (الآیة)﴿۳﴾ وفی الهدایة: ولا یجوز للولی اجبار البکر البالغة علی النکاح (۲ : ۲۹۴)﴿۴﴾ فکیف یجوز لغیر الولی، وفی الهندیة (۱ : ۳۰۵) لا یجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکراً کانت او ثیبًا﴿۵﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: ولزم النکاح ای بلا توقف علی اجازة احد وبلا ثبوت خیار فی تزویج الاب والجد والمولیٰ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲ : ۳۳۰ باب الولی)

﴿۲﴾ فان زوجهما الاب والجد فلا خیار لهما بعد بلوغهما وان زوجهما غیر الاب والجد فلکل واحد منهما الخیار اذا بلغ. (فتاویٰ عالمګیریه ۱ : ۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۳﴾ (سورة النساء پاره: ۴ آیت: ۹)

﴿۴﴾ (هدایه ۲ : ۳۱۴ باب فی الاولیاء والاکفاء)

﴿۵﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ۱ : ۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

په نکاح کښې د نابالغه ولی د ایجاب اود قبول حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئله باره کښې چه دنکاح په وخت دولی عمر تقریبًا پېځه کاله وواودې نابالغه ولی په جوړیدلوباندې مونږ خوشحاله وواونکاح مواوکړه، ایادا نکاح صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی علی حیدر ګوجرګړهی مردان

الجواب: که چرته قبول اوایجاب دې هلک کړې وی نودانکاح نامنظور او کالعدم ده، کمافی الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار۲:۴۰۶ وشـرعاالبالغ العاقـل الوارث وخرج نحوصبی ووصی مطلقـاعلی المـذهب﴿۱﴾، البته عاقل ماشوم وکیل جوړیدلې شی.وهوالموفق

جبرًا د ایجاب او قبول حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئله باره کښې چه زه عاقله بالغه مسلمانه ښځه یم زه واده کړې شوې یم مګرداولادنه کیدلوپه وجه سره ماله خاوند طلاق راکړوزه حقیقی رورله راغلم کله چه عدت تېرشونودهغه خیال بدل شواوزمادتره اودچاچی اودنورومحرموخلقوپه مددسره سازش جوړکړواوزه ئې مجبوره کړم دیوسړی سره ئې زمانکاح جبرارجسټرډکړه حالانکې مادزړه یاپه ژبې سره اقراریاقبول اونه کړو نه ئې زمانه پوښتنه اوکړه اونه ئې څه شرعی کلمات اوئیل اوزماګوته جبرادووکسانوپه نیولوسره په رجسټرډ باندې اولګوله ددې تمام تشدد باجودترننه پورې زه دروړپه کورکښې یم ددې غیرمحرم اوخانه بدوش سړی سره زمادنکاح دثابت کولوکوشش کوی آخری ساه پورې دده سره نکاح کولوته تیاره نه یم.په شریعت کښې ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:الف.ب.ت.قوم ګوجراولپنډی........۱۴رجب ۱۴۰۳ء

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۲۱ باب الولی)

جواب: که چرته تادایجاب اوقبول الفاظ جبرایاپه رضااورغبت سره نه وی وئیلې نوته آزاده ئې دانکاح کلعدم ده اوپه بل ځائ کښې نکاح کولې شې

عاقله اوبالغه باندې جبر نامنظوراوپخپله کړې شوې نکاح منظورده

سوال: څه فرمائې علماءدین دې مسئله باره کښې (الف) مسماة فلانې یوبالغه اوعاقله ده (ب) ددې پلارددې نکاح یونابالغه وراړه سره کول غواړی (ج) دنکاح نه مخکښې کله چه مسماة ته علم اوشودادې نابالغه سره دنکاح کولونه انکارکوی (د) پلاردڅه خاص خطرې دوجهې نه دخپلې لورنکاح ددې وراره سره کولوباندې اصرارکوی (ه) کله چه دنکاح مجلس منعقدشی نو مسماة دخپل کوروالوسره په جهګړې شی هغوی ددې دراضی کولوکوشش کوی خوهغه درضامندې په ځائ په جهګړې اوانکارکښې مشغوله شی ددې باجودپلارئې دکورنه بهرپه حجره کښې نکاح دوراره سره اوتړله (و) په دویمه ورځ پلارلورته نصیحت اودرضاترغیب ورکوی چه لورې ماته دخپل کورپه تخت باندې کینولې لورپه جواب کښې ورته وائی چه نزدې ده زه به داتول په دې تخت باندې اوژړوم (ر) ځوورځې پس موقعې موندلوسره مسماة دخپل زوړ آشناسره اوتختیدله (ز) دجینئ پلاراونورکوروالا خلق دمغویې دواپس کولوکوشش کوی اودکوروالوپه مینځ کښې په جهګړه کښې دمغویې پلار قتل شو (ط) هم په دغه وخت دمغویې پورشته دارمولوی صاحب دحالاتو د جائزې اخستلودپاره دمغویې دپلارکورته لاړوچه ایادنکاح په وخت مغویې

﴿۱﴾قـال العـلامة ابـن نـجیم: (قوله ولا تجبر بکر بالغة علی النکاح) ای لا ینفذ عقد الولی علیها بـغیـر رضاها...... لانها حرة مخاطبة فلایکون للغیر علیها ولایة والولایة علی الصغیرة لقصور عقلها وقد کمل بالبلوغ بدلیل توجه الخطاب الخ.

(البحر الرائق ۳: ۱۱۰ باب الاولیاء والاکفاء)

رضامندي یاخاموشي ظاهرکړې وه یاڅه معامله وه؟ (ع) مولوی صاحب چه کله دکوردښځونه دحالاتوپوښتنه اوکړه کومې چه دنکاح په وخت دمغویې سره موجودې وې نودوه ښځې چه هغه دمغویې اومولوی صاحب خاصې رشته دارانې وې هغوی دابیان ورکړوچه په دې حادثه کښې دمغویې د پلار مرحوم غلطی وه ځکه چه مغویې په هغه وخت کښې صاف انکار اوکړو، اوجهګړې ئې کولې، دمغویې پلارخپلواوپردوډیرپوه کړوخولیکن هغه په خپل مصلحت باندې کلک ولاړووچه په څه طریقې سره لوړراضی کړم (ک) مغویه دآشناسره دتلونه دوه میاشتې پس عدالت ته په دې نیت سره حاضر شوه، چه عدالت کښې بیان ورکړم چه زه دکوم آشناسره تلې ووم هغه زما خاوند دې اوپلارزه په صحیح نکاح سره ده له ورکړې ووم لیکن هغه زه دخپل خاوندسره دڅه لالچ دوجهې نه تلوته نه ورکولم، لهذازه دخپل خاوند سره پخپله خوشحالې سره تلې یم (ل) عدالت کښې دحاضریدونه مخکښې کله چه دمغویې رشته دارانوته عدالت ته دتللوپته اولیږده، نوهغوی فوراً مغویې له ورغلل اوموقعې موندلوسره ئې مغویې له داتحریض ورکړوچه ستا پلارستاآشناوالوقتل کړې دې لهذااوس ته داغوابالجبراودقتل دعوی په پخپل آشنااودهغه په پلاراودهغه ورورباندې اوکړه اومغویې ته یې دایقین دهانی ورکړه چه رشته داران به تاته په دې ناخوښه حرکت باندې هیڅ هم نه وائی پس مغویې درشته دارانودتلقین شده بیان مطابق په خپل آشنا او دهغه رور اوپه پلاردقتل اواغوادعوی اوکړه ددې په وجه باندې آشنا خو مفرور شو د آشنا پلارته او رورته بامشقته سزاملاؤشوه (ی) دمغویې دواپس کیدلو په وخت دهغې په رشته دارانو کښې یورشته دارمسماه فلان هم وو، چه دهغه سره وعده کړې شوې وه چه کله مغویه د آشنانه واپس راشی نو دهغې نکاح به تاسره کوو (م) اوس هغه رشته دارچه دهغه سره دمغویې دنکاح وعده کړې شوې وه دمغویې رشته دارمجبورکړې

شوچه حسب وعده مغویه ستاښځه ده ماته رقم راکړه (ن) هغه فلان په جواب کښې وائی چه بې شکه ماوعده کړې وه لیکن په دې شرط سره چه په مغویه کښې به ماسره دنکاح متعلق دڅه شک اوشبهې ګنجائش نه وی، اوس چونکې زمونږمولوی صاحب وائی چه مادموجوده ښځونه پوښتنه اوکړه چه مغویه دعقدنکاح په وخت هم انکاری وه لهذادمغویې نکاح دوراره سره صحیح نه ده، اوپه دویمه نکاح کښې ئې شبه ده ددې وجهې نه تاته حلاله نه ده اوس چه علماءدې ته جائزنه وائی نوزه څنګه داپه خپل تحویل اونکاح کښې راولم محترم مفتی صاحب بامرادجواب راکړه.

المستفتی: مولاناشهیداحمدمهتمم مدرسه عربیه مدنیه ملانه ختک ۱۹۲۹ء۶/۱۷/۱

الجواب: په صورت مسئوله کښې دپلارنکاح نامنظوره ده، لمافی الدرالمختار وغیره لاتجبرالبالغة البکرعلی النکاح﴿۱﴾ اوکه چرته دآشناسره نکاح شوې وی نوهغه منظوره ده، فنفذ نکاح مکلفة بلارضاولی﴿۲﴾ لهذاد آشناسره نکاح باقی کیدلوپورې بل کس داپه نکاح سره نشی اخستلې بشکه دطلاق یافسخې نکاح نه پس دیته دنکاح ثانی حق حاصل دې، وهوالموفق

بالغه جینۍ چه د نکاح په خبر باندې فورا انکاری شی نودا نکاح کالعدم ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئله باره کښې چه یوسړی خپله عاقله بالغه لور په نکاح ورکولوډپاره مخامخ څلورګواهان ایجاب اوقبول اوکړه، څه وخت پس دې جینۍ دخپل تره نه زبانی واوریدل چه ددې پلاریعقوب سره ددې رشته کړې ده، نودې فورا انکاراوکړواووهل ټکول ئې شروع کړل په دې باندې ددې مورداووهله هم لیکن جینۍ صفااووئیل چه دارشته ماته منظور نه ده اوداخبریعنی انکاریعقوب ته هم اورسیدلو، څه وخت پس داجینۍ د تا یا زا د رور رشتې غوښتلوباندې جینۍ رضامندی ظاهره کړه اوحقیقی رور ددې نکاح اوکړه او رخصتی هم اوشوه اوس جینۍ هلته خوشحاله او

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۲۴ باب الولی)

﴿۲﴾ شرح التنویر علی هامش الشامیة ۲ل ۳۲۲ باب الولی)

راضی ده اوس یعقوب په عدالت کښې مقدمه درج کړه، دریافت طلب امر دادې چه مخکښې دایجاب اوقبول اعتبارعندالشرع وویانه؟ اودادویمه نکاح صحیح ده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولاناعبدالرشید چهاونی پشاور........ ۱۳\۳جولائ۱۹۷۵ء

الجواب: بشرط صدق اوثبوت دا عقد اول نامنظوراو کالعدم دې.

کما فی العالمگیریة (۱: ۳۰۵) لا یجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکراً کانت او ثیباً فان فعل ذلک فالنکاح موقوف علی اجازتها فان اجازته جاز وان ردته بطل، کذا فی السراج الوهاج﴿۱﴾. وهوالموفق

جینۍ بالغ کیدلو سره د جرګې په مخامخ د واده نه انکار اوکړو. ایا دا نکاح به کالعدم وی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئله باره کښې چه دوه نابالغ هلک جینۍ د ولی په اجازت سره په حضور دشاهدینو بالغینو عاقلینو نکاح اوشوه بیا د واده نه مخکښې جینۍ دبالغ کیدلو سره دعام جرګې په مخامخ دخپلې نکاح دمنسوخ کولورائ ښکاره کړه اودواده نه ئې انکاراوکړو. ایا ددې عدمې قبولیت په وجهې سره دانکاح فسخه کیدې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمداسماعیل پبی آرایس....... ۱۲\۱۴\۱۹۷۵ء

جواب: که چرته دانکاح دپلاریادنیکه نه علاوه بل ولی عقد کړې وی نو معتبر اعلان دناراضګۍ په صورت کښې دانکاح قاضی فسخه کولې شی. کمافی الهندیه(۱: ۳۰۴) ویشترط فیه القضاء بخلاف خیارالعتق کذافی الهدایه﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

د نیا په کورکښې اوسیدونکې بالغه د پلارکړې شوې نکاح نه د انکارمسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئله باره کښې چه دنن نه شپاړس کاله مخکښې چه خاوند خپله ښځه اولورد کورنه اوخکلوسره اوئیل چه ماته سره د لورنه بښلې ئې، ددې نه پس دا ښځه سره دلوردمورکورته لاړه اوشپاړسو کالو پورې خاونددې خبرخبروانخستلو کله چه پلارته پته اولګېده چه تن شپه ددې نکاح کیدلو والاده، نوپلاردخپل طرف نه دماسخوتن دمونځ نه مخکښې ددې جینۍ نکاح دبل هلک سره اوکړه کله چه جینۍ ته معلومه شوه چه زماپلارزمانکاح دبل هلک سره کړې ده نودفورادخپلې مور او نیا اود یوبل کس سره تهانې ته روانه شوه اورپوټ ئې درج کړواووې وئیل چه ماته دموراونیاوالانکاح منظوره ده اوپلارزماچه کومه نکاح دکوم کس سره کړې ده هغه ماته نامنظوره ده، دشریعت په رڼاکښې دپلارکړې شوې نکاح صحیح ده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالمجیدلاهورصوابی....... ۱۳\۱۱\۱۹۷۴ء

جواب: کله چه پلارددې جینۍ نکاح کوله اوهغه جینۍ بالغه وه، اوهغې ته دنکاح خبررسیدلوسره رپوټ درج کولودپاره روانه شوه اوانکارئې اوکړو، نود شریعت په رڼاکښې دپلارکړې شوې نکاح نامنظوره ده اودې بالغې جینۍ ته اختیاردې چه کوم ځائ غواړی نکاح کولې شی﴿۱﴾وهوالموفق

د ماما د نابالغه خورځې نکاح تړل اود جینۍ د ناراضګۍ مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیوجینۍ نکاح دعدمې

﴿۱﴾وفی الهندیة: **لا یجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکرا کانت او ثیباً فان فعل ذلک فالنکاح موقوف علی اجازتها فان اجازته جاز وان ردته بطل کذا فی السراج الوهاج.** (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

بلوغ په ورځو کښې مامادیو سړی سره اوتړله جینئ بلوغت درسیدلو سره اعلان اوکړوچه ماته دانکاح نامنظوره ده اونه زمامامازمادنکاح حقدار دې، دجینئ والدین ژوندی نه دی ددې نکاح شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن غریب پورخیرآبادنوشهره........ ۱۹۷۲ء/۱۲/۲۰

الجواب: که چرته جینئ دبلوغت سره داعلان کړی وی نودمسلمان حاکم په ذریعې سره دانکاح فسخه کیدې شی فی الدرالمختاربشرط القضاء للفسخ (هامش ردالمحتار ۲:۴۲۱﴿۱﴾وفی الهندیه ویشترط فیه القضاء(۱: ۳۰۴)﴿۲﴾ وهوالموفق

د بالغې جینئ نه اجازت اخستل اود جینئ په کورکښې د نکاح تړلومسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دنکاح په تقریب کښې مشوره ده کیدله چه دینی رورکوم مقررکړې شی.مااووئیل چه کله پلاروَلی موجودوی نودوکالت څه ضرورت دې؟دویم سړی ماته اووئیل چه چونکه دجینئ مرضی دګواهانومخکښې ضروری ده اوپلاردې کارلره نشی کولې، ددې وجهې نه غیرمحرم عزیزدینی رورجوړولې شی دې وجهې نه ما خاموشی اختیارکړه،لیکن په زړه کښې مې دامسئلې مخ ته راغلې چه: دخاوند په کورکښې نکاح څنګه کولې شی؟او ایا پلار دلورنکاح نشی تړلې؟او ددې ګواهئ څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل محمد باجا صوابی........ ۱۹/۱۱نومبر۱۹۸۹ء

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: ولکن لهما ای لصغیر وصغیرة خیار الفسخ بالبلوغ او العلم بالنکاح بعده بشرط القضاء للفسخ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۳۲باب الولی)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وان زوجهما غیر الاب والجد فلکل واحد منهما الخیار اذا بلغ ان شاء اقام علی النکاح وان شاء فسخ...... ویشترط فیه القضاء.
(فتاویٰ عالمگیریه ۲:۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

جواب: کله چه جینئ نابالغه وی نوپلاروغیره ددې جینئ دنکاح تړلومجازوی البته که چرته پلاریانیکه نکاح اوتړله نوپه دې صورت کښې جینئ دپاره خیار بلوغ نشته﴿۱﴾ اوکله چه جینئ بالغه اوپیغله وی نوبغیرددې داجازت نه نکاح تړل کالعدم دی،البته که چرته داجازت اخستلودپاره اجنبی سړې روان شی نوتصریح ضرورې ده ګنی خاموشی ژړل وغیره څنګه چه عرف وی کافی دی﴿۲﴾ او دبالغه کیدلوپه صورت کښې بهرحال دامستحب دی چه دوه سړې په دې اجازت باندې ګواه جوړشی ضروری نه ده﴿۳﴾ اود وادہ نه پس دخاوند په کورکښې نکاح تړل ناجائزنه دی لیکن مصلحت دادې چه دپلارپه کور کښې باقاعده نکاح اوتړلې شی اومهرمقررکړې شی چه د ډیرو مشکلاتو نه خلاصې حاصل شی﴿۴﴾وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: فان زوجهما الاب والجد فلا خیار لهما بعد بلوغهما وان زوجهما غیر الاب والجد فلکل واحد منهما الخیار اذا بلغ ان شاء اقام علی النکاح وان شاء فسخ الخ.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۲﴾ قال العلامة عبد اللّٰه بن مودود الموصلی: ولا اجبار علی البکر البالغة فی النکاح والسنة للولی ان یستأمر البکر قبل النکاح ویذکر لها الزوج فیقول ان فلانایخطبک او یذکرک فاذا سکتت فقد رضیت، ولو ضحکت فهو اذن ولو بکت ان کان بغیر صوت فهو رضا ولو استأذنها غیر الولی فلا بد من القول.
(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۱۲۱تا۱۲۴ فصل فی اعتبار عبارة النساء)

﴿۳﴾ قال العلامة محمد امین الشامی: واعلم انه لا تشترط الشهادة علی الوکالة بالنکاح بل علی عقد الوکیل وانما ینبغی ان یشهد علی الوکالة اذا خیف جحد الموکل ایاها فتح.
(فتاویٰ الشامیه هامش الدرالمختار ۲:۳۵۲مطلب فی الوکیل والفضولی فی النکاح)

﴿۴﴾ قال العلامة الکاسانی: لا جواز للنکاح بدون المهر عندنا...... قال اصحابنا ان المهر شرط جواز نکاح المسلم...... ویجوز النکاح بدون المهر...... یجب مهر المثل بنفس العقد عندنا حتی یثبت لها ولایة المطالبة بالتسلیم الخ. (البدائع الصنائع ۲:۵۵۹ فصل ومنها المهر)

د نکاح په خبربانديږ د ښځې خاموشی او بیا د انکارحکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دښځې نکاح پلار دیو سړی سره اوکړه کله چه ښځې ته دعقدنکاح خبراورسیدلونوهغه خاموش پاتې شوه،ددې نه پس په دویمه ورځ دې انکاراوکړواووې وئیل چه زه په دې نکاح راضی نه یم،ایادانکاح صحیح ده یانه؟ اوکه چرته ښځه راضی کړئ شی نوبیاپه سابقه نکاح باندې اکتفاءاوکړئ شی یاتجدیددنکاح ضروري دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: سعدالرشید زیارت کاکاصاحب......... ۲۵۱۳۱،۱۹۲۹

جواب: که چرته دانښځه دخبررسیدلوپه وخت کښې خاموشه پاتې شوئ وی اودومره الفاظ ئی هم نه وی وئیلي چه ماخوتاسوته اول نه واضحه کړې وه چه زه دفلانی سره په نکاح کولوباندې راضی نه یم،نوپه دې صورت کښې دانکاح صحیح ده.

فی الدرالمختار: ولو استأذنها فی معین فردت ثم زوجها منه فسکتت صح فی الاصح (قال العلامة الشامی ۲:۴۱۲) اما لو قالت حین بلغها قد کنت قلت انی لا ارید فلانا ولم تزد علی هذا لم یجز النکاح انتهیٰ﴿۱﴾، قلت فاذا صح النکاح بالسکوت فلا یبطل بالانکار اللاحق. وهوالموفق

د نکاح فضولی په صورت کښې علم کیدلو باندې په اوچت آواز ژړیدلو سره د نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوولی خپله متوله چه هغه بالغه باکره وی بغیرداجازت نه دمتولیه چاته په نکاح کښې ورکړه، د نکاح په خبرملاویدلوباندې په اوچت آوازژړیدل شروع کړل حالانکه دا ژړیدل رسمی نه وو بلکه دخاص ناراضګئ دوجهې نه وو.اوس واده اوشو او

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۲۵ باب الولی)

د واده په وخت تجدیددنکاح هم اونه شوایادانښځه ددې سړی منکوحه ده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالقهار........

جواب: که چرته دقرائنونه دامعلومه وی چه دانښځه په دې نکاح راضی نه ده نو دا نکاح صحیح نه ده که چرته اشتباه موجودوی نوتجدیدذنکاح ښه اوبهتر دې.

فی الدرالمختار: ولا تجبر البالغة البکر علی النکاح فان استأذنها هو او زوجها فسکتت او بکت بلا صوت فهو اذن، فلو بصوت لم یکن اذ ناولا رداً حتی لو رضیت بعده انعقد، (انتهیٰ باختصار وتقدیم وتاخیر)﴿۱﴾ وفی ردالمحتار ۲:۴۱۱ قال فی الفتح بعد حکایة الروایتین: والمعول اعتبار قرائن الاحوال فی البکاء والضحک فان تعارضت او اشکل احتیط انتهیٰ فقد ظهر لک ان ما فی المعراج ضعیف لا یعول علیه، انتهیٰ ما فی ردالمحتار﴿۲﴾. وهوالموفق

د نکاح په اطلاع باندې دجینئ رضاء او عدم رضا پیژندل اود نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زمونږپه علاقه کښې په کوژدنه اونکاح کښې یوولی هم دخپلې بالغې متولیه نه دنکاح اجازت نه اخلی بلکه ولی دخپلې مرضې مطابق چاته په نکاح کښې ورکوی که متولیه راضی وی اوکه نه وی راضی بلکه ولی دمتولیه دنکاح پټولوکوشش هم کوی. اودرې څلورومیاشتوپورې دیته خبرنه وی؟ روستوچه کله متولیې ته دنکاح پته اولیږی نوپه اوچت آوازسره په ژړاشی که دې ته دولی نکاح خوښه وی اوکه نه وی خوښه.اوس بعضې خلق وائی چه داژړیدل په اوچت آوازسره دا د رواج دوجهې نه دی دناراضګئ دوجهې نه ندی اوکه چرته دښځې نه دې باره کښې پوښتنه اوکړئ شی نوهغه وائی چه داوچت آوازژړیدلودوه صورتونه دی اول داچه دجینئ اودخاوندپه مینځ کښې دځه فرق وی یعنی جینئ کم عمره وی اوخاوندزیات عمروالایاداچه جینئ صحت منده اوښه بدن والاوی

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۲۴ باب الولی)
﴿۲﴾ (ردالمحتار علی شرح التنویر ۲:۳۲۵ باب الولی)

او هلک کمزوري اوګډوي، یاجینئ دیواوچت خاندانه نه وی اوهلک دبې
نومه کورنئ والاياخه نورقسمه فرق وی نودا په اوچت آواززړيدل دنکاح د
ناخوښي دوجهي نه وی، اودويم صورت دادي که چرته مذکوره فرقونو کښې
څه قسمه فرق نه وی نوبیاهم دمورپلاردکورد جدائي دوجهي نه یوه جینئ هم
نکاح نه خوښه وی اوکله کله دومره په اوچت آوازسره اوژاړی چه جینئ بې
هوشه شي یا بیماره شي ددي قسمه نکاح څه حکم دي؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد عمرلورالائ........ ۱۹۷۵ء\۵\۲۶

جواب: که چرته دابالغه دباقاعده اطلاع نه پس په واضحو الفاظو کښې انکار اوکړی نودانکاح کالعدم ده دواده په وخت دوباره نکاح کول (په اجازت) سره ضروری دی،

کما فی الهندیة (۱:۳۰۵) لا یجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکراً کانت او ثیباً فان فعل ذلک فالنکاح موقوف علی اجازتها فان اجازته جاز وان ردته بطل کذا فی السراج الوهاج﴿۱﴾.

اوکه چرته صرف په اوچت آوازسره ژاړی نوپه قرائنو باندې به دارومدار کولې شی اوکه چرته اشتباه واقع وی نوپه احتیاط باندې به عمل کولې شی.

کما فی ردالمحتار ۲:۴۱۱ قال فی الفتح والمعول اعتبار قرائن الاحوال فی البکاء والضحک فان تعارضت اواشکل احتیط انتهی﴿۲﴾ ای النکاح لا یثبت بالشک. وهو الموفق

په استیذان کښې د جینئ خاموشي اجازت دي

سوال: څه فرمائی علماء دین دي مسئلې باره کښې چه یو سړی دخپلې لورنکاح اوکړه اولورئې خاموشي اختیارکړه، ایادا نکاح صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام صادق شاه کوټ پشاور........ ۲۵\صفر۱۴۰۲ء

﴿۱﴾ (فتاوئ عالمگیریه ۱:۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)
﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۲۵ قبیل قوله فهو اذن باب الولی)

الجواب: دانکاح شوې ده، کما فی شرح التنویر ۲:۴۱۰ فان استاذنها .... فسکت..... فهواذن الخ﴿۱﴾ وهو الموفق

د ګواهانو په مخامخ د جینئ نکاح، روستو د جینئ انکار اود عدم بلوغت دعوئ وغیره

سوال: څه فرمائی علماءدین شرع متین دي مسئلې باره کښې چه جینئ دوو ګواهانو ته دنکاح اجازت ورکړو، جینئ ځوانه وه، روستو داختلاف په وجه دې انکاراوکړواودعوی ئې اوکړه چه زه دنکاح په وخت نابالغه ووم، یاده دې وی چه دنکاح په وخت دمورپلارهم اجازت وو، اوس شرعی مسئله څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالوکیل تحصیل هزاره........ ۱۹۷۲ء\۱۱\۱۲

الجواب: دانکاح دخیاربلوغ په وجه فسخه کول دشریعت خلاف دی، ځکه که چرته دابالغه وه، نودبالغې په نکاح کښې خیاربلوغ تصورکیږی نه، اود نابالغې عقدنکاح که چرته پلاریانیکه کړې وی نوپه هغې کښې خیاربلوغ نشته، کمافی الهندیه ۱:۳۰۴ فان زوجها الاب والجد فلا خیار لها بعد بلوغها﴿۲﴾ وهو الموفق

بغیردولی نه نکاح تړل اود ښځې په دويم ځائ کښې د نکاح کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دي مسئلې باره کښې چه مسمی زید هغه چه غیرولی دي دمسماة جمیله اخترسره نکاح اوتړله حالانکه په نکاح کښې دجمیله اختر یو وارث هم نه وو، اوپخپله جمیله اخترته هم دانکاح منظورنه وه، ددې وجهې درخصتئ نه مخکښې جمیله اختردبل سړی سره نکاح اوتړله

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۲۴ باب الولی)
﴿۲﴾ (فتاوئ عالمگیریه ۱:۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

او رخصتي اوشوه، اوس مقدمه روانه ده کومه نکاح صحيح ده او کومه نه ده صحيح؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي عبدالحئ صاحب...... ۱۸/۱۲/۱۹۷۴ء

جواب: که چرته جميله اختربا قاعده په دې سابقه نکاح باندې ناراضګي ظاهره کړې وي، نو دا سابقه نکاح نامنظور او کالعدم ده. في الهنديه ۱: ۳۰۵ لايجوز نكاح احد بالغة صحيحة العقل من اب اوسلطان بغير اذنها بكرا كانت اوثيبا الخ﴿۱﴾ قلت فالاجنبي يكون اولى بعدم الصحة: وهو الموفق

د جينۍ پلارنيکه ته د نکاح اختيار ورکولو نه پس انکارکول.....؟

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه يو سړی خپل پلارته دخپلې لور اختيار ورکړو چه دچاسره دې خوښه وي ددې نکاح اوکړه، په دې باندې نيکه دخپل نمسی سره ددې نکاح تړل او غوښتل. کله چه دجينۍ پلار ته معلومه شوه نو هغه انکار اوکړو چه دا نکاح به نه کوی. اوس نيکه ته چه کوم اختيار ورکړې شوې دی ايا بغير درضامندې دجينۍ دپلارنه دا نکاح کيدلې شی؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي غلام غوث امام مسجد ډهوک فتح کيملپور ۱۴/۹/۱۹۷۰ء

الجواب: چونکه پلار دنيکه په نسبت نزدې ولي دې لهذا دپلار دنه موجودګۍ په وخت کښې نيکه ته دنکاح حق حاصل نه دې﴿۲﴾ او دجينۍ پلار چه کله نيکه د وکالت نه معزول کړونو دوکالت حق هم ختم شو. لهذا دپلار درضامندۍ نه بغير دچا نکاح کول منظور نه دی. في الدرالمختار: متى شاء مالم يتعلق به حق الغير﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (فتاوىٰ عالمگيريه ۱: ۲۸۷ الباب الرابع في الاولياء)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي: وللولي الابعد التزويج بغيبة الاقرب فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف على اجازته، قال ابن عابدين: كذلك فلا يكون سكوته اجازة لنكاح الابعد وان كان حاضرا في مجلس العقد مالم يرض صريحاً او دلالةً. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۴۱ قبيل فروع باب الولي)

﴿۳﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۴: ۴۶۳ باب عزل الوكيل)

د سيئ الاختيار پلار د نابالغه لور د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه د زيد او ده د ښځې په مينځ کښې تعلقات خراب دی، اوس زيد د ښځې د تنګولو د پاره دخپلې نابالغه لور نکاح په غير قبيله کښې کوی، اوس مطلوب دادې چه جينۍ ته د فسخې نکاح د پاره خيار بلوغ به حاصل وی يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: سعد الباقي جان شيرګړ........ ۱۴۰۱/۴/۲۴ھ ۱۴۰۱ء

جواب: کله چه پلار سيئ الاختيار نه وی يعنی ددې نه مخکښې پلار بلې لور له په غير مناسب ځائ کښې نه وی ورکړې نو دا نکاح لازم او ناقابل تنسيخ ده.

لما في شرح التنوير: او زوجها بغير كف ان كان الولي المزوج بنفسه ابا او جداً لم يعرف منهما سوء الاختيار مجانةً وفسقا وان عرف لا يصح النكاح (بحذف يسير) (هامش ردالمحتار ۲: ۳۱۸) ﴿۱﴾. وهو الموفق

پلار د بالغې لور نکاح په زورنشی کولې

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه جينۍ بالغه ده ددې عقد نکاح ددې پلار اوکړو، مګر دا په دې عقد باندې ناراضه ده او نه ئې منی نو ايا د پلار دا جبري نکاح کيدلې شی؟

المستفتي: عبدالرحيم ايبټ آباد

جواب: که چرته دا امر چه جينۍ ددې عقد په وخت بالغه وه، او په دې عقد باندې د ناراضګۍ اعلان کړې وی که مسلم وی يا مبرهن وی نو دا عقد به نامنظور او کالعدم وی، کما في الهنديه (۱: ۳۰۵) فليراجع ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۳۰ باب الولي)

﴿۲﴾ قال العلامة النظام: لا يجوز نكاح احد على بالغة صحيحة العقل من اب او سلطان بغير اذنها بكرا كانت او ثيباً فان فعل ذلك فالنكاح...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د هلک په غیر موجودګئ کښې نکاح او واده کول

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زمونږ په علاقه نظام پور کښې دا رواج دې چه د هلک په غیر موجودګئ کښې واده کولې شی. د نکاح په وخت د هلک د طرف نه د ده پلار د رضامندئ اظهار او ایجاب او قبول اوکړی، بیا چه کله هلک د فارن نه په چهټئ باندې راشی نو دوباره نکاح نه بغیر خاوند او ښځه په ازدواجئ زندګئ کښې منسلک شی آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: شاه الیکټرک سټور نوښهره...... ۱۹۷۲ء۱۷/۳

الجواب: په صورت مسئوله کښې کله چه پلار د خپل زوئ نه اجازت اخستئ وی نو دا نکاح بغیر د شک او شبهې نه صحیح ده او که چرته اجازت نه وی اخستلې شوې خو لیکن زوئ په خبرید و باندې قولاً یا فعلاً قبول کړې وی نو بیا هم صحیح ده او که چرته هلک انکار کړې وی نو نکاح نامنظور ده ﴿۱﴾ وهو الموفق

د پلار اجازت چه نه مبرهن وی نه مسلّم
نو د نیکه کړې شوې نکاح کالعدم ده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی د خپلې نابالغې لور اختیار خپل زوئ ته وکړو مګر د رور په نه موجودګئ کښې د جینئ نیکه د جینئ نکاح د یو هلک سره اوکړه. مګر د جینئ پلار د دې نکاح د نفاذ نه منکر

(بقیه حاشیه) موقوف علی اجازتها فان اجازته جاز وان ردته بطل کذا فی السراج الوهاج...... بالغة زوجها ابوها فبلغها الخبر فقالت لا ارید او قالت لا ارید فلانا فالمختار انه یکون رداً فی الوجهین. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۷، ۲۸۸ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: رجل زوج رجلا امرأة بغیر اذنه فبلغه الخبر فقال نعم ما صنعت او بارک الله لنا فیها او قال احسنت او اصبت کان اجازة کذا فی فتاویٰ قاضی خان وهو المختار اختاره الشیخ ابواللیث کذافی المحیط...... رجل زوج امرأة من رجل بغیر امرها فبلغها الخبر فقالت باک نیست فهذا اجازة الخ.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۹۹ الباب السادس فی الوکالة بالنکاح)

وو، د پلار د عزت د وجهې نه د نکاح په مجلس کښې موجود وو، د مجبورئ نه ئې شرکت او کړو، ځکه چه د لعن طعن نه محفوظ شی، او س جینئ بالغه ده خپله ګټه او نقصان پیژنی، د طرفینو د اختلاف د وجهې نه جینئ د دې نکاح منلو نه منکر ده، د نکاح ولی هم منکر دې او نیکه ئې هم مخالف دې، البته د اهلک کورو الا ګواه پیش کوی چه د نکاح په وخت پلار نیکه ته اجازت ورکړې وو هغه د جینئ پلار د روغږن بولی، په دې صورت کښې دا نکاح شوې ده یا نه دې شوې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی غلام نبی اچهریا مانسهره...... ۱۱۳ شعبان ۱۴۰۲ء

جواب: که چرته د پلار د طرف نه د دې عقد اجازت نه مبرهن وی او نه مسلّم وی نو دا عقد نافذ نه دې.

کما فی ردالمحتار ۳: ۸۱ (مطبع مصطفیٰ البابی) والظاهر ان سکوته (الاقرب) هنا کذلک فلا یکون سکوته اجازة لنکاح الابعد وان کان حاضراً فی مجلس عقد النکاح مالم یرض صریحاً او دلالةً تامل ﴿۱﴾. وهو الموفق

د نابالغې حق ولایت د علاتی رور د پاره دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې یو سړې وفات شو او د ده نه یو زوئ او درې لوریانې پاتې شوې، او یو ښځه ترینه هم پاتې شوه چه هغه صرف د جینکو مور ده، د دې ښځې دویم واده هم او کړو او س د جینکو د نکاح حق ولایت د دې مور یا د مور خاوند ته به حاصل وی یا علاتی رور ته؟ بینوا توجروا

المستفتی: یوسف شاه حقانی وزیرستان...... ۱۱۴ ربیع الاول ۱۴۰۱ء

جواب: که چرته دا علاتی رور د دې علاتی خویند و بدخواه نه وی نو د دې علاتی

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۴۱ قبیل الفروع باب الولی)

روږته ددې علاتې خوبندوهغه چه نابالغه دی. حق ولایت حاصل دی نه چه مور یا د مور خاوندته. والتفصیل فی الدرالمختار ﴿۱﴾ وهوالموفق

د عاقلې بالغې د کفو سره نکاح نافذ ده اګرچه ولی په دې راضی نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیو عاقلې بالغې ښځې نکاح دیوکس سره اوشوه اونکاح په فارم باندې دستخط د ګواهانو اومولوی صاحب په مخامخ هم موجودوی. اونکاح په وخت ئې ددوی په مخکښې رضامندی هم ظاهره کړې وی. روستو دمنکوحې دخپلوانو په نه رضامندئ باندې به دا نکاح بحال وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سعیداحمدعباسی........ ۲\۵\۱،۱۹۷۳

الجواب: که چرته دانکاح د کفو سره شوې وی نوبحال به وی. دې لره پلاروغیره فسخ کولې نه شی

وفی الهندیة ۱: ۳۰۵ نفذ نکاح حرة مکلفة بلا ولی عند ابی حنیفة وابی یوسف فی ظاهر الروایة ﴿۲﴾ وبمعناه فی ردالمحتار ﴿۳﴾ والبحر والفتح والخلاصة وغیرها. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: الوالی فی النکاح العصبة بنفسه وهو من یتصل بالمیت بلا توسط انثی علی ترتیب الارث والحجب، قال ابن عابدین: وابن الابن کالابن ثم یقدم الاب ثم ابوه ثم الاخ الشقیق ثم لاب.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۳۸ مطلب لا یصح تولیة الصغیر شیخاً علی خیرات)

﴿۲﴾ (فتاوی عالمگیریه ۱: ۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضا ولی...... وللولی اذا کان عصبة...... الاعتراض فی غیر الکفء.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۲۲ باب الولی)

د مور ولایت د اخیافی تره نه قوی دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دجمیلې واده اکرم سره اوشواوددوی نه یوهلک خالدپیداشو. روستواکرم وفات شو. بیاجمیلې د اسلم سره دویم واده اوکړواویوهلک حامدترینه پیداشو. اوس خالد او حامد د مورپه رشته کښې رونړه دی. خالدنکاح اوکړه دده یولورشاهده پیدا شوه. اوحامدزوئ شکیل پیداشو. په دې دوران کښې دخالدانتقال اوشو. حامد دشاهدې نکاح دپنځومیاشتوپه عمرکښې دخپل زوئ شکیل سره اوکړه. دبالغه کیدلونه پس شاهدې نکاح ختمه کړه. ایاشاهده دانکاح ختمولې شی؟ بله داچه حامدوائی چه شاهده زماوریره ده زه ددې ولی یم. حالانکې مورئې وائی چه زه زیاته حقداره یم نودولایت زیات حق چاته حاصل دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی نعیم شاه کبیرکلې ضلع کرک...... ۲۶\رمضان ۱۴۰۸ء

الجواب: دمورولایت داخیافی تره نه قوی دې ﴿۱﴾ پس که چرته دعقدنکاح په وخت مورئې اعتراض کړې وی نودتره کړې شوې نکاح کالعدم ده ﴿۲﴾ ګنی دخیاربلوغ دوجهې نه دفسخې قابله ده (شامی) ﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: الوالی فی النکاح العصبة بنفسه وهو من یتصل بالمیت بلا توسطة انثی علی ترتیب الارث والحجب...... فان لم یکن عصبة فالولایة للام.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۳۷، ۳۳۹ باب الولی)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وللولی الابعد التزویج بغیبة الاقرب فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۴۱ باب الولی)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: وان کان من کفء وبمهر المثل صحیح لکن لهما ای لصغیر وصغیرة خیار الفسخ ولو بعد الدخول بالبلوغ او العلم النکاح بعده.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۳۲ باب الولی)

د پلار د انکار او ناراضګئ د وجهې نه د نيا کړې شوې نکاح کالعدم ده

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه صالحه چه نابالغه وه، ددې نيا ددې عقد نکاح د صالحه د پلار د مشورې نه بغير د طور و سره اوکړه حالانکه په دې وخت يعنی په وخت د ايجاب او قبول په جرګه کښې پلار ئې صفا انکار هم اوکړو، اوس بالغه کيدلو باندې صالحې پخپله او د پلار په مشوره باندې د بل سړی هاشم سره عقد نکاح اوکړه. اوس طور دعوی کوی چه دا جينئ زما په نکاح کښې ده چه ددې نيا دا ماله راکړې ده، اوس سوال دا دې چه سابقه نکاح صحيح ده که دويمه نکاح صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد يونس نوازآباد هزاره...... ۷/۱۹/۱۹۷۵ء

جواب: که چرته پلار په دې سابقه نکاح باندې انکار کړې وی او د ناراضګئ اظهار ئې کړې وی نو دا سابقه نکاح به نامنظوره او کالعدم وی.

کما فی الدر المختار: فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف علی اجازته. (هامش ردالمحتار ۲:۳۳۲)﴿۱﴾. وهو الموفق

د نابالغې جينئ د تره د زوئ زوئ د موجود کيدلو په صورت کښې د مور د نکاح کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه ايا مور د خپلې نابالغې لور نکاح د تره د ځوئ ځوئ د موجود کيدلو په صورت کښې کولې شی؟ بينوا توجروا

المستفتی: سليم الرحمٰن ټل کوهاټ........

جواب: که چرته دې ولی (چه د تره د ځوئ ځوئ دې) ﴿۲﴾ د مور و الا په نکاح

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۳۴۱ باب الولی قُبيل باب الكفاءة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: الوالی فی النكاح العصبة بنفسه...... علی ترتيب الارث والحجب ...... فان لم يكن عصبة فالولاية للام ثم لام الاب.

(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۳۳۷، ۳۳۹ باب الولی)

باندې رضامندی ښکاره کړې نه وی نو دا مخکښنئ نکاح به کالعدم وی او ددې ولی نکاح به معتبره وی.﴿۱﴾ البته د جينئ د پاره به خيار بلوغ ثابت وی﴿۲﴾ (شامی) بحر، هنديه) وهو الموفق

د نابالغې خور په غير کفو کښې نکاح کول نامنظور دی

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه زيد د خپلې وړوکی خور چه د هغې پلار وفات شوې دې او هغه نابالغه ده، د بکر سره نکاح اوکړه کله چه جينئ بالغه شوه نو دې په دې نکاح باندې اعتراض اوکړو او دې نه ئې په قطعی طور باندې د ناراضګئ اظهار اوکړو بلکه کله نه چه نکاح شوې ده د هغې وخت نه تر اوسه پورې انکار کونکې را روانه ده نيز بکر غير کفو هم دې ايا دا نکاح صحيح ده او برقراره پاتې کيدلې شی؟ بينوا توجروا

المستفتی: سيد فدا حسين شاه کهاريان ګينټ...... ۸/۱۱/۲۱/۱۹۷۴ء

الجواب: بغير د پلار او نيکه نه کله چه جينئ په غير کفو کښې ورکړې شی نو دا نکاح کالعدم وی پس بشرط صدق او ثبوت دا نکاح د عدمې کفائت په وجهې سره به نامنظوره او کالعدم وی.

لما فی الدر المختار: وان كان المزوج غيرهما ای غير الاب وابيه لا يصح النكاح من غير كفو او بغبن فاحش اصلا، وفی ردالمحتار ۲ : ۴۲۰ قوله اصلاً ای لا لازماً ولا موقوفاً علی الرضا بعد البلوغ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف علی اجازته.

(شرح التنوير علی هامش الشامية ۲ : ۳۴۱ باب الولی)

﴿۲﴾ وفی الهندية: وان زوجهما غير الاب والجد فلكل واحد منهما الخيار اذا بلغ ان شاء اقام علی النكاح وان شاء فسخ.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۲ :۲۸۵ الباب الرابع فی الاولياء)

﴿۳﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۴۳۱ مطلب هل للعصبة تزويج الصغير امرأة)

خیاربلوغ او په عدالت کښې په زبردستئ سره غلط بیانی اخستل

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زینب یویتیمه جینئ وه دلس کالو په عمر کښې تره موراونیایو ځائ شول اودزید سره ئې ددې نکاح اوکړه اوتربلوغت پورې ئې رخصتی ایساره کړه کله.چه زینب بالغه شوه نو مورئې زیدته درشتې ورکولو نه انکاراوکړو بلکه دنکاح دفسخې کولو دپاره ئې په عدالت کښې دعوی دائره کړه.چونکه زینب دزید سره په نکاح کولو باندې خوشحاله اوراضی وه خولیکن مورئې په زبردستئ اوپه جبرکولو سره د زینب نه غلط بیان په عدالت کښې واخستو اوعدالت یکطرفه فیصلې کولو سره زینب ته ددویمې نکاح کولو اجازت ورکړو ایاپه دې صورت کښې زینب دبل سړی سره دویمه نکاح کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: منظوراحمد شاه دیپ ګران مانسهره...... ۲۷/۷/۱۹۷۲ء

جواب: که چرته زینب دبلوغت معلوم کیدلو سره نزددعدمې رضامندئ اظهار کړې نه وی نونکاح دخیاربلوغ په وجهې سره فسخه کول بې قاعدې اوغلط دی.اودانکاح الان کماکان هم دغسې پخپل حال باقی ده ددې دپاره دوئم ځائ کښې نکاح کول حرام دی.

فی الدرالمختار: بطل خیار البکر بالسکوت لو مختارة عالمة باصل النکاح ولا یمتد الیٰ آخر المجلس، (هامش ردالمحتار ۲:۳۲۶)﴿۱﴾. وهوالموفق

د پلار د اجازت نه بغیر د نابالغې نکاح
که تره اوتړله نو هغه به نامنظوره وی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه درې رونړه دی.ارشد، خواجه اوانور.ارشدرونړو خواجه اوانورمشوره اوکړه چه د ارشد د لور د مسماة زینب نکاح دخورائی سره کوو.ارشدډیوټې له تلې وو اوددوه په عدم موجودګئ کښې ئې دده د لورنکاح اوکړه.ایادارشدذنابالغې لورنکاح دده

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۳۵ باب الولی)

اجازت نه بغیرکولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانامحمداسماعیل توپی صوابی ۱۲۸ربیع الثانی ۱۴۰۲ء

الجواب: دپلارداذن اواجازت نه بغیربه دنابالغې نکاح نامنظوراوکالعدم وی.

لما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲:۳۳۲ وللولی الابعد التزویج بغیبة الاقرب فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته...... مسافة القصر واختار فی الملتقی ما لم ینتظر الکفء﴿۱﴾. وهوالموفق

که پلارنکاح اوکړه او زوئ تصدیق اوکړی
نو دا نکاح نافذه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی دخپل مشرزوئ د اجازت نه بغیردنکاح وکالت اوکړو یعنی قبوله ئې کړه.ګواه هم موجود وو.روستوپلارزوئ له خبرکړو اوهلک دپلاروکالت برقراره اوساتلو.البته ددې ګواه نشته.اوس دجینئ پلارانکاراوکړو چه دانکاح نه ده شوې.ځکه چه دلته دفضولی شکل متصوردې اوروستودهلک اجازت غیرمعتبردې. واضح اوفرمائې چه دانکاح شوې ده یانه ده شوې؟بینوا توجروا

المستفتی: قاری امیرالدین خټک...... ۴/۶/۱۹۷۹ء

الجواب: دانکاح لازمه اونافذه ده دبالغ هلک (جینئ) پلارفضولی وی﴿۲﴾ اود

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۴۱ باب الولی)

﴿۲﴾ قال عبد الله بن مودود الموصلی: وینعقد نکاح الفضولی موقوفا کالبیع اذا کان من جانب واحد اما من جانبین او فضولیا من جانب اصیلا من جانب فلا، اما الفضولی من جانب بان یزوج امرأة بغیر امرها رجلا وقبل الرجل او رجلا بغیر امره امرأة فقبلت فانه ینعقد ویتوقف علی اجازة الغائب.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۱۳۰ فصل فی اعتبار عبارة النساء)

اجازت نه پس دفضولی تصرف نافذ کیږي. صرح به فی البحرورد المحتار والهندیه وفتح القدیروسائر کتب الفتاوی﴿۱﴾وهو الموفق

د نابالغې نکاح که پلار کړې وی نو هغه قابل د فسخ نه وی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه څما روز دخپلې لور د ګواهانو اوډ مولوی صاحب په مخامخ یو سړی سره نکاح اوتړله، جینۍ نابالغه وه. څلور کاله پس د جینۍ پلار فوت شو. اوس د کور په معاملاتو کښې د بدلون په وجه د جینۍ رور خپله خور هغه سړی ته نه ورکوی او پته ئې په یو بل ځائ کښې نکاح کوله. چه هغلته مولوی صاحب د نکاح تړلو نه انکار اوکړو. اووې وئیل چه ددې جینۍ نکاح مخکښې د یو سړی سره شوې ده اودا منکوحه ده او ګواهان هم موجود دي. اوس سوال دادې چه د هغه رومبنۍ نکاح په وخت کښې جینۍ نابالغه وه اوس جینۍ بالغه شوې ده ایا هغه په بل ځائ کښې نکاح نشی کولې؟ بینوا توجروا

المستفتی: جمعه خان مانسهره...۲۲/۸/۱۹۷۸ء

جواب: د کومې نابالغې نکاح چه پلار کړې وی یعنې پلار ایجاب او قبول کړې وی نودا نکاح لازم او ناقابل تنسیخ وی.

کما فی الهندیة ۱: ۲۰۴ فان زوجها الاب والجد فلا خیار لهما بعد بلوغهما﴿۲﴾،

وفی شرح التنویر: ولزم النکاح ان کان الولی المزوج بنفسه ابا او جداً (بحذف) (هامش ردالمحتار ۲: ٤۱۷)﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: (ان کانت ابنته حاضرة والا لا) ای ولم تکن حاضرة لا یکون العقد نافذاً بل موقوفا علی اجازتها کما فی الحموی لانه لا یکون ادنی حالا من الفضولی وعقد الفضولی لیس بباطل. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۹۸ قبیل فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾(فتاوی عالمگیریه ۱: ۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۳﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۳۰ باب الولی)

د عاقلې بالغې جینۍ په کفو کښې د خپلې خوښې نکاح کول نافذ دی اګر چه پلار ناراضه وی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو عاقله بالغه جینۍ چه د هغې د بلوغت تصدیق د محکمه صحت نه هم شوې دې. د پلار په ناخبرۍ او بغیر د مشورې نه او په خپل هوش او حواس سره دخپلې خوښې مساوی القوم کفو هلک لره دخاوند جوړولو په ارادې سره د مورپلار کور پریخودلو سره په رضا او رغبت علی الاعلان د دې هلک سره نکاح اوکړې او دخپلې خوښې خاوند سره په اطمینان سره ژوند تیرول شروع کړې. اوس د قومی ننګ اوناموس اوغیرت په وجه د جینۍ پلار په عدالت کښې دلور دخپلې خوښې خاوند خلاف رپورټ تیار کړې دې جینۍ هم عدالت کښې حاضره شوه اوخپل بیان ئې لیکلې دې. اوس که چرته پلار ضد کوی او د بل چا سره د رشتې سازش کوی اوپه زورزیاتۍ سره اوپه قسما قسم حربوسره جینې لره د سابق بیان نه واړوی اوخپله هم خیاله ئې جوړه کړی نو په دې صورت کښې:

(۱) د لور خلاف مرضۍ د پلار کړۍ شوې نکاح به شرعاً منعقد وی یا نه؟

(۲) یو اسلامی شرعی اداري ته ددې مفصل بیان کړۍ شوې عقد نکاح د نسخ حق حاصل دې؟

(۳) په عدالت کښې د درج شوی بیان خلاف متناقض بیان چه هغه په زور زیاتۍ باندې کړې دې څه اعتبار شته دې؟

(٤) دهغه مخکښنۍ نکاح باوجود دویمه نکاح د بل سړی سره که چرته اوکړی نوددې به څه حکم وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام نبی شبقدر چارسده...۲۰/۸/۱۹۷۲ء

الجواب: چونکه دا جینۍ عاقله بالغه ازاده ده، ددې (په کفو) کښې عقد شوې نکاح لازم اوناقابل تنسیخ ده اګرچه پلارپه دې باندې ناراضه وی...فی الهندیه ۱: ۳۰۵ نفذ نکاح حرة مکلفة بلاولی عندابی حنیفه وابی یوسف فی ظاهر الروایه کذافی التبیین﴿۱﴾

﴿۱﴾(فتاوی عالمگیریه ۱: ۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

وبمعناه فی ردالمحتار ۲: ۲۰۷ (۱) وهو الموفق

د پلار په موجودګۍ کښې نیکه ته ولایت نشته

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی خپل ورکوټې زوئ د ځان سره کړو او د کلي دوه معزز سړي هم د ځان سره کړه د مشر زوئ کره لاړل هلته ئې د واړه ځامن یو ځائ کړل او ورته ئې او وئیل چه ما د مشر زوئ جینئ د کشر زوئ هلک ته ورکړه. او د کشر زوئ جینئ مې د مشر زوئ هلک ته ورکړه. یو هم انکار اونه کړو. البته د مشر زوئ ښځې انکار اوکړو. ایا دې سره شرعی نکاح کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: میاں محمد هری پور ایبټ آباد ...... ۱۲۷ ربیع الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: په ظاهره دا نکاح شرعی نه ده. لعدم ولایة الجد عند وجود الاب (۲) وعند بلوغ المتزوجین (۳) ولعدم وجود القبول المعتبر ظاهرا (۴) وهو الموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا ولی) اراد بالنفاذ الصحة وترتب الاحکام من طلاق وتوارث وغیرهما لا اللزوم الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۲۲ بب الولی)

(۲) وفی الهندیة: وان زوج الصغیر او الصغیرة ابعد الاولیاء فان کان الاقرب حاضرا وهو من اهل الولایة توقف نکاح الابعد علی اجازته. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

(۳) قال العلامة الحصکفی: ولا تجبر البالغة البکر (ولا الحر البالغ) علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۲۴ باب الولی)

(۴) قال العلامة ابن عابدین: اجاب صاحب البدایة فی امرأة زوجت نفسها بالف من رجل عند الشهود فلم یقل الزوج شیئاً لکن اعطاها المهر فی المجلس انه یکون قبولا وانکره صاحب المحیط وقال الامام ما لم یقل بلسانه قبلت بخلاف البیع لانه ینعقد بالتعاطی والنکاح لخطره لا ینعقد حتی یتوقف علی الشهود الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۲۸۷ قبیل مطلب التزوج بارسال کتاب)

د پلار په کړې شوې نکاح کښې جینئ ته خیار بلوغ حاصل نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی د خپلې نابالغې لور نکاح د یو سړی سره اوکړه. ګواهان وغیره ټول موجود وو. ایا اوس د بالغه کیدلو نه پس دې جینئ ته خیار بلوغ حاصل دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری امیر الدین هائی سکول نمبر ۱ پشاور صدر ۱۵ ربیع الاول ۱۴۰۴ھ

جواب: دې جینئ د پاره خیار بلوغ ثابت نه دې ځکه چه پلار ئې نکاح تړلې ده. او کله چه د نابالغې نکاح ولی او تړی نو هغه منعقده کیږی. کما فی الهندیه ۲: ۳۱۶ ویجوز نکاح الصغیر والصغیرة اذا زوجها الولی الخ (۱) وهو الموفق

د ماما کړې شوې نکاح بغیر د اجازت د پلار نه موقوفه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د یو نابالغې نکاح هغې ماما د اسلم سره اوکړه. د جینئ پلار په کلی کښې موجود وو. لیکن د هغه نه ئې اجازت وانخستلو. او هغه تر اوسه پورې په دې نکاح ناراضه دې ایا عند الشرع ماما د نکاح ولی کیدلې شی؟ ایا قاضی دا نکاح فسخ کولې شی د بالغه کیدلو سره سم که چرته جینئ انکار اوکړی نو د دې څه حل دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن نظام پور نوشهره ۱۲/۷/۱۹۷۴ء

جواب: که چرته پلار د خبرداری سره فورا ناراضګی ظاهره کړې وی او دا نکاح ئې منظوره کړې نه وی نو بغیر د محتاج کیدلو د قاضی نه دا نکاح فسخ او کالعدم ده. فی الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۲ فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (۲) واضحه دې وی چه د دې په فسخ کښې قضاء او

---

(۱) (هدایه ۲: ۳۱۶ باب فی الاولیاء والاکفاء)

(۲) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۴۱ باب الولی)

قاضی ته څه ضرورت نشته دانکاح موقوفه ده نافذ نه ده.وهوالموفق

د مدعی عقل ولی شهادت راجح دی

سوال:څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دولی په عقل اوپه عته کښې اختلاف وی نودعته شهادت به راجح وی که دعقل شهادت به راجح وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ملک شاه اوګی مانسهره..... ۲۱رمضان ۱۴۰۹ھ

جواب:دولی دمعتوه کیدلومطابق داختلاف په صورت کښې دمدعی دعقل شهادت به ترجیح ورکولې شی.

کما فی شرح المجله (۵:۹۳ماده۱۷۶۹) ترجح بینة العقل علی بینة الجنون، فلو ادعی زید علی عمرو انک بعتنی عقارک هذا بثمن معلوم حال کونک عاقلا وادعیٰ عمرو ان البیع صدر منه حال الجنون او العته وبرهنا فبینة العقل اولیٰ ﴿۱﴾. وهوالموفق

بغیر د اجازت د بالغې نه نکاح کول باطل دی

سوال:څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوپلاردخپلې بالغې لور نکاح دلوردااجازت نه بغیراوکړه،جینۍ ته چه کله خبراوشونوفورائې انکار اوکړاوژړل ئې شروع کړل هغه وخت هم تیرشواوهغه رسومات هم تیرشول خو جینۍ قبول نه کړل اوتراوسه پورې انکارکوی،په شریعت کښې ددې نکاح څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله تخت بهائي ضلع مردان......

الجواب: بشرط صدق مستفتی دا نکاح باطله اوکالعدم ده.لما فی الهندیة ج۱۳۵۰

﴿۱﴾(شرح المجله لخالد الآتاسی ۵:۹۳ماده ۱۷۶۹)

لایجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکراً کانت او ثیباً فان فعل ذلک فالنکاح موقوف علی اجازتها فان اجازته جاز وان ردته بطل کذا فی السراج الوهاج ﴿۱﴾.وهوالموفق

د نابالغې نکاح نیا اوکړه پلارئې تردید اوکړو. د نکاح څه حکم دې

سوال:څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیونابالغې جینۍ نکاح نیا اوکړه پلارئې موجودنه وو،پلارئې چه راغلوددې نکاح تردیدئې اوکړو او انکارئې اوکړو،جینۍ دبالغه کیدلونه پس ددې تردیداوکړو،ایادانکاح صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولاناغریب الله (فاضل دیوبند) صوابی..... ۱۹۸۶ء۱۷۱۷

جواب:که چرته دشهادت شرعیه نه داثابت شی چه ددې پلارددې نکاح تردید اوکړونودانکاح به کالعدم وی﴿۲﴾اوکه چرته دمجبورۍ نه ددې پلارتسلیم کړې وی﴿۳﴾ نومسلمان جج به ددې نکاح تنسیخ کوی اود تنسیخ نه پس دا جینۍ په بل ځائ کښې نکاح کولې شی﴿۴﴾وهوالموفق

﴿۱﴾(فتاوی عالمگیریه ۱:۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۲﴾وفی الهندیة: وان زوج الصغیر او الصغیرة ابعد الاولیا فان کان الاقرب حاضراً وهو من اهل الولایة توقف نکاح الا بعد علی اجازته...... وان زوجهما غیر الاب والجد فلکل واحد منهما الخیار اذا بلغ ان شاء اقام علی النکاح وان شاء فسخ. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۳﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله توقف علی اجازته) ...... فلم یجعلوا سکوته اجازة والظاهر ان سکوته هنا کذلک فلایکون سکوته اجازة لنکاح الا بعد وان کان حاضرا فی مجلس العقد ما لم یرض صریحاً او دلالة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۴۱ باب الولی)

﴿۴﴾قال الشیخ شمس الحق الافغانی: واذا کان احد المتناکحین قاصرا بان کان صغیرا او معتوها او مرقوقا او مجنونا فللولی الاجبار علیه واذا افاق فلهما خیار الفسخ فی غیر الاب والجد بشرط القضاء کما فی السعیدیات والهندیة. (معین القضاة والمفتیین ۷۵ الفصل الثالث فی الاولیاء والاکفاء وغیرهما)

باب فی الاکفاء

نکاح کښې د کفاء ت نه بغیر موافقت مشکل وی

سوال: څه فرمائی علمائې دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه دبعضې خلقو خیال دې چه سید خاندان دغیرسید خاندان سره نکاح نه کیږی. بعضې خلق په دې کښې عجیبه دلیلونه پیش کوی ددې صحیح وضاحت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: ارباب امدادخان تهکال پشاور......

الجواب: دالله تعالی په نزدد کرامت اونزدې والی دارومدارپه تقوی سره دې. کما قال الله تعالی: ان اکرکم عندالله اتقاکم(الآیه)﴿۱﴾اود کفاء ت نه بغیر موافقت مشکل شی، ددې وجهې نه کفاءت معتبرشوې دې﴿۲﴾ اوټولو فقهاء کرامو واضحه کړې ده چه دغیرسید سره دسیده نکاح بغیرداجازت دولی نه

﴿۱﴾(سورة الحجرات پاره: ۲۶، آیت: ۱۳)

﴿۲﴾وفی المنهاج: واما اعتبار الکفاءة فمشروع بقوله تعالیٰ: والله لا یحب الفساد، ویغلب الفساد عند کون الزوج دنیئا عن الزوجة تسبه ویضر بها وتعاربه وبقوله علیه السلام لا تنکحوا النساء الا الاکفاء رواه البیهقی وفی سنده کلام لاکنه حجة بالتضافر والشواهد کما فی فتح القدیر...... واعلم مدار النجاة والکرامة عند الله علی التقویٰ قال الله تعالیٰ: ان اکرمکم عند الله اتقاکم، دون النسب والمال والصورة کما ورد به الاحادیث، لکن الشرع اعتبر الکفاءة لبقاء النظام والتحرز عن الفساد لان فساد ذات البین لیفضی الی الأثم والعصیان.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴: ۲۴۶ باب فی من ترضون دینه فزوجوه)

وقال الامام ولی الله الدهلوی: قال ﷺ: اذا......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ناجائزدی اوکالعدم دی﴿۱﴾وهوالموفق

په کفائت کښې د کسب او نسب تفصیل

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوسړې دحکومت په کاغذونو کښې بافنده یعنی جولالیکلی شوې دې چه دڅورشتې دقوم بافنده چه هغه په بل کلی کښې استوګنه کوی کړی دی اوخپلې هم یودوه رشتې ئې هغی ته ورکړې دی. بیاهم ددوی اودهغوی سلسه نسب یوځائ نه معلومیږی. دزیدغورنیکه دې کلی ته دبل ځائ نه راغلې اوآبادشوې دې. خپل کافی جائیدادئې جوړکړې دې اوذریعه معاش زمینداری ئې اختیار کړې ده. ددې کس نه واخله څومره چه هم تیرشوئ دی یاموجوددی نوداپیشه کول پیژنی. چونکه دجداعلی نه پس ددوی په اولادکښې معاشی تنګی پیدا شو. نودوی نورې مزدورئ اوملازمتونه اختیارکړل دمجبورې په حالت کښې ئې وطن پریخودو. خو دبافندګئ پیشه ئې اختیارنه کړه. اوس چونکه دا سړې دپنځه ویشتوکالوراهسې امامت کوی اوپه علمی لحاظ سره د فقه. نظم. حدیث اوتفسیرنه واقف دې. اوس مسائل دادی چه

(۱) داسړې یادده نوررونړه چه هغه بې تعلیمه دی ډیو قوم لکه مشوانی.

(بقیه حاشیه) خطب الیکم من ترضون دینه وخلقه فزوجوه ان لا تفعلوه فتنة فی الارض وفساد عریض، اقول لیس فی هذا الحدیث ان الکفاءة غیر معتبرة کیف وهی مما جبل علیه طوائف الناس وکاد یکون القدح فیها اشد من القتل والناس علی مراتبهم والشرائع لا تهمل مثل ذلک، ولذلک قال عمررضی الله تعالیٰ عنه: لا منعن النساء الا من اکفائهن الخ.

(حجة الله البالغة ۲: ۲۶۹ من ابواب تدبیر المنزل)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: المرأة اذا زوجت نفسها من غیر کفء صح النکاح فی ظاهر الروایة عن ابی حنیفة...... ولکن للاولیاء حق الاعتراض وروی الحسن عن ابی حنیفة ان النکاح لا ینعقد وبه اخذ کثیر من مشائخنا والمختار فی زماننا للفتویٰ روایة الحسن.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۹۲ الباب الخامس فی الاکفاء)

مغل، ګوجر، یادبل یو معزز قوم سره بغیر درضادولی یا په رضادولی رشته اوکړی، نو دادده دپاره کفو کیدې شی یانه؟ که چرته بغیر د رضادولی نه نکاح اوکړی نو ولی ته به دفسخې نکاح حق حاصل وی که نه؟

(۲) که چرته دا قوم دبافندګئ په ځائ خپل ځان ته دبل قوم نوم اولیکی نو د شریعت په رڼا کښې جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رفیق، مولوی سراج الدین براسته غازئ هری پور ۱۹۷۵ء۱۲۱۴

جواب: واضحه دې وی چه بافندګی د (جولا پیشه) د کسب نوم دې د نسب نوم نه دې لهذا ددې کسب دپریخوډلو په صورت کښې په داسې قوم باندې به د بافندګانو احکامات جاری کیږی نه. لیکن دعار د بقاء په صورت کښې د کفاءت حکم به هم باقی وی. لقولهم ان الصنعة وان امکن ترکها یبقی عارها (ردالمحتار ۲: ۴۴۳)﴿۱﴾ لیکن عالم به ددې حکم نه مستثنی وی (کما فی ردالمحتار ۲: ۴۴۴)﴿۲﴾ مختصره دا چه هرکله دآمدن دپاره کسب بدلول جائز دی نو کاغذونو کښې زمیندار وغیره لیکل به هم جائز وی، دا به په نسب بدلولو باندې نشی قیاس کولې. او تا سو بغیر د رضادولی نه نکاح کولې شئ لیکن نور رونړانه شی کولې. وهو الموفق

د پلار په غیر کفو کښې د نابالغې لورد ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی خپله نابالغه لور دزید په نکاح کښې ورکړه، روستو د هم قوم نه کیدلو په وجه کله چه لور بالغه شوه هلته دتلو نه انکار اوکړو، چه زه هیڅکله د دغسې غیر کفو سړی سره او سیدل نه غواړم. یو کال تیر شو او س زید او دده ملګری ده ته وائی چه

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۵۰ باب الکفاءة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: العالم یکون کفؤا للعلویة لان شرف الحسب اقویٰ من شرف النسب وعن هذا قیل ان عائشة افضل من فاطمة لان لعائشة شرف العلم کذا فی المحیط.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۵۰ باب الکفاءة)

څوک تا سره دخپلولئ خواهشمند نه وو تا په خپله مونږ ته جینئ راکړې ده. او س په دې غیر کفو کښې د واقع شوې نکاح څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سیاد کوهاله براسته مری...... ۱۹۷۰ء۱۴۱۲۹

الجواب: دا نکاح صحیح او لازم ده.

قال فی الهدایة: ومن زوج ابنته وهی صغیرة عبداً او زوج ابنه وهو صغیر امة فهو جائز قال وهذا عند ابی حنیفة (۳۰۲)﴿۱﴾ وبمعناه فی الهندیة ۱: ۳۱۳ وفیها ایضا والصحیح قول ابی حنیفة رحمة الله علیه هکذا فی المضمرات﴿۲﴾. وهو الموفق

په هاشمی او غیر هاشمی کښې د کفائت مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه دهاشمی او غیر هاشمی په مینځ کښې کفاءت موجود وی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید ارشاد بابو خیل زیده صوابی

الجواب: ددوی په مینځ کښې کفاءت نشته لیکن زمونږ په علاقه کښې چونکه

﴿۱﴾ (هدایه ۱: ۳۰۲ قبیل باب المهر)

﴿۲﴾ وقال العلامة النظام: ولو زوج ولده الصغیر من غیر کفء بان زوج ابنه امة او ابنته عبداً او زوج بغبن فاحش بان زوج البنت ونقص من مهرها او زوج ابنه وزاد علی مهر امرأته جاز وهذا عند ابی حنیفة...... والصحیح قول ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ کذا فی المضمرات واجمعوا علی انه لا یجوز ذلک من غیر الاب والجد ولا من القاضی.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۹۴ قبیل الباب السادس فی الوکالة بالنکاح وغیرها)

......

رشته داران پلاروغیره عجمي پښتنوسره په نکاح کښې عارنه ګڼړي لهذاکه چرته نکاح اوشی نوجائزه اونافذه به وی﴿۱﴾وهوالموفق

د سیدې ښځې د غیر سید سړي سره د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه ایاد سیدقوم ښځه دغیر سیدقوم سړي سره نکاح کولې شی. که نه کیږی نوددې دلیل څه دې په شریعت کښې کفو کیدل فرض دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرشیدمانکیال......۱۹۷۷ء/۱/۱۹/۳۰

الجواب: سیده ښځې نکاح دغیرسید سړی سره ناجائزاو کالعدم ده کله چه دولی داجازت نه بغیرشوې وی.

کما فی شرح التنویر: ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهو المختار للفتوٰی لفساد الزمان وفی ردالمحتار ۱: ۴۰۹ قوله بعدم جوازه اصلا هذه روایة الحسن عن ابی حنیفة وهذا اذا کان لها ولی لم یرض به قبل العقد فلا یفید الرضا بعده بحر﴿۲﴾. وهوالموفق

په قریشی او په سید خاندانونو کښې د نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې عالم دین چه د

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: فقریش بعضهم اکفاء بعض وبقیة العرب بعضهم اکفاء بعض...... وهذافی العرب واما فی العجم فتعتبر حریة و اسلاما، قال ابن عابدین: واما فی العجم المراد بهم من لم ینتسب الی احدی قبائل العرب ویسمون الموالی والعتقاء کما مر وعامة اهل الامصار والقرٰی فی زماننا منهم سواء تکلموا بالعربیة او غیرها الا من کان له منهم نسب معروف کالمنتسبین الی احدالخلفاء الاربعة او الی الانصار ونحوهم.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۲۵،۳۲۶ باب الکفاءة)

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۲۲ باب الولی)

نسب په لحاظ سره قریشی دې. ایا هغه د سید خاندان د جینئ سره نکاح کولې شی؟ کله چه د جینئ پلار او نیکه په رشته په ورکولو باندې راضی وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمدعلی قریشی...۱۹۷۵ء/۱۰/۲۶

الجواب: د ازاد قریشی د سیدې(هاشمیې) سره نکاح صحیح ده. خصوصاً چه کله اولیاء معترض نه وی.

کما فی الدر المختار فقریش بعضهم اکفاء بعض، وفی ردالمحتار ۲: ۳۳۸ اشار به الی انه لا تفاضل فیما بینهم من الهاشمی والنوفلی والتیمی والعدوی وغیرهم (الی ان قال) فلو تزوجت هاشمیة قرشیا غیر هاشمی لم یرد عقدها الخ﴿۱﴾. وهوالموفق

غیرقریشی عالم دین د قریشیه کفو دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه غیرقریشی اوقریشیه کفو دي یانه؟ حالانکه غیرقریشی عالم دین هم دې که چرته داولیاء درضانه بغیرپه پخپلو کښې نکاح اوکړی. نواولیاء دې لره فسخ کولې شی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: شیخ صدیق کهرورپکاملتان......۱۴۰۱/۵/۲۸ه.

الجواب: غیرقریشی عالم دین دقریشیه کفودې، دې نکاح لره اولیاء فسخ کولې نشی.

لما فی ردالمحتار ۲: ۳۴۳ لکن فی جامع قاضی خان قالوا ان الحسیب یکون کفوا للنسیب فالعالم العجمی یکون کفؤا للجاهل العربی والعلویة لان شرف العلم فوق شرف النسب﴿۲﴾. وهوالموفق

د سید زادې د غیرسید سره د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه د سیدزادې نکاح د

﴿۱﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۳۵ باب الکفاءة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۵۰ باب الکفاءة)

غیرقوم سره شرعاً جائزنه ده؟ که چرته نه وی نوپه کوم بنیادباندې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدشفیع...... ۱۴۱۱۵۱۹۷۷

الجواب: اګرچه داعزازاواکرام دارومدارپه تقوی باندې دي. نه چه په نسبت عالیه باندې. لقوله تعالی: ان اکرمکم عندالله اتقاکم (الایه) لیکن په بعضې اوقاتوکښې دعدم رعایت نه کیدلوپه وخت کښې مصالح دنکاح فوت شی. لهذا په شریعت مقدسه کښې ددې مصالح دنیاوی په وجه باندې دکفاءت رعایت کړې شوې دي﴿۱﴾اوباوجودددې ددین درعایت نه منعه کړې شوې نه ده.

قال رسول اللهﷺ: ولا یزوجن الا من الاکفاء (بدائع ۲:۳۱۷) واما امر النبیﷺ بنی بیاضة بتزویج ابی طیبة ......

﴿۱﴾وفی المنهاج: واما اعتبار الکفاء ة فمشروع لقوله تعالیٰ: والله لا یحب الفساد، ویغلب الفساد عند کون الزوج دنیئا عن الزوجة تسبه ویضر بها وتعاربه، وبقوله علیه الصلاة والسلام: لا تنکحوا النساء الا الاکفاء رواه البیهقی وفی سنده کلام لکنه حجة بالتضافر والشواهد کما فی فتح القدیر، وبقوله علیه الصلاة والسلام وانکحوا الاکفاء وانکحوا الیهم رواه ابن ماجة عن عائشة، وقال الحافظ بن حجر صححه الحاکم واخرجه ابونعیم من حدیث عمر ایضا وفی اسناده مقال، ویقوی احد الاسنادین بالآخر انتهیٰ وعزاه العلامة السیوطی فی الجامع الصغیر الی مستدرک الحاکم وسنن البیهقی وسنن ابن ماجه ثم صححه، ولقوله علیه الصلاة والسلام ثلاث لا توخر (الی قوله) والایم اذا وجدت له کفوا، اخرجه الترمذی والحاکم عن علی مرفوعا، حسنه السیوطی وصححه الحاکم والذهبی کما فی المستدرک ویؤیدنا ما رواه محمد فی کتاب الآثار عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه موقوفاً، واعلم ان مدار النجاة والکرامة عند الله علی التقویٰ، قال الله تبارک وتعالیٰ: ان اکرمکم عند الله اتقاکم، دون النسب والمال والصورة کما ورد به الاحادیث لکن الشرع اعتبر الکفاءة لبقاء النظام والتحرز عن الفساد لان فساد ذات البین لیفضی الی الاثم والعصیان. (منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۲۴۶ باب فی من ترضون دینه فزوجوه)

وکذا امره قوما من الانصار بتزویج بلال فمحمول علی فضیلة الدین او مخصوص والمسئلة واضحة﴿۱﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة الکاسانی: قال عامة العلماء ان (الکفاء ة) شرط وقال الکرخی لیست بشرط اصلاً وهو قول مالک وسفیان الثوری والحسن البصری واحتجوا بما روی ان اباطیبة خطب الی بنی بیاضة فابوا ان یزوجوه فقال رسول اللهﷺ انکحوا اباطیبة ان لا تفعلوا تکن فتنة فی الارض وفساد کبیر، وروی ان بلالاً رضی الله عنه خطب الی قوم من الانصار فابوا ان یزوجوه فقال له رسول اللهﷺ قل لهم ان رسول اللهﷺ یأمرکم ان تزوجونی، امرهم رسول اللهﷺ بالتزویج عند عدم الکفاء ة، ولو کانت معتبرة لما امر، لان التزویج من غیر کفئ غیر مأمور به وقال النبیﷺ لیس لعربی علی عجمی فضل الا بالتقویٰ، وهذا نص ولان الکفاء ة لو کانت معتبرة فی الشرع کان اولیٰ الابواب بالاعتبار بها باب الدماء لانه یحتاط فیه مالا یحتاط فی سائر الابواب ومع هذا لم یعتبر حتی یقتل الشریف بالوضیع فههنا اولیٰ...... ولنا ما روی عن رسول اللهﷺ انه قال لا یزوج النساء الا الاولیاء ولا یزوجن الا من الاکفاء ولا مهر اقل من عشر دراهم، ولان مصالح النکاح تختل عند عدم الکفائة لانها لا تحصل الا بالاستفراش والمرأة تستنکف عن استفراش غیر الکفئ وتعیر بذلک...... ولا حجة لهم فی الحدیثین لان الامر بالتزویج یحتمل انه کان ندباً لهم الی الافضل وهو اختیار الدین وترک الکفاء ة فیما سواه والاقتصار علیه، وهذا لا یمنع جواز الامتناع وعندنا الافضل اعتبار الدین والاقتصار علیه ویحتمل انه کان امر ایجاب امرهم بالتزویج منهما مع عدم الکفاء ة تخصیصاً لهم بذلک کما خص اباطیبة بالتمکین من شرب دمه...... ولا شرکة فی موضع الخصوصیة حملنا الحدیثین علی ما قلنا توفیقا بین الدلائل. واما الحدیث الثالث فالمراد به احکام الآخرة اذ لا یمکن حمله علی احکام الدنیا لظهور فضل العربی علی العجمی فی کثیر من احکام الدنیا فیحمل علی احکام الآخرة الخ.

(بدائع الصنائع ۲:۳۲۲ بیان کفاء ة الزوج)

د سید زادۍ په پخپله کړې شوې نکاح او د مور پلار کړې نکاح کومه صحیح ده؟

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه سیدزادۍ یو ځائ په پخپله نکاح کړې ده، حالانکه ددې مورپلار په بل ځائ کښې نکاح کړې ده، اوس کومه نکاح صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید عالم خان......

الجواب: بشرط صدق وثبوت که چرته مخکښنې نکاح کښې ایجاب اوقبول کړې شوې هم وی بیاهم مخکښنې نکاح غیرشرعی ده، اودادغه منکوحه نه ده اودویم سره اوسیدل دې لره حرام نه دی.

المجیب: عبدالحلیم عفی عنه

الجواب صحیح: دبالغې دغیرکفوسره نکاح کول نامنظوراوکالعدم دی. کله چه داولیاءدرضانه بغیرشوی وی﴿۱﴾وهوالموفق

.......محمد فرید عفی عنه.......

د یو جینۍ په خپله کړې شوې نکاح او د اولیاء د اعتراض حکم

سوال: دذکرشوې مسئلې جواب مطلوب دې. امید دې چه تاسو په ړومبنی فرصت کښې دذکرشوې مسئلې متعلق جوازدنکاح یادعدم جوازفتوی راکولو سره په مونږمهربانی اوکړې؟ بینوا توجروا

المستفتی: اسماعیل خان دربندهزاره...... ۱۹۲۹ء۱۵۱۲۱

الجواب: که چرته ددې جینۍ عصبه اولیاءیعنی دتره ځامن نه وی یاموجودوی لیکن ددې مادری رشتې په نکاح کولوباندې راضی وی نوددې مادری رشتې والوسره نکاح صحیح ده کنی دعصبه اولیاءدعدمې رضامندې په وخت نکاح صحیح نه ده. فی الدرالمختار: وله ای للولی اذا کان عصبة

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وللولی اذا کان عصبة الاعتراض فی غیر الکفؤ ویفتی فی غیر الکفؤ بعدم جوازه اصلاً وهو المختار للفتویٰ لفساد الزمان.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۲۲ باب الولی)

الاعتراض فی غیر الکفؤ ویفتی فی غیر الکفؤ بعدم جوازه اصلاً، وهو المختار للفتویٰ انتهیٰ مختصراً، وفی ردالمحتار ۲:۴۰۹ وهذا اذا کان لها ولی لم یرض به قبل العقد...... واما اذا لم یکن لها ولی فهو صحیح نافذ مطلقا اتفاقاً الخ. ﴿۱﴾. وهوالموفق

د اولیاءد اجازت نه بغیر د سیدې نکاح په غیرکفوکښې کالعدم ده

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زمونږپه علاقه کښې بعضې سیده جینکوپه خپلې مرضئ سره دغیرسیدهلکانوسره نکاح کړې ده، اوبعضی اغواکړې شوې دی ایادسیده جینکونکاح دغیرسیدهلکانوسره جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتی: پیرسرورشاه گیلانی تهانه پوره ایبټ آباد...... ۱۹۸۴ء۲۱۱۷۱

الجواب: دبالغې سیدې نکاح دغیرکفوسره کالعدم وی کله چه اولیاءمعترض وی: کمافی ردالمحتار۲:۴۰۹﴿۲﴾والهندیه ۱:۳۱۱﴿۳﴾ وهوالموفق

په عباسی جینۍ اواعوان قطب شاهی هلک کښې کفاءت نشته

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه یوشل کلنه جینۍ ناواده

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۲۲ باب الولی)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ویفتی فی غیر الکفؤ بعدم جوازه اصلا) هذا روایة الحسن عن ابی حنیفة وهذا اذا کان لها ولی لم یرض به قبل العقد فلا یفید الرضا بعده بحر واما اذا لم یکن لها ولی فهو صحیح نافذ مطلقاً اتفاقا لان وجه عدم الصحة علی هذه الروایة دفع الضرر عن الاولیاء اما هی فقد رضیت باسقاط حقها الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۲۳ باب الولی)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ثم المرأة اذا زوجت نفسها من غیر کفؤ صح النکاح فی ظاهر الروایة عن ابی حنیفة..... ولکن للاولیاء حق الاعتراض. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۹۲ الباب الخامس فی الاکفاء)

کړې وه موردډي رشته زيدته دورکولووعده کړې وه اوجينۍ هم زيد غوښتلو چنانچه جينۍ اوزيدديوبل سره دواده کولووعده کړې وه.ليکن جينۍ يو څو رشته دارانوپه زوردې لره دخپل تره زوئ ته واده کړه درشتې پخيدونه تر واده پورې جينۍ مسلسل احتجاج کولو.ليکن يوهم نه اوريدلو.مورئې هم د رشته دارانودهمکيانونه مجبوره وه.چنانچه دواده په ورځ هم جينۍ ته دمَاما څوئ تمانچه ښودلوسره اووئيل که چرته تاانکاراوکړويادې داسې خبره اوکړه چه هغه زمونږده عزت خلاف وی.نوته به اووژلې شې.پس نکاح اوشوه اورخصتی هم اوشوه ليکن تراوسه پورې جينۍ هلته ناخوښه ده.او د خپلې مرضې اوخوښې مطابق زيدسره تلل غواړی اوزيدته دېتوپيغاماتوپه ذريعه سره دتللوخواهشمندده.اوس زيددپاره کوم صورت اختيارول پکار دی اوياده دې وی چه جينۍ عباسيه ده اوزيداعوان قطب شاهی دې حالانکه دجينۍ رشته دارانودزيدپه قوميت باندې اعتراض کولوسره په زوره په دويم ځائ کښې نکاح اوکړه؟ بينوا توجروا

المستفتی: زيدمعرفت محمودهيلت سنټرکوهاله مری ۲۹۱۱۱۱ء۱۹۷۹

جواب: داولياء داعتراض اودناراضګۍ د وجهې نه زيدسره ددې جينۍ نکاح نامنظوره ده.

لان العباسية من العرب، وفی الهندية ۱:۳۰۹ والموالی وهم غير العرب لا يکونون اکفاء للعرب (وفيها ۳۱۱) وروی الحسن عن ابی حنيفة ان النکاح لا ينعقد وبه اخذ کثير من مشائخنا رحمهم الله تعالیٰ کذا فی المحيط والمختار للفتویٰ فی زماننا رواية الحسن وقال الشيخ الامام شمس الائمة السرخسی رواية الحسن اقرب الی الاحتياط کذا فی فتاویٰ قاضی خان انتهیٰ وما فی الهندية فالمراد بها مسئلة تزويج المرأة نفسها من غير کفو، فقط﴿۱﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگيريه: ۲۹۰،۲۹۲ الباب الخامس فی الاکفاء)

د لوهار په لور او د مولوی خاندان په هلک کښې د کفاءت مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دين دې مسئلې باره کښې چه ايا د لوهار د لور دمولوی خاندان دهلک سره نکاح کيدلې شی؟ ايادا دواړه ديوبل کفودی؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالقهار...... ۵۱۱۱ء۱۹۷۲

الجواب: دملا دلور د لوهارسره نکاح کول او ورکول محل اعتراض دی.او بالعکس محل اعتراض نه دې.

کما فی شرح التنوير: الکفاءة معتبرة من جانبه ای الرجل لان الشريفه تأبی ان تکون فراشا للدنیٔ ولذا لا تعتبر من جانبها لان الزوج مستفرش فلا تغيظه دناءة الفراش وهذا عند الکل فی الصحيح (هامش ردالمحتار ۲:۴۳۵) بحذف يسير﴿۱﴾. وهوالموفق

د ابائی قوم د يوکس د ابائی امام لور سره په نکاح کښې دکفاءت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه ديوقوم بنيادی ابائی خاندان راروان وی.اوددوی سره ددوی ابائی امام اواستادخاندان هم پشت په پشت راروان وی حالانکه ددې استادانواوپيش امامانودقوم سلسله نسب سادات سره ملاؤيږی.ددې نه علاوه حق الاستاداقدم من حق الوالدين، نو اياداستاد دخاندان دجينۍ سره ددې ابائی قوم ديوهلک نکاح جائزده؟ بينوا توجروا

المستفتی: غلام ربانی هيډګارډنرکينټ ايبټ آباد.....

الجواب: چونکه په ظاهره صورت مسئوله کښې کفاءت موجود دې لهذا ددې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۴۴ باب الکفاءة)

امام دلورسره په نکاح کولو کښې څه عدمې جوازنه معلومیږی﴿۱﴾ په شرط ددې چه دکفاءت نورقسمونه معدوم نه وی.وهوالموفق

د شیخ مطلب او د میاں، ملا، سید، اوپه صاحب زاده کښې د کفومسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه (۱) دشیخ نه څه مراد دې؟(۲) میاں،ملا،اوصاحب زاده په خپلو کښې دکفوکیدلوپه اعتبارسره مساوی دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سعیدالمستعان قاضی آبادگدون مردان......

جواب: (۱) دشیخ نه مراد صدیقی اوفاروقی خلق دی.(۲) دا ټول مساوی نه دی ددوی نه بعضې دنوروبعضې کفوکیدلې نشی.وهوالموفق

د بالغې جینئ په عدالت کښې بیان کول روستو خلاف بیانی کول. اوس د بلې نکاح څه حکم دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوجینئ دبالغېدلوسره دکلی یوکس سره واده اوکړو،ذکرشوې جینئ دکلی پرېښودلوسره ددې سړی سره سکهرته لاړه.اوهلته په عدالت کښې دبیان ورکولوسره د مجستریټ په مخکښې ددې کس سره دنکاح کولواقراراوحلفیه بیان ئې هم ورکړو.ددې نه پس دجینئ موږپلاردعوی اوکړه اوذکرشوې هلک گرفتار شو.اوپولیس جینئ دموږپلارحواله کړه.ذکرشوې جینئ دموږ پلار د وینا مطابق دهلک خلاف بیان ورکړو.هلک گرفتارشو.ذکرشوې نکاح دضلع اټک جج دترمذی شریف اودڅه نوروحوالونه غلطه ثابت کړه چه دولی نه بغیرنکاح نشی کیدلې،خواه جینئ بالغه ده ولې نه وی.اوس دجینئ موږ پلار دانکاح په بل ځائ کښې کول غواړی ایاداویمه نکاح به صحیح وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: خالدمحمود کامره.......۱۴صفرالمظفر ۱۴۰۱ھ

﴿۱﴾ وفی الهندیة: وقالوا الحسیب کفٔ للنسیب حتی ان الفقیه یکون کفأ للعلویة ذکره قاضی خان والعتابی فی جوامع الفقه وفی الینابیع والعالم کفٔ للعربیة والعلویة الخ. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۹۰ الباب الخامس فی الاکفاء)

جواب: که چرته داهلک کفونه وی نودانکاح کالعدم اونامنظوره ده.کمافی الهندیه ۱:۳۱۱وروی الحسن عن ابی حنیفه ان النکاح لاینعقدوبه اخذکثیرمن مشائخنا کذافی المحیط والمختارفی زماننا للفتوی روایة الحسن﴿۱﴾اوکه چرته کفو وی نودعاقلې بالغې نکاح به نافذه اولازم وی نه دې لره پلارختمولې شی نه دا بالغه.کمافی الهندیه ۱:۳۰۵ نفذنکاح حرة مکلفة ولی عندابی حنیفه وابی یوسف رحمهماالله تعالی فی ظاهرالروایة کذافی التبیین﴿۲﴾وهوالموفق

مغوی د مغوئې د کفو کیدلوپه صورت کښې د اولیاءفسخ نامنظور ده

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زیدیوه بالغه جینئ اغوا کولوسره داولیاءداجازت نه بغیردجینئ سره طوعاوکرهانکاح اوکړه.ایا دانکاح په شریعت کښې صحیح کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی گل سردار.......۲۷/۳/۱۹۷۳ء

جواب: که چرته دامغوی (اغواکړې شوې) ددې مغوئې کفووی نودانکاح صحیح ده.داولیاءدناراضګئ دوجه نه ددې فسخ کول(شرعا) نامنظور دی.وفی الهندیه ۱: ۳۰۵ نفذنکاح حرة مکلفة بلاولی عندابی حنیفه وابی یوسف رحمهماالله تعالی فی ظاهرالروایة،کذافی التبیین﴿۳﴾وهوالموفق

خیل ځان اعلی قوم ظاهرکړی روستو پته لګیدلوباندې به نکاح کالعدم وی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه مسمٰی...... دواده په وخت دهوکه راکړه څه ئې دایېټ ابادنه پنډې ته راوستم اوخپل ځان ئې

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۹۲ الباب الخامس فی الاکفاء)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

پټهان ظاهر کړو. حالانکه هغه د موچی قوم سره تعلق لری اته لس ورځې ئې هم د غه رنګ څه پټه او ساتلم. روستوئې ماسره نکاح اوتړله. د نکاح نه مخکښې ئې د اهم ظاهر نه کړه، چه واده کړې شوې یم. حالانکه د ده دوه بچې هم دی. څه د ده سره دوه دوه نیم کاله آباده ووم، او روستو څه د خپلې مور کور ته راغلم. ایا د ده دې دهوکې په صورت کښې او دولی نه کیدلو په صورت کښې یعنی بغیر د اجازت د ولی نه د انکاح صحیح کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: بی بی مین بازار ایبټ آباد.....۱۲۸/شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: د مفتی به قول په بناء باندې د غیر کفو سره نکاح نامنظور او کالعدم وی.

لما فی الشامیة﴿۱﴾ والهندیة ۱: ۲۹۳ وعبارتها ثم المرأة اذا زوجت نفسها من غیر کفو صح النکاح فی ظاهر الروایة عن ابی حنیفة ...... وروی الحسن عن ابی حنیفة ان النکاح لا ینعقد وبه اخذ کثیر من مشائخنا کذا فی المحیط والمختار فی زماننا للفتویٰ روایة الحسن الخ﴿۲﴾. وهو الموفق

په شیعه اوسنی کښې د کفاءت مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې چه شیعه اوسنی مذهب والا دیوبل کفو دی. اودوی په خپلو کښې نکاح کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: یونس نشرروډ کراچی ۳......۱۹۷۳ء۵۱۴۱

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ویفتی فی غیر الکفء بعدم جوازه اصلاً) هذه روایة الحسن عن ابی حنیفة وهذا اذا کان لها ولی لم یرض به قبل العقد فلا یفید الرضا بعده...... وهو المختار للفتویٰ لفساد الزمان، وقال شمس الائمة وهذا اقرب الی الاحتیاط.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۲۲ باب الولی)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۹۲ الباب الخامس فی الاکفاء)

جواب: واضحه دې وی چه پاکستانی شیعه په اکثری طور سره د کفر عقیده لری، مثلاً داعقیده لری چه حضرت علی ؓ پیغمبر وو یا اله وو. نیز د صدیق اکبر ؓ د صحبت نه انکار کوی. او د صدیقه قذف کوی. لهذا د دوی سره به نکاح صحیح نه وی﴿۱﴾ او هغه شیعه چه صرف د تفضیل قائل وی﴿۲﴾ نو د ده سره په نکاح کښې د عدمې کفاء ت حکم جاری کړې شوې دې﴿۳﴾ وهو الموفق

د تفضیلی شیعه سره د سنی العقیده جینئ د کفاءت او د نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زاهد شیعه دې لیکن

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: نعم لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی او نحو ذلک من الکفر الصریح المخالف للقرآن. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۲۱ مطلب فی حکم سب الشیخین)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: واما المعتزلة فمقتضی الوجه حل مناکحتهم لان الحق عدم تکفیر اهل القبلة وان وقع الزاما فی المباحث بخلاف من خالف القواطع المعلومة بالضرورة من الدین...... فانهم ما قالوا ذلک الا لشبهة دلیل شرعی علی زعمهم وان اخطؤا فیه ولزمهم المحذور علی انهم لیسوا بادنی حالا من اهل الکتاب بل هم مقرون باشرف الکتب...... وبهذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی...... فهو کافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدین بالضرورة بخلاف ما اذا کان یفضل علیا او یسب الصحابة فانه مبتدع لا کافر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۱۴ مطلب مهم فی وطئ السراری اللاتی یوخذن)

﴿۳﴾ قال العلامة عبد الله بن مودود الموصلی: قال: (وفی الدین والتقویٰ) حتی ان بنت الرجل الصالح لو تزوجت فاسقا کان للاولیاء الرد لانه من افجر الاشیاء وانها تعیر بذلک وقوله علیه الصلاة والسلام: علیک بذات الدین تربت یداک، اشارة الی انه ابلغ فی المقصود. (الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۳۲ فصل الکفاءة المعتبرة فی النکاح)

دده عقیده داده چه په قرآن کښې دیرش سپارې دی اوبغیرد څه تحریف نه دا صحیح منی، اود پیغمبر علیه السلام دختم النبوت قائل دې، په امهات المؤمنین کښې فرق نه کوی صحابه کرام ټول دده خوښ دی. البته دحضرت علی، حسنین، اوفاطمة الزهرا رضوان الله تعالی اجمعین سره بې حده محبت لری ایا ددې زاهد سره دکومې سني دیوبندې یابریلوې جینۍ واده جائزدې یانه یامکروه دې یامباح؟ بینوا توجروا

المستفتی: امام محمد دینیات ټیچرپولټیکل چهاونې ټانک ۱۹۹۰ء۱۷۱۳

جواب: که چرته دا زاهد تفضیلی شیعه وی﴿۱﴾ نو دسنیه جینۍ نکاح دده سره نامنظور اوکالعدم ده، هرکله چه داولیاء داذن نه بغیرشوې وی لعدم الکفائة اوباذن اولیاء صحیح دی﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی...... فهو کافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدین بالضرورة بخلاف ما اذا کان یفضل علیا او یسب الصحابة فانه مبتدع لا کافر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۱۴ مطلب مهم فی وطئ السراری اللاتی یوخذن)

﴿۲﴾ قال عبد الله الموصلی الحنفی: (قال فی الدین والتقویٰ) حتی ان بنت الرجل الصالح لو تزوجت فاسقا کان للاولیاء الرد لانه من افجر الاشیاء وانها تعیر بذلک وقوله علیه الصلاة والسلام: علیک بذات الدین تربت یداک، اشارة الی انه ابلغ فی المقصود.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۳۲ فصل الکفاءة المعتبرة فی النکاح)

باب الرضاعة

رضاعت کښې مشاهده ضروری ده تسامع کافی نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه مسمی باز په بچپن کښې دخپلې ترور سره دنیاسیفه رولې وه. اوس باز دخپل رضاعی رورجینۍ یعنی د نیا نمسۍ عالم جان سره نکاح کړې ده درضاعت خبرصرف دباز ترورچه هغې دباز سره سینه رولې وه ورکړو دترور بیان دادې چه څما عمرخومره زیاتېدو مشرانو رونړو اوخویندونه مې هم داخبره اوریده چه باز او تا په بچپن کښې درضاعت په موده کښې یوځائ سینه رولې وه. دباز ماما مولوی محمد حسین هم دا بیان دې چه باز دخپلې نیاسینه دشریعت په موده کښې دننه څکلې ده. ددې نه علاوه یوڅوسړی دشبهاتو بیان ورکوی، چه معلومه نه ده چه باز دنیاسینه دشریعت په موده کښې دننه څکلې ده اوکه روستو. مګر رودلې ضرورده. په دې صورت کښې دباز او دعالم جان هغه چه ددې رضاعی وریرې دی په خپلو کښې نکاح کولې شی یانه؟ او ددې شبهاتو څه حکم دې؟

المستفتی: مولوی محمد حسین ګجرانواله......۱۹۷۵ء۱۷۱۳

جواب: دعدمې اعتراف په صورت کښې د دؤو سړو یا یو سړې او دوو ښځو د شهادت نه بغیر د حرمت نکاح حکم نشی ورکولې.

کما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار (۲: ۵۶۸) حجته حجة المال وهی شهادة عدلین او عدل وعدلتین﴿۱﴾، قلت ولا بد من المشاهدة ولا یکفی هٰهنا التسامع﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۴۸ قبیل کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة شمس الحق الافغانی: یلزم ان یکون...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

نکاح نه پس د يوې ښځې د رضاعت په دعوىٰ کښې تفصيل

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دزید اودزینب عقدنکاح شرعی اوښاکلې شو، ټول کلی والاخبرشو اوپه خوشحالو کښې ئې ځانونه شریک کړل، دوه کاله تیریدلونه پس یوښځې اووئیل، چه مازید اوزینب ته سینه ورکړې ده اوس ددې ښځې په ویناواعتبارسره نکاح فسخه کیدلې شی یا برقرارپاتې کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن.....

جواب: که چرته ښځه خاونددواړه یاصرف خاونددې ښځې تصدیق اوکړی، نونکاح به فاسده وی، اوکه چرته دواړه ددې ښځې تکذیب اوکړی، اوداښځه عادله وی، نواحتیاط په مفارقت کښې دې، اونکاح فاسده نه ده، اوکه چرته داښځه عادله نه وه، نوبیاڅه حرج نشته.

قال فی ردالمحتار (۵۶۸:۲) فی الهندیة: تزوج امرأة فقالت امرأة ارضعتکما فهو علی اربعة اوجه ان صدقاها فسدالنکاح وان کذباها وهی عدلة فالتنزه المفارقة وان صدقها الرجل وکذبتها فسد النکاح وان بالعکس لا یفسد، انتهیٰ بحذف یسیر ﴿۱﴾. وهوالموفق

(بقیه حاشیه) الشهود قدعاینوا بالذات المشهود به وان یشهدوا بذلک الوجه (المجله) والامور التی یتعذر علی کثیر من الناس مشاهدتها ویبقی احکامها ممر الدهور یجوز الشهادة بها بالتسامع وهی النسب والنکاح والدخول بالزوجة وولایة القاضی والموت واصل الوقف بشرط ان تشهر لدی الشاهد شهرة حقیقیة کالتواتر او حکمیة تکون بشهادة عدلین او عدل وعدلتین (الاصول القضائیه).

(معین القضاة والمفتیین ص۲۸ الفصل الثانی فی کیفیة اداء الشهادة)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۴۸ تنبیه قبیل کتاب الطلاق)

پنځم جلد 9

د نصاب شهادت نه کیدلو په صورت کښې حرمت د نکاح نه ثابتیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی دیوښځې سره نکاح کول اوغوښتل لیکن ددې ښځې خور(علاتی) دعوی اوکړه، چه ماددې سړی ته دپیدائش نه پس دموررولادت بیماری دوجه نه په موسم سرماکښې ډیره سینه ورکړې وه، اودده دموردپاره مې روټې تیارولې، ددې مدعیه خاوند هم داوائی، لیکن نورګواهان ددې مدعیه په بیان باندې نه دی، حالانکه ناکحه ددې موراومشرانې خویندې اوپلار، دذکرشوی بیان خلاف اود مدعیه دمخالفت اود عناد دعویداردی، دکلی دمشرانونه دحالات پوښتنه اوشوه، نوټولوپه متفقه طورسره بیان ورکړو، چه ددې واقعې دراتلونه مخکښې مونږته ددې مرضعې څه خبرنه وو، دذکرشوی بیانات دلاندې خلقوپه مخامخ په اخستلی شوی دی، (۱) قاضی فیض الرحمٰن (۲) قاضی فضل هادی صاحب (۳) قاضی محمد قاسم ډوګ دره (۴) مولاناحبیب محمد فاضل حقانیه ومولوی فاضل (۵) قاضی زین العابدین

آیاددې سړی نکاح ددې ښځې سره دذکرشوې بیاناتوپه لحاظ سره صحیح ده، ددې علاتی خور(مدعیه) اوددې دخاوند دعوی قابل قبول ده؟ په صورت دمتهم کیدلو کښې څه جواب دې، حالانکه دنکاح والاپه زړونوکښې څه خوف اوخطره په وجه دبهانها نه ده راغلې، چه ددې په خیال کښې هغه عنادیه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاضی فیض الرحمٰن سیاه بدرکنی ریاست دیر ۱۹۷۰ء۱/۶/۳

جواب: چونکه په صورت مسئوله کښې دشهادت نصاب موجودنه دې، لهٰذا حرمت دنکاح به ثابت کیږی نه، بیشکه احتیاط په اجتناب کښې دې.

فی الدرالمختار: الرضاع حجته حجة المال وهی شهادة عدلین او عدل وعدلتین ﴿۱﴾ (وبمعناه فی جمیع معتبرات)

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۴۸ قبیل کتاب الطلاق)

المذهب)﴿۱﴾ والدليل على التنزه ما رواه البخارى فقال رسول الله ﷺ: كيف وقد قيل ففارقها عقبة فنكحت زوجاً غيره﴿۲﴾. وهو الموفق

پخپله د مرضعې د شهادت حکم او د درمختار د عبارت تفصيل

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه يو سړی دخپلې ترور سينه اورودله. په دې باندې ګواه پخپله مرضعه اوددی خاوندې. او يو سړې او يو ښځه ده. که چرته دمرضعې اوددې دخاوندګواهې شرعًا منظور وی. نو نصاب دشهادت پوره دې. او که چرته منظورنه وی. نوپه نزد داحنافو په شهادت کښې کمې دې. چونکه درمختارباب الرضاع قبيل کتاب الطلاق ۲:۴۴۸ باندې ليکلی دی. اوشهادتةعدل وعدلتين، اوعلامه شامی دعدلتين په تشريح کښې ليکلی دی. ولو احدهما المرضعة لايضر کون شهادتها على فعل نفسها کشهادةالقاسم الوازن والكيال على رب الدين، بياپه درمختارکښې ليکلی ددې نه پس. وهل يتوقف ثبوته على دعوى المراة الظاهرلالتضمنها على حرمةالفرج وهی من حقوقه تعالى: نوجناب. ددې نه معلومه شوه چه حرمت د رضاعت دعوى باندې موقوف نه دې. ددې وجه نه ليکې. ولو احدهما المرضعة،

﴿۱﴾وفى الهنديه: ولا يقبل فى الرضاع الاشهادة رجلين اورجل وامرأتين عدول كذا فى المحيط...... وان كان المخبر واحد او وقع فى قلبه انه صادق فالاولى ان يتنزه ويأخذ بالثقة وجد الاخبار قبل العقد او بعده ولا يجب عليه ذلک.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۳۴۷ کتاب الرضاع)

﴿۲﴾وعن عقبة بن الحارث انه تزوج بنت ابى اهاب فجاءت امرأة فقالت لقد ارضعتكما، فسأل النبى ﷺ فقال: كيف وقد قيل؟ ففارقها عقبة فنكحت زوجاً غيره، اخرجه البخارى.

(بلوغ المرام ۳۸۵ قبيل باب النفقات)

څه دخپلې کم علمې نه داګنړم چه دمرضعې اوددې دخاوندګواهی شرعًا قبوله ده. مګرځه ستاسوپه فتوی باندې زيات اعتمادکوم. نوايادډې مرضعې اودخاوندګواهی منظوره ده يانه؟والتوفيق على الله

المستفتى: محمدهلال خطيب تربيلاډيم...... ۱۹۷۹ء۱۸۱۹۱

الجواب: تاچه څه ګنړلی هغه صحيح دی. دمرضعې شهادت مقبول دې. اوصرف په دې باندې اکتفاءکول مردوددی. اوکله چه دمرضعې شهادت مقبول دې، حالانکه داپخپل کارباندې شهادت دې، نودخاوندشهادت به په طريقه اولی منظوروی.

نوټ: په شهادت کښې دعدالت رعايت ضروری دې﴿۱﴾وهوالموفق

په شهادت عدلين سره چه کله مبرهن نه وی رضاعت به ثابت نه وی

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه د بکر دلور د اسماء د زيد سره دنکاح کولوپروګرام شروع وو. داسماء ماماداخبره مشهوره کړه. چه اسماء دزيددمورد هندې سينه رولې ده. دزيدمورهندې مقامی قاضی ته بيان ورکړو. چه ماسينه نه ده ورکړې. اوداماماذاتی دشمنې دوجه نه دروغ وائی. او د اسماء ماما عدالت ته هم نه پيش کيږی. اوس دنکاح څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتى: محی الدين دهړيال مانسهره......

الجواب: کله چه ماماعادل دوه سړی يايوسړې اوددوه ښځوپه شهادت سره دا دعوی مبرهن نه کړی ترهغه وخته پورې حرمت درضاعت نه ثابت کيږی. کمافى الدرالمختاروغيره حجته حجة المال وهی شهادته عدلين اوعدل

﴿۱﴾ وفى الهندية: ولا يقبل فى الرضاع الاشهادة رجلين او رجل وامرأتين عدول كذا فى المحيط.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۳۴۷ کتاب الرضاع)

وعدلتین﴿۱﴾وهو الموفق

د ښځې په سینه کښې د پیو نه موجود کیدلو په صورت کښې حرمت نه ثابت کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه عصمت خان په بچپن کښې خپلې نیا په سینه باندې اخستی وو. اوس هغه دخپلې تروړلورسره واده کول غواړی. لیکن د پیو مسئله ددوی په مینځ کښې حائله ده. نیادې لره د ژړا نه دخاموش کولو دپاره په سینه باندې اخستی وو. اوهغه ئې نه وو اخیستې. اوس معلومه نه ده. چه سینه ئې اخستی ده یا نه؟ اونیایقین سره وائی چه پئ نه دی ښکلی. هم دغه شان دهلک مورهم وائی. لیکن بیاهم خلق شک کوی. چه شاید پئ ښکلی وی. اوهلک لره نیاصرف یومرتبه په سینه باندې اخیستې دې. شرعی حکم څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحلیم بشام سوات...... ۱۹۹۱ء ۱/۵/۷

الجواب: په صورت مسئوله کښې حرمت رضاعت ثابت کیږی نه.

(۱) دشک په صورت کښې (۲) کله چه شپږدهنده اوائی چه ځما په سینه کښې پائی نه وو. نوحرمت رضاعت به ثابت کیږی نه (شامی)﴿۲﴾ هندیه﴿۳﴾......

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۴۸ قبیل کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: قوله فلو التقم الخ تفریع علی التقیید بقوله ان علم وفی القنیة امرأة کانت تعط ثدیها صبیة واشتهر ذلک بینهم ثم تقول لم یکن فی ثدی لبن حین القمتها ثدیی ولم یعلم ذلک الامن جهتها جاز لابنها ان یتزوج بهذه الصبیة وفی الفتح لو ادخلت الحلمة فی فی الصبی وشکت فی الارتضاع لا تثبت الحرمة بالشک.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۴۳۹ باب الرضاع)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: المرأة اذا جعلت ثدیها فی فم الصبی ولا تعرف امص اللبن ام لا ففی القضاء لا تثبت الحرمة بالشک وفی الاحتیاط تثبت ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الاشباه والنظائر﴿۱﴾وهو الموفق

د مرضعې غیرعادلې د خبر کولو او بیا د انکار کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دزید اوهندې دعقد نکاح لس کاله شوې دی. اوس معلومه شوه چه یوښځې دوی ته پئ ورکړی دی. لیکن دمرضعې نه علاوه بل ګواه نشته. صرف یوښځه بله هم ورسره ده. لیکن زید دصدق دمخبرنه انکاراوکړو. اوقسم ئې اوکړوچه هنده ځمامحرمه نه ده. اوهندې هم ددعوې کولونه انکاراوکړو. اوس غرض دادې. چه آیا سابقه نکاح ددې ذکرشوې شبهې دوجه نه فاسده یانه. که چرته نکاح نه وی شوې نوآئنده دپاره نکاح زفاف مجازده یانه؟بینوا توجروا

المستفتی: مولانا جعفرشاه بلندکوټ مانسهره ۱۹۷۷ء ۱۷/۱۱/۱۰

الجواب: که چرته دامرضعه عادله نه وی. کماهو الظاهر فی شر القرون، نوپه صورت مسئوله کښې نه مفارقت واجب دې اونه په دې کښې احتیاط شته.

کما یفهم من الهندیة ۱: ۳۷۵ الرضاع یظهر باحد امرین احدهما الاقرار والثانی البینة کذا فی البدائع، ولا یقبل فی الرضاع الا شهادة رجلین اور رجل وامرأتین عدول، کذا فی المحیط، وان کان المخبر واحد او وقع فی قلبه انه صادق فالاولیٰ ان یتنزه ویأخذ بالثقة سواء وجد الاخبار قبله او بعده ولا یجب علیه ذلک﴿۲﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) دخل فی فم الصبی من الثدی مائع لونه اصفر تثبت حرمة الرضاع لانه لبن تغیر لونه. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۴۴ کتاب الرضاع)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: لو ادخلت المرأة حلمة ثدیها فی فم الرضیع ولا یدری أدخل اللبن فی حلقه ام لا لا یحرم النکاح لان فی المانع شکاً کذا فی الولوالجیة.

(الاشباه والنظائر ص ۶۶ القاعدة الثالثة الیقین لا یزول بالشک)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۴۷ کتاب الرضاع)

صرف په سینه باندې خوله اېښودلوسره(کله چه څکلوکښې شک)وی حرمت رضاع نه راځی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې که چرته یوښځه کوم ماشوم له سینه په خوله کښې ورکړی.اوفورائې جداکړی.اوپئ په خوله کښې د ننه لاړنشی.نوایا په دې سره رضاعت ثابت کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: صوفی اسماعیل وزیرستانی.....۱۴۰۱۱۵۱۴ء

الجواب: کله چه په پیوڅکلوکښې شک وی.نوصرف سینه باندې خولې اېښودلو سره حرمت نه ثابت کیږی.لمافی الاشباه ۵۹ لوادخلت الحلمة ثدیها ولا یدری ادخل اللبن فی حلقه ام لالایحرم النکاح(۱)وهوالموفق

رضیع دمرضعې په ټول اولاد باندې حرام کیدل اود هدایه د عبارت مطلب

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه مسماةخائسته جان دیو جینئ زرین تاجې ته دخپل وړوکی زوئ ملنګ سره پئ ورکړې دی.دخائسته جان یوبل زوئ دې زلمې چه دملنګ نه په عمرکښې زیات دې.ایادزرین تاجې نکاح دزلمی سره جائزده یانه؟ نیزدصاحب هدایه داقول چه:وکل صبیین اجتمعها علی ثدی امرأة واحدة لم یجزلاحدهماان یتزوج بالاخری الخ:ددې نه اجتماعی زمانی مرادده یامکانی.یعنی ددې جزئې په وجه سره دحلت حکم کیدې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی:هیډماسترباندہ سیدان براسته اوګئ مانسهره ۱۹۷۵،۹۱۵۱

جواب: داجینئ زرین تاجه ددې مرضعې په ټول اولادباندې حرامه ده.

یدل علیه مافی الخلاصة ۱:۲۴۴ ولو ارضعت امرأة صبیا یحرم علیه من یقدم من اولادها ومن

﴿۱﴾(الاشباه والنظائر ۷۱ القاعدة الیقین لا یزول بالشک)

تأخر﴿۱﴾، وفی الدرالمختار: لا حل بین الرضعیة وولد مرضعتها (هامش ردالمحتار ۲:۵٦۱) ﴿۲﴾،قلت: وکذا نقول بلبن الفحل فیحرم علیها الولد الثانی لکونه ولد ابیها من الرضاع﴿۳﴾. فافهم. وهوالموفق

د سینې نه پئ ویستلو سره څکول هم موجب حرمت دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیوښځې د سینې نه پئ ویستلې شو.اوبوتل کښې ئې واچول اویوهلک ته ئې ورکړه.ایارضاعت به ثابت وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: تاج ولی جلبئی صوابی.....یکم ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: دکومې ښځې د سینې نه چه پئ ویستل شی اوکوم هلک ته ورکړې شی نوحرمت رضاعت به ثابت وی.یدل علیه مافی شرح التنویر:والحق بالمص الوجور والسعوط(هامش ردالمحتار) ۲: ۵۵٤﴿٤﴾وهوالموفق

د مرضعې د تصدیق په صورت کښې نکاح جائزنه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوسړې وائی چه ځما مور وائی چه مادفلانې جینئ پلارته پئ ورکړی وو.اوځه داجینئ خپل رور

﴿۱﴾(خلاصة الفتاوی ۲:۱۲ قبیل الفصل الخامس فی الاکفاء)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۴۳ باب الرضاع)

﴿۳﴾قال العلامة المرغینانی: ولبن الفحل یتعلق به التحریم وهو ان ترضع المرأة صبیة فتحرم هذه الصبیة علی زوجها وعلی ابائه وابنائه ویصیر الزوج الذی نزل لها منه اللبن ابا للمرضعة. (هدایه ۲:۳۷۰ کتاب الرضاع)

﴿۴﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۳۷ باب الرضاع)

....

دپاره په نکاح باندي اخستل غواړم په رضاعت کنبي دمورنه علاوه بل کوم
چشم دیداه گواه نشته.اوځمایقین دي چه ځمامور دروغ نه وائی ایاد شریعت
په رنړا کنبي دانکاح جائزده؟ نیز ځما اوددي جینۍ دخاندان په خپلو کنبي
جهګړه ده.که چرته داجینۍ زمونږکورته راغله نوټولې جهګړې به ختمي
شي؟ بینوا توجروا

المستفتی:مولوی ولی محمدبابرفورټ سنډیمن بلوچستان ۱۲۲ستمبر ۱۹۷۹ء

جواب:کله چه ته ددي مرضعي(مور)تصدیق کوې نوحلت به دکومې نه راځی.

قلت:ونظیره التصدیق بعدعقدنکاح کمافی ردالمحتار ۲: ۵۶۸ء فلیراجع﴿۱﴾
وهوالموفق

خپل زوئ گنړلوسره په غلطئ سره بل ماشوم ته پئ ورکولو سره هم حرمت ثابت کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلي باره کنبي چه زینب په غلطئ سره
خپلي لور ګنړلوسره بلې جینۍ ته ئي پئ ورکړه،په دي وخت کنبي دزینب
هوش اوحواس دبیماري دوجه نه صحیح نه وو.کله چه یومرتبه ئي پئ
اوڅکل،نوهوش اوحواس ئي په تیهک کیدلوباندي محسوس کړل اوپئ هم
صرف یومرتبه څکلي وو.ایادزینب دزوئ سره ددي جینۍ نکاح جائزده
یانه.او د زینب دولد الولد سره جائزده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالکبیرجلال آباد......

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفی الهندیةتزوج امرأة فقالت امرأة ارضعتکما فهو علی اربعة اوجه،ان صدقاها فسد النکاح...... وان کذباها وهی عدلة فالتنزه المفارقة...... وکذالو شهد غیر عدول او امرأتان او رجل وامرأة وان صدقها الرجل وکذبتها فسد النکاح وان بالعکس لا یفسد ولها ان تحلفه ویفرق اذا نکل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۴۸ قبیل کتاب الطلاق)

الجواب: د جزئیاتو نه معلومه ده.چه رضاع کنبي په علم.جهل.اورضااواکراه
کنبي څه فرق نشته.لهذادزینب پلارددي رضیعي رضاعی روردي.او
ولدالولد ئي رضاعی وراره دي.اوڅنګه چه دنسبتی وراره سره نکاح حرامه
ده، هم دغه شان درضاعی وراره سره هم نکاح حرامه ده.

**قال رسول الله ﷺ: یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب﴿۱﴾ وفی الدرالمختار:
ولا حل بین الرضیعة وولد مرضعتها وولد ولدها لانه ولد الاخ انتهی باختصار
یسیر﴿۲﴾. وهوالموفق**

د دوؤ بنو مختلفو بچوته پئ ورکولوسره د رضاعت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلي باره کنبي چه دزید دوه ښځي دی،
هنده اوسایه.هندي یواجنبی هلک ته سینه ورکړه.اوسایې هم یواجنبیې
جینۍ ته سینه ورکړه.اوس ددي اجنبي جینۍ اوهلک په مینځ کنبنې نکاح
صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالقیوم پیرهاړی بټګرام......۱۹۸۳ء۱۱۱۱۱

جواب:دادلبن الفحل مسئله ده.اوس ددي دواړوپه مینځ کنبي نکاح ناجائز
ده.ځکه چه دادواړه دزیدرضاعی بچی دی﴿۳﴾وهوالموفق

﴿۱﴾ (رواه البخاری ۹: ۱۲۱ کتاب النکاح، ورواه مسلم باب تحریم الرضاعة ماء الفحل الحدیث: ۱۴۴۷ ورواه النسائی ۶: ۱۰۰ باب تحریم بنت الاخ من الرضاع)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۴۳ باب الرضاع)

﴿۳﴾ قال العلامة المرغینانی: ولبن الفحل یتعلق به التحریم وهو ان ترضع المرأة صبیة فتحرم هذه الصبیة علی زوجها وعلی آبائه وابنائه ویصیر الزوج الذی نزل لها منه اللبن ابا للمرضعة.

(هدایة ۲: ۳۵۱ کتاب الرضاع)

د خوب په حالت کښې د یو بچی راتلل اود پیوځکلوسره د حرمت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو ښځه اوده وه، چه یو هلک راغلواوپه دې حالت کښې ئې ددې نه پئ اوځکل. اوښځې ته هم معلومه شوه، ایادې سره حرمت درضاعت ثابت کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مجیدعلی متعلم حقانیه..... ۱۹۸۶ء۱۱\۱۳

جواب: د اوده شوې (نائمې) ښځې نه دپیوځکلوپه صورت کښې حرمت د رضاعت ثابت کیږی.

لما فی شرح التنویر: او میتة﴿۱﴾، والوجه ظاهر لان النوم ادنیٰ من الموت، ولما فی العالمگیریة ۱: ۳۶۸ وکذا الصغیرة اذا جاء ت الی الکبیرة وهی نائمة فاخذت ثدیها وارتضعت منها بانتا منه، فافهم﴿۲﴾. وهو الموفق

دچا په بدن کښې د وینې داخلیدلو سره حرمت د رضاعت نه راځی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دچاپه بدن کښې دچا وینې داخلیدلوسره حرمت درضاعت ثابت کیږی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ریاض الحسن ستاره جرات تحصیل گوجرخان ۱۹۷۲ء۱۱\۱۵

الجواب: واضحه دې وی چه دچاپه بدن کښې دوینې داخلیدلوسره دحرمت رضاع ثبوت اودعدمې ثبوت متعلق وضاحت ملاؤنشو. البته دقواعدوپه رڼا سره داعمل موجب حرمت نه دې. لان الدم لا یدفع المجاعة ولا تتغذی بها فلا تکوّن محرمة، قال رسول الله صل الله علیه وسلم انما الرضاعة من

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۳۷ باب الرضاع)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۴۵ کتاب الرضاع)

....

المجاعة﴿۱﴾ نیزواضحه دې وی چه کله ددوه نیموکالونه پس پئ اوځکؤلې شی نوموجب حرمت نه کیږی﴿۲﴾ دخول دوینې به څنګه موجب حرمت وی. وهٰذا هوالمختار عندالاکابر. وهو الموفق

د ښځې پئ څکلوسره اووینې ورکولوسره حرمت رضاعت نه راځی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه (۱) خاونددپاره دښځې سینه په خوله کښې اخستل یادکومې مجبورئ (بطورعلاج) دوجه نه دښځې پئ څکل جائزدې یانه. دحرمت څه حکم دې. (۲) دښځې دبیمارې یاکمزورې په بنیادباندې که چرته دوینې ضرورت پیښ شی اودخاونددوینې نه علاوه دبل چاوینه ورسره موافق نه وی په دې صورت کښې داوینه ورکول جائزدی؟ اود حرمت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... نوشهره.... ۱۸\شوال ۱۳۸۹ھ

الجواب: (۱) دوه نیم کاله نه پس دکومې ښځې پئ څکل اوورکول بغیر دضرورت شرعی نه جائزنه دی. البته دې سره حرمت رضاع ثابت کیږی نه. (عمدة الرعایة﴿۳﴾ وهدایة﴿۴﴾

﴿۱﴾ عن عائشة ان النبی صلی الله علیه وسلم دخل علیها وعندها رجل فکانه تغیر وجهه کانه کره ذلک فقالت انه اخی فقال انظرن من اخوانکن فانما الرضاعة من المجاعة.
(الصحیح البخاری ۲: ۸۶۴ باب من قال لارضاع بعد حولین)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: قلیل الرضاع وکثیره اذا حصل فی مدة الرضاع تعلق به التحریم...... واذا مضت مدة الرضاع لم یتعلق بالرضاع تحریم کذا فی الهدایة.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۴۲ کتاب الرضاع)

﴿۳﴾ قال العلامة عبد الحئی اللکنوی: قوله لا بعده ای لا بعد مدة الرضاعة لحدیث لا رضاع بعد فصال ولا یتم بعد حلم اخرجه الطبرانی وعبد الرزاق وغیرهما وفی جامع الترمذی مرفوعاً لا یحرم من الرضاع الا ما فتق الامعاء فی الثدی وکان قبل الفطام الخ.
(عمدة الرعایة هامش شرح الوقایة ۲: ۶۴ کتاب الرضاع)

﴿۴﴾ قال العلامة المرغینانی: وهل یباح الارضاع.... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

وشامی﴿۱﴾.(۲) دضرورت شرعی په وخت نکاح باندې ددې اثرنه پریوزی اوحرمت هم نشته دې.اوبغیردضرورت نه په نکاح باندې اثرخونه پریوزی لیکن حرام اوموجب ګناه ده،ولم یذکره الفقهاءفی محرمات النکاح.وهوالموفق

که چرته پئ ورکول یقنی طورباندې یاد وی اوښځې خاوند ته هم د حقیقت یقین وی نو تفریق ضروری دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوښځې خپل زوئ دپاره یوجینئ خوښه کړه روستوداصورت حال پیداشوچه دې ښځې ته دا خبره یاده شوه چه هغه جینئ کومه چه ماخپل زوئ ته په نکاح باندې اخستې ده.دې ته هم کیدې شی ماپئ ورکړې وی لیکن ددې کاردمدت اودوخت د پریشانئ اومصیبت دوجه نه په شک کښې دې.لیکن غالب ګمان دپیؤ ورکولو دې چه دې خپل پئ ورکړې دی نوایاپه دې صورت کښې حرمت رضاع ثابت کیدلوسره جدائی لازمه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی علی محمدبیټنی ټانک ډیره......۱۵/۱۲/۱۹۷٤ء

الجواب: که چرته پئ ورکونکی ته یقینی طورباندې خپل پئ ورکول یادوی او ددې جینئ اوهلک په دې خبره باندې یقین وی چه دابیځه رښتیاوائی نوپه دې هلک باندې ددې جینئ پریښودل ضروری دی(شامی﴿۲﴾ وهوالموفق

(بقیه حاشیه) بعد المدة قد قیل لا یباح لان اباحته ضروریة لکونه جزء الادمی.

(هدایه ۲: ۳۵۱ کتاب الرضاع)

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: ویثبت التحریم فی المدة فقط ولو بعد الفطام...... ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمی والانتفاع به لغیر ضرورة حرام علی الصحیح.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ٤۳۸ باب الرضاع)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین: تزوج امرأة فقالت امرأة ارضعتکما فهو علی اربعة اوجه ان صدقاها فسد النکاح...... وان کذباها وهی عدلة فالتنزه المفارقة...... وان صدقها الرجل وکذبتها فسد النکاح...... وان بالعکس لا یفسد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ٤٤۸ قبیل کتاب الطلاق)

د پیؤ نه کیدل یقینی وی نوحرمت ثابت کیږی نه

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوهلک دخپلې نیا سینې سره خوله اولګوله حال داچه دې کښې پئ نه وو.اونیادده دپلار د طرفه وی.نوایاپه ده باندې خپله دترورلورحرامه ده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عالمګیرشاه اکبرپوره......۱۲۵جمادی الثانی ۱۳۹۹ﻫ

جواب: که چرته ددې نیاپه سینه کښې یقینی طورسره پئ معلوم نه وو.نودې سره حرمت رضاعت نه ثابت کیږی.صرح به فی الاشباه والنظائر ۶۳: ۵۹﴿۱﴾ وهوالموفق

که پئ نه وی نوحرمت رضاعت به ثابت نه وی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوماشوم دمورنه دشېږو میاشتوپاتې شواوپه دې دوران کښې دچیلئ یادغواپه پیوباندې پرورش اوشو.کله چه داماشوم په ژړاشی نودې لره خپله حقیقی نیاسینې

﴿۲﴾قال العلامة ابن نجیم: ومنها لو ادخلت المرأة حلمة ثدیها فی فم الرضیع ولا یدری أدخل اللبن فی حلقه ام لا یحرم النکاح، (بعد صفحات) فلو کان فی الحرمة شک لم یعتبر ولذا قالوالو کان فی الحرمة شک لم یعتبر ولذا قالوا لو ادخلت المرأة حلمة ثدیها فی فم رضیعة ووقع الشک فی وصول اللبن الی جوفها لم تحرم لان فی المانع شکا کما فی الولو الجیة وفی القنیة: امرأة کانت تعط ثدیها صبیة واشتهر ذلک فیما بینهم ثم تقول لم یکن فی ثدیی لبن حین القمتها ثدیی ولا یعلم ذلک الا من جهتها جاز لابنها ان یتزوج بهذه الصبیة وفی الخانیة صغیر وصغیرة بینهما شبهة الرضاع ولا یعلم ذلک حقیقة، قالوا: لا باس بالنکاح بینهما هذا اذا لم یخبر بذلک احد!

(الاشباه والنظائر ۶۲،۶۶ القاعدة الثالثة الیقین لا یزول بالشک)

باندې واخلي او پرله پسې دوه کاله دا سلسله جاري وه. دنیا عمر شپیته کاله وو. او د اوولسو کالونه دانیابې اولاده وه. ایا اوس ددې نیاحقیقي نمسۍ سره ددې هلک نکاح جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد شریف پشاور...... ۱۹۷۴ء۱۰۱۱۰۱

جواب: که چرته ددې نیاپه سینه کښې دپیووجود یقیني نه وو، نو حرمت د رضاعت به ثابت نه وي.

وفي القنية امرأة كانت تعط ثديها صبية واشتهر ذلك بينهم ثم تقول لم يكن في ثديي لبن حين القمتها ثديي ولم يعلم ذلك الا من جهتها جاز لابنها ان يتزوج بهذه الصبية

(ردالمحتار ۲:۵۵٦)﴿۱﴾. وهوالموفق

د آئسې ښځې په پیؤ کیدلو او نه کیدلو کښې د حرمت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه په کتاب الرضاع کښې په دې خبره کښې اختلاف دې. واذانزل للبكرلبن فارضعت صبيايتعلق به التحريم لاطلاق النص وهوقوله: وامهاتكم اللتى ارضعكم، اوس که چرته یوښځه وي. اوددې خاوندنه وي او بوډهې شي. او یوماشومه دسینې سره اولګوی او پئ ددې په سینه کښې پیدا شي. نو دې سره حرمت ثابت کیږي. هم دغه شان که چرته پئ نه وي نو حرمت نه راځي ایا دامسائل صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولاناآغامحمد طیب کوئټه..... ۱۶ رمضان المبارک ۱۳۹۹ھ

جواب: (۱) دامسئله صحیح ده. ﴿۲﴾ دامسئله هم صحیح ده. کمافی

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۳۹ باب الرضاع)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي: هو مص الثدى وشرعا مص من ثدى آدمية ولو بكرا او ميتة او آيسة والحق بالمص الوجور والسعوط.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۴۳۷ باب الرضاع)

ردالمحتار ۲: ۴۵۵) ﴿۱﴾ وهوالموفق

ددوه نیم کالونه زیات عمروالا که چرته پئ اوڅکي نو حرمت نه ثابتیږي

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه مسماة کچکول خان هغه چه لاډلااوبداخلاقه وو. دجادوپه طورباندې دعلي محمد دمورصرف یوځل پئ اوڅکل. علي محمد دکچکول نه صرف شپږمیاشتې مشردې. هم دغه رنګ دکچکول خان کویدنه دعلي محمد دکشرې خورسره اوشوه. اوس د واده خبرې شروع دی نودا خبره یاده شوه. لیکن دایاد ول پکاردی. چه کچکول خان دخپلې منګتیرې مورصرف یوځل پئ څکلی دی. دانکاح جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتي: فیروزشاه

جواب: که چرته دپیوڅکلو په وخت دکچکول عمرددوه نیم کالونه زیات وو. نو حرمت به نه وي. في الدرالمختار: في وقت مخصوص هوحولان ونصف عنده وحولان فقط عندهماالخ﴿۲﴾ او که چرته عمرددوه نیم کالونه کم وو نو حرمت به ثابت وي. وفيه ويثبت به ان قل﴿۳﴾ وهوالموفق

د ښځې پئ څکلو کښې د حرمت دلیل

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه د سړی دپاره دخپلې

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: وفي القنية امرأة كانت تعط ثديها صبية واشتهر ذلك بينهم ثم تقول لم يكن في ثديي لبن حين القمتها ثديي ولم يعلم ذلك الا من جهتها جاز لابنها ان يتزوج بهذه الصبية.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۳۹ باب الرضاع)

﴿۲﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۴۳۷ باب الرضاع)

﴿۳﴾ (شرح التنوير على هامش الشاميه ۲: ۴۳۹ باب الرضاع)

ښځې پئ ځکل ولې حرام دیٰ ددې څه وجه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری رحمت دین متعلم گورنمنټ دار العلوم اسلامیه چارباغ سوات ۱۹۸۹ء/۱/۲۳

جواب: روستو د مدت رضاع نه د خپلې ښځې وغیره پئ ځکل حرام دی لیکن موجب د جدا والی او د طلاق نه دی.

کما فی الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۲۹ مص رجل ثدی زوجته لم تحرم ﴿۱﴾ وفی ۲: ۵۰۵ ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمی والانتفاع به لغیر ضرورة حرام علی الصحیح ﴿۲﴾. وهو الموفق

د رضاعت د مودې نه علاوه د ښځې پئ ځکلو سره نکاح باندې اثر نه پریوزی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی د خپلې ښځې سره صحبت کولو. ښځې ته ئې اووئیل چه ستا په سینه کښې پئ شته یا نه. ښځې ورته اووئیل نشته. لهذا ددې په سینه باندې خوله کیخودله او چه کله ئې ددې پرشوق دوجه نه اورولې نو ددې په رولو سره دهغه په خوله کښې مالګیژن پئ راغلل. دده په خوله کښې پئ راتللو سره ئې ګزار کړل او خوله او ژبه ئې صفا کړه. او پئ ئې تیر نه کړل. او بیائې خوله او بوسره صفا کړه. هلته ئې دیو عالم نه پوښتنه اوکړه. او هغه جواب ورکړو چه ددې سره رضاعت نه ثابت کیږی. تاسو صاحبان د صحیح مسئلې نه مو خبر کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: کمال الباکستانی حائل سعودیه عربیه..... ۱۴۰۱/۱۱/۱۴ھ

جواب: ددې مولوی صاحب مسئله صحیح ده. که تاسو چرته پئ هم او ځکل اولاندې موتیر هم کړل. نو بیا هم په نکاح باندې څه اثر نه پریوزی. لما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار..

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۴۹ قبیل کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ (علائیه علی هامش الشامیة ۲: ۴۳۸ باب الرضاع)

۲: ۵۲۹، مص رجل ثدی زوجته لم تحرم، انتهیٰ ﴿۱﴾. قلت هذا اذا کان الزوج تجاوز عمره من ثلاثین شهراً ﴿۲﴾. وهو الموفق

نسی یا نسئ نه پئ ورکول اګرچه ممنوع نه دی مګر موجب د حرمت رضاعت دی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه نیا خپلو نمسو لره داوده کولو د پاره خپل سینه دهغوی په خوله کښې ورکوی او هغوی پئ ځکی ایا دا جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الرؤف لوند خور مردان..... ۱۲۸ رمضان المبارک ۱۴۰۵ھ

جواب: نمسی وغیره (کله چه دوه نیم کالو نه کم وی نو دوته) سینه ورکول ممنوع نه دی. که چرته د رضاعت په موده کښې ئې پئ او ځکل نو حرمت د رضاعت به ثابت وی (شرح تنویر وغیره) ﴿۳﴾ وهو الموفق

د اقرار نه پس د رضاعت نه انکار اوکړی نو نکاح به جائزوی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه حیات د خپل زوئ وارث

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۴۴۹ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة طاهر بن عبد الرشید: ولا رضاع بعد الفصال ومدة الرضاع عندهما سنتان وعند ابی حنیفة سنتان ونصف والرضاع فی هذه المدة محرم فطم الصبی ام لا ولا یثبت الحرمة بعد سنتین ونصف وان لم یفطم.

(خلاصة الفتاویٰ ۲: ۱۱ الفصل الرابع فی الرضاع)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: ویثبت التحریم فی المدة فقط ولو بعد الفطام علی المذهب وعلیه الفتویٰ..... ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمی والانتفاع به لغیر ضرورة حرام علی الصحیح. (الدر المختار علی هامش الشامیة ۲: ۴۳۸ باب الرضاع)

دپاره دغلام دلوررشته اوغوښتله، دغلام ښځې جواب ورکړوچه ماوارث ته دخپلې لورسره پئ ورکړې دی ددې وجه نه دارشته نه شی کیدې، ددې اقرار ګواه هم موجوددې څه وخت پس حیات دوباره رشته اوغوښته غلام اودده ښځه رشتې ورکولوباندې راضی شول، نکاح اوشوه، چه کله دکلی خلقو د رضاعت دسابقه داقراردوجه نه نکاح باندې اعتراض اوکړو نودې ښځې د رضاعت نه انکارکولوسره اووئیل چه اولنې اقرارصرف رشتې نه ورکولو دپاره یوبهانه وه، په دې سلسه کښې ئې یودینی عالم ته رجوع اوکړه نو د نکاح دجوازفتوی ورکولوسره ئې دادلیل ورکړوچه رضاعت دثبوت ګواه نشته حالانکه یوبل عالم دین دجدا والی حکم ورکولوسره اووئیل چه د اقرار دوجه نه یوځل رضاعت ثابت شوې دې، اوس سوال دادې چه داقراررضاعت نه پس دانکارپه صورت کښې حرمت رضاعت ثابت کیږی یانه؟ نیزذکرشوې نکاح برقراره پاتې کیدلې شی یادې لره فسخه کول ضروری دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ حیات محمد ساکن مروال کیملپوراټک...... ۱۹۷۴ء۷/۱۷

جواب: دانکاح جائزده دفسخې څه ضرورت نشته.

لما فی تنقیح الفتاویٰ (۱: ۳٤) **سئل فی امرأة قالت ارضعت زیداً ثم کذبت نفسها وحلفت بالله العظیم انها لم ترضعه اصلاً وصدقها زید علی ذلک ویرید التزوج بابنتها فهل له ذلک، قال نعم والمسئلة فی التنویر الخ﴿۱﴾. وهوالموفق**

د رضیع او د مرضعې د ټول اولاد په مینځ کښې نکاح حرامه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه علی دولی سره دده د موز پئ څکلی دی، اوس دعلی نکاح دولی دموردخیتې نه پیداشوې دولی

﴿۱﴾(تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱: ۳٤ باب الرضاع)

خور سره کو. ایاذکرشوې صورت کښې نکاح جائزده. ایادرضیع دپاره د مرضعې ټول اولادحرام دې.﴿۱﴾حالانکه فتاوی دارالعلوم دیوبند جلد ۴ **سوال:** (۹۲۱) لاندې په ذکرشوې صورت کښې نکاح حرامه قراره کړې شوې ده، اوپه دویم جلدکښې اصول بیان کړې شوې دې، چه رضیع دپاره دمرضعې ټول اولادحرام دې﴿۲﴾ مفتی اعظم پاکستان مفتی محمد شفیع صاحب سابق مفتی دیوبندحال کراچی اومولاناخیرمحمدصاحب خیرالمدارس والا ذکر شوې نکاح حرامه قرارکړې ده، لیکن دګوجرانواله یومفتی صاحب په عبارت کښې، تحل اخت اخیه رضاعاًونسبا، بحرالرائق ۲۲۷، شامی ۳: ۵٦۱، فتح التقدیر۳: ۱۱ حواله ورکوی چه ذکرشوې نکاح جائزقرارکړې شوې ده. مدلل جواب مع ثبت مهردارالافتاء رحمت اوفرمائی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدعبدالله لدهیانوی مرکزی دفترمجلس ختم النبوت ملتان شهر ۱۹۷۹ء۱۲/۱۱

الجواب: دعلی دپاره دولی موردمرضعې ټول اصول اوفروع حرام دی.

لما فی الهندیة ۱: ۳٦۵ **یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعاً حتی ان المرضعة لو ولدت من هذا الرجل او غیره قبل هذا الارضاع او بعده...... فالکل اخوة الرضیع واخواته الخ﴿۱﴾.**

او فقهاءکراموچه څه لیکلې دی چه تحل اخت اخیه رضاعاونسبا، نوددې نه مراد دعلاتی رورا خیافی خورده ټولوفقهاءکراموپه دې باندې تصریح کړې ده.

قال فی الدرالمختار: **وتحل اخت اخیه رضاعاً ونسباً بان یکون لاخیه لابیه اخت لام** انتهیٰ مافی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵٦۱﴿۲﴾ **وهکذا فی الهندیة ۱: ۳٦٦﴿۳﴾.**

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمګیریه ۲: ۳٤۳ کتاب الرضاع)
﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ٤٤۲ باب الرضاع)
﴿۳﴾وفی الهندیة: وتحل اخت اخیه رضاعا کما تحل نسبا مثل الاخ لاب اذا کانت له اخت من امه یحل لاخیه من ابیه ان یتزوجها کذا فی الکافی. (فتاویٰ عالمګیریة ۱: ۳٤۳ کتاب الرضاع)

وهکذا فی الهدایة ۱:۳۳۱﴿۱﴾ کتاب الرضاع، وهکذا فی البدائع ۴:۴﴿۲﴾. وهو الموفق

د نیا پئ ځکلو سره نمسې د ترونو رضاعی رور جوړیږي

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه نیاځپل نمسی ته پئ ورکړل، نوایاواقعی به دانمسې دځپلوترونوروروی؟ اودتره لوریانې به په ده باندې حلالې نه وی؟ لیکن حقیقت خودې برعکس دې؟بینوا توجروا

المستفتی: رحمت الله خان اوګئ مانسهره......۱۲۲\شوال۱۴۰۲ھ

جواب: داهلک دټولوترونورضاعی روردې.ددې ترونولوریانې په ده باندې حرامې دی،داددې هلک رضاعی وریرې دی،قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب﴿۳﴾وهو الموفق

اجنبی هلک جینئ د اجنبی ښځې پئ ځکلو سره په دواړو کښې رضاعت ثابت کیږي

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زیددفاطمې زوئ او

﴿۱﴾ وقال العلامة المرغینانی: ویجوز ان یتزوج الرجل باخت اخیه من الرضاع لانه یجوز ان یتزوج باخت اخیه من النسب وذلک مثل الاخ من الاب اذا کانت له اخت من امه جاز لاخیه من ابیه ان یتزوجها.

(هدایة ۲:۳۳۱ کتاب الرضاع)

﴿۲﴾ (بدائع الصنائع ۴:۴ کتاب الرضاع)

﴿۳﴾ (رواه البخاری ۲:۷۶۴ باب قوله تعالی وامهاتکم اللاتی ارضعنکم کتاب النکاح) (ورواه مسلم ۱:۴۶۷ باب الرضاعة من ماء الفحل ورواه النسائی ۶:۱۰۰ باب تحریم بنت الاخ من الرضاع)

.....

زینب دهندې لورده،دواړودریمې مورپئ اوځکل اوس دفقه حنفی په رنړا کښې دزیداوزینب په مینځ کښې عقدنکاح جائزده یانه؟یعنی دارضاعت د صورت محرمه ځینې دې یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی:مولانافضل مولی صاحب دلبوړی مدرس حقانیه (حال مهتمم دارالعلوم دلبوړی)۱۹۸۹ء

الجواب: دزیداوزینب په مینځ کښې نکاح حرامه ده،ځکه چه دادواړه رضاعی رورخوردی.قال رسول الله صلی الله علیه وآلیه وسلم: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب﴿۱﴾وفی الدرالمختار:ولاحل بین رضیعی امراة لکونهمااخوین وان اختلف الزمن﴿۲﴾وهو الموفق

د نیا پئ ځکلو والا په خپلو کښې رضاعی رور خوردی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوښځه خپلونمسوته چه هغه هلک اوجینئ وی پئ ورکړه،ایاددوئ په مینځ کښې به نکاح جائزوی؟ بینوا توجروا

المستفتی:فضل هادی.......۱۹۷۴ء۱۹۱۳۱

الجواب: چونکه پئ ځکلووالاپه خپلوکښې رورخوردی.لهذاددوی په مینځ کښې نکاح جائزنه ده.کما صرحوابه﴿۳﴾وهو الموفق

﴿۱﴾ (رواه البخاری ۵۱۰۰، ومسلم الرضاع ۱۱،۱۲،۱۵ وغیرهما انظر تحفة الاشراف ۷:۲۰۱)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۴۳ باب الرضاع)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعا حتی ان المرضعة لو ولدت من هذا الرجل او غیره قبل هذا الارضاع او بعده او ارضعت رضیعا او ولد لهذا الرجل من غیر هذه المرأة قبل هذا الارضاع او بعده او ارضعت امرأة من لبنه رضیعا فالکل اخوة الرضیع واخواته الخ.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۳۴۳ کتاب الرضاع)

د رضاعي پلار د دويمې ښځې سره نکاح حرامه ده

سوال: څه فرمائي علماءدين دې مسئلې باره کښې چه يو سړى دوه ودونه کړي وي. دواړه ښځې دده سره دی. داولې ښځې نه ئې شپږ لوريانې اوځامن وو. بيا اولنې ښځه وفات شوه. بياپلارهم وفات شواو دا شپږ بچې ددې کونډې سره پاتې شول. بيادې کونډې مورديو سړي سره واده اوکړو. ليکن دې خاوند ددې شپږوبچووالاموريې هم ځکلې وو. نوايادابنځه ددې سړي سره نکاح کولې شي؟ بينوا توجروا

الجواب: درضاعي پلاربنځه (غيرمرضعه) حرامه ده. کمافى ردالمحتار ۳:۳۱ ويحرم من الرضاع اصوله وفروعه.... وحلائل اصوله وفروعه﴿۱﴾

نوټ: داحکم هله دې چه رضاعت مسلم يامبرهن وى﴿۲﴾وهو الموفق

رضاعي ترور د محرماتو نه ده

سوال: څه فرمائي علماءدين دې مسئلې باره کښې چه مثلاً هندې يو هلک عمرو ته پئ ورکړى دى. اوس دامرضعه (هنده) دخپلې نسبي خورسره. ددې هلک نکاح کول غواړي. ايادا په رڼاد شريعت کښې جائزده؟

بينوا توجروا

المستفتي: مولوى عبدالصمدبن شيخ الحديث

مولانامحمدعلى سواتى مدرس حقانيه.....۱۸۱۹۱ء۱۹۷۶

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۰۳ فصل فى المحرمات)

﴿۲﴾وفى الهندية: الرضاع يظهر باحد امرين احدهما الاقرار والثانى البينة كذا فى البدائع ولا يقبل فى الرضاع الا شهادة رجلين او رجل وامرأتين عدول.

فتاوىٰ عالمگيريه ۲:۳۴۷ كتاب الرضاع)

الجواب: دابنځه درضاعي ترور کيدلوپه وجه دمحرماتو نه ده.

لحديث: يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب (متفق عليه) ﴿۱﴾. ولما فى الهندية: ۱:۳۶۵ يحرم على الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما (الى ان قالوا) واخوا المرضعة خالة واختها خالته﴿۲﴾، وفى ردالمحتار ۲:۳۸۳ يعنى يحرم من الرضاع اصوله وفروعه وفروع ابويه وفروعهم وكذا فروع اجداده وجداته ﴿۳﴾.

قلت: الخالة فرع الجد الفاسد والجدة الصحيحة. وهو الموفق

د مزنيې په پيو باندې د پاللې شوې
هلک د زانى د لورسره د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماءدين دې مسئلې باره کښې چه يو سړي ديوې ښځې سره زنااوکړه او ولدزناهم پيداشو. دې مزنيې ښځې يوهلک ته دزناپئ ورکړه. اوس دزانى يوه لورده. نوايا ددې مزنيې درضيع اودزانى دلورپه مينځ کښې نکاح جائزده. حالانکه زانى اومزنيه دواړه دزنااوددې ولدالحرام معترف دی حالانکه ددې ښځې يوخاوندهم نشته؟بينوا توجروا

المستفتي: مولانارحمٰن الدين بازارشيرينګل ديربالا.....۱۹۲۹ء۱۴۱۲۱

جواب: دامختلف فيه مسئله ده. اومحققين دعدم حرمت قائل دى.

قال العلامة الشامى فى ردالمحتار ۲:۵۶۶ وحاصله ان فى حرمة الرضيعة بلبن الزنا على الزانى وكذا

﴿۱﴾(رواه البخارى ۲:۷۶۴ كتاب النكاح باب قوله تعالىٰ: وامهاتكم اللاتى ارضعنكم. ورواه مسلم ۱:۴۶۷ باب تحريم الرضاعة من ماء الفحل، ورواه النسائى ۲:۱۰۰ باب تحريم بنت الاخ من الرضاع)

﴿۲﴾(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۳۴۳ كتاب الرضاع)

﴿۳﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۰۳ فصل فى المحرمات)

علی اصوله وفروعه روایتین کما صرح به القهستانی ایضاً وان الاوجه روایة عدم الحرمة﴿۱﴾. وهوالموفق

د رضاعی رور د خور سره نکاح جائزده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه ګل رحمٰن دخیرالاسلام سره دګل رحمٰن دمور سینې نه پئ رولې دی. ایا دخیرالاسلام دخور نکاح دګل رحمٰن سره جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتی: میاں محمد اسلام کاکاخیل

الجواب: په صورت مسئوله کښې ګل رحمن دخیرالاسلام دخور سره نکاح کولې شی.

کمافی شرح التنویر: وتحل اخت اخیه رضاعا یصح اتصاله بالمضاف وبالمضاف الیه کان یکون لاخیه رضاعا اخت نسباً......الخ﴿۲﴾ وهوالموفق

د رضاعی رور د خور سره د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید او عمر داسې دوه رضاعی رونړه دی، چه زید دعمر سره دعمر دمور پئ څکلی دی. په رنړا د شریعت کښې ازجانب شیرده همه خویش شوند او ازجانب شیرخوار زوجان او فروع. زید دپاره عمر دهر یوې خور سره نکاح ناجائزده. ایا دعمر دپاره د زید خور فهمیده یا سیده سره نکاح جائزده؟

بینوا توجروا

المستفتی: پروفیسر خیرالرحمٰن چارسده......۱۴/ جمادی الاول ۱۳۹۵ھ

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۴۶ قبیل کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۴۲ باب الرضاع)

الجواب: واضحه دې وی چه فهمیده او سیده دعمر رضاعی خوریانې نه دی بلکه درضاعی رور نسبی خوریانې دی. لهذا دعمر ددوی سره نکاح جائزده.

کما فی الدرالمختار: **وتحل اخت اخیه رضاعا یصح اتصاله بالمضاف کان یکون له اخ نسبی له اخت رضاعیة وبالمضاف الیه کان یکون لاخیه رضاعاً اخت نسبا الخ (هامش ردالمحتار ۲: ۵۶۱)﴿۱﴾، وبمعناه فی جمیع الفتاویٰ ﴿۲﴾. وهوالموفق**

د رضیع د مرضعې ټول اولاد سره نکاح جائز نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوې جینئ دیوې ښځې پئ اورول. اوس ددې جینئ نکاح ددې ښځې صرف یوزوئ سره چه هغه وخت ئې پئ څکل نه کیږی یادهر یوزوئ سره به ئې نکاح نه کیږی؟بینوا توجروا

المستفتی: امیرفاضل ضیاء راولپنډی....۱۹۷۵ء۱/۴/۲۲

جواب: ددې مرضعې ټول اولاد ددې جینئ سره نکاح نشی کولې. کمافی الخلاصة ۱: ۲۴۴ ولو رضعت امراة صبیا یحرم علیه من تقدم من اولاد ومن تاخر﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۴۲ باب الرضاع)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: (قوله: وتحل اخت اخیه رضاعا) یصح اتصاله بکل من المضاف والمضاف الیه وبهما کما قدمناه فی نظائره فالاول ان یکون له اخ من النسب ولهذا الاخ اخت رضاعیة والثانی ان یکون له اخ من الرضاع له اخت نسبیة.

(البحر الرائق ۳: ۲۹۶ کتاب الرضاع)

﴿۳﴾ (خلاصة الفتاویٰ ۲: ۱۲ قبیل الفصل الخامس فی الاکفاء)

....

د اخوت رضاعی باوجود نکاح حرامه او ددې نه منکرکیدل یا کول حرام بلکه کفردي

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه هندې خپلې نمسو (هلکانو اوجینکو) ته درضاعت په ورځو کښې پئ ورکړی دی. ایاددوی په مینځ کښې نکاح کیدلې شی؟ اوهغه صلاح کارددې حرمت ختمولو دپاره هندې ته باوجود پئ ورکول باندې دمکمل شهادت نه منکره کوی مجرم دې یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرشیداوګئ مانسهره...... ۱۲۶ ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: داخوت رضاعی دوجه نه ددې نمسو (هلکانواوجینکو) په مینځ کښې نکاح حرامه ده (قرآن)﴿۱﴾ اود شهادت شرعیه باوجود منکرکیدل یاکول حرام بلکه کفردې؟ ﴿۲﴾ وهوالموفق

رضاعی خورزې سره نکاح صحیح نه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه هندې یوې جینئ عمرې

﴿۱﴾ قال الله تبارک وتعالیٰ: حرمت علیکم امهتکم وبنتکم واخواتکم وعمتکم وخلتکم وبنت الاخ وبنت الاخت وامهتکم التی ارضعنکم واخواتکم من الرضاعة.

(سورة النساء پاره: ۴، رکوع: ۱۵، آیت: ۲۳)

﴿۲﴾ قال الشیخ محمد عمر النسفی: واستحلال المعصیة صغیرة کانت او کبیرة کفر اذا ثبت کونها معصیة بدلیل قطعی...... وعلی هذه الاصول یتفرع ما ذکر فی الفتاویٰ من انه اذا اعتقد الحرام حلالاً فان کانت حرمته لعینه وقد ثبت بدلیل قطعی والا فلا بان یکون حرمته لغیره او ثبت بدلیل ظنی...... فقال من استحل حراما وقد علم فی دین النبی علیه السلام تحریمه کنکاح ذوی المحارم او شرب الخمر...... من غیر ضرورة فکافر وفعل هذه الاشیاء بدون الاستحلال فسق.

(شرح العقائد ۱۲۰ بحث استحلال المعصیة کفر)

ته دخپل زوئ سره پئ ورکړل. اوس دهنده (مرضعه) زوئ اود عمرهٔ (رضیعې) لور نکاح کولې شی؟ بینوا توجورا

المستفتی: حافظ عطاءالرحمٰن کاملپوری (متعلم حقانیه) ۲۳/۶/۱۹۷۴ء

الجواب: چونکه په رضاعت کښې دمقدم اومؤخرحکم یوشان دې، کمافی خلاصه الفتاوی ٤ ٤ ۲: ۲، ولوارضعت امراة صبیایحرم علیه من یقدم من اولادها ومن تاخر ﴿۱﴾ لهذاداجینئ ددې هلکانورضاعی خورده. اوددې عمرې لور ددې هلکانوخورزه ده. هغه چه حرام ده. لحدیث یحرم من الرضاع مایحرم من النسب ﴿۲﴾ وهی السبع المذکورة فی قوله تعالی: حرمت علیکم (الایة) ومنهابنات لاخت ﴿۳﴾ وهوالموفق

رضاعی ترور سره نکاح صحیح نه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دعمریوه ښځه وه ددې نه یوه جینئ پیداشوه اوهغه واده کړې شوه اودعمرښځه مړه شوه. بیا عمر دویم واده اوکړو. ددې ښځې نه ئې زید پیداشونودهغه ړومبئ ښځې لور د زید خورجوړه شوه. بیادې خورزیدلره پئ ورکړه. چه کله زیدهم واده اوکړو. نو دده هلک بکرپیداشو. اوددې خورئې جینئ پیداشوه نوایادبکردپاره دا جینئ جائزده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید احمدشاه متعلم حقانیه... ۲۲/۱۱/۱۹۷۵ء

﴿۱﴾ (خلاصة الفتاویٰ ۲: ۱۲ قبیل الفصل الخامس فی الاکفاء)

﴿۲﴾ (رواه البخاری فی کتاب الشهادات باب الشهادة علی الانساب والرضاع، ورواه مسلم فی کتاب الرضاع باب تحریم الرضاعة من ماء الفحل، ورواه النسائی فی النکاح باب تحریم بنت الاخ من الرضاع من حدیث ابن عباس رضی الله عنه)

﴿۳﴾ قال الله تبارک وتعالیٰ: حرمت علیکم امهتکم وبنتکم واخواتکم وعمتکم وخلتکم وبنت الاخ وبنت الاخت. (سورة النساء پاره: ۴، رکوع: ۱۵، آیت: ۲۳)

الجواب: چونکه په رضاعت کښې دمقدم اومؤخرحکم یوشان دی، کمافی الخلاصة ۱: ۲٤٤ولوارضعت امراة صبیایحرم علیه من یقدم اولادهاومن تاخر(۱) لهذاداجینۍ ددې هلک (بکر) دپاره رضاعی تروردہ اومحرمه ده. لحدیث یحرم من الرضاع مایحرم من النسب(۲) وفی الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار۲: ۳۸۳وحرم الکل ممامرتحریمه نسباومصاهرة رضاعا(۳)وهوالموفق

د رضاعی خورئی سره نکاح حرام ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوهلک دخپلې نیاپئ ځکلی دی. ددې نیالورچه ددې هلک تروردہ دلورسره ددې هلک نکاح جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتی: نورحبیب شاهین چپل میکرشپقدر......۱۹۷۵ء۱۱۳۱

جواب: ددې هلک ددې جینۍ سره نکاح حرامه ده.

لقوله ﷺ: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب رواه الشیخان(٤).

وفی الدرالمختار: حرم علی المتزوج بنت اخیه واخته وبنتها (الی ان قال) وحرم الکل ممامر تحریمه نسباً ومصاهرة رضاعا الا ما استثنیٰ فی بابه، (باب المحرمات)(۵).

وهوالموفق

(۱) (خلاصة الفتاویٰ ۲: ۱۲ قبیل الفصل الخامس فی الاکفاء)

(۲) (الصحیح البخاری ۲: ۷٦٤ کتاب النکاح باب قوله تعالیٰ وامهاتکم اللاتی ارضعنکم)

(۳) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۲ فصل فی المحرمات)

(٤) (رواه البخاری ۲: ۷٦٤ کتاب النکاح، ومسلم ۱: ٤٦٧ کتاب الرضاع)

(۵) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۱، ۳۰۲ فصل فی المحرمات)

د ناسکه نیا پئ ځکلو سره د حقیقی ماما زادې سره هم حرمت رضاعت ثابت کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه څه دخپل مامادلورسره واده کول غواړم. لیکن ماته ځما ناسکه نیاهغه چه ځمادنیکه ښځه ده خو لیکن نه ځمادمورموردہ نه ځمادماما. هغې ماته پئ راکړی دی. نوایااوس څه دخپل حقیقی مامادلورسره نکاح کولې شم؟ بینوا توجروا

المستفتی: سردرازخان دیربازاردیربالا....۱۲۹شعبان ۱٤۰۲ھ

الجواب: چونکه دلبن الفحل په قاعده باندې دنیکه ټول اولادستاسورضاعی رونړه خویندې دی. لهذاتاسو دخپل سکه مامادلورسره نکاح نشئ کولې.

کما فی رضاع الهندیة ۱: ۳٤۳ وهذه الحرمة کما تثبت فی جانب الام تثبت فی جانب الاب وهو الفحل الذی نزل اللبن بوطئه کذا فی الظهیریة، یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب الخ(۱). وهوالموفق

د مرضعې د دویم خاوند نه پیدا شوې جینۍ سره د رضیع د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه بنده عهدطفولیت کښې دیوې ښځې پې ځکلی دی، ماچه دکوم خاوندپه موجودګۍ کښې پئ ځکلی وو، هغه وفات شوې دې. ذکرشوې ښځې بیادویم سړی سره نکاح اوکړه. او ددې دویم خاوندنه ئې یوه جینۍ پیداشوه. اوس بنده ددې جینۍ سره کوژدنه اوکړه. دکوژدنې نه مخکښې بنده ددې مسئلې باره کښې دیومولوی صاحب

(۱) (فتاویٰ عالمګیریه ۱: ۳٤۳ کتاب الرضاع)

نه پوښتنه او کړه، نو هغه دا نکاح صحیح او وئیله. او دلیل ئې دا بیان کړو، چه چونکه ستا د پیو په وخت کښې خاوند بدل وو. او اوس د جینۍ پلار بدل دې، لیکن ما ته تشفي او نه شوه تا سو صاحبان د فتوی په رڼا سره څه فرمائی؟ بینوا توجروا

المستفتي: نادرخان منیجر حبیب بینک ناوګۍ باجوړ......۱۹۷۷ء/۸/۱۹

الجواب: محترم په تاسو باندې د دې ښځې (مرضعې) ټولې لوریانې حرامې دی. په دې کښې څه اختلاف نشته.

کما فی خلاصة الفتاویٰ ۱: ۲۴۴ ولو ارضعت امرأة صبیا یحرم علیه من یقدم من اولادها ومن تأخر﴿۱﴾ وفی الهندیة ۱: ۳۶۵ یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعا حتی ان المرضعة لو ولدت من هذا الرجل او غیره قبل هذا الارضاع او بعده (الی ان قال) فالکل اخوة الرضیع واخواته﴿۲﴾. وهو الموفق

په پیو کښې د اصلی او غیراصلی تقسیم جاهلانه تقسیم دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کښې چه جی خان او لال زمرود دتره ځامن دی. د دې دواړو ډیر خپلې سکې تروړې ښکلې وو. مګر فرق دا دې چه لال زمرود د ترور اصلی پئ ښکلې دی. او جی خان د ترور د خاوند وفات کیدلو نه تقریبا شل کاله پس کوم پئ چه راوتلی دی هغه غیراصلی پئ ښکلې دی نو آیا جی خان د پاره د لال زمرود د کومې لور سره نکاح صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: شیرولی خان آزاد کشمیر رجمنټ بلوچستان ۱۷ رمضان المبارک ۱۴۰۹ھ

الجواب: په صورت مسئوله کښې په دې سړی جی خان باندې د زمرود ټولې لونړه حرامې دی. د اصلی او غیراصلی تقسیم جاهلانه تقسیم دې، کما فی رضاع شرح التنویر: ولو بکرا او میتة او آئسة﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (خلاصة الفتاویٰ ۲: ۱۲ قبیل الفصل الخامس فی الاکفاء)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۴۳ کتاب الرضاع)

﴿۳﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۳۷ باب الرضاع)

د رضاعی زوئ د ښځې سره نکاح جائزنه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کښې چه دوه رونړه دی. د مشر رور ښځې کشر رور ته پئ ورکړه اچانک په څه حادثه کښې دا کشر رور وفات شو، ایا مشر رور د پاره د کشر رور منکوحې سره نکاح جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتي: شیرزمان پیرپیائی.....۱۹۷۳ء/۷/۵

جواب: د رضاعی زوئ ښځه د محرماتو نه ده. کما فی الهندیة: وامراة الرضیع حرام علی الرجل (هندیه: ۱: ۳۶۶) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د رضاعی تره سره نکاح جائز نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کښې چه د شریف ښځې د خپلې خور لور ته پئ ورکړه، ایا د دې جینۍ او د شریف د رور په مینځ کښې نکاح جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتي: روح الامین پیش امام بابوزئ ضلع مردان

جواب: چونکه دا سړې د دې جینۍ رضاعی تره دې. لهذا د دوی په مینځ کښې نکاح حرامه ده، بدلیل روایة البخاری: لیلج علیک افلح فانه عمک من الرضاعة﴿۲﴾ وصرح به

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۴۳ کتاب الرضاع)

﴿۲﴾ وعن عائشة قالت جاء عمی من الرضاعة فاستاذن علی فابیت ان اذن له حتی اسأل رسول الله ﷺ فجاء رسول الله ﷺ فسألته فقال انه عمک فاذنی له قالت فقلت له یا رسول الله انما ارضعتنی المرأة ولم یرضعنی الرجل فقال رسول الله ﷺ انه عمک فلیلج علیک وذلک بعدما ضرب علینا الحجاب، متفق علیه.

(مشکوة المصابیح ۲: ۲۷۳ باب المحرمات)

في جميع كتب الفروع﴿۱﴾وهوالموفق

رضاعي ترور هم د محرماتو نه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دوه سکه خویندی دی کشرې خوردمشرې پېئ څکلی دی.اوس دمشرې خورلورده او کشرې خور هلک دې ددې دواړونکاح صحیح ده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عزیزالرحمٰن بازارکېئ صوابی۱۹ربیع الثانی۱۴۰۲ھ

جواب: داجینئ ددې هلک رضاعی تروره چه دمحرماتو نه ده،والمسئله من الواضحات لانه يحرم من الرضاع مايحرم من النسب﴿۲﴾وهوالموفق

په رضاعت کښې د مقدم او مؤخر اولاد حکم یوشان دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دهندې نومې ښځې دخیتې نه جینکئ هلکان موجود وو. نیزیوهلک مشرناسکه دهغې خاوندنه هم موجودوو.چه دهغه یوهلک پیداشواوپخپله دذکرشوې هندې سره هم یوه ماشوم پیداشو.چه ددې سره هندې پسرپسرذکرشوؤته پېئ ورکړه،ددې نه رضاعت ثابت شو.ددې نه پس دهندې بل زوئ یوه لورپیداشوه نوپه دې صورت کښې په مینځ دذکرشوې پسرپسرمشر هغه چه هندې ورته پېئ ورکړې وو.اودلورپسرثانی عقدنکاح په رڼا دشریعت کښې صحیح ده، نور

﴿۱﴾ وفي الهندية: يحرم على الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جميعا...... واخوا الرجل عمه واخته عمته الخ.

(فتاوٰی عالمگیریه ۲:۳۴۳ كتاب الرضاع)

﴿۲﴾ (رواه البخارى ۲:۷۶۴ كتاب النكاح، ورواه مسلم ۱:۴۶۷ باب تحريم الرضاعة كتاب الرضاع، ورواه النسائى ۲:۱۰۰ باب تحريم بنت الاخ من الرضاع)

وضاحت مسئله داده چه درشتې په اعتبارسره ذکرشوې پسرپسراودلور پسرثانی پخپلو کښې دتره رونړه خویندې دی مګرذکرشوی پسرپسردخپل یو نوی ځیګل شوې تره سره دخپلې نیاپېئ اوڅکل،ددې وجه نه دصورت مسئولې وضاحت طلب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدوارث......۱۹۷۴ء۵\۲۱\

الجواب: چونکه په رضاعت کښې دمقدم اومؤخرحکم یوشان دې، کمافي الخلاصة الفتاوی ۱:۲۴٤ وغیرها﴿۱﴾لهذادهندې ټول اولاددې ذکرشوې سړی دپاره رونړه خویندې رضاعی دی اوددې اولاددې ذکرشوې هلک وریرونه او وریرې دی چه دحدیث:يحرم من الرضاع مايحرم من النسب﴿۲﴾اووضاحت دفقهاءکرامو په بنیادباندې حرام دې﴿۳﴾وهوالموفق

د میرنی رضاعی ورارہ سره نکاح جائز نه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زیداوبکرپلار شریک رونړه دی،دپلارنوم ئې خالد حالانکه دزیدیورضاعی رورعمرودې هغه دزید

﴿۱﴾ قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد: ولو ارضعت امرأة صبيا يحرم عليه من يقدم من اولادها ومن تأخر.

(خلاصة الفتاوىٰ ۲:۱۲ قبيل الفصل الخامس في الاكفاء)

﴿۲﴾ (رواه البخارى ۲:۷۶۴ باب قوله تعالىٰ وامهاتكم اللتى ارضعنكم، ورواه مسلم ۱:۴۶۷ باب تحريم الرضاعة من ماء الفحل، ورواه النسائى ۲:۱۰۰ باب تحريم بنت الاخ من الرضاع)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفى: ويثبت به وان قل امومية المرضعة للرضيع ويثبت ابوة زوج مرضعة اذا كان لبنها منه له والا لا كما سيجئ فيحرم منه اى بسببه ما يحرم من النسب رواه الشيخان.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۴۳۹ باب الرضاع)

د مورپئ ځکلی دی، اوس دعمرويوه لورده، ایابکردې عمرودلورسره نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمودشاه دارالعلوم فیض الاسلام نسته چارسده ۱۴۰۱\۷\۲ھ

جواب: که چرته داپئ دخالدنه وی نودلبن الفحل مسئلې په بنیادباندې بکرهم دعمرورضاعی رورډې ددې وجه نه دبکردعمرودلورسره نکاح حرامه ده، ځکه چه داجینئ دزیداودبکررضاعی وریره ده، وقال النبي علیه سلام یحرم من الرضاع مایحرم من النسب﴿۱﴾وهوالموفق

د بکر د پاره د مرضعې هر اولاد سره نکاح ناجائز ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زیداوبکریوځائ دزید د مورپئ ځکلی دی، اوس بکردزید دمشرې خورلوردکوره اغواکړه، اوددې سره نکاح کول غواړی، ایادانکاح کول جائزدی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمدیونس لنګا کوئې ایبټ آباد......۱۹۷۵ء\۱۵\۳

جواب: دبکردپاره ددې مرضعې د(پئ ځکلو والابنځې) د هراولادسره نکاح کول جائزنه دی کمافی الخلاصه ۲۴۴:۱ ولوارضعت امراة صبیا یحرم علیه من یقدم من اولادهاومن تاخر﴿۲﴾وهکذا فی سائرکتب الفتاوی﴿۳﴾وهوالموفق

﴿۱﴾ (رواه البخاری ۲:۷۶۴ باب قوله تعالیٰ وامهاتکم اللاتی ارضعنکم، ورواه مسلم ۱:۴۶۷ باب تحریم الرضاعة من ماء الفحل، ورواه النسائی ۲:۱۰۰ باب تحریم بنت الاخ من الرضاع)

﴿۲﴾ (خلاصة الفتاویٰ ۲:۱۲ قبیل الفصل الخامس فی الاکفاء)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما...... حتی ان المرضعة لو ولدت من هذا الرجل او غیره قبل هذا......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د پئ ورکونکې والا د ټول اولاد سره د پئ ځکونکی نکاح نشی کولې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه مونږدوه رونړه بهادرخان اوبهادرسیدیو، ځمادماما لورلعلی کنورځمادمورپئ ځکلی دی، اودې جینئ ته دپیو ورکولونه لس ورځې پس مورځه دپئونه وارؤلم، حالانکه ځمارور بهادرخان ځمانه دوه نیم کاله مشردې، مطلب دادې چه ما او لعلی کنور یوځائ پئ ځکلی دی، اوس دمشرروربهادرخان کوژدنه دلعلی کنور سره اوشوه، دلته علماءکرام وائی چه دانکاح نشی کیدئ، تاسو صاحبان دفتوی په رڼړا کښې مونږ خبرکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: بهادرسید چترال......۱۹۷۵ء\۴۱\۲۳

جواب: ددې مرضعې (پئ ورکولو والا) هراولادسره ددې جینئ نکاح نشی کیدئ، ازجانب شیرده همه خویش شوند﴿۱﴾وفی الخلاصه ۲۴۴:۱ ولوارضعت امراة صبیایحرم علیه من یقدم من اولادهاومن تاخر﴿۲﴾وهکذافی سائرکتب الفتاوی﴿۳﴾وهوالموفق

(بقیه حاشیه) الارضاع او بعده او ارضعت رضیعاً او ولد لهذا الرجل من غیر هذه المرأة قبل هذا الارضاع او بعده او ارضعت امرأة من لبنه رضیعا فالکل اخوة الرضیع واخواته الخ.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۳۴۳ کتاب الرضاع)

﴿۱﴾ (شرح الوقایة ۲:۶۷ کتاب الرضاع)

﴿۲﴾ (خلاصة الفتاویٰ ۲:۱۲ قبیل الفصل الخامس فی الاکفاء)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعا حتی ان المرضعة لو ولدت من هذا الرجل او غیره قبل هذا الارضاع او بعده او ارضعت رضیعا او ولد لهذا الرجل من غیر هذه المرأة قبل هذا الارضاع او بعده او ارضعت امرأة من لبنه رضیعا فالکل اخوة الرضیع واخواته الخ.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۳۴۳ کتاب الرضاع)

د رضاعی پلار د دویمې ښځې لور سره نکاح حرام ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زید دیوښځې پئ اوڅکل په دې کښې ددې ښځې یولورهم شریکه وه،دابښځه دبکرښځه ده، دبکردویمه ښځه زاهده ده،ددې لورزیدد پاره په نکاح کښې اخستل جائزدی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: تاج محمد......١٩٧٤ء١٤١٠/٢٠

جواب: دبکرددې لورسره هم دزید نکاح حرامه ده،وفی الهندیة: یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما(الی ان قال)اوولدلهذاالرجل من غیره هذاالمراة قبل هذا الارضاع اوبعده﴿۱﴾وهوالموفق

د رضاعی خور رور د لاعلمئ په بنیاد سره د کړې شوې نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه نوازاومقصوده رضاعی رور خوردی،لیکن دلاعلمې په بنیادسره ددوی پخپلوکښې نکاح اوکړې شوه، اوس شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حبیب الله جامع مسجدکوه مری

جواب: که چرته دارضاعت مبرهن یامسلم وی نوتفریق به ضروری وی،اود خاوند متارکت یادحاکم تنسیخ نه مخکښې دابښځه (مقصوده) دویم ځائ کښې نکاح نشی کولې﴿۲﴾ نیزدابښځه دنفقه یادعصمت دوجه نه په ذریعه

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ١:٣٤٣ کتاب الرضاع)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله الا بتفریق القاضی لتضمنها حق العبد) فلا بد من القضاء ای ان لم توجد المتارکة لما فی النهر الحاصل ان المذهب عندنا کما قال الزیلعی فی اللعان ان النکاح لا یرتفع بحرمة الرضاع والمصاهرة بل یفسد...... وفی الفاسد لابد من تفریق القاضی او المتارکة بالقول فی المدخول بها وفی غیرها یکتفی بالمفارقة بالابدان.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٤٨ قبیل کتاب الطلاق)

دمسلمان حاکم تنسیخ دنکاح کولې شی، کمافی الحیله الناجزه﴿۱﴾وهوالموفق

د واده نه پس رضاعت ثابت کیدلو باندې متارکت ضروری دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زینب یوهلک ته پئ ورکړه،بیائې دخپلې لورواده دهغه سره اوکړو،دواده په وخت یادواده نه مخکښې درضاع تذکره اونه شوه بیادواده نه څوکاله پس ددې تذکره اوشوه څه شرعی شهادت موجودنه دې اوس ددې څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی: مولاناغلام جلیل صاحب مدرس مدرسه مفتاح العلوم هنگو١٩٨٢ء١٠١١/٧

جواب: که چرته ښځه خاوندیاصرف ښځه ددې مرضعې تصدیق کوی نوپه دې خاونددې ښځې پریښودل ضروری دی(کمافی ردالمحتار٢:٥٦٨)﴿۲﴾ وهوالموفق

د واده نه پس د رضاعت دعوىٰ او د انکارمسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیونابالغې جینئ پرورش نیا کړې وو،دې نیاددې واده دخپل یونمسی سره اوکړو،جینئ بالغه شوه بلکه بلوغت باندې هم اته لس کاله تیرشول،جینئ په دویم ځائ کښې واده کول اوغوښتل بس لاړه بهانه ئې جوړه کړه چه دې جینئ دنیاپئ څکلی دی،سینه ئې څکلې ده،چه هغه ډیره بوډهې اوزیات عمروالاوه،نیاوفات

﴿۱﴾ (حیله ناجزه ٨٦،١٦٩ للشیخ اشرف علی التهانوی)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: تنبیه: فی الهندیة تزوج امرأة فقالت امرأة ارضعتکما فهو علی اربعة اوجه، ان صدقاها فسد النکاح...... وان کذباها وهی عدلة فالتنزه المفارقة...... وکذا لو شهد غیر عدول او امرأتان او رجل وامرأة وان صدقها الرجل وکذبتها فسد النکاح...... وان بالعکس لا یفسد ولها ان تحلفه ویفرق اذا نکل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٤٨ قبیل کتاب الطلاق)

شوه بهرحال په بې فکرۍ اومجبورۍ کښې دجينۍ دنکاح دپاسه نکاح دبل هلک سره اوتړله، صرف يوه شپه تيره شوه سحرداځوان چه مفرور وو، گرفتار شو اوجيل ته لاړورومبيي ځوان دې لره طلاق نه دې ورکړې اونه ئې طلاق ورکول غوښتل تاسودفتوی په رڼاکښې اوښائي چه درضاعت دعدم ثبوت په صورت کښې سابقه يعنی اولنۍ نکاح بحاله قائمه ده يانه؟ ياده دې وی چه تراوسه پورې څه جانبدارشهادت تاحال موجودهم نه دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: شيرمحمداکبرپوره پبی نوشهره..... ۱۹۷۲ء۶۱۲۴

جواب: که چرته شهادت شرعی يعنی دوه سړی يايوسړې دوه ښځې موجودنه وی نودې سره ددې هلک نکاح ددې جينۍ سره په خپل حال باقی ده، په شرط ددې چه دې هلک ددې جينۍ دنيادسينې نه پئ څکلوباندې اصرارنه وی کړې اونه داصرارپه وخت(چه مثلاً دائې وئيلې وی چه خبره حقيت ده دا صحيح ده، څه ددې نه واپس کيږم نه)نکاح کالعدم شوه اوائنده دپاره نکاح حرامه ده.

وفی الهندية: الرضاع يظهر باحد الامرين احدهما الاقرار والثانی البينة ولا يقبل فی الرضاع الاشهادة رجلين او رجل وامرأتين (۱:۳۷۰) وفيها ايضا ولو تزوج امرأة ثم قال بعد النكاح هی اختی من الرضاعة او ما اشبهه ثم قال او همت ليس الامر كما قلت لا يفرق بينهما استحسانا ولو ثبت علی هٰذا المنطق وقال هو حق كما قلت فرق بينهما.ولو جحد بعد ذلك لا ينفعه جحوده﴿۱﴾ وفی ردالمحتار بمعناه (۲:۵۶۶)﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگيرية ۱:۳۴۷ كتاب الرضاع)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: والرضاع حجته حجة المال وهی شهادة عدلين او عدل وعدلتين، وقال العلامة ابن عابدين: وكذا لو شهد غير عدول او امرأتان او رجل وامرأة وان صدقها الرجل وكذبتها فسد النكاح...... وان بالعكس لا يفسد ولها ان تحلفه ويفرق اذا نكل.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۴۸ قبيل كتاب الطلاق)

د حرمت رضاعت دوجه نه د نکاح، متارکت، مهر، او اولاد وغيره مسائل

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسائل ذيل باره کښې چه هندې دخپلې لور جميلې سره خپل وراره زيدته پئ ورکړی دی او(۱) دجميلې ددويمې خور رضې سره دزيدنکاح جائزده يانه؟(۲)که چرته جائزنه وی اودغفلت دوجهې نه نکاح شوې وی اودرې څلوربچی هم پيداشوې وی نواوس تفريق واجب دې يانه؟(۳)که چرته تفريق واجب وی نودې ښځې(رضې) ته مهرورکول واجب دی يانه؟(۴)که چرته دتفريق نه پس رضيه غواړی چه دخپلوبچوسره يوځائ د زيدپه کوراوسيږم نودشريعت په رڼاکښې څنگه ده؟ دمهرنه بغيرهغه سونا چاندی کالی وغيره چه زيدرضې ته ورکړی دی هغه واپس اخستلې شی؟(۶) د بچو نه چه کوم ژوندی دی په دوې باندې دمورحق دې ياپلاردوی حقدار دې؟ (۷) ايا په دې بچوباندې دولدالزنااطلاق جائزدې يانه؟

تفصيل: هندې دزيددرضاعت متعلق پخپله اقرارکړې دې چه زيدمايوځل دپئ ورکولوپه غرض باندې غيږ کښې کښېنولولیکن ماته دايادنه دی چه ده پئ څکلی دی يانه، دزيدمنکوحه رضيه هم اقرارکوی چه تاته ځامورپئ درکړې دی مادې نه اوريدلی دی دزيدمورهم اقرارکوی چه ځماپه سينه کښې دپيودنشت والی دوجه نه دوه درې ځل هندې زيدته پئ ورکړی دی ددې نه علاوه دزيدپلارهم وائی چه ځماتروريوځل هندې ته وئيلی ووچه تاخو زيدته پئ ورکړی دی، اياديوبل سره رشته داری نشی کولې؟ بينوا توجروا

المستفتی: قاری نورالله دارالعلوم عربيه اسلاميه رستم مردان، يکم فروری ۱۹۸۴ء

جواب: (۱) بشرط ثبوت رضاع، زيدباندې دمرضعې(هنده) ټولې لورياني حرامي دی﴿۱﴾

﴿۱﴾ وفی الهندية: يحرم علی الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جميعا.

(فتاویٰ عالمگيرية ۱:۳۴۳ كتاب الرضاع)

(۲) بشرط ثبوت رضاع متارکت اومفارقت واجب اوضروری دي. (۳) د دخول دوجه نه مهروركول ضروري دی(۱). (۴) په جداکمره کښې اوسيدلې شی، (۵) عاريت واپس کيدلې شی نه تمليک (۶) ددواړوحق اولادباندې موجوددي، (۷) دشبه عقددوجه نه داحلالی دي حرامی نه دي(۲)

نوټ: کومه پورې چه پئ ځکل يقينی نه وی نوحرمت رضاعت ثابت کيدلې نشی (اشباه والنظائر)(۳) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: تزوج امرأة فقالت امرأة ارضعتكما فهو على اربعة اوجه ان صدقاها فسد النكاح ولا مهر ان لم يدخل وان كذباها وهى عدلة فالتنزه المفارقة والافضل له اعطاء نصف المهر لو لم يدخل والافضل لها ان لا تأخذ شيئا ولو دخل فالافضل دفع كماله والنفقة والسكنى والافضل لها اخذ الاقل من مهر المثل والمسمى لا النفقة والسكنى ويسعه المقام معها وكذا لو شهد غير عدول او امرأتان او رجل وامرأة وان صدقها الرجل وكذبتها فسد النكاح والمهر بحاله وان بالعكس لا يفسد ولها ان تحلفه ويفرق اذا نكل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۴۸ تنبيه، قبيل كتاب الطلاق)

(۲) وفى الهندية: رجل مسلم تزوج بمحارمه فجئن باولاد يثبت نسب الاولاد منه عند ابى حنيفة رحمه الله.

(فتاویٰ عالمگيرية ۱: ۵۴۰ الباب الخامس عشر فى ثبوت النسب)

(۳) قال العلامة ابن نجيم المصرى: لو ادخلت المرأة حلمة ثديها فى فم الرضيع ولا يدرى ادخل اللبن فى حلقه ام لا لا يحرم النكاح لان فى المانع شكا كذا فى الولولجية.

(الاشباه والنظائر ٦٦ القاعدة الثالثة اليقين لا يزول بالشك)

....

باب حرمة المصاهرة

مصاهرت کښې حرمت هميشه د پاره دې تجديد د نکاح نه څه نه جوړيږی

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه ديوسړی د خپلې ښځې د مورسره مس بالشهوت اوشو آيا دابڼځه خاوندباندې بغيردتفريق دقاضی يا د بعدالمتارکت يا بعدانقضاء العدت نه تجديددنکاح سره ددې خاوند دوباره ښځه جوړيدلې شی يانه؟ ځکه چه ددې جزئياتونه معلوميږی چه تجديد د نکاح سره صحت کيدلې شی عبارت دادې، الحرمة المصاهرة لايرتفع النكاح حتى لايحل لهاالتزوج بآخرالا بعد المتاركة وانقضاء العدة والوطى بهالايكون زنا (شامی ۲۸۳: ۲) بينوا توجروا

المستفتی: مولانامحمدشريف بيسک ګدون صوابی.... يکم محرم۱۳۹۷ھ

جواب: کوم سړې چه دخپلې خواښې سره جماع وغيره اوکړی نوپه ده باندې خپله ښځه هميشه دپاره حراميږی، کمافى شرح التنوير: قبل ام امراة حرمت عليه امراة مالم يظهراخ(۱) فقهاءکرام باب المحرمات کښې چه کوم محرمات ذکرکوی چه کوم هميشه دپاره حرام وی اوکوم عبارت چه تاسونقل کړې دې په دې کښې مسطوردې چه نکاح مرتفع کيږی نه څنګه چه ظهار او لعان سره مرتفع کيږی نه دامرادنه دې چه تجديددنکاح سره به کارجوړ شی، وهوالموفق

د حرمت مصاهرت د اثبات د پاره د ګواهانو نصاب

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه ايادحرمت مصاهرت د

---

(۱) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۶ فصل فى المحرمات)

اثبات دپاره دزناپه شان څلورګواهان ضروری دی یادوه ګواهان کافی دی؟
بینوا توجروا

المستفتی: سیدرحیم خان هنګو

الجواب: دزنانه علاوه دنورودعاوی اثبات دددووسړو یاد یو سړی اودوه ښځو ګواهی سره کافی ده پس دحرمت مصاهرت داثبات دپاره هم د دوو سړو یا د یو سړی او دوو ښځو ګواهی کیدلې شی.

وفی الدرالمختار: ولغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا او غیره کنکاح وطلاق ووکالة...... رجلان او رجل وامرأتان (۴: ۵۱۴)﴿۱﴾. وهوالموفق

په حرمت مصاهرت کښې دشهادت نه کیدلوپه صورت کښې دارو مدار د خاوند په تسلیم او تصدیق باندې دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیوسړی ښځه اوساس دواړه په یو کټ باندې اوده ؤ اوس ساس لره ښځې ګنړلوسره ښکل کړله اوپه خپو ئې زور ورکړو، اوس ساس په ثبوت اوخاوندپه انکاراوعدمې ثبوت باندې قسم خوری اوس به داچاقول معتبروی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد اسلم ساهیوال...... ۲۹/ذی قعده ۱۳۹۷ھ

جواب: په ذکرشوې صورت کښې دباقاعده شهادت نه موجود کیدلوپه وجه د حرمت دارومدار د خاوندپه تسلیم اوتصدیق باندې به وی.

کمافی ردالمحتار ۲: ۳۸۵ وعلی هذا ینبغی ان یقال فی مسه ایاها لا تحرم علی ابیه وابنه الا ان یصدقاه او یغلب علی ظنهما صدقه﴿۲﴾ وبمعناه فی الهندیة﴿۳﴾ فلیراجع. وهوالموفق

﴿۱﴾ الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴: ۵۱۳ کتاب الشهادات

﴿۲﴾ ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۰۴ فصل فی المحرمات

﴿۳﴾ وفی الهندیة: رجل قبل امرأة ابیه بشهوة او قبل الاب...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په خوب خیالاتو او غلط تصوراتو سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه په فقه کښې لیکلې شوې دی چه زناسره حرمت مصاهرت ثابت کیږی یادواعی زناسره هم، که چرته داڅیزونه په خوب یاخیالاتویاتصوراتوکښې اوشی نوحرمت به ثابت وی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: جلال احمد مردان...... ۲۹/جون ۱۹۷۵ء

جواب: داافعال یاتعلقات چه کله په خوب کښې یاپه خیال کښې یاپه تصور کښې وی﴿۱﴾ نودیوامام په نزدموجب حرمت نشته دې چاهم دې لره په محرماتوکښې شمارکړې نه دی. وهوالموفق

احتراماً د یوې ښځې سره په لاس میلاوهلو باندې حرمت مصاهرت نه راځی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځمونږ او د ماما کور والو په مینځ کښې ددیروخت نه داروایت راروان دې چه کله څه یا ځما رور د ماما کورته لاړشی نودمامادښځې مامی اوترورغیره چه ځمونږنه په عمر کښې زیاتې دی نومونږ احتراماًوتعظیماًځنګه چه سړی په خپلوکښې په یولاس سره مصافحه کوی مونږ هم دوی ته لاس ورمخکښې کړواوهغوی ځمونږلاس ښکل کړی، اوس ځماکوژدنه دمامادلورسره کیدلووالاده نوما

(بقیه حاشیه) امرأة ابنه بشهوة وهی مکرهة وانکر الزوج ان یکون بشهوة فالقول قول الزوج وان صدقه الزوج وقعت الفرقة.

(فتاوی عالمګیریة ۱: ۲۷۶ القسم الثانی المحرمات بالصهریة)

﴿۱﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدورها ما لم تعمل به او تتکلم، متفق علیه.

(مشکواة المصابیح ۱: ۱۹ باب فی الوسوسة الفصل الاول)

اوریدلی دی چه دغیرمحرم لاس خپې وغیره خکلول قائم مقام دزنادې چه کله دې کښې شهوت وی حالانکه څه ددې نه مبرایم نوایاځمادانکاح صحیح ده؟ نیز اموردقائم مقام زنادارتکاب خواکه هغه عمداوی یاپه خولې سره وی یا دهوکې سره وی یامجبورې سره دغم په حالت کښې وی یاپه نشه کښې ددې ټولوڅه حکم دې؟ اودقائم مقام زناوضاحت اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: ایچ اې طورومردان......۱۹۷۵ء۱۰۱۱۲۵

جواب: واضحه دې وی چه ستاسودپاره ددې ماما لورسره په نکاح کولو کښې ممانعت موجودنه دې ځکه چه محرم هغه چوپول اوخکلول دی چه هغه په طوردشهوت وی، اوستاسوپه معامله کښې داموردا احترام متحقق دی شهوت نه مسلم دې اونه مبرهن دې، نه متیقن دې اونه مظنون دې، په شک اووهم سره حرمت نه ثابت کیږی اودمطلوبه امروضاحت دادې چه مس کول اوخکلول کله چه شهوت سره وی اوپه دې دوران کښې انزال هم اوشی نودابه قائم مقام دجماع نه وی اوموجب حرمت نه کیږی.﴿۱﴾وهوالموفق

د سخر ښځه او لور په یو نکاح کښې جمع کول جائزدی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دسخردویمه ښځه چه هغه دخپلې ښځې حقیقی مورنه وی بلکه ناسکه موروی دسخردوفات نه پس ددې منکوحې په موجودګئ کښې ددې ناسکه مورسره نکاح جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمدنوازسرکی جیکب آبادسنده......۱۹۷۶ء۱۰۱۱۲۰

جواب: داجمع کول جائزدی، کمافی شرح التنویر: فجازالجمع بین امراة وبنت

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: قبل ام امرأته حرمت علیه امرأته مالم یظهر عدم الشهوة ولو علی الفم کما فهمه فی الذخیرة وفی المس لا تحرم مالم تعلم الشهوة لان الاصل فی التقبیل الشهوة بخلاف المس.

الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۶، ۳۰۷ فصل فی المحرمات)

زوجها﴿۱﴾وبمعناه فی الهدایه والبحروالفتح وغیره ذلک﴿۲﴾.وهوالموفق

د شهوت نه کیدلوپه صورت کښې د مس اومعانقه سره د مصاهرت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دوه غیرمحرمې ښځې په خپلو کښې خوله وهلوباندې راغلې څه هلته موجودوم تماشه مې کوله په دې وخت کښې په ماشهوت غالب شو، څه وخت پس دادوه ښځې په خپلو کښې په وهلوباندې شروع شوې، په دې وخت کښې زه اوددې دووښځونه د یوې زوئ دخلاصی دپاره ورغلوپه دې وخت کښې ځماپه ذهن کښې څه رانغلل البته ځماپتون ددواړوښځوسره لګیدلې وو، چه ماپه مینځ کښې صلح کوله اوماته داهم معلومه نه ده چه په دغه وخت کښې ځماشهوت وو یانه، دویمه واقعه داده چه ځماپه کورکښې څوک وفات شول، په دې دوؤ ښځو کښې یوه ځماکورته راغله اوپه اظهارغم کښې ئې ماسره غاړه ملاؤ کړه، یعنی په خپلو کښې مومعانقه اوکړه چونکه دادغم موقع وه، ددې وجه نه څه دشهوت نه لرې ووم، اوداماته معلومه نه ده، چه په دغه وخت کښې داپه شهوت کښې وه یانه، اوس ددې نه یوه جینئ ده اودواړوښځودیته پئ هم ورکړی دی ددې سره ځمانکاح کیدلې شی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګ، ر، م، کوهاټ......۱۹۶۹ء۱۷۱۱۶

جواب: چونکه داسړې چه ده مس اومعانقه کړې ده دتحقق شهوت اقرارنه دې کړې، اوپه ظاهره دعدمې شهوت علامات موجوددی، لهذا اسړې ددې جینئ سره نکاح کولې شی چونکه معامله دالله تعالی سره ده. لهٰذا دپوره اطمینان نه پس دې نکاح اوکړی. فی الدر المختار: قبل ام امراته...

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۹ فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ویجوز بین امرأة وبنت زوجها فان المرأة لو فرضت ذکراً حلت له تلک البنت بخلاف العکس الخ.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۷ القسم الرابع المحرمات بالجمع)

حرمت علیه امرأته ما لم یظهر عدم الشهوة......... او المعانقة کالتقبیل، وقال الشامی: وفی الفتح والحاصل انه اذا اقر بالنظر وانکر الشهوة صدق بلا خلاف وفی المباشرة لا یصدق بلاخلاف فیما اعلم وفی التقبیل اختلف فیه قیل لا یصدق لانه لا یکون الا عن شهوة غالباً فلا یقبل الا ان یظهر خلافه بالانتشار ونحوه وقیل یقبل وقیل بالتفصیل بین کونه علی الرأس والجبهة والخد فیصدق او علی الفم فلا والارجح هذا، الا ان الخد یتراءی الحاقه بالفم انتهیٰ باختصار یسیر﴿۱﴾، وقلت: قد علمت ان المعانقة کالتقبیل فافهم. وهو الموفق

په مس اومعانقه کښې د انزال په صورت کښې حرمت مصاهرت واقع کیږی نه

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه څه دماماسره اوسیږم او مامی ځماسره دخپلوبچوپه شان محبت کوی، یوه ورځ مابښام ځماددې سره جګړه اوشوه څه ناراض کیدلوسره کمرې ته لاړم اوده شوم، څه وخت پس دا راغله څه ئې اوچت کړم اوپه تندی اومخ باندې ئې خکل کړم، مادموړپه شان ددې په ګردن کښې لاس ورکړواومامی څه دخپلې سینې سره اولګولم، ما د محبت دوجه نه ددې سینه خکل کړه چه په دې سره ځماانزال اوشوڅه بې حده پریشانه شوم کومه غلطه اراده نه وه، په دویمه ورځ دماماپه موجودګئ کښې مې مامی اووئیل چه زوئ پرون ځمانه خفه شوې وو، اوبیائې ځماتندې خکل کړو اوغاړه ئې راکړه چه ته خوځمازوئ ئی، په دې دوران کښې بیا ځما انزال اوشو، په دویمه ورځ مامامی ته اووئیل چه ته ماسره مینه مه کوه ځکه چه معامله داسې ده، هغه ډیره پریشانه شوه اوس ماماغواړی چه څه دده

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۰۸،۳۰۷،۳۰۶ فصل فی المحرمات)

دجینئ سره واده کوم مادیومولوی صاحب نه پوښتنه اوکړه نوهغه اووئیل چه دانکاح نشی کیدلې بل مولوی صاحب اووئیل چه کیدلې شی، په مهربانې سره جواب راکړئ چه ددې سره حرمت مصاهرت واقع کیږی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.......... ۱۵صفر المظفر۱۴۰۳ھ

جواب: که چرته ددې مس اومعانقې په وخت ستاانزال شوې وی نوحرمت مصاهرت نه واقع کیږی. په دې شرط چه هغه مامی په شهوت کښې مبتلاشوې نه وی، کمافی شرح التنویرعلی هامش الشامیه۲:۳۸۶ فلوانزل مع مس اونظرفلاحرمة به یفتی ابن کمال وغیره﴿۱﴾وهو الموفق

د خاوند د نیکه په آله تناسل باندې د نظر پریوتلو او ډیر زور کولو سره د مصاهرت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځمانښځې ماته اووئیل چه څه دکوټې په چت اوختلم چه ستانیکه رفع حاجت کولو، ځمانظراچانک دهغه په عضوتناسل باندې پریوتلوډیرې شرمندګئ سره ئې دا اظهار اوکړو چه ګویا ځما خیال دې طرفته نه وو، ځماداستفسارنه معلومیږی چه آله تناسل په انتشارکښې نه وو، یعنی شهوت نه وو، بهرحال ځمادښځې شهوت یا ځما دنیکه دشهوت سره متعلق څه هیڅ تپوس نشم کولې، اوپه شرعی طور باندې دتپوس څه طریقه ده؟که څه طریقه نه وی نوبیائې تپوس نه کوم، البته ځمادنیکه عمرتقریبااتیاکاله دې ددې نه علاوه ځماپه ذهن کښې دا خبره ده، چه ځمانښځه ددې بوډانیکه بعض وخت په ډیر هم زورکوی ایامنع کول پکار دی؟ اوپه صورت مسئوله کښې دحرمت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.....وزارت تجارت اسلام آباد..... ۱۹۷۵ء۱۰۱۱\۲۴

الجواب: چونکه دنظراودډیرزورکولوپه صورت کښې شهوت نه مسلم دې او نه

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۴ فصل فی المحرمات)

مبرهن دې نه متيقن دې او نه مظنون دې، البته موهوم دې او مشكوك دې لهذا په صورت مسئوله كښې د حرمت مصاهرت څه خطره نشته ﴿۱﴾ او د شهوت متعلق تفتيش كول نه ممنوع دى او مطلوب دى، لهذا تاسو تفتيش سره د وسوسو دروازه مه كهلاوئ او داخپې زور كول حرام دى آئنده د پاره ئې پرې بند كړئ ﴿۲﴾ وهو الموفق

د ښكلولو په وخت انزال نه وى شوې نو حرمت مصاهرت ثابت دې

سوال: څه فرمائى علمائې دين دې مسئلې باره كښې چه يو سړې يوه ښځه په غيږ كښې اونيوله او ښكل ئې كړه او شپږ مياشتې تيرېدلو نه پس مذكوره سړى د دغې ښځې لور سره نكاح اوكړله، آيا دا نكاح جائزده؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالودود متعلم دارالعلوم حقانيه ۱۱/۱۱ ذى الحجة ۱۳۹۷ھ

الجواب: كه د ښكلونكى او د دې ښځې دواړو انزال نه وى شوې تو په دې سړى

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله والعبرة للشهوة عند المس والنظر) قال فى الفتح وقوله بشهوة فى موضع الحال فيفيد اشتراط الشهوة حال المس فلو مس بغير شهوة ثم اشتهىٰ عن ذلك المس لا تحرم عليه وكذلك فى النظر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۰۴ فصل فى المحرمات)

﴿۲﴾ وفى الهندية: وما حل النظر اليه حل مسه ونظره وغمزه من غير حائل ولكن انما يباح النظر اذا كان يأمن على نفسه الشهوة فاما اذا كان يخاف على نفسه الشهوة فلا يحل له النظر وكذلك المس انما يباح له اذا امن على نفسه وعليها الشهوة واما اذا خاف على نفسه او عليها الشهوة فلا يحل المس له ولا يحل ان ينظر الى بطنها او الى ظهرها ولا الى جنبها ولا يمس شيئا من ذلك كذا فى المحيط.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۵: ۳۲۷ الباب الثامن فيما يحل للرجل الخ)

باندې د دغې ښځې ټوله لونړه حرام دى ﴿۱﴾ وهو الموفق

لمس سره، نوكارې لګولو او ښكلولو سره، غاړه وركولو وغيره سره د حرمت مصاهرت او د غير مذهب د اختيارولو مسئله

سوال: څه فرمائى علماء دين مسائل ذيل باره كښې چه:

(۱) غير محرمې ته لاس لګولو سره حرمت مصاهرت لازم كيږى؟

(۲) د لمس بالشهوة څه تعريف دې داموجب حرمت دې؟

(۳) مطلق مس سره حرمت كيږى ياڅه قيد بغير د شهوت شته دې لكه نوكارې لګول، غاړه وركول يا ښكلول؟

(۴) كه چرته مصافحه د شهوت سره وى نو موجب حرمت ده؟

(۵) كه چرته ښځه په نوكونو سره اوګروې نو بيا هم حرمت راځى؟

(۶) كه چرته يو حنفى مسلك صرف په دې يو مسئله كښې په مذهب شافعى باندې عمل اوكړى نو ايا دا صحيح دې ياكه د ګناه مرتكب به وى؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا فضل قادر مدرسه حبيبه ترنګزئ چارسده ۲۲/۱۲ ذى قعده ۱۳۸۹ھ

جواب: (۱) لازم كيږى كله چه شهوت سره وى (۲) د مس نه مراد ده بلاحائل لاس لګول دى او د داسې حائل سره چه هغه د حرارت د وجدان نه مانع نه وى او د شهوت نه مراد دادې چه آله حركت شروع كړى يا حركت كښې زياتوالې راشى او د غسې د ښځې زړه حركت شروع كړى يا حركت زيات شى (۳) مس كله چه شهوت سره وى موجب حرمت دې اګرچه نوكارې لګول

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: واصل ممسوسته بشهوة...... هذا اذا لم ينزل فلو انزل مع مس اونظر فلا حرمة به يفتىٰ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۴ فصل فى المحرمات)

اوغاړه ورکول او ښکلؤل نه وی شوې (۴) لازم به وی (۵) لازم به وی که چرته شهوت سره وی ﴿۱﴾-(۲) اتباع هوی ده اوحرام دې اودخادثې دراتلونه مخکښې دا مذهب اختیارؤل اهل دپاره حرام نه دی لیکن اهل چرته دې ﴿۲﴾ وهوالموفق

فرج داخل ته شهوت سره کتل موجب حرمت دې نه چه مطلق نظر د شهوت

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی دخپلې ښځې مورته غلط نظرسره اوکتل، ایاپه دې سړی باندې به خپله ښځه حرامه وی؟ بعض خلقونه مې اوریدلی دی چه فرج داخل ته کتلوسره حرمت واقع کیږی آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حمدالله...... ۱۹۸۲ء/۱/۸/۳

الجواب: فرج داخل ته دشهوت په نظرسره کتل موجب حرمت مصاهرت دې نه چه مطلق نظرشهوت، کمافی الهندیه ۱:۲۹۱ والمعتبر النظر الی الفرج الداخل هکذا فی الهدایه﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: واصل ممسوستة بشهوة ولو لشعر علی الرأس بحائل لا بمنع الحرارة......والعبرة للشهوة عند المس والنظر لا بعدهما وحدها فیهما تحرک آلته او زیادته به یفتی وفی امرأة ونحو شیخ کبیر تحرک قلبه او زیادته الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۰۴ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین: العالم الذی یعرف معنیالنصوص والاخبار وهو من اهل الدرایة یجوز له ان یعمل علیها وان کان مخالفا لمذهبه، قلت: لکن هذا فی غیر موضع الضرورة...... لو افتیٰ مفت بشیئ من هذه الاقوال فی مواضع الضرورة طلبا للتیسیر کان حسناً.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۵۵ مقدمه)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۷۴ القسم الثانی المحرمات بالصهریة)

د سړی سړی لره په شهوت سره مَس کول یا لواطت. د حرمت مصاهرت موجب نه دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړې بل سړې په حالت شهوت کښې مَس کړی یاددې نه هم مخکښې لاړشی ددې نه پس دا سړې ماس ددې دویم سړی دخواهرسره نکاح اوکړی، ایادانکاح به جائز وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمودالحسن انصاری شالدره کوئټه...... ۱۹۹۱ء/۱/۵/۲

الجواب: چون مردې مردديگررامس کندیاباولواطت کندموجب حرمت مصاهرت نیهست، واین ماس ولواطت کنندبه دختروهمشیره ممسوس و موطوء نکاح کرده مې شود، کمافی ردالمحتار ۲:۳۸۷ باب المحرمات عن الولوالجیة رجل اتی رجلاله ان یتزوج ابنته﴿۱﴾وهوالموفق

د نابالغ هلک سره زنا کول د حرمت مصاهرت موجب نه دي

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوښځې دسخت خواهش په وجه باندې دیونابالغ هلک سره زنااوکړه، اوس دانښځه دخپلې لور نکاح ددې هلک سره کول غواړی ایادحرمت مصاهرت دوجه نه دانکاح ناجائزنه ده؟ بینوا توجوا

المستفتی: م،ش،خ بټاله هزاره...... ۱۹۷۴ء/۱/۵/۱۱

جواب: که چرته داهلک نابالغ وی اومراهق نه وی نو بشرط صدق وثبوت ددې دواړونکاح جائزده، کمافی الدرالمختار ۲:۳۸۹ فلوجامع غیرمراهق زوجة ابیه لم تحرم﴿۲﴾وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۰۵ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۰۶ فصل فی المحرمات)

په غلطئ کښې د خواښې خپو سره لاس لګولو سره د ښځې د حرمت او د عدم حرمت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه مثلازیدد شپې پاسیدو، چه خپله ښځه خپل ځان ته راولی چه دخپلې مورسره په یوکټ باندې په دې کمره کښې اوده وه، لیکن په ځائ دښځې دده لاس دخواښې دخپوسره اولګیدو، خواښې پوهه شوه اوخپلې خپې ئې راغونډې کړې، بیا زید په لنګه باندې لاس وهلو، خواښې مجبوره شوه اوخپله لورئې دده سره اولیګله، ددې واقعې تذکره خواښې خپل خاوندته اوکړه، تقریبادوه نیم کاله وخت تیریدولووالادې، چه مورپلارخپله لورکورته راوسته دخاوندکورته ئې دهغه سره نه پریږدی حالانکه خاوندهغه کورته دبوتلو داصرارکوی، اوپه هغه شپه چه څه شوې دی دهغې نه انکارکوی، اوس شرعی حکم ددې څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد شفیع ضلع ساهیوال...... ۱۹۷۷ء/۱۸/۲

الجواب: ترخوپورې چه شهوت عندالمس (دآله تناسل حرکت کول یاپه حرکت کښې زیات والې راتلل) مسلّم یامبرهن نه وی نوترهغه وخته پورې دحرمت مصاهرت حکم اوفتوی نشی ورکولې، کمافی شرح التنویر: وحدهافیهماتحرک آلته وزیادته به یفتی، وفیه ایضا: وفی المس لاتحرم مالم تعلم الشهوة (باب المحرمات)﴿۱﴾ وهوالموفق

د مزنیې د خورځې سره نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زیدڅه وخت کښې د هندې سره زنابالجماع کړې وه، اوس دده دپاره دهندې خورځې سره عقد نکاح صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا یعقوب جنډ ډی آی خان...... ۱۴۰۱/۸/۲۲ھ

﴿۱﴾ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۴، ۳۰۷ فصل فی المحرمات)

الجواب: چونکه داخورځه داصولواوفروع نه نه ده، لهذادې سره ددې زانی نکاح جائزده، دحرمت مصاهرت نه حرمات اربعه مراددی دې سره دمسئول عنها (خورځه) خارج ده، کمافی ردالمحتار ۳: ۲۳ (طبع مصطفی البابی) اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع... وتقیده بالحرمات الاربع مخرج لماعداها﴿۱﴾ او هرکله چه دمزنیې دخور سره نکاح جائزده نودخورځې سره به ئې ضرور جائز وی، صرح به فی الدرالمختار: وطی اخت امرأة لاتحرم علیه امرأته﴿۲﴾ وهوالموفق

د پلار د زوئ د ښځې سره د زنا په صورت کښې ښځه په زوئ باندې حرامیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی دخپلې اینګورسره زنااوکړه، لیکن دااینګورددې ذکرشوې سړی وریره هم ده، اوس سوال دادې چه دې سره ددې سړی ښځه حرامه کیږی یانه؟ اودا اینګور دې هلک دپاره جائزبه وی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ا.د. ایبټ آباد هزاره......

الجواب: بشرط صدق وثبوت تحریربالاپه دې زانی باندې خپله ښځه حرامه نه ده، لانه غیرالمحرمات الاربع کمافی ردالمحتار ۲: ۳۸۴﴿۱﴾ البته ددې زانی په زوئ باندې دده داښځه حرامه ده. وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۰۳ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۵ فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: قال فی البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعاً وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا کما فی الوطء الحلال ویحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۰۳ فصل فی المحرمات)

د ښځې د وریرې سره زنا کول د حرمت مصاهرت موجب نه دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی دخپلې ښځې د وریرې سره زنااوکړه، ایادې سره حرمت مصاهرت ثابت کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: لقمان شاه آفریدی

الجواب: حرمت مصاهرت په اصول اوفروع کښې ساری شوې دی نه په ماوراء کښې، کماصرحوابه ونظیره مافی شرح التنویر: وفی الخلاصه وطی اخت امراة لاتحرم علیه امراة(هامش ردالمحتار ۲:۳۸۶)﴿۱﴾وهوالموفق

خوانبې سره د زنا کولو د اقرار نه پس انکار قبول نه دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دلته دواقعه مخکښې راغلې ده چه یو سړی دخپلې ښځې دمورسره زنااوکړه، بیادکلی دجرګې په مخامخ ئې اقراراوکړوچه آومادخپلې خوانبې سره زناکړې ده، لیکن یوڅو ورځې پس دې منکرشوایاپه دې سړی باندې خپله ښځه په دې صورت کښې حلال کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: اراکین جرګه مرزا اټک......۱۹۷۹ء۲۰۱۳۱

الجواب: بشرط صدق وثبوت یومرتبه اقرارکولوسره(دجرګې په مخکښې) اوس دده انکارقابل قبول نه دې په ده باندې ښځه حرامه شوې ده، جرګه دې دده دانکارتصدیق نه کوی. فی الدرالمختار ۲:۳۹۰ وفی الخلاصه: قیل له مافعلت بام امراتک فقال جامعتها تثبت الحرمة ولایصدق انه کذب ولـــو هـــازلاً﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۰۵ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۰۸ فصل فی المحرمات)

د خاوند د زوئ سره ناجائز تعلقات موجب د حرمتِ مصاهرت دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځما ښځه انتهائ ذلیل حرکات کوی ماته دخپل حیض دوینې سره لیکلی شوی تعویذات جادوکړې شوې راکوی دیوسړی اودهغه دزوئ سره ئې دشپږوکالونه ناجائزتعلقات قائم کړې دی، اوس ئې ځمادمشرزوئ سره هم ناجائزتعلقات قائم کړی دی، دکلی ټول خلق هم ددې خبرونه هم ښه خبر دی، ایاداښځه په مابانډې حرامه ده؟ بینواوجروا

المستفتی: م،ر،اسلام آبادراولپنډی

الجواب: بشرط صدق مستفتی داښځه خاوندباندې همیشه دپاره حرامه ده، لان حرمة المصاهره تثبت بالزنایضا﴿۱﴾ حکومت وخت باندې ضروری دی چه دتحقیق نه پس دې ته سزاورکړی ګنی عام مسلمانانوباندې ضروری ده چه ددې ښځې سره هرقسمه تعلقات ختم کړی﴿۲﴾وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: وحرم ایضا بالصهریة اصل مزنیته، قال فی البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا کما فی الوطء الحلال ویحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۰۳ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾قال الملا علی قاری: اجمع العلماء علی ان من خاف من مکالمة احد وصلته ما یفسد علیه دینه او یدخل مضرة فی دنیاه یجوز له مجانبته وبعده ورب صرم جمیل خیر من مخالطة تؤذیه ...... ان هجرة اهل الاهواء والبدع واجبة علی مر الاوقات مالم یظهر منه التوبة والرجوع الی الحق.

(مرقاة المفاتیح ۸:۷۵۹ باب ماینهی عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

د مور او لور سره د زنا کولو والا زانی د دغه لورسره نکاح حرامه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځما یو دوست ته دا مسئله مخې ته راغله چه دده دیو ښځې سره ناجائز تعلقات وو .بیائې ددې ښځې دلورسره هم تعلقات قائم کړه،روستو ددې ښځې خاوند ته پته اولګیده نورخلق هم خبرشو .ښځې ددنیاوی شرم دپټولو پاره دخپلې لورنکاح ددې سړی سره اوکړه.ایادانکاح جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدنظیف ملاکنډ ایجنسی

الجواب: داجینئ په دې سړی باندې حرامه ده.فی الدرالمختار:وحرم ایضا بالصهریة اصل مزنیة وفروعهن مختصرا﴿۱﴾وبمعناه فی جمیع کتب الفروع﴿۲﴾ وهوالموفق

د خوابنې سره په جماع کولو باندې حرمت مصاهرت ثابت کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی دخپلې ښځې دمورسره یعنی دخوابنې سره جماع اوکړه په قصدسره یاخطاسره.ایاپه دې سړی باندې خپله ښځه حرامه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل اکبرچترالی حقانی...... ۲۹/۱/۱۹۷۰ء

الجواب: صورت مسئوله کښې په دې زانی خپله ښځه حرامه شوې ده.لیکن نکاح پخپل حال باندې باقی ده لهذادې سړی باندې ضروری ده چه دا ښځه متروکه کړی.

فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۸۴: وحرم ایضا بالصهریة اصل مزنیته (الی ان قال) وفروعهن (وقال....

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۳ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: فمن زنی بامرأة حرمت علیه امها وان علت وابنتها وان سفلت وکذا تحرم المزنی بها علی آباء الزانی واجداده وان علوا وابناءه وان سفلوا کذا فی فتح القدیر.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۴ القسم الثانی المحرمات بالصهریة)

بعد اسطر) وبحرمة المصاهرة لا یرتفع النکاح حتی لا یحل لها التزوج بآخر الابعد المتارکة وانقضاء العدة،

بلکه تقبیل سره هم داحرمت راځی،قال فی الدرالمختار:قبل ام امراة حرمت علیه امراة(مختصرا)﴿۱﴾وهوالموفق

کله چه خاوند د پلارسره د زنا تصدیق اونه کړی نو حرمت نشته

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوشل کلنه جینئ ده دې پخپل اویاکلن سخرباندې دزناتهمت اولګولو،چه دهغې څه ثبوت او شهادت نشته دې.نیزمعلومه شوې ده چه دخپلې ځانی معاملې دوجه نه دا بهتان لګولې شوې دې.دکوشش باوجودڅه شهادت لاس ته رانغلوجرګې والو دخسرنه پوښتنه اوکړه هغه حلفیه بیان ورکولوسره اووئیل چه په ما باندې ددروغوبهتان لګولې شوې دې.دزوئ ښځه خودخپلې لورپشان وی حالانکه خاوندهم اووئیل چه ځماپلارګنهګارنه دې.هغه اویاکالوته نزدې دې داځنګه کیدلې شی.اوس دشریعت څه فیصله ده؟بینوا توجروا

المستفتی: محمدعزیزخان کوه مری...... ۱/۱/۱۹۷۰ء

الجواب: چونکه خاوند تصدیق نه دې کړې.لهذاخاوندباندې ښځه نه حرامیږی، لمافی الردالمختار۲: ۳۸۵ وعلی هذاینبغی ان یقال فی مسه ایاهالاتحرم علی ابیه وابنه الاان یصدقاه اویغلب علی ظنهماصدقه﴿۲﴾وهوالموفق

د ښځې په خپل سخر باندې د زنا دعویٰ او د خاوند انکار

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دحسیب ښځه چه د

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۳،۳۰۶،۳۰۷ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۰۴ قوله واصل ماسة فصل فی المحرمات)

حسیب دپلاردزمان ګل وریره هم ده،یوه ورځ زمان ګل اوداجینئ د لرګو د
کټکولودپاره غره ته لاړل،دمازیګرپه وخت واپس راغلل اولرګی هم ځان
سره راوړل،دمابنام په وخت دحسیب ښځه دناراضګئ په صورت کښې مور
کره لاړه،درې ورځې پس ئې مورته اوویل چه څه دده کورته نځم ځکه چه
زمان ګل ماسره زناکړې ده،حالانکه دخاوندحسیب خبره داده چه دې ماته
دومره اوویل چه ستاپلارماسره داسې حرکات شروع کړی دی ددې نه
ظاهره شوه چه دده اراده ښه نه وه،نیزپه آخره کښې ئې خپل خاوندته یومرتبه
داهم وئیلی دی چه ستاپلارماسره برائی یعنی زناکړې ده،اوس سوال دادې
چه ایادیوښځې محض الزام سره دذکرشوی خاوندنکاح بغیردطلاق ورکولو
نه فسخ کیدلې شی،دذکرشوی خاوندحسیب د طلاق ورکولونه بغیرداجینئ
بل سړی سره واده کولې شی؟ نیززمان ګل چه په چاباندې الزام دې قسم
اوچتولودپاره هم تیاردې اوخاوندحسیب ته هم دخپل پلاردبې ګناهې
اعتراف دې،په دې حالاتوکښې محض دې الزام عائدکولوسره نکاح فسخ
کیږی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی:ح،ب،خ، C|O مولاناموسیٰ خان فاضل دیوبندشکردره کوهاټ

جواب: کله چه خاونددې ښځې تصدیق اونه کړی نوده دپاره ددې سره
همبستری جائزده،اوکه چرته بالفرض تصدیق هم اوکړی،نونکاح فسخ کیدلې
نشی تاوقتیکه متارکت اونه کړی یاحاکم(مسلمان) فسخه د نکاح اوکړی.

یدل علیه ما فی الهندیة ۱: ۲۹۴ رجل تزوج امرأة علی انها عزراء فلما اراد وقاعها
وجدها قد افتقت فقال لها من افتضک فقالت ابوک ان صدقها الزوج بانت منه ولا مهر
لها وان کذبها فهی امرأته کذا فی الظهیریة...... رجل قبل امرأة ابیه او قبل الاب امرأة ابنه
بشهوة وهی مکرهة وانکر الزوج ان یکون بشهوة فالقول قول الزوج انتهیٰ ما فی
الهندیة﴿۱﴾ قلت وجه الدلالة ظاهر لان حرمة المصاهرة لا فرق فیها بین الباکرة

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ۱: ۲۷۶ القسم الثانی المحرمات بالصهریة)

والثیبة وبین الزنا والتقبیل،وفی الدرالمختار: وبحرمة المصاهرة لا یرتفع النکاح حتی لا
یحل لها التزوج بآخر الابعد المتارکة وانقضاء العدة، وفی ردالمحتار ۲: ۳۸۹ وعبارة
الحاوی الابعد تفریق القاضی او بعد المتارکة﴿۱﴾. وهوالموفق

د غائب خاوند د ښځې د خپل سخرسره د تعلقاتو په صورت کښې دحرمت مصاهرت دوجه نه د دویمې نکاح د کولومسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیوښځې خاونددرې
کالوراهسې بې درکه دې اوخاونددغائب کیدلونه درې کاله پس ذکرشوې
ښځه حامله شوه،کله چه ددې نه دې باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نوهغه
ددې ګناه مرتکب خپل سخر(والدالزوج) اوګرزولو،اوس دریافت طلب دادې
چه ایادښځې ددې اقرارنه ددې نکاح دخپل بې درکه خاوندسره باقی ده
یانه؟ که چرته نه وی نوایاداښځه دبې درکه خاونددراتلونه بغیردویم ځای
کښې نکاح کولې شی؟بینوا توجروا

المستفتی: طالب حسین.......۱۶مئی ۱۹۷۵ء

جواب: دخاونددراتلونه پس کله چه خاونددې ګناه تصدیق اوکړی او
متارکت اختیارکړی نوعدت تیریدلونه پس(وخت دمتارکت نه) به دویم
ځائ کښې نکاح جائزشی، ماخوذ ازعالمګیریه﴿۲﴾شامی﴿۳﴾وهوالموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۰۷ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: رجل قبل امرأة ابیه بشهوة او قبل الاب امرأة ابنه بشهوة وهی مکرهة
وانکر الزوج ان یکون بشهوة فالقول قول الزوج وان صدقه الزوج وقعت الفرقة الخ.
(فتاویٰ عالمګیریه ۱: ۲۷۶ القسم الثانی المحرمات بالصهریة)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: وبحرمة المصاهرة ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مشکوک ولد الزنا سره د زانی د لور د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه فرمان په یوزمانه کښې دجانان په موجودګئ دجانان دښځې سره ناجائز تعلقات پیداکړی وو، تقریبا درې څلورکاله پس دجانان دښځې نه یوهلک پیداشوچه هغه غالبا دجانان دنطفې نه پیداشوې وو، اودفرمان دخپلې ښځې سره دفرمان دنطفې نه یوه جینئ پیداشوه اوس ددې هلک اوددې جینئ نکاح جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی نوروز بحرین سوات...... ۱۹۱۳۱،۱۹۷۵

جواب: ددې هلک په ولدزنا کیدلو کښې شک دې لهذاددې نکاح مسئوله نه حرامه نشی وئیلې کیدې.

یدل علیه مافی ردالمحتار ۲: ۳۸۱: قوله ولو من زنا: ای بان یزنی الزانی ببکر ویمسکها حتی تلد بنتا بحر عن الفتح (۱) قلت وقوله علیه الصلاة والسلام: الولد للفراش وللعاهر الحجر (۲)، یدل علی مانع آخر، فافهم (۳). وهوالموفق

د خپلې لور سره د زنا په صورت کښې حرمت مصاهرت واقع او ددې سزا رجم دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوسړې اته میاشتې

(بقیه حاشیه) لا یرتفع النکاح حتی لا یحل لها التزوج بآخر الابعد المتارکة وانقضاء العدة، وقال ابن عابدین: وعبارة الحاوی الا بعد تفریق القاضی او بعد المتارکة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۰۷ فصل فی المحرمات)

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۰۱ فصل فی المحرمات)

(۲) عن ابی هریرة یرفعه قال: الولد للفراش وللعاهر الحجر، رواه الستة واحمد فی المسند والبیهقی. (سنن دارمی ۲: ۲۰۳ باب الولد للفراش)

(۳) نیز د زانی او مزنیه د فروع په مینځ کښې نکاح جائزده، شامی. (سیف الله حقانی)

مخکښې دخپلې دیارلس کلنې لورسره دزنامرتکب شوی. بیایې دې اتو میاشتو کښې دښځې سره دنکاح دختم کیدلو شک دوجه نه وې ښځې سره ئې مباشرت نه دې کړې چه دادویمه ګناه سرزد نشی، ایادخپلې ښځې سره دوباره نکاح کیدلې شی؟ اوایاداجینئ اوس دده لور ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سیدعثمان هشتنګری ګیټ پشاور...... ۷۱۲۱،۱۹۸۸

الجواب: دخپلې لورسره دزناکولونه پس په ده باندې خپله ښځه همیشه دپاره حرامه شوې ده. اودباقاعده ثبوت نه پس حکومت باندې فرض دی چه په دې سړی باندې حدرجم جاری کړی (۲) بیاهم داجینئ ددې زانی باقاعده لورده. البته داسړې به دمجوسیانو اوسکهانو پشان دخپلو محارموته په تنهائې کښې د تلو راتلونه بندولې شی. وهوالموفق

د نابالغې لور مس بالشهوت موجب د حرمت نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه بهشتی زیور کښې

(۱) قال العلامة ابن عابدین: اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا کما فی الوطء الحلال. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۰۳ فصل فی المحرمات)

(۲) قال العلامة الکاسانی: واما شرائط جواز اقامتها فمنها ما یعم الحدود کلها ومنها ما یخص البعض دون البعض اما الذی یعم الحدود کلهافهو الامامة وهو ان یکون المقیم للحد هو الامام او من ولاه الامام وهذا عندنا...... وبیان ذلک ان ولایة اقامة الحد انما ثبت للامام لمصلحة العباد وهی صیانة انفسهم واموالهم واعراضهم لان القضاة یمتنعون من التعرض خوفا من اقامة الحد علیهم والمولی لا یساوی الامام فی هذا المعنی لان ذلک یقف علی الامامة والامام قادر علی الاقامة لشوکته ومنعته وانقیاد الرعیة له قهراً وجبراً الخ.

(بدائع الصنائع ۷: ۵۷)

لیکلي شوي دي که چرته دیوسړي لاس دځواني دجذبې نه پخپلې لور یا
خواښې باندې پریوزي نوپه ده باندې ښځه همیشه دپاره حرامه شي اوس
ماته داواقعه مخې ته راغلې ده چه مایوه شپه دخپلې ښځې سره خواهش
پوره کول اوغوښتل، لیکن هغه تیاره نه وه هغه په خپل کټ کښې پریوته
ددې اوځماکټ لګیدلي وو، ددې سره ځماخپله لورچه دهغې عمریوکال دوه
کاله دې دالورځماد کټ طرفته وه اوښځه بل طرفته، مادخپلې ښځې د
راوستلودپاره لاس په هغې واچولو، ځمالاس په لورباندې پریوتو، دالاس
ماښځې ګڼړلوسره وهلوځماښځې ځمالاس اونیولو اوښکته ئې کړو، په دې
باره کښې دشریعت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: م،ا، ریشاور......۱۲۵جولائی۱۹۷۹ھ

الجواب: چونکه ستالورمشتهاة نه وه، دنهوکالونه وه بلکه دیوکال دوؤ کالو وه، لهذاددې سره مس بالشهوة ضرررسان اوحرام کونکي نه دې.

کمافی شرح التنویر: **هذا اذا کانت حیة مشتهاة ولو ماضیا اما غیرها یعنی المیتة وصغیرة لم تشته فلا تثبت الحرمة بها اصلاً، وفی ردالمحتار ۲: ۳۴ طبع حلبی سیأتی تعریفها بانها بنت تسع فاکثر﴿۱﴾. وهو الموفق**

د زوئ د ښځې سره مجامعت موجب حرمت اومتارکت دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی دخپل زوئ د
ښځې سره مجامعت اوکړو، ایادې زوئ اوده دښځې په مینځ کښې جدائ
واقع شوې ده یانه؟ که چرته واقع شوې وی نوپه دې صورت کښې به داطلاق
بائن وی یارجعی؟ بینوا توجروا

المستفتی: .... نامعلوم

الجواب: دثبوت شرعی نه پس دابنځه په خپل خاوندباندې به همیشه دپاره

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۰۵ فصل فی المحرمات)

حرامه وی اودثبوت نه پس خاوندباندې ضروری ده چه دابنځه پریګدی ګنی
دابنځه دمسلمان حاکم په ذریعې سره طلاق حاصل کولې شي.

فی الهندیة ۱: ۱۱۹: فمن زنی بامرأة حرمت علیه امها وان علت وابنتها وان سفلت، وکذا تحرم المزنی بها علی اباء الزانی واجداده وان علوا وابناءه وان سفلوا کذا فی فتح القدیر﴿۱﴾ وفی الدرالمختار: وبحرمة المصاهرة لا یرتفع النکاح حتی لا یحل لها التزوج بآخر الابعد المتارکة وانقضاء العدة، وقال العلامة الشامی فی ردالمحتار ۲: ۳۸۹: وعبارة الحاوی الابعد تفریق القاضی او بعد المتارکة، وقد علمت ان النکاح لا یرتفع بل یفسد، وقد صرحوا فی النکاح الفاسد بان المتارکة لا تتحقق الا بالقول ان کانت مدخولا بها...... واما غیر المدخول بها فقیل تکون بالقول وبالترک علی قصد عدم العود الیها، انتهیٰ مختصراً﴿۲﴾

اودا متارکت طلاق نه دې صرح به العلامة الشامی ۲: ۴۸۴ فلیراجع﴿۳﴾
وهو الموفق

د زوئ د منکوحې سره د پلار نکاح حرامه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی خپل زوئ ته

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ۱: ۲۷۴ القسم الثانی المحرمات بالصهریة)

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۰۷ فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفرق فی النهر بان المتارکة فی معنی الطلاق فیختص به الزوج اما الفسخ فرفع العقد فلا یختص به وان کان فی معنی المتارکة ورده الخیر الرملی بان الطلاق لا یتحقق فی الفاسد فکیف یقال ان المتارکة فی معنی الطلاق فالحق عدم الفرق ولذا جزم به المقدسی فی شرح نظم الکنز.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۸۲ قبیل مطلب التصرفات الفاسدة)

واده او کړو لیکن زوئ په جماع کولو باندې قدرت نه لري، او جدائ او شوه، اوس که چرته دهلک پلار ددې جینئ سره نکاح کول او غواړی نو آیا دا جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالقدوس مانکیال شریف

جواب: هر کله چه نکاح صحیحه شوې وی اگر که جماع نه وی شوې نو هغه ښځه همیشه دپاره دهلک په پلار باندې حرامیږی، وحلائل ابناء کم الذین من اصلابکم الایة ﴿۱﴾ وهکذا فی جمیع کتب الفروع ﴿۲﴾ وهو الموفق

د ښځې د رضاعی یا نسبی خور یا د نسبی یا رضاعی لور سره د زنا مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې کله چه د کوم سړی د ښځې رضاعی خور یا رضاعی لور وی، او دا سړې ددې رضاعی خور یا رضاعی لور سره په خراب نیت سره بې کاره حرکتونه او کړی نو ددې بې کاره حرکاتو دوجه نه په ده باندې خپله ښځه حرامه کیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام محمد ملاکنډ ایجنسی..... ۱۲ رمضان المبارک ۱۴۰۳ھ

جواب: د ښځې د خور خواه نسبی وی یا رضاعی سره زنا کولو سره ښځه نه حرامه کیږی (شامی ۳:۳۴)، او د ښځې لور خواه نسبی یا رضاعی سره زنا کولو سره ښځه حرامه کیږی.

﴿۱﴾ (سورة النساء آیت: ۲۳، رکوع: ۱، پاره: ۴)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: والثالثة حلیلة الابن وابن الابن وابن البنت وان سفلوا دخل بها الابن ام لا.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۴ القسم الثانی المحرمات بالصهریة)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: وفی الخلاصة وطیٔ اخت امرأته لاتحرم علیه امرأته.

(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۵ فصل فی المحرمات)

(شامی ۳:۳۲) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د نهو کالو نه کمې جینئ سره دست درازی د حرمت مصاهرت موجب نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید د باقر سره کله چه هغه پوره بالغه هم نه وه په او ودودست درازئ کوشش او کړو او پرتوغ ابن کهلاو هلو نه پس د مجامعت په نیت سره خپل عضو مخصوص ئې ددې مخصوص ځائ سره لګولې وویانزدې کړې وو، چه هغه ویخه شوه په دې حرکت باندې هغه ډیر شرمنده شو او پاتې ترینه راغلو، څه وخت پس د زید د لور کویژدنه نیاد باقر سره او کړه اوس هغه بالغه ده او زید دلیت او لعل نه کار اخلی، شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عزیز کتوزئ

جواب: که چرته دارادې خرابې په وخت کښې ددې جینئ عمر د نهو کالو نه کم وی نو دا خباثت به د حرمت مصاهرت موجب نه وی، کمافی الدر المختار: هٰذا اذا کانت حیة مشتهاة، وفیه ایضاو بنت سنهادون تسع لیست بمشتهاة به یفتی، نیز د نهو کالو کیدلو په تقدیر باندې که چرته د اندام لګولو په وخت انزال شوې وی نو بیا به هم دغه حکم وی، کمافی الدر المختار: فلو انزل مع مس او نظر فلاحرمة به یفتی ﴿۲﴾ وهو الموفق

د خینې سره زنا کولو سره حرمت مصاهرت نه راځی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې د خپل سالی سره

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسباً ورضاعاً وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا کما فی الوطء الحلال. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۰۳ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۴، ۳۰۵، ۳۰۷ فصل فی المحرمات)

ناجائز تعلقات لری او د زنا هم مرتکب دې اوس دبعضې خلقو خیال دې بلکه هغوئ په ضد دې چه دواړه یعنی د خورخاوند او خینې دخپلې خپلې نکاح طلاق واقع کیږی دخور خاوند باندې خپله ښځه اوپه خینې باندې دده خاوند حرام شوې دې، دمسئلې حقیقت څه دې؟ بینوا تجروا

المستفتی: ډاکټرفیاض حسین جهلم......۱۹۱۹۱ء۱۹۷۷

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې دواړوباندې دې باقاعده رجم جاری کړې شی لیکن دحرمت مصاهرت حکم اوفتویٰ ورکول غلط دی، کمافی شرح التنویر: وفی الخلاصة: وطی اخت امرآة لاتحرم علیه امرأته، (هامش ردالمحتار ۱:۳۸۶)﴿۱﴾وهوالموفق

د خینې سره زنا حرام قطعی ده لیکن د ښځې په نکاح باندې څه اثرنه پریوزی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو نوې پیغله جینئ د ناجائز تعلقاتو په بنیادباندې حامله شوه، پینځه شپږمیاشتې پس ددې حاملې نه تپوس اوکړې شوچه داحمل دچا نه دې جواباً ئې اووئیل چه دا څما دخور دخاوند دې، حالانکه هغه د اتومیاشتونه په کراچئ کښې دې چشم دید ګواه نشته، وارثانوئې داحمل دعلاج په ذریعه اوغورځولو، دجینئ په بیان ددې موردویمه لور بال بچه داره خپل کورته راوسته ددې نه ئې پوښتنه اوکړه چه تاڅه وکړل، وې وئیل چه په یوکورکښې دوه غواګانې نشی پاتې کیدې، ملزم موجودنه دې معلومه نه ده هغه څه بیان ورکوی په دې صورت کښې شرعاً خاوند اوښځه کښې جدائی کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عزیزالرحمٰن کوهاله مری......۱۵۱۱۱۱ء۱۹۷۲

الجواب: دښځې خور سره زناحرام قطعی ده لیکن په دې سره دښځې په نکاح څه اثرنه پریوزی. فی عمدالرعایه: فلوزنی بامراة لاتحرم علیه اخته ولوزنا باخت زوجته

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۰۵ فصل فی المحرمات)

لاتحرم علیه زوجته، (هامش شرح الوقایه ۲:۱۲)﴿۱﴾وهوالموفق

د حرمت مصاهرت د وجه نه د حنفی المسلک د پاره ښځه پریخودل ضروری دی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی دکومې ښځې سره زنااوکړه، ددې احکامې شرعیه نه ناواقفه سړی ددې ښځې دلورسره نکاح اوکړه، دې ته علم نه ووچه دانکاح نه کیږی، اوس ددې دخیټې نه درې بچی پیداشوی دی، تراوسه احکام دین باندې پابندل کیدلوسره مخکښنی بد عملونه پیش نظرساتلوسره خائف شو، دڅلورو امامانودمسلک نه مو خبرکړئ چه ایاداسړې دې نکاح لره برقرارساتلې شی؟ اوکوم امام دجائز کیدلو فتویٰ ورکړې ده یادڅلوروواړوپه نزدباندې دانکاح باطله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: شهاب الدین چشتیاں بهاؤلنګر

الجواب: دشوافعوپه نزددانکاح صحیح ده اوداحنافوپه نزددانکاح صحیح نه ده.

قال فی الهدایة: من زنا بامرأة حرمت علیه امها وبنتها وقال الشافعی الزنا لا یوجب حرمة المصاهرة ۲:۲۸۹﴿۲﴾ وفی البدائع ۲:۲۶۰: وعند الشافعی لا تثبت الحرمة بالزنا فاولیٰ ان لا تثبت بالمس والنظر بدون الملک الخ﴿۳﴾

لهذادې سړی دپاره که چرته حنفی وی ددې ښځې پریخودل ضروری دی،
وقال العینی فی شرح الهدایه ۲:۴۰ وبه قال احمدفی قول، وهوالموفق

د ضرورت په وخت مذهب غیرباندې فتویٰ صحیح ده لیکن امتیازمشکل دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه، یوسړی دیوښځې سره

﴿۱﴾(عمدة الرعایة علی هامش شرح الوقایة ۲:۱۲ بیان المحرمات من النساء)

﴿۲﴾(هدایة ۲:۳۲۹ فصل فی بیان المحرمات)

نکاح اوکړه بیائې ددې ښځې دمورسره زنااوکړه.فیحرم علیه امرآة لاجل الحرمة المصاهرة عندناولایحرم علیه عندالشافعی لان الحرمته المصاهرة لایثبت بالزنی کماقاله فی موضعه،اوس زه په دې طریقې سره دفتوی اخستلوطالب یم چه ایامونږدې سړی ته مذهب غیرباندې فتوی ورکولې شوځکه چه تفریق مفضی الی النزاع اوباعث فساداوفتنه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا فدامحمد......۱۷/۱۲/۱۹۷۴ء

جواب: دضرورت په وخت مذهب غیرباندې فتوی ورکول صحیح دی. کما صرح به فی موضعه﴿۱﴾ لیکن ضرورت دغیرضرورت نه ممتازکول مشکل دی،وهوالموفق

په حرمت مصاهرت کښې دضرورت دوجه نه دانتقال عن المذهب حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه هغه سړی څه حکم دې

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: ان الاجماع علی منع اطلاق التخییر بان یختار ویتشهی مهما اراد من الاقوال فی ای وقت اراد اما لو عمل بالضعیف فی بعض الاوقات لضرورة اقتضت ذلک فلا یمنع منه وعلیه یحمل ما تقدم عن الشرنبلالی من ان مذهب الحنفیة المنع بدلیل انهم اجازوا للمسافر والضیف الذی خاف الریبة ان یأخذ بقول ابی یوسف بعدم وجوب الغسل علی المحتلم الذی امسک ذکره عند ما احسن بالاحتلام...... مع ان قوله هذا خلاف الراجح فی المذهب لکن اجازوا الاخذ به للضرورة...... وقد ذکر صاحب البحر فی الحیض فی بحث الوان الدماء اقوالا ضعیفة ثم قال وفی المعراج عن فخر الائمة لو افتی مفت بشئ من هذه الاقوال فی مواضع الضرورة طلبا لتیسیر کان حسنا انتهیٰ، وبه علم ان المضطر له العمل بذلک لنفسه کما قلنا وان المفتی له الافتاء به للمضطر فما مر من انه لیس له العمل بالضعیف ولا الافتاء به محمول علی غیر موضع الضرورة کما علمته من مجموع ما قررناه والله تعالیٰ اعلم.

(شرح عقود رسم المفتی ۱۰۱ ولا یجوز بالضعیف العمل)

چه هغه په مسائل جزئیه کښې یامسائل کلیه کښې دیوم مذهب نه بل مذهب ته منتقل کیږی اوپه څلورومذهبونوکښې ددې مسئلې څه حکم دې،چه یوسړی دیوې یتیمې جینئ سره نکاح اوکړه چه دهغې پلارنشته جینئ تقریبادا توکالوده چه قابل دخول نه ده اوجینئ مورهم په دې کورکښې اوسیږی دې خاوندددې جینئ دمورسره څوکرته مباشرت فاحشه کړې دې اوحالانکه ددې جینئ په طلاق باندې قادرنه دې ځکه چه رشته داران په دې واقعاتوباندې خبرنه دی اوپه خبرکیدلوباندې به ئې قتل کړی.نوددې مسئلې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:حاجی محمدشاه فیصل مسجدامدادالعلوم پشاورصدر ۱۵/۱۱/۱۹۸۲ء

جواب: (۱) الانتقال من مذهب الی مذهب حرام اذا کان اتباعا للهویٰ واتباعاً للرخص کما فی مقدمة ردالمحتار﴿۱﴾ نعم جاز الافتاء بمذهب الغیر عند الضرورة کما صرح به العلامة الشامی وغیره﴿۲﴾.

(۲) لو انزلا عند هذه المباشرة فی کل مرة فلاتحرم علیه بنت هذه المرأة

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله ان الحکم الملفق باطل بالاجماع وان الرجوع عن التقلید بعد العمل باطل اتفاقا) المراد بالحکم (الملفق) الحکم الوضعی کالصحة مثاله متوضئ سال من بدنه دم ولمس امرأة ثم صلی فان صحة هذه الصلاة ملفقة من مذهب الشافعی والحنفی والتلفیق باطل فصحته منتفیة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :۵۵ مطلب فی حکم التقلید والرجوع عنه مقدمة)

﴿۲﴾قال العلامة الشامی: العالم الذی یعرف معنی النصوص والاخبار وهو من اهل الدرایة یجوز له ان یعمل علیها وان کان مخالفا لمذهبه، قلت لکن هذا فی غیر موضع الضرورة...... لو افتی مفت بشئ من هذه الاقوال فی مواضع الضرورة طلبا للتیسیر کان حسنا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :۵۵ مقدمه)

کما فی محرمات ردالمحتار وغیره﴿۱﴾. والا فحرمت علیه منکوحته والمخلص من القتل ان یطلق هذه المنکوحة المحرمة احتیالاً، ومن تیقن القتل والمقاتلة عند التطلیق ایضا فجاز له العمل بمذهب الامام الشافعی من ان حرمة المصاهرة لا تحصل بالحرام، وبالجملة ان فرق الضرورة من غیر الضرورة امر لا یعلمه الا الله ثم من ابتلیٰ به﴿۲﴾. وهوالموفق

د حرمت مصاهرت اوښځه پشان د باورچی ساتلو وغیره مسئلې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زید په شهوت سره دخپلې بالغې لور سره ځوځله بوس او کنار اوکړو، ددې دوجه نه دده ښځه دحرمت مصاهرت دوجه نه په ده باندې حرامه شوه. اوس دشرعې مطابق زیدله څه کول پکاردی. که چرته طلاق ورکړی نوهغه بې چاره بې قصوره ده جرم زید کړې دې دې وجه نه ددې سزا زیدته ورکول پکاردی ښځې ته نه؟

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: هذا اذا لم ینزل فلو انزل مع مس او نظر فلا حرمة به یفتی، قال ابن عابدین: لانه بالانزال تبین انه غیر مفض الی الوطء هدایه الخ. (الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۳۰۴ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾قال شیخنا محمد فرید مدظله: لا یجوز الحکم والافتاء بالقول المرجوح وبمذهب سائر الائمة الا فی ثلاثة مواضع الاول عند الضرورة دون التشهی والتلهی فانه حرام کما حرم الحکم الملفق الخارج للاجماع فی عمل واحد کالحکم بصحة وضوء من ترک الترتیب ومسح دون ربع الرأس...... المنع عن المرجوح حتی لنفسه لکون المرجوح صار منسوخاً نعم قید البیری بالعامی وذکر عن خزانة الروایات ان العالم الذی یعرف معنی النصوص والاخبار وهو من اهل الدرایة یجوز له ان یعمل علیها وان کان مخالفا لمذهبه وقال العلامة الشامی فی مقدمة ردالمحتار: هذا فی غیر موضع الضرورة وبمعناه فی شرح عقود رسم المفتی. (البشری لارباب الفتویٰ ۳۳ الفصل السادس)

(۱) که چرته ښځه دکور نه اوباسی نوددې زندګی به څنګه تیریږی په دې کښې دشریعت څه رهنمائی ده؟ (۲) زید داخروی سزانه دبچ کیدلودپاره څه اوکړی ډیرژاړی اوشرمنده دې لیکن دګناه اظهارکولوسره ذلیل کیدل هم نه غواړی، نیزشریعت هم دګناه دپټولو حکم ورکړې دې اوخاص خبره داده چه هغه په ټول ژوند کښې دچاسره دزناکولو مرتکب شوې نه دې، صرف دې ځل ئې بدقسمتئ سره بوس اوکنار اوکړواوس توبه کوی؟ (۳) زید په داسې مرض کښې مبتلا کیدلوسره عنین شوی چه دهغې علاج ناممکن دې اطباء وائی چه اوس دصحت دتلاش کولوپه ځائ دده دپاره دقبرتیاری پکارده په داسې حالت کښې ایازید په دې خپل آخری عمرکښې دې ښځې لره دیواجنبیې باورچی په حیثیت سره ساتلې شی چه ددې په نفقې سره مدداوکړی اود ښځې اودخاوند خصوصی تعلقات خودرکناردیوبل نه پرده هم اوکړی ایاپه دې طریقه دې دواړولره په یوکورکښې دژوندتیرولواجازت شته؟ (۴) د ځوانئ نه دښځې حالت دادې چه ددې کله جنسی رغبت نه دې شوې دنکاح نه پس چه زیدځومره هم وقاع کړې ده په زورئې کړې ده اواوس خو هغه بوډا شوې دې اوس صرف دبدنامئ نه بچ کیدونیزپه دې بوډاوالی کښې ددویم خاوند ښځې جوړیدلونه بطور داجنبیې باورچی جوړیدلوسره په شرعی پرده کښې دزیدپه کورکښې دژوندباقی ورځې پوره کول غواړی آیا په دې طریقې سره به صحیح وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبادالله سکهرسنده

جواب: (۱) په ده باندې ضروری ده چه ددې ښځې سره متارکت اوکړی اود متارکت نه پس کله چه عدت ختم شی نوپه بل ځائ کښې نکاح کولې شی که چرته داسړې جداکوریاجداکمره دې ښځې ته ورکړی نو جائزده (درمختار وردالمحتار﴿۱﴾ (۲) دالله اتعالی نه دې مغفرت اوغواړی اوصحیح توبه دې اوباسی.

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: قبل السکران بنته تحرم الام وبحرمة المصاهرة لا یرتفع النکاح حتی لا یحل لها التزوج بآخر الا بعد المتارکة وانقضاء العدة، قال العلامة ابن عابدین: (قوله الا بعد المتارکة) ای وان مضی علیها سنون کما فی البزازیة وعبارة الحاوی الا بعد تفریق القاضی او بعد المتارکة ...... بان......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۳) خبیث سړی باندې څه اعتماد نشته او په ذکرشوې صورت کښې د نظر او د مس بالشهوت خطره موجود ده لهذا کم از کم که جدا کمره ورکړې شی نو خطره به کمه شی (۴) د ابنځه په دې سړی باندې حرامه شوې ده لیکن مطلقه نه ده د متارکت نه پس (یعنی د ده دوئیلو نه پس چه ځما ستا سره څه تعلق نشته یا ماته پریځودې) عدت تیریدلو نه پس بل ځائ کښې نکاح کولې شی او که چرته با پرده او بلاخلوت په دې کور کښې سکونت او کړی نو جائز ده لیکن د سابقه بې اعتمادۍ د وجه نه بهتره داده چه په کور کښې یوه کمره دې د پاره منتخب کړی چه د فتنې خوف پاتې نشی اگرکه دواړه بوډا ګان دی او اگر که د ابنځه د محارمو نه شمار شوې ده، (د اټولې مسئلې درمختار او ردالمحتار نه ماخوذ دی ﴿۱﴾. وهو الموفق

صرف متهم کیدلو سره حرمت مصاهرت نه ثابت کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په پلار باندې الزام دې چه هغه د خپلې حقیقی لور سره (هغه چه ناواده کړې وه) زنا کړې ده یو کس هم مخامخ ګواه نشته کله چه جینۍ حامله شوه نو دې پلار له مجرم او ښودلو او دوؤ دریو ښځو په مخامخ ئې او وئیل چه دا ځما پلار په ما باندې ظلم کړې دې مور هم د لور د خبرې تصدیق کړې دې چه دا جرم هم د پلار کیدلې شی، (مورئې حقیقی ده) کله چه د پلار نه پوښتنه او کړې شوه نو هغه خاموشی اختیار کړه او وې وئیل چه دا څه تاسو وایئ څه به د دې څه جواب درکړم (۱) ایا دې د کلی نه

(بقیه حاشیه) المتارکة لا تتحق الا بالقول الخ.

(الدر المختار مع رد المحتار ۲:۳۰۷ فصل فی المحرمات)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وسئل شیخ الاسلام عن زوجین افترقا ولکل منهما ستون سنة وبینهما اولاد تتعذر علیهما مفارقتهم فیسکنان فی بیتهم ولا یجتمعان فی فراش ولا یلتقیان التقاء الازواج هل لهما ذلک قال نعم واقره المصنف.

(الدر المختار علی هامش رد المحتار ۲:۶۷۵ قبیل فصل فی ثبوت النسب)

بهر کړې شی؟ (۲) ایا د ده نکاح ختمه شوې ده؟ (۳) ایا د ده د بچو د پرورش او مالی بد حالئ ته کتلو سره دې په کلی کښې ایسارول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اکرم حمیده واه کینټ.....۱۳ شعبان ۱۳۹۲ھ

جواب: السلام علیکم نه پس دې واضحه وې چه په استفتاء کښې د ذکرشوی سړی معصیت نه مسلم دې او نه مبرهن دې پس صرف د متهم کیدلو د وجه نه ورته څه تعزیر ورکول بې قاعدې کار دې البته په کلی واله باندې فرض دی چه د دې سړی سره د ده لوریانې او خوریانې په یو کور کښې او سیدلو ته پرینږدی. وهو الموفق

د خوم اود خوابنې تعلقاتو سره سخر باندې ښځه نه حرامه کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه څه معذوره سړې یم او د کوم سړی سره چه ما د خپلې لور نکاح کړې ده هغه ځما د ښځې یعنی د خپلې خوابنې سره ناجائز تعلقات قائم کړی دی ایا په دې صورت کښې ځما د لور او دې د خاوند او هم د غسې ځما او ځما د ښځې په مینځ کښې نکاح قائمه پاتې کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عطاء ګل پشاور

الجواب: بشرط صدق ستا لور په خپل خاوند باندې حرامه شوې ده ﴿۱﴾ او په تا باندې خپله ښځه نه ده حرامه شوې البته بهتره داده چه استبراء او کړې یعنې د یو حیض را تللو پورې جماع نه منع شی، کذا فی الدر مع الرد ۲:۸۵۶ ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: واراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا کما فی الوطء الحلال. (البحر الرائق ۳:۱۰۱ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وفی شرح الوهبانیة ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

....

(بقیه حاشیه)لو زنت المرأة لا یقربها زوجها حتی تحیض لاحتمال علوقها من الزنا فلا یسقی ماؤه زرع غیره فلیحفظ لغرابته. قال العلامة ابن عابدین: امر بحفظه لا لیعتمد بل لیجتنب بقرینة قوله لغرابته فان المشهور فی المذهب ان ماء الزنا لا حرمة له لقوله ﷺ للذی شکا الیه امرأته انها لا تدفع ید لامس طلقها فقال انی احبها وهی جمیلة فقال له ﷺ استمتع بها واما قوله فلا یسقی ماؤه زرع غیره فهو وان کان وارداً عنه ﷺ لکن المراد به وطء الحبلیٰ لانه قبل الحبل لا یکون زرعا بل ماء مسفوحا و لهذا قالوا لو تزوج حبلی من زنا لا یقربها حتی تضع لئلا یسقی زرع غیره لان به یزداد سمع الولد وبصره حدة فقد ظهر بما قررناه الفرق بین جواز وطء الزوجة اذا رآها تزنی وبین عدم جواز وطء التی تزوجها وهی حبلی من زنا.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۶۶۷ قبیل فروع باب العدة)

....

باب الحضانة

حق د حضانت او د بچو د نفقې مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید وفات شو یو رور یوه ښځه دوه لوریانې او یو زوئې ئې پریخودل. یوه جینئ د اوو کالو دویمه د پینځو کالو او زوئې ئې د دوو کالو دې اوس که چرته دا ښځه د بچو د غیر محرم سره واده او کړی نو ددې بچو نفقه په مور باندې ده یا په تره باندې، حالانکه د بچو څه خپل مال او جائداد نشته. نیز حق حضانت د مور د پاره دې یا د نانی د پاره دې یا د تره د پاره دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: علی محمد نوشهره صدر ۱۹۹۰ء۱۰۱۱۷

جواب: (۱) که چرته د دې بچو د پاره خپل مال نه وی نو ددوی نفقه به په مور او تره باندې واجبه وی په مور باندې دریمه او په تره باندې دریو کښې دوه حصې (هندیه ۱:۵۸۵)(۱)

(۲) صورت مسئوله حق حضانت د نانی د پاره دې او که چرته نانی نه وی نو د

---

(۱) وفی الهندیة: والنفقة لکل ذی رحم محرم اذا کان صغیرا فقیرا...... ویجب ذلک علی قدر المیراث ویجبر علیه کذا فی الهدایة وتعتبر اهلیة الارث لا حقیقته کذا فی النقایة.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۵۶۶ الفصل الخامس فی نفقة ذوی الارحام)

وقال العلامة ابن عابدین: (قوله والمعتبر فیه القرب والجزئیة لا الارث)...... وان کان کل من الصنفین اعنی الاصول والحواشی وارثا اعتبر الارث ففی ام واخ عصبی او ابن اخ کذلک او عم کذلک علی الام الثلث وعلی العصبة الثلثان بدائع.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۷۳۸ مطلب ضابط فی حصر احکام نفقة الاصول)

دادی دپاره دي (هندیه۱:۵۲۲)﴿۱﴾ اوکه چرته دبچوخیرخواهی دمورپه حضانت کښې وی اودناسکه پلار(زوج الام) په دې باندې راضی وی نوداحق به مورلره وی.(ردالمحتار۲:۸۸۰)﴿۲﴾ وهوالموفق

د پلار مورته د خرچې او نفقې نه ورکولو په شرط باندې د زوئ د حواله کولومسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیوسړی ښځه بدزبانه یعنی زبان دِرازه اودبچونه بې پرواه وه.دپوهه کولوباوجودهم نه پوهه کیدله هرکارکښې ئې دخاوندمقابله کوله.آخرکښې ئې جادوکول هم شروع کړل، کله چه په خط کښې دجادودتعویذونوذکرخاونداوکتلونوښځې ته ئې دریم طلاق هم ورکولوسره جداکړه.اوس دخاوندسره دمطلقې نه درې بچې پاتې شوې دی ددوی عمرونه دهلک شپږکاله،دجینئ څلورکاله دبل هلک درې

﴿۱﴾وفی الهندیة:وان لم یکن له ام تستحق الحضانة بان کانت غیر اهل للحضانة او متزوجة بغیر محرم او ماتت فام الام اولیٰ من کل واحدة وان علت فان لم یکن للام ام فام الاب اولیٰ ممن سواها وان علت، کذا فی فتح القدیر. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۵۴۱ الباب السادس عشر فی الحضانة)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین: قلت الاصوب التفصیل وهو ان الحاضنة اذا کانت تأکل وحدها وابنها معها فلها حق لان الاجنبی لا سبیل له علیها ولا علی ولدها بخلاف ما اذا کانت فی عیال ذلک الاجنبی او کانت زوجة له وانت علمت ان سقوط الحضانة بذلک لدفع الضرر عن الصغیر فینبغی للمفتی ان یکون ذا بصیرة لیراعی الاصلح للولد فانه قد یکون له قریب مبغض له یتمنی موته ویکون زوج امه مشفقا علیه یعز علیه فراقه فیرید قریبه اخذه منها لیؤذیه ویؤذیها اولیاء کل من نفقته او نحو ذلک وقد یکون له زوجة تؤذیه اضعاف ما یؤذیه زوج امه الاجنبی وقد یکون له اولاد یخشی علی البنت منهم الفتنة لسکناها معهم فاذا علم المفتی او القاضی شیئا من ذلک لا یحل له نزعه من امه لان مدار امر الحضانة علی نفع الولد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹۴ باب الحضانة)

کاله دې،دپلارسره ډیرآرام اوراحت سره اوسیږی اوس مطلقه دبچومطالبه کوی دبچوپلارانکاری دې ځکه چه داښځه بداخلاقه اوبې پرواه ده اوس هغې دعدالت په ذریعه دبچوداخستلودهمکی ورکړې ده.پلارئې ویریدلو سره اووئیل که چرته په زبردستې سره بچی بوتلل غواړې نوځه به همیشه دپاره اولیکم اوخرچه وغیره به هم نه درکوم،مطلقې ښځې داقبوله کړه.اوس سوال دادې ایاپه دې لیکلوسره به پلارمجرم وی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدحسین راولپنډی شهر......۱۹۸۸ء/۱۱/۲۱

جواب: دابچی خواه موافق ثابت وی یامخالف ستابچیان دی اوحق حضانت بهرحال ددې مطلقې دپاره دې ترڅوپورې چه ته ددې مطلقې نااهلیت ثابت نه کړې﴿۱﴾اودبچونفقه تاحین بلوغ په تاباندې واجب ده﴿۲﴾اوددې مطلقې (حاضنې) نفقه هم ته تاباندې واجب ده البته دادویم قابل اسقاط دې په خلاف داول﴿۳﴾وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: (الحضانة) تثبت للام النسبیة ولو...... بعد الفرقة الا ان تکون مرتدة ...... او فاجرة فجورا یضیع الولد به کزنا وغناء وسرقة ونیاحة کما فی البحر. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۸۸ باب الحضانة)

﴿۲﴾قال العلامة المرغینانی: ونفقة اولاد الصغار علی الاب لایشارکه فیها احد کما لا یشارکه فی نفقة الزوجة لقوله تعالیٰ: وعلی المولود له رزقهن والمولود له هو الاب. (هدایة ۲:۴۴۷ فصل فی نفقة الاولاد الصغار)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله اذا لم تکن منکوحة ولا معتدة لابیه) هذا قید فیما اذا کانت الحاضنة اما فلو کانت غیرها فالظاهر استحقاقها اجرة الحضانة بالاولیٰ وقوله لابیه احتراز عما لو کانت فی نکاح او عدة رجل غیر الاب فانها تستحق الاجرة علیها لکن اذا کان الناکح محرماً للصغیر والا فلا حضانة لها کما مر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹۱ باب الحضانة)

د بچی تربیت ناسکه پلارکړي دي، آیا وارثان دواپسي حق لرلي شي؟

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلي باره کښي چه یو سړی دکونډي ښځي سره نکاح اوکړه دي ښځي سره دسابقه خاوندنه یوه وړه لور(ددري څلورو میاشتو) هم وه، ورسره راغله حالانکه دنکاح په وخت ددي تذکره نه ده شوي نه دنفقي څه تذکره وارثانو اوکړه، اوس جینئ چه کله دشپږو کالو شوه نود جینئ وارثان جینئ واپس غواړی اودادویم خاوند دجینئ نفقه اوخرچه غواړی ایاهغوی داجینئ واپس اخستلي شي؟ که چرته اخستلي شي نو هغوئ ته به خرچه ورکول هم پریوزی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی غلام قادرملهو ګیدړ پور هزاره......۱۹۶۹ء۱۸۱۱۲۰

جواب: (۱) که چرته داوارثان مفت تربیت کول غواړی اومورد لور په ترکي سره تربیت کوی نووارثان دي جینئ لره واپس اخستلي شی، اوکه چرته مور دځپل خاوند (زوج ثانی) په مال سره دهغه په خوشحالي سره دبچی تربیت کوی نوواپس ئي نشی اخستلي.

یدل علیه مفهوم ما فی الدرالمختار وفی الحاوی تزوجت باجنبی وطلبت تربیته بنفقة والتزمه ابن عمه مجانا ولا حاضنة له فله ذلک انتهی﴿۱﴾ والمفهوم معتبر ههنا عندنا ایضاً.

(۲) چونکه موروغیره تبرع کړي دي بغیردڅه مجبوري نه لهذا خرچه نشی اخستلي﴿۲﴾وهوالموفق

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۹۰ باب الحضانة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وفی المنیة تزوجت ام صغیر توفی ابوه وارادت تربیته بلا نفقة مقدرة واراد وصیه تربیته بها دفع الیها لا الیه، قال ابن عابدین: بلا نفقة ای من مال الصغیر الموروث له من ابیه فتح وظاهره ان المراد نفقة الصبی والظاهر ان اجرة الحضانة کذلک.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۶۸۹، ۶۹۰ باب الحضانة)

د مظلومي مطلقي د خرچي اود بچی د اجرت حضانت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلي باره کښي چه دیوښځي دنکاح ګڼلونه یو کال پس لورپیدا شوه، سخرګنئ سره دلورنه دکورنه بهرکړله. پینځه میاشتي دمورپلارکره اوسیدله اوبیائي مورپلارته اووئیل چه مابار بارد خاوند کورته مه لیږئ، ځماخاوندبي وقوف دي باربارمي دکورنه اوباسی ښځه مجبورادمورپلارسره لاړله، ددوو کالونه پس ورته طلاق ملاؤسو ایا دا ښځه ددوو کالو مخکښي دطلاق نه خپله خرچه اونفقه اودلورخرچه اونفقه اخستلي شی؟ اودطلاق نه پس دلورخرچه څومره وخته پورې اوڅومره اخستلي شی اوڅومره وخته پوري به لوردمورنه جداکولي نشی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدانورشاکرتوبه ضلع اټک ۱۴\۱۱رمضان المبارک ۱۴۰۳ء

الجواب: ددي ښځي خاوندباندي ددوو کالوخرچه (دښځي اودلوردواړو) واجب ده داښځه ناشزه نه ده مظلومه ده﴿۱﴾ نیزدي خاوندباندي طلاق ورکولونه پس د عدت خرچه واجب ده اوعدت تیریدلونه پس دلورخرچه او اجرت حضانت هم په دي خاوندباندي واجب الادادي﴿۲﴾ (شامی باب الحضانة والنفقات) وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: فتجب للزوجة علی زوجها...... ولو هی فی بیت ابیها اذا لم یطالبها الزوج بالنقلة به یفتی و کذا اذا طالبها ولم تمتنع. (الدرالمختار ۲: ۷۰۱ باب النفقة)

قال العلامة ابن عابدین: فالحاصل ان الفرقة اما من قبله او من قبلها فلو من قبله فلها النفقة مطلقا سواء کانت بمعصیة اولا طلاقا او فسخا وان کانت من قبلها فان کانت بمعصیة فلا نفقة لها ولها السکنی فی جمیع الصور.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷۲۷ قبیل مطلب الصغیر والمکتسب نفقة الخ)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد امین الشامی: کان من جملتها الانفاق علی حاضنته التی حبست نفسها لاجله عن التزوج ومثلها اجرة ارضاعه فلم تکن......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د مور د غیرمحرم سره نکاح کولو سره حق د حضانت ساقط کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دخاوند اوښځې په مینځ کښې جدائی راغلې اوددوی دوه بچیان دی، مطلقې روستو په غیرخاندان کښې نکاح اوکړه په دې صورت کښې دبچودپرورش حق چاته دې؟ حالانکه دپلارنه علاوه دبچودصحیح پرورش کولوالاڅوک نشته؟ شرعی طوربانديې په پلاریامطلقه کښې څوک ددې بچودپرورش حق لری؟ بینوا توجروا .

المستفتی: نورمحمد

الجواب: دغیرمحرم سره نکاح کولوسره حق حضانت ساقط کیږی، لمافی الـدر المختار: اومتزوجه بغیرمحرم الصغیر﴿۱﴾ وبمعناه فی جمیع کتب الفتاوٰی﴿۲﴾، لهذا دا بچیان به نیکه یاتروروغیره ته حواله کولې شی، اوکه چرته په ښځوکښې څوک ملاؤنشی نودپلارپه حواله کولې به شی، لمافی الهندیه: واذاوجب الانتزاع من النساء اولم یکن للصبی امراة من اهله یدفع الی العصبه فیقدم الاب الخ﴿۳﴾

(بقیه حاشیه) اجرة خالصة من کل وجه حتی ینافیها الوجوب بل لها شبه الاجرة وشبه النفقة فاذا کانت منکوحة او معتدة لابیه لم تستحق اجرة لا علی الحضانة ولا علی الارضاع لوجوبها علیها دیانة ولان النفقة ثابتة لها بدونها بخلاف ما بعد انقضاء العدة فانها تستحقها عملا بشبه الاجرة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۹۱ قبیل مطلب فی لزوم اجرة مسکن الحضانة)

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۸۹ باب الحضانة)

﴿۲﴾ قال العلامة المرغینانی: اذا وقعت الفرقة بین الزوجین فالام احق بالولد...... فقال علیه السلام انت احق به مالم تتزوجی. (هدایه ۲: ۴۳۸ باب حضانة الولد ومن احق به)

﴿۳﴾ (فتاوىٰ عالمگیریه ۱: ۵۴۲ الباب السادس عشر فی الحضانة)

نوټ:......واضحه دې وی که چرته شرعی مستحق په دې باندې راضی وی چه بچیان دې دمورسره اوسیږی نوداڅه ګناه نه ده﴿۱﴾. وهوالموفق

د پلاراو د مور په مینځ کښې د تفریق نه پس د بچی د حضانت او د ثبوت نسب مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځمادبی اې پاس دلور واده دوریرې دزوئ سره اوکړې شو.لیکن ځماوریره اودهغې زوئ ځما دلور تنګول شروع کړل بالاخرپه څلورم نومبر۱۹۸۸ءماخپله لور د سخر والو د کورنه راوستله ددې نه پس معلومه شوه چه د جینئ دامیددې چنانچه ماپه فیملی کورټ کښې دنکاح تنسیخ کولودعوی اوکړه اوددې سره مې ددې د حمل ذکرهم اوکړو، دمقدمې په دوران کښې معتبراونیکوخلقودصلح د صفائی دپاره هم کوشش اوکړوهغه ددې خلقودبې انصافودوجه نه څه نتیجه رانخکله.په دې دوران کښې هلک ته اووئیلې شوچه دښځې حمل دې مګر هغه اوئیل چه حمل ځمادنطفې نه نه ده اوځه لسوبچولره هم په موربانديې قربان کولې شم اوقربان کوم، (ددې خبرې ګواه هم موجوددې) په اوویشتم جولائی ۱۹۸۹ء هلک پیداشواوجنورئ ۱۹۹۰ءکښې اچانک دهلک دځپل کولو دپاره ئې نوټس ورکړواوپه پینځم مارچ په عدالت کښې ئې دعوی هم دائره کړه اوس هم روانه ده اوس سوال دادې چه ایافریق ثانی ته شرعاداماشوم ملاویدې شی؟ نیزداماشوم به دکوم فریق سره وی ځکه چه تنسیخ نکاح مخکښې شویده؟ بینوا توجروا

المستفتی:م،د،ج،راجه اسلام آباد......۱۹۹۰ء۱۵۱۵۱

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: عن المفتی ابی السعود مسئلة فی رجل طلق زوجته ولها ولد صغیر منه واسقطت حقها من الحضانة وحکم بذلک حاکم فهل لها الرجوع یأخذ الولد الجواب نعم لها ذلک فان اقوی الحقین فی الحضانة للصغیر ولئن اسقطت الزوجة حقها فلا تقدر علی اسقاط حقه ابدًا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۹۰ باب الحضانة)

د مور د غیرمحرم سره نکاح کولو سره حق د حضانت ساقط کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دخاوند اوښځې په مینځ کښې جدائی راغله اوددوی دوه بچیان دی، مطلقې روستوپه غیرخاندان کښې نکاح اوکړه په دې صورت کښې دبچودپرورش حق چاته دې؟ حالانکه دپلارنه علاوه دبچودصحیح پرورش کولو والاڅوک نشته؟ شرعی طورباندې په پلاریامطلقه کښې څوک ددې بچودپرورش حق لری؟بینوا توجروا

المستفتی: نورمحمد

الجواب: دغیرمحرم سره نکاح کولو سره حق حضانت ساقط کیږی،لمافی الدر المختار: اومتزوجه بغیرمحرم الصغیر﴿۱﴾ وبمعناه فی جمیع کتب الفتاویٰ﴿۲﴾، لهذا دا بچیان به نیکه یاتروروغیره ته حواله کولې شی، اوکه چرته په ښځو کښې څوک ملاؤنشی نودپلارپه حواله کولې به شی،لمافی الهندیه:واذاوجب الانتزاع من النساء اولم یکن للصبی امراة من اهله یدفع الی العصبه فیقدم الاب الخ﴿۳﴾

(بقیه حاشیه) اجرة خالصة من کل وجه حتی ینافیها الوجوب بل لها شبه الاجرة وشبه النفقة فاذا کانت منکوحة او معتدة لابیه لم تستحق اجرة لاعلی الحضانة ولا علی الارضاع لوجوبها علیها دیانة ولان النفقة ثابتة لها بدونها بخلاف ما بعد انقضاء العدة فانها تستحقها عملا بشبه الاجرة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹۱ قبیل مطلب فی لزوم اجرة مسکن الحضانة)

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۸۹ باب الحضانة)

﴿۲﴾ قال العلامة المرغینانی: اذا وقعت الفرقة بین الزوجین فالام احق بالولد...... فقال علیه السلام انت احق به مالم تتزوجی. (هدایه ۲:۴۳۸ باب حضانة الولد ومن احق به)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۵۴۲ الباب السادس عشر فی الحضانة)

نوټ:......واضحه دې وی که چرته شرعی مستحق په دې باندې راضی وی چه بچیان دې دمورسره اوسیږی نوداڅه ګناه نه ده﴿۱﴾ وهوالموفق

د پلاراو د مور په مینځ کښې د تفریق نه پس د بچی د حضانت او د ثبوت نسب مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځمادبی اې پاس دلور واده دوریږي دزوئ سره اوکړې شو.لیکن ځماوریره اودهغې زوئ ځما د لور تنګول شروع کړل بالاخرپه څلورم نومبر۱۹۸۸ءماخپله لور د سخروالو د کورنه راوستله ددې نه پس معلومه شوه چه د جینئ دامیددې چنانچه ماپه فیملی کورټ کښې دنکاح تنسیخ کولودعوی اوکړه اوددې سره مې ددې د حمل ذکرهم اوکړو،دمقدمې په دوران کښې معتبراونیکوخلقودصلح د صفائی دپاره هم کوشش اوکړوهغه ددې خلقودبې انصافودوجه نه څه نتیجه راونخکله.په دې دوران کښې هلک ته اووئیلې شوچه دښځې حمل دې مګر هغه اووئیل چه حمل ځمادنطفې نه نه ده اوځه لسوبچولره هم په موروباندې قربان کولې شم اوقربان کوم،(ددې خبرې ګواه هم موجوددې) په اوویشتم جولائی ۱۹۸۹ء هلک پیداشواوجنوری ۱۹۹۰ءکښې اچانک دهلک دخپل کولو دپاره ئې نوټس ورکړواوپه پینځم مارچ په عدالت کښې ئې دعوی هم دائره کړه اوس هم روانه ده اوس سوال دادې چه ایافریق ثانی ته شرعاداماشوم ملاویدې شی؟ نیزداماشوم به دکوم فریق سره وی ځکه چه تنسیخ نکاح مخکښې شویده؟ بینوا توجروا

المستفتی:م،د،ج،راجه اسلام آباد......۱۹۹۰ء۱۵۱۵۱

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: عن المفتی ابی السعود مسئلة فی رجل طلق زوجته ولها ولد صغیر منه واسقطت حقها من الحضانة وحکم بذلک حاکم فهل لها الرجوع یأخذ الولد الجواب نعم لها ذلک فان اقوی الحقین فی الحضانة للصغیر ولئن اسقطت الزوجة حقها فلا تقدر علی اسقاط حقه ابدًا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹۰ باب الحضانة)

الجواب: مسئله شرعیه داده چه داهلک ددغه پلارنه ثابت النسب دي لحدیث: الولد للفراش﴿۱﴾ولتصریح الفقهاءبه﴿۲﴾ البته داهلک به داوؤه کالو کیدلو پورې مورسره اوسیږی او روستو به اشفق ته حواله کولې شی (ردالمحتار باب الحضانة)﴿۳﴾وهوالموفق

د خلع په صورت کښې د اووۀ کالو کیدلو پورې بچی به د مورسره اوسیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ښځه خاوند په خلع باندې راضی شول مګراوس دبچومعامله ده چه هغه به دمورسره اوسیږی یا د پلارسره، په دې باره کښې شرعی حکم څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: حامدشاه مسجد دلاورخان پشاور

الجواب: مورددې بچودپرورش مستحقه ده تردې چه دابچی داووکالوشی ددې نه پس به دابچی پلارته حواله کولې شی، ددې پلاراومورد مرضې نه بغیر دا

﴿۱﴾عن ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه قال قال رسول اللهﷺ الولد للفراش وللعاهر الحجر. (سنن ترمذی ۱:۳۴۹ باب ماجاء ان الولد للفراش)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: قال اصحابنا لثبوت النسب ثلاث مراتب الاولیٰ النکاح الصحیح وما هو فی معناه من النکاح الفاسد والحکم فیه انه یثبت النسب من غیر دعوة ولا ینتفی بمجرد النفی.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۵۳۶ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب)

﴿۳﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله والحاضنة احق بالغلام) حتی یستغنی عن النساء بان یاکل ویشرب ...... وقدر بسبع وهو قریب من الاول بل عینه...... وبعد صفحة...... فیتعین الافتاء بولایة ضمه لکل من یؤتمن علیه من اقاربه ویقدر علی حفظه الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹۵،۶۹۷ باب الحضانة)

حق ددوی نه څوک نشی اخستلې (ماخوذازشرح التنویرعلی هامش ردالمحتار ۲:۸۸۱)﴿۱﴾وهوالموفق

د غیرمحرم سره د وادۀ په صورت کښې د مورحق حضانت ساقطیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی واده اوکړو دهغه نه دوه هلکان اویوه جینۍ پیداشول اوهغه وفات شوه، روستوده دویم وادۀ اوکړوددویمې ښځې نه هم دوه هلکان اویوه جینۍ پیداشوه روستو داسړې وفات شواوترکه وغیره تقسیم شول ښځې اتمې حصې وصول کولونه پس بل ځائې کښې واده اوکړو، اوس ناسکه رورخورچه غټ دی اصرارکوی چه ددې نابالغې خور رورپرورش مونږکووحالانکه سکه مورئې وائي چه ددوی تربیت اوپرورش به شرعاځماحق دې بلوغ پورې، داحق شرعاچاته حاصل دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی غلام رسول......۱۹۷۸ء/۱۷/۳۰

جواب: دغیرمحرم سره دواده کولوپه صورت کښې دمورحق حضانت ساقط کیږی، کمافی شرح التنویر: اومتزوجه بغیرمحرم الصغیر، (هامش ردالمحتار ۲:۸۷۳)﴿۲﴾ پس دابچیان به نیاوغیره ښځووته حواله کولې شی اوکه

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: والحاضنة اما او غیرها احق بالغلام حتی یستغنی عن النساء وقدر بسبع وبه یفتیٰ لانه الغالب ولو اختلفا فی سنه فان اکل وشرب ولبس واستنجی وحده دفع الیه ولو جبرا والا لا والام والجدة احق بها حتی تحیض...... وغیرهما احق بها حتی تشتهی وقدر بتسع وبه یفتی، وقال ابن عابدین: ولا یملک احدهما ابطال حق الولد من کونه عند امه قبل السبع وعند ابیه بعدها.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۹۵ باب الحضانة)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۸۹ باب الحضانة)

چرته باقاعده ښځي پیدانه شوې نو دغه علاتی رورته به حواله کولي شي، کمافی شرح التنویر: ثم العصبات بترتیب الارث الخ﴿۱﴾. وهو الموفق

د نیکه او مور د پاره د حق حضانت او د ولایت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلې باره کښې چه فاطمه د مولانا عبدالغنی خورزه او د رحمت الله مرحوم لورده. اوس د نیکه او د مور په دې باندې جهګړه ده هر یو د حضانت دعوی کوی چه اوس دا جینۍ څما ده د جینۍ عمر یولس کاله دې شرعی حکم څه دې. جواب په فارسی یا پښتو کښې راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: نعمت الله افغانستان...... ۲۹؍۹؍۱۹۸۵ء

الجواب: اګر عداوت و بدخواهی مولوی عبد الغنی بای دختر پسر مسماة فاطمه نه تسلیم شده باشد و نه به بینه عادله ثابت شده باشد، پس حق ولایت برائ ای جد مسمی مولوی عبد الغنی باشد نه برائے مادر، زیرانچه حق حضانت مادر برقول مفتی به ختم شده است﴿۲﴾ وهو الموفق

د نابالغې لور حضانت نیا د پاره دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلې باره کښې چه یوه ښځه وفات شوې ده یو اووکلن زوئ او شپږکلنه لورئې پاتې شوې دی د دې بچو نیا زوئ پریخودلو او لورئې په زبردستې سره پخپله قبضه کښې واخستله. حالانکه د بچو پلار

﴿۱﴾ (الدر المختار على هامش رد المحتار ۲: ۶۹۳، مطلب لو كانت الاخوة او الاعمام غير مأمونين)

﴿۲﴾ وفی الهندية: والام والجدة احق بالجارية حتى تحيض وفی نوادر هشام عن محمد رحمه الله تعالیٰ اذا بلغت حد الشهوة فالاب احق وهذا صحيح...... وبعد ما استغنى الغلام وبلغت الجارية فالعصبة اولى يقدم الاقرب فالاقرب كذا فی فتاویٰ قاضی خان.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۵۴۲ الباب السادس عشر فی الحضانة)

ژوندي دي. ایا د پلار او د ترور یانو (د پلار د خور) په موجودګئ کښې نیا ته د دې نابالغې د تربیت حق حاصل کیدلې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی شبیر احمد احمد پور شرقیه...... ۱۲ رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: د مفتی به قول په بنیاد باندې د دې نمسۍ حق حضانت نهو کالو پورې نیا ته حاصل دې دې نه پس به باقاعده پلار ته حواله کولې شي﴿۱﴾ وهو الموفق

حق حضانت، نفقه، اجرة الرضاع وغیره

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلې باره کښې چه دیو سړي او ښځې نکاح مئ ۱۹۲۸ء کښې اوشوه دوه کالو پورې د ښځې خاوند په حیثیت سره اوسیدل لیکن خوانبې اوندې وغیره ښځه نه خوښوی. مخکښې هم یو مرتبه هغوئ د مور پلار کورته اولیږله لیکن روستو بیا راوسته. بیا کله چه هغه حامله شوه نو اووه میاشتې پس بیا دوی مور پلار کره روانه کړه. چه ته هلته لاړه شه اوسیږه که چرته هلک پیدا شو نو مونږ به دې راولو او حصاره به دې کړو او که چرته جینۍ پیدا شوه نو مونږ دې نه حصاروو. دوه میاشتې پس ۱۹۷۰ء کښې مور کره جینۍ پیدا شوه. او په فروری ۱۹۷۱ء کښې دوی بغیر د څه وجه نه دیونین کونسل په معرفت رجسټری کولو سره طلاق اولیږلو، چه درې میاشتې پس وصول شو، د حق مهر کالی (پینځه سوه) روپې هم هغوئ واخستل، او جهیز (زر روپئ ئې) هم ورنه کړې، مطلقې شپږ میاشتې پس د جینۍ د خرچې دعوی اوکړه. په جولائ ۱۹۷۳ء کښې عدالت دیرش روپئ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: والام والجدة...... احق بها بالصغيرة حتى تحيض...... وغيرهما احق بها حتى تشتهى وقدر بتسع وبه يفتى، قال ابن عابدين: وبلوغها اما بالحيض او الانزال او السن، قال فی البحر لانها بعد الاستغناء تحتاج الى معرفة آداب النساء والمرأة على ذلك اقدر وبعد البلوغ تحتاج الى التحصين والحفظ والاب فيه اقوىٰ واهدىٰ.

(الدر المختار على هامش رد المحتار ۲: ۶۹۵ باب الحضانة)

دمياشتې خرڅه مقررکړه، چه دجولائ ۱۹۷۳ء نه ملاويږي اوس هغه سړې يعنې دجينئ پلاردجينئ مطالبه کوي چه جينئ ماته راکړئ، حالانکه هغه دويم واده هم کړې دې دښځې کوروالادجينئ موروغيره جينئ ورکول نه غواړي ځکه چه دجينئ پلارنيکه، نيا، ترور، وغيره ته کله چه دجينئ مور ښه نه لگي، نيزدجينئ دکيدلو دوجه نه ددې مورته ئې طلاق ورکړو، نودوی به جينئ څرنگه مينې اومحبت سره اوساتي اوپرورش به اوکړي خصوصًا د ناسکه موربه ددې سره څه مينه وي ځکه چه پلارتمامه ورځ بهرکارباندې وي اوجينئ به دناسکه مورپه رحم اوکرم باندې ،خلاصه داچه داجينئ ددوی نه غواړي چه دمياشتې خرڅې نه بچ شو ،اوس سوال دادې چه:

(۱) مورکومه پورې جينئ دخپل ځان سره ساتلې شي کله چه نکاح ثاني نه کوي.

(۲) که چرته دجينئ موردغيرسره نکاح اوکړي نوايابياهم جينئ دځان سره ساتلې شي که چرته ساتلې شي نوکومه پورې؟

(۳) که چرته نکاح دکوم رشته دارمثلادماما ،دترور ،دتره وغيره سره اوکړي شي نوبيائې ترکومه پورې دخپل ځان سره ساتلې شي؟

(۴) اياجينئ نيا ،ترور ،ماماد خپل ځان سره ساتلې شي؟

(۵) کله چه مورجينئ دخپل ځان سره ساتلې وي اوځان سره ئې ساتل غواړي اوپلاردجينئ مطالبه کوي (قانون کښې خوئې نشې اخستلې) نوايا په دې صورت کښې دجينئ دپلارنه دعدالت مقررکړې شوې خرڅه اخستل جائزدي يانه؟ که چرته جائزوي نوترکومه پورې اخستل جائزدي؟

(۶) که چرته خرڅه اخستل بندکړې شي نوايابياهم دجينئ پلارجينئ لره اخستلې شي؟

(۷) عدالتي قانون کښې خوجينئ بالغه کيدلوپورې دمورسره اوسيدلې شي پلارئې نشي اخستلې ،ليکن دشريعت څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: راجه غلام احمد......۲۳/۱۲/۱۹۷۵ء

جواب: (۱) دمفتىٰ به قول په بنيادباندې نهوکالوپورې حق حضانت اوپرورش دې (ردالمحتار ۳:۸۸۲) ﴿۱﴾

(۲) د وادۀ په وجه به داحق نياته منتقل کيږي نيزدعرف اوتجربې نه معلومه ده چه دناسکه مورسره اوسيدل ضررمحض دې لهذا دپلاردامطالبه دشريعت خلاف ده (باب الحضانة ۲:۸۸۰) ﴿۲﴾

(۳) که چرته واده ددې لوردمحرم سره شوې وي نوحق حضانت به په خپل حال باقي وي ﴿۳﴾

(۴) نيا او ترورساتلې شي ﴿۴﴾

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: والام...... احق بها بالصغيرة حتى تحيض...... وغيرهما احق بها حتى تشتهى وقدر بتسع وبه يفتىٰ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۶۹۵ باب الحضانة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي: ثم اى بعد الام بان ماتت او لم تقبل او اسقطت حقها او تزوجت باجنبى ام الام وان علت عند عدم اهلية القربىٰ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۶۹۲ باب الحضانة)

﴿۳﴾ وفى الهندية: وانما يبطل حق الحضانة لهؤلاء النسوة بالتزوج اذا تزوجن باجنبى فان تزوجن بذى رحم محرم من الصغير كالجدة اذا كان زوجها جد الصغير او الام اذا تزوجت بعم الصغير لا يبطل حقها كذا فى فتاوىٰ قاضى خان.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۵۴۱ الباب السادس عشر فى الحضانة)

﴿۴﴾ قال العلامة المرغيناني: فان لم تكن له ام فام الام اولىٰ من ام الاب...... وفى رواية الخالة اولىٰ من الاخت لاب لقوله عليه السلام الخالة والدة...... ثم الخالات اولىٰ من العمات الخ.

(هداية ۲:۴۳۹ باب حضانة الولد ومن احق به)

(۵) دجینئ موردې قسمه خرچه اخستلې شی نهو کالو پورې نفقة الولد.
أجرت الرضاعة والحضانة(شامی ۲:۸۷۲)﴿۱﴾

(۶) نشی اخستلې﴿۲﴾.

(۷) په ظاهرروایت کښې داحق بلوغ پورې دې لیکن په مفتی به قول کښې نهو کالوپورې دې(شامی ۲:۸۸۲)﴿۳﴾ وهوالموفق

د ولد الزنا پرورش د مور ذمه واری ده

سوال: څه فرمائی علماء‌دین دې مسئلې باره کښې چه کومه لورد حرام حمل یعنی د زنانه پیداشوې وی دهغې دپرورش ذمه وارزانی دې که مزنیه؟بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالواحدچغرمتی......۱۹۷۳ء/۳/۲۵

الجواب: دغیرثابت النسب(ولدحرام) بچی نسبت دمورطرفته کیږی. کمافی الهندیه ۴:۱۲۷ اذازنی رجل بامراة فجائت بولدفادعاه الزانی لم یثبت نسبه منه و اما المرأة فیثبت نسبه منها﴿۴﴾ پس ددې بچی حضانت دمورذمه داری ده. کمافی الدرالمختارالحضانة تثبت للام النسبیه ۲:۶۸۸﴿۵﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: قال فی البحر فعلی هذا یجب علی الاب ثلاثة اجرة الرضاع واجرة الحضانة ونفقة الولد ومثله فی الشرنبلالیة.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹۲ مطلب فی لزوم اجرة مسکن الحضانة)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: تزوجت ام صغیر توفی ابوه وارادت تربیته بلا نفقة مقدرة واراد وصیه تربیته بها دفع الیها لا الیه ابقاء لماله.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۹۰ باب الحضانة)

﴿۳﴾(مرحوالته فی شق الاول من هذا الجواب)

﴿۴﴾(فتاویٰ عالمگیریه ۴:۱۲۷ کتاب الدعویٰ الفصل الثامن فی دعوة الولد من الزنا وما فی حکمه)

﴿۵﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۸۶ باب الحضانة)

باب الولیمة

ولیمه مسنون ده واجب نه ده

سوال: څه فرمائی علماء‌دین دې مسئلې باره کښې چه ددعوت ولیمه حیثیت د واجب دی یاسنت؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی اکبرخان واړی دیر......۱۹۷۹ء/۱/۳۱

جواب: ولیمه زمونږ په نزدمسنون ده.

کمافی الهندیة۵:۳۴۳ وولیمة العرس سنة وفیها مثوبة عظیمة انتهیٰ﴿۱﴾ واما فی الحدیث اولم ولو بشاة، فهذا الامر للوجوب عند بعض اصحاب الشافعی لظاهر الامر، وهو للاستحباب عند الجمهور والمعتبر ذوق المجتهد﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۴۳ الباب الثانی عشر فی الهدایا والضیافات)

﴿۲﴾قال العلامة النووی: واما ولیمة العرس فقد اختلف اصحابنا فمنهم من قال هی واجبة...... ومنهم من قال هی مستحبة.
(المجموع شرح المهذب ۱۵:۵۴۸ باب الولیمة والنثر)

وقال فی شرح مسلم: واختلف العلماء فی ولیمة العرس هل هی واجبة ام مستحبة والاصح عند اصحابنا انها سنة مستحبة ویحملون هذا الامر فی هذا الحدیث علی الندب وبه قال مالک وغیره واوجبها داؤد وغیره.
(نووی علی مسلم ۱:۴۵۸ باب فضیلة اعتاق امة ثم یتزوجها)

وقال الشیخ محمد زکریا: قال الموفق لا خلاف......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

......

د واده نه مخکښې د ولیمې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه بعض خلق وائی چه صحبت نه مخکښې ولیمه جائزنه ده ددې شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مشتاق احمد پاک فضائیه رسالپور......۲۶؍۱۰؍۱۹۷۲ء

جواب: ولیمه دنکاح یا واده دصحبت نه پس مسنون ده﴿۱﴾اوکوم طعام چه ددې نه مخکښې خوړلې شوې وی هغه ولیمه نه ده البته دعوت دې هغه جائزدې څنګه چه د زوال نه پس نوافل کول صحیح دی لیکن اشراق نه دې لیکن د نوافلو نه خارج نه دې﴿۲﴾وهوالموفق

(بقیه حاشیه) بین اهل العلم ان الولیمة سنة فی العرس...... ولیست واجبة فی قول اکثر اهل العلم. (اوجز المسالک ۹:۳۳۵ باب ماجاء فی الولیمة)

قال الملا علی قاری: اولم ولو بشاة ای اتخذ ولیمة، قال ابن الملک: تمسک بظاهره من ذهب الی ایجابها والاکثر علی ان الامر للندب.

(مرقاة المفاتیح ۶:۳۶۶ باب الولیمة)

﴿۱﴾قال الملا علی قاری: قیل انها تکون بعد الدخول وقیل عند العقد وقیل عندهما واستحب اصحاب مالک ان تکون سبعة ایام والمختار انه علی قدر حال الزوج.

(مرقاة المفاتیح ۶:۳۶۶ باب الولیمة الفصل الاول)

﴿۲﴾وفی المنهاج: والولیمة قیل تکون بعد البناء وقیل تکون عند العقد کما فی المرقاة وغیره فما یطعم قبل العقد او البناء لا تکون ولیمة وسنة وعبادة بل یکون طعاما محضاً ونظیره ما رواه البخاری ان النبی ﷺ جعل ذبیحة من ضحی قبل الصلاة لحما لا بدعة وحراما، وبالجملة ان بفوات الوقت فی العبادات الموقتة یفوت معنی العبادة دون الحل، کیف وقال رسول الله ﷺ اذا دعا احدکم اخاه فلیجبه عرسا کان او غیر عرس رواه ابوداؤد. (منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۲۵۰ باب ماجاء فی الولیمة)

د جینئ اوهلک والو د طرف نه د ولیمی وغیره مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې دجینئ والوډطرف نه په واده کښې د روټې ورکولوڅه حقیقت دې اودهلک هم دنکاح نه مخکښې روټې ورکوی داڅنګه ده؟ اودغیرمحارم دپاره ناوې په ډولې کښې د بوتللوڅه مسئله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحکیم ګندف صوابی......۱۲۲رمضان ۱۴۰۵ھ

جواب: دجینئ والوډطرف نه چه کومه روټې ورکولې شی هغه دثواب او د ولیمې په اراده سره نه ورکولې کیږی لهذاداروټې ورکول بدعت شرعی نه دې صرف یورواج دې،لکه څنګه چه دقرآن ترجمه په نوروزبوکښې کولې شی اوهم دغه رنګ چه کومه روټې اوطعام دهلک والوډطرف نه دواده اودبیاه نه مخکښې ورکولې شی دارسم دې عبادت اوولیمه نه ده ځکه چه دوولیمه د قربانئ پشان عبادت موقته دې اوکوم څاروئ چه د اختر د مونځ نه مخکښې ذبحه کړې شی هغه عبادت نه دې.البته دهغې خوراک جائزدې هم دغه شان داهم،اوکوم روټې چه د واده بیاه نه پس ورکړئ شی هغه عبادت دې څنګه چه ختنه سنت اوعبادت دې،نعم بقی فی عصرناالرسم ورفعت الحقیقة﴿۱﴾

تنبیه:......لم یکن الذین یحملون هودج امهات المؤمنین من محارمهم وزفت عائشه بالنهارضحی،وهوالموفق

﴿۱﴾وفی المنهاج: الولیمة اسم للطعام فی العرس خاصة کما روی عن ثعلب وغیره وقال بعض الفقهاء انها تقع علی کل طعام لسرور حادث الا ان استعمالها فی طعام العرس اکثر، والولیمة قیل تکون بعد البناء وقیل تکون عند العقد کما فی المرقاة وغیره فما یطعم قبل العقد اوالبناء لا تکون ولیمة وسنة وعبادة بل یکون طعاما محضا، ونظیره ما رواه البخاری ان النبی ﷺ جعل ذبیحة من ضحی قبل الصلاة لحما لا بدعة وحراما، وبالجملة ان بفوات الوقت فی العبادات الموقتة یفوت معنی العبادة ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د دعوت ولیمې نه مخکښې د ګانو او ډهول وغیره په صورت کښې د ولیمې د خوړلوحکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زمونږ دارواج دې کله چه ناوې دزلمی کورته راوستلې شی نوتماشګیر ډول غږوی ډول غږولو کښې ځوانان خلق بهنګړا اچوی اوګډیږی اوسندرې وائی اوهم دغه شان ښځې جداځائ کښې ګډیږی اوسندرې وائی دمعامله دناوې دراوستلوپورې کوی ددې نه پس اچانک ډول اوتماشې ختمې شی بیادولیمې په تیارئ کښې ځناوروغیره ذبحه کړئ شی اوپه خوراک اوطعام کښې دعوت عام اوکړئ شی نوددې دعوت دخوړلوڅه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمیدایس وی لدهاجنوبی وزیرستان...... ۱۹۷۵ء۱۱۹۱

الجواب: چونکه دالهواولعب وغیره مقام دعوت کښې نه وی لهذاددې خوراک به مکروه نه وی، کمایشیرالیه کلامهم دعی الی ولیمة وثمة لعب اوغناء الخ (ردالمحتار کتاب الکراهیه)﴿۱﴾.وهوالموفق

(بقیه حاشیه)دون الحل کیف وقال رسول الله ﷺ اذا دعا احدکم اخاه فلیجبه عرسا کان اوغیر عرس رواه ابوداؤد. ثم هی سنة واجابتها واجب کالسلام، واما اجابة دعوة الختان فلا بأس به عندنا کما فی الخلاصة لاینبغی التخلف عن الدعوة العامة کدعوة العرس والختان، وهوقول مالک والشافعی وقد دعی احمد الی ختان فاجاب واکل کما فی المغنی الخ.

(منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۲۵۰، ۲۵۱ باب ماجاء فی الولیمة)

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: دعی الی ولیمة وثمة لعب او غناء قعد واکل لو المنکر فی المنزل فلو علی المائدة لا ینبغی ان یقعد بل یخرج معرضا لقوله تعالیٰ: فلا تقعدبعد الذکری مع القوم الظالمین.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵:۲۴۵ کتاب الحظر والاباحة)

بغیر د خودنې او ریاء نه څو ورځو پورې ولیمه کول ممنوع نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه بعض خلق څو ورځو پورې دعوت ولیمه کوی ایادیوورځې نه زیاته هم ولیمه کول جائزدی؟بینوا توجروا

المستفتی: احمدمحمود لاهور

جواب: جائزده په دې کښې ممانعت نشته، کمافی البیهقی وعبدالرزاق وابن ابی شیبة﴿۱﴾عن السلف انهم اولموا الی سبعة ایام وثمانیة،لکن هذااذاکان مامون عن السمعة والریاء﴿۲﴾وهوالموفق

اعلان د نکاح او وادهٔ د پاره هوائی فائرنګ کول

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دکوژدنې اوواده په

﴿۱﴾ حدثنا ابو اسامة عن هشام عن حفصه قالت: لما تزوج ابی سیرین دعا اصحاب رسول الله ﷺ سبعة ایام فلما کان یوم الانصار دعاهم ودعا ابی ابن کعب وزید بن ثابت.

(مصنف ابن ابی شیبة ۲،۴:۳۱۳ من کان یقول یطعم فی العرس والختان)

وهکذا فی (سنن کبریٰ للبیهقی ۷:۲۶۱ باب ایام الولیمة) والتفصیل فی اعلاء السنن ۱۱:۱۳ باب جواز الولیمة الی ایام ان لم یکن فخرا.

﴿۲﴾ وفی المنهاج: عن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ طعام اول یوم حق وطعام یوم الثانی سنة وطعام یوم الثالث سمعة ومن سمع سمع الله به (ترمذی) قوله ویوم الثالث سمعة یشیر الحدیث الی کراهة ما یکون فیه سمعة، فما رواه ابن ابی شیبة والبیهقی وعبد الرزاق عن السلف انهم اولموا الی سبعة ایام وثمانیة فمحمول علی الامن من السمعة والریاء وحدیث الباب محمول علی الغالب.

(منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۲۵۲ باب ماجاء فی الولیمة)

دوران کښې دټوپک اوتمانچې چلولوسره دفائرنګ کولوڅه حکم دې؟ایاپه دې طریقې باندې اعلان نکاح جائزده؟بینوا توجروا

المستفتی: عطاءالله متعلم حقانیه.......۲۴۱۱۲۱ء۱۹۸۳

جواب: کـه چرتـه داکـولئ الـه دحـرب وی اوسـامان جنـګ وی نـود حـدیث، واستبقوا نبلکم،په بنیادبه دارویه ممنوع وی.وهوالموفق

﴿۱﴾ (سنن ابی داؤد ۲: ۳۶۱ باب فی الصفوف کتاب الجهاد)

باب حقوق الزوجین

د ښځې خاوند په یو بل باندې حقوق او د کور د اختلافاتو مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسائیلو باره کښې (۱) دښځې خاوندپه مزاج کښې حد درجه فرق،اختلافات دفکراونظراوجهګړودمسلک دوجه نه ښځه دومره پریشانه اوبیزاره ده چه اوس دصلحې ګنجائش نه لری اوپه جدایئ باندې سخته په ضد ده، که اوس چرته هغه ازدواجی بندهن کښې وی نو د خاوند دحقوق داداکولونه به قاصرهٔ وی ددې وجه نه هم چه هرځل دصلحې نه پس بیاهم دغه شان شی نتیجتاسخت ذهنی اواعصابی تکلیف وی ایاښځه د جدا کیدلومطالبه کولې شی؟ (۲) ایا خاوندښځې لره ددې دمرضې نه بغیر دملک نه بهرعارضی یامستقل اوسیدلوباندې مجبوره کولې شی حالانکه دنکاح په وخت داسې څه شرط نه وی کینبودلې شوې؟(۳)ایاښځه دخاوندنه روټئ اوکپړواخستلونه علاوه دنوروضروریاتودپاره دجیب دخرچې په طور باندې دڅه نغدې اخستلوشرعی حقداره ده؟(۴)عملی زندګئ کښې دیوفریق کیدلوپه حیثیت سره ښځه دخاوند دګټې په معاملاتو کښې مداخلت کولې شی اوڅومره حده پورې؟(۵) شرعادکورکوم کارماردښځې په فرائضوکښې داخل دې؟(۶) د خاوندحقوق دښځې دمورپلارپه حقوق باندې مقدم کیدل خو معلوم دی لیکن دسخرګنې په حق کښې هم داحدیث وئیلې شی چه دواده پس ښځې دپاره دخوابښې اوسخرحقوق په دې باندې دخپل پلاراومورپه حقوقوباندې مقدم دی ایاداصحیح ده؟(۷)که چرته خاوندښځې په پریخودلو باندې راضی نه وی لیکن دښځې بیزاری دحدنه ډیره وی چه دا پخپله دمورپلارخواه ته ځی دخاوندسره داوسیدلونه انکاراوکړی ددې څه حکم دې؟(۸)که چرته دمورپلارپه مینځ کښې داسې خفګان وی چه دهغې په

نتیجه کښې مور طلاق اخستلو سره یا د طلاق اخستلو نه بغیر ځانله او سیږی نو پلار شرعًا اولاد مورته د تللو نه یا حسن سلوک کولو نه منع کولې شی؟

بینوا توجروا

المستفتی: منشی عبدالغفور شبقدر فورټ........ ۱۹۷۲ء۱۲۱۸۱

جواب: (۱) واضحه دې وی که چرته دا سړې (خاوند) د ضروریات دین نه منکر وی مثلا د پیغمبر علیه سلام د بشریت نه منکروی یا غیرالله د پاره علم کلی یا تسلط غیبی (من حیث العلم والقدرة) مَنی نو دا سړې کافر او مرتد دې.《۱》 دده ښځه آزاده ده. قال الله تعالی: لاهن حل لهم ولاهم یحلون لهنّ《۲》 او که چرته دا سړې د کفر درجې ته نه وی رسیدلې نو د عدم موافقت د وجهې نه د جدا کیدلو مطالبه به ممنوع نه وی. کمافی حدیث حبیبة بنت سهل لا انا ولا ثابت بن قیس لزوجها (رواه ابوداود ۱:۳۰۳)《۳》. (۲) موجوده پرفتن دور کښې خاوند ته دا حق حاصل نه دې چه ښځه د خپلې مرضې نه بغیر سفر باندې بوزی، کمافی الهندیه ۱:۵۶۶ اما فی زماننا فلایملک الزوج ان یسافر بها وان اوفی صداقها کذا

《۱》قال العلامة الحصکفی: والکفر شرعا تکذیبه ﷺ فی شیئ مما جاء به من الدین ضرورة. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۳:۱۱ ۳ باب المرتد)

《۲》(سورة الممتحنة پاره: ۲۸ رکوع: ۲ آیت: ۱۰)

《۳》عن حبیبة بنت سهل الانصاریة انها کانت تحت ثابت بن قیس بن شماس وان رسول الله ﷺ خرج الی الصبح فوجد حبیبة بنت سهل عند بابه فی الغلس فقال رسول الله ﷺ من هذه قالت انا حبیبة بن سهل قال ما شانک قالت لا انا ولا ثابت بن قیس لزوجها فلما جاء ثابت بن قیس قال له رسول الله ﷺ هذه حبیبة بنت سهل فذکرت ما شاء الله ان تذکرو قالت حبیبة یا رسول الله کل ما اعطانی عندی فقال رسول الله ﷺ لثابت بن قیس خذ منها فاخذ منها وجلست فی اهلها.

(سنن ابی داؤد ۱:۳۰۳ باب فی الخلع کتاب الطلاق)

فی المحیط《۱》. (۳) په خاوند باندې دا ضروری نه ده چه ښځې ته تفکه او تلذذ د پاره د جیب خرچه ورکړی، کمافی الردالمحتار ۲:۸۹۳ فکل من الدواء والتفکه لایلزم《۲》وفی الهندیه ۱:۵۶۹ واما ما یقصدبه التلذذ والاستمتاع فلایلزم بل هو علی اختیاره ان شاء هیأه لها وان شاء ترکه (بحذف یسیر)《۳》. (۴) ښځې ته دا حق حاصل نه دې چه د خاوند په معاملاتو او اموالو کښې آمرانه مداخلت او کړی البته مشیرانه مداخلت نه ممنوع نه ده (۵) د کور د داخلی امورو سرانجام کول د ښځې حق او ذمه واری ده (ماخوذ از ردالمحتار ۲:۸۹۳)《۴》. (۶) په ښځې باندې د خاوند او سخر احترام ضروری دې باقی دا مسئله چه د دوی حق والدینو باندې مقدم دې نه دې صحیح، مزید تفصیل د پاره بهشتی زیور لره مراجعت کړئ《۵》. (۷) بغیر د اذن شرعی ښځې د پاره د مور پلار په کور کښې او سیدل ناجائز دی البته د هلاکت او ناقابل برداشت وهلو ټکولو نه او د ناجائز جماع وغیره امورو د وجهې نه تختیدل جائز دی. (۸) د پلار د پاره دا حق نشته چه اولاد لره خپلې مورته د تللو نه او د حسن سلوک نه منع کړی. وهو الموفق

《۱》(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۵۴۵ الباب السابع عشر فی النفقات الفصل الاول)

《۲》(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۷۰۵ قبیل مطلب فی اخذ المرأة کفیلا بالنفقة)

《۳》(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۵۴۹ الباب السابع عشر فی النفقات الفصل الاول)

《۴》قال العلامة الحصکفی: ولا یجوز لها اخذ الاجرة علی ذلک لوجوبه علیها دیانة ولو شریفة لانه علیه الصلاة والسلام قسم الاعمال بین علی وفاطمة فجعل اعمال الخارج علی علی رضی الله عنه والداخل علی فاطمة رضی الله عنها مع انها سیدة نساء العالمین بحر. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۰۴ باب النفقة)

《۵》قال الشاه اشرف علی التهانوی: علاقه د مصاهرة یعنی د سخرګنئ رشته په قرآن کښې الله تعالی په نسب کښې ذکر کړې ده، د دې نه معلومه شوه چه د خواښې او سخر اود اوخی اود خور د خاوند او اینګور اود ښځې د مخکنی اولاد او د غسې د خاوند د رومبی اولاد هم څه حق وی په دې وجه دې نسبتونو کښې هم رعایت، احسان او اخلاق د نورونه زیات ساتل پکاردی. (بهشتی زیور ۳۲۶ څلورمه حصه د حقوقو بیان)

د دوؤ ښځو اود دوی په اولاد کښې د حقوق د تقسیم او د میراث مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه(۱)دیو سړی دوه ښځې دی خاوندباندې ددوی څه حقوق کیدلې شی کم یازیات یامساوی؟(۲)آیا د مهر دعوض نه بغیردې ته دخاوندپه جائیدادمنقوله کښې اوپه غیرمنقوله کښې څه حصه به میلاویږی یانه؟(۳)دهریوښځې نه دوه دوه ځامن اویوه لور موجودده ددوی په مینځ به جائیدادپه کومه طریقه تقسیم کیږی؟(۴)په رڼړا د شریعت کښې دیوې ښځې اولادته زیات اوبلې ښځې اولادته کم ورکول پکاردی یامساوی تقسیمول پکاردی؟ بینوا توجروا

المستفتی:میرمحمدخان c/o کفایت الله دکانداربازارچترال ۱۹۷۵ء/۵/۱۳

جواب:(۱)اموراختیاریه مثلانغد.لباس. قسم(نوبت)کښې مساوات ضروری دی(شامی)﴿۱﴾.(۲)دخاونددمرګ نه پس په دې ښځوباندې به ټوله دمیراث اتمه حصه تقسیم کیږی﴿۲﴾. اواولادباندې به للذکرمثل حظ الانثیین تقسیم ضروری وی﴿۳﴾.(۳)په زندګئ(حین حیات)کښې دتقسیم په وخت سړی او

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: یجب ان یعدل فیه ای فی القسم بالتسویة فی البیتوتة وفی الملبوس والماکول والصحبة لا فی المجامعة کالهبة، قال العلامة ابن عابدین: ففی الخانیة ومما یجب علی الازواج للنساء العدل والتسویة بینهن فیما یملکه والبیتوتة عندهما للصحبة والمؤانسة لا فیما لا یملکه وهو الحب والجماع.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۳۲ باب القسم)

﴿۲﴾وفی الهندیة: واما الثمن ففرض الزوجة او الزوجات اذا کان للمیت ولد او ولد ابن.
(فتاویٰ عالمگیریة ۶: ۴۵۰ الفروض المقدرة فی کتاب الله تعالیٰ ستة)

﴿۳﴾وفی الهندیة: واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فیکون للابن مثل حظ الانثیین کذا فی التبیین.
(فتاویٰ عالمگیریة ۶: ۴۴۸ الباب الثانی فی ذوی الفروض)

ښځې ته به یوشان حصه ورکولې شی(هندیة)﴿۱﴾.(۴)په زندګئ کښې د اولاد په رضامندئ سره فرق کول صحیح دې کله چه هغوی بالغ وی.نیز دحاجت او تدین اودعیالدارئ دوجه نه هم فرق جائزدې(هندیه)﴿۲﴾وهوالموفق

ښځه د مستقل ځان ته کورمطالبه کولې شی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه هندې واده اوکړو خو لیکن دهندې سکنی.نان.اونفقه بسراوقات په داسې نامناسب ماحول کښې دې چه هلته دزیدرورسره دعیال اواطفال په یومشترکه صحن والاکورکښې اوسیږی خوړل څکل ټول مشترکه دی دزیدښځې ته دزیددرور اوبال بچ نه څه داسې دل خراشه تکلیفونه مخې ته راځی چه هغه دبرداشت قابل نه دی اوس هندې دځان دپاره دجداکورمطالبه کړې ده ایاهندې دامطالبه شرعاصحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی:قاضی غلام اصفیاءقریشی سرائ صالح هری پور ۱۹۷۴ء/۸/۲۳

﴿۱،۲﴾وفی الهندیة: ولو وهب رجل شیئا لاولاده فی الصحة واراد تفضیل البعض علی البعض فی ذلک لا روایة لهذا فی الاصل عن اصحابنا وروی عن ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ انه لا بأس به اذا کان التفضیل لزیادة فضل له فی الدین وان کانا سواء یکره وروی المعلی عن ابی یوسف رحمه الله تعالیٰ انه لا بأس به اذا لم یقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوی بینهم یعطی الابنة مثل ما یعطی للابن وعلیه الفتویٰ هکذا فی فتاویٰ قاضی خان وهو المختار کذا فی الظهیریة. رجل وهب فی صحته کل المال للولد جاز فی القضاء ویکون آثما فیما صنع کذا فی فتاویٰ قاضی خان وان کان فی ولده فاسق لا ینبغی ان یعطیه اکثر من قوته کیلا یصیر معینا له فی المعصیة...... ولو کان الولد مشتغلا بالعلم لا بالکسب فلا بأس بان یفضله علی غیره.
(فتاویٰ عالمگیریة ۴: ۳۹۱ الباب السادس فی الهبة للصغیر)

جواب: په خاوندباندې فرض دی چه ښځې ته مستقله حجره (کور) بغیرد شرکت غیرنه ورکړی ګنی ګنهګاربه وی.

کما فی الدرالمختار: و کذا تجب لها السکنی فی بیت خال عن اهله وبیت منفرد من دار له غلق کفاها وفی البحر عن الخانیة یشترط ان لا یکون فی الدار احد من احماء الزوج یوذیها بحذف یسیر هامش ردالمحتار ۲: ۹۱۲ اقره ردالمحتار ﴿۱﴾ وهکذا فی نفقة الهندیة المشهورة بالعالمگیریة ۱: ۵۷۶ ﴿۲﴾. وهوالموفق

په ښځوکښې د مساوات نه کولو والا او بالغه لور په نکاح کښې نه ورکولو والا په ظلم کښې مبتلا دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیوسړی دوه ښځې دی د یوښځې سره ئې تعلقات خوشګواردی اوددویمې سره نه اوتلل راتلل هم ډیر مشکل سره کوی نیزددې سړی لورد شپږکالوراهسې بالغه ده ددې ئې هم څه ناطه وغیره تراوسه پورې نه ده کړې اونه څه اراده لری ددې سړی څه حکم دې اودده دامامت څه مسئله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام محمدنئ آبادی راولپنډی......۱۹۷۵ء۱۱\۹

جواب: په ښځوکښې عدل اومساوات ضروری دې﴿۳﴾اوبالغه لورپه یومناسب

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۷۱۹، ۷۲۰ مطلب فی مسکن الزوجة)

﴿۲﴾ قال العلامة النظام: تجب السکنیٰ لها علیه فی بیت خال عن اهله واهلها الا ان تختار ذلک کذا فی العینی شرح الکنز...... وامرأة ابت ان تسکن مع ضرتها او مع احمائها کأمه وغیرها فان کان فی الدار بیوت وفرغ لها بیتا وجعل لبیتها غلقا علی حدة لیس لها ان تطلب من الزوج بیتا آخر فان لم یکن فیها الا بیت واحد فلها ذلک الخ.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۵۵۶ الفصل الثانی فی السکنیٰ، النفقات)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ومما یجب علی الازواج للنساء العدل والتسویة بینهن فیما یملکه والبیتوتة عندها للصحبة والمؤانسة لا فیما لا یملک......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ځائی کښې په نکاح کښې ورکول یواهم امردې﴿۱﴾پس که چرته داسړی په دې ظلم اوعضل کښې مبتلاوی په ده پسې صالحینواقتداء مکروه ده﴿۲﴾. وهوالموفق

د نومسلمې ښځې د پاره د مور پلار کورته تللو اود هغوی سره د خورد و نوش مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی په فوج کښې د ملازمت په دوران کښې یوه عیسائنړه ښځه مسلمانه کړه اودهغې سره ئې نکاح اوکړه، دواده تقریبا څلورکاله شوی دی په دې دوران کښې دانومسلمه ښځه تقریباڅلورمرتبه دخپل موربلار اونوروړشته دارانوسره تقریباًته میاشتې سکونت اختیارکړو. ایاشرعایوه مسلمانه ښځه دسابقه رشته دارانو سره، هغه چه عیسائی مذهب والاوی، خوردونوش کولې شی اوموږ مسلمانانوخلقوته داسې ښځې سره تعلق ساتل یعنی خوراک سکاک کول جائزدی؟ بینواتوجرو

المستفتی: راجه ګل مبارک کهوټه راولپنډی.....۱۹۷۷ء۸\۱۲\۱

(بقیه حاشیه) وهو الحب والجماع کذا فی فتاویٰ قاضی خان.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۴۰ الباب الحادی عشر فی القسم)

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: (قال قال رسول الله ﷺ اذا خطب الیکم) ای طلب منکم ان تزوجوه امرأة من اولادکم واقاربکم (من ترضون) ای تستحسنون (دینه وخلقه فزوجوه) ای ایاها (ان لا تفعلوه تکن فتنه فی الارض وفساد عریض) ای ذو عرض ای کثیر لانکم ان لم تزوجوها الا من ذی مال اوجاه ربما یبقی اکثر نسائکم بلا ازواج واکثر رجالکم بلا نساء فیکثر الافتتان بالزناء وربما یلحق الاولیاء عار فتهیج الفتن والفساد ویترتب علیه قطع النسب وقلة الصلاح والعفة.
(مرقاة المفاتیح شرح مشکواة المصابیح ۶: ۲۷۱ کتاب النکاح الفصل الثانی)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: فالحاصل انه یکره لهؤلاء التقدم ویکره الاقتداء بهم کراهة تنزیه...... وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والا فلا کراهة.
(البحر الرائق ۱: ۳۴۹ باب الامامة)

جواب: داسي نومسلمه ښځه دمورپلارکورته تللي شي﴿۱﴾البته خوردونوش کښي محرماتوشرعیه نه اجتناب ضروری دي.نیزددي نومسلمي ښځي سره تعلقات ساتل اوخور دنوش کول جائزدی.وهوالموفق

د ښځي د اجازت نه بغیر څلور میاشتي یا د څلورو میاشتو نه زیات سفر اختیارولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلي باره کښي چه مونږخلق په عربستان کښي دمحنت اومزدوري په سلسله کښي مقیم یودمجبوري دوجه نه څلور کاله پس کورته راځوحالانکه څه شادی شده یم ددي شرعی حکم څه دي او د عدمي مجبوري په صورت کښي هم شرعی حکم واضح اوفرمایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: بابرحسین ابوظهبی یواي ای.....۱۴۰۱۱۷۱۲ه

الجواب: دښځي په اجازت سره څلورمیاشتي یاددي نه زیات وخت بهراوسیدل ګناه نه ده.بغیرداجازت نه ګناه ده﴿۲﴾.......

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: ولا یمنعها من الخروج الی الوالدین فی کل جمعة ان لم یقدرا علی اتیانها علی ما اختاره فی الاختیار ولو ابوها زمنا مثلا فاحتاجها فعلیها تعاهده ولو کافرا وان ابی الزوج الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۲۲ قبیل مطلب فی منع النساء من الحمام)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: ویجب دیانة احیانا و لا یبلغ مدة الا یلاء الا برضاها ویؤمر المتعبد بصحبتها احیانا، قال العلامة ابن عابدین: فی الفتح واعلم ان ترک جماعها مطلقا لا یحل له صرح اصحابنا بان جماعها احیانا واجب دیانة لکن لا یدخل تحت القضاء والالزام الا الوطأة الاولیٰ ولم یقدروا فیه مدة ویجب ان لا یبلغ به مدة الایلاء الا برضاها وطیب نفسها به...... ثم قوله وهو اربعة اشهر یفید ان المراد ایلاء الحرة ویؤید ذلک ان عمر رضی الله تعالیٰ عنه لما سمع فی اللیل امرأة تقول: فو الله ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

فرض عین ددي نه مستثنیٰ دي.﴿۱﴾وهوالموفق

په موجوده دورکښي ښځي لره په سفربانديٍ د بوتللومسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلي باره کښي چه دري کاله مخکښي دیو هلک اوجینئ په مینځ کښي نکاح اوکړي شوه.په افغانستان باندي دروسی قبضي نه پس دهغه ځائی دیندارو خلقوهجرت اوکړواوپه پاکستان وغیره ملکونو کښي ئي زندګی تیروله.اوس داخاوندفی الحال په افغانستان کښي دي اوجینئ اودجینئ مورپلارپاکستان ته هجرت اوکړو.خاونددامطالبه کوی چه څه خپله ښځه افغانستان ته راولم حالانکه جینئ سره دمورپلارددي وجه نه انکارکوی چه ډیري ښځي روسیانوافغانستان نه بوتلي دي دپاره

(بقیه حاشیه)لو لا الله تخشیٰ عواقبه ☆ لزحزح من هذا السریر جوانبه، فسأل عنها فاذا زوجها فی الجهاد فسأل بنته حفصة کم تصبر المرأة عن الرجل فقالت اربعة اشهر فامر امراء الاجناد ان لا یتخلف المتزوج عن اهله اکثر منها، ولو لم یکن فی هذه المدة زیادة مضارة بها لما شرع الله تعالیٰ الفراق بالایلاء فیها.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۳۲ باب القسم کتاب النکاح)

﴿۱﴾ وفی المنهاج: قال فقهاءنا فی باب القسم بان جماع الزوجة احیانا واجب دیانة ولم یقدروا فیه مدة ویجب ان لا یبلغ به مدة الایلاء الا برضاها وطیب نفسها به فلیراجع الی فتح القدیر وردالمحتار، وفیه عبرة لمن خرج لطلب العلم او للجهاد او للتبلیغ والاصلاح بغیر رضاء الزوجة لاربعة اشهر او اکثر منها، ولا یأتیها فی تلک المدة بما امر به شرعا، لا سیما اذا عد هذه الفعلة قربة ولا سیما اذا مر علی قریته وبیته والتزم ما لا یلزمه شرعا من عدم دخول بیته واتخذ ما یلزمه شرعا ظهریا فاعاذنا الله تعالیٰ من هذه الجریمة ومن سائر الالتزامات التی اذا ارتکبوها یعدونها قربات واذا فعلها غیرهم یجعلونها بدعات.

(منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۳۱۸ باب ماجاء فی اللعان)

مونږ واده دركوومګرپه دې شرط باندې چه دافغانستان ته نشې بوتللې ترهغه پورې چه روس دافغانستان نه اووځى اوس شرعى حكم څه دې آيا دا جينۍ دخاوندسره دافغانستان سفراختيارولې شى؟ بينوا توجروا

المستفتى: محمود احاطه مدنيه جامعه حقانيه......۱۱/۵/۱۹۸۳ء

جواب: موجوده دور كښې خاوند خپله ښځه په مسافرت باندې نشى بوتللې

كما فى الهندية ۱:۵۲۶ قال الشيخ الامام ابو القاسم الصفار، هذا كان فى زمانهم اما فى زماننا فلا يملك الزوج ان يسافر بها وان او فى صداقها كذا فى المحيط﴿۱﴾. والله اعلم

د نافرمانې ښځې نه بطور تعزير جدا بستره باندې اوده كيدل جائزدى

سوال: څه فرمائى علماء دين دې مسئلې باره كښې چه ځمادوه ښځې دى ددوى نه يوه بداخلاقه بدعادته اونافرمانه ده اوددويمې اخلاق اوعادت د فرمانبردارۍ دى اياځه ددې نافرمانه ښځې نه خواب ګاه جدا كولې شم؟ بنيوا توجروا

المستفتى: شيرمنار اكلې صوابى......۱۲رجب ۱۴۰۳هـ

الجواب: تاسو دې نافرمانې ښځې لره ددې دموقعې په ورځو كښې داتعزير وركولې شئ چه ددې نه په جدا بستره باندې اوده شئ البته دويمې ښځې ته به ددې داموقعه نه وركوې﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۵۴۵ الباب السابع عشر فى النفقات نفقة الزوجة)

﴿۲﴾ قال الملاجيون الجونفورى: فى قوله تعالىٰ: (واللاتى تخافون نشوزهن) اى اعراضهن (فعظوهن) اى انصحوهن للاطاعة فان لم ينفع النصح (فاهجروهن فى المضاجع) اى فى المراقد فلا تدخلوهن تحت اللحاف او لا تجامعوهن او ولوها ظهركم فى المضجع اوالمضاجع المبايت اى لا تبايتوهن فى المبايت وقيل معناه اكرهوهن على الجماع واربطوهن نص به فى الكشاف فان لم ينفع الهجران (فاضربوهن) الخ.

(التفسيرات الاحمدية ۲۷۳ بيان آداب صحبة الرجل مع المرأة والعشرة معها)

د يوې ښځې سره زيات محبت كول د نورو ښځو په حق تلفى كښې شامل نه دى

سوال: څه فرمائى علماء دين دې مسئلې باره كښې چه يو سړې دې دهغه درې ښځې دى دده ديوښځې سره قلبى ميلان اومحبت زيات دې اودنورو ښځو سره دومره محبت نه ساتى. البته په نان نفقه اوخرچه وغيره كښې برابرى كوى آيا داسړې په دې قلبى ميلان اومحبت كښې دنوروښځوحق تلفى نه كوى؟ بينوا توجروا

المستفتى: رحيم ګل كوهاله مرى......۲۵/۷/۱۹۷۴ء

جواب: كه چرته داسړې په نوبت اونان نفقه كښې عادل وى نوپه دې اختيارى اموروكښې دعدل دوجه نه ماخوذنه دې اوپه غيراختيارى امورومثلاً په محبت اوجماع كښې كمى اوزياتى سره هم ماخوذنه دې.

وفى الهندية ۱:۵۴۴ ومما يجب على الازواج للنساء العدل والتسوية بينهن فيما يملكه والبيتوتة عندها للصحبة والمؤانسة لا فيما لا يملك وهو الحب والجماع﴿۱﴾. وهو الموفق

د بد اخلاقې ناسكه مور او پلارسره د لا تعلقۍ حكم

سوال: څه فرمائى علماء دين دې مسئلې باره كښې چه يوسړى څلورځامن او درې لوريانى دى مشرهلك كمائى والادې په دې دوران كښې د بچو مور وفات شوې ده اوپلارئې دويم واده كړې دې دنوې ښځې نه دسابقه خاوند څلورځامن اويوه لورده چه هغه ټول واړه دى ددې نوې ښځې نه د پلار نور پنځه هلكان پيداشول ددوى نان اونفقه هم دمخكښې څلوروذمه وارى ده دا څلورهلكان ځوانان شول يوپه كښې واده اوكړواوخرچه هم مخكښې څلورو برداشت كړه داپينځه بچيان بې نمازه اوبداخلاقه دى ناسكه مورترننه پورې دمخكښې څلوروهلكانو انتهائى دَبې عزتى مظالم وغيره اوكړو، د زناكارۍ

﴿۱﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۳۴۰ الباب الحادى عشر فى القسم)

الزامات ئي اولګول، پلار ئي هم تائيد کوی. پلار دي څلور ځامنو حج ته هم استولی دی دا څلور هلکان نمازی او حاجيان دی. دا ښځه ځومرتبه د کور نه تختيدلې ده او د طلاق مطالبه ئی هم ځومرتبې کړې ده ټول رونړه د پلار نه ناراضه دی د نور فسادنه بچ کيدلو د پاره څلورو هلکانو هم د پلار سره تعلق قطعه کړی دی مګر روپۍ ورکوی. د داسې مور او پلار متعلق د دې لاتعلقې په شريعت کښې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد جلال ګجرانواله..... ۱۹۸۴ء/۵/۲۱

جواب: داسې ښځه ساتل خلاف مصلحت دې خلاف شريعت نه دې﴿۱﴾ او په داسې صورت کښې اولاد د پلار و غيره سره لاتعلقی کول خلاف شريعت نه دې﴿۲﴾. وهو الموفق

خاوند د پاره خپلې ښځې ته غسل، کفن، دفن ورکول او په آخرت کښې د خاوند سره د کيدلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه ديو سړی ښځه وفات شوه ايا د وفات کيدلو نه پس خاوند د پاره اجازت دې چه د ميت کټ اوچتول او هم دغه رنګ په قبر کښې ايخودل او کفن او غسل ورکول و غيره، بعض عالمان وائی چه قطعا اجازت نشته ځکه چه د خاوند او ښځې په مينځ کښې چه کوم نکاحی تعلق قائم وو هغه اوس ختم شوې دې او ښځه اجنبی ګرځيدلې ده، حالانکه بعض عالمان وائی چه د اخدمت حرام نه دې، فريق اول وائی چه په جنتونو کښې تفاوت دې او په اهل جنت کښې هم تفاوت دې،

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وايقاع الطلاق مباح عند العامة...... وقيل قائله الكمال الاصح حظره اى منعه الا لحاجة كرية وكبر والمذهب الاول كما فى البحر وقولهم الاصل فيه الحظر معناه ان الشارع ترک هذا الاصل فاباحه بل يستحب لو مؤذية او تاركة صلاة غاية ومفاده ان لا اثم بمعاشرة من لا تصلى.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۴۵۰ كتاب الطلاق مقدمه)

﴿۲﴾ قال الملا على قارى: (قوله ولا تعق والديک) اى لا تخالفنهما او احدهما فيما لم يكن معصية اذ لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكواة ۱: ۲۳۵ باب الكبائر الفصل الثالث)

لاجل تفاوت الاعمال لهذا د خپلې خپلې درجې په جنت کښې به او سيږی، او فريق ثانی وائی چه چونکه د اهل جنت په مينځ کښې آمد و رفت دې او په دواړو کښې د ملاقات شرف هم دې او ښځه اجنبی هم نه ده په دې کښې کومه مسئله صحيح ده؟ (۲) که چرته خاوند مړ شو او ښځې دويمه نکاح او کړه نو په آخرت کښې به دا ښځه د اول خاوند سره وی که د دويم خاوند سره؟ بينوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالحليم شکرزئ منصفی روډ کوئټه ۱۷ محرم ۱۳۹۲ھ

جواب: (۱) خاوند د ښځې د غسل او د مس نه منع کړې شوې دې البته د نظر کولو نه نه دې منع کړې شوې، نيز قبر ته د ختکه کولو په حق کښې د غير محارم نه مقدم کړې شوې دې. فى الدرالمختار: ويمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر اليها على الاصح﴿۱﴾ باقی ښځه خاوند کله چه دواړه مسلمانان وی نو په دې کښې کوم ښکته درجې والا وی دې به الله تعالى د اوچتې درجې والا رفيق جوړه وی (۲) ښځه به جنت کښې د آخری خاوند سره وی، وهو المرجع لان النبى صل الله عليه وسلم تزوج من مات ازواجهن، او بعض عالمان وائی چه دې ښځوته به اختيار ورکړې شی، والاختلاف مذكور فى مجموعة الفتاوى ۳: ۲۵۶﴿۲﴾، وهو الموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۱: ۶۳۳ قبيل مطلب فى حديث كل سبب ونسب باب صلاة الجنازة)

﴿۲﴾ قال العلامه عبدالحئ اللكهنوى: د بعضې رواياتو نه ثابتيږی چه د قيامت په ورځ به ښځې ته اختيار ورکولې شی چه خپلو هغه خاوندانو کښې کوم چه په دنيا کښې وو يو خاوند کوم سره چه مو په دنيا کښې زيات موافقت (محبت) وو اختيار کړه، په معجم طبرانی کښې د حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه روايت دې:
قلت يا رسول الله صلى الله عليه وسلم المرأة تزوج الزوجين والثلثة والاربعة ثم تموت فتدخل الجنة ويدخلون معها من يكون زوجها منهم قال انها تخير فتختار احسنهم خلقا فتقول يا رب ان هذا كان احسنهم خلقا فى دار الدنيا فزوجنيه يا ام سلمة ذهب حسن الخلق......

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په ښځې باندې د خواښې او سخر خدمت لازم نه دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې که چرته یوه ښځه دخاوند د مور پلارنه تنگه راغلې وي اوراضي نه وي نوکه چرته داخدمت نه کوي نو آیا شرعًا دا مجرمه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سیدانورمعرفت حافظ محمدایوب صاحب
مانکی ۱۹۸۲ء/۱۷/۱۲

جواب: خواښې اگرچه په مثل د مور ده لروایة وردت بذلک لیکن دې سره دا لازمه نه ده چه په دې باندې به دسخريادخواښې خدمت ضروري وي، وهوالموفق

د مباشرت جائز او ناجائز صورتونه

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دمباشرت صحیح طریقه څه ده؟ تحریری جواب سره د شکریه موقع راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټر......گلوزئ پشاور......۱۹۸۴ء/۱۱/۲۱

جواب: د خولې او د دُبرنه اجتناب کوئ دحیض اونفاس په حالت کښې هم دنوم

(بقیه حاشیه) بخیرالدنیا والآخرة. اوپه معجم طبرانی اومسندبزار اومکارم اخلاق د خرائطی کښې دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دي:
ان ام حبیبة قالت یا رسول الله ﷺ المرأة تکون لها الزوجان فی الدنیا تموت ویموتان منهما فیجتمعون فی الجنة لایهما تکون فقال لا حسنهم خلقا کان عندها فی الدنیا.
او د بعضې روایاتونه معلومیږي چه دغه ښځه به آخری خاوند ته ورکولې شي، په طبقات ابن سعد کښې دحضرت ابوالدرداء رضی الله عنه نه روایت دي: سمعت رسول الله ﷺ یقول ان المراة لآخر ازواجها فی الآخرة. په ظاهر به داصورت هغه وخت وي کله چه ددې ټول خاوندان په حسن خلق کښې برابروي. والله اعلم
(مجموعة الفتاوی للکهنوی ۳:۲۵۶ کتاب المتفرقات)

نه تر پتونه پورې داندامونو نه نفعه مه اخلئ(۱) باقی ټول کیفیات جائز دی(۲). وهوالموفق

د حاملې ښځې سره صحبت بغیر د ضرر نه هروخت جائزدې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دحاملې ښځې سره څومره وخته پورې صحبت کول جائزدی؟ بینوا توجروا

المستفتی: شمس الرحمٰن......۱۹۷۹ء/۸/۹

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: ویمنع...... قربان ما تحت ازار یعنی ما بین سرة ورکبة ولو بلا شهوة وحل ما عداه مطلقا...... ویکفر مستحله کما جزم به غیر واحد وکذا مستحل وطء الدبر عند الجمهور. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۲۱۴، ۲۱۸ باب الحیض)

(۲) قال العلامة ملاجیون: (یسألونک عن المحیض) الآیة وان کانت تدل ظاهرا علی الاعتزال عن النساء وعدم القرب منهن مطلقا کما فعله الیهود ولکن معناها علی حسب ما قالوا ان الحیض او موضع الحیض اذی ای نفرة وکراهة فاعتزلوا النساء فی المحیض بحیث لا تستمتعوا بهن فالمحیض مصدر ویقال حاضت محیضا اوالمراد به موضع الحیض (قل هو اذی) ولم یقل انهن اذی اشارة الی ان الحیض لا ینجس بدنها ولکن کنی عن الحیض بالمحیض الذی هو محل الحیض...... (ولا تقربوهن حتی یطهرن) معناه لا تقربوهن مجامعین اولا تقربوا جماعهن حتی یطهرن عن العذر...... (من حیث امرکم الله) یعنی اتیانکم النساء واجب من مکان امرکم الله به وهو القبل الذی هو موضع الحرث فیحرم ضده...... (ان الله یحب التوابین) عن اتیانهن فی حالة الحیض وفی ادبارهن)...... نسائکم حرث لکم فاتوا حرثکم انی شئتم) وهو بیان وتوضیح لقوله تعالیٰ: (من حیث امرکم الله) ای نساء کم موضع الحرث لکم فجامعوهن فی موضع الحرث کیف شئتم وعلی ای حال شئتم بارکة او مستقبلة او مضطجعة او قائمة او قاعدة الخ.
(التفسیرات الاحمدیة ۱۰۸، ۱۰۹ بیان حرمة القربان فی حالة الحیض)

جواب:دحاملې ښځې سره جماع هروخت جائزده﴿۱﴾البته دضررپه صورت کښې ناجائزده

په حالت حمل کښې جماع کول او د ښځې د سینې رودلوحکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه (۱)که چرته دچاښځه حامله شی نوترشپږومیاشتوپورې ددې سره مباشرت نقصان ده نه دې لیکن شپږمیاشتې پس کله چه حمل درونـد شی په دې صورت کښې دمباشرت څه حکم دې؟ (۲) دښځې سره د زړه لګې کولو وخت کښې سینه څکل.خله کښې نیولو سره څکل دشریعت په رڼاکښې څه حکم لری؟نکاح باندې ددې څه اثر پریوزی یانه؟بینوا توجروا

المستفتی: دلباغ محمد کوهاټ

الجواب: (۱) په حالت حمل کښې یو وخت هم جماع کول ممنوع نه ده﴿۳﴾البته

﴿۱﴾یدل علیه ما فی الهندیة: اذا اقر الزوج ان الحبل منه فالنكاح صحیح بالاتفاق وهو غیر ممنوع من وطئها فتستحق النفقة عند الكل كذا فی المحیط.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۵۴۶ النفقات الفصل الاول فی نفقة الزوجة)

قال الملا علی قاری: (عن نافع عن ابن عمر قال نهی رسول اللهﷺ ان توطأ الحبالی) ای عن مجامعة الحوامل من الاساریٰ او غیرهن (حتی یضعن ما فی بطونهن) ای اولادهن فان الاستبراء والعدة لا تحصل الا بوضعهن واما ازواجهن فیجوز لهم جماعهن.

(شرح مسند ابی حنیفة ص ۱۹۰ حدیث وطء الحامل)

﴿۲﴾قال العلامة الحصكفی: ولو تضررت من كثرة جماعه لم تجز الزیادة علی قدر طاقتها، قال ابن عابدین: فعلم من هذا كله انه لا یحل له وطئها بما یؤدی الی اضرارها فیقتصر علی ما تطیق منه. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۳۲ باب القسم)

﴿۳﴾قال العلامة ابن نجیم: اما التزوج الزانی لها (للحاملة) فجائز اتفاقا وتستحق النفقة عند الكل ویحل وطؤها عند الكل كما فی النهایة. (البحر الرائق ۴:۱۰۶ باب النفقة)

تکلیف رسَول ممنوع ده﴿۱﴾.(۲) دښځې سینه رودل ممنوع نه دی.البته ددوه نیمو کالو والانه زیات عمروالاخاونددپاره دښځې وغیرها پئ څکل ممنوع دی اوبهرحال نکاح باندې څه اثرنه پریوزی(شامی)﴿۲﴾.وهو الموفق

حالت نفاس کښې جماع حرامه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی دخپلې ښځې سره په ورځودنفاس یعنی دبچی دپیدائش نه لس ورځې پس صحبت اوکړو ددې څه کفاره اوڅه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولا داد سکهرسندهه......۱۹۷۰ء۱۱۱۱۵

الجواب: داصحبت حرام دې کله پورې چه وینه بنده شوې نه وی﴿۳﴾توبه کول ضروری دی اوصدقه کول مستحب ده﴿۴﴾.وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة زین الدین ابن نجیم: الذی یحرم علی الرجل وطء زوجته مع بقاء النكاح...... وفیما اذا كانت لا تحتمله لصغر او مرض او سمنة.

(الاشباه والنظائر ۳۲۹ احكام غیبوبة الحشفة)

﴿۲﴾قال العلامة الحصكفی: هو مص من ثدی آدمیة فی وقت مخصوص هو حولان ونصف عنده وحولان عندهما وهو الاصح وبه یفتی كما فی تصحیح القدوری لكن فی الجوهرة انه فی الحولین ونصف ولو بعد الفطام محرم وعلیه الفتویٰ، قال العلامة ابن عابدین: ان الكبیر لا یسمی رضیعا ذكره ردا علی من سوی فی التحریم بین الكبیر والصغیر، وقال العلامة الحصكفی: بعده ویثبت التحریم فی المدة فقط ولو بعد الفطام.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۳۷ باب الرضاع)

﴿۳﴾قال العلامة الحصكفی: ویمنع...... وقربان ما تحت ازار یعنی ما بین سرة وركبة ولو بلا شهوة قال ابن عابدین: قوله یمنع ای الحیض وكذا النفاس خزائن.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۲۱۴ باب الحیض)

﴿۴﴾قال العلامة ابن نجیم: احكام غیبوبة الحشفة......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د ښځې خاوند بغیر د مصلحت نه د یوبل خاص اندامونو ته نه کتل افضل دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دلته یو سړی تقریر کولو که چرته چا دخپلې ښځې یا دخاوند عورت اوکتلو نودې به ضرور پخپله زندګئ کښې نابینا کیږی لکه څنګه چه دحضرت عائشه رضی الله عنها قول دې چه مادنبی علیه السلام عورت نه دې کتلې مهربانی اوکړئ په صحیح اقوالو سره مفصّل اومدلّل تشریح اوفرمایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالقهار ابازئ چارسده......۱۲۶\شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: ښځه اوخاوند دیوبل هراندام ته کتلې شی البته بغیر دمصلحت نه اندام مخصوصه ته نه کتل افضل دی اودمصلحت شهوت راوړلو دپاره کتل قابل داعتراض نه دی فتاویٰ عالمګیریه ۵:۳۲۷﴿۱﴾.وهوالموفق

(بقیه حاشیه) یترتب علیها احکام...... والکفارة وجوبا او ندبا فی اول الحیض بدینار وفی آخره بنصف دینار. (الاشباه والنظائر ۳۲۶ احکام غیبوبة الحشفة)

وفی المنهاج: اعلم انه لا تجب الکفارة علی من وطئ فی الحیض عمداً عند ابی حنیفة ومالک والشافعی واحمد فی روایة عنه ای لا تکفی الکفارة فیه بل لا بد من التوبة والاستغفار نعم تستحب الکفارة بالتفصیل المذکورة فی روایة عبد الکریم عندنا وعند الشافعی توسلا لا جابة التوبة واطفاء لغضب الرب وتادیبا للنفس الامارة.

(منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۲۸۷ باب ماجاء فی الکفارة فی ذلک)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: اما النظر الی زوجته ومملوکته فهو حلال من قرنها الی قدمها عن شهوة وغیر شهوة وهذا ظاهر الا ان الاولیٰ ان لا ینظر کل واحد منهما الی عورة صاحبه کذا فی الذخیرة...... وکان ابن عمر رضی الله عنهما یقول الاولیٰ ان ینظر الی فرج امرأته وقت الوقاع لیکون ابلغ فی تحصیل معنی اللذة کذا فی التبیین، (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د ښځې سره لواطت کول حرام اود شرم ځایونه څکلول نه ممنوع دی اونه مطلوب

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه په قرآن کښې دی چه ښځې ستاسو فصل دی چه په کومه غواړئ په دې کښې داخل شئ. څما اصل مطلب دادې چه څه خپله ښځه چه څماپه نکاح کښې ده داځه د روستو طرف نه یعنی دکونې دطرف نه استعمالول غواړم ایادرښتیاده چه دکونې کولو سره نکاح ختمیږی؟ نیزځه دخپلې ښځې فرج څکلول غواړم اوخپل عضو تناسل دهغې په خوله ورکول غواړم ایاداجائزدی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.....۱۹۷۸ء۱\۱۹

الجواب: دخپلې ښځې سره لواطت کول حرام دی ځکه چه دامحل حرث نه دې اوالله تعالی په محل حرث کښې داتیان اجازت ورکړې دې﴿۱﴾

قال الله تعالیٰ: نساء کم حرث لکم فأتوا حرثکم انیٰ شئتم (الآیة)﴿۱﴾ وقال رسول الله ﷺ: ولا تأتوا النساء فی اعجازهن (رواه الترمذی)﴿۲﴾ وفی روایة من اتی امرأة فی دبرها فقد کفر بما انزل علی محمد ﴿۳﴾

(بقیه حاشیه)قال ابویوسف رحمه الله سألت ابا حنیفة رحمه الله تعالیٰ عن رجل یمس فرج امرأته وهی تمس فرجه لتحرک آلته هل تریٰ بذلک بأسا قال لا وارجو ان یعطی الاجر کذا فی الخلاصة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۲۷،۳۲۸ الباب الثامن من کتاب الحظر والاباحة)

﴿۱﴾(سورة البقر(آیت: ۲۲۳ پاره:۲ رکوع:۱۲)

﴿۲﴾ (رواه الترمذی ۱:۱۳۹ کراهیة اتیان النساء فی ادبارهن، واخرجه النسائی فی الکبریٰ: ۸۹۸۲ وابن ماجة: ۱۹۲۴، واحمد ۵:۲۱۵، وابن حبان: ۴۱۹۸، والبیهقی۷:۱۹۷)

﴿۳﴾ (رواه الترمذی ۱:۱۹ باب کراهیة اتیان الحائض، وابوداؤد: ۳۹۰۴، وابن ماجة: ۶۳۹، والدارمی ۱:۲۵۹، واحمد ۲:۴۰۸ وغیرهم)

وقال رسول الله ﷺ: ملعون من اتی امرأته فی دبرها (رواه احمد وابو داؤد)﴿۱﴾ لیکن دي جرم سره نکاح نه ختمیږي داد چا مذهب نه دي کله پوري چه حلال ګڼړونکي نه وي﴿۲﴾ او فرج او ذکر څکلول نه ممنوع دی او نه مطلوب دی کله چه دمني او مذی وغیره نه خالی وی. البته مکروه دی. کالنظر الیها بلاضرورة﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (اخرجه ابو داؤد: ۲۱۶۲، والنسائی فی الکبری: ۹۰۱۴، وابن ماجة: ۱۹۲۳، وصحیح ابن حبان: ۴۲۰۳، وابن عدی فی الکامل ۶: ۳۱۱، والطبرانی فی الاوسط: ۴۷۵۱، والبغوی فی التفسیر: ۲۴۶)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ووطؤها (ای الحائض) یکفر مستحله کما جزم به غیر واحد وکذا مستحل وطء الدبر عند الجمهور...... لانه حرام لغیره، قال العلامة ابن عابدین: ای حرمته لا لعینه بل لامر راجع الی شیئ خارج عنه وهو الایذاء قال فی البحر عن الخلاصة من اعتقد الحرام حلالا او علی القلب یکفر اذا کان حراما لعینه وثبتت حرمته بدلیل قطعی اما اذا کان حراما لغیره بدلیل قطعی او حراما لعینه باخبار الاحاد لا یکفر اذا اعتقده حلالا ومثله فی شرح العقائد النسفیة. (الدر المختار مع ردالمحتار ۱: ۲۱۸ قبیل مطلب فی حکم وطء المستحاضة ومن بذکره نجاسة)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: اما النظر الی زوجته ومملوکته فهو حلال من قرنها الی قدمها عن شهوة وغیر شهوة وهذا ظاهر الا ان الاولیٰ ان لا ینظر کل واحد منهما الی عورة صاحبه کذا فی الذخیرة...... وکان ابن عمر رضی الله عنهما یقول الاولیٰ ان ینظر الی فرج امرأته وقت الوقاع لیکون ابلغ فی تحصیل معنی اللذة کذا فی التبیین، قال ابو یوسف رحمه الله سألت ابا حنیفة رحمه الله عن رجل یمس فرج امرأته وهی تمس فرجه لتتحرک آلته هل تریٰ بذلک بأسا قال لا وارجوا ان یعطی الاجر کذا فی الخلاصة. (فتاویٰ عالمگیریة ۵: ۳۲۷ الباب الثامن فیما یحل للرجل النظر الیه وما لا الخ)...... (بقیه حاشیه په زاروانه صفحه)

د جماع په وخت کښې بربنډ کېدل او بربنډول جائز دی البته بهتر نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین دي مسئلې باره کښې چه دخپلې منکوحې سره د صُحبت په وخت کښې خپل ځان مکمل بربنډ کول او ښځه مکمل بربنډول جائز دی یا نه؟ حالانکه دښځې خاوند شرم او حیا یووی؟ بینوا توجروا

المستفتی:...... نامعلوم...... ۱۹۹۰ء/۵/۱۰

الجواب: فقهاء کرامو بربنډېدلو او کولو ته جائزوئیلی دی. البته د فرج او ذکر کتلو ته ئې بهتر نه دی وئیلی، اګرچه جائز دی، او د چاشهوت چه بغیر د دې د کتلو نه نه راځی نو دهغه دپاره اجازت دې﴿۱﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) وقال العلامة الشامی: ویجوز ان یستمنی بید زوجته وخادمته وسیذکر الشارح فی الحدود عن الجوهرة انه یکره ولعل المراد به کراهة التنزیه فلا ینافی قول المعراج یجوز تامل. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۰۹ مطلب فی حکم الاستمناء بالکف.

وفی الهندیة: وفی النوازل اذا ادخل الرجل ذکره فی فم امرأته قد قیل یکره وقد قیل بخلافه کذا فی الذخیرة. (فتاویٰ عالمگیریة ۵: ۳۷۲ الباب الثلاثون فی المتفرقات

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی: قال فی الهدایة: الاولی ان لا ینظر کل واحد منهما الی عورة صاحبه لقوله علیه السلام اذا اتی احدکم اهله فلیستتر ما استطاع و لا یتجرد ان تجرد العیر ولان ذلک یورث النسیان لورود الاثر وکان ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما یقول ان ینظر لیکون ابلغ فی تحصیل معنی اللذة، لکن فی شرحها للعینی ان هذا لم یثبت عن ابن عمر لا بسند صحیح ولا بسند ضعیف وعن ابی یوسف سألت اباحنیفة عن الرجل یمس فرج امرأته وهی تمس فرجه لیتحرک علیها هل تری بذلک بأسا قال لا وارجو ان یعظم الاجر ذخیرة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵: ۲۵۹ فصل فی النظر، کتاب الحظر)

د ښځې په خوله کښې ذکر ورکول

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه د ښځې د ماهواری په ورځو کښې کله چه خاوند د ښځې سره هم بستری نشی کولې، نو خپل عضو تناسل د هغې په خوله کښې داخلولې شی یا نه؟ مونږ کافی استفسارات کړې دی مګر تشفی نه ده شوې؟ بینوا توجروا

المستفتی: م.الف.کلرکوټ کوهاټ.....۹۱۷۱ء۱۹۸۸

الجواب: د ښځې په خوله کښې ګندګی او بدبو اچول، (د منی انزال) ایزاء رسانی او ناجائز کار دې﴿۱﴾ البته نوم کښې یا د خپو او بغل په مینځ کښې شهوت رانی کول د چشم پوشئ قابل دې﴿۲﴾ بهرحال دا اول الذکر اقدام ناجائز دې اګر که ذکر ته پوکنړئ واچوی. وهو الموفق

د ضرورت په وخت کښې په ښځې باندې د استمناء بالید کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې که چرته ښځه د حیض یا نفاس په حالت کښې وی ښځه د جماع قابله نه وی حالانکه د خاوند په فعل حرام کښې د پریوتلو امکان وی یعنی ده ته د جماع ضرورت وی ایا په دې صورت کښې دې د خپلې ښځې په لاسونو سره استمناء کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګل زمان طوره ورئ کوهاټ.......۲۹۱۹۱ء۱۹۸۳

﴿۱﴾ وفی الهندیة: فی النوازل اذا ادخل الرجل ذکره فی فم امرأته قد قیل یکره وقد قیل بخلافه کذا فی الذخیرة

.(فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۷۲ الباب الثلاثون فی المتفرقات)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وله ان یقبلها ویضاجعها ویستمتع بجمیع بدنها ما خلا ما بین السرة والرکبة عند ابی حنیفة وابی یوسف هکذا فی السراج الوهاج.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۹ الفصل الرابع فی احکام الحیض والنفاس)

جواب: د دې عذر نو د وجه نه صورت مذکور جائز دې ګنی مکروه تنزیهی دې. والتفصیل فی ردالمحتار فلیراجع﴿۱﴾. وهو الموفق

د ښځې سره لواطت حرام دې او د استحلال په صورت کښې کفر دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه څه صاحب اولاده ښځه یم څما خاوند د منصوبه بندئ یا د شیطان د اثر نه آیت: نساءکم حرث لکم الخ. په حوالې ورکولو سره لواطت ته مجبوره کړم څما فریاد او د آه او بکاه د وجه نه یو ځل خاوند په قرآن باندې لاس کینبودلو سره قسم او کړو چه بیا به دا قبیح کار نه کوم مګر دا قسم ئې هم مات کړو، څه په مختلفو عوارضو کښې مبتلا شوې یم د خلاف فطرت کار نه کولو په وجه سره د نان او نفقې سره ئې هم څما تنګول شروع کړه څه د مور کور ته په تللو باندې مجبوره شوم یو کاله پورې د مور پلار په کور کښې اوسیدم، ماته ئې خرچه وغیره نه راکوله په شریعت کښې د دې کار د وجه نه څما نکاح فسخه شوې ده یا نه؟ او څه طریقه اختیار کړم؟ بینوا توجروا

المستفتی: م.ن.د.لاهور.......۲۱۱۱۱ء۱۹۷۵

الجواب: د زراعت محل (حرث) مخکښې (فرج) دې نه چه دبر، دا خو محل فرث دې لهذا په آیت سره د لواطت کولو د اجازت استدلال غلط دې بهرحال که چرته دې خاوند لواطت ته حلال ګڼړلي او منلې وی نو د کافر کیدلو د وجه نه د ده نکاح ختمه شوې ده، کمافی البحر ۵:۱۷ وعن الصفار یکفر مستحلها عندالجمهور کذا فی المجتبیٰ﴿۲﴾ او که چرته حلال ئې نه وی ګڼړلي نو تاسو د مسلمان

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: ویجوز ان یستمنی بید زوجته وخادمته، وسیذکر الشارح فی الحدود عن الجوهرة انه یکره ولعل المراد به کراهة التنزیه فلا ینافی قول المعراج یجوز تامل. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۰۹ مطلب فی حکم الاستمناء بالکف)

﴿۲﴾ (البحر الرائق ۵:۱۷ باب الوطء الذی یوجب الحد والذی لا یوجبه)

حاکم په ذریعې سره طلاق (تنسیخ نکاح) حاصلولې شئ﴿۱﴾ فتوی داده باقی ثبوت دمستفتیه ذمه واری ده وهو الموفق

خاوند ښځې لره په وطی فی الدبر باندې د مجبور کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو خاوند خپلې ښځې لره په وطی فی الدبر سلسله کښې مجبوره کوی دې صورت کښې ښځه څه اوکړی آیا دښځه موږپلار دې جینئ لره په خپل کور کښې ساتلې شی. یعنی د خاوند دکورنه ئې بندولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عالی محمدلکی مروت......یکم ربیع الاول ۱۴۰۲هـ

جواب: شرعاپه دې ښځې اوددې په اولیاء باندې ضروری دی چه دې خاوندله په دې ارتکاب باندې قدرت ورنکړی دخاوند دکورنه دبندولونه علاوه نور اقدامات هم جائزدی﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ په فتاوی دار العلوم دیوبند کښې دی په دې صورت کښې خاوند سخت ګنهګار اوفاسق شو. په حدیث شریف کښې داسې فعل (لواطت) کونکی باندې لعنت وارد شوې دې لیکن په دې وجه حاکم دوی کښې تفریق نه شی کولې، البته خاوند ته دې تنبیه اوکړې شی چه هغه ددې نه توبه اوکړی ګنی هغه دې مجبوره کړې شی چه طلاق ورکړی یا دې خلع اوکړی اوښځې له په مذکوره حالت کښې خاوند ته ورتلل نه دی پکار، بلکه یادې خاوند توبه اوباسی اوددې فعل نه دې منع شی یا دې طلاق ورکړی یادې خلع اوکړی. (فتاوی دار العلوم دیوبند ۱۰: ۲۲۹ باب سیزدهم نامرد مجنون وغیره) فقهاؤ په داسې خاوند چه هغه په وطی باندې قادر نه وی او د لواطت عادی وی دائې دعنین په حکم کښې ګرځولې دې.

قال العبد الرحمن الجزیری: او امکنه ان یأتی زوجته فی دبرها لافی قبلها فمن وجدت فیه حالة من هذه الاحوال کان عنینا بالنسبة لزوجته وکان لها حق طلب الفسخ. (الفقه علی المذاهب الاربعة ۴: ۱۶۵ العیوب التی یفسخ بها النکاح)......

پس معلومه شوه چه دعنین نه دخلاصی کومه طریقه ده هغه دې دده سره هم اوکړې شی. چه د شرعی قاضی په ذریعه یا دمسلمان حاکم اوچرته چه دا نه وی نود مسلمان مشر په ذریعه نجات حاصلولې شی. تفصیل دپاره اوګورئ! "الحیلة الناجزة للتهانوی"......(ازمرتب)

﴿۲﴾ قال الشیخ عزیز الرحمن الدیوبندی: په داسې حالت کښې دې د جینئ ...بقیه په راروانه صفحه)

د شرعی وینزو سره مالک د پاره جماع جائزده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید وائی چه مسلمان حاکم وخت دخپلو ټولو وینزو سره جماع کولې شی اوددوی سره دنکاح شوې ښځې پشان سلوک کولې شی حالانکه بکروائی چه دهرې ښځې سره بغیر د نکاح نه داسې کارناجائزدې. شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نثار احمد الخمس لیبیا......۱۲۰شوال ۱۴۰۳هـ

جواب: شرعی وینزې سره مالک خواه که حاکم وی یاغیرحاکم وی جماع کولې شی په شرط ددې چه داوینزه مسلمانه یااهل کتاب وی.

لقوله تعالی: الا علی ازواجهم او ما ملکت ایمانهم﴿۱﴾. لان النکاح بها یدخلها فی الازواج فلا فائدة فی العطف ولان الاستیجار یتحقق فی ملک الغیر دون ملک نفسه.

وهو الموفق

(بقیه حاشیه)...موږپلار خپله لور دخاوند کور ته نه لیږی او په نه لیږلو سره به دوی نه ګنهګاریږی بلکه څنګه چه کیدې شی دخاوند نه دې طلاق واخلی.

(فتاوی دارالعلوم دیوبند ۱۰: ۲۵۰ کتاب الطلاق)

﴿۱﴾(سورة المؤمنون پاره: ۱۸ رکوع: ۱ آیت: ۶)

....

کتاب الطلاق

باب شرائط الطلاق

د طلاق اضافت ښځې طرف ته شرط دې نه چه د نکاح طرف ته

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې که چرته ناواده کړې سړې دا اووائی چه نکاح ته طلاق یادنکاح نوم هم وانخلی صرف دنکاح طرفته اشاره اوکړی اووائی نودې سره طلاق واقع کیږی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدهاشم ټانک ډی آی خان......۱۵رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: صحت طلاق دپاره اضافت الی المنکوحۃ شرط دې، وهو مفقود ھٰهنا،اوعلی تقدیرالاضافت یو طلاق واقع کیږی.چه په هغې کښې تجدید دنکاح کافی ده.وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: لو قالْ ان خرجت يقع الطلاق اولا تخرجی الا باذنی فانی حلفت بالطلاق فخرجت لم يقع لتركه الاضافة اليها. قال العلامة ابن عابدين: (قوله لتركه الاضافة) ای المعنوية فانها الشرط والخطاب من الاضافة المعنوية وكذا الاشارة نحو هذه طالق وكذا نحو امرأتی طالق وزينب طالق...... والمفهوم من تعليل الشارح تبعا للبحر عدم الوقوع اصلا لفقد شرط الاضافة مع انه لو اراد طلاقها تكون الاضافة موجودة ويكون المعنى فانی حلفت بالطلاق منک او بطلاقک ولا يلزم كون الاضافة صريحة فی كلامه لما فی البحر لو قال طالق فقيل له من عنيت فقال امرأتی طلقت امرأته...... ويؤيده ما فی البحر لو قال امرأة طالق او قال طالق اوقال طلقت امرأة ثلاثا وقال لم اعن امرأتی يصدق الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۶۶۲م مطلب من الصريح الالفاظ المصحفة)

د طلاق دارومدار په تلفظ باندې دې نه چه شهادت قائم کولو یا لیکلو باندې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځمونږ په علاقه کښې په طلاق کښې چه ګواه اوتاریخ اونه لیکلې شی او، کانړی وانچولې شی د ګواهانو په مخامخ داطلاق نشی ګنړلې ایاپه طلاق ورکولو کښې ګواه لیکل او کانړی اچول ضروری دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګل زمان......۲۵۱۱۱۱ء۱۹۷۵

جواب: په طلاق باندې شهادت قائمول اولیکل ضروری امور نه دی دطلاق دارومدارصرف په تلفظ باندې دې ﴿۱﴾ اودا امرچه ګواه اوفارغ خطی اونه لیکلې شی نوطلاق به نه وی غلط اوخلاف شریعت امردې.لوجودرکن الطلاق، نیز کانړی اچول یولغوه څیزدې چه په دې باندې دطلاق دارومدارنه دې.لان رکن الطلاق وهواللفظ ومايقوم مقامه كمافی الدرالمختاروغيره فليراجع﴿۲﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: هو رفع قيد النكاح فی الحال او المآل بلفظ مخصوص هو ما اشتمل على الطلاق، قال العلامة ابن عابدين: ای على مادة ط ل ق صريحا مثل انت طالق او كناية كمطلقة بالتخفيف وكانت ط،ل،ق وغيرهما الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۵۰م۴ كتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله وركنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالة على معنى الطلاق من صريح او كناية فخرج الفسوخ على ما مر واراد للفظ ولو حكما ليدخل الكتابة المستبينة واشارة الاخرس والاشارة الى العدد بالاصابع فی قوله انت طالق هكذا كما سيأتی وبه ظهر ان من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلاثة احجار ينوی الطلاق ولم يذكر لفظا لا صريحا ولا كناية لا يقع عليه كما افتى به الخير الرملی وغيره.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۳م۴ كتاب الطلاق)

په طلاق ورکولوکښې د ښځې موجودګی شرط نه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځمالورته خپل خاوند ددې دموجودګئ نه بغیرپه دانګلینډعدالت کښې دڅلوروکسانوسره یوځائ فیصله دائره کړه اوطلاق نامه ئې دانګلینډنه ځمونږکلی ته راواستوله. روسته ځمالورته پته اولږیده. ایاپه شریعت محمدی کښې داطلاق صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......صالح خانه نوشهره......۲۷،۱،مئی۱۹۷۵ء

جواب: چونکه طلاق ورکولوپاره دښځې موجودګی شرط نه ده﴿۱﴾ لهٰذا صورت مسئوله کښې به دا ښځه مطلقه وی﴿۲﴾اودعدت تیریدلونه پس بل ځائ کښې نکاح کولې شی. وهوالموفق

که د ښځې طرف ته اضافت اونسبت موجود وی نوطلاق واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ماتقریبادرې میاشتې مخکښې پخپلې ښځې باندې غصه اوکړه اوپه درمیان کښې ددریم فریق دمداخلت سره ځماغصه انتهاته اورسیده نوماخپلې ترورته اووئیل چه څه خپلې ښځې ته طلاق ورکوم اوماشپږاووځله خپلې خورزې ته اووئیل چه مادې ته طلاق ورکړې دې، براه راست دښځې ته مخامخ مې دانه دی وئیلې

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ورکنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح او کنایة فخرج الفسوخ علی ما مر واراد اللفظ ولو حکما لیدخل الکتابة المستبینة واشارة الاخرس الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۵۳ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقا ولو علی نحو الماء فلا مطلقا ولو کتب علی وجه الرسالة والخطاب کان یکتب یا فلانة اذا اتاک کتابی هذا فانت طالق طلقت بوصول الکتاب جوهرة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۶۵ قبیل باب الصریح)

چه ماتاته طلاق درکړې دې یادرکوم بلکه هرځل مې ترورته وئیلی دی ددې نه دوه ورځې پس ځمااوځمادښځې راضی نامه اوکړې شوه مادامام مسجد نه اوپوښتل نوهغه اووئیل چه طلاق نه دې شوې البته کفاره داده چه ځلویښتو سړوته روټې ورکړه. بیادوېم مولوی صاحب نه چه هغه په علم کښې څه اوچت دې. نه پوښتنه اوکړه هغه اووئیل چه ښځه په تاباندې طلاقه شوې ده اوداپه تاباندې حرامه ده اوکومه پورې چه ددویم سړی سره نکاح اونه کړی ترهغه وخته پورې تاباندې حلاله کیدلې نشی اوس تاسوماته تسلی بخش جواب راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: یخداں میر......۱۹۷۲،۱،۹،۲ء

الجواب: په صورت مسئوله کښې ښځې طرفته اضافت اونسبت موجوددې یعنی دې ته. لهذاښځه په تاباندې مطلقه مغلظه شوې ده بغیردتحلیل نه څه چاره نشته تحلیل نه مراددادې چه داښځه دعدت تیریدلونه پس دویم سړی سره نکاح اوکړی، اودیوځل هم بسترې نه پس داسړې که چرته اوغواړی نو طلاق دې ورکړی اوکله چه ددغه طلاق عدت هم تیرشی نومخکښنې خاوند به ددې ښځې سره تجدید دنکاح اوکړی. فی ردالمحتار: قوله لترکه الاضافة ای المعنویة فانها الشرط ۲:۵۹۰. وهوالموفق

نوټ:..اوکه چرته خاوندباربارتاکیداوخپلې ارادې سره دغیرواپسئ په خیال سره طلاق ورکړی وی نوپه دې صورت کښې زبانی رجوع (عدت کښې دننه) کافی ده اودعدت نه پس تجدیددنکاح بغیردتحلیل نه کافی دې﴿۲﴾ وهوالموفق

صرف وعدې او د طلاق ارادې سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړې دخپلې ښځې د

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۶ قبیل مطلب من الصریح الالفاظ المصحفة)
﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۹۹ فروع قبیل باب الکنایات)

بدکارئ متعلق اوریدلو سره دخلقو په مخامخ اووئیل چه ځه خپلې ښځې ته طلاق ورکړم، یادااووائی چه ځه خپلې ښځې ته طلاق ورکوم کورطرفته دې ارادې سره روان شولیکن په لاره کښې ورته خیال راغلوچه حقیقت معلومول غواړی که چرته ښځه داسې نه وی نواراده به ختمه کړم نوایادې اولنی الفاظ سره طلاق واقع نه شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام سروراعوان......۱۹۷۹ء۶۱۲/۵

الجواب: واضحه دې وی چه په صورت مذکوره کښې صرف وعده اواراده ده چه دې سره طلاق واقع کیږی نه کله پورې چه په دې باندې د بالفعل واقع کیدلو اراده نه وی کړې﴿۱﴾.وهوالموفق

په زړه کښې د طلاق وئیلوسره طلاق نه کیږی کله پورې چه تلفظ نه وی کړې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زیدبالکل په تنهایئ کښې صرف په زړه کښې اووئیل چه ځماښځې ته درې طلاقه دی وی، دژبې نه کوم لفظ په پټ یاآوازسره طلاق ورکولو دپاره اداکړې نه دې او ښځې وغیره ته هم ددې پته نشته، ایادرې طلاقه واقع شول یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری محمدعیسٰی مدرسه تعلیم القرآن خانیوال۱۹۸۸ء۱۰/۱۱/۳

جواب: که چرته دې خاوندنۀ تصحیح حروف کړی وی اونۀ آوازاوریدلې شوې وی نوپه ده باندې ښځه مطلقه شوې نه ده(شامی)﴿۲﴾﴿۳﴾وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: او انا اطلق نفسی لم یقع لانه وعد جوهرة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۱۹ باب تفویض الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ورکنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح او کنایة...... وبه ظهران من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلاثة احجار ینوی الطلاق ولم یذکر لفظا لا صریحا ولا کنایة لا یقع علیه کما افتی به الخیر الرملی وغیره وکذا ما یفعله بعض سکان البوادی من امرها بحلق شعرها لا یقع به طلاق وان نواه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۵۳ مطلب طلاق الدور)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: وادنی الجهر اسماع......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

طلاق ورکولو کښې تلفظ هم کافی دی تحریر باندې موقوف نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی خپلې ښځې ته د جرګې په مخامخ طلاق ثلاثه ورکړل، لیکن اوس هغه دتحریرکولونه انکار کوی اوددې طلاق دلیکلو نه منحرف شوې دې اوس که چرته داسړې تحریری طلاق ورنکړی نوایادالسانی طلاق واقع شوې دې؟ دبعض شرارت پسند خلقو دزبان بندئ دپاره فتوٰی مطلوب ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سعیدزمان پانړی......۱۹۷۵ء۶۱۲/۱۱

الجواب: چونکه دطلاق رکن، لفظ، دې اوهغه موجوددې لهذا بشرط صدق وثبوت په دې سړی باندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده تحریرباندې توقف نشته دې﴿۱﴾وهوالموفق

کله چه زبانی طلاق اوشی نو تحریری لیکل او دستخط کول ضروری نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې دیوسړی په باره کښې مشهوره شوې ده چه هغه خپلې ښځې ته طلاق ورکړې دې دچاپه وړاندې چه هغه دطلاق الفاظ وئیلی دی اوس هغه جواب نه ورکوی اویوماماڼې صرف دا وائی چه ځماخیال دې چه حرامه ده اوبس، ګواهی هم نه ورکوی روستو یو

(بقیه حاشیه) غیره وادنی المخافة اسماع نفسه ویجری ذلک المذکور فی کل ما یتعلق بنطق کتسمیة علی ذبیحة ووجوب سجدة تلاوة وعتاق وطلاق. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۳۹۵ فصل فی القراءة مطلب فی الکلام علی الجهر والمخافة)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: (الطلاق) شرعا فهو رفع قید النکاح حالا او مآلا بلفظ مخصوص کذا فی البحر الرائق واما رکنه فقوله انت طالق ونحوه کذا فی الکافی...... واما حکمه فوقوع الفرقة بانقضاء العدة فی الرجعی وبدونه فی البائن وزوال حل المناکحة متی تم ثلاثا کذا فی محیط السرخسی.

(فتاوٰی عالمگیریة ۱:۳۴۸ کتاب الطلاق الباب الاول)

مجلس برائی تحقیق منعقد شو چه په دې کښې ددې سړی ماما او نور بزرګان دمحلې شریک شو او داخاوند هم موجود وو. دده ماما او وئیل چه ده پینځه خله پریخې ده بیا خاموش شو او څهٔ جواب ئې ورنکړو دطلاق نامې دلیکلو دپاره کاغذات راوړلې شو او په دې باندې خاوند مخکښې دستخط اوکړو هم دغه شان دده ماما او وئیل چه مخکښې سامان وصول کړئ طلاق نامه روستو اولیکئ کله چه په مجلس کښې داخبره اوشوه نو دده ماماده ته اووئیل چه لاړشه دمور سره مشوره اوکړه. مشوره ئې اوکړه واپس راغلو او وې وئیل چه ماته دافیصله منظوره ده او دستخط ئې هم اوکړو او دده ماما صحیح ګواهی هم نه ورکوی صرف وائی چه څما په خیال حرامه شوې ده په دې صورت کښې دا ښځه مطلقه شوې ده یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........۱۹۸۳ء/۵/۱۷

الجواب: که چرته دې خاوند په تنهایئ کښې یا عام مجلس کښې زبانی طلاق ورکړې وی نو په ده باندې ښځه مطلقه شوې ده خواه که په تحریری طلاق نامه باندې دستخط اوکړی یا اونکړی﴿۱﴾وهوالموفق

د ښځې او ګواه وغیره نه بغیر په تنهایئ کښې هم طلاق واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید دخپلې منکوحې ښځې نه ناراضه وو. یو ځل دې بالکل تن تنها ځانته ناست وو. یو ګواه ورسره هم نه وو دې تنګ راغلو او درې کاڼړی ئې اوچت کړه په دغه رنګې الفاظو سره چه څما منکوحه فلانې بنت فلانې په ما باندې په دې درې شرطونو باندې طلاقه ده اویو. دوه. درې. وئیلو سره ئې کاڼړې دطلاق ګزار کړل. داکاروائی بالکل تن تنها اوشوه او آخره پورې ددې حرکت نه نه ښځه خبر شوه او نه څوک

﴿۱﴾قال العلامة الحصكفي: هو...... رفع قيد النكاح في الحال او المآل بلفظ مخصوص هو ما اشتمل على الطلاق...... ومحله المنكوحة...... وركنه لفظ مخصوص خال عن الاستثناء. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲: ۴۵۱، ۴۵۳ كتاب الطلاق)

بل انسان، حالانکه دواړه ښځه خاوند تراوسه پورې پشان دښځې خاوند اوسیږی ایا داطلاق د تنهایئ واقع شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبداللطیف بټل مانسهره......۱۹۷۴ء/۹/۱۵

الجواب: په صورت مسئوله کښې په دې سړی باندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده. لان الشرط دون الحضور والمخاطبة،﴿۱﴾وهوالموفق

خفیه طورباندې د طلاق د وقوع مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیو سړی ښځه د پنځو کالو راسې غیرآباده ده. یعنی ښځه کورته راتللو نه پس هر درې ورځې پس تختې دمور پلار کورته ځی خاوند ئې تنګ راتللو سره په خپل کور کښې مخامخ ګواهان کینول او طلاق نامه اولیکله او حواله ئې کړه ورته حالانکه دښځې کورلرې دې ایا خفیه طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مشتاق احمد سعودی عرب......۱۱۸ جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: په خپله لیکل او په بل لیکلو سره طلاق واقع کیږی. کمافی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۸۹ کتاب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی﴿۲﴾ او وقوع دطلاق دپاره دښځې موجودګی یا دطلاق نامې وصول کول یا خبردارې شرط نه دې﴿۳﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الشيخ المفتی عزیزالرحمن الدیوبندی: په دې صورت کښې دده په ښځه باندې طلاق واقع شو ځکه چه دطلاق ورکولو په وخت ښځه مخامخ کیدل او ورسره موجود کیدل ضروری نه دی.
(فتاوٰی دارالعلوم دیوبند ۹: ۴۲ کتاب الطلاق باب اول)

﴿۲﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۶۵ قبیل باب الصریح مطلب فی الطلاق بالکتابة)

﴿۳﴾قال العلامة ابن عابدین: المرسومة لا تخلو ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د ښځې د بدرنګئ او بدصورتئ د وجهې نه طلاق ورکول ښه نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدين دي مسئلې باره کښې چه مادناديده جينئ سره چه ډيره بدرنګه ده دخورپه بدله کښې واده اوکړوسخرګنې مې ډيرښه خلق دی عزتمند خاندان دي ځماخور هغلته ډيره خوشحاله ده آرام سره زندګی تيروی او ځمابنځه ډيره قابله شريف النفس مجسمه شرم اوحياءاوشرافت دې ما باندې خودظالم لورډيره فريفته داخلاصه ده چه ځماپه خاندان کښې ددې نه بله بهتره جينئ نشته،څه ډيرمفلس يم اومعمولی ملازمت مې دې چه دکورنه مې ديرش ميله لرې مسافرئ کښې زندګی تيرېږی افسوس صدافسوس چه ځما ددوستانو،رشته دارانو اومولوی صاحبانو دمسئلو اوخبرودوجه نه چه تاته دخدائ شکراداکول پکاردی وغيره دې سره بالکل ځمادزړه سکون او تشفی اونه شوه،اوس زندګی خرابه تيرېږی حيران اوپريشان يم ماپه ټولو طرفونوغريبئ په کمزوری صحت،د خورخيال، دمور پلارپه ناراضګئ په ټول هرڅه باندې سوچ اوفکرکړې دې مګرصرف داخبره ماته ياده راځی چه دا ځما بدقسمتی ده چه څه دحدنه زيات حسن پرست يم ايا ددې حالاتوپيش نظرڅه طلاق ورکولې شم؟بينوا توجروا

المستفتی:......چارسده......٢٣/١١/١٩٧٥ء

الجواب: محترم المقام: دسلام نه پس واضحه دې وی چه ته دطلاق ورکولونه

(بقيه حاشيه)اما ان ارسل الطلاق بان كتب اما بعد فانت طالق فكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة وان علق طلاقها بمجيئ الكتاب بان كتب اذا جاء ک كتابی فانت طالق فجاء ها الكتاب فقرأته اولم تقرأ يقع الطلاق...... ولو قال للكاتب اكتب طلاق امرأتی كان اقرارا بالطلاق وان لم يكتب الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٤٦٥ قبيل باب الصريح مطلب الطلاق بالكتابة)

اجتناب اوکړه الله کريم دې تاددې نه محفوظ کړی، آمين، که ته حسن پرست ئې يارنګدارچمره پرست ئې ليکن بعض خلاف الطبع امورته دنورو دطبيعت دپاره برداشت کړه، الله تعالی تاته سترېږې درکړی دی ددې شکريه دانه ده چه ته به دقيامت په ورځ تمناکوې چه کاش څه ړوندوې دې دپاره چه ددې تکليف نه محفوظ شوې وې﴿١﴾ وهو الموفق

ښځې باندې د بدګمانې د وجهې نه د طلاق ورکولوحکم

سوال: څه فرمائی علماء دين دي مسئلې باره کښې چه ديوسړی معامله ده وائی چه ماخپلې ښځې لره دلرې رشته دارسره اوليدله ځماشک شوچه ددې دواړوپه مينځ کښې څه ګړبړشته حالانکه هغه رشته داردا ول نه بدکاردې،ما خپله ښځه هغه سړی سره دخبروکولونه په سختئ سره منع کړه ليکن هغه منع نه شوه،اوس څه کورهم نشم پريخودې چه دموروپلارخدمت ضروری دې نو ګزارش دادې چه څه اوکړم،طلاق ورکړم،يادادواړه اووهم؟ يادويم واده کولو سره دې ښځې لره خپل ځان سره برائی نام اوساتم؟ بينوا توجروا

المستفتی: سعيدعمررياض سعودی عرب......١٧رمضان ١٤١٠ھ

﴿١﴾قال العلامة ابن عابدين: الاصل فيه الحظر لما فيه من كفر ان نعمة النكاح والاباحة للحاجة الى الخلاص ولحديث ابغض الحلال الى الله تعالىٰ الطلاق...... فان الاصل فيه الحظر بمعنى انه محظور الا لعارض يبيحه وهو معنى قولهم الاصل فيه الحظر والاباحة للحاجة الى الخلاص فاذا كان بلا سبب اصلا لم يكن فيه حاجة الى الخلاص بل يكون حمقا وسفاهة رأى ومجرد كفران النعمة واخلاص الايذاء بها وباهلها واولادها...... ولهذا قال تعالىٰ فان اطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلا اى لا تطلبوا الفراق وعليه حديث ابغض الحلال الى الله الطلاق الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٤٥١ كتاب الطلاق)

الجواب: داسړې ددې دواړو دقتل مجازنه دې صرف بدګمانئ سره قتل حرام دې﴿١﴾ پس داسړې دې دسحرپه وخت کښې اعوذبالله من الشیطان الرجیم لاحول ولاقوة الابالله العلی العظیم سل ځله اووائی﴿٢﴾امیددې چه په ځلوېښتوورځوکښې داوهم ختم شی که چرته داصرارپه وخت یوطلاق بائن ورکړې نوپه دې کښې حرج نشته دې﴿٣﴾.وهوالموفق

پرده نه کولو والا او بغیر د خاوند نه ګرځېدونکې ښځې ته طلاق ورکول ضروری نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دکوم سړی ښځه بغیر د

﴿١﴾ وفی الهندیة: سئل الهندوانی رحمه الله تعالیٰ عن رجل وجد مع امرأته رجلا ایحل له قتله قال ان کان یعلم انه ینزجر عن الزنا بالصیاح والضرب دون السلاح لا یحل الخ.

(فتاویٰ عالمگیریة ٢:١٦٧ فصل فی التعزیر)

﴿٢﴾ عن ابی هریرة قال: قال رسول اللهﷺ: یأتی الشیطان احدکم، فیقول: من خلق کذا؟ من خلق کذا؟ حتی یقول: من خلق ربک؟ فاذا بلغه، فلیستعذ بالله ولینته (متفق علیه) قال الملا علی قاری: (قوله فلیستعذ بالله) طردا للشیطان اشارة الی قوله تعالیٰ الا عبادک منهم المخلصین، وایماء الی قوله علیه الصلاة والسلام: لا حول ولا قوة الا بالله، فان العبد بحوله وقوته لیس له قوة المغالبة مع الشیطان ومجادلته، فیجب علیه ان یلتجئ الی مولاه ویعتصم بالله من الشیطان الذی اوقعه فی هذا الخاطر الذی لا اقبح منه فیقول بلسانه: اعوذ بالله من الشیطان الرجیم ویلوذ بجنانه الی جنابه ان یدفع عنه شره وکیده فانه مع اللطف الالٰهی لا اضعف منه ولا اذل الخ.

(مرقاة المفاتیح ١:٢٤٢ باب فی الوسوسة)

﴿٣﴾ قال العلامة الحصکفی: وایقاعه مباح وقیل الاصح حظره ای منعه الا لحاجة کریبة، قال ابن عابدین: هی الظن والشک ای ظن الفاحشة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ٢:٤٥٠ کتاب الطلاق)

پردې نوروکورونوته ځی،دخپل خاوندنه بغیرسیل کولووالااو د چکرو عادتی ده په وهلوسره هم منع نه شوه،ایادې ښځې ته طلاق ورکړی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالستارعیدک شمالی وزیرستان

الجواب: داسې ښځې ته طلاق ورکول ضروری نه دی(شامی)﴿١﴾وهوالموفق

طلاق ورکول د خاوند حق دې مور پلار، رونړو، یا جرګې ته په دې کښې څه حق او دخل نشته

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیوښځې په خاندان او ددې دخاوندد خاندان په مینځ کښې څه اختلاف پیداشو،اودواړه دطلاق متمنی دی لیکن ښځې په جرګه کښې اووئیل که چرته مامړه هم کړی نوبیاهم څه دخپل خاوندنه طلاق نه اخلم اوخاوندهم په طلاق ورکولورضامندنه دې نو آیا ددې موراوپلاریارونړه ایاجرګه دې لره په زبردستئ سره طلاقه کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدمسکین بلندکوټ.......یکم مارچ ١٩٧٥ء

جواب: طلاق ورکول دخاوندحق دې دې که اوغواړی طلاق ورکولې شی اوکه اونه غواړی نوطلاق نشی ورکولې په دې کښې دخاوندیادښځې مور پلار رونړو یا جرګې ته څه حق اودخل نشته﴿٢﴾وهوالموفق

﴿١﴾ قال العلامة الحصکفی: لا یجب علی الزوج تطلیق الفاجرة ولا علیها تسریح الفاجر الا اذا خافا ان لا یقیما حدود الله فلا بأس ان یتفرقا.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢:٣١٨ فصل فی المحرمات)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصکفی: لا یقع طلاق المولیٰ علی امرأة عبده لحدیث ابن ماجة الطلاق لمن اخذ بالساق، قال ابن عابدین: رواه عن ابن عباس من طریق فیها ابن لهیعة ورواه الدار قطنی ایضا من غیرها کما فی الفتح ومراده تقویة الحدیث لان ابن لهیعة متکلم فیه فقد اختلف المحدثون فی جرحه وتوثیقه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ٢:٤٦٢ قبیل مطلب فی طلاق المذهوش)

د خاوندانو نه بغیر د ثالثانو طلاق ورکول نامنظوردي

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دحسن واده دحمیدې سره شوي وو، اودګل خان واده دبی بی خانه سره شوي وو، چه دحسن خورده د وادۀ نه پس صلح اوصفائی سره دې دواړوخپل خپل کورونه آباد کړل روستو حمیدې لره ددې رورګل خان څماکورته دراستولونه انکاراوکړواوهم دغه شان دحسن خوربی بی خانه ته په آبادکیدلو کښې روکاوټونه واچول یونین کونسل فیصله اوکړه چه دواړه ښځې خپلوخپلوکورونوته لاړې شئ ټولو فیصله منظوره کړه لیکن روستوګل خان انکاراوکړوچه نه بوتلل غواړم اونه جینئ پریخودل غواړم فیصله دوباره په یونین کونسل کښې پیش کړې شوه یونین کونسل دفیصلې دپاره پیراظهرلره مقررکړو، پیرصاحب دواړو فریقانوته دثالث مقررکولو اووئیل، دواړوفریقانودخپل خپل طرفنه ثالثان مقررکړل ثالثانودصلحې په ځائې دټولونه مخکښې یوتحریری بیان قلمبند کړوچه کوم فریق دثالثانو خبره نه منی دهغه ښځه به په هغه باندې طلاقه وی په دې دوران کښې خطیب مسجد ثالثانوته اووئیل چه هلکانو نه دپوښتنې کولو سره فیصله اوکړی مګرثالثانو اووئیل چه دهلکانونه پوښتنه نه کوو او بغیر دپوښتنې کولونه ئې فیصله اوکړه چه ستاسو ددواړوښځې په تاسو باندې طلاقې دی حالانکه بی بی خانه طلاق اخستل نه غواړی ددې یوه لور هم ده ایاددې ذکرشوې ثالثانوپه دې کار سره طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل حسین بیروټ خوردهزاره..... ۸/۱۰/۱۹۷۴ء

جواب: چونکه ذکرشوې واقعه کښې دې خاوندانونه پخپله طلاق لیکلې دې اونه ئې په بل لیکلواونه ئې دمضمون خبریدونه پس دستخط اوکړواونه دوی دطلاق ورکولونیت کړې دې، لهذا په دوی باندې ښځې طلاقې شوی نه دی په دوی باندې دښځومطلقه کیدل دقاعدې خلاف او نامنظور دی (ماخوذ عالمګیریه(۱)

(۱) وفی الهندیة: واما تفسیر الطلاق شرعا فهو رفع قید النکاح حالا او مآلا بلفظ مخصوص...... واما رکنه فقوله انت طالق ونحوه الخ.
(فتاویٰ عالمګیریة ۱: ۳۴۸ کتاب الطلاق الباب الاول)

وردالمحتار(۱) وهو الموفق

طلاق نامه باندې دطلاق نیت نه کولو دوجه نه دغلط دستخط کولومسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دزید دطرف نه یوفضولی عدالت کښې ستامپ پیپرواخستلواومنشی نه ئې اولیکلوچه زید خپلې ښځې ته طلاق ثلاثه ورکړې دې، بیاپه دې ستامپ باندې زید دخپل اصلی نوم په ځائې فرضی اوغلط نوم سره دستخط اوکړوزیدوائی چه مادې فضولی ته نه دطلاق څه وئیلی دی اونه مې دطلاق اراده وه لیکن ددې غلط دستخط کولوڅه قانونی مجبوریانې وې روستوفضولی ستامپ د مجسټریټ په حواله کړواوورسره زیدهم موجودوومجسټریټ دزیدنه څه استفساراونه کړوبلکه خپل مهرعدالت اودستخط ئې اوکړوبیافضولی دغه ستامپ ښځې ته ورکړو، اوس دطلاق شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانانورمحمدمهتمم مدرسه اسلامیه بفه مانسهره ۱۷/۵/۱۹۸۳ء

(۱) قال العلامة ابن عابدین: قال فی الهندیة: الکتابة علی نوعین مرسومة وغیر مرسومة ونعنی بالمرسومة ان یکون مصدرا ومعنونا مثل ما یکتب الی الغائب وغیر المرسومة ان لا یکون مصدرا ومعنونا وهو علی وجهین مستبینة وغیر مستبینة فالمستبینة ما یکتب علی الصحیفة والحائط والارض علی وجه یمکن فهمه وقراءته وغیر المستبینة ما یکتب علی الهواء والماء وشئ لا یمکن فهمه وقراءته ففی غیر المستبینة لا یقع الطلاق وان نوی وان کانت مستبینة لکنها غیر مرسومة ان نوی الطلاق یقع والا لا وان کانت مرسومة یقع الطلاق نوی او لم ینو ثم المرسومة لا تخلو اما ان ارسل الطلاق بان کتب اما بعد فانت طالق فکما کتب هذا یقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة وان علق طلاقها بمجیئ الکتاب بان کتب اذا جاءک کتابی فانت طالق فجاءها الکتاب فقرأته او لم تقرأ یقع الطلاق.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۴ مطلب فی الطلاق بالکتابة)

الجواب: تحریری طلاق بغیر د قصد او نیت نه نامنظور او کالعدم وی.

یدل علیه ما فی ردالمحتار ۲: ۵۷۹ وفی البحر ان المراد الاکراه علی التلفظ بالطلاق فلو اکره علی ان یکتب طلاق امرء ته فکتب لا تطلق لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة هنا کذا فی الخانیة﴿۱﴾ انتهیٰ قلت: وجه الدلالة ان حکم الاکراه والهزل واحد﴿۲﴾. وهو الموفق

مستحل د ګناه سره نکاح باطله او ښځه آزاده ده

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیوښځې نکاح دیو مطرب (ډولکی مار) سره اوشوه هغه خپلې ښځې لره په ګډا او نورو فحش

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۷ مطلب فی الاکراه علی التوکیل بالطلاق الخ)

﴿۲﴾ یدل علیه ما فی ردالمحتار: (قوله او هازلا) ای نیقع قضاء ودیانة...... واما ما فی اکراه الخانیة لو اکره علی ان یقر بالطلاق فاقر لا یقع کما لو اقر بالطلاق هازلا او کاذبا فقال فی البحر ان مراده لعدم الوقوع فی المشبه به علمه دیانة ثم نقل عن البزازیة والقنیة لو اراد به الخبر عن الماضی کذبا لا یقع دیانة وان اشهد قبل ذلک لا یقع قضاء ایضا، ویمکن حمل ما فی الخانیة علی ما اذا اشهد علی انه یقر بالطلاق هازلا ثم لا یخفی ان ما مر عن الخلاصة انما هو فیما لو انشأ الطلاق هازلا وما فی الخانیة فیما لو اقر به هازلا فلا منافاة بینهما، قال فی التلویح وکما انه یبطل الاقرار بالطلاق والعتاق مکرها کذلک یبطل الاقرار بهما هازلا لان الهزل دلیل الکذب کالاکراه حتی لو اجاز ذلک لم یجز لان الاجازة انما تلحق سببا منعقد ایحتمل الصحة والبطلان وبالاجازة لا یصیر الکذب صدقا وهذا بخلاف انشاء الطلاق والعتاق ونحوهما مما لا یحتمل الفسخ فانه لا اثر فیه للهزل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۹ قبیل مطلب فی تعریف السکران وحکمه)

.....

کارونو باندې مجبوره کړه، داجینۍ دخپل مور پلار کور ته لاړه او خاوند نه ئې سول جج سره د نکاح د تنسیخ کولو دعوی اوکړه، ایا دا فیصله په شریعت کښې منلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ ګل رحیم خطیب اډه مسجد صوابی...۱۸\۱۱\۱۴۰۷هـ

الجواب: بشرط صدق وثبوت بره مضمون سره دا ښځه آزاده ده او په بل ځائ کښې باقاعده نکاح کولې شی ځکه چه استحلال د ګناه حسب تصریح متکلمینو او فقهاء کفر دې، ﴿۱﴾قال فی شرح التنویر: ومن یستحل الرقص قالوا بکفره ولاسیما بالدف یلهو ویزمر، وتمام الکلام فی ردالمحتار ۲۵۹:٤ کتاب المرتد، او چونکه دارومدار دلیل د استحلال دې نه عین اعتقاد حلت حرام، لکونه خفیا، او په صورت مسئوله کښې دلیل د استحلال بغیر د شک نه موجود دې ګناه ذریعه دمعاش جوړول په دې باندې فخر کول وغیره واضح دلائل دی﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الشیخ محی الدین بن بهاء الدین: (قوله ولا نکفر مسلما بذنب من الذنوب وان کانت کبیرة اذا لم یستحلها) واما اذا استحل الذنب وان کانت صغیرة یکون مکذبا للشارع فی النهی فیزول التصدیق علی قلبه فیکون کافراً نعوذ بالله.

(القول الفصل شرح فقه الاکبر ۳۰٦ ولا نکفر مسلما بذنب الخ)

﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۳۳۷ قبیل باب البغاة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن البزاز الکردری: والقرطبی علی ان هذا الغناء وضرب القضیب والرقص حرام بالاجماع عند مالک وابی حنیفة والشافعی واحمد فی مواضع من کتابه...... ورأیت فتویٰ شیخ الاسلام سید جلال الملة والدین الکیلانی رضی الله عنهم ان مستحل هذا الرقص کافر ولما علم ان حرمته بالاجماع لزم ان یکفر مستحله وللشیخ الزمحشری فی کشافه کلمات فیهم یقوم بها علیهم الطامة وصاحب النهایة والامام المحبوبی ایضا اشد من ذلک عزم علی ان یأمر بالکفر کفر.

(فتاویٰ بزازیة علی هامش الهندیة ٦: ۳۴۹ المتفرقات من آخر الکتاب)

که خاوند مرتدشی نودرې حیضه تیرولونه پس نکاح ختمه او کالعدم شی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زید سنی اهل سنت مسلمان وو څه وخت پس مرزائی قادیانی جوړشو. په دې وخت کښې اولادهم اوشو دده ښځه هم هغه رنګه سنی پاتې شوه اوخوځله دې لره ربوه ته بوتلو سره سره دمرزائی خلیفه په بیعت کولوباندې مجبوره کړه. مګردې انکار اوکړواوس حالانکه مرزائی غیرمسلم قرارشوی دی زیدته د توبې کولو مشوره ورکړې شوه لیکن دې مرتدکیدلوباندې مصردې اوس ایاضروری دی چه زیدمسلمانې ښځې ته طلاق ورکړی یاطلاق خودبخودواقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: صوفی عبدالکریم راولپنډی ۳۱۱۱۱۱۹۷۴ء

الجواب: دمسلمانې ښځې مسلمان خاوند چه کله مرتد شی نود خاوند اصرار یا درې حیضه تیریدلو نه پس سابقه نکاح ختمه او کالعدم کیږی. د طلاق یا خلع ضرورت نه وی. او کله چه خاوند د ابتداء نه یعنی د عقدِ نکاح د وخت نه کافر او مرتد وی نودا نکاح د ابتداء الامر نه کالعدم وی. اګرچه خاوند اصرار او اباء کوی یا نه. دا مسائل په شامی ﴿۱﴾ بحر. فتح او عالمګیریه ﴿۲﴾ کښې لیکلی شوی دی. وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: والعدة فی حق حرة ولو کتابیة تحت مسلم تحیض لطلاق ولو رجعیا او فسخ بجمیع اسبابه، قال ابن عابدین: (قوله بجمیع اسبابه) مثل الانفساخ بخیار البلوغ...... والردة فی بعض الصور.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ٦۵۱ قبیل مطلب حکایة شمس الائمةالسرخسی باب العدة)

﴿۲﴾وفی الهندیة: وان اخبرت المرأة ان زوجها قد ارتدلها ان تتزوج بآخر بعد انقضاء العدة فی روایة الاستحسان وفی روایة السیر لیس لها ان تتزوج قال شمس الائمة السرخسی الاصح روایة الاستحسان کذافی فتاویٰ قاضی خان فی باب الردة.

(فتاویٰ عالمګیریة ۱: ۳۴۰ قبیل الباب الحادی عشر فی القسم باب نکاح الکفار)

په طلاق رجعی کښې رجوع کونکی ته د مزاق په طور طلاق وغیره وئیل جائزنه دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زید ښځې ته یوطلاق ورکولو نه پس بیا رجوع کړې وه. لکه چه په دین اسلام کښې جائزدی. کافی مودې نه دواړه آباد دی او خوشحالئ سره اوسیږی.(۱) آیا شرعاً په دې کښې څو څه نقصان نشته؟ (۲) که یوسړې د طنز (ټوقو) په طور وائی چه زید طلاق ورکړې وو دده دپاره دا ښځه حلال نه ده وغیره. ددې سړی څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سلیم بقلم خود

الجواب: چونکه د طلاق رجعی نه پس رجوع جائزده. لقوله تعالٰی: الطلاق مرتن فامساک بمعروف اوتسریح باحسان، (سورة البقرة)﴿۱﴾ لهذا په زیدباندې څه ګناه او حرج نشته دې. او په ده باندې طنزکولو والاکه چرته جاهل وی نوهغه لره دې پوهه کړئ او که چرته دعلم اوپوهې باوجود طنزکوی نوده ته دینی تعزیر ضروري دې، فی الدرالمختار: وعزر کل مرتکب منکراومؤذی مسلم بغیرحق بقول اوفعل﴿۲﴾. وهو الموفق

بغیر د سوچ نه او بغیر د قصد نه د طلاق الفاظ وئیل

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یومورخپلې لورته درې غوزان ورکړل. لورورته اووئیل چه صرف درې غوزان؟ درې خوطلاق کیږی نو مخامخ دلورپلار ناست وونوهغه بغیرد سوچ او بغیر دقصدنه اووئیل چه ستا مور شپږ وطلاقو سره طلاقه ده اوس به ددې مسئلې حل څه وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم

﴿۱﴾ (سورة البقرة آیت: ۲۲۹ پاره: ۲ رکوع: ۱۳)

﴿۲﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۱۹۹ فروع باب التعزیر)

جواب: په صورت مسئوله که چرته خاوند هازل وی یعنی ددې الفاظو متعلق سبب د طلاق واقع کیده معلوم وولیکن دې سره طلاق واقع کول مراد او مقصود نه وونو په ده باندې دا ښځه مطلقه مغلظه شوې ده. (شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲:۵۸۵)﴿۱﴾ او که چرته دا خاوند جاهل وی یعنی ددې الفاظو متعلق سبب د طلاق واقع کیدل معلوم نه وو نو په ده باندې ښځه مطلقه شوې نه ده.

کما فی فتح القدیر ۳: ۳۵۱، ۳۵۲ باب ایقاع الطلاق، ولا بد من القصد بالخطاب بلفظ الطلاق عالما بمعناه او النسبة الی الغائبة...... والحاصل انه اذا قصد السبب عالما بانه سبب رتب الشرع حکمه علیه اراده اولم یرده واما اذا لم یقصده او لم یدر ما هو فیثبت الحکم علیه شرعا وهو غیر راض بحکم اللفظ ولا باللفظ فمما ینبو عنه قواعد الشرع﴿۲﴾. فافهم. وهو الموفق

د حمل په صورت کښې هم طلاق واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې دی لیکن هغه وخت هغه ښځه حامله نه وه او دې سړی هم باربار د حمل اقرار کړې دې ایا د حمل په صورت کښې طلاق واقع کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: امیرخان دربند هزاره......۱۳۹۱/۲/۲۸ھ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: بخلاف الهازل واللاعب فانه یقع قضاء ودیانة لان الشارع جعل هزله به جدا فتح، قال ابن عابدین: (جعل هزله به جدا) لانه تکلم بالسبب قصدا فیلزمه حکمه وان لم یرض به لانه مما لا یحتمل النقض کالعتاق والنذر والیمین.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۴۶۱ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش).

﴿۲﴾ (فتح القدیر فی شرح الهدایة ۳: ۲۵۱، ۲۵۲ باب ایقاع الطلاق)

جواب: د ائمه اربعه په نزد دا حامله ښځه مطلقه مغلظه شوې ده﴿۱﴾ بغیر د حلالې نه بله کومه چاره نشته دې. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة المرغینانی: وطلاق الحامل یجوز عقیب الجماع لانه لا یؤدی الی اشتباه وجه العدة وزمان الحبل زمان الرغبة فی الوطء لکونه غیر معلق او یرغب فیها لمکان ولده منها فلا تقل الرغبة بالجماع.

(هدایة علی صدر فتح القدیر ۳: ۳۳۷ باب طلاق السنة)

....

باب صریح الطلاق

په طلاق صریح کښې نیت د بینونت لغوه اونامنظوردې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځمایودوست دښځې سره جنګ اوکړو. ښځې ئې وهله لیکن خلقو دې پرې نه خودلو. دې دروازې نه بهر ولاړ وواودوه ځله ئې اووئیل چه ځه ته په ماباندې طلاقه ئې ځه ته په ما باندې طلاقه ئې دغه وخت دده نیت دطلاق مغلظه وو. آیادا طلاق واقع شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: غنی الرحمن جړوبه نوشهره......۱۲رجب ۱۴۰۳ھ

جواب: دا ښځه په دې خاوندباندې طلاقې رجعی سره مطلقه شوې ده﴿۱﴾ مطلقه مغلظه شوې نه ده ځکه په داسې صریح الفاظوکښې نیت دبینونت لغوه او نامنظوروی. کمافی ردالمحتار ۲:۵۹۲﴿۲﴾وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: ان الصریح نوعان صریح رجعی وصریح بائن فالاول ان یکون بحروف الطلاق بعد الدخول حقیقة غیر مقرون بعوض ولا بعدد الثلاث لانصا ولا اشارة ولا موصوف بصفة تنبئ عن البینونة او تدل علیها من غیر حرف العطف ولا مشبه بعدد او صفة تدل علیها.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۷ مطلب الصریح نوعان رجعی وبائن)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد امین: (قوله اولم ینو شیئا)لما مر ان الصریح لا یحتاج الی النیة ولکن لا بد فی وقوعه قضاء ودیانة من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه ولم یصرفه الی ما یحتمله کما افاده فی الفتح وحققه فی النهر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۷ مطلب فی قول البحر باب الصریح)

د ارتداد زوجین دوجه نه بینونت واقع کیږی نه چه طلاق

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه احدالزوجین مرتدشوی دی نودنکاح څه حکم دې. طلاق واقع شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام سرور اسلام آباد......۱۴۰۱/۱۲/۱۴ھ

جواب: دکلمات کفریه وئیلوسره بینونت واقع کیږی مګرطلاق نه واقع کیږی. ارتد احدالزوجین عن الاسلام وقعت الفرقه بغیرطلاق فی الحال قبل الدخول وبعده(هندیه ۱:۳۶۱)﴿۱﴾وهوالموفق

د ښځې خاوند په کومه ډرامه کښې د فنکارئ په وخت د دریو طلاقو مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ښځې خاونددواړه په کومه ډرامه کښې دفنکارې کولوپه وخت دکوم پارټ کولوپه وخت دفلم دقصې په روسره دغصې په حالت کښې درې طلاقه ورکړل نوایادې ښځې خاوندلره اصل کښې هم طلاق کیږی یانه. نیزددوی اصل نومونه نوردی لیکن په ډرامه کښې ئې فرضی نومونه دی؟ بینوتوجروا

المستفتی: ګلزاراحمد حقانی......۳۱/۱/۱۹۸۷ء

الجواب: حکایت دطلاق اګرچه طلاق نه دې﴿۲﴾لیکن بې پردګئ نه جائزترقې

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګیریة ۱: ۳۳۹ الباب العاشر فی نکاح الکفار)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: ان الصریح لا یحتاج الی النیة ولکن لا بد فی وقوعه قضاء ودیانة من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه ولم یصرفه الی ما یحتمله کما افاده فی الفتح وحققه فی النهر احترازا عما لو کرر مسائل الطلاق بحضرتها او کتب ناقلا من کتاب امرأتی طالق مع التلفظ او حکی یمین غیره فانه......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ګنړلو والا نکاح باقی پاتې کیدل زیرغورده﴿۱﴾وهو الموفق

طلاق قطعی طلاق بائن ته وئیلې شی نه چه طلاق ثلاثه ته

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دنن نه تقریباپنځه کاله مخکښې دبیمارئ دوجه نه خپلې ښځې ته په دې الفاظوباندې دستخط کولو سره طلاق ورکړو، چه څه خپلې ښځې ته دکوردناچارې دوجه نه طلاق ورکوم، طلاق قطعی ورکولو سره فارغ کوم، ښځه ځمادترورلوروه اودطلاق وجه صرف ځمابیماری وه چه څه حقوق زوجیت نشم اداکولې، خلوت ضرور شوی دې غرض دې چه دې سره کوم طلاق واقع کیږی اودحلالې به څه صورت وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمداسلم سنجوال کینټ...... ۱۹۹۰ء۱۲۱۹۱

الجواب: په صورت مسئوله کښې تجدیدنکاح ضروری دې دحلالې ضرورت

(بقیه حاشیه) لا یقع اصلا ما لم یقصد زوجته.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۷ مطلب الصریح یحتاج فی وقوعه الی النیة)

وفی الهندیة: رجل قال لامرأته انت طالق فقال له رجل ما قلت فقال طلقتها او قال قلت هی طالق فهی واحدة فی القضاء کذا فی البدائع.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۵۵ اذا کرر الطلاق علی المرأة المدخول بها)

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: وفی عمدة النسفی: واستحلال المعصیة کفر، قال شارحه القونوی کانه اراد والله اعلم، بالمعصیة المعصیة الثابتة بالنص القطعی...... وقال القاضی عضد الدین فی المواقف: ولا یکفر احد من اهل القبلة الا فیما فیه نفی الصانع القادر العلیم اوشرک او انکار للنبوة او ما علم مجیئه بالضرورة او المجمع علیه کاستحلال المحرمات.

(شرح فقه الاکبر ۱۶۲ مطلب یجب معرفة المکفرات لاجتنابها)

نشته ځکه چه طلاق قطعی طلاق بائن یاطلاق غیرمعلق ته وائی نه چه طلاق ثلثه ته﴿۱﴾وهو الموفق

طلاق منجز سره طلاق معلق باطل کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زیدمنکوحې ته طلاق معلق مثلاان دخلت الدارفانت طالق،اووئیل بیاددخول دارنه مخکښې درې نورطلاقې منجز ورکړل پس منکوحه عدت کښې وه چه دخول دارئې هم اوکړونوایااوس داطلاق معلق به هم واقع کیږی یانه؟ که چرته واقع وی نواوس به نوې عدت تیروی یاتداخل کافی دې؟بینوا توجروا

المستفتی:فضل معبودجندول معیار...... ۱۹۷۴ء۵۱۱۲۱

جواب:چونکه طلاق معلق طلاق منجزسره باطل شوې دې لهذاپه دې باندې به عدت وغیره نه مرتب کیږی، کمافی الدرالمختار: ویبطل تنجیز الثلاث للحرة والثنتین للامة تعلیقة للثلاث ومادونها،هامش ردالمحتار ۲:۶۸۴﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: واما الثانی (بائن) فبخلافه وهو ان یکون بحروف الابانة وبحروف الطلاق لکن قبل الدخول حقیقة او بعده لکن مقرونا بعدد الثلاث نصا او اشارة او موصوفا بصفة تنبئ عن البینونة...... واختار فی الفتح ان القسم الثانی لیس من الصریح فلا حاجة للاحتراز عنه واستظهر فی البحر ما فی البدائع معللا بان حد الصریح یشمل الکل قال فی النهر للقطع بانه قبل الدخول او علی مال ونحو ذلک لیس کنایة الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۷ مطلب الصریح نوعان رجعی وبائن)

وقال العلامة الحصکفی: ویقع بقوله انت طالق بائن او البتة، قال ابن عابدین: البتة مصدر بت امره اذا قطع به وجزم نهر.

(الدرالمختار مع الشامی ۲:۴۸۷ بعید مطلب فی قول الامام ایمانی کایمان جبریل)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالحتار ۲:۵۳۹ باب التعلیق)

د طلاق په تعداد کښې د شک د وجهې نه طلاق مغلظ واقع کيږي نه

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه مايوه نيمه مياشت مخکښې قسم کړې وو ددې څه الفاظ ديادنه وتل يقيني دی يامې صحيح الفاظ وئيلی وی ماته يادنه دی مګر شک دې چه ماددرېو طلاقونوم اخستی وو ،يايو يادوه ،اوس يادنه دی .دا الفاظ څه داسې وودمثال په طور باندې چه ما باندې ښځه درې طلاقه سره حرام ده ياحرام به وی ،حرام به شی ،ياحرام وی يادرې طلاق حرام شی پته نشته په دې کښې مې څه رنګه لفظ وئيلې وو ،اوس دطلاق څه حکم دې؟بينواتوجرو

المستفتی:جازوخان لارنس پورکيملپور........۱۹۷۷ء۱۸۱/۵

جواب:چونکه ستاددرېو طلاقونوما اخستلو کښې شک دې لهذاپه تاباندې ښځه مطلقه مغلظه شوې نه ده البته تاسواحتياطاً دنکاح تجديداوکړئ.

فی الهندية ۱ :۳۸۷ فی نوادر ابن سماعة عن محمد رحمة الله عليه اذا شک فی انه طلق واحدة او ثلثا فهی واحدة حتی يستيقن او يکون اکبر ظنه علی خلافه﴿۱﴾. وهو الموفق

د طلاقې رجعی د عدت تيريدلونه پس د دوؤ نوروطلاقو ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه يوسړی خپلې ښځې ته زبانی يوطلاق ورکړو ،کافی وخت پس هغه دوه نورطلاقونه تحريراً ورکړل هم دغه وخت کښې داسړې يوعالم ته لاړواوهغه ته ئې اووئيل چه تقريبادوه نيم کاله شوې دې چه ماخپلې ښځې ته ذکرشوی ترتيب سره درې طلاقه ورکړل آيادرې واړه واقع شوې وی يانه؟نوهغه جواب ورکړوچه درې واړه واقع شوې دی اوس بغيردحلالې څه نورصورت نشی کيدلئ ستاسوصاحبانوڅه رائې ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: سلطان محمد جامعه فاروقيه کالج روډاټک......۱۹۸۸ء۱۹۱/۴

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګيرية ۱ :۳۶۳ مطلب اذا شک انه مطلق واحدة او ثلاثا)

جواب:که چرته خاونددادوه تحريری طلاقونه .داول طلاق دعدت تيريدلونه پس ورکړی وی نوتجديددنکاح کافی دې﴿۱﴾ ورنه باقاعده دتحليل نه بغيرڅه چاره نشته دې.وهوالموفق

رجوع سره د طلاق رجعی اثرختم اوطلاق په خپل حال باقی پاتې کيږي

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه يوسړی خپلې ښځې ته دوه طلاقه ورکړل بيائی عدت کښې دننه رجوع اوکړه څلورپنځه کاله پس دې سړی بياخپلې ښځې ته يوطلاق ورکړوآيادا طلاق په مخکښې دوه طلاقو سره جمع کولې شی نومغلظه به شی ددې شرعی حکم څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتی:عبدالوهاب مدرسه منهاج العلوم نرياب هنګو۱۹۸۳ء۱۸۱/۷

الجواب: رجوع سره دطلاق رجعی اثرختميږی دطلاق ذات به په خپل حال باقی پاتې وی نوبس په دې سړی باندې په ظاهره ښځه مطلقه مغلظه شوې ده اوبغيردحلالې نه به ده دپاره حرامه وی. لقوله تعالی:فلاتحل له من بعدحتی تنکح

﴿۱﴾ ددې وجه داده چه د ړومبی طلاق دعدت تيريدونه پس به ښځه د خاوندنه جدا کيدو سره محل دطلاق پاتې نه شو .په دې وجه به دعدت تيريدو نه پس ورکړې شوی دوه تحريری طلاقونه لغو متصورکيږي.

کما فی الشامية: والرجعی لا يزيل الملک الا بعد مضی العدة. (ردالمحتار ۲:۵۷۶ باب الرجعة) وقال العلامة الکاسانی: فلا يصح الطلاق الا فی الملک او فی علقة من علائق الملک وهی عدة الطلاق.

(بدائع الصنائع ۳:۱۲۶ فصل واما الذی يرجع الی المرأة)

اوکه د ړومبی طلاق دعدت په دوران کښې ئې دا دوه تحريری طلاقونه ورکړی وی نوبيا به ښځه په دې خاوند باندې مطلقه مغلظه وی.

قال العلامة ابن عابدين: عبارة الذخيرة وغيرها طلقها رجعية ثم قال فی العدة جعلت هذه التطليقة بائنة او ثلاثا صح عند ابی حنيفة وهی اخصر من عبارة المصنف واظهر وقيد بقوله فی العدة لانه بعدها تصير المرأة اجنبية فلا يمکنه جعل طلاقها ثلاثا او بائنا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰۸ مطلب الصريح يلحق الصريح والبائن)...... (ازمرتب)

زوجًا غیره(الآیة)﴿۱﴾.وهوالموفق

په طلاق رجعی کښې عدت کښې دننه درجوع نه کولو په صورت کښې د تجدید د نکاح نه بغیرڅه چاره نشته

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ماخپلې ښځې ته طلاقې رجعی ورکړې وو حالانکه عدت کښې دننه مارجوع اونه کړي شوه اواوس هم ځومیاشتو پورې ددې سره ملاؤنه شوم اونه مې دلته دیارغیرکښې دګواهانو په مخامخ رجعت اوکړو.اوس کله چه درې حیضه تیرشول لیکن ځه ښځه پریخودل نه غواړم اوپه راتلونکښې اپریل کښې وطن ته ځم ددې سره تجدید دنکاح یاطلاق یا دحلالې حکم شرعی څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:م،ظ،یواې ای ابوظهبی......۱۸ربیع الثانی ۱۴۰۳ه

جواب: که چرته ته دعدت تیریدلونه مخکښې دې زبانی مراجعت کړې وی نو دتجدیدنکاح ضرورت به نه وو. خواه که دامراجعت دګواهانو یادښځې په حضورکښې شوي وی یاپه غیرحضورکښې﴿۲﴾ پس په دې نوعیت مسئوله کښې بغیردتجدیدنکاح نه بله څه لاره نشته البته دتحلیل ضرورت نشته په

﴿۱﴾ قال العلامة ملاجیون: قوله تعالیٰ: فان طلقها فلا تحل له الآیة...... فقال اکثرالمفسرین انها متصلة بقوله تعالیٰ: الطلاق مرتان، یعنی الطلاق الرجعی مرة او مرتان فان طلقها بعدها تطلیقة ثالثة فلا تحل له بعد ذلک ابدا حتی تنکح زوجا اخر غیره ثم دخل بها ذلک الزوج.

(التفسیرات الاحمدیة ۱۲۷ بحث تمسک المعتزلة وجوابه)

﴿۲﴾قال العلامة عبد الله الموصلی: الطلاق الرجعی لا یحرم الوطء وللزوج مراجعتها فی العدة بغیر رضاها وتثبت الرجعة بقوله راجعتک ورجعتک...... وبکل فعل تثبت به حرمة المصاهرة من الجانبین ویستحب ان یشهد علی الرجعة الخ.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۱۸۹ باب الرجعة)

شرط ددې چه تاسودددې نه مخکښې دوه طلاقه څه وخت نه وی ورکړې﴿۱﴾ وهوالموفق

طلاق رجعی کښې درې حیض تیریدلونه مخکښې رجوع کولې شي د مهر په دې کښې دخل نشته

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زیدخپلې ښځې ته یو طلاق ورکړواوحق مهراونفقه ئې هم ددې په حواله کړه یوه میاشت دیارلس ورځې تیریدلونه پس زیدرجوع اوکړه اوس بعض خلق وائی چه دحق مهر اداکولو اویوه میاشت دیارلس ورځې تیریدلودوجه نه طلاق بائن واقع کیږی لهٰذا رجوع نشی کولې صحیح مسئله څه ده؟بینوا توجروا

المستفتی:حافظ شیرزمان مدرسه تجوید القرآن سول کوارټرپشاور۱۲۲محرم۱۴۰۳ه

الجواب: داسړې درې حیضه تیریدلونه مخکښې رجوع کولې شی﴿۲﴾په دې کښې مهرورکولو اونه ورکولوکښې څه دخل نشته البته داضروری ده چه دې سړی ددې نه مخکښې دوه طلاقه نه وی ورکړې (ماخوذ ازشامی)﴿۳﴾ وبحرالرائق)﴿۴﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: وینکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع ومنع غیره فیها لاشتباه النسب.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۸۲ مطلب فی العقد علی المبانة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وتنقطع الرجعة ان حکم بخروجها من الحیضة الثالثة ان کانت حرة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۷۱ الباب السادس فی الرجعة وفیما تحل به الخ)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: (الرجعة) هی استدامة الملک القائم بلاعوض ما دامت فی العدة ای عدة الدخول حقیقة اذ لا رجعة فی عدة الخلوة ابن کمال.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۷۴ باب الرجعة)

﴿۴﴾قال العلامة ابن نجیم: (قوله هی استدامة الملک القائم فی العدة) ای الرجعة ابقاء النکاح علی ما کان مادامت فی العدة......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په یولفظ (طلاق) ویلو سره طلاق رجعی واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه مسمی کالاخپلې ښځې ته په یولفظ(طلاقه)کړې ده چه څه ته طلاقه ئې ددې واقعې یوه میاشت اوڅه ورځې زیاتې تیرشوی دی ددې ګواهان موجوددې په دې سره کوم طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: خادم عبدالباری خطیب مسجدبیروټ........۸۱۲۱،۱۹۷۵

جواب: که چرته دې سړی ددې حادثې نه مخکښې دې ښځې ته دوه طلاقه نه وی ورکړې نوداسړې په عدت کښې دننه دننه زبانی مراجعت کولې شی اوکه چرته عدت تیرشوې وی نوتجدیدد نکاح به کوی دحلالې ضرورت نشته دا د طلاقې رجعی حکم دې صرح به فی جمیع کتب الفتاوی والمعتبرات فلاحاجة الی نقل العبارات﴿۱﴾وهوالموفق

(بقیه حاشیه) لقوله تعالیٰ: فامسکوهن بمعروف لان الامساک استدامة الملک القائم لا اعادة الزائل وقوله تعالیٰ: وبعولتهن احق بردهن یدل علی عدم اشتراط رضاها وعلی اشتراط العدة اذ لا یکون بعدها بعلا. (البحر الرائق ۴: ۴۹ باب الرجعة)

﴿۱﴾ قال العلامة الموصلی: الطلاق الرجعی لا یحرم الوطء وهو ان یطلق الحرة واحدة او ثنتین بصریح الطلاق من غیر عوض، والدلیل علیه قوله تعالیٰ: وبعولتهن احق بردهن، والبعل هنا الزوج...... والانسان انما یملک ردالمنکوحة الی الحالة التی کانت علیها قبل الطلاق فلا یکون النکاح زائد امادامت العدة باقیة فیحل الوطء وللزوج مراجعتها فی العدة بغیر رضاها...... وله ان یتزوج مطلقته المبانة بدون الثلاث فی العدة وبعدها لان حل المحلیة باق اذ زواله بثالثة ولم توجد وانما لا یجوز لغیره فی العدة تحرزا عن اشتباه الانساب وهو معلوم فی حقه.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۸۹، ۱۹۳ باب الرجعة)

په طلاق رجعی کښې دعدت په دوران کښې رجوع نه کولوسره بائنه کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی خپلې ښځې ته د دوبئ نه طلاقې رجعی لیکلوسره راواستولو اودمورپلارمنع کولودوجه نه دوه نورطلاقه ئې راوانستول اووائی چه نورطلاق نه راستوم لیکن که ځمابنځه ځماپه کورکښې وی نوکورته نه راځم ددې طلاق اول اوس درې میاشتې پوره کیدووالادی ایادرې میاشتې پوره کیدلوباندې ددې سړی ښځه مطلقه مغلظه کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدامین نرتوپه اټک.........۸۱۱۱،۱۹۹۱

الجواب: بشرط صدق وثبوت دابنځه عدت تیریدلونه پس یوطلاق بائن سره به مطلقه شمارلې کیږی چه په هغې کښې تجدید دنکاح کافی دې.﴿۱﴾ وهوالموفق

که چرته طلاق ورکول مسلّم یا مبرهن وی نو ښځه مطلقه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ماته ځما خاوند دڅو کسانوپه مخامخ خوځله طلاق راکړواووائی که چرته جمیله ساتم نوموربه ساتم حالانکه دطلاق دوه ګواهان موجوددی اوس څه حکم دې؟بنیواتوجروا

المستفتی: ج،م،ن،مری راولپنډی........۱۱۲ستمبر۱۹۷۹ھ

جواب: که چرته دخاوند دطرفنه ددې الفاظوئیل تسلیم شده یاپه شهادت سره ثابت شده وی نودابنځه مطلقه اوآزاده شوې ده.والمسئلة من الواضحات فلا

﴿۱﴾وفی الهندیة: اذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها وان کان الطلاق ثلاثا لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۴۷۲ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

العبارات﴿۱﴾. وهوالموفق

حاجة الى نقل العبارات﴿۱﴾.وهو الموفق

د ګواهانو په مخامخ د دريو طلاقو د اقرارنه پس صرف تجديد نکاح باندې اکتفاءجائزنه ده

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه يو سړی ځما اوځما د قاری صاحب مخامخ اقراراوکړوچه ماخپله ښځه پريخې ده په درې شرط طلاق باندې اوس بغيردحلالې دابنځه دده دپاره جلاله کيدلې شی يانه؟ اود اقرارنه پس يومولوی صاحب ددوی دنکاح تجديداوکړو.ايا صرف تجديددنکاح به په دې صورت کښې کافی وی؟بينوا توجروا

المستفتی:مولاناقاری فضل ربی صاحب تاجک حضرواټک۱۹۸۸ء۸۱\۳۰

جواب: که چرته ددې سړی ښځې ته درې طلاقه ورکول تسليم شده يادشهادت شرعيه نه ثابت شده وی نوپه ده باندې دابنځه مطلقه مغلظه شوې ده﴿۲﴾ د باقاعده حلالې نه بغيربله څه لاره نشته دادآئمه اربعه مذهب دې اودقرآن اوحديث اواثارنه هم داثابت ده پس صرف نکاح باندې اکتفاءکول باطل اوکالعدم دی﴿۳﴾وهو الموفق

﴿۱﴾وفی الهندية: وشرط فيها شهادة رجلين او رجل وامرأتين سواء كان الحق مالا او غير مال كالنكاح والطلاق.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۳: ۴۵۱ كتاب الشهادات الباب الاول)

﴿۲﴾قال العلامة الحصكفی: ونصابها لغيرها فی الحقوق سواء كان مالا او غيره كنكاح وطلاق رجلان او رجل وامرأتان.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴: ۴۱۳ كتاب الشهادات)

﴿۳﴾قال العلامة ابن عابدين: وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الی انه يقع ثلاث قال فی الفتح بعد سوق الاحاديث الدالة عليه وهذا يعارض ما تقدم واما امضاء عمر الثلاث عليهم مع عدم......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دريو طلاقوکښې د تحليل نه بغيرلاره نشته او طلاق رجعی کښې رجوع کافی ده

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه يوه مياشت اوشوه چه ځما دخپل خاوند سره جهګړه شوې وه،غصه کښې هغه دطلاق اووئيل ماته هم غصه راغله اوغلطی هم ځماوه چه ماهم په غصه کښې ورکوټې هلک لره خورله واستولوچه مااوغواړه،ځمااوخې اوخورراغلل دوی اووئيل چه د طلاق ئې وئيلووياڼه نوځماخاونداومااووئيل چه آووئيلی موو،په دې باندې ځماخورځه دځان سره کورته بوتلم اوځمادرې ورکوټی بچی ئې پريخودل اولاړه،ځماخاونداووئيل چه ستابچيان دی دا درې ړاړه ځان سره کړه،بياخلق په مينځ کښې راغلل ماته ئې اووئيل چه داورکوټی ورکوټی بچی دی ددې نه به څه جوړيږی،بهرحال دصلحې په وخت خاونددټولوپه مخامخ دااووئيل چه ځه په غصه کښې راغلم دطلاق مې اووئيل حقيقة ما طلاق نه دې ورکړې که چرته ماطلاق ورکړی وی نوتحريری طلاق به مې ورکړې وی،ځمايولورځه دپلارپه وئيلوباندې کورته راوستم اوس برائ مهربانی مالره زرترزره جواب سره نوازکړئ چه په ماخومره کفاره اداکول دی چه کفاره اداکولوسره دخاوندکورته لاړه شم؟بينوا توجروا

المستفتی: شهاب الدين نوشهره صدر.......۲۵\۱شوال ۱۳۸۹ھ

جواب: که چرته خاونددرې طلاقه ورکړی وی نوبغيردتحليل نه څه لاره نشته

(بقيه حاشيه) مخالفة الصحابة له وعلمه بانها كانت واحدة فلا يمكن الا وقد اطلعوا فی الزمان المتأخر علی وجود ناسخ او لعلمهم بانتهاء الحكم لذلک لعلمهم باناطته بمعان علموا انتفاءها فی الزمن المتأخر وقد ثبت النقل عن اكثرهم صريحا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال وعن هذا قلنا لو حكم حاكم بانها واحدة لم ينفذ حكمه لانه لا يسوغ الاجتهاد فيه فهو خلاف لا اختلاف الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۵ كتاب الطلاق)

دې دتحلیل تفصیل دمقامی عالمانو نه معلوم کړئ او که چرته یو یا دوه طلاقه ئې ورکړی وی نو په عدت کښې دننه زبانی رجوع کول کافی دی او عدت نه پس تجدید دنکاح حکم شرعی دې = ﴿۱﴾ وهو الموفق

په کورکښې موجود درېو ښځوکښې په یوباندې بغیر د تعین دطلاق صورت

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیوسړی درې ښځې دی داسړې دکورنه بهرتلې وو. کله چه واپس راغلو نو ددروازې کهولاو هلو دپاره ئې آوازاوکړو دننه نه یوه ښځه راغله دروازه ئې کهولاؤکړه او واپس لاړه او دې سړی اونه کتل چه داکومه ښځه وه بیا کله چه داخاوند دننه لاړونو ده اووئیل چه کومې ښځې ماته دروازه کهولاؤکړې ده هغه په ماپه درې طلاقو طلاقه ده اوس درېواړه ښځې منکرې دی تردې چه هریو قسم هم کوی چه دروازه مانه ده کهولاؤکړې نیزددې درېواړو ښځو نه علاوه بله کومه ښځه نه وه اوس به په کومې ښځې باندې داطلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدرفیق........ ۱۲جولائی ۱۹۷۵ء

جواب: که چرته دګواندیانو وغیره نه دکوم اجنبی دراتلو احتمال وی نو معامله به صحیح شی ګنی په دې سړی باندې به ټولو ښځو سره جماع وغیره کول حرام وی اګرچه مطلقه به صرف یوه بغیر د تعین نه وی.

یدل علیه ما فی الهندیة ۱ : ۳۸۹ ولو طلق احدی نسائه الاربع ثلاثا ثم اشتبهت وانکرت کل واحدة ان تکون هی المطلقة لا یقرب واحدة منهن لانه حرمت علیه احداهن ویجوز ان تکون کل واحدة وقال اصحابنا رحمهم الله تعالیٰ کل مالا یباح عند الضرورة لا

﴿۱﴾ وفی الهندیة: اذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة وثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها، کذا فی الهدایة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱ : ۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

یجوز التحری فیه والفروج من هذا الباب ﴿۱﴾. وهو الموفق

زمونږ په عرف کښې درې شرطه درې ځله ته وئیلې شی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی خپلې ښځې ته په دې الفاظوسره طلاق ورکړو چه ته په ماپه درېو شرطونو باندې طلاقه ئې آیا دې سره درې طلاقه واقع کیږی حالانکه لفظ شرط لغوه معلومیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عطاءالرحمٰن پولیس لائن اټک...... ۱۹۸۸ء۱۹۱۲۹

الجواب: زمونږد علاقې په عرف کښې درې شرطونه درې ځله ته وئیلې شی دې ځکه ددې عرف په بنیادباندې دا ښځه مطلقه مغلظه شوې ده ﴿۲﴾ وهو الموفق

درې شرط طلاقوسره ښځه مطلقه مغلظه کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه مسمی شریف خپلې ښځې ته ددې ګواهانو په مخامخ علی. امین. اوزمان درې شرط طلاق ورکړل او ښځه مخامخ موجوده وه لیکن دښځې نوم ئې وانه خستلو دښځې خاوند په مینځ کښې بیا جهګړه شروع شوه په جهګړه کښې دبل سړی کورته اورسیدل او په دغه ځائ کښې ئې دغصې په حالت کښې هم داالفاظ استعمال کړه ددې شهادت مطابق مسمی شریف دپاره څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مقبول الرحمٰن....... ۱۹۷۵ء۱۱۱۲

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱ : ۳۶۴ قبیل الفصل الثانی فی اضافة الطلاق الی الزمان)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: العرف والعادة ما استقر فی النفوس من جهة العقول وتلقته الطباع السلیمة بالقبول...... واعلم ان اعتبار العادة والعرف رجع الیه فی مسائل کثیرة حتی جعلوا ذلک اصلا فقالوا تترک الحقیقة بدلالة الاستعمال والعادة الخ.

(شرح عقود رسم المفتی ص۳۷ والعرف فی الشرع له اعتبار)

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې خاوند ښځه مطلقه مغلظه شوې ده بغیر دتحلیل نه اوس لاره نشته﴿۱﴾.وهو الموفق

درې شرطه قائم کولو سره ئې طلاق ورکړل اگرچه په مذاق کښې وی طلاق مغلظه دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی دکوردناچارې دوجه نه خپلې ښځې ته درې شرطه قائم کولو سره طلاق ورکړو دطلاق په وخت داسړې په هوش اوحواس کښې وودې وجه نه جینئ دمورپلارکورته راغله هلک دوباره رجوع اوکړه چه څه جینئ واپس راولم اودا الفاظ ماپه مذاق کښې وئیلی دی مادرې طلاق شرط باندې کړی دی مگردمذاق په شکل کښې،دده داالفاظ ډیروخلقوآوریدلی دی په طوردشهادت ددوو کسانو نومونه دادی........که چرته ضرورت محسوس شی نونورکسان به هم شهادت ورکړی،نیزذکرشوی داتصدیق کړې دې چه مادا الفاظ په مذاق کښې وئیلی وواوس جینئ ده سره دتلونه انکارکوی دمسئله څه حل دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:گل رحمٰن کوټکی باړیاد کیمپ........ ۲۳۱۱۲۱،۱۹۷۱ء

جواب:په دې سړی باندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده بغیردتحلیل نه څه لاره نشته اگرکه داالفاظ ده دمذاق اوهزل په طورباندې وئیلی وی،ف الدرالمختار: بخلاف الهازل فانه یقع قضاء ودیانة لان الشارع جعل هزله به جداهامش المختار ۲:۵۸۵﴿۲﴾وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذا فی الهدایة.

(فتاوٰی عالمگیریة ۱:۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۶۱ کتاب الطلاق)

د غصې په حالت کښې په ما باندې ښځه په یولسو شرطونو باندې حرامه ده د وئیلو حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیو سړی خپلې ښځې سره په معمولی بحث باندې تکراراوشوچه هغې کښې دسړی هوش اوحواس صحیح نه وواوپه غصه کښې راغلواوښځې ته ئې اووئیل چه په ما باندې ښځه په یولسوشرطونوباندې طلاقه ده.یوه گهنټه پس هغه په خپله خبره باندې پریشان شواودطلاق نه ئې انکاراوکړوچه مادغصې په حالت کښې طلاق ورکړې دې ځماهوش اوحواس صحیح نه وو.په دې موقع باندې مونږ موجودوواومونږددې تصدیق کووچه واقعی ددې سړی هوش اوحواس صحیح نه وونیزپه رڼړا دشریعت کښې دیودوه درې شرطونونومونه ئې هم نه دی اخستلې،اوس شرعی حل څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: محمداکرم خان شنکیاری مانسهره

جواب:که چرته ددې سړی دغصې په وخت کښې ټولې خبرې یااکثرې خبرې بې خوده وې اوداکیفیت مقامی خلقوته معلوم وی نودده طلاق نامنظوردې گنی ښځه مطلقه مغلظه شوې ده بغیردتحلیل نه څه لاره نشته.

فی ردالمحتار ۲:۵۸۷ فالذی ینبغی التعویل علیه فی المدهوش ونحوه اناطة الحکم بغلبة الخلل فی اقواله وافعاله الخارجة عن عادته (الی ان قال) فما دام فی حال غلبة الخلل فی الاقوال والافعال لا تعتبر اقواله وان کان یعلمها ویریدها﴿۱﴾. وهوالموفق

شپږو کلمو وئیلو سره ئې نکاح کړې وه اوس هم دغه کلمو وئیلوسره د طلاق ورکولوحکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی داالفاظ وئیلی دی چه دشپږو کلمو وئیلو سره ئې اووئیل چه مادا شپږ کلمې وئیلې وي دامې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۳ مطلب فی طلاق المدهوش)

په زوجیت کښې راوستلې وه اواوس دې کلمو وئیلو سره دې ته طلاق ورکوم ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمداجمل......۱۲۹ذی قعده ۱۳۹۱ھ

جواب: چونکه دا الفاظ په عرف کښې بینونت دپاره استعمالیږی ﴿۱﴾ لهٰذا دا ښځه بغیرد تجدید نکاح نه واپس نشی راوستلې البته دحلالې ضرورت نشته ﴿۲﴾. وهوالموفق

که چرته ښځه واقعی طلاق غواړی نودرې طلاقه دی، ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ایاداشان طلاق واقع کیږی چه ګواه هم نه وی نیزدښځې دپلارنوم ئې هم نه وی لیکلې اوښځې ته دطلاق اختیارورکړې شوې دې طلاق نامه څه داسې ده. .مسماة فلانې طلاق غواړی که چرته داواقعی طلاق غواړی نودادرې طلاقوسره طلاقه ده، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټرمثل خان ډاګئ صوابی......۱۹۸۸ء۱۴۱/۳۰

جواب: داسې کلام دوه طریقواستعمالیږی اول تعلیق دویم مجازاة،

کما فی ردالمحتار ۳:۳۴۳ قال فی البحر فلو سبته بنحو قرطبان وسفلة فقال ان کنت کما قلت فانت طالق تنجز سواء کان الزوج کما قالت اولم یکن لان الزوج فی الغالب لا یرید الا

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: واما الثانی (البائن) وهو ان یکون بحروف الابانة وبحروف الطلاق لکن قبل الدخول حقیقة او بعده لکن مقرونا بعدد الثلاث نصا او اشارة او موصوفا بصفة تنبئ عن البینونة او تدل علیها من غیر حرف العطف او مشبها بعدد او صفة تدل علیها.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۷ مطلب الصریح نوعان رجعی وبائن)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: اذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها. (فتاوٰی عالمگیریة ۱:۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

ایذاء ها بالطلاق فان اراد التعلیق یدین وفتوٰی اهل بخارا علیه ﴿۱﴾

پس که چرته خاوند داتحریردانتقام په اراده سره کړې وی نودا ښځه مطلقه مغلظه شوې ده او که چرته دتعلیق په اراده سره ئې کړې وی نودښځې د غوښتلو نه بغیرطلاق نه واقع کیږی ﴿۲﴾ وهوالموفق

(نه په مابانډې په دریو طلاقوسره طلاقه ئې)

دا الفاظ په غلطئ سره د خولې نه وتل

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه دیوسړی دخولې نه دا الفاظ اووتل چه ته په مابانډې په دریو طلاقوسره طلاقه ئې په غلطئ سره اووتل ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مثل خان خلیل تهکال پایاپشاور......۱۴۰۱/۱۷/۱۴ھ

جواب: په ظاهره په دې خاوند بانډې ښځه مطلقه مغلظه شوې دې ﴿۳﴾ ممکنه ده (حاضرکیدلوسره) زبانی تفصیل نه څه مخرج پیداشی ﴿۴﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۳۶ مطلب التعلیق المراد به المجازاة دون الشرط)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: رجل قال لامرأته انت طالق ثلاثا ان شئت فقال انا طالق فهو باطل وان قالت انا طالق ثلاثا فهو ثلاث کذا فی فتاوٰی قاضی خان.

(فتاوٰی عالمگیریة ۱:۴۰۴ الفصل الثالث فی المشیئة)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذا فی الهدایة.

(فتاوٰی عالمگیریة ۱:۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

﴿۴﴾ قال العلامة الحصکفی: او مخطئا بان اراد التکلم بغیر الطلاق فجرٰی علی لسانه الطلاق او تلفظ به غیر عالم بمعناه او غافلا او ساهیا وبالفاظ مصحفة یقع قضاء فقط، قال ابن عابدین: (قوله غیر عالم بمعناه) کما لو قالت لزوجها اقرأ علی اعتدی انت طالق ثلاثا ففعل طلقت ثلاثا فی القضاء لا فیما بینه وبین الله تعالی...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

تاته ځما د طرف نه په درې طلاقه. طلاق مغلظه دې

سوال: څه فرمائى علماءدين دې مسئلې باره کښې چه ځما خورواده ځما د ترور زوئى سره اوشو دکوردمعمولى ناچارې په بنيادباندې هغه په يووخت درې طلاقه ورکړه اووې وئيل چه تاته ځمادطرفنه درې طلاقه.اودې ته ئې دوه درې ځله يادکړه خورددې خبرې ذکرمونږ ته قطعانه دې کړې روستو ځما کورته راغله ماپه خبروخبروکښې ددې نه دامعلومات حاصل کړه.ايا په دې صورت کښې طلاق شوې؟ که چرته طلاق شوې وى نوجينئ دمهرحقداره ده يانه؟ بينوا توجروا

المستفتى: فواره چوک پشاور

الجواب: بشرط صدق وثبوت دمستفتى دابنځه پخپل خاوندباندې مطلقه مغلظه شوې ده سوادتحليل نه څه لاره نشته دې﴿۱﴾اوپه دې خاوند مهر ورکول واجب دې﴿۲﴾ داتول مسائل دآئمه اربعه په مينځ کښې اجماعى دى﴿۳﴾ وهوالموفق

(بقيه حاشيه) اذا لم يعلم الزوج ولم ينو بحر عن الخلاصة. (الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۴۶۱ قبيل مطلب فى طلاق المدهوش)

﴿۱﴾وفى الهندية: وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها كذا فى الهداية. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۴۷۳ فصيل فيما تحل به المطلقة وما يتصل به)

﴿۲﴾ وفى الهندية: والمهر يتاكد باحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحيحة وموت احد الزوجين سواء كان مسمى او مهر المثل حتى لا يسقط منه شيئ بعد ذلک بالابراء من صاحب الحق كذا فى البدائع. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۳۰۳ الفصل الثانى فيما يتاكد به المهر والمتعة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلاث...... وقد ثبت النقل عن اكثرهم صريحا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۴۵۵ كتاب الطلاق)

درې ځله د طلاق لفظ وئيلو سره د طلاقې مغلظه حکم

سوال: څه فرمائى علماءدين دې مسئلې باره کښې چه دوه درې مياشتونه ځما او ځمادښځې په مينځ کښې ځمادوستانواويارانوپه باره کښې تکرار او سختې خبرې هفته کښې دوه ځل ضرورکيدلې ماخپل دوستان اوياران اوکتل هغوى په کومه غلطه لاره باندې نه وومابنځه باربارپوهه کړه چه ځما دوستان اوياران غلط نه دى بياهم هغه په خپل ضدباندې ولاړه وه يوځل ځما دوکان ته راغله ځمادوستانواويارانوته ئې خبرې اوکړې زه خاموش پاتې شوم دشپې په کورکښې هم هنګامه شوه مابرداشت کړه په صباورځ مابنام کله چه زه کورته راغلم نوښځې ځمانه طلاق اوغوښتلو دمختصر تکرارنه پس زه کورنه بهرراووتلم دشپې چه کله کورته لاړم ښځې ځمانه دطلاق حاصلولو دپاره انتهائى جذباتى الفاظ استعمال کړه چه هغه ما برداشت نه کړې شول ما دخپل عزيزپه مخامخ درې ځله دښځې په مخکښې دطلاق لفظ استعمال کړو دهغې نه پس نن صباهغه دخپلوبچوسره يوځائ ځمادکورپه يوحصه کښې اوسيږئ په هغه ورځوکښې هغه حامله هم وه تراوسه پورې مادحقيقت نه څوک خبرکړى نه دى تاسوښه مشوره راکړئ؟ بينوا توجروا

المستفتى: م،ى،لانډهى کراچى ۲۲......... ۱۹۷۱ء۱۹۱۳

الجواب: په تاسوباندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده بغيردتحليل څه لاره نشته﴿۱﴾ وهوالموفق

لس دولس ځل متواتر د طلاق وئيلوحکم

سوال: څه فرمائى علماءدين دې مسئلې باره کښې چه يوسړى خپلې ښځې ته

﴿۱﴾ وفى الهندية: وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۴۷۳ فصل فيما تحل به المطلقة وما يتصل به)

متواترلس دولس ځل دګواهانو په مخامخ طلاق ورکړودي سړی د باربار طلاق وئیلو شرعي محمدی کښې څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رفیق کوهاله ایبټ آباد........۱۹۷۲ء/۸/۲۲

الجواب: په دې سړی باندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده. الا ان ینوی التاکید فیدین﴿۱﴾ وهو الموفق

د دریو کانړو طلاق سره ښځه مغلظه جوړیږي

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید په کور کښې غضب او غصې سره اووئیل چه ځما ښځه په دریو کانړو باندې طلاقه ده ایا په غضب او غصې کښې که چرته دا طلاق واقع شوې وی نودرې واقع دی یا په دې کښې رجوع صحیح ده؟ او دریو واقع کیدلو کښې دا ښځه دزید دپاره څرنګه حلاله کیدې شی؟ حتّٰی تنکح زوجا غیره (الآیة) ددې نه څه مراددې. یعنی زوجِ ثانی دې دخول اوکړی یا صرف خلوت صحیحه هم کافی دې؟ دحلت چه کوم صورت وی لیکلو سره ارسال اوفرمایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اسماعیل دیر........۱۹۷۵ء/۳/۲۳

الجواب: په صورت مسئوله کښې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده. بغیر دتحلیل نه څه لاره نشته دې. دعدت نه پس دې دویم خاوند سره نکاح اوکړی اوکم ازکم یو ځل جماع کولو نه پس دې طلاق ورکړی که چرته اوغواړی. اوعدت تیریدلو نه پس داولنی خاوند سره دې نکاح اوکړی که چرته ښځه اوغواړی﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۹۹ فروع باب طلاق غیر المدخول بها)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها...... ویشترط ان یکون الایلاج موجبا للغسل وهو التقاء الختانین. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

حاملې ښځې ته د طلاق ثلاثه اود مخلص مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه (۱) حاملې ښځې ته درې طلاقه ورکول موثر دی یانه؟ (۲) اود طلاق ثلاثه نه پس دجواز څه صورت شته یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد فاروق واه کینټ........۱۹۷۷ء/۱۰/۳۰

الجواب: دحمل په حالت کښې درې طلاقه موثردی اوپه دې سره ښځه مطلقه مغلظه جوړیږی دآثار صحابه، نصوص قرآنی، اوآئمه دمسلک نه بعینه دا ثابت دی﴿۱﴾ طلاق ښځې خپله اوریدلی وی یامعتمد علیه ګواهانو نه ثابت کیدلو سره طلاق واقع کیدلې شی اوروستو دجواز دپاره صرف دحلالې صورت

﴿۱﴾ یجوز طلاق الحامل فی ای وقت شاء لما اخرجه المشکواة عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما انه طلق امرأة له وهی حائض فذکر عمر لرسول الله ﷺ فتغیظ فیه رسول الله ﷺ ثم قال لیراجعها ثم یمسکها حتی تطهر ثم تحیض فتطهر فان بداله ان یطلقها فلیطلقها طاهرا قبل ان یمسها فتلک العدة التی امر الله ان تطلق لها النساء، وفی روایة مره فلیراجعها ثم لیطلقها طاهرا او حاملا متفق علیه، اخرجه مسلم والنسائی وابوداؤد وابن ماجة. وقال الطیبی: دل علی اجتماع الحیض والحبل وقیل الحامل اذا کانت حائضة حل طلاقها اذ لا تطویل للعدة فی حقها لان عدتها بوضع الحمل، قال الملا علی القاری: وعندنا ان الحامل لا تحیض وما رأته من الدم فهو استحاضة...... ولنا قوله ﷺ فیما رواه الدارقطنی عن ابن عمر انه طلق امرأته وهی حائض ثم اراد ان یتبعها بطلقتین اخیرتین عند القرائن فبلغ ذلک رسول الله ﷺ فقال یا ابن عمر ما هکذا امرک الله قد اخطأت السنة، السنة ان تستقبل الطهر فتطلق لکل قرء، فامرنی فراجعتها فقال اذا هی طهرت فطلق عند ذلک او امسک، فقلت: یا رسول الله لو طلقتها ثلاثا اکان یحل لی ان اراجعها؟ فقال: لا کانت تبین منک وکان معصیة، کذا ذکره ابن الهمام.

(هذا ما اخذت من مرقاة المفاتیح وغیره)......(مرتب)

ممکن دي﴿۱﴾ وهوالموفق

قرآن باندې لاس ایخودلو سره درې ځله اووا ئی

ته په ماباندې طلاقه ئې ددې حکم

سوال:څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه عمومادښځې خاوندپه مینځ کښې جګهړې راځی ځماهم په کورکښې ښځه ده جهګړه اوشوه اول ځل کله چه جهګړه اوشوه نوښځې قرآن پاک راوړواوماته ئې اووئیل په دې باندې لاس ایخودلوسره اووایه چه ته په ماباندې طلاقه ئې څه دخدائ نه ویریدم په هغې مې صرف لاس کښیوده خوبیاصلح اوشوه څه وخت پس بیا زمونږ په مینځ کښې ناچاری اوشوه دې بیاقرآن پاک راوړلوسره اوئیل چه په دې باندې لاس کیګده اواوایه چه ته په ماباندې طلاقه ئې بنده ډیرپه غصه کښې وو،قرآن پاک باندې لاس ایخودلوسره ماپه یوساه کښې درې مرتبه اووئیل چه ته په ماباندې طلاقه ئې طلاقه ئې دې نه پس جهګړه ختمه شوه اوښه په خوشحالې زندګی تیریدله اوس زه په ملائیشیاءکښې یم اوجینئ دمورپلارسره ده زه دادښځې په حیثیت سره ساتلې شم؟ بینوا توجروا

المستفتی: اقبال شاه کولالامپور.........۱۹۸۷ء۱۱۱۱\۱۷

جواب:ددې تحریرپه بنیادباندې ستاښځه مطلقه مغلظه شوې ده بغیرد حلالې نه څه لاره نشته دې.فلاتحل له من بعدحتی تنکح زوجاغیره(الآیة)﴿۲﴾البته

﴿۱﴾قال العلامة النسفی: (فان طلقها) مرة ثالثة بعد المرتین (فلا تحل له من بعد) من بعد التطلیقة الثالثة (حتی تنکح زوجا غیره) حتی تتزوج غیره.....؛ والاصارة شرطت بحدیث العسیلة کما عرف فی اصول الفقه والفقه فیه انه لما اقدم علی فراق لم یبق للندم مخلصا لم تحل له الا بدخول فحل علیها لیمتنع عن ارتکابه (فان طلقها) الزوج الثانی بعد الوطء (فلا جناح علیهما) علی الزوج الاول وعلیها (ان یتراجعا) ان یرجع کل واحد منهما الی صاحبه بالزواج.

(تفسیر مدارک ۱:۱۲۸ سورة البقرة آیت: ۲۳۰)

﴿۲﴾(سورة البقرة آیت :۲۳۰، رکوع:۱۳، پاره:۲)

ممکن ده چه زبانی بیان سره څه آسانی معلومه شی﴿۱﴾وهوالموفق

ته طلاقه ئې طلاقه ئې ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی خپلې ښځې ته په یووخت اووئیل ته طلاقه ئې طلاقه ئې ایاپه یووخت باندې درې طلاقه واقع کیږی یابه یو طلاق متصوروی؟بینوا توجروا

المستفتی: اصغرعلی میلوډی مارکیټ اسلام آباد......۱۹۸۹ء۱۴۱\۱۳

الجواب: دقرآن اواحادیثواوآثارصحابه په رڼاسره درې طلاقه درې وی نه چه یو. اوهم دادآئمه اربعه مذهب دې. خلافاللسلفیة﴿۲﴾ پس صورت مسئوله کښې په ظاهره درې طلاقه واقع شوې دی.الاان نوی التاکیداولم ینوشیئامن

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۹۹ فروع قبیل باب الکنایات)

﴿۲﴾وفی تعلیق بلوغ المرام للبسام السلفی: ذهب جمهور العلماء ومنهم الائمة الاربعة وجمهور الصحابة والتابعین الی وقوع الطلاق الثلاث بکلمة واحدة اذا قال: انت طالق ثلاثا، ونحوه او بکلمات ولو لم یکن بینهن رجعة ولا نکاح، ودلیلهم حدیث رکانة بن عبد الله انه طلق امرأته البتة فاخبر النبی ﷺ بذلک فقال، والله ما اردت الا واحدة، وهذا الحدیث اخرجه الشافعی وابوداؤد والترمذی وصححه وابن حبان والحاکم، ووجه الدلالة من الحدیث استحلافه ﷺ للمطلق انه لم یرد بالبتة الا واحدة فدل علی انه لو اراد بها اکثر لوقع ما اراده. واستدلوا ایضا بما فی صحیح البخاری عن عائشة ان رجلا طلق امرأته ثلاثا فتزوجت فطلقت فسئل رسول الله ﷺ اتحل للاول؟ قال: لا، حتی یذوق عسیلتها کما ذاق الاول ولو لم تقع الثلاث لم یمنع رجوعها الی الاول الا بعد ذوق الشیئ عسیلتها، واستدلوا ایضا بعمل الصحابة ومنهم عمر بن الخطاب رضی الله عنهم علی ایقاع الثلاث بکلمة واحدة ثلاثا کما نطق بها المطلق وکفی بهم......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

التاكيد والاستيناف كمافى شرح التنويرمع ردالمحتار﴿١﴾ لكن الله يعلم الكاذب من الصادق، وهوالموفق

يو دوه درې طلاقه. د درې ځلورو ځلو وئيلو حكم

سوال: څه فرمائى علماءدين دې مسئلې باره كښې چه مااوخمابښځې بهرپه پټوكښې ونې كټكولې په خپلوكښې په جهګړه شوحتى چه څه په غصه كښې راغلم اوديته مه اووئيل ته يودوه درې طلاقه،يودوه درې طلاقه،هم دغه شان درې ځلورځله مې اووئيل اويودوه درې مې وئيل په ګوتوباندې مې اشاره اوكړه اياطلاق واقع شو؟ بينواتورجوا

المستفتى: ابن غلام محمدراولپنډى

الجواب: بشرط صدق وثبوت دابښځه خاوندباندې مطلقه مغلظه شوې ده﴿٢﴾

(بقيه حاشيه) قدوة واسوة ولهم ادلة غير ما سقنا، ولكن ما ذكرنا هو الصريح الواضح لهم...... وذهب جماعة من العلماء الى...... لا يقع عليها الا طلقة واحدة مروى عن الصحابة والتابعين وارباب المذاهب...... ومن ارباب المذاهب داود واكثر اصحابه...... منهم المجد عبد السلام بن تيمية وكان يفتى بها سرا وحفيده شيخ الاسلام ابن تيمية يجهر بها ويفتى بها فى مجالسه وقد عذب من اجل القول بها هو وكثير من اتباعه ومنهم ابن القيم الخ.

(التعليق على بلوغ المرام من ادلة الاحكام ١ ٣٦ كتاب الطلاق)

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفى: كرر لفظ الطلاق وقع الكل وان نوى التاكيد دين، قال ابن عابدين: اى ووقع الكل قضاء وكذا اذا طلق اشباه اى بان لم ينو استينافا ولا تاكيدا لان الاصل عدم التاكيد. (الدرالمختار مع ردالمحتار ٢: ٤٩٩ فروع قبيل باب الكنايات)

﴿٢﴾ قال العلامة الموصلى: والبدعة ان يطلقها ثلاثا او ثنتين بكلمة واحدة او فى طهر لارجعة فيه او يطلقها وهى حائض فيقع ويكون عاصيا.

(الاختيار لتعليل المختار ٢: ١٦٠ كتاب الطلاق)

دحلالې نه بغيرلاره نشته دې﴿١﴾وهوالموفق

خداى او رسول حاضراو ناظر ګڼړلوسره طلاق وركوم. درېوځلو وئيلوحكم

سوال: څه فرمائى علماءدين دې مسئلې باره كښې چه دجينئ دپلار د دباؤ او د ډيرې ويرې دوجه نه دجينئ دخاوندنه مطالبه اوكړې شوه چه طلاق وركړه اوته به ضرورطلاق وركوي، ته ددې قابل نه ئې چه ښځه اوساتې طلاق وركړه اوڅه شابه ورك شه،وغيره،بيائې دوه سړى راوستل اوپه هلك باندې ئې قرآن مجيدپه لاس كښې اوچت كړودا الفاظ ئې پرې درې ځله اووئيل چه زه قرآن مجيدخداى رسول حاضرناظرګڼړلوسره خپلې ښځې ته طلاق وركوم په رڼړا دشريعت كښې به طلاق وى يانه؟بينوا توجروا

المستفتى: سيدمظفراحمدشاه مرزااټک.........۲۵۱۱۰۱ء۱۹۷۵

جواب: محترم المقام دامت بركاتكم السلام عليكم نه پس دې واضحه وى چه پيغمبرحاضر ناظرګڼړل اومنل غيراسلامى عقيده ده ددې نه تائب كيدل ضرورى دى،په تمام مخلوق كښې څوک الله تعالى حاضرناظرنه دې جوړ كړې﴿٢﴾ بهرحال دمسئله متعلق واضحه دې وى چه غيرمرتد خاوند باندې

﴿١﴾ قال الشيخ شمس الحق الافغانى: ولو ابان الحرة بالطلقات الثلاث او الامة بالطلقتين فليس له تزويجها حتى تنكح زوجا غيره بنكاح صحيح مع الدخول ثم تحصل الفرقة بينهما بالموت او الطلاق (من المحل المزبور).

(معين القضاة والمفتين ٧٨ الفصل الخامس فى الطلاق)

﴿٢﴾ قال العلامة محمود الاوزجندى: رجل تزوج امرأة بغير شهود فقال الرجل والمرأة خدائے راويا پيغمبر مرا گواه كرديم، قالوا يكون كفرا لانه اعتقد ان رسول الله ﷺ يعلم الغيب وهو ماكان يعلم الغيب حين كان فى الاحياء فكيف بعد الموت.

(فتاوىٰ قاضى خان على هامش الهندية ٣: ٥٧٦ باب مايكون كفرا من المسلم ومالا يكون)

دي الفاظو سره ښځه مطلقه مغلظه جوړيږي اګر که دا الفاظ په نه زړه اويا په زور او اکراه سره وئيلي شوي وي﴿۱﴾ پس بغير د حلالې نه به څه لاره نه وي﴿۲﴾ ماخوذ از قاضی خان ورد المحتار وغيره) وهو الموفق

ځما ښځې ته مسلسل درې طلاقه دی او ..شل زره خلع ده..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه يو سړی خپلې ښځې ته ددې په غير موجودګئ کښې دګواهانو په مخامخ طلاق ورکړو او دائې اووئيل چه ځما ښځې فلانې بنت فلانې ته مسلسل درې طلاقه دی او ورسره ئې دا هم اووئيل چه په دې باندې شل زره خلع ده دا الفاظ ئې درې ځله اووئيل ايا ښځه مغلظه کيدلو سره سره د شلوزرو روپوو ورکولو هم ذمه داره ده يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: قاری غلام رسول اسلاآباد........۱۹۷۹ء۱۷/۱۷

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې سړی باندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده﴿۳﴾ او په دې ښځې باندې رقم ايخودل عوامی رسم دې اسلامی رسم نه دې﴿٤﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبدا او مكرها فان طلاقه صحيح. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ۲: ۴۵۶ كتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة الافغانی: ولو ابان الحرة بالطلقات الثلاث فليس له تزويجها حتی تنكح زوجا غيره بنكاح صحيح مع الدخول ثم تحصل الفرقة بينهما بالموت او الطلاق (من المحل المزبور). (معين القضاة والمفتيين ۷۸ الفصل الخامس فی الطلاق)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله ثلاث متفرقة) وكذا بكلمة واحدة بالاولی...... وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الی انه يقع ثلاث.
(رد المحتار هامش الدر المختار ۲: ۴۵۴ كتاب الطلاق)

﴿۴﴾ قال العلامة محمد امين: (وكره تحريما اخذ شیئ) ای قليلا كان او كثيرا والحق ان الاخذ اذا كان النشوز منه حرام قطعا لقوله تعالیٰ فلا تأخذوا منه شيئا الا انه ان اخذ ملكه بسبب خبيث وتمامه فی الفتح. (رد المحتار هامش الدر المختار ۲: ۶۰۹ باب الخلع)

تاته طلاق درکوم ته په ما باندې حرامه ئې وغيره حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه دزيد او هندې جګړه اوشوه زيد په غصه کښې اووئيل چه زه تاته طلاق درکوم ددې نه مخکښې دطلاق څه ذکر نه وو ددې سره ئې په غصه کښې اووئيل چه ته په ما باندې حرامه ئې هنده لګه نزدې شوه نو زيد بيا اووئيل وئيل هغه دی چه ته په ما باندې حرامه ئې په ذهن کښې مې داوو چه طلاق دې وئيلی دی، دې وجې نه ما باندې حرامه ئې په رڼرا دشريعت کښې دطلاق يا رجوع څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: امين احسن بيت المحمود چکوال........۱۹۸۹ء۱۴/۸/۱

الجواب: په صورت مسئوله کښې تجديد دنکاح کافی دې. لان اللفظ الاول صريح واللفظ الثانی من الكنايات يقع به البائن عندنية الطلاق والثالث لغو لان البائن لايلحق البائن﴿۱﴾ وهو الموفق

ښځې ته مې طلاق ورکړې دې آئنده د پاره
ما باندې حرامه ده کښې تجديد د نکاح اوکړې

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه يو سړی خپلې ښځې ته دا الفاظ اووئيل چه ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړې دې او آئنده دپاره په ما باندې حرامه ده په دې سره کوم طلاق واقع شوې دې او دتجديد دنکاح ګنجائش شته؟ بينوا توجروا

المستفتی: قاضی سعيد احمد راولپنډی........۱۸\شعبان۱۴۰۹ھ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن والبائن يلحق الصريح...... لا يلحق البائن البائن اذا امكن جعله اخبارا.
(الدر المختار علی هامش رد المحتار ۲: ۵۰۸، ۵۱۰ مطلب الصريح يلحق الصريح والبائن)

الجواب: صورت مسئوله کښې تجدید دنکاح پکاردې، لکون الجملة الثانیة محتملة لانشاءالطلاق وللتفریع حسب زعمه الفاسد﴿۱﴾وهوالموفق

یو، دوه، درې، ځابنځه.. ځا د مخې خلاصه ده طلاقه ده..

ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زید دمورپلارخوابنې سخراودنوروخلقوپه مخامخ دخپلې ښځې متعلق اووئیل، چه یو، دوه، درې، ځابنځه ځادمخې آزاده ده طلاقه ده، خوش دامن خپل دامادته اوئیل چه په هوش ئې کښې که په نشه کښې نودامادورته اووئیل چه په هوش کښې یم یو، دوه، درې، ځابنځه ځادمخې خلاصه ده په دې صورت کښې به کوم طلاق واقع وی، دې نه پس دابنځه دربو کالوراهسې مورپلارکره ده او خاوندئې څه پوښتنه نه ده کړې؟بینوا توجروا

المستفتی:سلطان محمودناظم اعلی دارالعلوم حقانیه۲۹\۱۱\۱۴۰۱ه

الجواب: بشرط صدق وثبوت دابنځه خاوندباندې طلاقه شوې ده اوآزاده

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين: ثم ظهر لی بعد مدة ما عسیٰ يصلح جوابا وهو ان لفظ حرام معناه عدم حل الوطء ودواعيه وذلک يكون بالايلاء مع بقاء العقد وهو غير متعارف ويكون بالطلاق الرافع للعقد وهو قسمان بائن ورجعی لكن الرجعی لا يحرم الوطء فتعين البائن وكونه التحق بالصريح للعرف لا ينافی وقوع البائن به فان الصريح قديقع به البائن كتطليقة شديدة ونحوه كما ان بعض الكنايات قد يقع به الرجعی مثل اعتدی واستبرئ رحمک وانت واحدة، والحاصل انه لما تعورف به الطلاق صار معناه تحريم الزوجة وتحريما لا يكون الا بالبائن هذا غاية ما ظهر لی فی هذا المقام الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰۴ باب الكنايات قبيل مطلب لا اعتبار بالاعراب)

شوې ده اوپه بل ځائې کښې نکاح کولې شی. لوجودرکن الطلاق، اودسابقه خاوند سره تجدیدد نکاح هم کولې شی﴿۱﴾ وهوالموفق

د غصې درې قسمونه او په دې کښې د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ځمادتره زوئې دغصې په حالت کښې ددربونه زیات طلاقونه ښځې ته ورکړه دده دوه ماماګان او یو محلې والاپخپله ددې ګواهئ نه انکارنه کوی لیکن مولاناعبدالمستعان تسلی ورکړې ده چه دپریشانې ضرورت نشته دې لیکن ځماحیثیت کم دې زه درته لاره ښائم اوتحریردمولاناشفیع الله صاحب ته واخلئ دالاره یاحیله داده چه دغصې یوحالت داسې وی چه په هغې کښې طلاق نه واقع کیږی اګرکه شل ځله طلاق هم اووائی په ده باندې په دې دربوکښې یوماماهم ګواهی ورکړې ده چه هلک دغصې په حالت کښې ووده سره دوه ګواهان نورهم وو چه هغه په دې معامله کښې موجودنه وو، بهرحال په دې صورت حال کښې مولاناشفیع الله صاحب پرچه اولیکله چه طلاق واقع شوې نه دې،

﴿۱﴾ ددې طلاق ورکونکی اوله جمله (زما دمخې خلاصه ده) ددې جملې مرادف ده چه زما نه آزاده ده، اودې الفاظوته په عربئ ژبه کښې سرحتك سره تعبیرکولې شی. چه په عرف د فرس (فارسی والؤ) کښې صریح دې اوپه عربئ کښې کنایه ده او زمونږ حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم زمونږ په سلیمانیه (پښتنو) علاقو کښې هم دا کنایه شمار کړې دې. لکه څنګه چه ددوی د نورو فتاوونه معلومیږی چه په عربئ او سلیمانیه ژبو کښې دا الفاظ دکنایه ځنې دی. علامه شامی فرمائی: فاذا قال رها كردم ای سرحتك يقع به الرجعی مع ان اصله كناية ايضاً، (ردالمحتار ۲:۵۰۳ باب الكنايات) په دې وجه دې اولې جملې سره طلاق بائن واقع کیږی اوبیا دویمه جمله (طلاقه ده) دا صریح ده. وقال فی الشامية واذالحق الصريح البائن كان بائنا لان البينونة السابقة عليه تمنع الرجعة كما فی الخلاصة، (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰۹ مطلب الصريح يلحق الصريح والبائن)، پس دا طلاق به بائن وی. لهٰذا بل ځائې کښې به نکاح هم جائزوی او ړومبی خاوند سره تجدید د نکاح هم کولې شی. (ازمرتب)

بله داچه هلک اودجینۍ شریک رشته داران نورو عالمانو ته لاړل نوهغوئ اوفرمائیل چه په غصه کښې دربو طلاقوورکولو سره طلاق واقع کیږی چه په دې باندې دهلک مورپلارتراوسه پورې ناراض دی بلکه دې دشمن ګڼړی ما د مولاناصاحب سره ملاقات اوکړوهغه صفااوفرمائیل چه ځماپرچه نه قضا ده نه حکم دې بلکه مسئله ده ماته چه څه اوائی او استفتاءاوکړی زه دهغې جواب ورکوم دآخرت ذمه واری په ګواهانواوپه مدعی مدعیٰ علیه باندې ده اوس دکلی عام خلق اونهه نوی فیصده عالمان دافرمائی چه معامله ډیره نازکه ده که چرته هلک دغصې دې حالت ته نه وو رسیدلې نوهلک جینۍ به زنا کښې مبتلا شي اودګواهانوآخرت به هم خراب شی فرمائی چه ددې معاملې زیات تعلق دتقوی سره دې فتوی سره نه دې فرمائی چه دسیاق او سباق نه معلومیږی چه هلک په سوچ سره طلاق ورکړې دې ځکه چه خانګی معاملات تقریباً د دولسو کالونه خراب دی دبې انتهااحتیاط ترغیب ورکوی اووائی چه ښه خبره داده چه هلک اودده مورپلارته ښه پوهه کړې شی چه ددین اودآخرت اودحل اوحرمت معامله کښې شکی معامله مکوئ په دې کښې دضدڅه خبره نشته دې حالانکه پخپله مولاناشفیع الله صاحب ډیر ترغیب ورکړې دې چه مسئله په خپل ځائ ده لیکن په دې معامله باندې کانړې کیږده اوداسې اوګڼړه چه جینۍ کفن دفن شوه.جینۍ هم دمولانا صاحب ددې بیان سره متفقه شوه دجینۍ بیان دادې، ځما صبردې ماخپل قسمت اوکتوماته نه ددې خاوندضرورت شته نه دبل زه د جانبینوعزت کوم ما کفن دفن اوګڼړئ اومهرپورې هم نه غواړم،دجینۍ بل بیان دادې چه زه زهرو خوړلوته تیاره یم لیکن تلل نه قبلوم ځماآخرت ولې بربادوئ حالانکه ما ټول په ټوله الفاظ پخپله اوریدلی دی اوس سوال دادې چه ددې مسئلې حل څه دې؟ نیزکه حلالې دپاره جینۍ تیاره کړې شی نوحلاله اوکړی یانه؟ تفصیل سره اولیکئ.نیزپه خدمت کښې غرض دادې چه دهلک دپلارپه نوم یو نصیحت نامه ارسال کړئ چه تحقیق اوګواهې کونکی دشمنان اونه ګڼړی محسن ئې اوګڼړی؟ بینوا توجروا

المستفتی:ا.ب.ت.بام خیل صوابی........۱۹۷۵ء۱۱۳۱

جواب: واضحه دې وی چه درې حالتونه دی اول داچه هوش اوحواس او ګفتار او کردارټول باقاعده اوصحیح وی.نوپه دې حالت کښې طلاق واقع کیږی دویم داچه دهغه نه بغیرد قصداوشعور، ګفتاراوکردارصادروی نوپه داسې حالت کښې طلاق نه واقع کیږی، دریم داچه دهغه اکثراقوال اوافعال د عادت خلاف اوبې خوده غیرسنجیده وی نوپه داسې حالت کښې هم طلاق نه واقع کیږی.

والتفصيل فی ردالمحتار ۲: ۵۸۹ وبعض العبارة مانصه: فالذی ينبغی التعويل عليه فی المدهوش ونحوه اناطة الحكم بغلبة الخلل فی اقواله وافعاله الخارجة عن عادته وكذا يقال فيمن اختل عقله لكبر او لمرض او لمصيبة فاجأته فما دام فی حال غلبة الخلل فی الاقوال والافعال لا تعتبر اقواله وان كان يعلمها ويريدها﴿۱﴾

پس دمقامی اونزدې خلقونه تحقیق اوکړئ چه ددې طلاق ورکولوپه وخت یاپه سابقه وختونوکښې دده دغصې څنګه کیفیت وو او د هغې دحکم شرعی په مخکښې سرتسلیم خم کړئ نیزواضحه دې وی که چرته یوسړې دې ښځې ته دوقوع طلاق په صورت کښې دتحلیل دپوشیده ارادې سره نکاح اوکړی نودابه مستحق ثواب اواجروی، کمافی الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۴ امااذا اضمرذلک لایکره وکان الرجل ماجور القصد الاصلاح وتاویل اللعن اذاشرط الاجرذکره البزازی﴿۲﴾ پس جینۍ ته دحلالې دپاره نصیحت کولوکښې شرعی ضرورت نشته دې ددنیاوی ضررموازنه دې رشته داراوکړی،وهوالموفق والمسهل ولاحول ولاقوة الابالله.

د متعلقه استفتاءسره نصیحت نامه

دې طلاق ورکولووالااودده دپلارپه خدمت کښې سلام مسنون نه پس دې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۳ ۴ مطلب فی طلاق المدهوش)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۸۷ باب الرجعة)

واضحه وی چه دمعمولی اوعام غصې په حالت کښې طلاق واقع کیږی پس دغصې ددې نوعیت په تقدیرباندې تاسوددویم واده انتظام اوکړئی ښځې کمې نه دی،تاسوضدمه کوئی ددین اودنیاددواړوتباهې نه بچ شئی او یا جینۍ درضااورغبت سره تحلیل اوحلاله وکړئ تاته ددې مشورې ورکولو والا نیک اوخداترس سړې دې دده مشوره خپله خیرخواهی اوګڼړئی،دپته شرارت مه وایئ،که چرته هلک په غیرمعمولی غصه کښې چه دهغې تفصیل په فتوی کښې مسطور دې مبتلا شی طلاق ورکړی وی اودغصې نه پس دطلاق اعاده اونه کړی نوددې حکم آسان دې.وهوالموفق

۱۲۷صفر المظفر ۱۳۹۵ھ......محمد فرید عفی عنه

ما پریخې ده.. د طلاق الفاظ دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زید دیوښځې سره نکاح اوکړه تقریبادیارلس کالوپورې ئې واده اونه کړو،دښځې رشته دارانو مطالبه اوکړه چه ددې سره واده اوکړه یاطلاق ورکړه پریږده،ددې په جواب کښې زیداووئیل چه دابنځه ماپریخې ده ددې سره څماڅه قسم تعلق نشته او څمانه بالکل آزاده ده،دچاسره چه اوغواړی نکاح دې اوکړی څمادطرفنه اجازت دې داخبره ئې دعادل عاقل بالغ ګواهانوپه مخامخ باربارکړې ده ایا دا ښځه اوس دویم ځائ کښې نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ ارشادحسین کالوخان صوابی........۱۹۲۹ء/۲۰۱۸

الجواب: داالفاظ خصوصا،،ماپریخې ده،،دطلاق الفاظ دی لهذا بشرط صدق دابنځه دویم ځائی کښې نکاح کولې شی.﴿۱﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾پورتنی الفاظ بالخصوص ``ما پریخې ده،، ``زما نه آزاده ده،، دا بعضې علماؤ د کنایاتو نه شمارکړی دی.اود دلالة الحال په وجه دې الفاظوسره طلاق بائن واقع کیږی،په فتاوی دارالعلوم دیوبند کښې دی: لفظ پریخودل ترجمه ده د سرحتك اود فارقتك، پس څنګه چه دا لفظ د کنایاتو نه دی ددې (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

غیر مدخول بها ته د طلاق ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زید دیونابالغې جینۍ سره عقداوکړوبیادآبادکیدلونه مخکښې دېته دنابالغې په صورت کښې په یو وخت درې طلاقه ورکړه څه وخت تیریدلونه پس داجینۍ بالغه شوه زید بیاددې سره عقدنکاح کول اوغوښتل ایادې غیرمدخول بهالره بغیرد حلالې دوباره عقدکښې راوستلې شې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی صاحب امام مسجد سیری ګړهی حبیب الله۱۹۲۹ء/۸۱۵

الجواب: که چرته زیدداالفاظ وئیلی وی چه فلانې په مابانډې په درېو طلاقو سره طلاقه ده نوپه دې صورت کښې جینۍ مطلقه مغلظه کیږی بغیردحلالې لاره نشته دې اوکه چرته داالفاظ ئې وئیلی وی چه فلانې په مابانډې طلاقه ده په مابانډې طلاقه ده په مابانډې طلاقه ده نوپه داسې صورت کښې کله

[بقیه حاشیه] ترجمه هم کنایه ده نیت یا دلالت حال سره به طلاق واقع کیږی اود پریخودو لفظ زمونږ په عرف کښې لکه څنګه چه دنکاح پریخودلو ته وائی دنفقې وغیره خبرنه اخستلو اود حقوق زوجیت نه اداکولو دپاره هم وئیلې کیږی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ۹:۳۷۲ باب چهارم کنایات) حضرت مولانا مفتی فریدصاحب دامت برکاتهم په ګڼړو فتاووکښې دا په کنایاتوکښې شمیرکړې دې چه د پښتنو په محاوره کښې دا د عربۍ په شان کنایه ده اوکه چرې دا صریح اومنلې شی نوبیا هم دا د بائن په واقع کیدلو کښې مشهوردې.چه دې الفاظوسره د بینونت اراده کوی (ملفوظات حضرت مفتی صاحب) اوعلامه شامی دې لره صریح ګرځولې دې.

حیث قال: فاذا قال رها کردم ای سرحتک یقع به الرجعی مع ان اصله کنایة ایضا.

(ردالمحتار ۲:۵۰۳ الکنایات)

پس په مذکوره صورت کښې چونکه دا طلاق قبل الدخول دې لهٰذا دا الفاظ به په طلاق بائن بانډې حمل کولې شی یا په صریح بانډې .په دواړو صورتونو کښې طلاق بائن واقع کیږی.والله اعلم...... (ازمرتب)

چه یکمشت درې طلاقه نه وی ورکړې شوې نوزید دې سره عقد کولې شی﴿۱﴾ وهوالموفق

غیرمدخول بها ته د طلاق ثلاثة ورکولوحکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه مطلقه بطلاق ثلاثه هغې ته چه دواده نه مخکښې طلاق ورکړې شوې وی ددې سره به تجدید د نکاح کافی دي یاکه دحلالې هم ضرورت شته چونکه داطلاق غیرمدخول بها دې دې دپاره بعض علماءصرف دتجدیدنکاح خبره کوی اودحسن بصری اود عطاء قول مخکښې کوی اوآیات لره مدخول بهاسره خاص کوی حالانکه بعض عالمان آیات عام ګڼړلوسره غیرمدخول بهاهم په دې کښې داخلوی دمسئلې صحیح نوعیت څه دې؟ بنیواتوجروا

المستفتی: فضل الرحمٰن کهنډربونیر......۱۵\جون۱۹۷۵ء

جواب: که چرته غیرمدخول بهاته درې طلاقه دربو الفاظوسره ورکړې شوې وی نودابه مغلظه نه وی. لعدم وقوع الثانی والثالث﴿۱﴾اوکه چرته یکمشت

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وینکح مبانة بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع ومنع غیره فیها لاشتباه النسب، لا ینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ بها ای بالثلاث لو حرة ولو قبل الدخول وما فی المشکلات باطل او مؤول کما مر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۸۲ مطلب فی العقد علی المبانة)

وفی الهندیة: اذا طلق الرجل امرأته ثلاثا قبل الدخول بها وقعن علیها فان فرق الطلاق بانت بالاولی ولم تقع الثانیة والثالثة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۳ الفصل الرابع فی الطلاق قبل الدخول)

﴿۱﴾ قال التمرتاشی: قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق ثلاثا وقعن وان فرق بانت بالاولیٰ ولم تقع الثانیة وکذا انت طالق ثلاثا متفرقات فواحدة.

(تنویر الابصار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۹۲ باب طلاق غیر المدخول بها)

ورکړې شوې وی نودقرآن اوحدیث اوآثارپه رڼاسره به دابنځه مطلقه مغلظه وی، وهومذهب الائمة الاربعة خلافاللطائفة السلفیة وللتحقیق مقام آخر﴿۱﴾ وهوالموفق

د غیر مدخول بها په صورت کښې د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دزید سره دروبینې نابالغې نکاح اوشوه پلارئې پخپله ایجاب اوقبول اوکړولیکن واده اونه شو، په دې دوران کښې زیدروبینې ته یوطلاق ورکړوڅه وخت پس دویم بیائې دریم هم ورکړواهل علم والونه پوښتنه اوکړې شوه چه داطلاق به یوبائن وی یامغلظ؟ اهل علم اوفرمائیل چه غیرمدخوله ته په دې صورت کښې یو طلاق بائن کیږی ددې نه پس روبینې سره دوباره نکاح اوکړې شوه تحلیل وغیره اونه کړې شوایادانکاح دشریعت په رڼاکښې صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالسمیع امام مسجد پشاورروډراولپنډی. ۱۱\۱۴\۱۹۷۳ء

الجواب: په صورت مسئوله کښې تجدیدنکاح کافی دې دتحلیل ضرورت نشته دې ددې علماؤ مسئله صحیح ده.

فی الدرالمختار: وان فرق بوصف او خبر اوجمل بعطف او غیره قال العلامة الشامی: او جمل نحو انت طالق انت طالق بانت بالاولی ولذا لم تقع

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: لان الواقع عند ذکر العدد مصدر موصوف بالعدد ای تطلیقا ثلاثا فتصیر الصیغة الموضوعة لانشاء الطلاق متوقفا حکمها عند ذکر العدد علیه بحر قال فی الفتح وبه اندفع قول الحسن البصری وعطاء وجابر بن زید انه یقع علیها واحدة لبینونتها بطالق ولا یؤثر العدد شیئا ونص محمد رحمه الله تعالیٰ قال واذا طلق الرجل امرأته ثلاثا جمیعا فقد خالف السنة واثم وان دخل بها اولم یدخل سواء بلغنا ذلک عن رسول الله ﷺ وعن علی وابن مسعود وابن عباس وغیرهم رضوان الله علیهم الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۹۳ باب طلاق غیر المدخول بها)

الثانية الخ. (هامش ردالمحتار ۲:۲۲۶)﴿۱﴾. وهوالموفق

د کوژدنې نه پس او د نکاح نه مخکښې طلاق ورکول کالعدم دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی د کوژدنې نه پس او د نکاح نه مخکښې خپل سخر ته خط اولیکلو چه ستا لور څما د طرفنه آزاده ده او په ما باندې طلاقه ده ایا په دې سره طلاق واقع شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالودود چارسده........ ۴/۳/۱۹۷۵ء

جواب: چونکه قبل النکاح طلاق ورکول کالعدم دی لهذا ددوی په مینځ کښې به نکاح کول صحیح وی.

کمافی الدرالمختار علی هامش الشامیة ۲:۶۸۱﴿۲﴾ وهوالموفق

تحریری طلاق سره طلاق واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه څما یو نزدې رشته دار دهغه سخر ډیر تنګ کړو او لور ئې په زور د ده د کور نه بهر کړه چه په لاهور کښې مقیم دې او دې ځائ نه فاصله تقریباً دوه سوه پنځوس میله ده څو ځله هغه راغلو ایوسته مګر د څه خاص وجه نه هغه خپله ښځه بونه تله په دې بنیاد باندې دده سخر د پولیس سره یو ځائ شو او د خپلې لور په بوتلو کښې کامیاب شو او جینئ هم بغیر د اجازت د خاوند نه د پلار سره یو ځائ لاړه، ددې وجه نه هلک ته ډیره صدمه اورسیده او د رنجش او د غصې د وجه نه ئې یو طلاق نامه اولیکله د ښځې په نوم باندې په ذریعه د رجسټرې لاهور ته ئې اولیږله، (طلاق

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۹۴ قبیل مطلب الطلاق یقع بعدد قرن به لابه)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: فلغا قوله لاجنبیة ان زرت زیدا فانت طالق فنکحها فزارت ...... لعدم الملک والاضافة الیه.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۳۷ باب التعلیق)

نامه ملفوفه ده، ایا په دې صورت کښې طلاق واقع کیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید محمد رشید کهاوړ کلا بهکر........ ۲۳/۷/۱۹۷۲ء

الجواب: په صورت مسئوله کښې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده﴿۱﴾ بغیر د تحلیل نه لاره نشته دې﴿۲﴾ د تحلیل کیفیت د مقامی عالمانو نه معلوم کړئ. وهوالموفق

تحریری طلاق هم واقع کیږی زبانی وئیل ضروری نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه اووه میاشتې مخکښې ما خپلې ښځې په نوم طلاق نامه رجسټری کړه دواپسې په رسید باندې ددې ګوته موجود ده دری میاشتې پس د طلاق نه، ددې پلار یعنی څما سخر چه پخپله یو غټ عالم دې تشریف راوړو او وې فرمائیل چه کله پورې خاوند خپلې ښځې ته په زبان سره طلاق اونه وائی تر هغه وخته پورې طلاق نه موثر کیږی ایا د کاغذ په تحریر سره طلاق کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: شاهد بک ډپو ضلع رحیم یارخان........ ۱۴/۸/۱۹۷۲ء

الجواب: ددې تحریری طلاق نامې په بنیاد باندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده﴿۳﴾ بغیر د تحلیل نه لاره نشته دې ....

﴿۱﴾ وفی الهندیة: بان کتب اما بعد فانت طالق فکما کتب هذا یقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۷۸ الفصل السادس فی الطلاق بالکتابة)

﴿۲﴾ قال العلامة مرغینانی: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة او ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها.

(الهدایة ۲:۳۹۹ باب الرجعة کتاب الطلاق)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقا ولو علی نحو الماء فلا مطلقا.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۶۵ قبیل باب الصریح)

صرف تجدید دنکاح ناکافی دي﴿۱﴾ د ناوقفئ دوجه نه دجماع کولو کفاره توبه او استغفار دي صدقه ورکول مستحب دی. وهو الموفق

په خپله ليکلو يا په بل چا ليکلو سره طلاق واقع کيږی خواه که ښځه ئې اولولی يا نه

سوال: څه فرمائی علماءدین دي مسئلي باره کښې چه تقريباً شپږ مياشتي مخکښې څماواده دمرادخان سره او شوبيائي زه دخپلي مور سره پريخودم، دوه ورځي پس په ورځ دجمعي ماله راغلو او څماپه مخامخ ئې يو کاغذ باندي مندرجه ذيل عبارت اوليکلو او زه ئې مجبوره کړم چه دا څماپه مخامخ دري ځل اووائی ماهغه پړهاؤ کړو نوعبارت داسې وو: مامسمی مرادخان خپلې ښځې نسيم بی بی دخترفلانې ته طلاق ورکړو په دويم او دريم سطر کښې ئې هم دغه الفاظ ليکلی وو او په آخر کښې دهغه دستخط وو. اوس سوال دادې چه طلاق اوشو يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: نسيم بی بی اسلام آباد......۱۹۸۴ء/۸/۱۹

الجواب: چونکه په خپله ليکلو يا په بل ليکلو سره هم طلاق واقع کيږی لهذا که چرته ستا خاوند دا الفاظ ليکلي وی نو په تا باندې طلاق شوې دې خواه که ته مجبوره وې يا غير مجبوره او خواه که تا دا کاغذ لوستې وی يا نه وی لوستې (هنديه)﴿۲﴾. وهو الموفق

ساده کاغذ باندې طلاق نامې ليکل او ورکولو سره هم طلاق واقع کيږی

سوال: څه فرمائی علماءدين دي مسئلي باره کښې چه يو سړی خپله لور د يو

﴿۱﴾وفی الهندية: لا يحل للرجل ان تتزوج حرة طلقها ثلاثا قبل اصابة الزوج الثانی. (فتاویٰ عالمگيرية ۱:۲۸۲ القسم التاسع المحرمات بالطلاق)

﴿۲﴾وفی الهندية: وان کانت (الکتابة) مرسومة يقع الطلاق نوی اولم ينو ثم المرسومة لا تخلو اما ان ارسل الطلاق بان کتب اما بعد فانت طالق فکما کتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة. (فتاویٰ عالمگيرية ۱:۳۷۸ الفصل السادس فی الطلاق بالکتابة)

څو روپو په عوض باندې يو ظالم سړی ته په نکاح باندې ورکړه ليکن دجينئ مرضی نه وه. راضی نامه په دې باندې او شوه چه خاوند اووئيل که چرته ماجينئ ته څه تکليف اورسولو نودا په ما باندې دريو شرطونو سره طلاقه ده. ليکن هلک جينئ سره واده کولو سره پرديس کښې په دې باندې ظلم شروع کړو آخر دې خاوند يو ساده کاغذ باندې طلاق ليکلو سره ښځې ته ورکړو او په دې کاغذ کښې دګواهانو نومونه نشته دې په دې حالت کښې يو بل سړی په دوه زره روپئی باندې واخسته. اوس دا ښځه نه دمور پلار سره تلل غواړی او نه د سابقه خاوند سره بلکه د ددې اخستلو والا سره دنکاح خواهش لری او سابقه خاوند تقريباً شپږو مياشتونه ددې دراوستلو کوشش او نه کړو آيا په دې صورت کښې دا ښځه ددويم خاوند سره نکاح کولې شی؟ بينوا توجروا

المستفتی: حسين جاويد بيروټ راولپنډی......۱۴۰۱/۷/۲۰هـ

الجواب: بشرط صدق وثبوت مضمون هذا داجينئ په اولنی خاوند باندې مطلقه شوې ده او په دويم ځائ کښې باقاعده نکاح کولې شی. کمافی الهنديه ۲:۳۶۵ اذااضافه الی الشرط وقع عقيب الشرط﴿۱﴾ وهو الموفق

د ويرولو د پاره دهمکئی ورکولو د پاره د طلاق نامې دروغ خبرو کولو وغيره حکم

سوال: څه فرمائی علماءدين دې مسئلې باره کښې چه څمادعزيز څه ذاتی وجوهاتو په بنياد باندې دخپلې ښځې سره ناچاری او شوه دښځې څه قصور نه وو. ليکن عزيزمونږ سره دصلح خبرو کولو په دوران کښې څو ځله اووئيل چه زه فلانې نه ساتم ماهغې ته طلاق ورکړې دې او ما طلاق نامه اوليکله او ددې د مور پلار کورته مې او غورزوله او زۀ راغلم. وغيره وغيره. حالانکه دطلاق نامې ليکلو او غورزولو څه ثبوت ملاؤنشو. بالاخر په مفاهمت کښې زه کامياب شوم او س هغه خاشحالئی سره اوسيږی او س په حيثيت دمسلمان څماپه زړه

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمگيرية ۱:۴۲۰ الفصل الثالث فی تعليق الطلاق بکلمة ان واذا)

کښې داخبره راځی چه خدانخواسته دعزیزانو طلاق خوبه واقع شوې نه وی؟
بینوا توجروا

المستفتی: تاج محمد سواتی ایبټ آباد........۷/۱۰/۱۹۸۹ء

جواب: که چرته دې خاوند دوېرولو دهمکئ وغیره په خاطر کذب بیانی کړې وی نو دابنځه مطلقه شوې نه ده﴿۱﴾ اوکه چرته داحقیقت وی چه هغه تحریری طلاق نامه مرتب کړې وی نو په ده باندې ښځه مطابق دتحریر مطلقه شوې ده﴿۲﴾ اومعامله الله تعالی سره ده. وهوالموفق

ښځې ته د طلاق ورکولو په صورت کښې د دربو نوټسو د لیکلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی په دې طریقې سره طلاق ورکړو نوټس نامه داده جناب ډپټی کمشنرصاحب راولپنډی چه ما فلانی خپلې ښځې ته طلاق ورکړې دې ځکه ددې دوینامطابق بیماریم او ددې د سنمبهالولو نه قاصره یم دویم نوټس طلاق ماخپلې ښځې ته طلاق ورکړې دی چه کوم اولنې نوټس مې درکړې دې دریم نوټس: دوه نوټسه مې اول درکړی دی اودریم داچه کاروائی مکمل شی دربواړه نوټسونه په یو وخت تقریباشپږمیاشتې پس مانه موصول شول یونین کونسل کښې ددې څه ریکارډ نشته دطلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمود الحسن آستانه قاضی صاحب راولپنډی...۱۴۰۱/۷/۱۵ء

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: نقل عن البزازیة والقنیة لو اراد به الخبر عن الماضی کذبا لا یقع دیانة وان اشهد قبل ذلک لایقع قضاء ایضا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۹ قبیل مطلب فی تعریف السکران وحکمه)

﴿۲﴾ قال القاضی خان: ان ارسل الطلاق بان کتب اما بعد فانت طالق فلما کتب هذا وقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة.

(فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ۱: ۴۷۱ فصل فی الطلاق بالکتابة)

الجواب: ښځې ته نسبت کولو سره طلاق واقع کیږی خواه خطاب دیته وی یا اجنبی ته﴿۱﴾ اوپه ظاهره دې نوټس نه دامعلومه شوه چه دابنځه صرف یو طلاق سره مطلقه شوې ده په دې بنیادباندې عدت تیرولونه پس دویم ځائی کښې نکاح کولې شی اوسابقه خاوندسره هم نکاح کولې شی دحلالې ضرورت نشته دې ځکه چه دویم اودریم نوټس کښې دسابقه طلاق یادهانی شوې ده تاسیس او انشاء دطلاق نه خالی دی﴿۲﴾ وهوالموفق

طلاق درې ځله اولیکی او نیت د یو طلاق وی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی په هوش اوپه حواس کښې اولیکل چه زه خپلې ښځې فلانې ته طلاق ورکوم طلاق ورکوم طلاق ورکوم دتحریر بالا لیکلونه پس ئې اووئیل چه په دې سره ځمانیت دیو طلاق وو باقی دوه مې صرف دوېرولواو دهمکئ ورکولو دپاره لیکلی وو چه دا د غلطو حرکاتونه منع شی په داسې صورت کښې به کوم طلاق واقع وی؟
بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټرعبدالرشید خان اټک........۲۲/۱۲/۱۹۸۷ء

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله او لم ینو شیئا) لما مر ان الصریح لا یحتاج الی النیة ولکن لا بد فی وقوعه قضاء ودیانة من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه ولم یصرفه الی ما یحتمله کما افاده فی الفتح وحققه فی النهر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۷ مطلب فی قول البحر ان الصریح یحتاج فی وقوعه)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ولو قال لامرأته انت طالق فقال له رجل ما قلت فقال طلقتها او قال قلت هی طالق فهی واحدة فی القضاء کذا فی البدائع.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۵۵ مطلب اذا کرر الطلاق علی المرأة المدخول بها ونوی الاخبار)

الجواب: طلاق لیکلو یا په بل چا د لیکلو سره هم واقع کیږي.شامی﴿۱﴾ هندیة،﴿۲﴾ البته کله چه څوځله د طلاق الفاظ اووائی یا اولیکی او نیت صرف دیو وی نو صرف یو طلاق به واقع وی. کمافی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲:۶۳۲ کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکیددین.وفی ردالمحتار و کذا اذا اطلق﴿۳﴾ په یو طلاقې رجعی کښې زبانی مراجعت کافی دې﴿۴﴾. وهوالموفق

د یو طلاق بائن د لیکلوني اووئیل لیکلو والادرې اولیکل نودا صحیح نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ما ستامپ نویس ته اووئیل چه ځما ښځې په نوم یو طلاق بائن اولیکه. ځکه چه زمونږ په مینځ کښې اختلاف وو او زه شناختی کارډ اخستلو له تللې وم هغه د دووګاهانو په مخامخ درې طلاقه اولیکل کله چه زه واپس راغلم هغه اووئیل چه په دې باندې دستخط اوکړه ما اوکړو ځما خیال وو چه دا خو یو لیکلې شوې دې اوس زه او ځما ښځه راضی یو نو ایا مونږ دوباره نکاح کولې شوو؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اسلم فیصل آباد........۲۷\۱جمادی الثانی ۱۴۰۳ھ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: قال فی الهندیة الکتابة علی نوعین...... بان کتب اما بعد فانت طالق فکما کتب هذا یقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۵ مطلب فی الطلاق بالکتابة)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۷۸ الفصل السادس فی الطلاق بالکتابة)

﴿۳﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۹۹ قبیل فروع باب طلاق غیر المدخول بها)

﴿۴﴾ وفی الهندیة: فاذا راجعها بالقول نحو ان یقول لها راجعتک او راجعت امرأتی ولم یشهد علی ذلک او اشهد ولم یعلمها بذلک الخ.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۶۸ الباب السادس فی الرجعة وفیما تحل به المطلقة)

الجواب: بشرط صدق وثبوت په تاباندې ښځه مطلقه مغلظه شوې نه ده. کما فی الهندیة ۳:۶۶۹ رجل قال لغیره طلق امرأتی فطلقها الوکیل ثلاثا فان کان الزوج نوی الثلث یقع الثلاث والا لم یقع شیئ فی قول ابی حنیفة وفی قول صاحبیه تقع واحدة﴿۱﴾. وهوالموفق

بغیر د زور او اکراه نه یو طلاق لیکلو سره طلاقې رجعی واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو کس اغوا شوې وو هغه دا ذیتونود وجه نه داسې قسمه خط لیکلې وو. ما سره انتهائی ظلم کیږی داسې ښکاری چه زه د څو ورځو مهمان پاتې شوې یم کیدې شی دې نه پس زه الله تعالی ته خوښ کړې شم ځما د طرفنه ځما ښځې ته طلاق دې ددې وجه نه چه زه د څو ورځو مهمان پاتې شوې یم هغه دې سره واده او کړو...... زه خود غلطئ سره راغلم ځمانه غلطی او شوه ما د پلار صاحب نه معافی اوغوښتله کیدې شی هغه معافی نه وی کړې الخ. ددې بالا الفاظونه د طلاق څه حکم دې؟ بنیوا توجروا

المستفتی: محمود صرافه بازار راولپنډی......۱۳\۱جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: که چرته دا مکتوب ددې د خاوندوی او دې خاونددیته بغیر د زور او اکراه نه لیکلې وی نو په ده باندې دا ښځه یو طلاقې رجعی سره طلاقه شوې ده﴿۲﴾ د عدت تیریدلو نه مخکښې زبانی رجوع کافی ده البته عدت تیریدلو نه

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۳:۶۱۱ الفصل الثانی فی الوکالة بالطلاق والخلع باب الوکالة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وان کانت مرسومة یقع الطلاق نوی او لم ینو ثم المرسومة لا تخلو اما ان ارسل الطلاق بان کتب اما بعد فانت طالق فلما کتب هذا یقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة...... وبعد صفحة...... رجل اکره بالضرب والحبس علی ان یکتب طلاق امرأته فلانة بنت فلان بن فلان فکتب امرأته فلانة بنت فلان بن فلان طالق لا تطلق امرأته کذا فی فتاویٰ قاضی خان. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۷۸،۳۷۹ الفصل السادس فی الطلاق بالکتابة)

پس تجدید دنکاح کافی دي﴿۱﴾. وهوالموفق

کله چه طلاق نامه باندې دستخط موجود وی نوطلاق به واقع وی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې په مستئی کښې راغلو او دیوې جینئی سره ئې نکاح اوکړه دجینئ والاخلق ډیرې بدنامې اوبدکارې کښې مشهوردی او بالخصوص داجینئ ډیره عیاشه ده او کوم سړی چه نکاح کړې ده دده تقریبا یودرځن بچی دی چه هغه ډیرپه مشکله سره ساتی دده اولنئی ښځه ډیره شریفه او دشریفې کورنئی سره تعلق لری چه په هغې کښې کوم قسم نقص یاقصور نشته دې لیکن دې جینئ والا خلقو په څه طریقې سره په دې سړی باندې جال واچولو اوګیرئې کړو کله چه اولنې ښځې ته پته اولګیده نو دې دخپل خاوندنه پوښتنه اوکړه چه څه معامله ده او ډیر ملامته ئې کړو کله چه ددې سړی سوچ او سمجهه برابرشو چه ما ډیره غټه غلطی کړې ده نو ده طلاق نامه اولیکله او جینئ ته ئې ارسال کړه. روستو دجینئ والاخلق ده ته راغلل او معلومه ئې کړه چه تا طلاق ولې ورکړې دې نو دا سړې دطلاق نه منکرشو او دوی ته ئې اووئیل چه دا طلاق نامه نه ده بلکه یو کاغذ دې چه دامې سابقه ښځې ته ددهوکې دپاره لیکلې دې طلاق نامه کښې ئې دالیکلې وو چه زه دا طلاق نامه په هوش او حواس سره لیکم دا ښځه په ما باندې حرامه ده اودې ته ما طلاق ورکړې دې او په آخر کښې ئې په دې باندې خپل دستخط هم کړې دې ایا دا طلاق واقع شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالقیوم پشاورصدر...... ۲۱\۱۲\۱۹۷۲ء

جواب: په دې سړی باندې ښځه مطلقه شوې ده. فی ردالمحتار: وان کانت مرسومة یقع الطلاق نوی اولم ینو(۲:۵۸۹)﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة اکمل الدین البابرتی: فما دامت العدة باقیة کانت ولایة الرجعة باقیة واذا انقضت من غیر رجعة بانت. (العنایة علی هامش فتح القدیر ۳:۳۵۲ باب ایقاع الطلاق)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۵ مطلب فی الطلاق بالکتابة)

خاوند په خپله دوه طلاقه ورکړی دی مجسټریټ درې لیکلی دی ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه زید دحاکم وخت مجسټریټ په مخکښې ښځې ته دوه طلاقه ورکولو سره خاموشی اختیار کړه. حاکم وخت دطلاق نامې په تحریر کښې درې طلاقه ورکول اولیکل او وې لوستل، دزید بیان دادې چه ما دغم او پریشانئ په تخیل کښې درې طلاقه ورکول اوریدلو کښې ته رانغلل دې نه پس دحاکم دوئیلو مطابق تحریرشوې طلاق نامې باندې دستخط اوکړو اوس په دې صورت کښې درې طلاقه واقع شوې دی یادزید دوینا مطابق دوه طلاقه شوی دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: که چرته داوئیل صحیح وی او هغه یقین قلبی سره دامنی چه ما دربو طلاقو لفظ نه دې اوریدلې او نه ددې تصدیق کوی. او دطلاق ورکولو تصدیق په حکم حاکم کوی نو په داسې حالت کښې دوه طلاقه کیږی. ددریم الزام صحیح نه دې البته حاکم دظاهرمطابق چه درې اوریدلې شوی دی او دستخط اخستلې شوې دې دربو واقع کیدلو فیصله به کوی. لیکن دیانة فیمابینه وبین الله بس دوه طلاقه واقع شوی دی او وجه داده چه اوروُلو دپاره اوریدل لازم کړې شوی نه دی چه مخاطب په څه غم او فکر کښې مبتلا وی او بعض الفاظو طرفته توجه نه وی ذهن کښې رانشی ددې ډیرقرائن دی(۱) څه خلق جهری قرات امام پسې آوری لیکن دهیان ئې نه وی چه امام څه اووئیل. حافظ په تراویح کښې دقرآن تلاوت کوی سامع ډیر الفاظ نه اوری بالخصوص کله چه توجه کښې فرق راشی(۲) علماءمعانی تاکید لفظی د جاءنی زیدزید په فوائدو کښې لیکلی دی چه زید ته مکرروئیلې شی چه کیدې شی اول لفظ مخاطب نه وی اریدلې دده توجه دې طرفته نه وی بیامکررکوی چه متنبه شی و اوری. قالوا فائده التاکید دفع غفلة سماع السامع

الخ. (۳) په حدیث کښي دی چه یو ځل حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه باندي تیر شو او سلام ئې او کړو لیکن هغه په څه فکر کښي وو جواب ئې ورنکړو په دې باندي حضرت عمر رضی الله عنه حضرت صدیق رضی الله عنه ته راغلو شکایت ئې او کړو نو هغه لاړو د حضرت عثمان رضی الله عنه سره ئې تذکره او کړه او هغه جواباً او فرمائیل. والله ماشعرت انک مررت وسلمت. لیکن ماته څه خبر او نه شو چه تاسو سلام واچولو. حضرت عمر رضی الله عنه او فرمائیل کیدي شی تاسو په څه فکر کښي پریشان خاطره وئی وې فرمائیل آو. راجع مشکواة ۲/۱ طلاق ورکونکي هم پریشان خاطره وی ممکنه ده چه دده پوره توجه د حاکم د الفاظو طرف ته نه وی ددې وجه نه دده داوئیل صحیح دی او قابل تسلیم دی بالخصوص کچهرو کښي عوام هسي د رعب په وجه پریشان وی ددې وجه نه د دریو الزام صحیح نه دی (۴) داهم کیدلي شی چه بعض خلقو اوریدلی وی لیکن دهغوی اوریدل دې سړی انکار کړي شوی ته لازم نه دی د هریو سړی خپله توجه وی. ابوداود شریف کښي روایت دې چه امام زهری یو حدیث بیانولو بعض الفاظ ئې په ټیټ آواز سره او وئیل چه هغه بعض شاګردانو واونه وریدلو دوی د نوروته او پوښتل یعنی پوښتنه ئې او کړه اذاقال الزهری ماقال هغوی جواب ورکړو چه اذاقرن نصتوا جمله ئې او وئیله داجمله بعض واوریدله او بعض د نورو نه پوښتنه او کړه ځان ئې پوهه کړو وغیر ذلک (۵) په فتاوی شامی ۲/۴۲۱ کښي دی. موجوده صورت هم ددې اندازدي والله اعلم. د فقهاء کرامو عبارتونه هم دی په دې باندي اکتفاء کوم

بنده عبدالقادر عفی عنه... مدرسه دارالعلوم لائل پور

بسم الله الرحمن الرحیم

جواب: که چرته دواقعي حقیقت دغه وی چه هغه مستفتي په سوال کښي په تفصیل سره ذکر کړی دی او دهغې صحیح تسلیم کولو سره مولانا عبدالقادر

صاحب مدظله جواب تحریر فرمائیلي دي او ددې جواب مدلل کولو د پاره هغوی ډیري حوالي ورکړي نو په دې صورت کښي مولانا عبدالقادر صاحب باندي اعتماد کولو سره زه هم په دې فتوی کښي د هغه تائید کوم په داسې صورتونو کښي قضاءً اګرچه دري طلاقه شمار شوی وی لیکن که پخپله هغه ته یقین وی چه مادري طلاقه نه دی ورکړي نو. دیانةً فیما بینه وبین الله دا به دري نه وی.

فقط والسلام خیر ختام......

احقر سید سیاح الدین کاکاخیل صدر مدرس ومفتی

مدرسه اشاعت العلوم جامع مسجد لائل پور شهر... ۱۲ ذی قعده ۱۳۹۵ھ

الجواب: بشرط صدق وثبوت داجواب صحیح دې یعنی په دې سړی باندي ښځه مطلقه مغلظه شوې نه ده که چرته ددې حادثې نه مخکښې دې سړی دې ښځې ته چرته طلاق نه وی ورکړې وهو الموفق

محمد فرید عفی عنه

۱۷ ذی قعده ۱۳۹۵ھ......... ۲۱/۱۱/۱۹۷۵ء

د طلاق ثلاثه نه پس بغیر د تحلیل نه رجعت جائز نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښي چه زید د خپلې حاملې ښځې د حمل نه انکاری دې ددې انکار د وجه نه پردیس ته لاړو یو فارغ خطی (طلاق نامه) ئې خپل کورته روانه کړه چه دهغې مضمون دا دې چه ما خپلې منکوحې ته په طلاق ثلاثه طلاق کړې ده. څو ورځې پس خپله کورته راغلو او وې وئیل چه ماته ددې ښځې د حمل نه انکار دې او ما په طلاق ثلاثه طلاقونه هم ورکړی دی او ټول سامان جهیز مهر وغیره ئې په رضا او خوشحالي ادا کړه منکوحه د خپل مور پلار سره وخت تیروی اوس تقریباً شپږ اووه کاله پس زید دا منکوحه مطلقه مغلظه متهمه واپس راوستل غواړی څو عالمانو نه

ئې ددې صورت په باره کښې پوښتنه اوکړه عالمانو دواپس راوستلو اجازت ورکړو چه دواپس راوستلو شرعاحقدارئې اودحمل دانکاردوجه نه په ده باندې توبه لازمه ده اوپه هغې باندې درې طلاقه واقع شوې نه دی صرف یو طلاقې رجعی دې چونکه دحضور ﷺ په زمانه کښې درې طلاقه یوطلاقې رجعی تسلیم شوی دی. ددې نه پس دې عالمانوزیدته دتجدید نکاح هم اووئیل. اوس سوال دادې چه شپږاووه کاله پس کومو عالمانوچه طلاق ثلاثه یوطلاق رجعی حساب کولو سره زید درجعت حقدارجوړکړې ووپخپله ئې نکاح تړلې ده ایاشرعادافیصله تسلیم ده؟ بینوا توجروا

المستفتی...... ۱۹۷۵ء ۳/۱۵

جواب: په دې سړی زیدباندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده. داحادیث مرفوعه نه اوآثارصحابه نه اوقضاخلفاء راشدین نه اواکابرصحابه نه هم داثابت ده. کما لا یخفی علی من راجع الی ابی داؤدومصنف عبدالرازق، اودائمه اربعه دا مذهب دې خلافا لرئیس الطائفة السلفیة یعنی ابن تیمیة رحمة الله علیه، وما روی من جعلها واحدة فمعناه انهم عند التکریر ای انت طالق یریدون التاکید ومن التاسیس، فلما تغیر العرف فی آخر خلافة الفاروق فجعلها ثلاثا فافهم﴿۱﴾ لهذا بغیردتحلیل نه ځه لاره نشته دې. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة شیخ الاسلام مولانا سید حسین احمد المدنی:
په یومجلس کښې د دریوطلاقو د واقع کیدلو متعلق مجموعه روایات دادی:
(۱) صحیح بخاری ۲: ۷۹۱ باب من اجاز الطلاق الثلاث عن عائشة ان رجلا طلق امرأته ثلاثا فتزوجت فطلق فسئل النبی ﷺ اتحل للاول؟ قال لا حتی تذوق عسیلتها کما ذاق الاول. (۲) حدیث الملاعنة وفیه: فطلقها ثلثا قبل ان یامره رسول الله ﷺ قال ابن شهاب فکانت سنة المتلاعنین. (بخاری شریف ۲: ۸۰۰). (۳) موطا امام مالک ۱۹۹: مالک انه بلغه قال لابن عباس انی طلقت امرأتی ماة تطلیقة، فما ذا تأمرنی؟ فقال له ابن عباس منک بثلاث وسبع وتسعون اتخذت بها آیات الله هزوا. (۴) صحیح الامام المسلم مع النووی ۱: ۴۷۶ حدیث ابن عمر: وفیه قال کان ابن عمر رضی الله عنه اذا سئل عن الرجل یطلق امرأته وهی حائض یقول......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(بقیه حاشیه) اما انت طلقتها واحدة او اثنین ان رسول الله ﷺ امره ان یراجعها ثم یمهلها حتی تحیض حیضة اخریٰ ثم یمهلها حتی تطهر ثم یطلقها قبل ان یمسها واما انت طلقتها ثلثا فقد عصیت ربک فیما امرک به من طلاق امرأتک وبانت منک، قوله اما انت فقال القاضی عیاض هذا مشکل قال انه بفتح الهمزة من آما اما ان کنت فحذفوا فعل الذی یلی ان، وجعلوا ما عوضا من الفعل فتحوا ان وادغموا النون فی ما وجاؤا بانت مکان العلامة فی کنت الخ. (۵) صحیح مسلم ۱: ۴۷۷ عن ابن عباس رضی الله عنهما قال کان الطلاق علی عهد رسول الله ﷺ وابی بکر وسنتین من خلافة عمر طلاق الثلاث واحدة فقال عمر بن الخطاب ان الناس قد استعجلوا فی امر کانت لهم فیه اناة فلو امضیناه علیهم فامضاه علیهم. (۶) صحیح مسلم ۱: ۴۷۸ ان ابا الصهباء قال لابن عباس رضی الله عنهما اتعلم انما کانت الثلاث تجعل واحدة علی عهد النبی ﷺ وابی بکر وثلثا من امارة عمر؟ فقال ابن عباس نعم. (۷) ان ابا الصهباء قال لابن عباس هات من هناتک الم یکن الطلاق الثلاث علی عهد رسول الله ﷺ وابی بکر واحدة فقال قد کان ذلک فلما کان فی عهد عمر تتابع الناس فی الطلاق فاجازه علیهم، قال النووی: وقد اختلف العلماء رحمهم الله تعالیٰ فیمن قال للمرأة انت طالق ثلثا فقال الشافعی ومالک وابوحنیفة واحمد جماهیر العلماء من السلف والخلف یقع الثلاث وقال طاؤس وبعض اهل الظاهر لا یقع الا واحدة واحتج الجمهور بقوله تعالیٰ: ومن یتعد حدود الله فقد ظلم نفسه لا تدری لعل الله یحدث بعد ذلک امرا، قالوا معناه ان المطلق قد یحدث له ندم فلا یمکنه تدارکه لوقوع البینونة فلو کانت الثلاث لم یقع طلاقه الا رجعیا فلا یندم واحتجوا بحدیث رکانة انه طلق امرأته البتة فقال النبی ﷺ والله ما اردت الا واحدة قال والله ما اردت الا واحدة فهذا دلیل علی انه لواراد الثلاث لوقعن والا لم یکن لتحلیفه معنی الخ واما حدیث ابن عباس فاختلف العلماء فی جوابه وتاویله فالاصح ان معناه انه کان فی الامر الاول اذا قال لها انت طالق انت طالق انت طالق ولم ینو تاکیدا ولا استینافا یحکم بوقوع طلقة واحدة لقلة ارادتهم الاستیناف......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

طلاق ثلاثه لره په یو حساب کول صحیح نه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې دیونام نهاد خطیب داعادت دې چه طلاق ثلاثه واقع کیدلو نه پس دصاحب ضرورت دمجبورۍ نه فائدې اوچتولو دپاره طلاق دهنده ته وائی چه ته دااولیکه دابیان ورکړه چه ماخپلې منکوحې ته طلاق ورکړې دې یامې یو طلاق ورکړې دې کله کله داخدمت داسړې دخپل قلم نه هم اداکوی بیامعقول فیس اداکولو سره طلاق ثلاثه لره یو طلاقې رجعی لیکی حالانکه ددې نه څه معلومیږی چه طلاق دهنده طلاق ثلاثه ورکړې دې ددې سړی متعلق څه حکم دې نیزدښځې دحلت یابینونت څه مسئله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمدیار شاهد دارالعلوم مدنیه چینوټ جهنګ ۱۹۸۶ء۱۴۱۱۲۱

(بقیه حاشیه) بذلک فحمل علی الغالب الذی هو ارادة التاکید فلما کان فی زمن عمر و کثر استعمال الناس بهذه الصیغة وغلب منهم ارادة الاستیناف بها حملت عند الاطلاق علی الثلاث عملا بالغالب السابق الی الفهم منها فی ذلک الخ نووی ۴۷۸ شرح مسلم. (۸) دارقطنی ۴۴۰ ان حفص ابن المغیرة طلق امرأته فاطمةبنت قیس علی عهد رسول اللهﷺ ثلث تطلیقات فی کلمة واحدة فابانها منه النبیﷺ ولم یبلغنا ان النبیﷺ عاب ذلک علیک. (۹) عن ابن عباس رضی الله عنهما فی رجل طلق امرأته الفا فقال اما ثلث فتحرم علیه امرأتک وبقیتهن علیک وزرا اتخذت ایات الله هزوا (السنن الکبریٰ للبیهقی ۷: ۳۳۲). (۱۰) عن مجاهد عن ابن عباس رضی الله عنه انه سئل عن رجل طلق امرأته مأة تطلیقة قال عصیت ربک وبانت منک امرأتک لم تتق الله فیجعل لک مخرجا. (السنن الکبریٰ للبیهقی ۷: ۳۳۱) مخطوطات مبارکه۱۷۴۔

(فتاویٰ شیخ الاسلام ۹۶، ۹۷ ایک مجلس میں تین طلاقیں)

الجواب: بشرط صدق وثبوت نه دافتوی صحیح ده(۱) اونه مغلظات بغیر دباقاعده حلالې جائزکیدلې شی اونه دافیس دده دپاره حلال دې(۲) وحکم هذا الخطیب انه فاسق ان لم یکن مستحلا وکافران کان مستحلا(۳) وانه تقبل توبته وهذاکله علی تقدیرثبوت ماحرره المستفتی.وهوالموفق

په یو وخت د دریو طلاقو وقوع او د حدیث مسلم نه جواب

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه ایایوځل دریو طلاقو ورکولوسره دریوواړه طلاقه واقع کیږی؟ مثلاً چااووئیل یودوه دریځل طلاق او دحدیث مسلم نه به څه جواب وی چه په هغې کښې راغلی دی چه مختلف مقاماتو کښې وئیلوسره دریځله یوځل شمارکیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالجلیل ایم اې ارباب کالونې پشاور

﴿۱﴾ قال العلامة النووی: ویحرم التساهل فی الفتویٰ...... ومن التساهل ان تحمله الاغراض الفاسدة علی تتبع الحیل المحرمة او المکروهة و التمسک بالشبه طلبا للترخیص لمن یروم نفعه او التغلیظ علی من یرید ضره.

(شرح المهذب للنووی الملحقه بشرح عقود رسم المفتی ۹ فصل فی احکام المفتین)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: و اما اذا اخذ المفتی الهدیة لیرخص فی الفتویٰ فان کان بوجه باطل فهو رجل فاجر یبدل احکام الله تعالیٰ ویشتری بها ثمنا قلیلا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴: ۳۴۶ مطلب فی حکم الهدیة للمفتی)

﴿۳﴾ قال الملا علی قاری: ان استحلال المعصیة صغیرة کانت او کبیرة کفر اذا ثبت کونها معصیة بدلالة قطعیة و کذا الاستهانة بها کفر بان یعدها هینة سهلة الخ.

(شرح فقه الاکبر للقاری ۱۵۲ وبحث استحلال المعصیة)

....

جواب: دقرآن اوحدیث اودآئمه اربعه په رنړا سره دادریواړه طلاقه واقع شوی دی﴿۱﴾ واما حدیث مسلم فمحمله اذا کرر الفاظ الطلاق ویرید التاکید دون

﴿۱﴾ وفی المنهاج: اعلم ان الائمة الاربعة اتفقوا علی وقوع الثلاث جملة سواء کان بلفظ واحد مثل انت طالق ثلاثا او کان بثلاث الفاظ مثل انت طالق انت طالق انت طالق فاذا کان بلفظ واحد فلا فرق فیه بین المدخول بها وغیر المدخول بها، واذا کان بثلاث الفاظ فهو مختص بالمدخول بها، الا اذا کرر الالفاظ واراد التاکید دون الاستیناف اولم ینو شیئا من الاستیناف او التاکید فتقع واحدة، وما نسب الی مالک انه قال بوقوع الواحدة بقوله انت طالق ثلاثا فی روایة، فیرده ما ذکره عبد الرحمن بن القاسم فی المدونة الکبریٰ، ومذهب الجمهور هو المروی عن عمر وعثمان وعلی وابن عباس وابن عمر وابن مسعود وعبد الله بن عمرو بن العاص وابی هریرة ومغیرة بن شعبة وعمران بن حصین رضی الله تعالیٰ عنهم کما فی مصنف عبد الرزاق وزاد المعاد وغیره، واذا لوحظت الروایات والآثار فیعلم منها ان ابن عباس ایضا وافق جمهور الصحابة، وذهب الی ان البکر یعنی غیر المدخول بها اذا طلقت بثلاث الفاظ تجعل واحدة، واما ما رواه ابوداؤد عن ابن عباس انه قال: اذا قال انت طالق ثلاثا بفم واحد فهی واحدة، فاشار ابوداؤد الی ضعفه بوجهین، الاول: ان عکرمة خالف الاکثر، لان الاکثرین رووا عنه انه اجاز الثلث وقال بانت منک، والثانی: انه خالفه ابن علیة، فقال عن ایوب عن عکرمة جعله قول عکرمة ولم یذکر ابن عباس، ولو سلم صحة هذه الروایة فنقول ثلاثا قید لقال، لا لقوله طالق، فمعناها قال انت طالق ثلاث مرات بالاتصال لئلا یخالف الشاذ المحفوظ، وما ل ابن القیم ومتبعوه الی ان الثلاث تجعل واحدة مطلقا سواء کانت بلفظ واحد او بثلاث الفاظ وسواء کانت الزوجة مدخولا بها او غیر المدخول بها وخالف السلف والائمة الاربعة، واستدل بما رواه ابوداؤد وغیره ان ابا الصهباء قال لابن عباس: اتعلم انما کانت الثلاث تجعل واحدة علی عهد النبی ﷺ وابی بکر رضی الله عنه وثلاثا من امارة عمر رضی الله عنه، قال نعم، وفی روایة لابی داؤد زیادة، کان اذا طلق امرأته ثلاثا قبل ان یدخل بها...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

التاسیس کماهو مبسوط فی محله﴿۱﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) وللجمهور حجج منها: قوله تعالیٰ: الطلاق مرتان فامساک بمعروف او تسریح باحسان، الی ان قال فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره، لانه یصدق علی من طلق المدخول بها مرتین فی مجلس واحد ثم طلقها مرة ثالثة فی ذلک المجلس، ومنها: حدیث عبادة بن الصامت انه طلق امرء ته الفا فجعلها النبی ﷺ ثلاثا لا واحدا، ومنها: ما رواه البخاری ان عویمر العجلانی بعد اللعان طلق امرأته ثلاثا ولم یقل له انه واحد رجعی لا یحصل به البینونة، ومنها الآثار اللتی ذکرنا من الخلفاء الراشدین وغیرهم رضی الله تعالیٰ عنهم.

والجواب عن حدیث ابن عباس: انهم تعارفوا التاکید اذا طلقوها بثلاث الفاظ فی عهد النبی ﷺ وعهد ابی بکر واول عهد عمر رضی الله عنهما، فتحصل البینونة بعد مدة مدیدة ثم تفرقوا، بعضهم یقصدون التاکید والبعض الاخرون یقصدون الاستیناف ویستعجلون البینونة فی آخر عهده فحکم بوقوع الثلاث، وقال اجیزوهن علیهم واشیر الی هذا فی حدیث مسلم ان الناس قد استعجلوا فی امر کانت لهم فیه هنات، ولیس هذا نسخا، لان النسخ لا یکون الا بالوحی ولیس هذا معارضة للحدیث بل هو تعین وبیان لمحل الحدیث لا یظن بعمر ولا باحمد ترک الحدیث الصریح، نعم نشاهد ان ابن القیم قد یذکر الاحادیث الصریحة ثم یترکها کما لا یخفیٰ علی من راجع الی هذا لمبحث فی زاد المعاد، او نقول انهم کانوا یطلقون غیر المدخولة بها بثلاث الفاظ فترد الی واحدة فی اول الامر فلما تتابع الناس فیه اجازهن سیاسة ای منعوهم عن نکاحها حتی تنکح زوجا غیره، واشار الیه النسائی فی ما ترجم به لهذا الحدیث حیث قال: باب طلاق الثلاث المتفرقة قبل الدخول بالزوجة. (فائدة) اعلم ان للطلاق درجات فی الشرع بخلاف الشهادة والیمین، فاتضح الفرق بین اطلق ثلاثا وبین اقسم ثلاثا واشهد ثلاثا، فالاول طلقات ثلاث والثانی شهادة واحدة ویمین واحدة.

(منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۳۰۲ باب ماجاء فی الرجل طلق امرأته البتة)

﴿۱﴾ قال العلامة النووی: واما حدیث ابن عباس فاختلف العلماء فی جوابه وتاویله فالاصح ان معناه انه کان فی اول الامر اذا قال لها انت طالق...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په یومجلس کښې درې طلاقه په اجماع دصحابه هم درې دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه یوحنفی العقیده سړی خپې ښځې ته درې طلاقه ورکړه. مطلقې سامان جهیزوغیره دځان سره واخستل دمورپلارکورته لاړه څه وخت پس دې سړی خپل مطلقه دوباره آباد کولو دپاره دخپل مسلک دمفتی نه فتوی واخستله هغه دګواهانونه شهادت ساعت کولوسره ددرېو طلاقو کیدلو فتوی صادره کړه دې نه پس دې سړی یو غیرمقلد(اهل حدیث)عالم نه فتوی طلب کړه چه په مجلس واحده کښې یوځل دیو کی درېو طلاقو ورکولوسره یوطلاق واقع کیږی چه هغه قابل رجوع دې پس دې سړی خپله ښځه ددې فتوی په رڼاسره دوباره خپل کورته راوسته اوآباده ئې کړه ددې سړی ددې کار(بغیردحلالې) څه حکم دې؟ اوپه مونږمسلمانانوباندې ددې سړی سره کومه رویه ساتل پکاردی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمدحبیب اندرون حرم ګیټ ملتان شهریکم ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: داسړې دائمه اربعه دمذهب نه منحرف شوې دې ده دقرآن اوحدیث او آثارصحابه نه روګردانی کړې ده ځکه چه دادرې واړه طلاقه په اجماع دصحابه واقع شوی دی﴿۱﴾ کما فی الشامیة:

(بقیه حاشیه) **انت طالق ولم ینو تاکیدا ولااستینافا یحکم بوقوع طلقة لقلة ارادتهم الاستیناف بذلک فحمل علی الغالب الذی هو ارادة التاکید فلما کان فی زمن عمر رضی الله عنه وکثر استعمال الناس بهذه الصیغة وغلب منهم ارادة الاستیناف بها حملت عند الاطلاق علی الثلاث عملا بالغالب السابق الی الفهم منها وفی ذلک العصر الخ.**

(نووی علی مسلم ۱: ۴۷۸ باب طلاق الثلاث)

﴿۱﴾ قال الشیخ محمد ادریس الکاندهلوی: ابن تیمیه. حنبلی رحمة الله علیه او ددوی شاګرد ابن قیم حنبلی رحمة الله علیه دخپل امام احمدبن حنبل رحمة الله علیه په خلاف اود ټولو صحابو او تابعینو داجماع په خلاف اود ائمه مجتهدین په خلاف اود ټولو اهل سنت والجماعت په خلاف په شذوذ او تفرد کښې مبتلا شو. (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

وقد ثبت النقل عن اکثرهم صریحا بایقاع الثلاث ولم یظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال وعن هذا قلنا لوحکم حاکم بانها واحدة لم ینفذ حکمه﴿۱﴾

داسړې دتعزیرلائق دې تمام اهل اسلام باندې دده نه بائیکاټ کول ضروری دی. وهوالموفق

په یووخت درې طلاقه په یوجلسه کښې واقع کیدل دآئمه اربعه مذهب دې

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه (۱) په یووخت په یو جلسه کښې درې یاڅلوروطلاقوسره ښځه حرامه کیدلې شی. بعض خلق په دې کښې اختلاف کوی؟ (۲) زمونږ په علاقه کښې دحلالې ویستلوداطریقه رائج ده چه طلاق ورکولووالاسړې دیورشته دارسره دښځې نکاح تړلې شی ټوله شپه هغه ښځه نوی خاوند سره تیروی سحرهغه سړې دې ښځې ته طلاق ورکوی ایاتحلیل دپاره داطریقه صحیح ده. جواب دقرآن اوحدیث اودکتب فقهې معتبرې نه راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالجبار ربوه ضلع جهنګ...... ۱۹۷۹ء ۲۵/۷/۱

[بقیه حاشیه] اود شیعه ګانو په شان دریو طلاقو لره دیوطلاق کیدو قائل شو. داهل سنت والجماعت اجماعی مسلک دادې چه په دریو طلاقو ورکولوسره درې طلاقه واقع کیږی او دریو طلاقوسره ښځه مغلظه بائنه کیږی. دټولونه اول شیخ تقی الدین سبکی رحمة الله علیه او عزبن جماعه رحمهم الله وغیرهما دابن تیمیه رحمة الله علیه رد اوکړو دوی د ابن تیمیه رحمة الله علیه هم عصر اود یوښار وو. اودا ئې واضحه کړله چه د ابن تیمیه رحمة الله علیه مسئله په طلاق کښې تفرد او شذوذ د ابن تیمیه رحمة الله علیه دهغه مسائلو څنې ده په کومو کښې چه ابن تیمیه رحمة الله علیه دصحابو داجماع اود ائمه اربعه د اجماع نه خلاف کړې دې اوپه مذاهب اربعاؤ کښې څوك هم ددې قائل نه دی اوپه هره زمانه کښې علماؤ ددې مسلك په تردید کښې کتابونه او رسالې لیکلی دی اود بخاری اومسلم شارحینو خاص طورباندې دحدیث په شرح کښې ددې مسلك بطلان اود ابن تیمیه رحمة الله علیه تردید کړې دې.

(معارف القرآن ۱: ۴۳۶ سورة البقرة آیت: ۲۳۰)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۵ کتاب الطلاق)

الجواب: احادیث مرفوعه (رواه البخاری﴿۱﴾ او عبدالرزاق﴿۲﴾ او ابوداؤد﴿۳﴾ او د آثار خلفاء راشدین او د اکابر صحابه (د روایاتو دعبدالرزاق) نه دا معلومه ده چه درې طلاقه په یو وخت واقع کېږی﴿٤﴾ او هم دا

﴿۱﴾ وفی البخاری: فتلاعنا وانا مع الناس عند رسول الله ﷺ فلما فرغا من تلاعنهما قال عویمر کذبت علیها یا رسول الله ان امسکتها فطلقها ثلاثا قبل ان یامره رسول الله ﷺ، الحدیث. (صحیح البخاری ۲: ۷۹۱ باب من اجاز طلاق الثلاث)

﴿۲﴾ عن عبادة بن الصامت قال طلق جدی امرأته الف تطلیقة فانطلق ابی الی رسول الله ﷺ فذکر ذلک له فقال النبی ﷺ اما اتقی الله جدک، اما ثلاث فله واما تسع مأة وسبعة وتسعون فعدوان وظلم ان شاء الله تعالیٰ عذبه وان شاء غفرله.

(مصنف عبد الرزاق ۶: ۳۹۳ رقم حدیث: ۱۱۳۳۹)

﴿۳﴾ وفی ابی داؤد: قال فطلقها ثلاث تطلیقات عند رسول الله ﷺ فانفذه رسول الله ﷺ وکان ما صنع عند النبی ﷺ سنة. (سنن ابی داؤد ۱: ۳۰۶ باب فی اللعان)

﴿٤﴾ عن زید بن وهب ان بطالا کان بالمدینة فطلق امرأته الفا فرفع ذلک الی عمر بن الخطاب رضی الله عنه فقال انما کنت العب فعلاه عمر رضی الله عنه بالدرة وقال انه کان یکفیک ثلاث. (سنن الکبریٰ ۷: ۳۳٤ ومصنف ابن ابی شیبة ۵: ۱۱)

☆ عن معاویة بن ابی یحی قال جاء رجل الی عثمان بن عفان فقال امرأتی (طلقت) الفا فقال بانت منک بثلاث. (فتح القدیر ۳: ۳۳۰ وزاد المعاد ۲: ۲۵۹)

☆ عن عبد الرحمن بن ابی لیلیٰ عن علی رضی الله عنه فی من طلق امرأته ثلاثا قبل ان یدخل بها قال لا تحل له حتی تنکح زوجا غیره. (سنن الکبریٰ ۷: ۳۳٤)

☆ عن علقمة قال جاء ابن مسعود رجل فقال انی طلقت امرأتی تسعا وتسعین وانی سألت فقیل قد بانت منی فقال ابن مسعود قد احبوا ان یفرقوا بینک وبینها قال فما تقول رحمک الله فظن انه سیرخص له فقال ثلاث تبینها منک وسائرهن عدوان رواه الطبرانی ورجاله رجال الصحیح. (مجمع الزوائد ٤: ۳۳۸)..........(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دائمه اربعه مذهب دې﴿۱﴾ البته دابن تیمیه وغیره دا مذهب دې چه درې طلاقه په یو وخت نه واقع کیږی لحدیث مسلم او ابی داؤد وغیره﴿۲﴾ لیکن دا یو محتمل حدیث دې دې سره تمسک صحیح نه دې ددې محمل دادی انت

(بقیه حاشیه) ☆ عن هارون بن عنزة عن ابیه قال کنت جالسا عند ابن عباس فاتاه رجل فقال یا ابن عباس انه طلق امرأته مأة مرة وانما قلتها مرة واحدة فتبین منی بثلاث ام هی واحدة فقال بانت بثلاث وعلیک وزر سبعة وتسعین. (مصنف ابن ابی شیبة ۵: ۱۳)

☆ عن نافع کان ابن عمر اذا سئل عمن طلق ثلاثا قال لو طلقت مرة او مرتین فان النبی ﷺ امرنی بهذا فان طلقتها ثلاثا حرمت علیک حتی تنکح زوجا غیره.

(رواه البخاری تعلیقا عن اللیث بن سعد ۲: ۷۹۲ ومسلم شریف ۱: ٤۷٦)

﴿۱﴾ وقال البدر العینی: ومذهب جماهیر العلماء من التابعین ومن بعد منهم الاوزاعی والنخعی والثوری وابو حنیفة واصحابه ومالک واصحابه والشافعی واصحابه واحمد واصحابه واسحاق وابو ثور وابوعبید وآخرون کثیرون علی من طلق امرأته ثلاثا وقعن ولکنه یاثم وقالوا من خالف فیه فهو شاذ مخالف لاهل السنة وانما تعلق به اهل البدع ومن لا یلتفت الیه لشذوذه من الجماعة له. (عمدة القاری ۲۰: ۲۳۳ باب من اجاز طلاق الثلاث)

﴿۲﴾ دمشهور غیرمقلد عالم مولانا ابوسعید شرف الدین دهلوی منصفانه رائې: دا (درې طلاقو لره د یو منلو) مسلك د صحابه، تابعینو او تبع تابعینو وغیره ائمه محدثینو او متقدمینو نه دې. دا مسلك اوؤه کاله پس د محدثینو دې. چه د شیخ الاسلام ابن تیمیه د فتاوو پابند او د دوی معتقد دی، دا فتوٰی شیخ الاسلام د اوومې صدۍ په آخر کښې یا د اتمې صدۍ په اول کښې ورکړې وه نو دغه وخت علماؤ د دوی سخت مخالفت کړې وو. نواب صدیق حسن خان په "اتحاف النبلاء" کښې چرته چه ئې د شیخ الاسلام ابن تیمیه تفردات لیکلی دی په دغه فهرست کښې ئې د طلاق ثلاثه مسئله هم لیکلې ده چه کله شیخ الاسلام ابن تیمیه درېو طلاقو لره په یو مجلس کښې دیو طلاق کیدو فتوٰی ورکړه نو ډېر شورشو. په شیخ الاسلام او دده په شاګرد ابن قیم باندې مصیبتونه شروع شو، دوی ئې په اوښ باندې سوارۀ کړل او په درو وهلو وهلو سره ئې په ښار کښې ګرځول او توهین ئې اوکړې شو قید کړې شو ځکه چه دغه وخت دا مسئله د روافضو نخښه وه.

(اتحاف ۳۱۸ بحواله عمدة الاثاث ۱۰۳)

وقال الشیخ حبیب الرحمن الاعظمی الدیوبندی: ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

طالق درې ځله مکرر کړي او د تاکید نیت او کړي داسې لکه څنګه چه د انیت د خلیفه اول او خلیفه ثاني او د حضور ﷺ په ابتدائی دور کښې رائج وو ﴿۱﴾ (۲)، د حلالې دا طریقه صحیح ده په دې کښې څه اشکال نشته. وهو الموفق

[بقیه حاشیه] د علامه ابن تیمیه جد امجد ابو البرکات مجد الدین عبد السلام الملقب بابن تیمیه الحنبلی په خپل مشهور کتاب ""منتقی الاخبار"" کښې ""باب ماجاء فی طلاق البتة وجمع الثلاث وتفریقها"" کښې د احادیثو او آثارو نقل کولو نه پس لیکی: وهذا کله یدل علی اجماعهم علی صحة وقوع الثلاث بالکلمة الواحدة. (منتقی الاخبار ۲۳۷) یعنی دا احادیث او آثار دلالت کوی چه یوې کلمې سره د درېو طلاقو واقع کېدو باندې د صحابه کرامو اجماع شوې ده د حافظ ابو البرکات حنبلی رحمة الله علیه د دې واضح صراحت په مقابله کښې حافظ ابن القیم لیکی: ان شیخنا حکی عن جده ابی البرکات انه یفتی بذلک احیانا سرا، یعنی زمونږ شیخ امام ابن تیمیه د خپل نیکه حافظ ابو البرکات باره کښې دا اووئیل چه هغه به په خپل کتاب کښې د لیکلی شوی مسلك په خلاف کله کله په پټه د یو مجلس د درېو طلاقو باره کښې د یو کېدلو فتویٰ ورکوله. د حافظ ابن القیم او د دهٔ د شیخ حافظ ابن تیمیه د علمی جلالت شان اعتراف او د دویٰ په نقل باندې د اعتماد باوجود زمونږ د دې خبرې منلو د پاره قطعی طور باندې تیار نه یو. ځکه چه ابن تیمیه د خپل نیکه د کومې رویې اطلاع ورکوی دا یو ربښتونی پوخ مؤمن نه شی کېدې بلکه د غسې خو بزدل خلق کوی چه د دې په قرآن او حدیث کښې ډېر زیات مذمت راغلې دی. (مقاله طلاق ثلاثه للاعظمی ۴۹۶ مجموعه مقالات)

﴿۱﴾ قال العلامة النووی: واما الروایة التی رواها المخالفون ان رکانة طلق ثلثا فجعلها واحدة فروایة ضعیفة عن قوم مجهولین، وانما الصحیح منها ما قدمناه انه طلقها البتة ولفظ البتة محتمل للواحدة وللثلاث ولعل صاحب هذه الروایة الضعیفة اعتقدان لفظ البتة یقتضی الثلاث فرواه بالمعنی الذی فهمه وغلط فی ذلک واما حدیث ابن عمر فالروایات الصحیحة التی ذکرها مسلم وغیره انه طلقها واحدة، واما حدیث ابن عباس فاختلف العلماء فی جوابه وتاویله فالاصح انه معناه انه کان فی اول الامر اذا قال لها انت طالق انت طالق ولم ینو تاکیدا ولا استینافا یحکم بوقوع طلقة لقلة ارادتهم الاستیناف بذلک فحمل علی الغالب الذی هو ارادة التاکید فلما ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د ""انت طالق ثلاثاً"" او د عبدالله بن عباس رضی الله عنه د روایت تحقیق

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړي خپلې منکوحې ته اوائی، ""انت طالق ثلاثا""، کوم طلاق به واقع وی؟ او د عبدالله بن عباس رضی الله عنه د روایت چه د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې به درې طلاقه یو طلاقې رجعی وو د دې څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولانا سعد الدین مردان...... ۲۰/ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

جواب: په صورت مسئوله کښې دا ښځه مطلقه مغلظه شوې ده، دا د ائمه اربعه مذهب دې ﴿۱﴾ او د قرآن او حدیث او آثار نه هم دا ثابت ده.

قال الله تعالیٰ: فلا تحل له من بعد، ولم یفرق بین ما اذا طلقها ثالثا فی ذلک المجلس او غیره ﴿۲﴾ وروی عبد الرزاق عن عبادة

(بقیه حاشیه) کان فی زمن عمر رضی الله عنه وکثر استعمال الناس بهذه الصیغة وغلب منهم ارادة الاستیناف بها حملت عند الاطلاق علی الثلاث عملا بالغالب السابق الی الفهم منها وفی ذلک العصر، وقیل المراد ان المعتاد فی الزمن الاول کان طلقة واحدة وصار الناس فی زمن عمر یوقعون الثلاث دفعة فنفذه عمر فعلی هذا یکون اخبارا عن اختلاف عادة الناس لا عن تغیر حکم فی مسئلة واحدة. (شرح النووی علی مسلم ۱: ۴۷۸ باب طلاق الثلاث)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن الهمام: وذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من ائمة المسلمین الی انه یقع ثلاث...... وایضا قال: وقد اثبتنا النقل عن اکثرهم صریحا بایقاع الثلاث ولم یظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال وعن هذا قلنا لو حکم حاکم بان الثلاث بفم واحد واحدة لم ینفذ حکمه لانه لا یسوغ الاجتهاد فیه فهو خلاف لا اختلاف.
(فتح القدیر فی شرح الهدایة ۳: ۳۳۰ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة النسفی: قوله تعالیٰ (فان طلقها) مرة ثالثة بعد المرتین، فان قلت الخلع طلاق عندنا وکذا عند الشافعی رحمه الله فی قول، فکان هذه تطلیقة رابعة، قلت: الخلع طلاق ببدل فیکون طلقة ثالثة وهذه بیان لتلک ای فان ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

انه طلق امرأته الفا فاجاز النبی ﷺ ثلاثا﴿۱﴾ وروی عن عمر وعثمان وابن عباس وابن مسعود وابی هریرة وعبد الله بن عمرو ابن العاص بانهم قضوا وافتوا بالثلاث﴿۲﴾ واما حدیث جعل الثلاث واحدة فقیل منسوخ وقیل بحمله اذا طلق بالفاظ ثلاثة واراد التاکید دون التاسیس وکان المعروف فی عهد النبی ﷺ وعهد الصدیق واول خلافة عمر التاکید بخلاف العهد الآخر﴿۳﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) طلقها الثالثة ببدل فحکم التحلیل کذا (فلا تحل له من بعد) من بعد التطلیقة الثالثة (حتی تنکح زوجا غیره) حتی تتزوج غیره...... وفیه دلیل علی ان النکاح ینعقد بعبارتها، والاصارة شرطت بحدیث العسیلة کما عرف فی اصول الفقه، والفقه فیه انه لما اقدم علی فراق لم یبق للندم مخلصا لم تحل له الا بدخول فحل علیها لیمتنع عن ارتکابه.

(تفسیر مدارک ۱:۱۲۸ سورة البقرة آیت: ۲۲۹)

﴿۱﴾ عن عبادة بن الصامت قال طلق جدی امرأته الف تطلیقة فانطلق ابی الی رسول الله ﷺ فذکر ذلک له فقال النبی ﷺ اما اتقی الله جدک، اما ثلاث فله واما تسع مأة وسبعة وتسعون فعدوان وظلم، ان شاء الله تعالیٰ عذبه وان شاء غفر له.

(مصنف عبد الرزاق ۶:۳۹۳ رقم حدیث: ۱۱۳۳۹)

﴿۲﴾ قال الامیر الیمانی: والیه ذهب عمر وابن عباس وعائشة ورواية عن علی والفقهاء الاربعة وجمهور السلف والخلف...... وقد اطبق اهل مذاهب الاربعة علی وقوع الثلاث المتابعات. (سبل السلام شرح بلوغ المرام ۳:۲۱۴)

عن محمد بن ایاس بن البکیر عن ابی هریرة وابن عباس وعائشة وعبد الله ابن عمرو بن العاص سئلوا عن البکر یطلقها زوجها ثلاثا فکلهم قالوا لا تحل له حتی تنکح زوجا غیره. (مصنف ابن ابی شیبة ۵:۲۳)

﴿۳﴾ قال العلامة النووی: واما حدیث ابن عباس فاختلف العلماء فی جوابه وتأویله فالاصح ان معناه انه کان فی اول الامر اذا قال لها انت طالق انت...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په جلسه واحده کښې درې طلاقه یو طلاق حسابول مخالفت د احادیثو اود آثار صحابه دی

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه طلاقې ثلاثه جلسه واحده کښې دفعة واحدة ملت بیضاء کښې حرام اوممنوع اوبدعت دې اوس که څوک یو سړې ورکړی نوایادده رجعت صحیح کیدلې شی یانه؟په قاعده دفقهاءکرام آئمه احناف عندالضرورت حسب مذاهب رجوع کړې شی. چنانچه په مواقع کثیره کښې داامرثابت اوجاری دې خاص کړدې مسئله کښې کذافی فتویٰ عبدالحئی اللکهنوی فی مجموعة الفتاوی، کذافی المسک الختام فی شرح بلوغ المرام نقله عن الائمة الحنفیة..مگربعض محققین چه په هغې کښې بعض صحابه اوتابعین هم شامل دی فرمائی چه درې نه بلکه یوطلاق به وی دهغوئ دلیل هم قوی دې. ستاسورائی دپه مسئله باره کښې څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی غلام رسول خطیب چکیان مانسهره یکم اکتوبر۱۹۷۵ء

جواب: دابن تیمیه اودابن القیم په قول باندې څه رنګه فتوی ورکولې شی حالانکه هغوی دابوداؤد حدیث مخالفت کړې دې

وفی ابوداؤد: والله ما اردت الا واحدة﴿۱﴾ وکذاخالفوا

(بقیه حاشیه) طالق انت طالق ولم ینو تاکیدا ولا استینافا یحکم بوقوع طلقة لقلة ارادتهم الاستیناف بذلک فحمل علی الغالب الذی هو ارادة التاکید فلما کان فی زمن عمر رضی الله عنه وکثر استعمال الناس بهذه الصیغة وغلب منهم ارادة الاستیناف بها حملت عند الاطلاق علی الثلاث عملا بالغالب السابق الی الفهم منها وفی ذلک العصر الخ.

(شرح النووی علی مسلم ۱:۴۷۸ باب طلاق الثلاث)

﴿۱﴾ عن نافع بن عجیر بن عبد یزید بن رکانة ان رکانة بن عبد یزید طلق امرأته سهمة البتة فاخبر النبی ﷺ بذلک وقال والله ما اردت الا واحدة فقال رسول الله ﷺ والله ما اردت الا واحدة فقال رکانة والله ما اردت الا واحدة فردها الیه رسول الله ﷺ فطلقها الثانیة فی زمان عمر والثالثة فی زمان عثمان. (سنن ابی داؤد ۱:۳۰۰ باب فی البتة)

حدیث البخاری فی اللعان ان اللاعن طلقها ثلثا عند النبی ﷺ ولم ینکر علیه﴿۱﴾ وکذا حدیث جعل الالف ثلثا، رواه عبد الرزاق مرفوعا﴿۲﴾ وکذا خالفوا قضایا الخلفاء الراشدین وابن مسعود وابی هریرة وسائر اکابر الصحابة کما فی مصنف عبد الرزاق وابی داؤد وکذا خالفوا الائمة الاربعة﴿۳﴾ واما حدیث جعل الثلث واحدة

﴿۱﴾ وفی البخاری:...... قال سهل فتلاعنا وانا مع الناس عند رسول الله ﷺ فلما فرغا قال عویمر کذبت علیها یا رسول الله ان امسکتها فطلقها ثلاثا قبل ان یأمره رسول الله ﷺ.

(صحیح البخاری ۲: ۷۹۱ باب من اجاز طلاق الثلاث)

﴿۲﴾ عن عبادة بن الصامت قال طلق جدی امرأته الف تطلیقة فانطلق ابی الی رسول الله ﷺ فذکر ذلک له فقال النبی ﷺ اما اتقی الله جدک، اما ثلاث فله واما تسع مأة وسبعة وتسعون فعدوان وظلم ان شاء الله تعالیٰ عذبه وان شاء غفرله.

(مصنف عبد الرزاق ۶: ۳۹۳ رقم حدیث: ۱۱۳۳۹)

﴿۳﴾ قال ابن رجب الحنبلی: اعلم انه لم یثبت عن احد من الصحابة ولا من التابعین ولا من ائمة السلف المعتد بقولهم فی الفتاویٰ فی الحلال والحرام شیئ صریح فی ان الطلاق الثلاث بعد الدخول یحسب واحدة اذا سبق بلفظ واحد، وقال: لا نعلم من الامة احدا خالف فی هذه المسألة مخالفة ظاهرة ولا حکما ولا قضاء ولا علما ولا افتاء ولم یقع ذلک الا من نفر یسیر جدا وقد انکره علیهم من عاصرهم غایة الانکار وکان اکثرهم یستخفی بذلک ولا یظهر فکیف یکون اجماع الامة علی اخفاء دین الله الذی شرعه علی لسان رسوله واتباع اجتهاد من خالفه برأیه فی ذلک هذا لا یحل اعتقاده البتة، ولعله ظهر بهذا البیان ان امضاء عمر للثلاث حکم شرعی مستمد من الکتاب والسنة مقارنا لاجماع فقهاء الصحابة فضلا عن التابعین ومن بعدهم ولیس بعقوبة سیاسیة ضد حکم شرعی فالخارج علی امضاء عمر خارج علی ذلک کله.

(بیان مشکل الاحادیث الواردة، بحوالهٔ الاشفاق علی احکام الطلاق للعلامة الکوثری ۳۵، ۵۳)

فحدیث محتمل ونحن نقول محمل الحدیث انهم کانوا اذا قالوا انت طالق انت طالق انت طالق یریدون التاکید فی زمن النبی ﷺ والصدیق الاکبر ثم ارادوا التاسیس فی زمن الفاروق الاعظم فکان یقضی علی الثلاث وان کانت نیة التاکید معتبرة دیانة، والتعجب من عقل من یحسن الظن علی نفسه ولا یحسن الظن علی الخلیفة الثانی انه ترک الحدیث بالرائ فافهم﴿۱﴾. وهو الموفق

د طلاق ثلاثه نه پس د نوي نکاح د پاره د ارشادالطالبین حیله غلطه ده

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې که څرته یو سړې خپلې ښځې ته طلاق ثلاثه ورکړی بیا دښځې نه داحکام اوارکان اسلام پوښتنه اوکړی اوجواب نه ورکولوسره په دې باندې دمرتدکیدلوحکم لګولوسره (په وخت دطلاق) عدم وقوع طلاق ګڼرلوسره بغیرد تحلیل نه دنوي نکاح کولو حیله څه رنګه ده. ځکه چه په ارشاد الطالبین کښې دی چه دامام احمد رحمه الله په مذهب کښې دټولو احکامو اوارکانو پیژندل فرض دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد شریف صاحب بیسک ټوپی

الجواب: واضحه دې وی چه کومه حیله دتحلیل حرام دپاره نه وی نوهغه جائزده﴿۲﴾ البته دصورت مسئوله تعلق دباب الحیل سره نه دې ددې تعلق د

﴿۱﴾ قال الحافظ العسقلانی: فالراجح فی الموضعین تحریم المتعة وایقاع الثلاث للاجماع الذی انعقد فی عهد عمر علی ذلک ولا یحفظ ان احدا فی عهد عمر خالفه فی واحدة منهما وقد دل اجماعهم علی وجود ناسخ وان کان خفی علی بعضهم قبل ذلک حتی ظهر بجمیعهم فی عهد عمر فالمخالف بعد هذا الاجماع منا بذله والجمهور علی عدم اعتبار من احدث الاختلاف بعد الاتفاق. (فتح الباری ۹: ۳۱۹)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: الحیل جمع حیلة وهی الحذق فی تدبیر الامور وهی تقلیب الفکر حتی یهتدی الی المقصود...... واختلف مشائخنا فی التعبیر عن ذلک فاختار کثیر التعبیر بکتاب الحیل واختار کثیر کتاب المخارج واختاره فی الملتقط وقال ابو سلیمان: کذبوا علی محمد لیس له کتاب الحیل وانما هو الهرب......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

افتاء علی مذهب الغیرسره دي چه په وخت دضرورت جائزده پس په داسي مقاماتو کښې دوه امره دتحقیق طلب دی اول تحقق ضرورت، دویم داچه واقعی طورسره داحکم په دې مذهب کښې مروی هم دی یانه، ددې نه علاوه ددې حکم مذکورمذهب حنبلی کیدل دارشادالطالبین نه نشی ثابت کیدي وهوالموفق

الجواب الثانی: بغیرد تحلیل نه څه لاره نشته دې ارشادالطالبین معتبرکتاب نه دې ددې ډیرمسائل وغیره غلط دی دې وجه نه ددې حیله کومه چه تاسو لیکلې ده صحیح نه ده. وهوالموفق

(بقیه حاشیه) **من الحرام والتخلص منه حسن قال الله تعالیٰ: وخذ بیدک ضغثا فاضرب به ولا تحنث وذکر فی الخبر ان رجلا اشتری صاعا من تمر بصاعین فقال علیه السلام اربیت هلا بعت تمرک بالسلعة ثم ابتعت بسلعتک تمرا وهذا کله اذا لم یؤد الی الضرر باحد.**

(الاشباه والنظائر ۳۹۷ الفن الخامس)

....

باب کنایات الطلاق

د کنایات مختلف الفاظ

سوال: څه فرمائی علماءدین دې مسئلې باره کښې چه مثلازیداوزینب پخپلو کښې ښځه خاونددی ددواړوجهګړه اوشوه نوزیدزینب ته اووئیل چه دمور پلارکورته لاړه شه، څماد کورنه څه. خپل سامان هم دځان سره یوسه. زینب اووئیل چه زه دمورپلارکورته نه ځم ترڅه پورې چه تاځمافیصله نه وی کړې نو زیدورته اووئیل چه څه ماستافیصله کړې ده اودا الفاظ ئې پینځه شپږځل اووئیل چه څه مااوس ستافیصله کړې ده زینب دجهیزسامان اخستلوسره لاړه بلکه ویستلې شوه اوس زیدچه کوم الفاظ وئیلی دی په هغې سره کوم طلاق شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاضی عبدالشکورنائب مفتی جمیعة العلماء کیملپوراټک

الجواب: چونکه داتمام الفاظ کنایات طلاق دی اوپه حالت غضب کښې دا الفاظ وئیلې شوی دی لهذادقاضی په نزددابښځه به مطلقه مبانه وی لیکن دمفتی په نزدبغیردنیت دطلاق حکم ورکول صحیح نه دی بیشکه کله چه خاوند اقراراوکړی چه مادطلاق په اراده سره داالفاظ وئیلی دی نودابښځه به مبانه وی.

فی الدرالمختار: فالکنایات لا تطلق بها قضاء الا بنیة او دلالة الحال وهی حالة مذاکرة الطلاق او الغضب ،وقوله قضاء قید به لانه لا یقع دیانة بدون النیة ولو وجدت دلالة الحال فوقوعه بواحد من النیة او دلالة الحال انما هو فی القضاء فقط﴿۱﴾

﴿۱﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۰۱،۵۰۲ باب الکنایات)

اوصاحب بحرپه دې صفحه کښې صدرالقضاء نه روايت کړی دی چه خاوند ته به قسم ورکړې شي که چرته قسم ئې اوکړو نوفبهاګني قاضی ته به مرافعه کولې شي﴿۱﴾، وهو الموفق

لفظ حرام د کناياتو نه دې

سوال: څه فرمائي علماءدين دې مسئلې باره کښې چه لفظ ،،حرام،، په کوم طلاق کښې مستعمل دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام سرور وزارت تجارت اسلام آباد

الجواب: لفظ حرام دکناياتونه دې بغيرد نيت نه دې سره طلاق نه کيږي﴿۲﴾.
وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم: وفى المجتبىٰ عن صدر القضاة فى شرح الجامع الصغير اذا قال لم انو الطلاق فعليه اليمين ان ادعت الطلاق وان لم تدع يحلف ايضا حقا لله تعالىٰ، قال ابونصر قلت لمحمد بن سلمة يحلفه الحاكم ام هى تحلفه قال يكتفى بتحليفها اياه فى منزله فاذا حلفته فحلف فهى امرأته والا رافعته الى القاضى فان نكل عن اليمين عنده فرق بينهما.
(البحر الرائق ۳:۲۹۸ باب الكنايات)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: والحاصل ان المتأخرين خالفوا المتقدمين فى وقوع البائن بالحرام بلا نية حتى لا يصدق اذا قال لم انو لاجل العرف الحادث فى زمان المتأخرين فيتوقف الآن وقوع البائن به على وجود العرف كما فى زمانهم...... ثم ظهر لى بعد مدة ما عسى يصلح جوابا وهو ان لفظ حرام معناه عدم حل الوطء ودواعيه وذلك يكون بالايلاء مع بقاء العقد وهو غير متعارف ويكون بالطلاق الرافع للعقد وهو قسمان بائن ورجعى لكن الرجعى لا يحرم الوطء فتعين البائن...... والحاصل انه لما تعورف به الطلاق صار معناه تحريم الزوجة وتحريمها لا يكون الا بالبائن هذا غاية ما ظهر لى فى هذا المقام.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰٤ قبيل مطلب لا اعتبار بالاعراب هنا باب الكنايات)

مبانه ښځې باندې دوباره نکاح د پاره د زور الفاظ ،،نه ځمانه جدا ئې،، وغيره مسائل

سوال: څه فرمائي علماءدين دې مسئلې باره کښې چه (۱) کله چه ښځې ته طلاق بائن ورکړې شي نوواپس په دې باندې زورکولې شي يانه يعنې په زوردنکاح حکم څه دې؟ (۲) دغصې په حالت کښې ښځې ته اووائي ته ځمانه داسې جدائې لکه څنګه چه داشي ځماپه لاس کښې دې هغه شې ئې دلاس نه لرې ګزارکړو منکوحې په جواب کښې اوويل چه اوس ماته ځمادنفس اختيار ځما په خپل لاس کښې دې اوخاوندوائي بلکل ټهيک ده په دې صورت کښې به طلاق بائن واقع وی يارجعي؟ (۳) دايلاء په عدت کښې دننه دننه کله چه خاوندرجوع کول اوغواړي نومنکوحه انکارکولوسره پخپله خپل ځان دخاوند نه محبوس کړي يعنې دقرب موقعه نه ورکوي ددې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: صاحبزاده عبدالمالک ساکنې بالامهمند ايجنسي يکم ربيع الثاني ۱۳۸۹ھ

الجواب: (۱) چونکه دا ښځه بالغه ده لهذا په دې باندې زورنشي جاري کيدلې البته اکراه (يعنې تخويف اوتحديد سره ايجاب ياقبول کول) په دې باندې صحيح دی.

فى الدرالمختار: وينكح مبانته بما دون الثلث فى العدة وبعدها بالاجماع (باب الرجعة)﴿۱﴾ وفى الهندية ۱:۳۰۵ ولا يجوز نكاح احد على بالغة صحيحة العقل﴿۲﴾.

(۲) داخبره چه ،،ته ځمانه خلاصه ئې،، عرف کښې طلاق دپاره استعماليږي لهذا داالفاظ دطلاق صريح دی. لمافى الدرالمختار: صريحه مالم يستعمل الافيه ولوبالفارسيه انتهى ماعلى هامش ردالمحتار ۲:۵۹۰﴿۳﴾ ليکن داتشبيه که چرته دطلاق وی نوداطلاق بائن دې. لمافى الهنديه ۱:۳۹۷ الاصل عندابى حنفية انه

﴿۱﴾ الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۵۸۲ مطلب فى العقد على المبانة
﴿۲﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۲۸۷ الباب الرابع فى الاولياء)
﴿۳﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:٤۶۵ باب الصريح)

متی شبه الطلاق بشئ یقع بائناصغیراکان او کبیرا﴿۱﴾ اوکه چرته مقصودصرف تمثیل اوتوضیح وی دخپل فعل اودارادې نو طلاق رجعی به واقع وی، وهو الظاهرعندی(۳)چونکه په ظاهره داناشزه ده لهذادې ته زبانی رجوع هم کافی ده.لمافی الدرالمختار: وکذاحبسها ونشوزها ففیؤه نحوقوله بلسانة فئت الیهـا او راجعتک والخ﴿۲﴾. وهوالموفق

پښتو کښې لفظ (لو) سره د طلاق واقع کیدلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د بعضې قومونو په اصطلاح کښې د طلاق دپاره نور الفاظ موضوعه لکه افاغنه بلوچستان کښې لفظ(لو) دې، دې سره طلاق واقع کیږی یا نه؟ که چرته ددې وئیلو والا نیت د طلاقو نه وی ایا دهغه نیت به په دې کښې معتبر وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالکریم حقانی بلوچستان... ۱۲\۱ربیع الثانی ۱۴۰۲هـ

الجواب: په دې لفظ(زما دې لووی)(میرالوهو) سره طلاق نه واقع کیږی، ځکه چه دا لفظ مطلق یمین او تعلیقِ طلاق بالشرط کښې مشترک دې پس په دې کښې نیت ضروری دې﴿۳﴾ وعلی تقدیر ارادة الثانی ایضا لاوجه لوقوع الطلاق

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۱ الفصل الثالث فی تشبیه الطلاق ووصفه)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۹۹ باب الایلاء)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: افتی بعض المتأخرین بان منها علی یمین لا افعل کذاناویا الطلاق فتقع به واحدة بائنة لقولهم الکنایة ما احتمل الطلاق وغیره ورده عصریه السید محمد ابوالسعود فی حاشیة مسکین بانه لا یلزمه الا کفارة یمین لان ما ذکروه فی تعریف الکنایة لیس علی اطلاقه بل هو مقید بلفظ یصح خطابها به ویصلح لانشاء الطلاق الذی اضمره او للاخبار بانه اوقعه کانت حرام اذ یحتمل لانی طلقتک او حرام الصحبة وکذا بقیة الالفاظ ولیس لفظ الیمین کذلک اذ لا یصح بان یخاطبها بانت یمین فضلا عن ارادة انشاء الطلاق به او الاخبار بانه اوقعه حتی لو قال انت......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

لعدم الاضافة الی المراة﴿۱﴾ وهوالموفق

لرې شه. اوځه. د مور پلار کورته لاړه شه. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی د غصې او د ناراضګئ په حالت کښې خپلې ښځې ته اووئیل چه، ته د خپل مورپلار کورته لاړه شه،ځما د کورنه اوځه، لرې شه، زه ستانه بغیر هم ګزاره کولې شم،، چه هرکله په دې وئیلوسره دخاوند اراده د طلاقو نه وه، آیا په دې الفاظوسره طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: آفتاب احمد.....۱۹۷۳ء\۱۲\۱۰

الجواب: بغیر د نیت نه په دې الفاظو سره طلاق نه واقع کیږی، فی الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۶۳۶، فالکنایات لا تطلق بها قضاء الابنیة او دلالة الحال قوله قضاء قید به لانه لایقع دیانة بدون النیةولو وجدت دلالة الحال﴿۲﴾ وهوالموفق

.. داسې ښځې لره نه ساتم. تا پریږدم پرېږدم. د الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین مسائل ذیل په باره [illegible] کښې چه (۱)چه یو سړي خپلې

(بقیه حاشیه) یمین لانی طلقتک لا یصح فلیس کل ما احتمل الطلاق من کنایته بل بهذین القیدین ولا بد من ثالث هو کون اللفظ مسببا عن الطلاق وناشئا عنه کالحرمة فی انت حرام الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۱ باب الکنایات)

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی: (قوله لترکه الاضافة) ای المعنویة فانها الشرط والخطاب من الاضافة المعنویة وکذا الاشارة نحو هذه طالق.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۶ مطلب من الصریح الفاظ المصحفة)

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۰۱،۵۰۲ باب الکنایات)

....

منکوحې مدخول بها ته د غیظ وغضب په حالت کښې کنځلې کولوسره دا اووائی چه لاړه شه دخپل فلانکی پلارکورته او برقعه هم د صندوق نه راویستلو سره ورته غوځارکړی او دا هم اووائی چه زه داسې ښځه نه ساتم، خو دننه ئې نیت بالکل د طلاق نه وی بلکه په خوا خاطر کښې ئې هم نه وی صرف د دویرؤلو دپاره وو. (۲) الفاظ خو بالکل هم دغه وی لیکن دننه نیت هیڅ نه وی جاهل سړې دې. (۳) دننه نیت هم وی د طلاق ورکولو. (۴) یو سړې دخپلې ښځې نه ناراضه کیدلوسره دا اووائی چه تا زه پریښودم، پریښودم، ددې نه پس هغه ښځه هغه لره خوراک څکاک ورکولوسره راضی کړی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن قطب امانکوټ نوشهره.... ۳۰۱۹۱۱۹۷۲

جواب: (۱، ۲) په دې سړی باندې ښځه مطلقه نه ده ځکه چه دا الفاظ د کنایاتو نه دی او کنایاتو سره دنیت نه بغیر طلاق نه واقع کیږی﴿۱﴾، (۳) طلاق بائن واقع شوبغیرد تجدید دنکاح نه چاره نشته دې﴿۲﴾، (۴) دا لفظ د اکثرو علماؤ په نزد صریح دې لهذا په یو او دوو کښې زبانی واپسی کافی ده﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: الکنایات لا یقع بها الطلاق الا بالنیة او بدلالة حال کذا فی الجوهرة النیرة. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۷۴ الفصل الخامس فی الکنایات)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: (قوله وینکح مبانته فی العدة وبعدها ای المبانة بما دون الثلاث لان المحلیة باقیة لان زوالها معلق بالطلقة الثالثة فینعدم قبلها.

(البحر الرائق ۴:۵۶ فصل فیما تحل به المطلقة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم المصری: (قوله سرحتک فارقتک) وجعلهما الشافعی من الصریح لورودهما فی القرآن للطلاق کثیرا قلنا المعتبر تعارفهما فی العرف العام فی الطلاق لاستعمالهما شرعا مرادا هو بهما کذا فی فتح القدیر وفی الکافی ولنا الصریح ما لایستعمل فی غیر النساء وهم یقولون سرحت ابلی وفارقت ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

پنځم جلد 22

اووه واړه لارې ستا د پاره خالی دی ته، تللې شې. الفاظو حکم..

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه پرون ځما او د ښځې

(بقیه حاشیه) غریمی ومشائخ خوارزم من المتقدمین ومن المتأخرین کانوا یفتون بان لفظ التسریح بمنزلة الصریح یقع به طلاق رجعی بدون النیة کذا فی المجتبیٰ وفی الخانیة لو قال انت السراح فهو کقوله انت خلیة اعزبی وفی القنیة والاقرار بالفرقة لیس باقرار بالطلاق لاختلاف اسبابها.

(البحر الرائق ۳:۳۰۱ باب الکنایات فی الطلاق)

دغسې په فتاوٰی شامی کښې دی:

ثم فرق بینه وبین سرحتک فان سرحتک کنایة لکنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصریح فاذا قال رها کردم ای سرحتک یقع به الرجعی مع ان اصله کنایة ایضا وما ذاک الا لانه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰۲ قبیل مطلب لا اعتبار بالاعراب هنا)

لیکن ددې سوال په جواب کښې حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم اسلوب دبیان څه داسې اختیارکړې دې چه ``د اکثرو علماؤ په نزد صریح دې،، په دې وجه ددې عبارت نه اودغسې دحضرت مفتی صاحب د نورو فتاوونه معلومیږی چه دا الفاظ کنائی دی زمونږ په عرف کښې، اودحضرت مفتی صاحب ذاتی نسخه دشامی په حاشیه باندې دوی پخپله څه داسې تفصیل لیکلې دې:

اعلم ان قول السلیمانین "پرے م خوده" ای ترکتها ومثله کنایة فی العربیة کذا فی السلیمانیة لانه یستعمل شائعا فی غیر الطلاق ویراد به الطلاق عند القرائن الخارجیة فالظاهر انه کنایة فی السلیمانیة ایضا فاذا کرره فیقع به الواحدة لان البائن لا یلحق البائن ولو سلم انه صریح فالمتعارف به وقوع البائن لانهم یقصدون ذلک فافهم. (هذا من افادات شیخی دامت برکاتهم)

پس دبحرالرائق اوشامی په عباراتو کښې د غورکولونه معلومیږی چه ددې په صریح او کنائی کیدلو کښې اختلاف راروان دې اودوی دا په عرف باندې مبنی کړې دې. لیکن زمونږ دعلاقو په عرف کښې دحضرت مفتی صاحب مذکوره رائې (کنائی کیدل) راجح معلومیږی. (ازمرتب)

په مینځ کښې په یوه خبره باندې جهګړه اوشوه ما خبره برداشت نه کړئ شوه او ځما د خولې نه دا الفاظ اووتل تاته اووه واړه لارې خالی دی ته تللې شې، ستا دپاره اووه واړه لارې خالی دی ته تللې شې ازروئے شرع ددې الفاظو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: واجد ګل...... ۱۹۸۲ء/۱۷/۳۰

الجواب: بلااراده طلاق دا الفاظ د نکاح دپاره څه نقصانی نه دی. البته دنکاح تجدید کول افضل دی. کما فی الهندیه ۱: ۴۰۱ رجل قال لامرأته اربعة طرق علیک مفتوحة لایقع بهذا شیئ وان نوی الااذا قال خذی ای طریق شئت وقال نویت الطلاق ولو قال ما نویت صدق ولو قال لها اذهبی ای طریق شئت لایقع بدون النیة(۱) وهو الموفق

د وهلو نه پس اووانې ما تاته رخصت درکړو، څه وغیره الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید خپلې ښځې ته په حالت دغصه کښې وهلوسره اووائی چه څه تاته ما رخصت درکړو څه، ښځه روانیدلوسره دکورنه اووتله په لاره کښې رشته دارې ښځې واپس کولوسره د زید کورته راوستله چه کله رشته داره واپس لاړه نوزید دوباره هغه ښځې ته اووئیل چه دا کپړې بدلولوسره دخپل پلارد کورکړې واچوه اوزه لاړه شه تاته رخصت دې، فی الحال ښځه دهغه کورنه راؤتله اودخپل پلار کورته اورسیدله، معلومات کولونه پس ګواهانو هم ګواهی ورکړه چه زید ښځې ته رخصت ورکړې دې اوس ددې الفاظو څه حکم دې طلاق واقع شویا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: فقیر بخت جمال مردان

الجواب: داالفاظ کنائی دی بلانیت دې سره طلاق نه واقع کیږی کما فی ردالمحتار

(۱) (فتاوی عالمگیریة ۱: ۳۷۶ الفصل الخامس فی الکنایات)

۲: ۶۳۶ قوله قضاء قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة و وجدت دلالة الحال(۱) پس صورت مسئوله کښې دې د زوج نه دنیت متعلق تحقیقات اوکړی. وهو الموفق

داسې ښځې ضرورت نشته ځما سلام دې. جهیز یوسئ جینئ خلاصه کړئ وغیره الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه شپاړس میاشتې مخکښې ما خپلې ښځې لره دکورنه په ویستلوسره د سخرګنئ کورته استولې وه ځکه چه هغې هروخت ځما مورپلار او خوریانوسره جهګړې کولې. هفته پس مورپلار ماته د ښځې راوستلو اووئیل ما اووئیل چه ماته د داسې ښځې هیڅ ضرورت نشته دې هغه ماته نه ده پکار ځما داسې ښځې ته سلام دې، والدین خاموشه شو. دویمه یا دریمه ورځ باندې ما تره د سخر کورته واستولواوهم دا الفاظ مې بیا سردوباره کړه او ورسره مې دا هم اووئیل چه هغوئ ته اووایه چه خپل جهیز یوسئ او جینئ لره خلاصه کړئ دهغوی جینئ نه راولم. سخرګنئ دا خبره اونه منله. دا سلسله هم داسې جاری وه. یوکال پس والدینو زه مجبورکړم او ځما نه خفه شو او وې وئیل چه ته به ښځه خامخا راولې. بیا ما سوچ اوکړو یوکاله پورې چه ما کوم انکارکولودهغې اثر ځما په نکاح باندې پریوتلې دې یا نه. بهشتی زیور کښې مې اوکتل نوځما دا الفاظ هوبهو کنایه طلاق سره ملاویدل اوس دې خو یوکال تیرشوې وواو نیت لره مې برقرار اونه اساتلې شو، ماکافی سوچ اوکړو اووئیل چه ځما مخکښنیئ نکاح ماته شوې ده په دې باندې والدین ډیر پریشانه شواو ووې وئیل چه ستا دماغ خراب دې دوباره نکاح زمونږ دپاره دشرم خبره ده، تاسو صاحبان تسلی بخش جواب راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: طارق علی کیمل پور... ۱۹۶۹ء/۱۱/۱۹

الجواب: دا الفاظ کنایات دی بغیر د نیت نه په دې سره طلاق نه واقع کیږی(۲)

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۲ باب الکنایات)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله قضاء) قید به لانه لا یقع دیانة بدون النیة ولو وجدت دلالة الحال. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۲ باب الکنایات)

او روستو دا کلام چه خپل جهیز یوسه او جینئ لره خلاصه کړئ، قرینه ده د طلاق د عدمِ ارادې. لهذا طلاق واقع نه دې او که چرته احتیاطاً تجدید نکاح اوکړي نو غوره ده او د عقد نکاح دپاره دا کافی دی چه زوجین د اقاربو په مخکښې ایجاب او قبول اوکړی ﴿۱﴾ فقط وهو الموفق.

فارغه کړې مې ده. آزاده ده. حرامه ده.. الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی خپلې ښځې ته د غصې په دوران کښې اووئیل ما هغې لره (ښځې لره) فارغه کړې ده چرته چه غواړې دا آزاده ده. مزید داچه ددې نه پس هم په مختلفو موقعو باندې مذکور خپلې ښځې لره په خپل ځان باندې د حرام الفاظ دهراؤ کړی دی ددې ټولو خبرو باوجود په یو کور کښې اوسیږی ددې شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالعزیز سیرهری پور... ۱۹۸۲ء/۷/۲۳

الجواب: صورت مسئوله کښې تجدید دنکاح کافی دی، ځکه چه اولاً. آزاد دې زمونږه د علاقې په محاوره کښې د کنایاتو نه دی او که چرته صریح کیدل او منل شی نو دا په بائن کښې استعمالیږی. وهکذا لفظ الحرام ﴿۲﴾

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واما رکنه فالایجاب والقبول والایجاب ما یتلفظ به اولا من ای جانب کان والقبول جوابه هکذا فی العنایة. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۶۷ کتاب النکاح الباب الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: وقد صرح البزازی اولا بان حلال الله علی حرام بالعربیة اوالفارسیة لا یحتاج الی نیة حیث قال ولو قال حلال ایزد بروی او حلال الله علیه حرام لا حاجة الی النیة وهو الصحیح المفتی به للعرف وانه یقع به البائن لانه المتعارف ثم فرق بینه وبین سرحتک فان سرحتک کنایة لکنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصریح فاذا قال رها کردم ای سرحتک یقع به الرجعی مع ان اصله کنایة ایضا وما ذاک الا لانه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق وقد مر ان الصریح مالم یستعمل الا فی الطلاق من ای لغة کانت لکن لما غلب استعمال حلال الله فی البائن...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

والاصل ان البائن لا یلحق البائن ﴿۱﴾ وهوالموفق

اوزه ګڼې زه به طلاق درکړم.. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه څما ښځې ټول عمر څما خدمت کړې دې مګر په څو کرته ماهغې ته وئیلی دی،، اوزه ګڼې زه به طلاق درکړم،، دې الفاظو وئیلو سره خوڅما ښځه د زوجیت نه وتلې نه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحصیر خان پشاور... ۱۹۸۴ء/۷/۲۹

الجواب: ،، اوزه،، الفاظِ کنایات دی په دې سره دنورو کنایاتو په شان بغیر د نیت نه طلاق نه واقع کیږی، کما فی ردالمحتار ۲: ۶۳۶ ﴿۲﴾ او چونکه تاسو دا الفاظ د طلاق په نیت سره نه دی وئیلی بقرینة ما بعده، ګڼې طلاق به درکړم،، لهذا تاسو باندې ښځه مطلقه شوې نه ده. وهو الموفق.

.. اوزه..(نکل جا) لفظ کنائی دې او روستو د طلاق د خبرِ کاذبه حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې ښځې سره

(بقیه حاشیه) عند العرب والفرس وقع به البائن ولولا ذلک لوقع به الرجعی...... والحاصل انه لما تعورف به الطلاق صار معناه تحریم الزوجة وتحریمها لا یکون الا بالبائن هذا غایة ما ظهر لی فی هذا المقام. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۵۰۳، ۵۰۴ باب الکنایات)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: فالمعتبر فیه اللفظ لا المعنی علی المشهور لا یلحق البائن البائن. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۱۰ باب الکنایات)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: فالکنایات لا تطلق بها قضاء الا بنیة او دلالة الحال. قال ابن عابدین: (قوله قضاء) قید به لانه لا یقع دیانة بدون النیة ولو وجدت دلالة الحال. (الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۵۰۲ باب الکنایات)

جهګړه کوله د جهګړې په وخت کښې ئې اووئیل.. اوزه.. یعني نکل جا او
هغه هم په هغه وخت د کورنه اووتله هغه وخت د هغه سړی نیت د طلاق نه
وو هغه ښځه درې ورځې د والدینو په کور کښې اوسیدلو سره واپس راغلله نو
خاوند ورته اووئیل بیا ځه راغلې ما خو ته په یودوه درې سره طلاقه کړې
وې؟ او حال دادې چه د ښځې د وتلو په وخت په زړه کښې د طلاق نیت نه وو
شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغفار کبل.. یکم اپریل ۱۹۸۴ء

الجواب: لفظ.. اوزه..(نکل جا) د کنایاتو نه دی او په کنایاتو کښې بغیرد
طلاق د نیت نه طلاق نه واقع کیږی (شامی ۲: ۲۳۲)﴿۱﴾ نیز اخبار کاذبه سره
د دیانت په باب کښې طلاق واقع کیږی نه (ردالمحتار)﴿۲﴾ والهندیه﴿۳﴾
وهوالموفق

..ما ته پریخودلې ئې.. کښې احتمال د صریح او کنایه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی د غصې په

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: فالكنايات لا تطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال ، قال ابن عابدين: (قوله قضاء) قيد به لانه لا يقع ديانة بدون النية ولو وجدت دلالة الحال.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۰۲ باب الكنايات)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي: قال انت طالق او انت حر وعنى الاخبار كذبا وقع قضاء الا اذا اشهد على ذلك ، قال ابن عابدين: اى على انه يخبر كذبا.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۴۹۹ فروع قبيل باب الكنايات)

﴿۳﴾ وفي الهندية: روى ابن سماعة عن محمد رحمه الله تعالىٰ فيمن قال لامرأته كوني طالقا او اطلقي قال اراه واقعا ولو قال لها انت طالق طالق او انت طالق انت طالق او قال قد طلقتك قد طلقتك او قال انت طالق وقد طلقتك تقع ثنتان اذا كانت المرأة مدخولا بها لو قال عنيت بالثاني الاخبار عن الاول لم يصدق في القضاء ويصدق فيما بينه وبين الله تعالىٰ. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۳۵۵ مطلب اذا كرر الطلاق ونوى الاخبار)

حالت کښې خپلې ښځې ته اووئیل چه ما ته پریخودلې ئې. دا الفاظ ئې
درې ځل اووئیل بیا دغه نه پوښتنه اوکړې شوه چه تاسو دویم او دریم ځل
ولې اووئیل؟ نو هغه جواب ورکړو چه ښځه په دریو ځلو سره پریخودلې
کیږی ددې وجه نه ما درې ځلې اووئیل په دې صورت کښې د طلاق څه حکم
دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالقیوم ماهرهاډی آئی جان..۱۱۸ رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: بظاهر دا سړې تجدید نکاح کولې شی تحلیل ته محتاج نه دې. لان
هذا اللفظ يستعمل في الطلاق وغيره فيكون من الكنايات، ولو سلم غلبة
استعماله في الطلاق فكان صريحا لكنه مثل الحرام لايستعمل الالقطع النكاح فيقع
به البائن﴿۱﴾ والبائن لايلحق البائن﴿۲﴾ واعتقاد تاثير التثليث لايستلزم ارادة
الطلقات الثلثة﴿۳﴾ فافهم. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: ثم ظهر لى بعد مدة ماعسىٰ يصلح جوابا وهو ان لفظ حرام معناه عدم حل الوطء ودواعيه وذلك يكون بالايلاء مع بقاء العقد وهو غير متعارف ويكون بالطلاق الرافع للعقد وهو قسمان بائن ورجعى لكن الرجعى لا يحرم الوطء فتعين البائن وكونه التحق بالصريح للعرف لاينافي وقوع البائن به فان الصريح قد يقع به البائن كتطليقة شديدة ونحوه كما ان بعض الكنايات قد يقع به الرجعى مثل اعتدى واستبرئ رحمك وانت واحدة والحاصل انه لما تعورف به الطلاق صار معناه تحريم الزوجة وتحريمها لا يكون الا بالبائن هذا غاية ما ظهر لى في هذا المقام وعليه فلا حاجة الى ما اجاب به في البزازية من ان المتعارف به ايقاع البائن لما علمت مما يرد عليه.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۴ قبيل مطلب لا اعتبار بالاعراب هنا)

﴿۲﴾ وفي الهندية: ولا يلحق البائن البائن بان قال لها انت بائن ثم قال لها انت بائن لا يقع الا طلقة واحدة بائنة. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۳۷۷ الباب الخامس في الكنايات)

﴿۳﴾ وفي الهندية: الطلاق الصريح هو كانت طالق ومطلقة وطلقتك وتقع واحدة رجعية وان نوى الاكثر او الابانة او لم ينو شيئا كذا في الكنز.
(فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۳۵۴ الباب الثاني في ايقاع الطلاق الفصل الاول)

په ما خور مورئې په ما طلاقه ئې او ورزه.. حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوسړې خپلې ښځې ته اووائی،، ته په ما خور مور ئې ته ماطلاقه ئې او ورزه،، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: بوساطت مولانا عبدالحلیم دیروی مدرس حقانیه۱۸؍۵؍۱۴۰۱ھ

الجواب: ښځې ته خور، مور او تروربلاتشبیه وئیل مکروه دی مګردموجب طلاق نه دی. لما فی شرح التنویر: والاینوشیئا او خذف الکاف لغا، هامش ردالمحتار ۲: ۷۹۴﴿۱﴾ او.. ته په ما طلاقه ئې،، موجب د طلاقِ رجعی دې﴿۲﴾ او،، ورزه،، د کنایاتو نه دې چه دهغې دارمدار په نیت باندې دې، کما فی ردالمحتار۲: ۶۳۶ قوله قضاء قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة ولو وجدت دلالة الحال﴿۳﴾ پس بهر حال دا ښځه مغلظه نه ده، رجوع یا تجدید سره که چرته نیت د طلاق وی نو څه لاره راوتلې شی. وهوالموفق

ما پریخودلې.پریخودلې. پریخودلې.ئې وغیره الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوسړی په غصه کښې راتللوسره خپلې ښځې ته ئې په یو ساکښې پریمیښې پریمیښې پریمیښې څو ځلې اووئیل بیا د کورنه په وتلوسره هم په هغه حالت کښې اووئیل چه پریښودلوسره راغلې یم دکاندار د هغه نه پوښتنه اوکړه چه څه پریښودلو سره راغلې ئې، هغه اووئیل چه ښځې ته مې طلاق ورکړو او کاغذ باندې مې هم ورته لیکلی دی د تحقیق نه پس معلومه شوه.چه کاغذ ئې نه وو

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۲۲ قبیل باب الکفارة باب الظهار)

﴿۲﴾قال العلامة المرغینانی: الصریح هو کانت طالق ومطلقة وطلقتک فهذا یقع به الطلاق الرجعی ولا یقع به الا واحدة وان نوی الاکثر. (هدایة ۲: ۳۶۰ باب ایقاع الطلاق)

﴿۳﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۲ باب الکنایات)

ورکړې او په یو تقریب کښې ئې درې ځلورو سړو وړاندې هم اووئیل چه پریښودلوسره راغلې یم طلاق ورکولوسره راغلې یم دې سره طلاق واقع شو یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ حبیب الهی جهلم....۲۵؍۷؍۱۹۷۹ء

الجواب: ښکاره دې وی چه لفظ پریښودل د بعضې علماؤ په نزد طلاق صریح دې او په ظاهره دا د کنایاتو نه دې. دا لفظ په طلاق او غیر طلاق دواړو کښې استعمالیږی، کما لایخفی علی من راجع الی المحاورات﴿۱﴾ او بهرحال په دې سره طلاق بائن واقع کیږی، اما علی الثانی فظاهرو اما علی الاول فلانه

﴿۱﴾ په فتاویٰ عالمګیری کښې دی:

والاصل الذی علیه الفتویٰ فی زماننا هذا فی الطلاق بالفارسیة انه اذا کان فیها لفظ لا یستعمل الا فی الطلاق فذلک اللفظ صریح یقع به الطلاق من غیر نیة اذا اضیف الی المرأة وماکان بالفارسیة من الالفاظ ما یستعمل فی الطلاق وفی غیره فهو من کنایات الفارسیة فیکون حکمه حکم کنایات العربیة فی جمیع الاحکام کذا فی البدائع. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۹ الفصل السابع فی الطلاق بالالفاظ الفارسیة)

اوددې نه پس ئې ددې دوه مثالونه ذکرکړی دی:

اذا قال الرجل لامرأته بهشتم ترا اززنی (ترکتک من الزوجیة) فاعلم بان هذه اللفظة استعملها اهل خراسان واهل عراق فی الطلاق وانها صریحة عند ابی یوسف رحمه الله تعالیٰ حتی کان الواقع به رجعیا ویقع بدون النیة...... واذا قال بهشتم ترا ولم یقل اززنی (ترکتک ولم یقل من الزوجیة) فان کان فی حالة غضب ومذاکرة الطلاق فواحدة یملک الرجعة وان نوی بائنا او ثلاثا فهو کما نوی (محوله بالا) وقال العلامة ابن عابدین: فان سرحتک کنایة لکنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصریح فاذا قال رها کردم ای سرحتک یقع به الرجعی مع ان اصله کنایة ایضا وما ذاک الا لانه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق.

((ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۳ باب الکنایات)

وقد رأیت علی نسخة الشامیة لشیخی بقلم ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

تعورف به البائن مثل لفظ الحرام فلیراجع الی کنایات ردالمحتار﴿۱﴾ نیز ښکاره دې وی چه تکرار سره کله مقصود تاکید او اصرار وی او کله تاسیس او تعود وی او کله نیت نامعلوم وی﴿۲﴾ پس اول او ثالث کښې صرف یو طلاق واقع کیږی او ثانی کښې کله متعدد واقع کیږی ای اذا کان صریحاً او کله یو

(بقیه حاشیه)سیدی وشیخی ومولائی المحدث الکبیر والفقیه النبیل المفتی الاعظم مولانا مفتی محمد فرید دامت برکاتهم العالیة حیث قال: اعلم ان قول السلیمانیین ''پرے مے خوده'' ای ترکتها (چهوڑدیا) ومثله کنایة فی العربیة کذا فی السلیمانیة لانه یستعمل شائعا فی غیر الطالق ویراد به الطلاق عند القرائن الخارجیة فالظاهر انه کنایة فی السلیمانة ایضا فاذا کرره فیقع به الواحدة لان البائن لا یلحق البائن ولو سلم انه صریح فالمتعارف به وقوع البائن لانهم یقصدون ذلک فافهم.

(هذا من افادات شیخنا المعظم مدظله العالی) ......(ازمرتب)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله علی الحرام فیقع بلانیة للعرف) ای فیکون صریحا لاکنایة بدلیل عدم اشتراط النیة وان کان الواقع فی لفظ الحرام البائن لان الصریح قد یقع به البائن کما مر لکن فی وقوع البائن به بحث سنذکره فی باب الکنایات...... کما افتی المتأخرون فی انت علی حرام بانه طلاق بائن للعرف بلانیة مع ان المنصوص علیه عند المتقدمین توقفه علی النیة الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶۹ مطلب قولهم علی الطلاق علی الحرام)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین، قال ابن عابدین: ای ووقع الکل قضاء وکذا اذا طلق اشباه ای بان لم ینو استینافا ولا تاکیدا لان الاصل عدم التاکید.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۲۹۹ فروع قبیل باب الکنایات)

واقع کیږی، ای اذا کان بائناً لان البائن لایلحق البائن کما صرحوا به﴿۱﴾ پس ددې قواعدو په بنا باندې دې سړی باندې تجدید دنکاح ضروری دې د تحلیل ضرورت نشته دې. هذا ما عندی ولعل عندی غیراحسن منه، وهوالموفق

"ځما د کټ نه لرې شه په خپل کټ کښې اوده شه".. وغیره الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی دغصې په حالت کښې ښځې ته اووئیل چه ځما د کټ نه لرې شه خپل کټ کښې اوده شه.، یائې صرف دااووئیل چه ځما نه لرې شه او جدا شه. یا د غصې په حالت کښې ئې اووئیل چه الله تعالی دې مالره ستاسو نه خلاصې راکړی. دا ټول الفاظ دڅه ناراضګۍ په وجه باندې خاوند خپلې ښځې ته اووائی او یقینی طور باندې د طلاق نیت بالکل نه وو او نه مذاکره د طلاق موجوده وه، په دې الفاظو کښې د طلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ هیبت خان حقانی...۱۹۷۵ء۱\۱۴\۲۳

الجواب: صورت مسئوله کښې د عدم نیت د وجه نه هیڅ قسمه طلاق نه دې واقع شوې، کما فی الدرالمختار: لاتطلق بها قضاء الا بنیة او دلالة الحال، وفی ردالمحتار ۲: ۶۳۶ قوله قضاء: قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة ولو وجدت دلالة الحال﴿۲﴾ وهوالموفق

ما ته پرینبودلې ئې...... طلاق نامه یوسه... وغیره حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی خپلې ناراضه شوې ښځې ته پیغام واستولو چه ما ته پرینبودلې ئې خپل پلار راوستې وې دپاره ددې چه ستا دپاره طلاق نامه یوسی. دا الفاظ ئې په څو کرته اووئیل څه موده پس صلح اوشوه او خپله ښځه ئې کور ته راوستله او په خوشحالئ

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۱۰ باب الکنایات)

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۰۲ باب الکنایات)

سره اوسيدل، ايا په دې الفاظو سره د دواړو په مينځ کښې طلاق نه دې واقع شوې؟ بينوا توجروا

المستفتي: قاري ضياء الرحمن برهنه مانسهره....۱۸رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: چونکه دا الفاظ غالباً د طلاق دپاره استعماليږي لهذا دا سړې دې زباني مراجعت باندې اکتفانه کوی، تجديد دنکاح دې اوکړي، ونظيره لفظ الحرام والتفصيل فی ردالمحتار ۳: ۳۰۰ باب الکنايات﴿۱﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين: وقد مر ان الصريح ما لم يستعمل الا فی الطلاق من ای لغة کانت لکن لما غلب استعمال حلال الله فی البائن عند العرب والفرس وقع به البائن ولولا ذلک لوقع به الرجعی، والحاصل ان المتأخرين خالفوا المتقدمين فی وقوع البائن بالحرام بلا نية حتی لايصدق اذا قال لم انو لاجل العرف الحادث فی زمان المتأخرين فيتوقف الآن وقوع البائن به علی وجود العرف کما فی زمانهم واما اذا تعورف استعماله فی مجرد الطلاق لا بقيد کونه بائنا يتعين وقوع الرجعی به کما فی فارسية سرحتک ومثله من وقوع الرجعی بقوله سن بوش او بوش اول فی لغة الترک مع ان معناه العربی انت خلية وهو کناية لکنه غلب فی لغة الترک استعماله فی الطلاق...... ثم ظهر لی بعد مدة ما عسی يصلح جوابا وهو ان لفظ حرام معناه عدم حل الوطء ودواعيه وذلک يکون بالايلاء مع بقاء العقد وهو غير متعارف ويکون بالطلاق الرافع للعقد وهو قسمان بائن ورجعی لکن الرجعی لا يحرم الوطء فتعين البائن وکونه التحق بالصريح للعرف لا ينافی وقوع البائن به فان الصريح قد يقع به البائن کتطليقة شديدة ونحوه کما ان بعض الکنايات قد يقع به الرجعی مثل اعتدی واستبرئ رحمک وانت واحدة والحاصل انه لما تعورف به الطلاق صار معناه تحريم الزوجة وتحريمها لا يکون الا بالبائن.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۴ قبيل مطلب لااعتبار بالاعراب هنا)

..ما خپلې ښځې لره پرېښودلې ده.. ددې درې خطونه مختلفو خلقو ته د ليکلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه بنده د کورنئ چارو په وجه ښځې ته د طلاق په ارادې سره يو خط يونين کونسل ته ليکلې وو چه ما خپله ښځه پرېښودلې ده ددې نه پس دويم خط ئې خپل ورور او دريم خط ئې خپل پلار ته ليکلې ووچه ما خپله ښځه پرېښودلې ده هغه د کور نه اوباسئ. پلار صاحب ته چه کله خط ملاؤ شو نو فوراً ماته راغلو او وې وئيل چه تاسو داسې مه کوئ او طلاق نامه مه ليکئ، بالآخر د پلار صاحب په وينا سره ما دوباره رجوع اوکړه چه کوم خط ما يونين کونسل ته ليکلې وو په هغې کښې مې د طلاق شرطونه نه وو ليکلی، بعضې علماؤ نه مې چه دلته ددې مسئلې پوښتنه اوکړه نووائی چه تاسو درې خطونه چه يونين کونسل پلار او ورور ته ليکلی دی نو دا درې د طلاق شرطونه جوړيږی تاسو صاحبان جواب راکړئ چه په دې مسئله کښې درې طلاقه دی يا زه رجوع وغيره کولې شم؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد عبدالله ميان والی....۱۹۲۹ء\۱\۴\۱۲

الجواب: که چرته تاسو په خطونو کښې دا جمله ليکلی وی چه ما ښځه پرېښودلې ده نو تاسو هغه ښځې ته دوباره رجوع کولې شئ﴿۱﴾ اګرچه داسې

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين: فان سرحتک کناية لکنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصريح فاذا قال رهاکردم ای سرحتک يقع به الرجعی مع ان اصله کناية ايضا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۳ باب الکنايات)

وفی الهندية: والاصل الذی عليه الفتوی فی زماننا هذا فی الطلاق بالفارسية انه اذا کان فيها لفظ لا يستعمل الا فی الطلاق فذلک اللفظ صريح يقع به الطلاق من غير نية اذا اضيف الی المرأة.

(فتاوی عالمگيرية ۱: ۳۷۹ الفصل السابع فی الالفاظ الفارسية)

خط تاسو درې یا د دریو نه زیاتو اشخاصو ته لیکلې وی﴿۱﴾ او که چرته تاسو دا جمله لیکلې وی چه ما درې طلاقه ورکړی دی یا په دریو شرطو سره طلاق دې نو تاسو د تحلیل نه بغیر هغې لره ښځه نه شئ جوړولې﴿۲﴾ ستاسو د لیکلې شوی خط نه دا معلومیږی چه تاسو عدد نه دې لیکلې لهذا تاسو رجوع کولې شئ. وهو الموفق

ښځه ئې نه جوړوم. ته ماته نه ئې پکار. ښځه ځما نه آزاده ده. الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د زید ښځه هنده د دریو کالو راسې جدا ده د څه د وجه نه هغه بوتلل نه غواړی او په دومره مده کښې ئې د خرچې دپاره یو کاثیره هم نه ده ورکړې او د جماعت کثیر په وړاندې ئې داسې قسم الفاظ وئیلی دی: یو ځل ئې اووئیل چه که چرته راغلې نو ناسته به ئې مګر ښځه به دې نه جوړوم که چرته رانه غله نو ماته نه ده پکار دویم ځل ئې اووئیل چه ځما ښځه ځما نه آزاده ده او زه د هغې نه آزاد یم په دې الفاظو سره په هنده باندې طلاق واقع شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم..........

الجواب: ښکاره دې وی چه زه به ئې ښځه نه جوړوم وعید دې (زورنه ده) انشاء د طلاق نه دې او ته ماته نه ئې پکار داهم د طلاق الفاظ نه دی، هندیه ۱: ۴۰۰

﴿۱﴾وفی الهندیة: فی المنتقی لو کتب کتابا فی قرطاس و کان فیه اذا اتاک کتابی هذا فانت طالق ثم نسخه فی کتاب آخر او امر غیره ان یکتب نسخة ولم یملل هو فاتاها الکتابان طلقت تطلیقتین فی القضاء اذا اقر انهما کتاباه اوقامت به بینة واما فیما بینه وبین الله تعالیٰ فیقع علیها تطلیقة واحدة...... لانهما نسخه واحدة.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۹ الفصل السادس فی الطلاق بالکتابة)

﴿۲﴾وفی الهندیة: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذا فی الهدایة.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

ولوقال لاحاجة لی فیک ینوی الطلاق فلیس بطلاق﴿۱﴾ او دا الفاظ چه ماته آزاده ئې اګر چه بظاهر صریح دی لان الصریح مالم یستعمل الا فیه ای غالبا ولو بالفارسیة کما فی ردالمحتار ۲: ۵۹۰﴿۲﴾ لیکن دا الفاظ چه زه د هغې نه آزاد یم تقاضا کوی چه د آزادئ نه یو داسې تعلق مراد دې چه د زوجینو په مینځ کښې مشترک وی مثلا حقوق نکاح، پس دا لفظ به هم په هغه تقدیر باندې د کنایاتو نه وی چه په هغې کښې بغیر د نیت نه طلاق نه واقع کیږی. کما صرح به فی ردالمحتار ۲: ۶۳۶﴿۳﴾ وهو الموفق

د خاوند ښځې لره د کور نه د ویستلو او د مختلفو الفاظو وئیلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د مسائلو ذیل په باره کښې چه (۱) یو سړی خپلې ښځې لره د لاس نه نیولو سره د کور نه اوویستله ښځه وائی چه ماته ئې طلاق راکړې دې سړې وائی چه نه ما طلاق ورکړې دې او نه مې په زړه کښې د هغې نیت کړې دې بلکه محض زورنه مقصود وه. (۲) سړې وائی چه نه ما د کور نه ویستلې ده نه مې د طلاق لفظ وئیلې دې بلکه صرف دامې وئیلی دی چه د ښځې په شان ګزاره کوه(۳) په ژبې سره ئې صرف دا وئیلی وی چه اوزه. (۴) ښځه وائی چه زه په ګواهانو سره ثابت کولې شم چه زه ئې د کور نه ویستلې یم لیکن سړې انکار کوی. (۵) ښځه وائی چه زه په ګواهانو سره ثابت کولې

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۵ الفصل الخامس فی الکنایات)

﴿۲﴾(الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۴۶۵ باب الصریح)

﴿۳﴾قال العلامة الحصکفی: انت حرة اختاری امرک بیدک سرحتک فارقتک لا یحتمل السب والرد ففی حالة الرضا ای غیر الغضب والمذاکرة تتوقف الاقسام الثلاثة تاثیرا علی نیة للاحتمال، قال العلامة ابن عابدین: لما ذکرنا من ان کل واحد من الالفاظ یحتمل الطلاق وغیره والحال لا تدل علی احدهما فیسئل عن نیته ویصدق فی ذلک قضاء بدائع.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۰۴ مطلب لا اعتبار بالاعراب هنا)

شم چه د کور نه ويستلې هم يم او ورسره ئې دا هم وئيلی دی چه زه تا نه غواړم ليکن سړې انکار کوی مندرجه بالا صورتونو کښې کوم يو طلاق واقع شوې دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد ظاهر بنوں

جواب: ﴿١﴾ د ښځې د کور نه ويستل طلاق نه دې لعدم الرکن(ماخوذ از شامی) ﴿١﴾ ﴿٢﴾.. د ښځو په شان ګزاره کوه.. نه صريح دې او نه کنايه بلکه نصيحت دې (ماخوذ از شامی)﴿٢﴾ ﴿٣﴾..اوزه.. کنايه دې په دې سره د نيت نه بغير طلاق نه واقع کيږی (شامی)﴿ ٣﴾ ﴿۴﴾ نه ويستل طلاق دې او نه.. اوزه.. بغير د نيت نه طلاق دې(شامی)﴿۴﴾ ﴿۵﴾ زه تا نه غواړم.. نه صريح دې او نه کنايه (هنديه ١: ٤٠٠﴿۵﴾ وهو الموفق

.. ځما نه ښځه پاتې شوې ده پاتې شوې ده پاتې شوې ده..
ددې شرعی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چه ځما ښځه ځما د تره لور

﴿٢،١﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله ورکنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالة على معنى الطلاق من صريح او كناية فخرج الفسوخ على مامر واراد اللفظ ولو حكما ليدخل الكتابة المستبينة الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ۴۵٣ كتاب الطلاق)

﴿٣،۴﴾ قال العلامة الحصكفى: والكنايات ثلاث ما يحتمل الرد او ما يصلح للسب اولا ولا فنحو اخرجى واذهبى وقومى تقنعى تخمرى استترى انتقلى انطلقى اغربى اعزبى يحتمل ردا او نحو خليه برية بائن الخ. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ٢: ۵٠٣ باب الكنايات)

﴿۵﴾ وفى الهندية: ولو قال لا حاجة لى فيك ينوى الطلاق فليس بطلاق.

(فتاوىٰ عالمگيرية ١: ٣٧۵ الفصل الخامس فى الكنايات)

هم ده دخپل مورپلار کور ته بباعث ناچاقئ تلې وه دهغې په غير موجودګئ کښې ځما دهغې ورور سره تلخ کلامی اوشوه. ما په هغه دوران کښې په غصه کښې اووئيل چه ځما نه ځما ښځه پاتې شوې ده پاتې شوې ده، داسې مې نهه يا لس ځلې اووئيل. ځما سخر ماته اووئيل چه ايا تاته طلاقه ده؟ نو ماته فوراً احساس اوشوچه زه طلاق نه ورکوم دراصل ځما په زړه کښې دا ووچه ځما ښځه دې د مورپلار په کورکښې اوسيږی کورته به ئې نه راولم آيا په دې الفاظوسره ځما په نکاح باندې څه اثر پريوتلې دې يا نه؟ شرعی حکم څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: کمال خان حائل سعوديه عربيه... ١۴٠١هـ ١٨١۴١

الجواب: ښځه ځما پاتې شوې ده نه صريح دې نه کنايه په دې سره ښځه مطلقه نه کيږی چه کله نيت او اراده د طلاق هم نه وی﴿١﴾ وهو الموفق

د کور نه لاړه شه ځما نه فارغه شه خاوند اوکړه وغيره الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين دې مسئلې باره کښې چۀ يو سړی خپلې ښځې ته دا الفاظ وئيلی دی ته ځما د کور نه لاړه شه ځما نه فارغه ئې. زه بل خاوند اوکړه. اوس زه تا د ښځې په حيثيت سره ساتل نه غواړم. درې ځلې ئې دا الفاظ استعمال کړی دی او ډير بې دردئ سره ئې په بد شان ښځه وهلې ده او دائې هم وئيلی دی زه به ستا د پلار نه مبلغ پنځه زره روپئ د واده خرچه اخلم، اوس د طلاق څه حکم دې؟ واقع دې يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: ميرعبدل ډهوک...... ١٩٧٦ء ٢٩١٩١ ×

الجواب: که چرته خاوند دا الفاظ د طلاق په نيت او ارادې سره وئيلی وی نو دا

﴿١﴾ وفى الهندية: قد اتفقوا جميعا انه لو قال والله ما انت لى بامرأة او لست والله لى بامرأة فانه لا يقع شئ وان نوى ولو قال لاحاجة لى فيك ينوى الطلاق فليس بطلاق.

(فتاوىٰ عالمگيرية ١: ٣٧۵ الفصل الخامس فى الكنايات)

شم چه د کور نه ویستلې هم یم او ورسره ئې دا هم وئیلی دی چه زه تا نه غواړم لیکن سړې انکار کوی مندرجه بالا صورتونو کښې کوم یو طلاق واقع شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ظاهر بنوں

جواب: ‹۱› د ښځې د کور نه ویستل طلاق نه دې لعدم الرکن(ماخوذ از شامی) ﴿۱﴾ ‹۲›.. د ښځو په شان ګزاره کوه.. نه صریح دې او نه کنایه بلکه نصیحت دې ‹ماخوذ از شامی›﴿۲﴾ ‹۳›..اوزه.. کنایه دې په دې سره د نیت نه بغیر طلاق نه واقع کیږی ‹شامی›﴿ ۳﴾ ‹۴› نه ویستل طلاق دې او نه.. اوزه.. بغیر د نیت نه طلاق دې‹شامی›﴿۴﴾ ‹۵› زه تا نه غواړم.. نه صریح دې او نه کنایه ‹هندیه ۱: ۴۰۰﴿۵﴾ وهو الموفق

.. ځما نه ښځه پاتې شوې ده پاتې شوې ده پاتې شوې ده..

ددې شرعی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چه ځما ښځه ځما د تره لور

﴿۱،۲﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله ورکنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح او کنایة فخرج الفسوخ علی مامر واراد اللفظ ولو حکما لیدخل الکتابة المستبینة الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق)

﴿۳،۴﴾ قال العلامة الحصکفی: والکنایات ثلاث ما یحتمل الرد او ما یصلح للسب اولا ولا فنحو اخرجی واذهبی وقومی تقنعی تخمری استتری انتقلی انطلقی اغربی اعزبی یحتمل رد او نحو خلیه بریة بائن الخ. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۰۳ باب الکنایات)

﴿۵﴾ وفی الهندیة: ولو قال لا حاجة لی فیک ینوی الطلاق فلیس بطلاق.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۵ الفصل الخامس فی الکنایات)

هم ده د خپل مورپلار کور ته بباعث ناچاقئ تلې وه دهغې په غیر موجودګئ کښې ځما دهغې ورور سره تلخ کلامی اوشوه. ما په هغه دوران کښې په غصه کښې اووئیل چه ځما نه ځما ښځه پاتې شوې ده پاتې شوې ده پاتې شوې ده، داسې مې نهه یا لس ځلې اووئیل. ځما سخر ماته اووئیل چه ایا تاته طلاقه ده؟ نو ماته فوراً احساس اوشو چه زه طلاق نه ورکوم دراصل ځما په زړه کښې دا ووچه ځما ښځه دې د مورپلار په کورکښې اوسیږی کورته به ئې نه راولم آیا په دې الفاظو سره ځما په نکاح باندې څه اثر پریوتلې دې یا نه؟ شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: کمال خان حائل سعودیه عربیه.... ۱۴۰۱ھ ۱۸\۴\۱

الجواب: ښځه ځما پاتې شوې ده نه صریح دې نه کنایه په دې سره ښځه مطلقه نه کیږی چه کله نیت او اراده د طلاق هم نه وی﴿۱﴾ وهو الموفق

د کور نه لاړه شه ځما نه فارغه شه خاوند اوکړه وغیره الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې باره کښې چۀ یو سړی خپلې ښځې ته دا الفاظ وئیلی دی ته ځما د کور نه لاړه شه ځما نه فارغه ئې. زه بل خاوند اوکړه. اوس زه تا د ښځې په حیثیت سره ساتل نه غواړم. درې ځلې ئې دا الفاظ استعمال کړی دی او ډیر بې دردئ سره ئې په بد شان ښځه وهلې ده او دائې هم وئیلی دی زه به ستا د پلار نه مبلغ پنځه زره روپئ د واده خرچه اخلم، اوس د طلاق څه حکم دې؟ واقع دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: میرعبدل ډهوک...... ۱۹۷۶ء ۲۹\۹\۱ ×

الجواب: که چرته خاوند دا الفاظ د طلاق په نیت او ارادې سره وئیلی وی نو دا

﴿۱﴾ وفی الهندیة: قد اتفقوا جمیعا انه لو قال والله ما انت لی بامرأة او لست والله لی بامرأة فانه لا یقع شئ وان نوی ولو قال لاحاجة لی فیک ینوی الطلاق فلیس بطلاق.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۵ الفصل الخامس فی الکنایات)

ښځه مطلقه شوه او د عدت نه پس باقاعده بل ځائ واده کولې شی، کمـــا فی شرح التنویر لاتطلق بها قضاء الابنیة او دلالة الحال، وفی ردالمحتار: قول قضاء قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة ولو وجدت دلالة الحال: ۱ ۶۳۶﴿۱﴾ وهوالموفق

ښځې ته په ''ځه،، ویلو سره د طلاق مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین د شرع متین دې مسئلې باره کښې چه ما ښځې ته وئیلی وو چه ته ډیره غټه ئې، نوهغې اووئیل چه نرئ مې کړه، نوما جواب ورکړو چه ''ځه،، او معمولی وقفې سره مې وئیلی ووچه دا تا نوې خبره اوکړه حالانکه د طلاق وغیره مې بالکل نیت نه وو،آیا په ''ځه،، لفظ سره طلاق واقع شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام سرور ډاك شبینه راوالپنډی.... ۱۸۱۹۱۱۹۷۰

الجواب: په مسئوله صورت کښې دطلاق نیت نه کیدوپه وجه په نکاح باندې څه اثر نه پریوځی.لان الکنایات لایقع بها الطلاق الا بالنیة کمـــا فی ردالمحتـــار ۲:۶۳۶﴿۲﴾ وهوالموفق

که........زما په ښځه باندې څه حق نه وی. دا الفاظ کنایه دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زید دخپلې منکوحې په مخکښې دا الفاظ اووئیل په دې حال کښې چه دۀ دطلاق اراده کړې وه لیکن د ګواهانو منع کولو سره ئې طلاق ورنکړل بیائې دا الفاظ اووئیل که چرې زۀ ددې کوهی نه د دوه درې ورځو په ارادې سره د منکوحې د اجازت نه بغیر چرته لاړم نوبیا به زما په هغې باندې هیڅ حق نه وی، بیا زید په پټه د

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۵۰۲ باب الکنایات)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: فالکنایات لا تطلق بها قضاء الا بنیة او دلالة الحال.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۰۱،۵۰۲ باب الکنایات)

منکوحې د اجازت نه بغیر چرته لاړۀ، او یوکال پورې غائب اوسیدلو، آیا طلاق واقع شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالهادی ګندف صوابی.... ۱۲۱۲۱۱۹۷۴ء

الجواب: دا لفظ چه زما به ښځې باندې څه حق نه وی، لا سبیل لی علیك سره برابر دې اودا لفظ د کنایاتو نه دې. کما صرّح به فی الهندیة ۱:۴۰۰ ﴿۱﴾ پس دې لفظ سره یعنی زما به په ښځه باندې څه حق نه وی، ظلاق بائن واقع شو په دې شرط چه خاوند په دې لفظ سره طلاق مراد اخستې وی.

کما فی ردالمحتار ۲:۶۳۶ قوله قضاء قید به لانه لا یقع دیانة بدون النیة ولو وجدت دلالة الحال ﴿۲﴾. وهوالموفق

''ماته ستا ضرورت نشته،، الفاظ کنایه دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زید خپې ښځې ته اووئیل چه ماته ستا ضرورت نشته، ښځه خپل مورپلار کره لاړه، درې میاشتې تیرې شوې نود زید پلار د زید سخرګنئ کره لاړۀ اوخپله اینګورئې کورته راوستله.اوس عرض دادې چه د پورته ذکر شوو الفاظو په وجه زید ښځې ته رجوع کولې شی؟آیا دا مطلقه بائنه شوې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عنایت الاسلام بلیتنګ کوهاټ.... ۵۱۹۱۱۹۷۰ء

﴿۱﴾ وفی الهندیة: والحق ابو یوسف رحمه الله تعالیٰ بخلیة وبریة وبائن وحرام اربعة اخریٰ ذکرها السرخسی فی المبسوط وقاضی خان فی الجامع الصغیر وآخرون وهی لا سبیل لی علیک لاملک لی علیک.

(فتاویٰ عالمګیریة ۱:۳۷۵ الفصل الخامس فی الکنایات)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰۲ باب الکنایات)

الجواب: چونکه دا الفاظ د کناياتو نه دی لهٰذا که خاوند د طلاق نيت او ارادې سره وئيلي وی نويو طلاق بائن واقع شو .اوکه د طلاق ورکولو ارادې سره نه وی، د توهين وغيره ارادې سره وی نو طلاق به نه کيږی.

فى الدر المختار: كنايته مالم يوضع له واحتمله وغيره فالكنايات لا تطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال، قال العلامة الشامى: قيد به لانه لا يقع ديانة بدون النية ﴿۱﴾(ردالمحتار ۲:۶۳۶)

بلکه د بعضې عباراتو نه معلوميږی چه دا الفاظ د طلاق نه نۀ دی لهٰذا د نيت باوجود هم دې سره طلاق نه واقع کيږی.قالوا فى الهندية ۱:۴۰۰ ولو قال لا حاجة لى فيك ينوى الطلاق فليس بطلاق ﴿۲﴾.وهوالموفق

د ``ما پريخوده،، الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء ددين دې مسئلې باره کښې چه ``ما پريخوده،، دا الفاظ په طلاق کښې څه حکم لری؟ بينوا توجروا

المستفتى:........ نامعلوم ....

الجواب: واضحه دې وی چه دا لفظ يعنی ``پريخودل،، په طلاق اوغيرطلاق دواړو کښې کثرت سره استعماليږی، د قرائنو په وجه د يو تعين کيږی، پس په ظاهره به دا لفظ د ``ترکتها،، په شان دکناياتو نه وی، چه په دې کښې د نيت نه بغيرطلاق نه واقع کيږی.دغسې دا لفظ که چرې په طلاق کښې مشهوروی نو په طلاق بائن کښې به مشهوروی،داهل عرف په نزد بينونت مراد اخستلې شی. **والصريح قد يقع به البائن كما فى ردالمحتار ۲:۶۳۹ ﴿۳﴾ والصريح لا يقع به الطلاق ديانة عند عدم النية كما فى**

﴿۱﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۵۰۱،۵۰۲ باب الكنايات)

﴿۲﴾(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۳۷۵ الفصل الخامس فى الكنايات)

﴿۳﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۹، ۵۰۴ قبيل مطلب لااعتبار بالاعراب هنا باب الكنايات)

ردالمحتار ۲:۵۹۳ ﴿۱﴾ نعم اذا كان هازلا فيقع طلاقه لكونه ناويا زجرا ﴿۲﴾ وللحديث المشهور ﴿۳﴾ فافهم. وهوالموفق

``ښځه زما نه آزاده ده زۀ دهغې نه آزاد يم،، په بائن کښې مشهور دی

سوال: څه فرمائی علماء ددين د شرع متين دې مسئلې باره کښې چه د زيد ښځه د دريو کالونه جدا ده په دې موده کښې زيد يوه پيسه هم دخرچې دپاره نه ده ورکړې.اونه ئې دا توجه کړې ده چه دا زما ښځه ده. د ګڼرجماعت په مخکښې ددۀ نه دوه قسمه الفاظ اوريدلی شوی دی.يوځل ئې اووئيل چه کورته راغله نو ناسته به وی خو ښځه به ترې نه جوړوم.که رانغله نو زما نه ده

﴿۱﴾ **قال العلامة ابن عابدين: (قوله غير عالم بمعناه) كما لو قالت لزوجها اقرأ على اعتدى انت طالق ثلاثا ففعل طلقت ثلاثا فى القضاء لا فيما بينه وبين الله تعالىٰ اذا لم يعلم الزوج ولم ينو بحر عن الخلاصة.**

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۱ قبيل مطلب فى طلاق المدهوش)

﴿۲﴾ **قال العلامة الشامى: (قوله هازلا) اى فيقع قضاء وديانة...... بانه مكابر باللفظ فيستحق التغليظ وكذا فى البزازية...... وبعد صفحة...... (جعل هزله به جدا) لانه تكلم بالسبب قصدا فيلزمه حكمه وان لم يرض به.**

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۵۹،۴۶۱ مطلب فى تعريف السكران وحكمه)

﴿۳﴾ **قال رسول الله ﷺ: ثلاث جدهن جد وهزلهن جد النكاح والطلاق والرجعة وفى رواية والعتاق وفى رواية واليمين، وقال على كرم الله وجهه: ثلاثة لا لعب فيهن الطلاق والعتاق والنكاح. (رواه الخمسة (احمد واصحاب السنن) الا النسائى عن ابى هريرة وقال الترمذى حديث حسن غريب واخرجه الحاكم وصححه والدارقطنى وفى اسناده ابن اذدک وهو مختلف فيه.**

(نيل الاوطار ۶:۲۳۴ وما بعدها نصب الراية فى الهامش ۳:۲۲۳)

پکار، دویم ځل ئې اووئیل چه زما ښځه زما نه آزاده ده او زهٔ دهغې نه آزاد یم، کثیر جماعت ددې الفاظو شاهد دې، آیا دې سره طلاق واقع شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری عبدالرؤف هائی سکول ډاګئ...۱۹۷۵ء۱۹۱۲۸

الجواب: واضحه دې وی چه دا لفظ زما نه آزاده ده پخپله کنایه دی لیکن زمونږ په عرف کښې دا لفظ په طلاق بائن کښې مشهوردی لهٰذا بشرط صدق وثبوت دې سره طلاق (بائن) واقع کیږی.

فلیراجع الی ردالمحتار ۲:۶۳۸،۶۳۹ ففیه ذکر بعض نظائره﴿۱﴾. وهوالموفق

ته زما هیڅ نه کیږې.. زهٔ ذهنی طور باندې ددې نه فارغ یم.. الفاظ کنائی دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زید په مزاق (ټوقو) کښې خپلې ښځې ته اووئیل چه ''زما هیڅ نه کیږې،، ددې کلام په وخت کښې دزید نیت دطلاق یا ښځې سره د تعلق ختمولو وغیره نه وو، آیا دې سره په نکاح باندې څه اثر پریوځی؟ دغسې یوسړی دخپلې ښځې باره کښې اووئیل چه ''زهٔ ذهنی طورباندې ددې نه فارغ یم،،اوریدونکی اووئیل چه آیا

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: وقد صرح البزازى اولا بان حلال الله على حرام بالعربية اوالفارسية لا يحتاج الى نية حيث قال ولو قال حلال ايزد بروى او حلال الله عليه حرام لا حاجة الى النية وهو الصحيح المفتى به للعرف وانه يقع به البائن لانه المتعارف ثم فرق بينه وبين سرحتک فان سرحتک كناية لكنه فى عرف الفرس غلب استعماله فى الصريح فاذا قال رها كردم اى سرحتک يقع به الرجعى مع ان اصله كناية ايضا وما ذاک الا انه غلب فى عرف الفرس استعماله فى الطلاق وقد مر ان الصريح ما لم يستعمل الا فى الطلاق من اى لغة كانت لكن لما غلب استعمال حلال الله فى البائن عند العرب والفرس وقع به البائن...... فيتوقف الآن وقوع البائن به على وجود العرف...... وكونه التحق بالصريح للعرف لا ينا فى وقوع البائن به فان الصريح قد يقع به البائن الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰۳،۵۰۴ قبيل مطلب لا اعتبار بالاعراب هنا)

ستا ددې نه طلاق مراد دې؟ هغه په جواب کښې اووئیل چه زما نیت او مراد فی الحال دطلاق نه دې، البته په آئنده کښې مې دطلاق ورکولو اراده ده، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اکرم کویت.......۱۹ ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: په دې دواړو صورتونو کښې ښځه نه طلاقه کیږی.ځکه چه کنایاتو کښې نیت د طلاق موجود کیدل ضروری دی او دلته نیت موجود نه دې.(کما فی الشامية ﴿۱﴾ والهندية﴿۲﴾ والبحر ﴿۳﴾.وهوالموفق

''ماته ددې حاجت نشته بل ځائې کښې ددې نکاح اوکړه.. دې سره د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علمائې دین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړی اووئیل چه ''ماته ددې (ښځې) حاجت نشته بل ځائې کښې ددې نکاح اوکړه،، آیا دې دواړو الفاظو سره طلاق واقع شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمید ایس وی لدها ډی آئی خان

الجواب: دا لفظ چه ''ماته ددې حاجت نشته،، د طلاق د الفاظونهٔ دی، او

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: فالكنايات لا تطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال، قال ابن عابدين: (قضاء) قيد به لانه لا يقع ديانة بدون النية ولو وجدت دلالة الحال.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۵۰۱،۵۰۲ باب الكنايات)

﴿۲﴾ وفى الهندية: الكنايات لا يقع بها الطلاق الا بالنية او بدلالة حال كذا فى الجوهرة النيرة.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۳۷۴ الفصل الخامس فى الكنايات)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجيم: (قوله لا تطلق بها الا بنية او دلالة الحال) اى لا تطلق بالكنايات قضاء الا باحدى هذين لانها غير موضوعة للطلاق بل موضوعة لما هو اعم منه.

(البحر الرائق ۳:۲۹۸ باب الكنايات)

دا لفظ چه ``بل ځائې کښې ددې نکاح اوکړه،، دطلاق د الفاظو نه دی، کله چه د طلاق نیت او ارادې سره وئیلې شوې وی(هندیة) ﴿۱﴾ وهوالموفق

``ځوک ښهٔ سړې اوګوره د خپلې لور رشته ورسره اوکړه،، ددې حکم

سوال: څه فرمائی علمائې دین د شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د نابالغ جینۍ اوهلك نکاح شوې وه کله چه هلك بالغ شو، د اختلاف په وجه ئې د جینۍ مورپلار ته کراچۍ ته دخط په ذریعه اولیکل چه تاسو وایئ چه ته خپل مور پلار پریږده نوهله به مونږ رشته درکړو ګنی نه ئې درکړو، اوس خوما وادهٔ هم نه دې کړې نو زما پلار زما نه جدا کوئ، کله چه زهٔ وادهٔ اوکړم نوبیا به مو څه رویه وی، زهٔ قطعاً ستاسو د لور کومه چه زما منکوحه ده دهغې خواهش مند نه یم، تاسو ځوك ښه سړې اوګورئ دخپلې لور رشته ورسره اوکړئ زما دطرفه اجازت دې او زما سامان کوم چه ما دنکاح په وخت جینۍ ته ورکړې وو هغه واپس زما کورته راؤرسوئ او زما خلاف عدالت کښې قانونی کاروائی مه کوئ اوپه قومی جرګه کښې کینۍ ماسره لین دین ختم کړئ وغیره، ددې الفاظو او دخط څه حکم دې آیا طلاق واقع شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: رفیق محمد هری پور ۱۹۷۱ء۱۲۱۱۰۲

الجواب: که خاوند دا الفاظ چه ``ځوك ښهٔ سړې اوګورئ دخپلې لور رشته ورسره اوکړئ،، دنکاح ختمولو ارادې سره ئې وئیلې وی نودا جینۍ طلاقه شوې ده ګنی نه ده طلاقه شوې، ونظیره ما فی الهندیة ۱:۴۰۰ وبابتغی الازواج

﴿۱﴾ وفی الهندیة: وبابتغی الازواج تقع واحدة بائنة ان نواها او اثنین وثلاث ان نواها هکذا فی شرح الوقایة...... ولو قال لا حاجة لی فیک ینوی الطلاق فلیس بطلاق...... ولو قال لها اذهبی فتزوجی تقع واحدة اذا نوی.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۵، ۳۷۶ الفصل الخامس فی الکنایات)

تقع واحدة ان نواها الخ ﴿۱﴾. وهوالموفق

``طلاق ورکړه نو ته آزاد ئې، جواب کښې ئې اووئیل زهٔ آزاد یم،،

دا طلاق بائن دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه مثلاً د زید نکاح په ماشوم والی کښې د زینب (نابالغې) سره شوې وه، د زید د بالغ کیدونه پس پلار هغهٔ ته په یواځې والی کښې اووئیل چه اوس مونږ ستا دښځې رخصتی کوو او کورته ئې راوستل غواړو، زید اووئیل چه زهٔ وادهٔ نه کوم، ددهٔ مراد زینب سره وادهٔ نه کول وو، پلار ئې اصرار کولو اوهلك انکار، بیا ورته پلار اووئیل چه ښه بیا طلاق ورکړه، هلك اووئیل چه زه طلاق ورکوم، دا خبرې اترې په کمره کښې کیدلې خلق بهر په انتظار کښې وو، پلار ځوی ته اووئیل چه ښه بهرته راشه دخلقو په مخکښې طلاق ورکړه، بهرته د راتلونه پس داسې خبرې اوشوې چه پلار اووئیل طلاق ورکړه ته آزاد ئې، زید اووئیل زه آزاد یم، ددغسې الفاظو د دواړو طرفې نه څوځل تکرار اوشو، بیا پلار اووئیل چه آیا ته لا تعلق ئې زید اووئیل چه زه لا تعلق یم، په دې لیکلی شوی صورت کښې کوم طلاق واقع شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رمضان کندیان میانوالی.... ۱۹۷۲ء۱۹۱۰۳

الجواب: په زید باندې خپله منکوحه مطلقه بائنه شوې ده،

لان هذین اللفظین من الکنایات لان الکنایة ما لم یوضع للطلاق واحتمله وغیره وحکمها وقوع الطلاق عند النیة والارادة ﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۵ الفصل الخامس فی الکنایات)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: کنایة (الطلاق) ما لم یوضع له ای الطلاق واحتمله وغیره فالکنایات لا تطلق بها قضاء الا بنیة او دلالة الحال.

(الدرالمختار هامش ردالمحتار ۲: ۵۰۱ باب الکنایات)

باب تعليق الطلاق

په تعلیقی طلاق کښې شرط که اصالةً پوره کړی یا وکالةً حنث واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زید اووئیل چه په ما باندې زما منکوحه په دریو شرطو سره طلاقه وی که زۀ دخپلې لور رشته خورئی ته ورکړم، اوس که زید دخپلې لور اختیار ترۀ یا نیا ته ورکړی چه هغه چاته غواړی زما لور ورکړی، اوس که ترۀ یا نیا ددې جینۍ رشته هغه هلك ته ورکړی دچا قسم چه زید کړې دې نوآیا په دې صورت کښې به زید باندې طلاق راځی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سلیمان بابر ګړهی حبیب الله

الجواب: زید که دا لور اصالةً یا وکالةً خورئی ته په نکاح کښې ورکړه، نو په ده باندې به ښځه مطلقه مغلظه شی، لوجود الشرط ﴿۱﴾ لهٰذا د زید داطلاع نه بغیر اودهغه د اختیارنه بغیر دې نور رشته داران مثلاً ترۀ یا پلار یا نیا عقد دنکاح اوکړی اود جینۍ نه دې اجازت واخلی که بالغه وی، ګنی داجازت نه بغیر دې عقد دنکاح اوکړی﴿۲﴾ مختصر داچه په دې نکاح کښې دې زید هیڅ مداخلت نه کوی.﴿۳﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الامام ابوالليث السمرقندی: والفاظ الشرط ستة...... فمتی ما وجدت هذه الشرائط انحلت اليمين وانتهى الامر. (خزانة الفقه ۱۱۹ مبحث الفاظ الشرط)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: حلف لا يتزوج فزوجه فضولی فاجاز بالقول حنث وبالفعل ومنه الكتابة خلافا لابن سماعة لا يحنث به يفتی خانية. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳: ۱۵۰ مطلب حلف لا يتزوج فزوجه فضولی)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: فلو حلف لا يتزوج فعقده بنفسه اْو وكل فعقد الوكيل حنث. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۱۲۹ مطلب حلف لا يتزوج)

اراده د تعلیقی طلاق وه لیکن د غفلت په وجه تنجیزی صادرشو

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زید خپل پلار ته اووئیل چه یا خو زما تنخواه د درې سوه نه زیاته کړه پنځه سوه ئې کړه، یا ما دخپل ځان نه جدا کړه، لیکن د زید پلار نه منی، زید طلاق د وسلې په طور د استعمالولو اراده اوکړه په دې وجه ده خپل زړه کښې دا الفاظ تیارکړل ''فلانۍ نن ته دخپل مورپلار کورته لاړه شه ګنی تاته درې طلاقه اوکه زما داجازت نه بغیر راغلې نوبیا هم تاته درې طلاق،، کافی وخته پورې په دې الفاظو باندې غورکولو چه چرته دا الفاظ خطرناك نه وی، دکافی سوچ او فکرنه پس زید دې نتیجې ته اورسیدۀ چه څه دا الفاظ خطرناك نه دی ځکه که پلار صاحب راله تنخواه زیاته کړه نو خپله ښځه به واپس راولم، بهرحال زید دا الفاظ څو ځله زړه کښې وارول، اوښه ئې یاد کړل لیکن ددې باوجود ئې دطلاق ورکولو په وخت په غلطۍ او جلتۍ کښې دا الفاظ اووئیل ''فلانۍ نن ته دخپل پلار کورته لاړه شه تاته درې طلاق،، دومره وئیلو سره دۀ ته دخپلې غلطۍ احساس اوشو چه ده خو لفظ ''ګنی،، استعمال نه کړو، لهٰذا د وقفې نه بغیر ئې فوراً الفاظ صحیح کړل اوداسې ئې اووئیل ''فلانۍ نن ته دخپل مورپلار کورته لاړه شه ګنی تاته درې طلاق،، د زید ښځه دغه وخت د مورپلار کورته لاړه، دوه ورځې پس د زید پلار په تنخواه زیاتولو باندې راضی شو بیا زید خپلې ښځې ته کورته د راتلو اجازت ورکړو. اوس سوال دادې چه آیا د زید دخطا په وجه یعنی لفظ د ''ګنی،، نه استعمالولو په وجه اګرچه ده دوباره الفاظ صحیح کړی دی آیا په زید باندې خپله ښځه حرامه شوې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محبوب الرحمٰن........۱۹۷۵ء\۴۱\۱۲

الجواب: بشرط صدق دې خاوند (زید) باندې خپله ښځه مطلقه شوې نه ده، ځکه چه ده اراده دتعلیق کړې وه لیکن دغفلت په وجه دتنجیز الفاظ صادرشول، یدل علیه ما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۸۴ او مخطئا بان اراد التکلم بغیر الطلاق فجری علی لسانه الطلاق (الیٰ ان قال) یقع ....

قضاء فقط بخلاف الهازل واللاعب فانه يقع قضاء وديانة فافهم ﴿١﴾.

نوټ: ..... که دې خاوند منجز عمداً ذکرکولو سره معلق مراد اخستې وی نو په ده باندې به ښځه مطلقه مغلظه وی. ﴿١﴾ وهوالموفق

په يمين بتعليق الطلاق کښې کفاره ورکولو سره کارنه جوړيږی

سوال: څه فرمائی علمائې دين دې مسئلې باره کښې چه زيد دخپل ځوی نه خفه شوې دې اووائی چه که زهٔ ستا نه راضی شم يا څه تعلق درسره اوساتم نو په ما باندې زما ښځه او ستا مور درې شرط سره طلاقه ده، اوس که مسمیٰ زيد په څه وجه دهلك نه راضی شی نو قسم به لازم وی يا نه؟ اوکفاره به لازم وی يا نه؟ که کفاره لازم شی نو څه او څومره، لږ وضاحت غواړو؟ بينوا توجروا

المستفتی: مولوی جميل احمد امام مسجد کڼا ايبټ آباد.. ٤١٩٧٤\١١|١٢

الجواب: واضحه دې وی چه يمين مذکوره يمين بالله نه دې چه کفارې سره کارجوړشی بلکه دايمين بالتعليق دې ﴿٣﴾ په دې وجه که دا سړې زيد دخپل

﴿١﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٤٦١ کتاب الطلاق)

﴿٢﴾ وفی الهندية: ولو قال انت طالق ثم ان دخلت الدار فانه يقع الطلاق ولو نوی التعليق لا تصح نيته اصلا. (فتاویٰ عالمگيرية ١: ٤٢١ الفصل الثالث فی تعليق الطلاق)

﴿٣﴾ قال العلامة الحصكفی: اليمين عبارة عن عقد قوی به عزم الحالف علی الفعل اوالترک فدخل التعليق فانه يمين شرعا، قال العلامة ابن عابدين: لانه يقوی به عزم الحالف علی الفعل فی مثل ان لم ادخل الدار فزوجته طالق وعلی الترک فی مثل ان دخلت الدار...... وبعد صفحة...... (وحكمها البر او الكفارة) ای البر اصلا والكفارة خلفا كما فی الدر المنتقیٰ وانت خبير بان الكفارة خاصة باليمين بالله تعالیٰ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ٣: ٤٩، ٥٠ كتاب الايمان)

ځوی نه راضی شی یا دځوی سره تعلق اوساتی نو په ده باندې به ښځه مطلقه مغلظه شی. لان المعلق بالشرط يجب ثبوته عند ثبوت الشرط كما فی شرح المجلة ٥٤ ﴿١﴾ اوس تدبير دادې چه دا شرط لګونکې (زيد) دې ښځې ته يو طلاق بائن ورکړی او د عدت تيريدو نه پس دې ځوی سره راضی نامه اوکړی او تعلق دې ورسره اوساتی ددې نه پس دې تجديد د نکاح اوکړی. صرح بها فی الهندية ٦: ٤١٠ ﴿٢﴾ وهوالموفق

د طلاق تفويض، عزل وکيل، اوپه دې کښې دګواهئ وغيره مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې لاندېنو مسئلو باره کښې:

(١) زيد په دې الفاظو خپل پلارته دحق طلاق تفويض اوکړو چه کله غواړې اوڅنګه غواړې ځما پلاره ځما ښځې ته طلاق ورکولې شی او بيا دا اختيار واپس اخلی نو آيا دا اختيار واپس دخپل پلارنه اخستلې شی؟ (٢) دزيد پلار طلاق ددی خبری سره معلق کړو که چرته دزيد ښځه زمونږه دمرضې نه بغير چرته لاړه شی یا دچا سره لاړه شی نو ديته شرعی طلاق مغلظه دی ليکن ددې خبری علم زيدته هم نشته او نه دزيد ښځی ته شته که چرته دزيد ښځه ددې شرط خلاف اوکړی نو دعدم علم باوجود آيا طلاق واقع شو؟ که چرته طلاق واقع کيږی نو ايا زيد دوباره نکاح کولې شی؟ (٣) دزيد پلار طلاق معلق کړی داوائی که چرته دشرط خلاف ورزی وی نو شرعا طلاق مغلظه، او ددې سره ئې دبل کوم لفظ يانيت اظهار نه ووکړې نو ايا په دی سره طلاق واقع شو؟ (٤) کله چه زيد اصرار کوی چه ما دخپل پلار نه دطلاق اختيار دده دطلاق نافذيدو نه مخکښې اخستې وو نو آيا دزيد دپلار سره دطلاق ورکولو اختيار بيا باقی پاتې کيديشی؟ (٥) زيد په دې خبره کلک دې چه ځمانه دتفويض په کاغذ

﴿١﴾ (شرح المجلة للآتاسی ١: ٢٣٢ مادة: ٨٢)

﴿٢﴾ وفی الهندية: اذا حلف بثلاث تطليقات ان لا يكلم فلانا فالسبيل ان يطلقها واحدة بائنة ويدعها حتى تنقضی عدتها ثم يكلم فلانا ثم يتزوجها كذا فی السراجية. (فتاویٰ عالمگيرية ٦: ٣٩٧ كتاب الحيل الفصل السابع فی الطلاق)

په مطلب باندی جبرادستخط اخستلې شویدې اوپه دې وخت ددې الفاظو په مطلب باندې نه پوهیدلم لیکن دزیدپلار دوه داسې ګواهان پیش کړه چه دا ګواهي ورکوی چه زیدپه خوښه اوبغیر دجبر اواکراه نه دستخط کړی لیکن دادوه ګواهان دزیددپلارملازمان دی په دې صورت کښې به دګواهانو سره د زید خبره قابل ترجیح وی او که نه د زید دپلار؟بینوا توجروا

المستفتی:محمدادریس c\o ناظم مدرسه نصرةالعلوم ګجرانواله۱۲ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

جواب:که چرته داتفویض یعني توکیل بالطلاق مسلم یاباقاعده مبرهن وی اودی خوځ ددې عزل مزعومه نه پلارته باقاعده خبر نه وی کړې نوددې وکیل(والد)ورکړځ شوې طلاق نافذاو منظور دی ګڼنی کالعدم دې مختصر جوابات لاندینی دې:(۱) داموکل داوکیل معزولولې شی لیکن دې وکیل ته به باقاعده داطلاع کولو نه مخکښې عزل نامنظوروی(هندیه ۲:۲۳۸)﴿۱﴾-(۲) داتعلیق صحیح دې اود تحقق په وخت کښې به دا ښځه مطلقه مغلظه وې (هدایه ۲:۳۲۵)﴿۲﴾-(۳) که چرته داوکیل تعلیم یافته نه وې نو دبینونت خفیفه احتمال قوې احتمال دې﴿۳﴾-

---

﴿۱﴾وفی الهندیة: ومنه عزل الموکل ایاه ولصحة العزل شرطان احدهما علم الوکیل به لان العزل فسخ للعقد فلا یلزم حکمه الا بعد العلم به کالفسخ فاذا عزله وهو حاضر انعزل وکذا لو کان غائبا فکتب الیه کتاب العزل فبلغه الکتاب وعلم بما فیه انعزل...... وان عزله الموکل واشهد علی عزله وهو غائب ولم یخبره بالعزل احد لا ینعزل ویکون تصرفه قبل العلم بعد العزل کتصرفه قبل العزل فی جمیع الاحکام.
(فتاویٰ عالمگیریة ۳:۶۳۷ الباب التاسع فیما یخرج به الوکیل عن الوکالة)

﴿۲﴾قال العلامة المرغینانی: واذا اضافه الی شرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق وهذا بالاتفاق. (هدایة ۲:۳۸۵ باب الایمان فی الطلاق)

﴿۳﴾وفی الهندیة: ولو قال انت طالق اقبح الطلاق او افحشه او اخبثه او اسوأه او اغلظه او اشره او اطوله...... ولم ینو شیئا او نوی واحدة او ثنتین فی غیر الامة کانت واحدة بائنة وان نوی ثلاثا فثلاث کذا فی التبیین.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۷۲ الفصل الثالث فی تشبیه الطلاق ووصفه)

(۴) وکیل ته داطلاع ورکولونه مخکښې داعزل کالعدم ګڼې﴿۱﴾-(۵) بینه اکراه ته به په بینه طوع باندې ترجیح ورکولې شی(درمختار ۴:۵۳۵)﴿۲﴾-
وهوالموفق

خوځ خپل پلار ته تفویض طلاق کولې شی اووکیل هم جوړولې شی

سوال: څه فرمائي علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو کس خپلې ښځې ته دطلاق ورکولو حق خپل پلارته داسې تفویض کړو. .چه فلان بن فلان په بلوغ اوعقل اوهوش په خوښه بلاجبر اواکراه خپلې ښځې ته دخپل طلاق ورکولو مکمل حق خپل پلار فلان ته تفویض کومه هغه چه کله غواړی څما منکوحې ته طلاق ورکولې شی. .لاندې دستخط اود دووګواهانو نومونه هم دی ایا داپلار ددې هلک منکوحې ته طلاق ورکولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد عبدالله مدرسه تعلیم القران خانیوال۱۲ذی قعده ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا توکیل اوتفویض صحیح اونافذدې داپلار دخوځ ښځې ته هروخت او هر قسم طلاق ورکولې شی او خوځ پلار معزول کولې هم شی.یدل علی ذالک مافی شرح التنویر :واذا قال لرجل ذلک لم یقید بالمجلس لانه توکیل فله الرجوع﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾وفی الهندیة: ومنه عزل المؤکل ایاه...... وان عزله الموکل واشهد علی عزله وهو غائب ولم یخبره بالعزل احد لا ینعزل ویکون تصرفه قبل العلم بعد العزل کتصرفه قبل العزل فی جمیع الاحکام. (فتاویٰ عالمگیریة ۳:۶۳۷ الباب التاسع، کتاب الوکالة)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: وبینة الاکراه فی اقراره اولی من بینة الطوع.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴:۴۳۱ قبیل باب الاختلاف فی الشهادة)

﴿۳﴾قال العلامة الحصکفی: واما فی طلقی ضرتک وقوله لاجنبی طلق امرأتی فیصح رجوعه منه ولم یقید بالمجلس لانه توکیل محض.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۱۷ باب تفویض الطلاق)

د قسم او طلاق معلق یوصورت

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه یوکس دخپلې لور رشته خپل وراره ته ورکړه د خفګان پیداکیدونه وروسته ده په دې الفاظو سره انکارا وکړو چه (۱)زه که چرته مذکوره وراره ته خپله لور واده کړم نوزه به قران مجیدنه فارغ یم. (۲) زه که چرته مذکورته جینئ ورکړم نو په ما باندې ښځه طلاقه(یوځلې وئیلی دی). (۳) په جرګه کښې چه کله هغه خلقو مجبور کړو اود اصرار په موقع باندې یوکس هغه ته اووئیل چه کله رشته شوې وی هغه په اصل شریعت کښې(بمعنی نکاح) شو په دې باندې ده جواب ورکړو چه زه دا شریعت (بمعنی نکاح) نه منم.اوس خلقو شورشروع کړیدې چه ده دشریعت نه انکار وکړو ځکه چه داهرڅه ده ناواقفی دوجې نه شوی دی اوس شریعت کښی ددې سړی څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حنیف الرحمٰن معلم دینیات پرائمری سکول مری

جواب:(۱) داقسم دې په دې باندې نه کافر کیږې﴿۱﴾ -(۲) داطلاق معلق دی که چرته ده جینئ ورکړله نو دده ښځه په یو طلاق رجعی باندی طلاقیږی﴿۲﴾ لیکن ددې حکم اسان دې یعنی ښځې ته رجوع کولې شی ښځې ته به اووائی چه ماتاته رجوع اوکړه﴿۳﴾-(۳) ده تاویل دوجی نه

﴿۱﴾وفی الهندیة: ولو قال ان فعلت کذا فانا بریٔ من القرآن اوالقبلة اوالصلاة او صوم رمضان فالکل یمین هو المختار...... وکذا کل ما یکون البراء ة عنه کفرا کذا فی الخلاصة.

(فتاوٰی عالمگیریة ۲:۵۳ الباب الثانی فیما یکون یمینا وما لا یکون الفصل الاول)

﴿۲﴾وفی الهندیة: واذا اضاف الطلاق الی شرط وقع عقیب الشرط اتفاقا.

(فتاوٰی عالمگیریة ۱:۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق)

﴿۳﴾قال العلامة المرغینانی: واذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک او لم ترض لقوله تعالیٰ فامسکوهن بمعروف من غیر فصل. (هدایة ۲:۳۷۳ باب الرجعة)

کافر نه دې﴿۱﴾ اوهمداسې صرف رشته (بغیرایجاب وقبول)نکاح هم نه ده﴿۲﴾ خلاصه داده که چرته ده خپله لور په نکاح ورکړه نو کافر نه دې یو کفاره به دقسم ورکوی اوښځې ته به رجوع اوکړی ــ وهوالموفق

د طلاق بشرط تعلیق یا بطور تاکید مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه د پرویزه بی بی د خپل خاوند غلام سره جګړه وشوه د صلح دپاره ثالث دکلی نمبردار د پرویزه پلار زورآور ته اوازاوکړو هغه حاضر شو نو غلام ثالث ته اووئیل چه زورور او دده ښځې دواړونمبر دار ته سختې کنځلې کړیدی په دې باندی زورور او دهغه سره یو څو ګواهانو اووئیل چه مونږ ټول موجودوو اودوئ نمبر دار ته هیڅ کنځلې نه دی کړی نوغلام د خپلې ښځې پرویزه او ددې ده پلار نیکه نوم واخستلواو درې ځلې ئې طلاق واچولو چه څما ښځه د زورور لور اود فتح خان نوسئې په ماباندې په درې طلاقو حرامه ده چه زورور نمبر دار ته کنځلې کړیدی نوزورور(دجینئ پلار) هم قران او طلاق واچولواووئې وئیل چه مانمبردار ته بالکل کنځلې نه دی کړی اوهمداسی دزورور ښځی هم قران قسم اوکړو اوانکار کوې.ددې نه علاوه یو څونور کسان چه په یوڅوقدمه فاصله کښی موجود وو هغوی هم قران اوطلاق اچوی اووائې چه مونږ بالکل کنځلې وغیره نه دی اوریدلې په دې صورت کښی چه غلام کوم طلاق

﴿۱﴾وفی الهندیة: اذا کان فی المسئلة وجوه توجب الکفر ووجه واحد یمنع فعلی المفتی ان یمیل الی ذلک الوجه کذا فی الخلاصة.

(فتاوٰی عالمگیریة ۲:۲۸۳ قبیل الباب العاشر فی البغاة)

﴿۲﴾قال العلامة ابن البزاز الکردری: النکاح ینعقد بلفظ النکاح والتزویج کان علی وجه الخبر عن الماضی...... بمحضر من الشهود فیقول الرجل قبلت الخ.

(فتاوٰی بزازیة علی هامش الهندیة ۱:۳۲۱ کتاب النکاح الفصل الاول)

اچولي دي په دې باندې دده ښځه پرویزه بی بی طلاقه او حرامیږی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: فتح محمد تله ګنګ کیملپور...... ٢٢\٨\١٩٦٩ء

الجواب: که چرته د طلاق په ذکر کولو باندې د غلام مراد تاکیدوو نو ښځه په ده باندې مطلقه مغلظه شویده او که چرته مقصودئې تعلیق وی یعنې دامراد وی چه که چرته دوئې کنځلې نه وی کړی نو په ما باندې فلانه طلاقه ده نو ښځه مطلقه شوې نه ده کله چه دا اصرار کوی. بیشکه کله چه کنځل نه کول ثابت شول نو دغلام په اقراریا دښځی په قسم باندې (حاکم یا د ثالث په مخکښې د طلاق د دعوې نه پس) نو ښځه مطلقه مغلظه کیږی﴿١﴾قلت: ونظیر کونه تعلیقامافی ردالمحتار لوقال انت طالق لدخلت،وعلی الطلاق لا افعل کذا (٢: ٢٨٧)﴿٢﴾ لیکن عرف کښی په جوړ نظر باندې معلومیږی چه تعلیق مراد دې.وهوالموفق

په جرګه کښې په طلا ق ثلا ثه باندې دقسم اخستلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه ددووډلو په مینځ کښی دځمکې جهګړه وه ددې فیصله په جماعت کښی کیناسته دجرګې په موجودګئې کښې قران پاک په مینځ کښې کیخو دو د یو اقرار نامې په

﴿١﴾قال العلامة الخالد الآتاسی: المعلق بالشرط یجب ثبوته عند ثبوت الشرط. (شرح المجلة ١: ٢٣٢ مادة: ٨٢)

﴿٢﴾قال العلامة ابن عابدین: قلت وقد یکون الکلام متضمنا للتعلیق بدون تصریح باداته کما مر فی قوله ویکفی معنی الشرط الخ ومنه ما فی البحر حیث قال وفی المحیط وعن ابی یوسف لو قال انت طالق لدخلت فهذا یخبر انه دخل الدار او اکده بالیمین فیصیر کانه قال ان لم اکن دخلت الدار فان لم یکن دخل طلقت ولو قال انت طالق لا دخلت الدار بتعلق بالدخول ثم قال ولو قال انت طالق والله لا افعل کذا فهو تعلیق ویمین ولو قال انت طالق والله لا افعل کذا طلقت للحال ذکرهما فی جوامع الفقه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٥٤٢ مطلب مایکون فی حکم الشرط باب التعلیق)

ذریعه او شوه چه په هغې کښې ئې اوویل شو چه کومه ډله ددې اقرار نامې نه واوړیده دا ښځه په هغه باندې په دریو طلاقه طلاقه ده څه زمانه تیریدلو نه پس یوه ډله ددې وعدې نه واوړیدله اوس په دې ډلې باندی دطلاق د واقع کیدو څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحیم...... ٢٦\٨\١٩٧٥ء

الجواب: که چرته دې ډلی دې تعلیق باندې رضا مندی ښکاره کړې وی نو په دې ډلې باندې ښځه مطلقه کیږې او دخاموشی په صورت کښې په دې ډلې باندې ښځه نه مطلقه کیږی. کمافی الدرالمختار: جماعة یتحدثون فی مجلس فقال رجل منهم من تکلم بعد هذا فامرته طالق ثم تکلم الحالف طلقت امراته، وفی ردالمحتار ٢: ٦٣٥ سکت عما اذا تکلم غیره والظاهر انه لایقع لان تعلیق المتکلم لایسری حکمه الی غیره الااذا قال الغیر وانا کذالک مثلا فافهم﴿١﴾.وهوالموفق

که چرته بیع معلق بالطلاق کښې اقاله اوکړی نو دوباره د سره نوې بیع کښې حانث کیدل نه راځی

سوال: څه فرمائ علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید دخپل پلار نه جدا اوسیږی هغه په پلار باندی دغوئی خرڅولو خبره وکړه یو زر روپې باندې بیع وشوه لیکن کله چه هغه بل ورور خبر شو نو هغه انکار اوکړو او پلار ته ئې اوو ئیل چه تا زیات قیمت مقرر کړیدې مونږ شو په نهه سوه روپې دا غوئی اخلو پلار او ځامنو کښې په دې خبره داتفاق راغلو بیا پلار ټولې پنځه سوه روپې ورکړې او بقایا څلور سوه روپې دورکولو ئې اوئیل نو دی ځوئ زید اووئیل چه که چرته دې پنځوسوو روپو نه علاوه نور رقم واخلم نو خپله ښځه به مطلقه ساتم یعنی دائې اووئیل. چه طلاقه به ئې ساتم، اوس که چرته پلار ځوئ ته بقایا پیسې ورکړی نو ښځه مطلقه کیږې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا احمد شاه پشاوری...... ٦\٣\١٩٧٤ء

﴿١﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ٢: ٥٠١ قبیل باب الکنایات)

الفاظ د طلاقه به ئې ساتم.. الفاظ.. دا اول چه وی دې واضحه **الجواب:** واضحه دې وی چه اول دا الفاظ.. طلاقه به ئې ساتم.. الفاظ د طلاق نه دې اودویم که چرته داخبره اومنلې شی نو طلاق رجعی دې په کوم کښې چه صرف رجوع کافی ده اوتجدید د نکاح ته ضرورت نشته پس داخرڅونکې که چرته زیات رقم و اخلې نو هغه رجوع کولې شی﴿۱﴾ اوکه چرته ددی بیع اقاله اوکړی او غوئی واپس واخلی اوددې نه پس دوباره عقد وکړی نو دیکښې څه حرج نه راځی﴿۲﴾ —وهوالموفق

په نکاح نامه کښې د طلاق د تعلیق د شرط د ثبوت مسئله

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه زرخیز په وخت دو اده کښې دا شرط دخپلې ښځې په فارم نکاح کښې لیکلی ووچه ناجائز تکلیف

﴿۱﴾قال العلامة القهستانی: وصریحه ما استعمل فیه دون غیره مثل انت طالق ومطلقة وطلقتک...... ویقع به ای بمثل ما ذکر طلقة رجعیة لا یحتاج الی تجدید النکاح ولا رضاء المرأة الخ. (جامع الرموز ۱:۵۵۸ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾قال العلامة الحصكفی: اعلم ان التعلیق یبطل بزوال الحل لا بزوال الملک...... وبفوت محل البرکان کلمت فلانا او دخلت هذه الدار فمات او جعلت بستانا کما بسطناه فیما علقناه. قال ابن عابدین: (قوله وبفوت محل البر) نقله فی البحر عن الثانی لکن بلفظ ومما یبطله فوت محل الشرط کفوت محل الجزاء کما اذا قال ان کلمت فلانا الخ والتمثیل المذکور لفوات محل الشرط فان الشرط هو کلمت ودخلت ای مضمونهما وهو الکلام والدخول ومحلهما هو فلان والدار المشار الیها وفوت محل الجزاء کموت المرأة التی هی محل الطلاق فان بفوت هذین المحلین یبطل التعلیق لان التعلیق لا بد ان یکون علی امر علی خطر الوجود وقد تحقق عدمه ولا یقال یمکن حیاة زید بعد موته واعادة البستان دارا لان یمینه انعقدت علی حیاة کانت فیه کما قالوا فی لیقتلن فلانا وما اعید بعد البناء دار اخریٰ غیر المشار الیها کما صرحوا به ایضا فی لایدخل هذه الدار تامل.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۵۳۹،۵۴۰ قبیل مطلب فی مسئلة الکوز)

ورکړم کور نه ئې اوباسم یائې مورپلارکره اولیږم نو دا ښځه مذکوره په ما باندې مثلثه طلاقه شرعا ګرځیږی ورروسته دواده نه دوه میاشتې پس زرخیز خپله ښځه واپس دپلار په کور کښې شپږو کالو نه پریخودلې ده او کونډې مور اودیتیمانانو بچوسره خرچه کوی اوزرخیزمذکور نه خرچه ورکوی اونه ئې کورته راولی نو آیا په موجب د شرط مذکورطلاق کیږی؟ بلکه ددی خبرې ګواه هم موجود دې اوشرط مذکورپه نکاح فارم خانه نمبر ۱۷ کښې هم موجوددی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمد اکبر مولیاکوهاله مری.....۱۹۶۹،۱۵۱ء۲۰

الجواب: که چرته دا شرط نکاح د(ایجاب اوقبول) کولو نه پس لیکلې شوې وې نو دا ښځه په خاوند باندې مطلقه مغلظه شویده او که چرته دنکاح نه مخکښې لیکلې شوې وی نو دنکاح طرفته اشاره نه کولو سره لغوه دې او ښځه مطلقه نه ده﴿۱﴾ وهوالموفق

خربوزه راوړلو باندې طلاق معلق اووائی. د خټکی راوړلو څه حکم دې؟ او ددینه د وتلو حیله

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړی ښځې ته اووئیل که چرته ما دو باره خربوزه کور ته راوړله نو ته په ماباندی طلاقه ئې داسې ئې درې ځلې اووئیل که چرته دا کس دخربوزی په ځائې خټکې کورته راوړی ددې څه حکم دې؟ ځکه چه خربوزه اوخټکی کښې فرق دې ایا ستاسو په نزد په خربوزه او خټکی کښې فرق شته اوکه نه؟ چه په دې باندې

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واذا اضاف الطلاق الی النکاح وقع عقیب النکاح...... واذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا مثل ان یقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق ولا تصح اضافة الطلاق الا ان یکون الحالف مالکا او یضیفه الی ملک والاضافة الی سبب الملک کالتزوج کالاضافة الی الملک فان قال لاجنبیة ان دخلت الدار فانت طالق ثم نکحها فدخلت الدار لم تطلق کذا فی الکافی.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان واذا وغیرهما)

حکم مرتب شي اوس دا کس څه حیله اختیار کړي چه ددې یمین د طلاق نه
بری شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: دولت خان نرياب......۱۹۷۸ء/۹/۱۱

جواب: که چرته ددې کس ده دریځل مکررونیلو سره ددرې طلاقو تعلیق
مراد وي. تاکیدئی مراد نه وي نو د خربوزي د راوړلو په وخت په ده باندې
ښځه مطلقه مغلظه کیږي. کمافی شرح التنویر: لوقال ان دخلت الدار فانت
طالق ان دخلت الدار فانت طالق ان دخلت الدار فانت طالق وقع الثلث. وفي
ردالمحتار ۲: ۷۰۹ والظاهر انه ان نوی التاکید دين(۱) باقي داچه خربوزه او
خټکې یو دا دی او که بیل بیل؟ په دیکښې ستاسو عرف معتبر دې. کما في
ردالمحتار ۳: ۷۲ (قوله وعندنا على العرف) لان المتكلم انما يتكلم بالكلام
العرفي(۲) او ددریو طلاقو دواقع کیدلو په صورت کښې مخرج او تدبیر
دادې چه داسړې دې ښځې ته یو طلاق (بائن) ورکړي. او د عدت تیریدو نه
پس دې کورته دې خربوزه راوړي او بیا دې تجدید د نکاح وکړي. کما في
الدرالمختار ۲: ۶۹۰ فحيلة من علق الثلث بدخول الدار ان يطلقها واحدة ثم
بعد العدة تدخلها فتنحل اليمين فينكحها، فليراجع(۳) وهو الموفق

دڅا سره د خبرو نه کولو طلاق باندې د قسم

په صورت کښې دخبرې تعین د عرف نه کیږي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید عمرو ته اوئیل که
چرته ماتاسره خبرې وکړې نو په ما باندې خپله ښځه په دریو کانړو باندې

(۱) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۵۹ بعيد مطلب فيما لوتعدد الاستثناء)
(۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۷۸ مطلب الايمان مبنية على العرف)
(۳) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۵۴۵ قبيل مطلب اختلاف الزوجين في وجود الشرط)

طلاقه ده اوس که چرته زید عمرو ته بغیر دارادې نه آواز اوکړو یا ئې د شپې په
تیاره کښې خبرې وکړې لیکن زید ته علم نه وو چه دا عمرو دې یا په غټ جماعت
باندې عمرو سلام وکړو زید هم ناست وو - هغه اووئیل وعلیکم السلام نو ایا
طلاق واقع شو؟ ایا ددې طلاق ثلاثه نه دبچ کیدو څه حیله شته؟ یادارنګې
زید او عمرو دواړو چائې روټئ پخول زید یوه ورځ غصه شو اووې وئیل که
چرته څوک شرکت کوی نو هغه به غټ طلاقي وي ددې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: اقبال حسین بی اید نوشهره........۱۹۸۸ء/۲/۱۱

الجواب: دخبرو کولو او نه کولو متعلق تعین د عرف نه کیږي(۱) پس کومو
الفاظو ته چه عرف کښې خبرې کول وئیلې شي نو هغې سره طلاق ثلاثه واقع
کیږي(۲) برابره خبره ده که په ارادې سره وي یا بغیر ارادې سره وي چه په
هغې کښې باقاعده حلاله کول ضروري دي(۳) - لیکن که چرته زید ښځې ته
یو طلاق بائن ورکړي او عدت تیریدو نه پس عمرو سره خبرې وکړي او ددې
نه پس تجدید نکاح وکړي ددې تجدید نه پس ائنده دپاره هر قسمه خبرې به
ضرر رسان نه وي(۴) همدارنګې کوم کارونو ته چه عرف کښې ......

(۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله وعندنا على العرف) لان المتكلم انما يتكلم بالكلام العرفي اعني الالفاظ التي يراد بها معانيها التي وضعت لها في العرف كما ان العربي حال كونه بين اهل اللغة انما يتكلم بالحقائق اللغوية فوجب صرف الفاظ المتكلم الى ما عهد انه المراد بها فتح. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۷۸ مطلب الايمان مبنية على العرف)

(۲) قال العلامة المرغيناني: واذا اضافه (اى الطلاق) الى شرط وقع عقيب الشرط. (هداية ۲: ۳۶۴ باب الايمان في الطلاق)

(۳) قال العلامة الغنيمي الميداني: واذا كان الطلاق ثلاثا في الحرة..... ولو قبل الدخول لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها اى يطأها ثم يطلقها او يموت عنها وتنقضي عدتها منه. (اللباب في شرح الكتاب ۲: ۱۸۳ كتاب الرجعة)

(۴) وفي الهندية: اذا حلف بثلاث تطليقات ان لايكلم فلانا فالسبيل ان يطلقها واحدة بائنة ويدعها حتى تنقضي عدتها ثم يكلم فلانا ثم يتزوجها كذا في السراجية. (فتاوىٰ عالمگيرية ۶: ۳۹۷ كتاب الحيل الفصل السابع في الطلاق)

شرکت وئیلې شی﴿۱﴾ نو هغه موجب دطلاق رجعی ګرځی کوم کښې چه زبانی واپسی(رجوع) کافی ده﴿۲﴾ وهوالموفق

"که چرته ته ناراضه ئی نو داطلاق نامه واخله الخ"

تعلیق دطلاق دې نه چه تحقیق د طلاق

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړی واده وکړو یو هفته پس ئې کاغذ باندې طلاق نامه ولیکله الفاظ صرف داؤو چه که چرته ته ناراضه ئې نو ځما دطرفنه دا دطلاق نامې پرچه واخله. ښځه په دې کاغذ باندې پریشانه شوه.ده کاغذ واپس واخستلو اوکاغذ ئې اوشلؤلو ده په خوله باندې طلاق نه وه وئیلې اوس ددی سړی دوه ځامن اویوه لورهم ده آیا طلاق واقع شویدې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل محمود دهوبیان صوابی.........۱۲۸رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: په ظاهره باندې ددې لیکلو نه مقصود تعلیق دې تحقیق دطلاق نه دي﴿۳﴾ لهذا په دې لیکلو سره طلاق نه واقع کیږی. لعدم وجود الشرط وهو عدم رضا ها بالزوجية﴿٤﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (تخریج سابق الایمان مبنیة علی العرف)

﴿۲﴾ قال العلامة المرغینانی: واذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک او لم ترض.

(هدایة ۲: ۳۷۳ باب الرجعة)

﴿۳﴾ یدل علیه ما فی الهندیة: واذا کتب الطلاق واستثنی بلسانه او طلق بلسانه واستثنی بالکتابة هل یصح لا روایة لهذه المسئلة وینبغی ان یصح کذا فی الظهیریة. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۸ الفصل السادس فی الطلاق بالکتابة)

﴿۴﴾ قال العلامة عبد الله بن مودود الموصلی: فاذا علق الطلاق بشرط وقع عقیبه وانحلت الیمین وانتهت الافی کلما.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۸۲ والفاظ الشرط فصل کنایات الطلاق)

ټول اهل شهر ته طلاق معلق اچول اوپه ټول اهل شهر باندې د وقوع یا عدم وقوع مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه دوه شهرونه بصره او کوفه دی ددواړو په مینځ کښې عداوت او اختلاف پیداشو تردې پورې چه د اهل بصری نه یو سړې پاسیدو او ټولې اهل بصری ته ئې اووئیل چه که چرته ما په خپله یا اهل بصره والو ددې اهل کوفی والوسره تلل راتلل وکړل یا ئې ورسره غم اوښادې کښې شرکت وکړلو نو په ما باندې به خپله ښځه طلاق ثلثه وی او په ټولې اهل بصره باندې به هم طلاق ثلاثه وی.دې نه پس اهل کوفې والا دهغوی نه معافی وغوښته. اوپه خپلو مرو کښې رسئې واچولې اوپه خوله کښې ئې ګیاونیوله او د معافې درخواست ئې اوکړو اوس بعض خلقوهغوئ سره تعلقات قائم کړیدی نو ایا په دوی باندې ښځې طلاقې کیږی؟ همدغه رنګې داهم عرض دې چه د اهل بصره والوزمکه کومه چه جغرافیائی لحاظ سره د اهل بصره والو ملکیت دې یعنی اخوا دیخوا کوم چه یویودوه دوه مکانات دی داهم په ا هل بصره کښې داخل دی اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانامنهاج الدین مدرس دارالعلوم عربیه ګجرات مردان۱۹۷۴ء۱۲۱؍۴

جواب: که چرته دې بصرې سړی سره دیمین بالتعلیق(یعنې که چرته داهل بصره والو نه کوم یو سړی داهل کوفه والو سره په غم یا ښادې شرکت وکړو نو په هغه باندې ښځه مطلقه مغلظه شوه) په وخت نوروا هلیان د بصری والو ددی سړې تائید کړې وې نو ددې نه پس شرکت کونکی باندې ښځه مطلقه مغلظه شوه ځوک چه هم وی او که چرته دی اهلیانو یعنی ټولو یابعض سکوت کړې وی نو ددې سکوت کونکو په شرکت باندې طلاق نه واقع کیږی،

ونظیره ما فی الدرالمختارورد االمختار :جماعة یتحدثون فی مجلس فقال رجل منهم من تکلم بعد هذا فامراته طالق ثم تکلم الحالف طلقت امراته قال العلامة الشامی :سکت عما اذا تکلم غیره والظاهر انه لایقع لان تعلیق المتکلم لایسری فی حکمه الی غیره الا اذا قال الغیر وانا کذلک(۲: ۶۳۵ قبیل الکنایات﴿۱﴾ داهل بصره کیدلو او نه کیدلودارو مدار به په عرف باندې وی،

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۰۱ قبیل باب الکنایات)

للاصل المشهور :العادة محکمة﴿۱﴾ قلت :ولو قال الحالف ان شارک احد من اهل البصرة فنساء جمیع اهل البصرة مطلقة طلقت امراة الحالف عند وجود الشرط وکذا نساء سائر اهل البصرة لو یسکتو افافهم.وهوالموفق

راضی نامه نه کولو باندې طلاق وئیل بیا بل ځا راضې نامه وکړه

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه ځمامشرځوئ خپله ښځه اووهله ښځه پلار اوورونو کره لاړه اوهغوې ئی راوپرول ځماپه کشر خوئ اوما باندې کورته راغلل اوپه مونږ باندئي حمله وکړه عام خلق په مینځ کښې راغلل اوخلاصې ئې اوکړو.لګ وخت پس دوئې ځمونګ دکریانې دوکان ته لاړل ځمامشر ځوئې یواځی بیامونډلوپه چاقوئې لس ګزاره اووهلو اوهغه بیهوشه شو ماهغه هسپتال ته یوړواوپه دوې باندې مې فوجداری مقدمه دفعه ۳۰۷ درج کړه.پولیس والومانه په ذریعه دقسم وعده واخسته چه د مقدمې مکمل کیدونه پس ددوئی سره راضې نامه نه کوې نومااووئیل چه په ماباندې دې ښځه طلاقه وی که چرته مادوئې سره راضې نامه وکړه، کله چه مې مشرځوئ جوړ شوکورته راغلو نو هغه دخپلې ښځې سره ددی ده پلارپه کور ملاقاتونه شروع کړل. ماهغه پوهه کړوچه ته دې ښځې ته طلاق ورکړه نو هغه اووئیل چه څه خپله ښځه دصدرایوب په وینا باندې هم نه طلاقه کوم ته څوک یئ؟ دلته فریق مخالف دکلی دټولو مشران په ذریعه باندې دصلح کوششونه شروع کړی. خلاصه داده چه دې مشر ځوئ راضی نامه ولیکله.حلانکه ځمادناراضګې باوجود هغه په خپله مدعی جوړ شولو اوپه راضی نامه کښې ئې کوشش اوکړوچه خپله ښځه واپس کورته راولی ددې نه پس فریق مخالف بلکه په خپله ځماځوی ماسره سخت بغض لری ځکه چه هغه دخپلې ښځې اوسخرخبره وحې ګنړی اوس ددې قسم راضې نامې سره ځما دقسم به څه جوړیګی ایا ځما ښځه طلاقه شوه؟ بینوا توجرو

المستفتی: دوست محمد سول بازار کیمل پوره..... ۱۹۷۰ء۱۰ا۱۱

﴿۱﴾ (الاشباه والنظائر ۹۳ القاعدة السادسة) و (شرح المجلة للآتاسی ۱ :۷۸ المادة: ۳۶)

الجواب: چونکه تاراضې نامه نه ده کړې اونه په دې خوشاله ئې لهذا په تاباندې ښځه نه ده طلاقه شوې﴿۱﴾ اوکه چرته تا کله راضې نامه وکړله نو په تا باندې به ښځه په یوطلاق رجعی سره مطلقه اوګرځی﴿۲﴾ چه دهغې حکم اسان دې یعنې ته ښځې ته رجوع کولې شی په عدت کښې دننه.اوکه چرته په عدت کښې دننه تازبانی یاعملی رجوع ونه کړله نوپه تاباندې صرف تجدید نکاح کول دی﴿۳﴾-وهوالموفق

د طلاق ثلاثه د معنٰی نه د ناخبره سړی د معلق طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوڅوکسان دڅه معاهدې دپخولو په خاطردطلاق ثلاثه قسم اوکړی اووروسته د نورو معاهدو نه دطلاق ثلاثه لفظ لرې کړی اوددې نه پس ددوئ نه څه کسان ددې معاهدی نه مخالفت اوکړی اوبعض داعذرپیش کړې چه مونږ د طلاق ثلاثه دمعنی نه ناخبره ؤوددې متعلق شرعې حکم څه دې؟بینواتوجرو

المستفتی: نامعلوم........ ۱۹۸۸ء۲۱\۱۲\۲۷

الجواب: کوموکسانوچه په معاهده اوله باندې دستخط کړې وی نو په هغوې باندې طلاق ثلاثه عائد اونافذ دې﴿۴﴾اګرچه دې کسانودمعاهدې اولنی نه

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: ان لم تجیئ بفلان او ان لم تردی ثوبی الساعة فانت طالق فجاء فلان من جانب آخر بنفسه واخذ الثوب قبل دفعها لا یحنث. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۵۶۲ بعید مطلب لا یدع فلانا یسکن فی هذه الدار)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۵۴۴ مطلب زوال الملک لا یبطل الیمین)

﴿۳﴾ قال العلامة المرغینانی: واذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک او لم ترض. (هدایة ۲ :۳۷۳ باب الرجعة)

﴿۴﴾ وفی الهندیة: واذا اضافه (ای الطلاق) الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا. (فتاویٰ عالمگیریة ۱ :۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق)

د واپسئ نیت کړې وی، او په دوئې کښې که چرته څوک د طلاق ثلاثه د معنی نه ناخبره وُو نو په هغوی باندې درې طلاقه نه نافذ کیږی نه صرف یو طلاق رجعی پرې عائد کیږی، یدل علیه ما فی فتح القدیر ۴:۴ باب ایقاع الطلاق: ولا بدمن القصد بالخطاب بلفظ الطلاق عالما بمعناه....ولو قال لقوم تعلمت ذکرابالفارسیة فقولوه معی فقال زن من بسه طلاق، فقالوه لم یحکم علیهم بالحرمة﴿۱﴾ وفی شرح التنویر علی ردالمحتار۳: ۲۴۱ کتاب الطلاق :اوتلفظ به غیر عالم بمعناه ای یقع فی القضاء دون ما بینه وبین الله تعالی﴿۲﴾ البته کومو کسانو چه صرف د دویمې معاهدې دستخط کړې وی نو په دوئ باندې څه طلاق نه واقع کیږی. وهو الموفق

د یمین طلاق باوجود د دروغو گواهی ورکړی، کښې د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړی درې طلاقه اووئیل اود دې باوجودئې د دروغو گواهی ورکړه، ایا دده ښځه مطلقه مغلظه کیږی؟ ددې باوجود هم داد خپلې ښځې سره اباددې، ایا داسړې مسلمانانو سره د جنازې مونځ وغیره کښې شرکت کولې شی یا مسلمانانو ته دده نه بچ کیدل پکاردی ځکه چه مذکوره سړې باقاعده د گواهانو په مخکښې درې طلاقه اووئیل اود دروغو گواهی ورکړیده؟ بینوا توجرو

المستفتی: غلام رضاء کیمل پور.......۱۹۷۵ء۱/۱۹۱۲

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې کس ښځه مطلقه مغلظه شویده، للاصل

﴿۱﴾ (فتح القدیر ۳: ۳۵۱، ۳۵۲ باب ایقاع الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: او تلفظ به غیر عالم بمعناه، قال ابن عابدین: کما لو قالت لزوجها اقرأ علی اعتدی انت طالق ثلاثا ففعل طلقت ثلاثا فی القضاء لا فیما بینه وبین الله تعالیٰ اذا لم یعلم الزوج ولم ینو بحر عن الخلاصة.

(الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ۲: ۴۲۱ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش)

المشهوران المعلق بالشرط یجب ثبوته عندثبوت الشرط، شرح المجلة ۵۴﴿۱﴾ د داسې بې دینه سره ترک موالات ضروری دې ترڅو چه توبه گار شی﴿۲﴾. وهو الموفق

که چرته ښځې ځما د خبرې جواب راکړو نو درې شرطونو باندې طلاقه ده..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید د خپل مور پلار، او خور ورونو اود سخر په مخکښې اووئیل چه ځما ښځه که چرته ځما د خبرې جواب راکړی نو په ما باندې په درې شرطونو طلاقه ده او ځه به داداسې اووهم چه ددې مور به ئې ډډې په ډډې اوگوری. څه ورځې پس د زید ښځې هغه ته د څه خبرې جواب ورکړو چونکه زید خپله ښځه داسې اووهله چه د هغې پختې ماتې شوی ایا طلاق واقع شواو که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: صوفی محمد ابراهیم واه کینټ راولپنډی......۱۹۷۵ء۳/۵۱

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې سړی زید باندې ښځه مطلقه مغلظه شویده. کما فی شرح المجلة :المعلق بالشرط یجب ثبوته عند ثبوت الـشرط(۵۴) ﴿۳﴾. وهو الموفق

که چرته په ما باندې د فلانکی سړی د قرضې رقم ورکول وی نو په ما باندې ښځه په دریو شرطونو طلاقه ده ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه مسمی افسر قرضدار وُو

﴿۱﴾ (شرح المجلة للآتاسی ۱: ۲۳۲ مادة: ۸۲)

﴿۲﴾ قال العلامة الطرابلسی: والتعزیر لا یختص بفعل معین ولا قول معین فقد عزر رسول الله ﷺ بالهجر وذلک فی حق الثلاثة الذین ذکرهم الله تعالیٰ فی القرآن العظیم فهجروا خمسین یوما لا یکلمهم احد بهم وقصتهم مشهورة فی الصحاح وعزر رسول الله ﷺ بالنفی فامر باخراج المخنثین من المدینة ونفاهم وکذلک الصحابة من بعده.

(معین الحکام ۱۹۴ فصل فی التعزیر)

﴿۳﴾ (شرح المجلة لسلیم رستم باز ۱: ۵۴ مادة: ۸۲)

اوډیره موده پس انکاری شو. تهانړه کښې رپورټ درج کړو. هلته د اقرارنه پس بیا انکاری شو بالاخر بیا تهانیداره پورې خبره ورسیده. تهانیدارده ته اوویل چه ته په قران قسم اوخوره ده اوویل چه زه طلاق کوُم اووئې وئیل چه په ماداکرم(دائن)هیڅ رقم وغیره قرضه ورکول نشته که چرته په ما باندې قرضه وی نو په ما باندې خپله ښځه په دریو شرطونو طلاقه ده. یو ځل بیا کاڼړی واخستل اواوئې وئیل دویم ځل ئې بیا اوئیل. بیا تهانیدار هغه ته اوویل چه د ښځې نوم واخله اوطلاقه ئې کړه. هغه د ښځې نوم واخستلو دری طلاقه ئې ورکړل. ددې شرعې حکم څه دې لیکن اوسه پورې هغه ښځه نه ده جدا کړې؟ بینوا توجروا

المستفتی :محمد نعیم حقانی اټک........۱۹۸۵ء۱۳۱۱۳

جواب:که چرته مسمیٰ افسرر ښتونې نه وی یعنې په ده باندې داکرم رقم وغیره وی نو په ده باندې ښځه مطلقه مغلظه شویده﴿۱﴾ تول بااثرحکام. اوعوامو باندې ضروری ده چه یا په ده باندی حلاله وکړی یا ښځه دده نه جدا کړی﴿۲﴾۔ وهوالموفق

.خپله خورکه فلانی ته واده کړی نوخپله ښځه به مثلثه طلاقه وی.. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې یو سړی اوئیلی چه که

﴿۱﴾ قال العلامة الحداد الیمنی: (قوله واذا اضاف الی شرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول ان دخلت الدار فانت طالق) هذا بالاتفاق لان الملک قائم فی الحال والظاهر بقاؤه الی وقت الشرط ولانه اذا علقه بالشرط صار عند وجود الشرط کالمتکلم بالطلاق فی ذلک الوقت. (الجوهرة النیرة ۲:۱۱۰ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ولا بد من سترة بینهما فی البائن لئلا یختلی بالاجنبیة ومفاده ان الحائل یمنع الخلوة المحرمة. قال ابن عابدین: ای مفاد التعلیل ان الحائل یمنع الخلوة المحرمة ویمکن ان یقال فی الاجنبیة کذلک وان لم تکن معتدته الا ان یوجد نقل بخلافه بحر. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:٦٧٥ قبیل فصل فی ثبوت النسب)

چرته ما خپله خورمسمیٰ فلانی ته واده کړله نو په ما باندې دې خپله ښځه مثلثه طلاقه وی. تقریبادوه میاشتې پس ده خپله خور هغه سړې ته واده کړله او ورئې کړله. په دې کارباندې درې څلور ګواهان موجوددی اوس دې سړی ته شریعت کښې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عزیزالرحمٰن کوهاله براه کوه مری

الجواب: که معامله هم دغومره وی اوکمې زیاتې په دې کښې نه وی نو په دې سړی باندې خپله ښځه مطلقه مغلظه شوې ده﴿۱﴾ دتحلیل نه بغیر لاره نشته. اوکه دهٔ دا وادهٔ اصالةً یا وکالةً نه وی کړې، نوبیا طلاق نه دې واقع شوې.﴿۲﴾ وهوالموفق

که فلانی ته د لوررشته ورکړم نوزما ښځه به په ما باندې مطلقه مغلظه وی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه مسمّیٰ سیدعلی دخپلې لور مسمّاة زرینه بالغې رشته غلام اسلم ته په عام اجلاس کښې ایجاب وقبول اوکړو ددې نه پس ئې هم دغه رشته بل ځائې کښې ګل اکبر ته ورکړله او څه موده پس دخبرې نه واوُریدهٔ اووې وئیل چه کهٔ زهٔ ګل اکبر ته رشته ورکړم نو زما ښځه به په ما باندې مطلقه مغلظه وی. ددې باوجود دهٔ ګل اکبر ته رشته ورکړله، اوس د طلاق واقع کیدلو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: رحمان شاهین بکهٔپو کوهاله مری....۱۹۷۲ء۱۴۱۳

الجواب: بشرط صدق مستفتی په دې کس سیدعلی باندې ښځه مطلقه مغلظه شویده، لوجود.........

﴿۱﴾قال العلامة الخالد الآتاسی: المعلق بالشرط یجب ثبوته عند ثبوت الشرط. (شرح المجلة ۱:۲۳۲ مادة:۸۲)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: حلف لا یزوج عبده او امته یحنث بالتوکیل والاجازة لان ذلک مضاف الیه متوقف علی ارادته لملکه وولایته وکذا فی ابنه وبنته الصغیرین لو لایته علیهما. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۱۲۹ مطلب حلف لا یزوج عبده کتاب الایمان)

الشرط﴿۱﴾.وهوالموفق

..که چرته خپله لور بل ځائې کښې ورکړم نو په ما بانديږ خپله ښځه په درې شرطونو طلاقه ده..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې په باره کښې چه یو سړی د خپلې بالغې لور نکاح دلوردا ختیارنه بغیروکړی اوباقاعده ایجاب اوقبول اوشی کله چه جینې خبره شوه کورکښې کیږې وغیره شلوی اودنکاح چه واوریدل ژاړی بیاده هلک دطرفه باربارباوقارخلق په جرګه کښې دواده دپاره راځې لګه موده پس جینئ انکارکوی ددې نه پس ددې پلاراووئیل که چرته دا جینئ څه دویم ځائې کښې ورکړم نوپه ماباندې خپله ښځه په درې شرطونو طلاقه ده، اوس که چرته داسړې داولې نکاح دنه کیدوپه وجه داجینئ دویم ځائې کښې ورکړی یابل کس ته اووائې چه ځمادلور نکاح بل ځائې وکړه نو آیا په مذکوره والدباندې ښځه طلاقه شوه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد طیب غرشین اټک......۱۱\رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دامخکښې نکاح فاسداوکالعدم ده. کما فی الهندیه ۱:۲۸۷ ولا یجوز نکاح احد علی بالغة صحیحةالعقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکرا کانـت او ثیبا فان فعل ذلک فالنکاح موقوف علی اجازتها فان اجازته جاز وان ردته بطل کذا فی السراج الوهاج﴿۲﴾ اوپه دویم عقدکښې پلار مشوره ورکولې شی لیکن په خپله ایجاب اوقبول نشی کولې جینئ اودجینئ وروریاماما وغیره ایجاب اوقبول کولې شی دجینئ په اجازت باندې ﴿۳﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واذا اضافه (ای الطلاق) الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا. (فتاوٰی عالمگیریة ۱:۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان)

﴿۲﴾ (فتاوٰی عالمگیریة ۱:۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۳﴾ قال العلامة الشامی: (قوله ولا الانکاح) ای التزویج...(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

..که ما دې سره نکاح وکړه نو په دې درې طلاقه دی..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړی ګواهانوته مخامخ اووئیل که ما دخپلې کویژدن شوې فلانې سره نکاح وکړه نوځما د طرفنه په دې باندې درې طلاقه دې بیائې نکاح دهغې سره وکړه.ایاپه ده باندې درې طلاقه واقع کیږې اوکه نه؟طلاق ورکونکې په خپله اقرار نه کوې البته دا الفاظ ئې دګواهانو په مخامخ وئیلې دی؟بینوا توجروا

المستفتی: حافظ عبدالخالق چودهواړی آئ خان..... ۱۹۷۲ء۱۷۱۲۰

الجواب: بشرط صدق مستفتی په دې سړې باندې ښځه مطلقه مغلظه شویده،لیکن بشرطیکه دایمین باقاعده فسخ شوي نه وی﴿۱﴾ اوبشرطیکه دې سړې دقبول بالفعل حیله نه وې کړې﴿۲﴾ فی الدرالمختار :وتنحل الیمین بعد وجودالشرط مطلقا لکن ان وجدفی الملک طلقـت الخ،هـامش ردالمحتار ۲: ۶۹۰﴿۳﴾.وهوالموفق

(بقیه حاشیه) فلا یحنث به الا بمباشرته وهذا فی الولد الکبیر او الاجنبی لما فی المختار وشرحه حلف لا یزوج عبده او امته یحنث بالتوکیل والاجازة لان ذلک مضاف الیه متوقف علی ارادته لملکه وولایته، وکذا فی ابنه وبنته الصغیرین لولایته علیهما وفی الکبیرین لا یحنث الا بالمباشرة لعدم ولایته علیهما فهو کالاجنبی عنهما فیتعلق بحقیقة الفعل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۱۲۹ مطلب حلف لا یزوج عبده)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: ولوقال کل امرأة اتزوجها فهی طالق فتزوج فاذا حکما شافعیا فحکم ببطلان الیمین صح. (الاشباه والنظائر ۳۹۹ الفن الخامس الحیل الفصل السابع فی الطلاق)

ومثله فی الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۵۳۸ مطلب فی فسخ الیمین المضافة الی الملک)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: ای اذا قال کل امرأة اتزوجها طالق والحیلة فیه ما فی البحر من انه یزوجه فضولی ویجیز بالفعل کسوق الواجب الیها الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۳۷ باب التعلیق)

﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۴۲ باب التعلیق)

که د ښځې په ژوندکښې مې دویم واده وکړو نو هغه دویمه ښځه به طلاقه وي..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړی خپلې ښځې ته دا لیکل ورکړل چه که چرته دا ددې ښځې په ژوندګې کښې دویم واده کوی نو هغه دویمه ښځه به په ده باندې طلاقه وی. څه زمانه پس ده دویم واده وکړو نوایا دادویمه ښځه اوس په ده باندې طلاقه کیږي اوکه نه؟ د طلاق واقع کیدو په صورت کښې که چرته دا بیا دا ښځه ښځه جوړوې نو ددې څه مسئله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: نورالنبی جامعه مدنیه کیمیل پوره....... ۸۱۱۲۱،۱۹۷۴

الجواب: په صورت مسئوله کښې دوجودالشرط په وجه باندې دادویمه ښځه مطلقه شویده(۱) په ظاهره تجدید د نکاح کافي دي. بشرطیکه دواده نه پس دخاوند په کورکښې دوباره نکاح نه وي کړې شوې ګینې تجدید د نکاح ته هم ضرورت نشته(۲)- وهوالموفق

---

(۱) وفی الهندیة: اذا اضاف الطلاق الی النکاح وقع عقیب النکاح نحو ان یقول لامرأة ان تزوجتک فانت طالق او کل امرأة اتزوجها فهی طالق.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان واذا)

(۲) چونکه دلته اضافت دطلاق تزویج او نکاح طرف ته دي لهٰذا نکاح کیدو سره به طلاق واقع کیږي اودا طلاق به قبل الدخول وی اوپه مذکوره صورت کښې تفریق دطلاق په وجه بو طلاق بائن واقع کیږي

کما فی الهندیة: فان فرق الطلاق بانت بالاولیٰ ولم تقع الثانیة والثالثة. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۷۳ الفصل الرابع فی الطلاق قبل الدخول)

چه په دې کښې تجدید د نکاح کافی کیږي

کما فی الهندیة: اذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یزوجها فی العدة وبعد انقضائها.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۷۲ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

او زمونږ په بعضې علاقو کښې دا رواج دې چه د کویژدن په ورځ د جینئ د مور پلار په کور نکاح کولې شی بیا د وادهٔ نه پس دخاوند په کور دوباره نکاح کولې شی پس که دا دوباره نکاح شوې وی نودا به د نکاح د تجدید قائم مقام وی د تجدید ضرورت به نه وی وهوالموفق ..از مرتب

د ښځې په موجودګۍ کښې دویم واده کولو باندې د طلاق معلق تفصیلی مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید مشکوک کس ؤو ددې وجې نه دواده په وخت کښې دده نه داسې قسم لیکل اخستې ؤو لیکل دا لاندې دی:

"زه دفلانې په موجودګې کښې به دویم واده نه کوم. البته په صورت دنه کیدو داولاد په رضامندې دپلار اویا وروراویا زوجه ام. نکاح ثانی یعنی دویم واده به کوی. که چرته دپاس صورت نه بغیر دویم واده وکړم نو نور خومره ودونه چه وکړم نو په ماباندې به طلاق ثلاثه واقع وی. اوشرعې طور باندې په ماباندې به حرامه وی. زیاتلیکل کؤم چه کله هم دویم واده کؤم نوهغه په ماباندې په روئې دشرعې حرامه وی."

نوایا که زید خپلې اولنې ښځه طلاقه کړې دویم واده کولې شی کنه دده دویم واده په مطابق داخری قول (چه کله هم دویم واده الخ) حرام متصور کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی: بشیراحمد ایم اے دنده شاه بلال میان والی... ۱۹۷۰ء ۱۳۱۹۱

الجواب: په ظاهرد اخری قول چه مرادهم دادی چه ده مسما فلانې په موجودګئ کښې کله چه هم الخ. لهٰذا دفلانې د مطلقه کیدونه پس په دویم واده کښې څه حرج نشته(۱) یعنې دویمه ښځه نه مطلقه کیږي دزیاة احتیاط دپاره دې د زیدنه استفسار وکړیشی چه داخری کلام نه ستاخه مرادوو تقید مرادوو او که نه اطلاق دې مرادوو(۲) نودشق ثانی په بناء باندې داخاوند دویم واده په

---

(۱) وفی الهندیة: واذا اضافه (الطلاق) الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق)

(۲) وفی الهندیة: ان من قال لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق یتعلق الطلاق بالدخول ولو قال ان دخلت الدار انت طالق یقع الطلاق للحال الا اذا قال عنیت به التعلیق فحینئذ یدین فیما بینه وبین الله تعالیٰ.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان الخ)

یو وخت کښې هم نه نښي کولې﴿۱﴾- بینوا توجروا

که چرته ځماواده دسنت مطابق نه وی نوښځه مې طلاقه ده..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې که چرته یو کس دا اووائی،، که چرته ځماواده دسنت مطابق نه وی نوښځه مې طلاقه ده،، که چرته بالفرض دده واده کښې فائرنګ وی یا پالنګ باندې یانشانه ویشتل یاډهول وغیره،نو ددې په باره کښې څه حکم کیږی؟بینوا توجروا

المستفتی: زبیرجان افریدی........ ۱۲\۱۲\۱۹۹۰ء

الجواب: که چرته دې سړې دنیت اضافت کړي وي اونکاح ئی مخکښې دبناء یعنې د واده نه کړي وي نو دده منکوحه باندې یو طلاق واقع کیږی ګینې نه.

تنبیه:........دروطنے که ایجاب وقبول سه بارمکروه کرده مے شوند،به مرت دوم وسوم نکاح عقدخواهدشد،فافهم_ وهوالموفق .

کومې ښځې چه دروازې نه سربهر کړیدې هغې ته درې طلاقه.. کورکښې دوه ښځې وې ددې مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړی کورته راتللو چه دده دوو ښځو نه یوې ددروازې نه سر بهر کړي وو،هغه کورته راغلو او وې وئیل چه کومې یوې سر بهر کړي وه هغې ته درې طلاقه دی،دکوردوارو ښځو د سر بهر کولو نه منکرې شوې اوس دې سړې ته ددې ښځو په حق کښې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مفتی محمد سردار دارالعلوم ټل...... ۲۹\۷\۱۹۸۶ء

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: کلما علی التزوج نحو کلما تزوجت فانت کذا لدخولها علی سبب الملک وهو غیر متناه. قال ابن عابدین: (قوله لدخولها علی سبب الملک)ای التزوج فکلما وجد هذا الشرط وجد ملک الثلاث فیتبعه جزاؤه بحر. (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ۲:۵۴۳ مطلب المنعقد بکلمة کلما ایمان منعقدة للحال)

جواب: که چرته دې کورکښې صرف دادوه ښځې وې نورې ښځې نه وې نو دواړه ښځې په ده باندې حرامې دی مطلقې نه دی﴿۱﴾- وهوالموفق

یو هلک ته لوراو خور ورکولو باندې ئی د طلاق قسم وکړو بیا هغه ددې باوجود وتختیده.. ددې حکم

سوال: څه فرمائ علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه د زیدلوراود خالدخور ده، زید اوخالد باندې دلیکلو په طورداشرط ولګولوچه که چرته دې جینئ دمرضئې نه حلاف عارف سره نکاح وکړله نو زیداوخالددواړوباندې به ښځې طلاق ثلاثه باندې حرامې وی اوس هغه جینئ عارف سره نکاح باندی کلکه ده اودهغه سره لاړله،نوایاددی جینئ دعارف سره دتللو په وجه زید اوخالدباندې ښځی مطلقې کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی :محمداسرائیل کوه مری راولپنډی...... ۲۵\۱۲\۱۹۷۵ء

جواب: که چرته دې پلاراوخوئ دالیکل شوې قسم(طلاق معلق) هزلا یا اکراها کړي وي نو دوې باندې ښځی نه مطلقی کیږی. کمایشیرالیه ما نقله العلامة الشامی عن البحر:فلو اکره علی ان یکتب طلاق امراءته فکتب لا تطلق لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتیار الحاجة(ای حاجة التطلیق)ولاحاجةهھنا کذا فی الخانیة.ردالمحتار ۲: ۵۷۹﴿۲﴾ اوکه چرته په طیب خاطرسره ئې کړي وی نو

﴿۱﴾وفی الهندیة: ولو طلق احدی نسائه الاربع ثلاثا ثم اشتبهت وانکرت کل واحدة ان تکون هی المطلقة لا یقرب واحدة منهن لانه حرمت علیه احداهن ویجوز ان تکون کل واحدة وقد قال اصحابنا رحمهم الله تعالیٰ کل ما لا یباح عند الضرورة لا یجوز التحری فیه والفروج من هذا الباب.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۶۴ قبیل الفصل الثانی فی اضافة الطلاق الی الزمان)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۷ مطلب فی الاکراه علی التوکیل بالطلاق والنکاح)

مطلقات مغلظات کیږي (ای بشرط الحمل)﴿۱﴾.وهوالموفق

که چرته خورئې فلان ته په نکاح ورکړه نوطلاق بیا هغه جینئ په خپله دهغه سره لاړله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید اووئیل چه ځما پلار که چرته ځماخور فلان ته په عقدنکاح ورکړله نو ځماښځه ماباندې طلاقه ده اوس هغه خور په خپله دهغې فلانی سره لاړله اونکاح ئې وکړله، اوس دطلاق څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدروشن کوهاله مری......۱۵جمادی الثانی ۱۳۹۵

الجواب: که چرته الفاظ همداوي چه که چرته ځماپلاردا جینئ فلان الخ نوطلاق واقع نه دې او که چرته داالفاظ وی چه که چرته د فلان په نکاح کښې راغلله نوالخ نوپه دې صورت کښې یو طلاق رجعې دی﴿۲﴾ پس په عدت کښې دننه زبانې واپسی ده.تجدیدنکاح یاتحلیل ته ضرورت نشته دې﴿۳﴾ بینوا توجروا

﴿۱﴾قال العلامة المرغینانی: واذا اضافه الی شرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق وهذا بالاتفاق لان الملک قائم فی الحال والظاهر بقاؤه الی وقت وجود الشرط.

(هدایة علی صدر فتح القدیر ۳: ۴۴۳ باب الایمان فی الطلاق)

﴿۲﴾قال العلامة عبد الغنی الغینمی: واذا اضاف الطلاق الی النکاح وقع الطلاق عقیب النکاح...... واذا اضافه ای الطلاق الی وجود شرط وقع عقیب وجود الشرط وذلک مثل ان یقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق وهذا بالاتفاق لان الملک قائم فی الحال والظاهر بقاؤه الی وقت الشرط ویصیر عند وجود الشرط کالمتکلم بالطلاق فی ذلک الوقت.

(اللباب فی شرح الکتاب ۲: ۱۷۴ کتاب الطلاق)

﴿۳﴾قال العلامة المرغینانی: واذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک اولم ترض. (هدایة ۲: ۳۷۳ باب الرجعة)

.که چرته اته ورځو کښې دننه ستا نه طلاق نامه وانخلم نو ځما ښځه په ما باندې طلاقه ده..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه وړوکې ورور مشر ورور ته دیوڅوکسانو په مخامخ داالفاظ اووئیل چه دخپل ځوئ سره بدګوئی وکړه اوخپل ته دااویه چه که چرته اته ورځوکښې دننه ستانه طلاق نامه وانخلم نوځماښځه په ما باندې طلاقه ده.اوس دسخردوینامطابق اته ورځې تیرې شوې،نواوس دده دوینانه به څه جوړیګی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدرحمان سواړکلی......۱۹۷۵ء۱۴۱\۱۲

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې سخرباندی ښځه طلاق رجعی سره طلاقه شویده﴿۱﴾ په کوم کښې چه زبانې مراجعت کافې ده،دتجدیدنکاح ضرورت نشته﴿۲﴾-وهوالموفق

که ګیره مې پرې نه خودله مونځ روژه مې ونه ساتله نو ځما نکاح به باطله اوفسخ وی..دخلاف ورزې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زیددخپلې لورچه دهغې عمر دوه یادری کاله وو بکر سره نکاح کړله دنکاح نه مخکښې ئې د زید نه اقراروا خستلوتحریری اوزبانې په دې شرط چه که چرته مطابق دشرعې ئې ګیره پرې نه خودله نوځما نکاح به باطله اوفسخ وی،بکر داشرط قبول کړلو،ددې نه پس بکر دخپل اقرار نه واوړیدو نه دروژی اومونځ پابندې اونه ئې مطابق دشرعې ګیره پریخودله حالانکه منکوحه نوافل اوتهجدهم

﴿۱﴾وفی الهندیة: اذا اضافه (الطلاق) الی الشرط وقع عقیب الشرط.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق)

﴿۲﴾قال العلامة المرغینانی: واذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک او لم ترض.

(هدایة ۲: ۳۷۳ باب الرجعة)

نه قضاء کوی، ازروئ شرع ددې اقرار نه پس دېکرنکاح باقی پاتې کیږی اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرؤف قریشی مسکین پورشریف مظفرګړه ۱۹۶۹ء۱۱۱\۲۵

الجواب: چونکه دالفظ چه ځمانکاح باطله وې یافسخ وې، دکنایاتو نه دې لهذا دشرط دتحقق په وجه باندې په دې سړې باندې ښځه مطلقه کیږې اوتجدید دنکاح به کافې وې، لان الظاهر ارادة الطلاق، فی الدرالمختار: کنایته عندالفقهاء مالم یوضع له واحتمله وغیره﴿۱﴾وفی الهندیه: ولو قال فسخت النکاح ونوی الطلاق یقع(۱: ٤۰۰)﴿۲﴾وفی الدر المختار: وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا لکن ان وجدفی الملک طلقت وعتق والا لا، انتهٰی﴿۳﴾ قلت: هذاتعلیق الطلاق بفعل الزوج ولیس هذا تفویض الطلاق الی الزوجة وایضا لایجری فیه خیارالبلوغ لان العاقدهوالاب. وهوالموفق

که چرته ما فلانې سره خبرې وکړې نو ځمابنځه طلاقه ده..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید اووئیل چه که چرته څه عمروسره خبرې وکړم نوځما ښځه طلاقه ده، اوس زیدعمروسره خبرې کړیدې زیدسعودی عرب کښې ده اودهغه ښځه افغانستان کښې ده شرعې لحاظ سره ښځه طلاقیږې اوکه نه؟ زیدارادې سره رجوع هم کړیده دده ښځه طلاقه شوه اوکه نه؟ اوکوم یو طلاق واقع شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: عطاء محمدطائف سعودی عرب.......۱۹۸۵ء۱۱۱\۳۰

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۰۱ باب الکنایات)

﴿۲﴾(فتاوىٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۵ الفصل الخامس فی الکنایات)

﴿۳﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۴۴ مطلب زوال الملک لا یبطل الیمین)

الجواب: په صورت مسئوله کښې دحانث کیدلو په تقدیرباندې دابنځه یو طلاق رجعی باندې مطلقه شویده﴿۱﴾اوپه دیکښې په عدت کښې دښه دښه زبانې مراجعت کافی کیږی. که چرته په عدت کښې دښه ئې مراجعت اونه کړه نو تجدیدد نکاح به ضرورې وې. (قران﴿۲﴾ حدیث ﴿۳﴾ معتبرات فقه)﴿۴﴾ وهوالموفق

که دې امام پسې مې مونځ وکړونوځما ښځه طلاقه ده..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه دیوسړې دمحلی د امام سره خفګان پیداشولو اووئی وئیل چه که چرته ماتاپسې مونځ اوکړو نو ځمابنځه طلاقه ده، یوځل ئې داوئیل دې اوس ددې څه حل دې ځکه چه په امام پسې مونځ کول هم ضروری دی اوامام خفه کول نه دی پکار؟ بینوا توجروا

المستفتی: سعیدالرحمٰن رستم مردان............۱۴۰۱\۴\۲۲ھ

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واذا اضاف الطلاق الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا.

(فتاوىٰ عالمگیریة ۱: ۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق)

﴿۲﴾ قال الله تعالیٰ: الطلاق مرتٰن فامساک بمعروف او تسریح باحسان، فان طلقها فلا جناح علیهما ان یتراجعا ان ظنا ان یقیما حدودا لله. (سورة البقرة آیت: ۲۲۹، ۲۳۰ رکوع: ۱۳ پاره: ۲)

﴿۳﴾ عن رکانة بن عبد یزید انه طلق امرأته سهیمة البتة فاخبر بذلک النبیﷺ وقال والله ما اردت الا واحدة فقال رسول اللهﷺ والله ما اردت الا واحدة فقال رکانة والله ما اردت الا واحدة فردها الیه رسول اللهﷺ فطلقها الثانیة فی زمان عمر والثالثة فی زمان عثمان رواه ابوداؤد والترمذی وابن ماجة والدارمی الا انهم لم یذکروا والثانیة والثالثة.

(مشکواة المصابیح ۲: ۳۰۶ باب الخلع والطلاق)

﴿۴﴾ قال العلامة المرغینانی: واذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک اولم ترض لقوله تعالیٰ فامسکوهن بمعروف من غیر فصل. (هدایة ۲: ۳۷۳ باب الرجعة)

دا سړې دي چه امام پسې مونځ وکړي او د مونځ کولو نه پس دې په
الجواب: داسړي دي چه امام پسې مونځ وکړي اودمونځ کولونه پس دې په ماخپلی ښځې ته مراجعت اوکړو عدت کښې دننه دالفاظ اووائ چه ماخپلی ښځې ته مراجعت اوکړو اوطلاق نه واپس شوم﴿۱﴾قال الله تعالی: الطلاق مرتان فامساک بمعروف اوتسریح باحسان(الایة)﴿۲﴾. وهوالموفق

ځما د اجازت نه بغیر که چرته ته د مور
پلار کور ته لاړلې نو درې طلاقه دې

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړی خپلې ښځې ته اووئیل چه که چرته ته ځمادااجازت نه بغیر دخپل موږپلار کورته لاړلې نو ته په ماباندې په دری طلاقو طلاقه ئې. لیکن یومیاشت پس کله چه داسړې کور کښې موجود نه ؤونودده ښځه دخاونددااجازت نه بغیردخپل مور پلار کورته لاړه، اوس ددې مسئلې څه حکم دې، او ښځه حامله هم ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سعید عباسی.......... ۱۲/۱۲/۱۹۷۴ء

الجواب: بشرط صدق وثبوت داښځه مطلقه مغلظه شویده، لوجود الشرط﴿۳﴾. اوس بغیرد حلالې نه بله څه چاره نشته دې- وهوالموفق

که په مقرره موده کښې زه واپس نه شوم نو ځما
او د منکوحې په مینځ کښې به نکاح فسخ وې

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه زید دبالغې جینئ سره

﴿۱﴾قال العلامة السغدی: والفاظ الرجعی عند ابی حنیفة واصحابه اربعة احداها انت طالق وهذا منصوص ...... والرجعة نوعان قولیة وفعلیة...... والرجعة القولیه ان یقول راجعتک الخ.

(النتف فی الفتاویٰ ۱: ۲۰۵، ۲۰۷ الطلاق الرجعی)

﴿۲﴾ (سوزة البقرة آیت: ۲۲۹، رکوع: ۱۳ پاره: ۲)

﴿۳﴾قال العلامة عبد الغنی المیدانی: واذا اضافه ای الطلاق الی وجود شرط وقع عقیب وجود الشرط وذلک مثل ان یقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق وهذا بالاتفاق.

(اللباب فی شرح الکتاب ۲: ۱۷۴ کتاب الطلاق)

نکاح وکړه هلک په صوبه سندهـ حیدرآباد کښې اوسیګی لیکن جینئ کلې کښې والدینو سره ده دجینئ والدینوزوم ته خطونه ولیکل اووئی وئیل چه راشه واده اوکړه. کله چه زید راغلونو دجینئ دورثاءسره ئې فیصله وکړه چه (۱) مهرمبلغ پنځه زره روپې اداءکوې(۲) یومکان به اباد وی -(۳) اوسیدل به خپل کلې اختیاروی. ددې شرائطو دپاره شپږ میاشتې موده مقرره کړې شوه اووئی وئیل چه که چرته مقرره موده کښې څه واپس نه شوم نو ځما او ځماد منکوحې په مینځ کښې به نکاح فسخ وی. ددې شرطونو لیکل او همدارنګې دګواهانو دستخط اودګوتو نشانونه ئې هم ولګول شول. اوس ناکح (زید) دیونیم کال دتکمیل دشرائطو دپاره رانغلواونه دخط اوکتابت جواب ورکوې نوایامذکوره لیکل اوشرائط دنه موجودیدلو په وجه باندې نکاح فسخ کیږې اوکه نه؟ اخرې دوه شرائط دنکاح نه پس لګولې شوې؟ بینوا توجروا

المستفتی: شیرین c/o مولوی محمد عاتق سرخ ډهیری صوابی ۳/۴/۱۹۷۲ء

الجواب: په صورت مذکوره کښې په دې سړی باندې ښځه(منکوحه)مطلقه شویده. لان المعلق عندوجودالشرط کالمنجز﴿۱﴾وفی الهندیه۱: ۴۰۰ ولوقال فسخت النکاح ونوی الطلاق یقع﴿۲﴾. وهوالموفق

''که چرته فلانی کار مې اوکړونو ځما ښځه
په سلو کاڼو سره طلاقه ده.. طلاق مغلظه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړې اووئیل چه که

﴿۱﴾قال العلامة القهستانی: والفاظ الشرط ان واذا واذا ما...... ان وجد الشرط مرة فی الملک ینحل الی جزاء ای ینتهی التعلیق الی وقوع الطلاق فیجری مجری النظیر.

(جامع الرموز ۱: ۵۳۲ فصل فی التعلیق)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۷۵ الفصل الخامس فی الکنایات)

چرته مافلان کاروکړونو په ما باندې ښځه سلوکانړوسره طلاقه ده.بیا زید هغه کاروکړلو، نوایا په زیدباندې درې طلاقه واقع کیږی اوکه نه یو؟ بینوا توجروا

المستفتی: گلزارمقام سیرئے......... ۱۹۷۵ء۱۹۱۹۱

الجواب: ددې سړې ښځه په درې طلاقو باندې مطلقه مغلظه شویده اوباقی لغوه دي،وهوقول الائمة الاربعة (۱) خلافا للطائفة السلفية النجديه(۲) ولنا

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلاث قال فى الفتح بعد سوق الاحاديث الدالة عليه وهذا يعارض ما تقدم واما امضاء عمر الثلاث عليهم مع عدم مخالفة الصحابة له وعلمه بانها كانت واحدة فلا يمكن الا وقد اطلعوا فى الزمان المتأخر على وجود ناسخ...... واما ثانيا فالعبرة فى نقل الاجماع نقل ما عن المجتهدين والمائة الف لا يبلغ عدة المجتهدين الفقهاء منهم اكثر من عشرين كالخلفاء والعبادلة وزيد بن ثابت ومعاذ بن جبل وانس وابى هريرة والباقون يرجعون اليهم ويستفتون منهم وقد ثبت النقل عن اكثرهم صريحاً بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۵ كتاب الطلاق)

(۲) قال الشيخ البسام السلفى: وذهب جماعة من العلماء الى ان موقع الطلاق الثلاث بكلمة واحدة...... لا يقع عليهما الا طلقة واحدة...... منهم المجد عبد السلام بن تيمية وكان يفتى بها سرا وحفيده شيخ الاسلام ابن تيمية يجهر بها ويفتى بها فى مجالسه...... ومنهم ابن القيم الذى نصر هذا القول نصرا مؤزراً فى كتابيه الهدىٰ واغاثة اللهفان فقد اطال البحث فيها...... قال مجلس هيئة كبار العلماء: بحث مسئلة الطلاق الثلاثة بلفظ واحد وبعد الدراسة وتداول الرأى واستعراض الاقوال التى قبلت فيها ومناقشة ماعلى كل قول، توصل المجلس بالاكثرية الى اختيار القول بوقوع الطلاق الثلاث بلفظ واحد ثلاثا وخالف من اعضاء المجلس خمسة الخ. (التعليق على بلوغ المرام ۳۶۲،۳۶۴ كتاب الطلاق)

روایات کثیرمذکورةفی مصنف عبدالرزاق(۱)وهوالموفق

.که چرته ځمانځه بد چلنه وی نوطلاقه ده..

یاکه چرته طلاق ورنه کړی نو.ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړې اووائی چه که چرته ځمانښځه دواده نه مخکښې بدچلنه وی نوهغه طلاقه ده.،ددی شهادت یا ثبوت نه وی اونه څه بل دلیل وی صرف د شک په بناء باندې اووائی،نو ایا په دې سره څه واقع کیږی؟ځکه چه په شریعت کښې دشک په بناءباندې دې وئیل شووحروفو ته مبهم اوغیرواضح وئیلې شی اوچه ددې سره دده ښځه پاک دامنه هم ده؟ همدارنګې چه یو سړې اووائی چه که چرته مادیته طلاق ورنه کړونو.......اوهمدارنګې نیمګړې خبرې اوائی.ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: امان الله شمسی رودمردان.........۱۵صفر ۱۴۰۳

---

(۱) ...... ☆ عن هارون بن عنزة عن ابيه قال كنت جالسا عند ابن عباس فاتاه رجل فقال يا ابن عباس انه طلق امرأته مائة مرة وانما قلتها مرة واحدة فتبين منى بثلاث ام هى واحدة؟ فقال بانت بثلاث وعليك وزر سبعة وتسعين. (مصنف ابن ابى شيبة ۵: ۱۳)

☆ حدثنا سعيد المقبرى قال جاء رجل الى عبد الله بن عمر وانا عنده فقال يا ابا عبد الرحمن انه طلق امرأته مائة مرة قال بانت منك بثلاث وسبعة وتسعون يحاسبك الله بها يوم القيامة. (مصنف عبد الرزاق ۵: ۱۴)

☆ عن الحكم ان عليا وابن مسعود وزيد بن ثابت رضى الله عنهم اجمعين قالوا اذا طلق البكر ثلاثا فجمعها لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره. (مصنف عبد الرزاق ۶: ۳۳۶)

☆ عن عبادة بن الصامت قال طلق جدى امرأته الف تطليقة فانطلق ابى الى رسول الله ﷺ فذكر ذلك له فقال النبى ﷺ اما اتقى الله جدك، اما ثلاث فله واما تسع مائة وسبعة وتسعون فعدوان وظلم، ان شاء الله تعالىٰ عذبه وان شاء غفر له.

(مصنف عبد الرزاق ۶: ۳۹۳)

الجواب: ښځه باندې تهمت لګول او اراده د طلاق ظاهر کول و باندې طلاق واقع شوې نه دې په دې کښې دانشاء طلاق لفظ نشته دې نه صریح او نه کنایه_ وهوالموفق

که چرته څه پښاور ته سبق ته لانه ړم نو ښځې ته درې طلاق. ددې حکم.

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه یو طالب العلم خپل پلار ته ولیکل چه که چرته څه مثلاً پښاور ته سبق ته لانه ړم نو ما باندې خپله ښځه درې طلاق باندې مطلقه ده. اوس دې طالب العلم ته فوراً پښاور ته تلل ضروری دی او که نه کله چه هم ځی نو طلاق ختمیږی. همدارنګې صرف تللو باندې سبق ته داحکم دتعلیق ختم کیږی یا هلته څه وخت پورې مقیم کیدل ضروری دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مفتی محمد سردار دارالعلوم عربیه ټل کوهاټ ۱۹۸۳ء۱۱۱۱\۱۰

الجواب: که چرته دې حالف دفوراً تللو نیت نه وی کړې نو دمرګ نه مخکښې چه کله هم سبق ته لاړشی نو دحانث کیدلو نه بچ کیږی. برابره خبره ده که په پیښور کښې اقامت او کړی او که نه. ونظیره الحلف علی الفعل کمافی ردالمحتار ۳: ۱۸۲ فلیراجع﴿۱﴾. وهوالموفق

که چرته د زید کورته لاړو نو زر روپئ به صدقه کوی او
که چرته صدقه ئې ونه کړله نوښځه ئې طلاقه ده..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړې قسم او خوړو چه که چرته زه دزید کورته لاړم نو زر روپې به دخدائې په نامه ورکوم، که چرته صدقه مې ونه کړله نوبیاځما ښځه په ما باندې طلاقه ده، اوس که چرته دا

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: ان رأیته لا ضربنه فعلی التراخی ما لو ینوا الفور...... وبعد صفحتین...... ولو حلف لیفعلنه بربمرة. قال ابن عابدین: و اذا لم یفعل لا یحکم بوقوع الحنث حتی یقع الیأس عن الفعل وذلک بموت الحالف قبل الفعل فیجب علیه ان یوصی بالکفارة...... وهذا اذا کانت الیمین مطلقة.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۱۴۵، ۱۴۸ مطلب حلف لیفعلنه بربمرة)

سړې دزید په کور کښې داخل شی نو آیا دا به زر روپئ ورکوی او که لس مسکینانو ته به روټی ورکوی، که چرته زر روپې ئې ورنه کړې او لس مسکینانو ته روټې ورکړی نو آیا بیا هم طلاق واقع کیږې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مثل خان سانګړه...... ۲۲\۱جمادی الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: چونکه دې سړې دحانث کیدلو په صورت کښې په زر روپې نه ورکولو باندې طلاق معلق کړیدې نو له دې وجې نه په ده باندې دحانث کیدلو په صورت کښې په زر روپې نه ورکولو باندې ښځه مطلقه کیږې﴿۱﴾- وهوالموفق

پلار او وئیلې، که چرته ته مې د خاوند په حواله کړې
نو ما باندې خپله ښځه یو دوه درې او خور موربه وی.

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوه جینئ دخاوند د کور نه دپلار کره راغله ددی خاوند نه ئی بال بچ هم شته لیکن دجهګړې او فساد د وجې نه راغلې وه، پلار جینئ ته او وئیل چه که چرته ما دوباره ته میړه ته حواله کړی نو ما باندې خپله ښځه یو دوه درې کانړی او مور خور به وی، اوس رشته داروددی جینئ سره دمصالحت نه پس دخاوند په حواله کړله لیکن پلار ئی په هغی باندی راضی هم نه دي، اوس دالفاظو مذکوره څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی ګلفراز مدرسه عالیه زرګری کوهاټ ۲۴\۱محرم ۱۴۰۱ھ

الجواب: په دې الفاظو مسطورو سره په وقوع طلاق کښې تامل دې﴿۲﴾ لیکن

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الله الموصلی: فاذا علق الطلاق بشرط وقع عقیبه وانحلت الیمین وانتهت لان الفعل اذا وجدتم الشرط فلا تبقی الیمین.
(الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۸۱ فصل کنایات الطلاق)

﴿۲﴾ چونکه یو دوه درې نه صریح دې او نه کنایه دې بلکه محض عدد او شمیر دې او کله چه دې سره د طلاق الفاظ ذکر نه وی نو صرف نیت او اراده کافی نه وی، قال العلامة الشامی: ان من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلاثة احجار ینوی الطلاق ولم یذکر لفظا لا صریحا ولا کنایة لا یقع علیه کما افتی به الخیر الرملی وغیره وکذا ما یفعله بعض سکان البوادی من امرها...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه

احتیاط دادې چه دا ښځه د پلار د اجازت نه بغیر او د مور او وغیرها په اجازت سره خاوند کورته لاړه شی نو حنث نه به بچ شی﴿۱﴾-وهوالموفق

.که چرته څه دفیصلې نه واوریدم نو ما باندې دې ټول حلال حرام شی.. نه د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کښې چه زید د کومې تنازعې په سبب جرګه کښې دا بیان ولیکلو چه جرګې څه فیصله وکړه هغه ماته منظوره ده او که چرته څه د دې فیصلی نه واوریدم نو په ما باندې دې ټول حلال حرام شی،اوس که چرته زید د فیصلې نه واوړیدو او وتختې نو ایا زید باندې طلاق هم عائد کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاضی محمد اکبر پهګواړی راولپنډی..... ۱۹۷۰ء۱۵۱۳

الجواب: دالفظ څمونږ په کلو او زبان کښې په طلاق متعارف نه دې، د دې وجی نه غیرشادی شده هم دالفظ استعمالوی پس دې سړې یعنی زید نه دی تپوس وشی چه دی الفاظو نه ستا څه مراد دې،صرف طلاق دی مراد ؤ او که صرف ماکول او مشروب،یا ماکول او مشروب او جماع وغیره ټول مراد وو، پس څه چه مراد وو، بس هغه به منظور وی یعنې صورت اول کښې طلاق واقع

(بقیه حاشیه) بحلق شعرها لا یقع به طلاق وان نواه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق)

البته بعضې علماء په دې کښې اختلاف کوی چه دې الفاظو سره یعنی صرف یو دوه درې سره ښځه مبانه کیږی چه په دې کښې تجدید دنکاح کافی کیږی،او دویم لفظ ''خور مور،، کیږی سره د طلاق حکم ورکول دی بې قاعدې امر دې ځکه چه دې کښې حرف التشبیه نشته.

کما قال الحصکفی: والا ینوشیئا او حذف الکاف لغا وتعین الادنیٰ: قال ابن عابدین: والذی فی الفتح وفی انت امی لا یکون مظاهرا وینبغی ان یکون مکروها. (الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۶۲۶ باب الظهار)......ازمرتب

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ان لم تجیئ بفلان او ان لم تردی ثوبی الساعة فانت طالق فجاء فلان من جانب آخر بنفسه واخذ الثوب قبل دفعها لا یحنث. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۶۲ قبیل باب طلاق المریض)

کیږی،او صورت ثانی کښې قسم او په صورت ثالثه قسم او طلاق دواړه متحقق کیږی،یدل علیه مافی الفتح: ٤: ٢٦ والحاصل ان المعتبر فی انصراف هذه الالفاظ عربیةاو فارسیةالی معنی بلانیة التعارف فیه فان لم یتعارف سئل عن نیته فقط﴿۱﴾.وهوالموفق

.که چرته خورمې ونه لیګله نو ځما ښځه طلاق بائنه ده..د دې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کښې چه یو سړې خپله واده شوی خور په ځان بوج کړله په خپل کور کښې غیرآباده پریخي وه او وعده ئې کړې وه چه فلان تاریخ او فلان وخت به خپله خور سخر ګنئ ته لیږی،که چرته ئې ونه لیګله نو ځما ښځه طلاق بائنه ده،اوس په دې تاریخ او وخت باندې دوه ورځې نورې هم تیرې شوې لیکن هغه خپله خور ونه لیګله،اوس د طلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: سیدان خان کوهاله مری....۱۹۷۹ء۱۳۱۰۲

الجواب: که چرته درې طلاقه مراد نه وی نو تجدید نکاح کافی دی﴿۲﴾ځکه چه د تحقق د شرط د وجې نه طلاق واقع شویدې﴿۳﴾د تحلیل ضرورت نشته دی﴿٤﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (فتح القدیر ۴: ۳۷۴ فصل فی الکفارة قبیل باب الیمین فی الدخول والسکنیٰ)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویقع بقوله انت طالق بائن او البتة...... واحدة بائنة فی الکل لانه وصف الطلاق بما یحتمله ان لم ینو ثلاثا.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۸۷ فرع باب الصریح)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: (قوله فیقع بعده) ای یقع الطلاق بعد وجود الشرط فی المسئلتین سواء کان التعلیق فی الملک او مضافا الیه. (البحر الرائق ۴: ۸ باب التعلیق)

﴿۴﴾ قال العلامة الموصلی: وله ان یتزوج مطلقته المبانة بدون الثلاث فی العدة وبعدها لان حل المحلیة باق اذ زواله بالثالثة ولم توجد وانما لا یجوز لغیره فی العدة تحرزا عن اشتباه الانساب. (الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۹۳ باب الرجعة)

کهٔ ما په خپل سخرګنئ باندی سلام اوکړو نو ځما ښځه په طلاقه وی.. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړي دوه ځله دا قسم اوخوړوچه که چرته ماپه سخرګنې باندی سلام اوکړونو ځمابښځه طلاقه ده، په دې سره کوم یوطلاق واقع کیږی؟بینوا توجروا

المستفتی: سیداغیارشاه......۱۰۱۱۰۱ء۱۹۷۵

الجواب: صرف سلام کولوباندې دوه طلاقه رجعی واقع کیږي، کما فی الهندیة ۲:۳۶۵ اذااضافه(الطلاق)الی الشرط وقع عقیب الشرط﴿۱﴾وقالوالصریح مالم یستعمل الا فیه ولوبالفارسیة کطلقتک الخ کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲:۵۹۰﴿۲﴾.وهوالموفق

کهٔ چرته تاسوتول مې قتل نه کړئ نوما باندې ښځه طلاقه ده.. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړې دویم کس ته غصه په حالت کښې اووئیل چه که چرته ماتاسوتول قتل نه کړی نوپه ما باندې ځمابښځه طلاقه ده،په هم دې مجلس کښې داالفاظ دوباره اووائی، اوس که چرته داسړې قتل اونه کړی نوبښځه طلاقه کیږی او که نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مکرم خان صالح خانه نوشهره.... ۱۱۷۱ء۱۹۷۲

الجواب: دې سړې باندې فی الحال ښځه طلاقه نه ده کله چه داسړې قریب الموت شي اومړشي نوهغه وخت کښې په ده باندې ښځه په یوطلاق مطلقه کیږي یاکله چه داکسان(چاته چه دقتل دهمکی ورکړي شوې ده)نه یوکس مړشي نودې کس (زید) باندې ښځه یوطلاق باندې مطلقه کیږي،په کوم

﴿۱﴾(فتاوٰی عالمگیریة ۱:۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان واذا)

﴿۲﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۶۵ باب الصریح)

کښې چه زبانی رجوع کافی ده دتجدیدنکاح ضرورت نشته دې.فی الدر المختار: ولوحلف لیفعلنه بربمرةوفی ردالمحتار۳: ۱۸۹ واذالم یفعل لایحکم بوقوع الحنث حتی یقع الیاس عن الفعل وذلک بموت الحالف قبل الفعل.....اوبفوت محل الفعل﴿۱﴾.وهوالموفق

.ځما کلی ته راغلې تا لره مې قتل نه کړو نو ځما ښځه طلاقه ده..ددرې ځلی وئیلو حکم

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه زیدعمر اوخې دې دواړو کښې په دې خبره جهګړه شوه چه زیدخپله وره لورپیدل کلی ته بوتلل غواړې لیکن عمرچه دزیدښځې وروردې انکارکوې چه څه داپیدل نه پریږدم بلکه موټرسائیکل باندی ئې رسوم،لیکن زید فوراً جینئ بوتلل غواړی،زیدیودم جوش کښې راغلواوقسم ئې اوکړوچه که چرته ته ځماکلی ته راغلې اوڅه تالره قتل نه کړم نوځمابښځه طلاقه ده درې ځلی داالفاظ تکرار کړل،زیدلاړو اوسخرپریشان شو،دشپې عمردیوبل کس سره دزیدکلی ته لاړل دواړوهلته روټې اوخوړه اوشپه ئې هم هلته تیره کړه،زیداووئیل ما په غصه کښې داالفاظ وئیلې ؤ،اوس ددې الفاظو څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی:مولاناغلام رسول مدرسه عربیه نظامیه تربت مکران۱۹۷۴ء۱۱۱۸۱

الجواب: که چرته دزیددریوځلوتکرارنه درې طلاقه نه وی مرادبلکه اصرار او تاکیدئې مراد وې،یاخالې الذهن وی نوزیدباندې ښځه مطلقه مغلظه نه کیږی، کما فی ردالمختار۲: ۶۳۲ قبیل الکنایات﴿۲﴾اوکه چرته درې طلاقه مراد وی نوښځه مطلقه مغلظه شویده،اما حالا عند ارادة الفور وهو المتبادر

﴿۱﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۱۴۸ مطلب حلف لیفعلنه بربمرة کتاب الایمان)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین، قال ابن عابدین: ای ووقع الکل قضاء وکذا اذا طلق اشباه ای بان لم ینو استینافا ولا تاکیداً لان الاصل عدم التاکید. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۹۹ فروع قبیل باب الکنایات)

واما عند الموت﴿١﴾.وهوالموفق

.که چرته په حقوق زوجیت اونان نفقه کښې
کوتاهی اوکړم نو دري طلاقه.. ددې مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه ځمادخورواده دماما ځوئ سره شویدې،دواده په وخت کښې ده لیکلی ووچه، .که چرته زه د خپلې ښځې حقوق زوجیت اونان نفقه کښې کوتاهی ا وکړم نوداپه ماباندی حرامه ده اوپه دری طلاقوباندی طلاقه ده، ،دواده نه پس به هلک دکورنه غائب وو چه دهغی دوجی نه دښځی اوخاوند په مینځ کښې جهګړه وشوه اوښځه ئې کورنه اوویستله څه موده پس روغې جوړی واله ضلح اوکړله اوځما خور دهغه کورته لاړله،څه موده پس بیاجهګړه وشوه اوبیائې ښځه دکورنه اوویستله لیکن روغی جوړی والوبیا اتفاق وکړواوښځه ئې دهغه کورته بوتلله،دریم ځل بیاده دښځې سره جهګړه اوکړله اوکورنه ئې ویستله،اته میاشتې کیږی نه څه خرچه ورکوې اوس روغی جوړې والابیادصلح خبرې کوی اوس دطلاق اوحرام کیدلوپه باره کښې دشریعت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: کبیرخان اسلام آباد......١٢٧ شعبان ١٤٠٢هـ

الجواب: که چرته دا ښځه دې خاوند دکورنه ویستلې وی اودحقوقِ مسکنت نه ئې محروم کړي وی﴿٢﴾

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفی: ولو حلف ليفعلنه بربمرة لان النكرة فی الاثبات تخص والواحدهو المتيقن ولو قيدها بوقت فمضى قبل الفعل حنث ان بقی الامكان والا بان وقع اليأس بموته او بفوت المحل بطلت يمينه كما مر فی مسئلة الكوز.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ١٤٨:٣ مطلب حلف ليفعلنه بربمرة)

﴿٢﴾ وفی الهندية: تجب السكنى لها عليه فی بيت خال عن اهله واهلها الا ان تختار ذلك كذافی العينی.

(فتاویٰ عالمگيرية ٥٥٦:١ الفصل الثانی فی السكنىٰ)

نودا ښځه په خاوندباندې مطلقه مغلظه شویده﴿١﴾اوکه چرته دوهلونه پس دا ښځه بلامرضی اوبلااخراج دخاوند دکورنه راغلې وی نومطلقه شوې نه ده دغه خاوندسره اوسیدلې شی،لعدم وجودالشرط﴿٢﴾.وهوالموفق

.که چرته دفلان فلان سره راضی نامه وکړم نو
په ما باندې یوطلاق دوه طلاق درې طلاق الخ..

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړې روغې جوړې واله سره دڅه ذاتی اختلاف په بناء باندې دنورو ملګروسره وعده وکړه چه که چرته څه ستاسو خلقونه جداشوم اودفلانې فلانې حضراتوسره مې خوراک سکاک وکړه نولګاتاردرې ځلی یویو کانړې اوچت کړواوځمکه باندې اوغورځول چه ماباندې ځماښځه یوطلاق بیادویم ځل ئې دویم کانړی اوغورځلواووئې وئیل چه دوه طلاقه بیائې دریم ځل وکړلو اوئی وئیل درې طلاقه،ځماښځه دې په ماباندې طلاقه وی که ماتاسوپریخودئې اوددې خلقو سره راضی نامه وکړم بیائې تقریبا دوه کاله پس هم دغه شان دخپل رور دواده په موقع باندې ددې خلقوپه مخامخ پرله پسې درې ځلې اووئیل چه ځماښځه په ماباندې یوطلاق دوه طلاقه درې طلاقه ده چه څه ستاسونه جداشم اوفلانی فلانی سره راضی نامه وکړم،بیایوکال پس ده دخپل یو قریبی رشته دار په وینا باندې ددې ملګرودرضاءمندې نه بغیرراضی نامه دهغه کسانو سره وکړه دکوم متعلق چه ده طلاق وئیلې وو ددې وجې نه ایا دده ښځه دته جائزده؟ یادوباره تجدیدنکاح وکړی؟ همدارنګې کوم خلق چه دده سره خوری سکی دهغوې دپاره څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:الطاف حسین ملکوټ ایبټ اباد.....١٩٧٥ء١١\٤١

﴿١﴾ قال الحداد اليمنی: واذا اضاف الى شرط وقع عقيب الشرط مثل ان يقول ان دخلت الدار فانت طالق هذا بالاتفاق لان الملك قائم فی الحال والظاهر بقاؤه الى وقت الشرط ولانه اذا علقه بالشرط صار عند وجود الشرط كالمتكلم بالطلاق فی ذلك الوقت.

(الجوهرة النيرة ١١٠:٢ كتاب الطلاق)

﴿٢﴾ المعلق بالشرط يجب ثبوته عند ثبوت الشرط. (شرح المجلة ٢٣٢:١ مادة:٨٢)

الجواب: په ظاهره په دې سرې باندې ښځه مطلقه مغلظه شويده﴿١﴾ بغير د تحليل نه چاره نشته دی﴿٢﴾د تحليل نه مخکښې وزسره جماع حرامه ده﴿٣﴾ او دده سره دکتلو او دريدلو اود غيرضروری تعلقاتو ساتلو والا هم گناهگار دې﴿٤﴾- وهوالموفق

د طلاق معلق يو صورت

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې مسئلې باره کښې چه ديو سړې دخپل سخر سره اختلاف پيدا شو څه موده پس ئې دسخرپه کورکښې دواده پروگرام ؤو، سخرگنئ دهغه د راضی کولو ته جرگه وليگله چه واده کښې شرکت وکړی،ده

﴿١﴾ قال العلامة الموصلی: فاذا علق الطلاق بشرط وقع عقيبه وانحلت اليمين وانتهت لان الفعل اذا وجدتم الشرط فلا تبقى اليمين.

(الاختيار لتعليل المختار ٢: ١٨١ فصل کنايات الطلاق)

﴿٢﴾ وفی الهندية: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتى تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها کذا فی الهداية.

(فتاوىٰ عالمگيرية ١: ٤٧٣ فصل فيما تحل به المطلقة وما يتصل به)

﴿٣﴾ وفی الهندية: اذا طلقها ثلاثا او واحدة بائنة وليس له الا بيت واحد فينبغی له ان يجعل بينه وبينها حجابا حتى لا تقع الخلوة بينه وبين الاجنبية.

(فتاوىٰ عالمگيرية ١: ٥٣٥ الباب الرابع عشر فی الحداد)

﴿٤﴾ قال العلامة الطرابلسی: والتعزير تأديب استصلاح وزجره عن ذنوب لم تشرع فيها حدود ولا کفارات...... والتعزير لا يختص بفعل معين ولا قول معين فقد عزر رسول الله ﷺ بالهجر وذلک فی حق الثلاثة الذين ذکرهم الله تعالىٰ فی القرآن العظيم فهجروا خمسين يوما لا يکلمهم احدبهم وقصتهم مشهورة فی الصحاح وعزر رسول الله ﷺ بالنفی فامر باخراج المخنثين من المدينة ونفاهم وکذلک الصحابة من بعده.

(معين الحکام ١٩٥ فصل من الزواجر الشرعية والتعزير)

جرگه واپس کړه او اوئې وئيل چه ما قسم بالطلاق کړيدې چه څه به دسخرگنې کورته نه ځمه، جرگې والو اووئيل چه دا قسم غلط دې قسم خودالله په نوم کيږی، طلاق باندې نه کيږی، دارواجی قسم دې، ده بيا اووئيل که چرته ماد سخرگنې سره په غم خوشحالې کښې شرکت اوکړو نو ما باندې ښځه طلاقه ده، ده دا الفاظ اووئيل او سَحر واده وشو، هغه وخت دا سړی دسخرکره بيمار پُرسئ ته لاړو اته نهه ورځې پس ده خپله ښځه رخصت کړه چه په ما باندې طلاقه ده، بيا ده دخبرو کولو نه پس خپلې مورته اوئيل که چرته ستاشک وی نو زه ئې بيا وايمه چه فلانکئ په ما باندې په دريو کانړو باندې طلاقه ده او دويم ځل ئې بيا هم دغه رنگې اووئيل، ددې متعلق دشريعت څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمدضمير استاذگمبت مردان........ ١٩٧٢ء١٧١١٣

الجواب: بشرط صدق مستفتی په دې سړې باندې ښځه مطلقه مغلظه شويده بغير دتحليل نه چاره نشته دې﴿١﴾ دتحليل کيفيت دې دمقامی علماء نه معلوم کړيشی. وهوالموفق

دوکانداری نه کولوباندې طلاق معلق کول کله چه مراد ئې په شرکت سره دوکانداری وی.. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماءدين ددې مسئلې باره کښې چه يو سړې اووئيل چه څه دوکان نه کؤم که چرته ما دوکان اوکړو نو په ما باندې خپله ښځه په درې طلاق مطلقه ده، دا قسم هغه دوجی د دشرکت نه خوړلې دې، چه که چرته شرکت وی نو دوکانداری به نه کوم، اوس که چرته ځانته ددوکانداری کاروکړی نو آيا طلاق واقع کيږی؟ ليکن هغه وائې چه ځمانيت دطلاق نه وو؟ بينوا توجروا

المستفتی: زاهدعلی باچاحقانی........ ١٩٧٥ء١٢١١٢١

﴿١﴾ قال العلامة عبد الغنی الغنيمی: واذا کان الطلاق ثلاثا فی الحرة او ثنتين فی الامة ولو قبل الدخول لم تحل له حتى تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل بها ای يطأها ثم يطلقها او يموت عنها وتنقضی عدتها منه. (اللباب فی شرح الکتاب ٢: ١٨٣ کتاب الرجعة)

الجواب: که چرته ده دشرکت کولونه قسم خوړلې وی نوبلاشرکت دوکان کولو باندې په ده ښځه نه مطلقه کیږی، اوکه چرته مطلق دوکانداري نه ئې قسم کړیوی﴿۱﴾ نوبغیر دحیلې نه دوکانداري کول موجب تغلیظ دې یعنې موجب دطلاق مغلظ دې﴿۲﴾-وهوالموفق

د مشت زنی کولوپه وجه باندې طلاق معلق واچوی او بیا ئې تفخیذ وکړو نو څه حکم دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړې دمشت زنی عادت دې، ددینه دنجات موندلودوجی نه ده دااووئیل چه که چرته ائنده مامشت زنی وکړه نوهره هغه ښځه چه دهغې سره څه نکاح کوم هغه طلاقه ده، ددینه پس دادشهوت نه مغلوبه شواوتفخیذئې شروع کړلودتکیه وغیره سره، اوس هغه دطلاق باره کښې وائې چه داپه مشت زنې کښې داخل نه دی، ځکه چه ده صرف دلاس دمشت زنې په صورت کښې طلاق وئیلې دې، نو آیاپه تفخیذوغیره سره درې طلاقه واقع کیږی اوکه بائن؟بینوا توجروا

المستفتی: عبدالخالق شادمان لاهور......۱۴۰۱۱۲۱۲۹ھ

جواب: دا تفخیذوغیره مشت زنی نه ده اګرچه په مقصد کښې دمشت زنی په شان ده اوحرام دې﴿۳﴾ پس دې سړی حالف باندې ښځه مطلقه شوې نه ده

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واذا اضافه (ای الطلاق) الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا. (فتاوٰیٰ عالمگیریة ۱: ۴۲۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا لکن ان وجد فی الملک طلقت وعتق والا لا فحیلة من علق الثلاث بدخول الدار ان یطلقها واحدة ثم بعد العدة تدخلها فتنحل الیمین فینکحها.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۴۵ مطلب زوال الملک لا یبطل الیمین)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: ان علة الاثم هل هی کون ذلک استمتاعا بالجزء کما یفیده الحدیث وتقییدهم کونه بالکف ویلحق به ما لو ادخل ذکره.. (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

لیکن دمشت زنې دکولوپه صورت کښې په ده باندې ښځه په یوطلاق مطلقه کیږی﴿۱﴾-وهوالموفق

د مالی جرمانه نه ادا کولو په صورت کښې دطلاق معلق تفصیلی مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوسړې یوڅو کارونه ولیکل چه که چرته داپوره نه کړی نوپه ماباندې زرروپې مالی جرمانه لازمه ده، اوکه چرته مالی جرمانه مې ادانه کړه نوپه ماباندې ځما ښځه طلاقه ده، اوس که چرته دې سړی د شروط پوره والې ونۀ کړلواونقض عهد ئې ا وکړلو نوایادمالی جرمانه په نه اداکولوباندې درې طلاقه کیږی اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام عباس نقوی پشاور......۱۲\ذی قعده۱۳۹۷ھ

الجواب: مالی جرمانه اخستل یاورکول داامورمحرمه نه دې﴿۲﴾ لیکن دحرمت

(بقیه حاشیه) بین فخذیه مثلا حتی امنی ام هی سفح الماء وتهییج الشهوة فی غیر محلها بغیر عذر کما یفیده قوله واما اذا فعله لاستجلاب الشهوة الخ لم ارمن صرح بشیئ من ذلک والظاهر الاخیر لان فعله بید زوجته ونحوها فیه سفح الماء لکن بالاستمتاع بجزء مباح کما لو انزل بتفخید او تبطین بخلاف ما اذا کان بکفه ونحوه وعلی هذا فلو ادخل ذکره فی حائط او نحوه حتی امنی او استمنی بکفه بحائل یمنع الحرارة یأثم ایضا ویدل ایضا علی ما قلنا ما فی الزیلعی حیث استدل علی عدم حله بالکف بقوله تعالیٰ والذین هم لفروجهم حافظون، الآیة الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۰۹ مطلب فی حکم الاستمناء بالکف)

﴿۱﴾ قال العلامة المرغینانی: واذا اضافه (ای الطلاق) الی شرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق وهذا بالاتفاق لان الملک قائم فی الحال والظاهر بقاؤه الی وقت وجود الشرط فیصح یمینا او ایقاعا. (هدایة ۲: ۳۶۴ باب الایمان فی الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله لاباخذ مال فی المذهب) قال فی الفتح وعن ابی یوسف یجوز التعزیر للسطان باخذ المال وعندهما وباقی الائمة لا یجوز.ومثله فی المعراج وظاهره ان ذلک روایة ضعیفة عن ابی یوسف قال فی الشرنبلالیة..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

باوجود په دې سره طلاق معلق کول درست اونافذدی، بخلاف النذر﴿١﴾ او چونکه دادامطلق ده موقت نه ده لهذاداعهدکونکې به په اخری لمحاتو د زندګئ کښې حانث شی، کمافی ردالمحتار ٣: ١٨٦ واذالم یفعل لایحکم بوقوع الحنث حتی یقع الیاس عن الفعل﴿٢﴾. وهوالموفق

که چرته افیون اوخوری نوښځه به طلاقه وی.

بیا د افیونو نه جوړه شوې دوا اوخوری نو..؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړې اووئیل چه که چرته ما افیون اوخوړل نوماباندی ښځه طلاقه ده، ناڅاپه داسړې بیمارشو

(بقیه حاشیة) ولا یفتی بهٰذا لما فیه من تسلیط الظلمة علی اخذ مال الناس فیاکلونه..... وافاد فی البزازیة ان معنی التعزیر باخذ المال علی القول به امساک شیئ من ماله عنه مدة لینزجر ثم یعیده الحاکم الیه لا ان یأخذه الحاکم لنفسه او لبیت المال کما یتوهمه الظلمة اذلا یجوز لاحد من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی...... وفی شرح الآثار التعزیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ والحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٣: ١٩٥، ١٩٦ مطلب فی التعزیر باخذ المال)

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ان لا یکون معصیة لذاته) قال فی الفتح واما کون المنذور معصیة یمنع انعقاد النذر فیجب ان یکون معناه اذا کان حراما لعینه او لیس فیه جهة قربة فان المذهب ان نذر صوم یوم العید ینعقد ویجب الوفاء بصوم یوم غیره ولو صامه خرج عن العهدة ثم قال بعد ذلک قال الطحاوی اذا اضاف النذر الی المعاصی کله علی ان اقتل فلانا کان یمینا ولزمته الکفارة بالحنث.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٣: ٧٤ مطلب فی احکام النذر)

﴿٢﴾ (ردالمحتار ٣: ١٤٨ مطلب حلف لیفعلنه بربمرة کتاب الایمان)

ډاکټر چه ده ته کومه دوائې ورکړه په هغې کښې افیون هم اچولی وویعنی د افیونونه جوړه شوې دوائی وه نوپه دې صورت کښې په ده باندې طلاق واقع شواوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: صاحبزاده اکبردارالعلوم مردان ١٥ رمضان المبارک ١٤٠٣ھ

الجواب: ددې مرکب دوایئ په خوراک کښې حنث نشته دې، الاان یریدالحالف، ماخوذ ازهندیه ٢: ٨٥ وعبارتها، سئل شیخ الاسلام الزاهدرحمة الله علیه عمن حلف لایاکل لحما وحلف الاخر لایاکل بصلا واخر لا یاکل فلفلا فاتخذمحشوا جعل فیه هذه الاشیاء کلها فاکلها الحالفون کلهم لم یحنث احد الاصاحب الفلفل لان الفلفل لایؤکل الا هکذا فانصرفت یمینه الیه﴿١﴾. وهوالموفق

.که چرته څه د ځوئ کور ته لاړم نو ښځه

مې طلاقه ده.. ددې نه مراد د سکونت کوردې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید قسم خوړلې دې چه که چرته څه دخپل ځوئ کورته لاړم نوځماښځه طلاقه ده یاکه چرته ځما د ځوئ ښځه ځماکورته راغله نوبیاهم ځماښځه طلاقه ده، پس که چرته زید خپل کورهبه کړی اودهغه په نوم باندې ئې منتقل کړی، اوبیادزید ځوئ خپل لور (د زید نوسی) ته ئې هبه کړو، اوس که چرته زید دې کورته لاړشی نو طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ ځکه چه دزید ځوئ هم په دې کورکښې اوسیږی اوکه چرته دزید اینګوردزیدرهائشی کورته کوم چه اوس دزید ددوو ځامنو په نوم باندې موهوب دې راشی نودزید ښځه طلاقه کیږی اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: روح الامین ګړهی کپوره مردان.......... ١٩٨٥ء١١١١٢

الجواب: کوم کس چه داالفاظ اووائې، که زه دفلانی کره لاړم نوپه ما الخ. که ماکره فلانکی راغې نوپه ما الخ، نودعرف په بناء باندې ددې نه مراد د سکونت کوراومکان دې نه مملوکه کور، ومدارالایمان علی العرف، پس په دې بناء باندې په صورت اول کښې طلاق نه واقع کیږی، البته که چرته دا سړې

﴿١﴾ (فتاوی عالمگیریة ٢: ٨٥، ٨٦ الباب الخامس فی الیمین علی الاکل والشرب وغیرهما)

(زید) دارمملوکه مراداخستلی وی نودوارو صورتونو کښې طلاق نه واقع کیږی(۱)-وهوالموفق

د طلاق معلق یو تفصیلی مسئله او متعدد استفسارات

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې باره کښې چه عبدالله یوملازم پیشه سړې دې کورته راغلې دې،دده دوه خوئینډې دی،دخوردواده متعلق ئې خبری کیدې،په څه خبره باندې دپلاراوعبدالله په مینځ کښې سخت کلامی وشوه،پلارئې هغه ته اووئیل چه داځمالورده ددې سره ستاڅه تعلق نشته دې په دې باندې عبدالله ته غصه ورغله چه ځه دخویندومشر ورورېم که چرته ځماحق نه وی نوځمابنځه یودوه درې باندې طلاقه ده،که چرته ما د خویندو پوختنه هم وکړه(۱)اوس هغه کوم حالات دی په کوم سره چه طلاق واقع کیږی عبدالله ته څه کول ممنوع شول ځکه ددوارو خوایندوکویژدنې هم شویدې؟(۲)که چرته طلاق واقع شی نوددې نه پس څه حل دې؟ (۳) آیا د غصې په حالت کښې ده ته یمین متصورکولوسره کفاره کیږی اوڅه کفاره به ئې وی؟(۴)دوقوع طلاق په صورت کښې خاوندملازم پیشه اودکورنه درې میاشتې بهرتیرولوپه وجه دښځې په کورکښې اوسیدل جائز دی؟اوکه یا د والدینو کورته به ځی؟(۵) ښځه دده دترورلورده دواړه نه مخکښې ئې هم

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله الايمان مبنية عندنا على العرف) لان المتكلم انما يتكلم بالكلام العرفى اعنى الالفاظ التى يراد بها معانيها التى وضعت لها فى العرف كما ان العربى حال كونه بين اهل اللغة انما يتكلم بالحقائق اللغوية فوجب صرف الفاظ المتكلم الى ما عهد انه المراد بها..... نعم ما وقع مشتركا بين اللغة والعرف تعتبر فيه اللغة على انها العرف فاما الفرع المذكور فالوجه فيه ان كان نواه فى عموم قوله بيتا حنث وان لم يحظر له فلا لانصراف الكلام الى المتعارف عند اطلاق لفظ بيت فظهر ان مرادنا بانصراف الكلام الى العرف اذا لم تكن له نية وان كان له نية شيئ واللفظ يحتمله انعقد اليمين باعتباره.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۸ مطلب الايمان مبنية على العرف كتاب الايمان)

پرده نه کوله نوایاښځه به اوس دخاوندنه پرده کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حوالدارکلرک رحمان ګل کوئټه......۱۹۶۹ء۱۵\۹

الجواب: (۱) د خوئیندو متعلق تپوس اودوې سره تعلقات ساتلوباندې طلاق واقع کیږی(۱) ددې وجی نه تپوس کول اوتعلقات ساتل ده ته موجب طلاق دې او تپوس نه کول اوتعلقات نه ساتل ګناه ده(۲)-(۲)ددې علاج تحلیل دې چه د هغې تفصیل دې دمقامی علماء نه معلوم کړیشی(۳) دغصې په حالت کښې هم طلاق واقع کیږی-(۴) لیکن دلته طلاق مغلظه واقع کیږی لهذا دتحلیل نه بغیرچاره نشته دې-(۴) ښځې ته دپلارکره تلل ضروری نه دی په دې کورکښې هم اوسیدلې شی-(۵)کله چه طلاق واقع شی نود جانبینو د طرف نه پرده کول ضروری دی(۵)-وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة الموصلى: فاذا علق الطلاق بشرط وقع عقيبه وانحلت اليمين وانتهت.

(الاختيار لتعليل المختار ۲: ۱۸۱ فصل كنايات الطلاق)

(۲) عن ابى ايوب رضى الله عنه ان رسول الله ﷺ قال لا يحل لمسلم ان يهجر اخاه فوق ثلاث ليال يلتقيان فيعرض هذا ويعرض هذا وخيرهما الذى يبدأ بالسلام متفق عليه.

(بلوغ المرام ۲۸۰ باب البر والصلة)

(۳) وفى الهندية: وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها كذا فى الهداية.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۴۷۳ فصل فيما تحل به المطلقة وما يتصل به)

(۴) قال العلامة ابن عابدين: والذى يظهر لى ان كلا من المدهوش والغضبان لا يلزم فيه ان يكون بحيث لا يعلم ما يقول بل يكتفى فيه بغلبة الهذيان واختلاط الجد بالهزل كما هو المفتى به فى السكران. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۳ مطلب فى طلاق المدهوش)

(۵) قال العلامة الحصكفى: ولا بد من سترة بينهما فى البائن لئلا يختلى بالاجنبية ومفاده ان الحائل يمنع الخلوة المحرمة..... قال ولهما ان يسكنا بعد الثلاث فى بيت واحد اذا لم يلتقيا التقاء الازواج ولم يكن فيه خوف فتنة انتهىٰ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۶۷۵ قبيل فصل فى ثبوت النسب)

په دې جواب باندې دوباره استفسار

سوال: ستا سوال موصول شواودمعاملې تاسوته پوره پته لګیدلې ده،زیات داچه :(١)دخوئیندوسره تعلق ساتلوباندې کوم یوطلاق واقع کیږی ځکه چه تا سوصفاونه وئیل(٢)که چرته طلاق مغلظه شی لکه څنګه چه تاسولیکلی دی نوښځه کورکښې څنګه اوسیدلې شی،که چرته دې ته دویم کس سره نکاح کول وی حالانکه تاسولیکلې دی چه ښځه دې کورکښې اوسیږی دوتلو ضرورت نشته؟(٣)تالیکلی دی چه که چرته ښځه غواړی نودویم سړې سره دې نکاح اوکړی اوکه چرته ښځه نه غواړی اوهغه دعدت پوره کیدونه پس دخپل خاوندسره نکاح کول غواړی؟(۴)چونکه دقسم کولو په وخت دبحث مسئله دخوئیندوواده ووډلته یومعززعالم صاحب چه په کوټه کښې امام اوخطیب دې هغه فرمائ چه عبدالله ته پکاردی چه دخوئیندودواده په معامله کښې بالکل دخل ونه کړی،اوکله چه ئې دخوئیندوواده وشی نوبیا عبدالله دخوئیندوسره تعلق ساتلې شی،طلاق نه واقع کیږی،ډیره مهربانی داهم لګ شان صفاکړه چه که چرته دخویندوپه واده کښې عبدالله بالکل غیرجانبداردې اودواده نه پس تعلقات اوساتی نوخیردې ځکه چه دده والدصاحب په دې خبره باندې غصه شوي وو چه ته دخویندو واده ذمه وار نه ئې داځماکاردې،اوعبدالله دخویندودرشتې نه مجبوروومګردغلطې نه خبره اووتله-(۵) په دې تعلقاتونه ساتلوکښې کومې،کومې خبرې شاملې دی ځکه کورکښې اوسیدو سره بعضې خبرې کیږی یا صرف دواده متعلق خبرې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حوالدارکلرک رحمان ګل کوټه کینټ.........١٩٦٩ء١٧١٦١

الجواب: (١) دخویندوسره تعلقات ساتلو باندې درې طلاقه(طلاق مغلظ) واقع کیږې ځکه چه عبدالله وئیلی دی،،که چرته ځماحق نه وی نوځمابښځه یودوه

درې باندې طلاقه ده اوکه چرته مادخویندوتپوس هم اوکړو،،﴿١﴾-(٢) د شریعت حکم دادې چه د عدت په ورځوکښې دخاوندپه کورکښې سکونت ضروری دې لیکن دخاوندنه به پرده ضرورکوی.(فی الهندیه ٢: ٤٠٨)وعلی المعتدة ان تعتدفی المنزلةالذی یضاف الیها بالسکنی حال وقوع الفرقة والموت لقوله تعالی:ولاتخرجوهن الایة....ثم ان وقعت الفرقة بطلاق بائن اوثلث لابد من سترةبینهما ثم لاباس لانه معترف بالحرمة الا ان یکون فاسقا﴿٢﴾.(٣)دعدت پوره کیدونه پس دخپل خاوندسره هیڅ کله نکاح نه شی کولې تردې پورې چه تحلیل نه وی شوې،یعنې دویم خاوندسره دجماع کولونه پس که چرته هغه اوغواړی طلاق ورکړې اودطلاق نه پس کله چه عدت تیر شی نواول خاوندسره تجدیددنکاح وکړی﴿٣﴾-(۴)که چرته دعبدالله مراددې الفاظونه،، که چرته مادخویندوتپوس هم اوکړو،،که صرف دواده د امور متعلق تپوس وی نونورتعلقات ساتلې شی لیکن دامعامله ئې دالله تعالی سره ده دروغ نه وئیل ضروری دی ځکه چه په ظاهره په دې الفاظوباندې قطع دټولو تعلقاتو داخوت مراد ده﴿٤﴾-(۵)داسوال دې دعبدالله نه اوشی چه دده ددې الفاظونه څه مرادوومطلق تعلقات ئې مرادوواوکه نه دواده متعلق. وهوالموفق

﴿١﴾ وفی الهندیة: واذا اضافه (ای الطلاق) الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا.
(فتاویٰ عالمگیریة ١: ٤٢٠ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان)
﴿٢﴾ (هدایة ٢: ٤٠٧،٤٠٨ قبیل باب ثبوت النسب کتاب الطلاق)
﴿٣﴾ قال العلامة الغینمی المیدانی: واذا کان الطلاق ثلاثا فی الحرة...... ولو قبل الدخول لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ای یطأها ثم یطلقها او یموت عنها وتنقضی عدتها منه. (اللباب فی شرح الکتاب ٢: ١٨٣ کتاب الرجعة)
﴿٤﴾ قال العلامة الحصکفی: الایمان مبنیة...... عندنا علی العرف مالم ینو ما یحتمله اللفظ فلا حنث فی لا یهدم الا بالنیة فتح.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٣: ٧٨ مطلب الایمان مبنیة علی العرف)

دریم ځل استفسار:

سوال: جواب موصول شوي دي ليکن يو اشکال باقي دي چه دواده متعلق خوبه عبدالله دوالدينوسره يادکومې خورسره څه عرض نه ساتي، ليکن بياهم د اخوت اود وروز خور رشته ده ددې وجې نه که چرته خورته په واده کښې تحفه ورکول غواړي مثلا دکپړو جوړه بکس زيورات وغيره؟بينوا توجروا

المستفتي: رحمٰن گل کلرک حولدارکوټته

الجواب: عبدالله په خپله خورته څه تحفه نه شي ورکولې، بل څوک که چرته دده د طرفنه (بغير دده دامرنه) تحفه ورکړي نوعبدالله باندې څه حرج نشته﴿۱﴾-وهوالموفق

څلورم ځل استفسار:

سوال: څه فرمائي علماء دين ددې مسئلې باره کښې چه مسئله تاته پوره معلومه شوه چه اوس څمادپاره دخوئيندوسره تعلق ساتل موجب دطلاق مغلظ دې ليکن دخويندوسره رشته نه ساتل هم گناه ده ددې وجې نه که چرته زه کوم يوې خورته يوجوړه ورولېگم نوطلاق واقع کيږي،اوس مخکښې څماد پاره څه کول ضروري دی،درې مياشتې پس به په دويم ځل نکاح کول وی ياکوم حل چه زماد پاره مطابق دشريعت محمدی وی ستاسو دفېصلې به منتظريم؟ بينوا توجروا

المستفتي: رحمن گل حوالدار کلرک

الجواب: که چرته تادخپلې خورسره څه تعلق داختستوا ورکولو وغيره قائم کړو

﴿۱﴾ قال العلامة التمرتاشي: ويحنث بفعله وفعل ماموره فى النكاح والطلاق والعتاق والخلع...... والهبة والصدقة الخ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳: ۱۲۹ مطلب حلف لا يتزوج)

نو ستا ښځه په تا باندې حرامیږي﴿۱﴾اودعدت(درې حيضه)د تيريدونه پس ښځه که چرته غواړي نودويم کس سره نکاح کولې شي اوداسړې به ددې سره جماع کوی،اوجماع نه پس که چرته داسړې غواړي نوښځې ته دې طلاق ورکړي اوطلاق ورکولونه پس کله چه عدت تيرشي نوکه ښځه چرته غواړي نوتاسره دوباره نکاح کولې شي﴿۲﴾-وهوالموفق

کومې ښځې سره چه زه نکاح وکړم هغه په ما باندې مطلقه ثلاثه ده.. ددې حکم اوفضولي نکاح

سوال: څه فرمائي علماء دين ددې مسئلې باره کښې چه(۱)چه يوکس اوئيل چه دکومې ښځې سره زه نکاح وکړم نو په خدائ قسم که چرته زه هغې ته نزدې شم نوهغه په ما باندې حرامه ده-(۲)يادااووائی چه کومه ښځه ماوکړه نوهغه په ما باندې په درې طلاقو باندې طلاقه ده،اوس که چرته دې سړې ته نکاح فضولي وکړيشي نوطلاق واقع کيږي؟بينوا توجروا

المسفتي: عبدالواسع اکبرپوره......۱۹۷۵ء۷۱۹۱

الجواب: کله چه فضولي عقدنکاح وکړي اوداکس ئې قبول بالفعل کړي يعنې مهرمعجل ورکړي وغيره نوطلاق دوقوع نه به بچ شي، کما في ردالمحتار ۲: ۶۸۱ اذا قال کل امراة اتزوجها طالق،والحيلة فيه ما في البحر من انه يزوجه

﴿۱﴾ قال الحداد اليمني: واذا اضاف الى شرط وقع عقيب الشرط مثل ان يقول ان دخلت الدار فانت طالق هذا بالاتفاق. (الجوهرة النيرة ۲: ۱۱۰ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة المرغيناني: وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها والاصل فيه قوله تعالىٰ فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره.

(هداية ۲: ۳۷۸ فصل فيما تحل به المطلقة)

فضولی ویجیز بالفعل کسوق الواجب الیها او یتزوجها بعدماوقع الطلاق علیها﴿۱﴾ اودسوال اول په صورت کښې هم دایلاء یاطلاق نه دیچ کیدو دا حیله ده اودبینونت حفیفه په صورت کښې تجدیدنکاح هم مخرج اوحیله ده، کما مر﴿۲﴾. وهوالموفق

په عرفی کلما طلاق سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زیدعمروته اووئیل چه که چرته تااودس اونه کړو نوپه تا باندې خپله ښځه کلماطلاقه ده یعني دطلاق سره ئې کلما لفظ اووئیلو .لیکن عمرواودس کولوباوجودده په خبره باندې صرف آو اوکړو یعني لفظ د طلاق وغیره ئی ذکرنه کړلو ددې الفاظو شرعي حکم څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: روح الامین تورډهیرصوابی.......... ۱۹۹۰ء۱/۵/۴

الجواب: عمروباندې ښځه طلاقه شوې نه ده ځکه دایمین عرفی کلمادي شرعی په دې طریقه دې کلما تزوجت امراة فهی طالق، کما فی الشامیه۳:۲۴۷ باب الصریح طبع حلبی، انه قد اشتهر فی رساتیق شروان ان من قال جعلت کلما اوعلی کلما انه طلاق ثلاث معلق وهذا باطل ومن هذیانات العوام﴿۳﴾ انتهٰی. وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۳۷ باب التعلیق

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: ان لفظ حرام معناه عدم حل الوطء وداوعیه وذلک یکون بالایلاء مع بقاء العقد وهو غیر متعارف ویکون بالطلاق الرافع للعقد وهو قسمان بائن ورجعی لکن الرجعی لا یحرم الوطء فتعین البائن و کونه التحق بالصریح للعرف لا ینافی وقوع البائن به فان الصریح قد یقع به البائن کتطلیقة شدیدة ونحوه الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰۴ قبیل مطلب لااعتبار بالاعراب هنا)

﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۵ اول باب الصریح)

عوامی طلاق کلما لغوه اوبې اثره دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړي داسې قسم اوخوری چه، زه په طلاق کلما اوپه الله باندې قسم کومه اوقران باندې قسم دې چه کوم شخصی تنظیم اودشخصی پالیسي لاندې په کوم تحریک کښې به حصه نه اخلم اوپه طوردمنافقت به په دې جبه کښې شمولیت نه کوم، داواقعه دیو اتحاد په صورت کښې شوې وه چه افغانی طالبانوپه عرض داتحاد او تاکید دا الفاظ لیکلی وو اوس په مخالفت کولوباندې طلاق کلما واقع کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری غلام فاروق افغانی دارالعلوم رحمانیه پشاور ۱۹۸۵ء۱۰/۱۱/۱۲

الجواب: په صورت مسئوله کښې صرف یو کفاره په تقدیرد حنث واجب کیږی﴿۱﴾ اودا طلاق کلما شرعی طلاق کلمانه دې بلکه عوامی طلاق کلمادې کوم چه لغوه اوبې اثره دې، کما فی ردالمحتار ۲: ۵۹۰ باب الصریح قداشتهر فی رساتیق شروان ان من قال جعلت کلما اوعلی کلما انه طلاق ثلاث معلق وهذا باطل ومن هذیانات العوام﴿۲﴾. وهوالموفق

،ځما کلما طلاق دې، سره صرف یوطلاق رجعی واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه دووډلو کښې دقتل معامله وه بیادمقتول اوقاتل ددواړوډلوپه مینځ کښې فیصله شوې وه لیکن د مقتول دطرفه یو کس چه کله قاتل ځانته اوموندونوپه قاتل باندې دوه ډزې وکړې لیکن توپک خراب شوهغه بچ شو ،بیا دې ډزې کولووالـه قاتل ته اووئیل چه زه تاصرف په دې شرط پریږدم چه ته کلما طلاق اوکړې، قاتل درې

﴿۱﴾ قال العلامة المرغینانی: والمنعقدة مایحلف علی امر فی المستقبل ان یفعله اولا یفعله واذا حنث فی ذلک لزمته الکفارة.

(هدایة ۲:۴۵۷ کتاب الایمان)

﴿۲﴾ (ردالمحتارهامش الدرالمختار ۲:۴۶۵ اول باب الصریح)

خله دخاوروګټې اوغورخول اووئې وئیل چه زما کلماطلاق دې،لیکن داکس قاتل کلماطلاق نه پیژندلو اوس د دې طلاق څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی: مولوی نعیم الله ساوتهه وزیرستان.......... ۱۸/۸/۱۹۸۴ء

الجواب: په دې قاتل باندې باقاعده یوطلاق رجعی نافذ کیږی،په کوم کښې چه دعدت تیرولو نه مخکښې زبانی رجوع کافی ده(۱)اوپه دیکښې نورخطرات نشته دې،کما فی ردالمحتار ۲: ۵۹۰ باب الصریح قداشتهر فی رساتیق شروان ان من قال جعلت کلما اوعلی کلما انه طلاق ثلاث معلق وهذاباطل ومن هذیانات العوام انتهی(۲) په هرحال دا شرعی طلاق کلمانه دې بلکه عوامی طلاق کلمادې-وهوالموفق

د طلاق کلما حنث کښې د عمد او نسیان او د حیلې اومخرج حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کښې چه یو کس قسم اوکړوچه زه به داکارنه کوم اوکه چرته اومی کړو نوچه کومې ښځې سره زه نکاح کوم هغه طلاقه ده،د دې نه پس دده نه هغه کارهیرشو اووئی کړلو نوده خپل ځان حانث اوګڼرلو اودوباره ئې قصداوعمداهغه کاراوکړلو،اوس د دې څه حکم دې ایاپه ده باندې همیشه دپاره نکاح حرامه شوه یادخلاصی دپاره څه حیله شرعیه شته؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالقادرهزاروی

الجواب: په حنث کښې دعمداونسیان یوحکم دې،من فعل المحلوف علیه مکرها

﴿۱﴾قال العلامة القهستانی: وصریحه ما استعمل فیه دون غیره مثل انت طالق ومطلقة وطلقتک...... ویقع به ای بمثل ما ذکر طلقة رجعیة لا یحتاج الی تجدید النکاح ولا رضاء المرأة الخ. (جامع الرموز ۱: ۵۵۸ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۵ اول باب الصریح)

اوناسیا فهوسواء(۱) (وهکذا فی جمیع کتب الفروع)(۲)اوحیله کومه چه فقهاؤ په کتب فروع کښې ذکر کړې ده واکتفی بعبارة الاشباه والنظائر ۴۲۰ قوله فالحیلة ان یزوجه فضولی ویجیزه بالفعل(۳)هذاهوالمختار کما فی الزیلعی وعلیه الفتوی کما فی منح الغفار نقلا عن الخانیة(۴).وهوالموفق

په الفاظ د طلاق کلما کښې حیله او د اجازت بالوطی مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کښې چه(۱)یوطالب العلم اووئیل چه که چرته زه دې کمرې ته داخل شوم نوپه ما باندې کلماتزوجت طلاقه ده،بیا داطالب العلم کمرې ته داخل شو د دې نه پس داطالب العلم کوم مفتی صاحب ته لاړو مفتی صاحب اووئیل چه ته دفضولی په ذریعه نکاح کولې شې د دې نه پس داطالب العلم کورته راغلو او پلارته ئې ذکر کړو چه ما داسې طلاق اچولې دې اودنکاح فضولی نه بغیر څه چاره نشته دې بیا پلار زوې ته نکاح فضولی اوکړله اودمسئلې بیانولونه پس ئې داهم اووئیل چه ته زما وکیل نه ئې اوتاته اجازت دې د دې څه حکم دې؟(۲)زمونږعلاقه کښې دنکاح فضولی نه پس دووکالوپورې واده نه شی کولې اوخاوند خپلې ښځې سره هم نه شی ملاویدې،که چرته په کومه طریقه باندې ورسره ملاؤشی نو د

﴿۱﴾(هدایة ۲: ۴۵۷ کتاب الایمان)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: ولو الحالف مکرها او مخطئا او ذاهلا او ساهیا او ناسیا.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۵۳ مطلب فی الفرق بین السهو والنسیان)

﴿۳﴾(الاشباه والنظائر ۳۹۸ الفن الخامس فی الحیل السادس فی النکاح)

﴿۴﴾قال العلامة الشامی: هذا هو المختار کما فی التبیین وعلیه اکثر المشائخ والفتوی علیه کما فی الخانیة.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۱۵۰ مطلب حلف لا یتزوج فزوجه فضولی)

وطی په دوران کښې عزل کوی یا دمنصوبه بندۍ څه طریقه اختیاروی ددې متعلق وضاحت اوفرمایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالصمد بلوچستانی........۱۳|۹|۱۹۸۹ء

جواب: (۱) په ظاهره دا الفاظ موجب طلاق نه دی ځکه چه په دې کښې شرط او جزاء متحقق نه دي(۱) اوقسم او طلاق کښې صرف نیت ناکافی وی. الا اذا تلفظ بهذا. که چرته مافلاني کار اوکړلو نو هرځل چه زه نکاح کوم نو په ما باندې ښځه مطلقه ده. فیبتلی بماهوشاق ویحتال بما هومسطور فی السوال کما فی الهندیة(۲) والشامیه(۳). (۲) کوم خت چه دې کس ته اطلاع اوشی چه زما د فلانی سره عقد فضولی شویدې نو په دې کس باندې فی الحال اجازت ورکول ضروری نه دی پس کله چه دا کس اجازت بالوطی اوکړی نو ددې نه پس فلانې ته زوجه وئیل ضروری نه دی. وهوواضح(۴). وهوالموفق

(۱) قال العلامة الشامی: قلت لكن قال فی نور العين الظاهر انه لا يصح اليمين لما فی البزازية من كتاب الفاظ الكفر انه قد اشتهر فی رساتيق شروان ان من قال جعلت كلما او على كلما انه طلاق ثلاث معلق وهذا باطل ومن هذيانات العوام فتأمل.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۵ باب الصريح)

(۲) وفی الهندية: اذا قال كل امرأة اتزوجها فهی طالق فزوجه فضولی واجاز بالفعل بان ساق المهر ونحوه لا تطلق بخلاف ما اذا وكل به لانتقال العبارة اليه.
(فتاویٰ عالمگيرية ۱: ۴۱۹ الفصل الثانی فی تعليق الطلاق بكلمة كل وكلما)

(۳) قال العلامة ابن عابدين: اذا قال كل امرأة اتزوجها طالق والحيلة فيه ما فی البحر من انه يزوجه فضولی ويجيز بالفعل كسوق الواجب اليها.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۳۷ باب التعليق)

(۴) قال العلامة محمد امين: (قوله وبالفعل) كبعث المهر او بعضه بشرط ان يصل اليها وقيل الوصول ليس بشرط نهر وكتقبيلها بشهوة وجماعها لكن يكره تحريما لقرب نفوذ العقد من المحرم بحر قلت فلو بعث المهر اولا لم يكره التقبيل والجماع لحصول الاجازة قبله. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۱۵۰ مطلب حلف لا يتزوج فزوجه فضولی)

په طلاق کلما کښې حیله اوپه مذهب غیرباندې دفتوی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې که چرته یو کس او وئیل که چرته زه، لوفعلت هذاالفعل الحرام فکلماتزوجت امراةفهی علی طالق ثلاثا، او وروسته هغه حرام فعل دده نه صادرشی نو ایاشرعاً دده دپاره څه طریقه دنکاح کولو شته او که نه؟ همدارنګی ددې باره کښې دمذهب غیردفتوی څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدانور حقانی کوئټه شهر.........۱۲ربیع الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: کوم کس چه په طلاق کلماسره قسم اوکړی مثل ان یقول: ان فعلت کذا فکلما تزوجت امراةفهی علی طالق ثلاثا، نو ددې دپاره دتوسط فضولی حیله بهرحال جائزده، لما فی ردالمحتار ۲: ۶۱۱ والحیلةفیه ما فی البحر من انه یزوجه فضولی ویجیز بالفعل کسوق الواجب الیها انتهی(۱) قلت لایلزم القبول بالفعل فی مجلس النکاح نعم یلزم الایجاب والقبول فی ذلک المجلس، او داکس دضرورت په وخت کښې یعنی کله چه لواطت، زنا، استمناء بالکف وغیره کښې واقع کیدل متیقن یا مظنون وی نو په مذهب دشوافعو باندې عمل کولې شی لیکن د عادل مفتی دفتوی نه پس، لما فی شرح التنویرعلی هامش ردالمحتار ۲: ۶۱۳ بل افتاء عدل(۲) نوټ: کله چه یو حنفی، په مذهب غیر باندې فتوی ورکړی نو دا به حنفی شماریږی، کمافی حیلة الناجزة(۳). وهوالموفق

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۳۷ باب التعلیق)

(۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۳۹ مطلب فی معنی قولهم لیس للمقلد الرجوع عن مذهبه)

(۳) قال الشیخ اشرف علی التهانوی: د غیرمذهب اخستلو دپاره دا شرط دې چه د اتباع هویٰ په وجه نه وی بلکه د داعیه ضرورت په وجه وی او ضرورت هغه معتبر دې کوم چه اهل بصیرت علماء ضرورت اوګڼړی اوداهم ضروری ده چه فتویٰ ورکونکې داسې کس وی چه هغهٔ د یوماهر استاذ نه فن حاصل کړې وی......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د معلق بالشرط طلاق عجیبه صورت او د دویم واده د پاره حیله اوچل

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو کس په وخت د نکاح کښې دا لاندینی الفاظ اولیکل اوورئې کړل، چه فلانۍ منکوحه د مور په جوند کښې که چرته کوم دویم کس سره نکاح حقیقی یا غیر حقیقی، فضولی یا غیر فضولی، وکالة یا اصالة یا دلالة برابره خبره ده که په کومه د مذاهبو اربعو کښې جائز وی او وې کړه نو دویمه ښځه د مسماة فلانۍ په موجودګۍ کښې د مذکورة الصدر په وصف سره په نکاح کښې راوړه نو هغه مطلقه مثلثه طلاق باندې طلاقه ده، یعنې درې شرائطو سره طلاقه طلاقه طلاقه ده، اوس هغه کس ددې ښځې په موجودګې او زندګۍ کښې ددویمې ښځې سره نکاح کوی بلکه ښځې هم اجازت ورکړیدې، اوس د مذکوره لیک په موجودګې کښې دویم واده دپاره څه طریقه ده، بینوا توجروا

المستفتی: قاری محمد اکبرشاه ګیلانی مری هزاره............ ۱۹۷۵ء۱۳۱۷

الجواب: دې کس ته بغیر ددینه هیڅ تدبیراوحیله نشته دې چه اولاکومې غیر مرغوبې ښځې سره نکاح اوکړی نو هغه به مطلقه معلظه شی اوددینه پس مرغوبې ښځې سره نکاح اوکړی په دیکښې څه خطره نشته دې، ځکه چه هغه کلما اودهغې کوم مرادف لفظ نه دې استعمال کړې. کما فی الدرالمختار :وفیها کلها تنحل ای تبطل الیمین ببطلان التعلیق اذا وجدالشرط مرة الافی کلما الخ، هامش ردالمحتار ۲: ۶۸۸﴿۱﴾.وهوالموفق

که ستاځوی ته مې رشته ورکړله نوپه ما باندې خپله ښځه طلاقه ده.نه مخلصی اوحیله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید خپلې خینې ته د

(بقیه حاشیه)..او اهل بصیرت دهغه په فقه کښې د مهارت تامه په حاصلیدو باندې شهادت ورکوی، لما قال الشامی فی عقود رسم المفتی الخ، (حیله ناجزه ...۳۴، ۳۵ دغیرمذهب اختیارولو باندې اشکال اوجواب.

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۴۲ مطلب ما یکون فی حکم الشرط باب التعلیق)

جهګړې په دوران کښې اووئیل که چرته ماستاځوی ته دخپلې لوررشته درکړله نوپه ما باندې خپله ښځه طلاقه ده، اوس هغه رشته ورکول غواړی لیکن په بل صورت کښې خپلولې کښې دفساد خطره ده ددې دحل متعلق یو مولوی صاحب وئیلی دی چه دجینې پلارزیدبه په دې مجلس دانعقادنکاح کښې نه وی اوداجینې په خپله بالغه ده لهذا کوم دویم کس دې وکیل جوړ کړی نوپه دې صورت کښې نکاح به هم اوشی اوپلاریعنې زیدبه دیمین د طلاق نه هم بچ شی، ایاپه شرعه کښې داطریقه درست ده؟بینوا توجروا

المستفتی: صوفی محمددین کوټ فتح خان............ ۱۹۷۲ء۹۱۹

الجواب: دا تدبیراوحیله درسته ده﴿۱﴾اوکه چرته دې کس په دې کلام باندې زیادت نه وی کړې نورشته ورکولوپه صورت کښې یوطلاق رجعی واقع کیږی﴿۲﴾ په کوم کښې چه زبانې مراجعت کافې دې، تجدید دنکاح یاد تحلیل ضرورت نشته دې﴿۳﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: ویحنث بفعله وفعل ماموره فی النکاح لا الانکاح، قال ابن عابدین: ای التزویج فلا یحنث به الا بمباشرته وهذا فی الولد الکبیر او الاجنبی لما فی المختار وشرحه حلف لا یزوج عبده او امته یحنث بالتوکیل والاجازة لان ذلک مضاف الیه متوقف علی ارادته لملکه وولایته وکذا فی ابنه وبنته الصغیرین لولایته علیهما وفی الکبیرین لا یحنث الا بالمباشرة لعدم ولایته علیهما فهو کالاجنبی عنهما فیتعلق بحقیقة الفعل. (ردالمحتار مع الدرالمختار ۳:۱۲۹ مطلب حلف لا یزوج عبده کتاب الایمان)

﴿۲﴾قال العلامة الحداد الیمنی: واذا اضاف الی شرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول ان دخلت الدار فانت طالق هذا بالاتفاق لان الملک قائم فی الحال والظاهر بقاؤه الی وقت الشرط ولانه اذا علقه بالشرط صار عند وجود الشرط کالمتکلم بالطلاق فی ذلک الوقت. (الجوهرة النیرة ۲:۱۱۰ کتاب الطلاق)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: الرجعة ابقاء النکاح علی ماکان مادامت فی العدة...... ان یراجعها بالقول...... وان راجعها بالفعل مثل ان یطأها او یقبلها بشهوة الخ. (فتاویٰ عالمگیریة ۲:۴۶۸ الباب السادس فی الرجعة وفیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

د مطلقه مغلظه نه دوباره نکاح باندې طلاق معلق نه دویستلوحیله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو کس باندې جبرا طلاق ثلاثه واچولې شو ،اوبیا داشرط هم جبراپه ده باندې اولګولې شو که چرته تادوباره ددې ښځې سره دنکاح خواهش اوکړواوپه نکاح باندې دې واخسته نودا ښځه بیا په تاباندې طلاقه ده په طلاق ثلاثه باندې ،اوس په شریعت کښې ددې څه حکم دې؟اوددې مشکل نه دویستلودپاره څه لاره ده؟ بینوا توجروا

المستفتی:قاری محمد خان بانډه پیران بفه مانسهره

الجواب: په صورت مسئوله کښې په دې سړې باندې ښځه مطلقه مغلظه شویده بغیردتحلیل نه چاره نشته دې﴿۱﴾اودتحلیل نه پس که چرته دې سړې دې ښځې سره اصالةیاوکالة عقدنکاح وکړه نودوجودالشرط دوجې نه دوباره مطلقه مغلظه کیږې﴿۲﴾ لهٰذا دتحلیل نه پس کوم فضولی یعنی داسې کس کوم چه دې خاوندوکیل نه وې جوړ کړې دده دپاره عقدنکاح وکړی اوداکس

﴿۱﴾ قال العلامة احمد بن محمد القدوری: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة...... لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحاصحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها.
(القدوری علی صدر اللباب فی شرح الکتاب ۲: ۱۸۳ کتاب الرجعة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویحنث بفعله وفعل ماموره لم یقل وکیله لان من هذا النوع الاستقراض والتوکیل به غیر صحیح فی النکاح، قال العلامة الشامی: فلو حلف لا یتزوج فعقده بنفسه او وکل فعقد الوکیل حنث.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳: ۱۲۹ مطلب حلف لا یتزوج)

(خاوند) ئې قبول بالقول ونه کړی بلکه قبول بالجماع وغیره وکړی،صرح بهذه الحیلة فی ردالمحتار﴿۱﴾والاشباه والنظائر﴿۲﴾وغیره.

نوټ:...دفسخ یمین د کولوپه نسبت داحیله بهتره ده،صرح به الشامی﴿۳﴾ وهوالموفق

که چرته مادې کس سره ددویمې او دریمې نکاح نه پس هم خبرې اوکړی نودرې طلاقه.نه مخلص اوحیله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړې اووئیل که

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: حلف لا یتزوج فزوجه فضولی فاجاز بالقول حنث وبالفعل لا یحنث به یفتی خانیة. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۱۵۰ مطلب حلف لا یتزوج فزوجه فضولی)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: حلف لا یتزوج فالحیلة ان یزوجه فضولی ویجیزه بالفعل.
(الاشباه والنظائر ۳۹۸ الفن الخامس، الحیل فی النکاح)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله وللحنفی تقلیده الخ) ای تقلید الشافعی قال فی البحر وللحنفی ان یرفع الامر الی شافعی یفسخ الیمین المضافة فلو قال ان تزوجت فلانة فهی طالق ثلاثا فتزوجها فخاصمته الی قاض شافعی وادعت الطلاق فحکم بانها امرأته وان الطلاق لیس بشیئ حل له ذلک الخ...... ولیس للمفتی الافتاء بالروایة الضعیفة وکونها افتی بها کثیر من ائمة خوارزم لا ینفی ضعفها ولذا تقدم عن الصدر انه لا یحل لاحد ان یفعل ذلک وکذا ما تقدم عن الحلوانی من انه یعلم ولا یفتی به فلو ثبتت هذه الروایة عن محمد او کانت صحیحة لبنوا الحکم علیها ولم یحتاجوا الی بنائه علی مذهب الشافعی فهذا یدل علی انها روایة شاذة کما یشیر الیه کلام المجتبیٰ المار فافهم هذا وفی البحر عن البزازیةو التزوج فعلا اولیٰ من فسخ الیمین فی زماننا وینبغی ان یجئ الی عالم ویقول له ما حلف واحتیاجه الی نکاح الفضولی فیزوجه العالم امرأة ویجیز بالفعل فلا یحنث وکذا اذا قال لجماعة لی حاجة الی نکاح الفضولی فزوجه واحد منهم. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۳۸،۵۳۹ مطلب فی فسخ الیمین المضافة الی الملک)

چرته مافلانی کس سره خبرې اوکړې نوزماپه ښځه باندې درې طلاقه دي اوکه چرته ددویمې اودریمې نکاح نه پس مې هم خبرې اوکړې نودرې طلاقه. اوس که چرته ده ددې کس سره خبرې اوکړې نودطلاق نه پس به حلاله کوی اوبیابه نکاح کوی اوس که چرته ددویمې نکاح نه پس ئې خبرې اوکړې نوایاپه دې اولنی حلالې سره دااول تعلیق باطل شویدې اوکه نه؟ که چرته باطل نه وې نو بیا خبرې کول هم ضروری دی‌ په کومه طریقه دوباره دطلاق نه بچ کیدې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: لطف الله حقانی شبقدرقلعه چارسده...... ۱۲رمضان۱۴۰۹ھ

الجواب: داکس ددې دویمې نکاح نه پس ددې کس سره دې خبرې نه کوی او ښځې ته دې یوطلاق ورکړی اوکله چه عدت تیرشی نودریم ځل نکاح دی اوکړی اوددې نه پس یوطلاق دې ښځې ته دجماع اوخلوت نه مخکښې ورکړی نوددې څلورمې نکاح نه پس داکس ددې کس سره خبرې کولې شی لیکن ددې سړی په خپله ښځه باندې دیوطلاق حق پاتې دې۔ وهوالمُوفق

درې طلاق تعلیقی نه د بچ کیدلو د پاره د فقهاء ذکرکړې شوې حیله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه درې رونړه دي یوپه وجه دکورنې ناراضګې خپل اسباب بل کورته یوړل، سخردته راغلواوتپوس ئې اوکړوچه څه وجه ده چه دومره خفه شوې ئې واپس خپل رونړوته کور راوړه، تابنومشترک خوشحالې سره زندګې تیرولـه، ده په غصه کښې دا الفاظ اووئیل که چرته زه ټوله زندګې ددې رونړوسره دخیراوشریعنی غم او خوشحالئ کښې شرکت اوکړم اوتعلق اوساتم نوزماښځه په ثلاثه طلاق طلاقه ده، یعنې زه ترمرګ پورې ټوله زندګې ددوې سره کوم قسم تعلق نه ساتم، اوس پیش نظردصله رحمئ کښې اودرورولی پیش نظرددې نه علاوه دځانله ژونددتیرولواودکورپه یواځې والې په وخت دعدم وجود کښې د تعلق ساتلونه چاره نشته، اوس ددې شرعی حل څه دې؟ آیا داسې درست

دې چه داسړې خپل ځان حانث کړی، بیاحلاله اوکړی، بعض علماء دا تدبیر خودلی چه ته رجعی طلاق ورکړه اوعدت تیرکړه، اودهغې نه پس تعلقات اوساته یعنې واپس یوځائې شی، اوبیاتجدیدنکاح اوکړه نو دطلاق مغلظه نه به هم بچ شې اودصله رحمې دګناه نه به هم بچ شی، ایاداحیله صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عمادالدین قریشی فورټ سنډیمن بلوچستان۱۹۷۹ء۱۷۱۸

الجواب: فقهاء کراموداتدبیرپه خپل عباراتو کښې لیکلی دی لهذادادعمل لاندې راوستلې شی《۱》- وهوالموفق

په مقرره تاریخ باندې رقم داداء کولو دطلاق قسم اوکړی بیا دچیک په ذریعه بیک وروسته رقم اوکړی...؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید اووئیل چه فلانې تاریخ ته مې ستادومره رقم ادانه کړلونوزماښځه درې طلاقه ده، په مقرره تاریخ باندې زیدعمروته چیک ورکړوچه دادبینک نه کیش کړه، عمروپه هم هغه ورځ چیک واخستواوبینک ته لاړو، منیجرهغه ته اووئیل چه د زیدرقم خو مونږسره نشته دې، لیکن مونږ به ئې تاسوته درکړو، په دویمه ورځ باندې په بینک کښې چټی وه، ددې نه پس دبینک منیجرعمروته مطلوبه رقم ورکړو

《۱》قال العلامة الحصكفی: فحيلة من علق الثلاث بدخول الدار ان يطلقها واحدة ثم بعد العدة تدخلها فتنحل اليمين فينكحها. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۵۴۵ قبيل مطلب اختلاف الزوجين فی وجود الشرط)

وقال العلامة ابوبكر الحداد اليمنی: (قوله ولم يقع شیئ) لانعدام المحلية مثل ان يقول ان دخلت الدار فانت طالق ثم طلقها قبل دخول الدار فدخلت بعد الطلاق وانقضاء العدة ثم يستأنف العقد عليها وتدخل لا يقع شیئ لانحلال اليمين. (الجوهرة النيرة ۲:۱۱۲ كتاب الطلاق)

آیا د صورت مذکوره مطابق دزید منکوحه طلاقه شوه او که نه؟ د بینک منیجر د اداکولو درقم په صورت کښې وکالت شو یا کفالت یا حواله؟

بینوا توجروا

المستفتی: عبدالمتین مفتی ضلع پونچهه آزاد کشمیر.... ١٩٧٣ء١٤١١٠

الجواب: چونکه زید په مقرره تاریخ باندې رقم اداکړې نه دې نه اصالة او نه وکالة، لهذا په ده باندې ښځه مطلقه شوې ده، لان المعلق بالشرط یجب ثبوته عند ثبوت الشرط کما فی شرح المجلة ٥٤ وغیره ﴿١﴾ او منیجر وکیل وی یعنی د مالکانو د بینک او دهغوی د طرفنه بعض خلقو ته د قرض ورکولو مجاز وی پس په ظاهره دا معامله حواله ده- وهو الموفق

﴿١﴾ (شرح المجلة ١: ٢٣٢ القاعدة: ٨٢)

فصل فی عد الطلاق

والقاء الاحجار وغیرهما

صرف یودوه درې.. وئیلو سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره چه دیو سړې کوژدن اوشوه، نکاح هم اوشوه، درخصتې نه مخکښې د ناراضګې دوجې نه دې سړی صرف یو دوه درې وئیلې دی، د طلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا مفتی سید قمر صاحب دارالعلوم سرحد پشاور ١٤٠١١٧١١٥هـ

الجواب: دا الفاظ د طلاق د پاره موضوع دې نه د انشاء د طلاق د پاره ﴿١﴾ هم د غه رنګې دی کښې د کوم قسم اضافت او حکم هم نشته دې ﴿٢﴾ پس د دې الفاظو وئیلو سره د طلاق واقع کیدو څه وجه نشته دې. وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ورکنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح او کنایة...... وبه ظهران من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلاثة احجار ینوی الطلاق ولم یذکر لفظا لا صریحا ولا کنایة لا یقع علیه...... وکذا ما یفعله بعض سکان البوادی من امرها بحلق شعرها لا یقع به طلاق وان نواه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٤٥٣ بعید مطلب طلاق الدور کتاب الطلاق)

﴿٢﴾ که چرې دا شمیر په عرف کښې طلاق او ګڼړلې شی او په دې کښې د طلاق حکم فرض کړې شی نو بیا هم طلاق نه واقع کیږی. په هندیه کښې دی.

سئل الامام احمد القلانسی: عمن وکز امرأته وقال اینک یک طلاق ثم وکزها ثانیا وقال اینک دو طلاق وکذا الثالث ......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

کاڼې غورځول او د یو دوه درې وئیل وغیره په باره کښې تفصیلي فتوٰی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه (۱) که چرته یو خاوند خپلې ښځې ته دطلاق په نیت باندې درې کاڼې وراوغورزوې-(۲) یاکاڼې اوغورزوې اویودوه درې اووائی-(۳) اویاداالفاظ اووائی یودوه درې ته په ماطلاقه یې اویاداالفاظ اووائی چه ته په ما طلاقه یې یودوه درې، ددې صورتونوحکم شرعی څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......١٩٨٨ء١١١٧

الجواب: واضحه دې وی چه دطلاق دارومدارپه لفظ باندې دې یاقائمقام دلفظ باندې ، کما فی ردالمحتار ١: ٣٠٦ لان الطلاق اوالعتق لایتعلق بالنیة بل بالقول حتی لونوی طلاقها اوعتقه لایصح بدون لفظ﴿١﴾وفی ردالمحتار ٢: ٥٧٤(قوله ورکنه لفظ مخصوص)هوما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح اوکنایة فخرج الفسوخ علی مامر.واراداللفظ ولوحکما لیدخل الکنایة المستبینة واشارة الاخرس واشارة الی العددفی قوله انت طالق هکذا﴿٢﴾

(بقیه حاشیه)قال تطلق ثلثا فشیخ الاسلام یقول سمی الضرب طلاقا فیبطل والامام احمد یقول سمی الطلاق فیقع.

(فتاویٰ عالمگیریة ١:٣٨٢ الفصل السابع فی الطلاق بالفارسیة) فنقول: وفی الصورة المذکورة لم یسم الطلاق فلا وجه للوقوع عند القلانسی ایضا، او په دے الفاظو کی اضافت هم نشته ، وقال ابن عابدین: ولکن لا بد فی وقوعه قضاء وديانة من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٦٧ مطلب ان الصریح لا یحتاج فی وقوعه الی النیة).(ازمرتب)

﴿١﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ١:٣٢٢ فروع فی النیة قبیل باب صفة الصلاة)

﴿٢﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٥٣ اول کتاب الطلاق)

پس ددې قاعدې په بناء باندې کاڼې غورزول یولغوکاردې په دې سره طلاق نه واقع کیږی، کمافی ردالمحتار ٢: ٥٧٤ وبه ظهر ان من تشاجرمع زوجته فاعطاها ثلاثة احجار ینوی الطلاق ولم یذکرلفظا لاصریحا ولاکنایة لایقع علیه کما افتی به الخیر الرملی وغیره وکذاما یفعله بعض سکان البوادی من امرها بحلق شعرها(احلقی راسک)لایقع به طلاق وان نواه﴿١﴾.وفی ٢: ٥٩٠ فلا یقع بالقاء ثلاثة احجارالیها اوبامرها بحلق شعرها وان اعتقدالالقاء والحلق طلاقا کما قدمناه﴿٢﴾اوددې قاعدې په بناء باندې دیودوه درې حکم هم همدغه دې ځکه چه داالفظ نه صریح دې اونه کنایه اونه په دې کښې اثبات اونه نفی موجودده اونه په دې کښې ښځې دطرف ته اضافت موجود دی.

اوپه صورت ثالثه کښې یوطلاق واقع کیږې ځکه که چرته د، یودوه درې، لفظ سره کاڼې شمارل مقصودوی نومعاملهٔ واضحه ده،اوکه چرته دطلاق شمارل مقصودوې نوچونکه په دې کلام کښې ثلاثا یاددې د مساوی لفظ ذکرنشته دې نوبالضرورة دخاوند دنیت شماربه مقصودوی یعنی خاوند ددې صریح لفظ نه ددرې طلاقه ورکولو قصداواراده کړې وه نوددې شمار کوی اوقاعده داده چه صریح کښې دانیت نه درست کیږی، کما فی شرح التنویروغیره﴿٣﴾،پس رکن د طلاق صرف باقی مانده لفظ کیږی.

واضحه دې وې چه د یودوه درې لفظ د مابعد سره نه دې تړلې شوې، نه مفعول مطلق دې اونه مفعول به وغیره دې، کما لایخفی علی من راجع الی المحاورة،پس که چرته ددې نه دطلاق شماره مرادواخلی نوبیاهم مؤثرنه دې،

﴿١﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٥٣ بعید مطلب طلاق الدور)

﴿٢﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٦٥ باب الصریح)

﴿٣﴾قال العلامة الحصکفی: ویقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح...... واحدة رجعیة وان نوی خلافها من البائن او اکثر...... اولم ینو شیئا.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢:٤٦٦ باب الصریح)

ونظیره مافی ردالمحتار ۲: ٦٢٧ فلوقال انت طالق وسکت ثم قال ثلاثا فواحدة﴿۱﴾ ځکه چه په دې صورت کښې ثلاثا نه درې مراددې لیکن کله چه د محخکښې جملی سره مربوط نه وو نولغوشو، نه صریح دې اونه کنایه، نو همدارنګې کله چه د کلام په اول کښې وې لیکن مربوط نه وی نولغو کیږی- او د صورت رابعه حکم هم دثالثه پشان دې﴿۲﴾- وهوالموفق

„ یودوه دری په ماطلاقه ده„ متعلق استفسارباندې تفصیلی جواب

سوال: ریکارډ کښې سوال موجودنه دې صرف دمسئلی اهمیت اودشیخ الحدیث مولاناعبدالحق صاحب رحمة الله علیه بانی اومهتمم جامعه حقانیه اکوړه خټک دمن جمله تصحیح اودتصویب د وجهې نه جواب پیش کولوباندې اکتفاء کولو سره په فتاوی کښې شاملولې شی-

استفتاء نمبر ٥٩٥٧......... ١٩٧٢ء١١١٣١

الجواب: محترم المقام جناب قاضی صاحب دامت برکاتهم

السلام علیکم نه پس عرض دې چه مسمی فلان اووده د رشته دارو بیان

﴿۱﴾ (ردالمتحار هامش الدر المختار ۲:۴۹٥ مطلب الطلاق یقع بعدد قرن به لا به)

﴿۲﴾ وقد رأیت ما افاده سیدی وشیخی ومولائی المحدث الکبیر والفقیه النبیل المفتی الاعظم العارف بالله مولانا مفتی محمد فرید دامت برکاتهم علی هامش ردالمحتار بقلمه حیث قال: اعلم انه اذا قال الزوج "(په ماطلاقه ئې یو دوه درې)" والقی ثلثة احجار فقیل انها تصیر مغلظة وقیل لا لانه یعد القاء الاحجار ظانا انه یقع به الطلاق وقیل اراد عد التطلیقات، قلت: فلا یقع الطلاق بالشک مع ان العرف علی الاول ای عد القاء الاحجار.

(هذا من افادات حضرت مفتی اعظم علی هامش ردالمحتار ۲:۴٥٣ بحث ورکنه لفظ مخصوص)

دادې چه ده درې کاڼړی وغیره اوغورزول اودا الفاظ ئې وئیلې دی، „یودوه درې په ما طلاقه ده„، نوددې متعلق باوجودد کافی تتبع صریح جزئیة ملاؤ نه شوه ددې وجې نه ما عرف اوقواعدوته اوکتل دیوطلاق رجعی د وقوع فتوی مې ورکړیده ځکه چه „یودوه درې„، دعدا وشمار کولودپاره استعمالیږی نوکه چرته خاونداووائی چه، „په ماپه درې شرطه طلاقه ده یو دوه درې„، نو دلته تعلیظ کښې څه شک اوشبه نشته برابره خبره ده که دطلاق شمارمرادوې اوکه دکاڼړو، لیکن کله چه دا اوائې، „چه په ماطلاقه ده یودوه درې„یا دا اووائی„، یو دوه درې په ماطلاقه ده„، نودخاوندمرادکه چرته دکاڼړوشماروی نوپه دې سره طلاق نه واقع کیږی. لعدم کونه من الفاظ التطلیق لا من الصریح ولامن الکنایة، اوکه چرته زړه کښې نیت ددرې طلاقوشمار مرادوی نوپه صریح کښې دانیت نامقبول دې. فی الدرالمختار: ویقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح ....واحدة رجعیة وان نوی خلافها من البائن اواکثر. (هامش الرد۲: ٤٤٢)﴿۱﴾ اوکه چرته دې الفاظو، „یودوه درې„، سره طلاق ورکول مرادوی نودالفظ عد(شماره) دپاره موضوع اومستعمل دې نه دانشاء د طلاق دپاره، لهذاددې سره طلاق واقع کیدل به خلاف قاعده امروی، ونظیره مافی ردالمحتار :وکذا مایفعله بعض سکان البوادی من امرها بحلق شعرها لایقع به الطلاق وان نواه(ای لعدم ذکره لفظ الطلاق لا صریحاولا کنایة)(ردالمحتار۲: ٤٢٨)﴿۲﴾پس باقې پاتې شودالفظ، „په ماطلاقه ده„، نوپه دې سره یوطلاق رجعی واقع کیږی، ددې فتوې نه پس مادحضرت شیخ الحدیث صاحب مدظله رحمة الله علیه سره هم مشوره اوکړله هغه اوفرمائیل چه صرف تجدیدد نکاح کافې دې، شایدهغوې په دې بنا باندې داجواب ورکړې دې چه دامجموعه درې کلمات بغیرد کمی اوزیاتی نه طلاق دپاره استعمالیږی نودمجموعې نه به یوطلاق بائن واقع شی، لعدم کونها صریحة، اوددې نه پس صریح هم بائن کیږی. لهذاتجدیدد نکاح کافی کیږی، دا

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴٦٦ باب الصریح)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۴٥٣ کتاب الطلاق بعد مطلب طلاق الدور)

فتوٰی ما کافی سوچ نه پس لیکلی ده په دې باندې ځماانشراح صدردې تاسو داپه مکرر تنقیدی نظرسره مطالعه کړئ که چرته ستاسو تسلی اونه شوه نوموږته په غلطئ باندې اطلاع اوکړئ ددې دپاره چه موږ ئې مخ نیوې اوکړو۔وهوالموفق

یودوه درې ته په ما باندې مور خور او درې کاڼې ئې هم اوغورزول.ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوسړې خپلې ښځې ته دجنګ اوجدال په وجه غصه کښې راغلو وئی وئیل چه یودوه درې ته په ما باندې مورخوربلاحرف تشبیه اوددې الفاظوپه وئیلوسره درې کاڼې هم اوغورزوې ښځې طرفته،لیکن صراحة لفظ طلاق ئې اونه وئیلې،فتاوی دیوبند ۵: ۸ مفتی عزیزالرحمٰن فرمائې چه لفظ دمور اوخورکه چرته دطلاق په نیت هم اووائې نوطلاق نه واقع کیږې ځکه چه داالفاظ نه خودکنایاتود طلاق نه دې اونه داالفاظ دظهارنه دې اونه ایلاءده،اوفرمائې چه شامې کښې دې چه، ویدل علیه ماذکره عن الفتح من انه لابدمن التصریح بالارادة الخ،وفیه ایضا والذي فی الفتح وفی انت امی لایکون مظاهراوینبغی ان یکون مکروها الخ، ومثله ان یقول لها یا بنتی اویا اختی ونحوه الخ لیکن موږ ته اشکال په دې صورت کښې پیداکیږی چه یو دوه درې وئیلونه پس ئې کاڼې هم غورزولې دی اوپښتنانه رونړه اکثردطلاق په وخت کښې کاڼې غورزوی اوددینه علاوه دغصې چه کوم حالت دې داهم په طلاق باندې دلالت کوی تاسوصاحبان دشرعې رائې نه خبردارې اوفرمایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: سیداحمد سرډهیری پایان

الجواب: لاشک فی ان المراد من هذااللفظ عدالطلاق کانه قال: ''یوطلاق دوه طلاقه درې طلاقه،،لکن لیس فی هذه الکلمات الحکم ولاالاضافة الیها والطلاق لایقع بدونها کما صرحوابه ویشیر الیه کلامهم ایضا کما فی ردالمحتار

۲: ۶۲۷ فلو قال انت طالق وسکت ثم قال ثلثا فواحدة فافهم(۱) وفیه ۲:۵۹۳ ولکن لابدفی وقوعه قضاء ودیانة من قصده اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه(۲).وهوالموفق

.یو دوه درې څلور کاڼو سره.........طلاقه ده.ددې مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه خاوند په کورنې جهګړه کښې دغصې په حالت کښې خپلې ښځې ته اووئیل چه یودوه درې څلور کاڼوسره کوم چه زمونږ په عام عرف دې طلاقه ئې اوته په ماباندې زما مور او خورئې، په دې سره کوم طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولاناعبدالقادررزمک شمالی وزیرستان.....۴؍۸؍۱۹۷۳ء

الجواب: چونکه دعرف په بناباندې کاڼې په طوردتعدادذکرکیږی لهذا په دې سړی باندې ښځه مطلقه مغلظه شویده.وهوالموفق

.یو دوه درې تا اوساتم نو مور اوساتم.. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه څوک سړې دڅه ناخوخې وغیره په بناء باندې خپلې ښځې ته اوائی یودوه درې تا اوساتم نو مور اوساتم،ددې شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: بابوراجه خان راولپنډی.........۱۷؍۱۲؍۱۹۷۳ء

الجواب: واضحه دې وې چه صرف یودوه درې نه صریح دې اونه کنایه بلکه عد او شماره ده اوکله چه الفاظ دطلاق موجودنه وی نوصرف نیت اواراده کافی نه ده،قال العلامة الشامی فی ردالمحتار۲: ۴۲۸ وکذامایفعله بعض سکان البوادی

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۹۵ مطلب الطلاق یقع بعدد قرن به لابه)

(۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۷ مطلب الصریح نوعان رجعی وبائن)

من امرها بحلق شعرها لایقع به طلاق وان نواه《۱》لیکن بعض علماء فرمائی چه ددې الفاظو په وئیلو سره ښځه بائنه کیږی《۲》او صرف تجدید دنکاح کافی دې او واضحه دي وې چه داالفاظ چه، تا ساتم نومور به ساتم،، ظهارنه دې، والذی فی الفتح وفی انت امی لایکون مظاهرا، ردالمحتار ۲: ۵۹۲《۳》او که چرته دې اخرې لفظ په تشبیه باندې محمول کړې شی نو د نیت په موافقت باندې به دالفظ ظهاریا طلاق جوړیږی او دطلاق دنیت په وخت کښې تجدید دنکاح کافی کیږی《۴》- وهوالموفق

《۱》(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق بعید مطلب طلاق الدور)

《۲》قال العلامة ابن البزاز الکردری: تراسه ذکر الصدر انه لا یقع لانه لا اضمار فی الفارسیة والمختار الوقوع اذا نوی وقد ذکرنا عن صاحب المنظومة جریان الاضمار فی الفارسیه ولفظه یحتمل الطلاق وغیره فاذا نوی تعین وفی موضع آخر قال الصدر یقع وقال ابو القاسم لا وقال غیره ان فی المذاکرة او الغضب یقع والا لا.

(فتاویٰ بزازیة علی هامش الهندیة ۴: ۱۷۹ مسائل الایقاع بلا قصد واضافة)

وقال العلامة طاهر الانصاری: رجل قال لامرأته ترایکی وتراسه اوقال تویکی سه، قال ابو القاسم الصفار لا یقع شیئ وقال صدر الشهید یقع اذا نوی وبه یفتیٰ.

(خلاصة الفتاویٰ ۲: ۹۸ الفصل الثانی فی الکنایات جنس: ۴)

《۳》(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۲۶ باب الظهار)

《۴》قال العلامة الحصکفی: وان نوی بانت علی مثل امی او کامی وکذا لو حذف علی خانیة برا او ظهارا او طلاقا صحت نیته ووقع ما نواه لانه کنایة، قال ابن عابدین: ای من کنایات الظهار والطلاق قال فی البحر واذا نوی به الطلاق کان بائنا کلفظ الحرام الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۶۲۶ باب الظهار)

زه زما درته اجازت دې یودوه درې. په دې سره طلاق نه واقع کیږی.

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه ښځې او خاوند کښې جګهړه راغله یودوه لتې وهلو سره خاوند اووئیل چه زما دخوانه پاسه، ښځې په جواب کښې اووئیل چه ماته دتللو اجازت راکړه، خاوند په جواب کښې اووئیل،، زه زما درته اجازت دې یودوه درې،، کانړې ئې هم اونه غورزول او لفظ د طلاق ئی نه دې وئیلی او نه ئې اراده دطلاق وه، ددې څه حکم دې؟

بینوا توجروا

المستفتی: مولانا سخی بادشاه تعلیم القران کرک ۲۹\۱ جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: په صورت مسئوله کښې دا ښځه مطلقه شوې نه ده《۱》ځکه چه دې خاوند عدالطلاق (شماره) کړیده او محض عدد او عد سره طلاق نه واقع کیږی، کما یفهم من ما فی الشامیه ۲: ۶۲۷ فلو قال انت طالق وسکت ثم قال ثلاثا فواحدة انتهی《۲》والوجه المرادمن الثلاث ههناالطلقات الثلث لکنه لماانقطع عن الفعل بقی عددامحضا《۳》. وهوالموفق

《۱》دلته چه خاوند کومه ړومبئ جمله استعمال کړې ده چه ،،لاړه شه زما تاته اجازت دې،، دا الفاظ کنائی دی او د اذهبی برابردی او چونکه دلته دخاوند نیت د طلاق نه وو په دې وجه طلاق نه دې واقع شوې.

قال فی الشامیة: فی شرح الجامع الصغیر لقاضی خان ولو قال اذهبی فتزوجی وقال لم انو الطلاق لا یقع شیئ لان معناه ان امکنک...... بحر علی ان تزوجی کنایة مثل اذهبی فیحتاج الی النیة...... ویؤیده ما فی الذخیرة اذهبی وتزوجی لا یقع الا بالنیة وان نوی فهی واحدة بائنة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۱۴ قبیل باب تفویض الطلاق)

《۲》(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۹۵ مطلب الطلاق یقع بعدد قرن به لا به)

《۳》قال العلامة الحصکفی: والطلاق یقع بعدد قرن به لا به نفسه عند ذکر العدد وعند عدمه الوقوع بالصیغة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۹۴ مطلب الطلاق یقع بعدد قرن به)

یو دوه درې په ما باندې ښځه طلاقه ده.. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوصاحب ګوتې اوشمارلې اووې وئیل یودوه درې په ماباندې ښځه طلاقه ده که چرې ما آئنده خپل رورته څه نصیحت اوکړو، آیا په دې صورت کښې یوطلاق رجعی واقع کیږی اوکه نه مغلظ؟په ظاهره دادمغلظ صورت معلومیږی لیکن بعض مفتیان صاحبان ددې ګنجائش په بناءباندې چه خپله یودوه درې د طلاق الفاظ نه دی اولفظ طلاق یواځې یودې ددې وجې نه ده طلاق رجعی فتوی ورکوی، مولاناعزیزالرحمن صاحب د عزیزالفتاوی ۲:۲۰۵باندې داوائی که چرې طلاق ورکونکی اووئیل چه ماتاته طلاق درکړواوپه ژبه ئې څه وئیلو بغیرده کاڼرونه په زمکه ویشتواواراده ئې ده درې طلاقووی نوطلاق مغلظ واقع کیږی ده عزت ده لارې جواب راکړه ستاسوشکرګذاریو؟بینوا توجروا

المستفتی: مولاناعبدالقدوس صدرشعبۀ اسلامیات
اسلامیه کالج پشاور ۱۲/۹/۱۹۷۲ء

الجواب: ددې پرتالاش سره هم صریح جزئیه ملاؤنه شوه لیکن دمثالونو او شواهدو په بناء باندې جواب لیکلی کیږی، هغه داچه په صورت مسئوله کښې یوطلاق واقع کیږی ځکه چه یودوه درې دحساب اودشماردپاره موضوع ذی نه ده انشاء د طلاق دپاره، لعدم الحکم فی الاسماء المعدودة فلایکون صریحًا ولا کنایةونظیره ماذاقال لها احلقی شعرک لایقع به طلاق وان نواه صرح به العلامة الشامی فی ردالمحتار۲:۵۷۳(۱) همدارنګه په عواموکښې دامشهوره ده چه هغوئ دکاڼرووغیره دشمارلوته طلاق وائی نوکه چرې په دې کښې حکم هم فرض کړې شی نوبیاهم طلاق نه واقع کیږی، ونظیره مافی الهندیه: سئل الامام احمد القلانسی رحمه الله عمن وکزامرءاة وقال اینک یک طلاق ثم وکزها ثانیا

(۱) قال العلامة ابن عابدین: وکذا ما یفعله بعض سکان البوادی من امرها بحلق شعرها لا یقع به طلاق وان نواه.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۵۳ بعید مطلب طلاق الدور)

وقال اینک دوطلاق وکذاالثالث قال تطلق ثلثافشیخ الاسلام یقول سمی الضرب طلاقًا فیبطل والامام احمدیقول سمی الطلاق فیقع(۱:۴۰۸)(۱)قلت وفی الصورة المسئولة لم یسم الطلاق فلاوجه للوقوع عندالقلانسی ایضا،بس صرف په دې الفاظوسره چه، په ماباندې طلاقه ده، طلاق رجعی واقع کیږی،وقلت وامامانسب الی عزیزالفتاوی فلم اجده ومع ذالک فهومخالف لما فی الخانیة قال انت طلاق واشار بثلاث اصابع ونوی الثلث ولم یذکر بلسانه فانها تطلق واحدة. (بحواله الشامی۲:۶۱۶)(۲) هذا ماعندی ولعل عندغیری احسن منه.

نوټ:.....تجدید دنکاح کول بهتردي-وهوالموفق

صرف درې لکیرې وهل. زه لاړشه وئیلو وغیره مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زمونږ په کورکښې جهګړه اوشوه دې وخت کښې زماتره مونږ ته راغلوده ته کتلوسره مې په غصه کښې په زمکه درې کربښې زر زر راښکلې اوپه دې دوران کښې ماد خولې نه هیڅ لفظ اونه ویستلودې نه پس ښځې ته مې اووئیل چه زه لاړه شه،دې کتلو سره زمادتره مطلب ووچه ښځه دکورنه او نه ځی اوماته غصه راغله، ما بیا اووئیل چه ته ځماکورکښې نه شی اوسیدلې ماهغې ته طلاق ورکړې دې، زما تره ماته اووئیل چه داتاځه اوکړل؟داسې طلاق نه واقع کیږی،ماووئیل چه اوس زه دابڼځه اوساتم نودخپل پلار ځوې به نه یم،دا ټول الفاظ اتفاقًا دخولې نه وتلی دی.
....

(۱) (فتاوی عالمگیریة ۱:۳۸۲ الفصل السابع فی الطلاق بالالفاظ الفارسیة)

(۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۸۶ مطلب فی قول الامام ایمانی کایمان جبریل)

وفی الهندیة: ولو قالت لزوجها طلقنی فاشار بثلاث اصابع واراد بذلک ثلاث تطلیقات لا یقع ما لم یقل بلسانه.

(فتاوی عالمگیریة ۱:۳۵۷ الفصل الاول فی الطلاق الصریح)

د طلاق هیڅ نیت نه وو. اوس ددې الفاظو څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: خادم حسین........ ۲۱۱۱۱۱ء۱۹۷۴

الجواب: واضحه دې وی چه درې لیکرې وهل او درې کانړی غورځول یو لغوه (بې مقصده) کاردې دې سره طلاق نه واقع کیږی، لعدم الرکن وهو اللفظ اومایقوم من الخط﴿۱﴾ او دالفظ، ،زه، ،دکنایاتو نه دې او په دې سره طلاق بائن واقع کیږی کله ئې چه اراده دطلاق کړی وی. وهو المصرح فی ردالمحتار ۲: ۶۳۶ (قوله قضاء) قیدبه لانه لایقع دیانة بدون النیة ولووجدت دلالة الحال﴿۲﴾ او دالفظ چه اوس که چرې دا ښځه اوساتم نو دپلار ځوې به نه یم طلاق نه دې قسم عرفی دې﴿٤﴾ بس مختصر دا چه دطلاق دنیت په صورت کښې دنکاح

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (ورکنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح او کنایة...... واراد اللفظ ولو حکما لیدخل الکتابة المستبینة...... وبه ظهر ان من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلاثة احجار ینوی الطلاق ولم یذکر لفظا لاصریحا ولا کنایة لا یقع علیه کما افتی به الخیر الرملی وغیره.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق مطلب طلاق الدور)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۲ باب الکنایات)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ولو قال لامرأته انت طالق فقال له رجل ما قلت فقال طلقتها او قال قلت هی طالق فهی واحدة فی القضاء کذا فی البدائع.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۵۵ مطلب اذا کرر الطلاق...... ونوی الاخبار)

وفی الشامیة: لو اخبر بالطلاق کاذبا لایقع دیانة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۶ مطلب من الصریح الالفاظ المصحفة)

﴿٤﴾ دا الفاظ قسم شرعی او د حلف ځنې نه دی بلکه عام طورباندې خلق دا سې قسم الفاظ د توثیق او تاکید یا د کلام د ښائست په طور استعمالوی چه په دې کښې حقیقت کښې قسم او حلف مراد نه وی،........(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

تجدید کافی دې﴿۱﴾ په دې شرط چه سوال کښې کمې زیاتې نه وی-وهو الموفق

په عدَ او عدد د طلاق کښې فرق

سوال: محترم جناب مفتی صاحب زید مجدکم

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! مایو فتوه اوکته په کوم کښې چه تاسو لیکلی دی حاصل ئې دادې چه دقائل خپلې ښځې ته داوینا یودوه درې دا اسم عدد محض بلااضافت دې پس دالغوه دې. بحواله ردالمحتار ۲: ۶۲۷ لیکن ماهغه په کتاب مذکوره صفحه مذکوره کښې اونه موندلو کیدې شی چه داختلاف دنسخې نه مې نه وی موندلې. لیکن ماپه ۲: ۴۹۴ کښې د موندلې دې والطلاق یقع بعدد قرن به لابه، لکنه لایفی بالمقصود فان المجرور المتصل

(بقیه حاشیه) قال العلامة ابن عابدین: وما روی من النهی محمول علی الحلف بغیر الله تعالیٰ لا علی وجه الوثیقة کقولهم وابیک ولعمری، ونحوه فی الفتح وحاصله ان الیمین بغیره تعالیٰ تارة یحصل بها الوثیقة ای اتثاق الخصم بصدق الحالف کالتعلیق بالطلاق والعتاق مما لیس فیه حرف القسم وتارة لا یحصل مثل وابیک ولعمری فانه لا یلزمه بالحنث فیه شیئ فلا تحصل به الوثیقة بخلاف التعلیق المذکور.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۵۰ مطلب فی حکم الحلف بغیره تعالیٰ)

او مفتی عزیزالرحمٰن صاحب رحمه الله د یو سوال په جواب کښې لیکلی دی:

سوال: که دا اووائی چه که زهٔ خپل کورته لاړشم نو د خپل پلار نه به نه یم، بیا که لاړ شی نو کفاره لازمه ده یا نه؟ الالجواب: په دې کښې هیڅ کفاره نشته تلل صحیح دی. (عزیزالفتاویٰ: ۱: ۵۷۲ کتاب الایمان)....ازمرتب

﴿۱﴾ قال العلامة المودود الموصلی: وله ان یتزوج مطلقته المُبانة بدون الثلاث فی العدة وبعدها لان حل المحلیة باق اذ زواله بالثالثة ولم توجد وانما لا یجوز لغیره فی العدة تحرزا عن اشتباه الانساب وهو معدوم فی حقه.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۹۳ باب الرجعة)

فی لابه عائدعلی صفة الطلاق لاعلی العددکمااوضحه فی ردالمحتارومجمع الانهر،فان کان عندکم غیرهذه یکفی فی الباب فعلی الراس والعین وایضاقول القائل الموصوف،،پاسه مورکره زه،،لیس بمنفصل بل هومتصل مثبت للاضافة بانه نسب قوله یودوه دری الیها،وایضاان لم یقع الطلاق باسم العددفکیف یقع بانت واحدة مع ان الواحدداخل فی العددهنا ویدخل فی العدداصله وهو الواحد، ردالمحتار۲: ٤٩٤؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالستارنوشهره........ ٣٠|١١|١٩٧٥ء

جواب:اعلم ان الکلام المعروف (یو دوه دری ته په ماطلاقه ئي) لایوجب التغلیظ والتحلیل لان کلمة،،یودوه دری،،لاتعلق لهابمابعدهامن کونها مفعولامطلقاوغیره کمالایخفی علی من تامل ادنی تامل بل معناها عدالشیئ وتعداده من غیراضافة لفظیه ولامعنویة وکذالیست فیهامعنی الانشاء والعددالمحض لایقع به الطلاق کمافی ردالمحتار۲: ٦٢٧فلوقال انت طالق وسکت ثم قال ثلثا فواحدة﴿۱﴾ ای لمافات الاتصال فبقی عددامحضافکمالفظ الثلث لایؤثرفکذاکلمته یودوه دری فافهم وللتفصیل مقام آخر-

تنبیه:....انت واحده من الفاظ الطلاق معناه انت طالق تطلیقة واحدة فیشمل علی الاضافة والحکم.وهوالموفق

بې اراده خپلې ښځې ته یکدم
د..طلاق طلاق طلاق.. وئیلوحکم

سوال:څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړی بغیرد څه ارادې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ٤٩٥ قبیل مطلب فی قبل ما بعد قبله رمضان)

لرلونه خپلې ښځې ته یکدم طلاق طلاق طلاق اووائی بغیردڅه واقعې نه، آیا په دې سره طلاق واقع کیږی؟ اوکوم؟ کله چه ددرې ځل وئیلوڅه اراده نه وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدایوب لاهور کینټ.......... ٣١|٨|١٩٧٢ء

جواب:که چرې دې خاوند دتاسیس په اراده باندې داالفاظ وئیلی وی وهذا هو الظاهر اذاکان الزوج عالماباحکام الطلاق ونتیجته،نودتغلیظ په وجه باندې بغیر دتحلیل نه چاره نشته اوکه چرې دتاکیداواصرارپه اراده ئې وئیلی وی یاڅه نیت ئې مستحضرنه وی نو صرف یوطلاق رجعی واقع کیږی. کمافی الدر المختار: کررلفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکیددین،وفی ردالمحتار ٢:٦٤٢ ای ووقع الکل قضاء وکذا اذا اطلق اشباه ای بان لم ینواستینافا ولاتاکیدالان الاصل عدم التاکیدانتهی﴿۱﴾قلت والفتوی علی الدیانة دون القضاء فافهم﴿۲﴾وهوالموفق

ښځې ته صرف .یوطلاق دوه طلاقه درې طلاقه.. د وئیلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوکس خپلې ښځې ته

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ٤٩٩ فروع قبیل باب الکنایات)

وقال العلامة الاوزجندی: رجل قال لامرأته انت طالق انت طالق انت طالق وقال عنیت بالاولیٰ الطلاق وبالثانیة والثالثة افهامها صدق دیانة وفی القضاء طلقت ثلاثا. (فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ۱: ٤٦١ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد امین ابن عابدین: المراد من قولهم یدین دیانة لاقضاء انه اذا استفتی فقیها یجیبه علی وفق مانوی ولکن القاضی یحکم علیه بوفق کلامه ولا یلتفت الی نیته اذا کان فیما نوی تخفیف علیه.

(تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱: ۳ فوائد بآداب المفتی)

د غصې په حالت کښې په یو ساه کښې داالفاظ اووائی،، یو طلاق دوه طلاقه درې طلاقه،، اوددې نه مخکښې ئې ځه الفاظ په خوله نه وی وئیلې، ددې واقعې نه پس دوه میاشتې اووه ورځو پورې ده طلاق مغلظه ګڼړلو او خپلې ښځې سره ئې قطع تعلق او کړو، بیا یو مولوی صاحب راغلو وئې وئیل چه طلاق مغلظه دې سره نه واقع کیږی. بلکه طلاق بائن دې، او تجدید د نکاح ئې اوکړو، ډیره مهربانی ددې مسئلې وضاحت او کړئ چه دا طلاق بائن دې او که مغلظه، همدارنګه ددې مولوی صاحب ځه حکم دې چاچه بغیر دَحلالې نه

تجدید د نکاح اوکړه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالوحید مدرس مدرسه ریاله....... ١٦١١٢١ء١٩٧٤

الجواب: په ظاهره دې الفاظو باندې یو قسم طلاق نه واقع کیږی. لانـــه عـــد، وتعداد الطلاق لیس بالانشاء، ولعدم الاضافة الی المراة لالفظا ولامعنی﴿١﴾ومحض نیة الاضافة لایفید﴿٢﴾کمافی الهندیة١: ٤٠٨ رجل قال لامراته اگرتوزن منی سه طلاق مع حذف الیاء لایقع اذاقال لم ینو الطلاق لانه لماحذف لم یکن مضیفا الیها، وفیها ایضاولوقالت:طلقنی فضربها وقال لها اینک طلاق لایقع ولوقال اینکـــت طلاق یقع﴿٣﴾ هذا ماعندی ولعل عندغیری احسن منه. وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدین: ان الصریح لا یحتاج الی النیة ولکن لا بد فی وقوعه قضاء ودیانة من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه ولم یصرفه الی ما یحتمله کما افاده فی الفتح، وحققه فی النهر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٤٦٧ مطلب ان الصریح لا یحتاج فی وقوعه دیانة الی النیة)

﴿٢﴾ یدل علیه ما فی الشامیة: فلو قال انت طالق وسکت ثم قال ثلاثا فواحدة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٤٩٥ مطلب الطلاق یقع بعدد قرن به لابه)

﴿٣﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ١: ٣٨٢ الفصل السابع فی الطلاق بالالفاظ الفارسیة)

.تاته یو طلاق دوه طلاقه درې طلاقه دی که چرې ته می پریخودې نو مورمې پریخوده.. ددې حکم

سوال: ځه فرمائې علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو کس مختار خپلې ښځې ته طلاق ورکړې دې واقعه ځه په دې ډول ده چه ګواه مستری فلا ن کوم چه دده کورجوړولو بیان کوی چه مختار د ځنګل نه لرګی راوړل راغلو دده د ښځې او مور په مینځ کښې سختې خبرې او تکرار کیدو ،ښځې دَنوی تعمیر مکان پلستر کولو چه مختار هغه وهله مادهغه مور او خورونیوله بهرمې راوستل دې دغصې په وخت کښې هغه خپلې ښځې ته وئیل چه زمادکورنه زه مګر هغې دَ تلونه انکار اوکړو چه زه همداسې هیڅ کله نه ځم دې وخت کښې مختار اووئیل چه تاته یو طلاق دوه طلاقه درې طلاقه دی که چرې ته مې کور کښې پریخوې نو خپله دا موربه مې پریخیوی کومه چه مخامخ ولاړه وه، دویم ګواه یو شپونکې دې وائی چه ما تقریبًا ٢٢٠ ګزپه فاصله باندې چیلئ ځرولې چه ددوئ په مینځ کښې جهګړه شوه او مختار اووئیلی چه تاته یو طلاق دوه طلاقه درې طلاقه دی که چرته ته مې کور کښې پریخوی نو دمور نوم ئې واخستو چه دابه مې پریښیوی، اوس دمختار بیان دادې چه مالرګی راوړل راغلم زمادمور او ښځې په مینځ کښې جهګړه وه ما ښځه او وهله په کوم باندې چه مستری ځما مور او خور اونیول او بهرئې راوستل اوس ماته علم نشته چه ما کوم الفاظ استعمال کړي دی وروسته ماته خلقو داسې خبرې شروع کړې چه تا درې طلاقه ورکړې دی لیکن زه خپله ښځه هیڅ کله نه پریږدم داهم وائی چه دویم ګواه هلته نه وو او دَیو ګواه ګواهی قبوله نه ده، اوس دمختار دښځې بیان دادې چه مادنوی کور پلستر کولو زما او زمادخوابښې په مینځ کښې په کورنی خبرو باندې دخولې جهګړه وه چه زما خاوند زه اوهلم چه زمادکورنه اوځه، ما صفا جواب ورکړو چه زه نه ځم، په دیکښې فوراده داالفاظ اووئیلې چه تاته یو طلاق دوه طلاقه درې طلاقه دی، او که چرته ته مې پریخودې نو موربه مې پریخې وی،، بیا زه خپلو والدینو کره لاړم.

اوس سوال دادې چه صورت مذکوره کښې دطلاق ځه حکم دې؟ دګواهانو ځه حیثیت دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالشکور داخلی ګهمبیر لوری هزاره... ٨١١١ء١٩٦٩

الجواب: که چرته مسمی مختار دا طلاق د غصې دوجې نه شوې وی او طلاق بې هوشه ئې ورکړې وی او د مختار غصې په وجه په مقامی خلقو باندې پته نه وی په دې تقدیر باندې کوم طلاق واقع نه دې، صرح به فی ردالمحتار: ۲: ۵۸۷(۱) او که چرته د مختار د غصې په وخت دې حالت ته رسیدل ثابت او معروف نه وی نو دویم گواه که چرې سماع او لیدل نه بغیر د اشتباه باندې گواهي د حکم یا د حاکم په مخکښې اداکړه(۲) نو د ښځې د مطلقه مغلظه کیدلو فیصله به خلاف شرع نه وی. لتحقق شهادة الاثنین(۳). وهو الموفق

دیو طلاق دوه طلاقه درې طلاقه..دونیلوحکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چه کس د غصې په

(۱) قال العلامة ابن عابدين: فالذى ينبغى التعويل عليه فى المدهوش ونحوه اناطة الحكم بغلبة الخلل فى اقواله وافعاله الخارجة عن عادته وكذا يقال فيمن اختل عقله لكبر او لمرض او لمصيبة فاجأته فمادام فى حال غلبة الخلل فى الاقوال والافعال لا تعتبر اقواله وان كان يعلمها ويريدها لان هذه المعرفة والارادة غير معتبرة لعدم حصولها عن ادراك صحيح كما لا تعتبر من الصبى العاقل الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۳ مطلب فى طلاق المدهوش)

(۲) قال العلامة شمس الحق الافغانى: يلزم ان يكون الشهود قدعا ينوا بالذات المشهود به وان يشهدوا بذلك الوجه...... والامور التى يتعذر على كثير من الناس مشاهدتها ويبقى احكامها ممر الدهور يجوز الشهادة بها بالتسامع وهى النسب والنكاح والدخول بالزوجة وولاية القاضى والموت واصل الوقف (معين القضاة والمفتيين ۲۸ الفصل الثانى فى كيفية اداء الشهادة)

(۳) قال العلامة الحصكفى: ونصابها لغيرها من الحقوق...... ما لا او غيره كنكاح وطلاق...... رجلان...... او رجل وامرأتان.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۴: ۴۱۳ كتاب الشهادات)

حالت کښې خپلې ښځې ته وائې یو طلاق دوه طلاقه درې طلاقه. بله کومه خبره دده د خولې نه نه ده وتلې د دې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرزاق راولپنډی........ ۱۱۲ ستمبر ۱۹۷۹ء

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې کس باندې ښځه نه ده مطلقه شوې دا الفاظ د عدد او شمار د پاره وضع شوي دی نه د حکم او انشاء د پاره(۱) وهو الموفق

یو دوه درې طلاقه دی باندې «نظام الفتاوی» اعتراض او د مفتی صاحب جواب

سوال: بحضور سیدی وشیخی ومولائی حضرت مولانا مفتی محمد فرید صاحب دامت برکاتهم؛ دام المدارس جامعه دارالعلوم دیوبند اندیا حضرت مولانا مفتی نظام الدین اعظمی صاحب مدظله العالی د جدید مسائل او معاملاتو په باره کښې منتخب دفتاوو مجموعه په نوم د . منتخبات نظام الفتاوی، په حال کښې شائع شوي ده په هغې کښې ستاسو صاحبانو یو فتوی هم په اشاعت کښې شامله ده د کوم په باره کښې چه حضرت مولانا مفتی نظام الدین اعظمی صاحب مدظله څه اعتراض کړي دې د خپله طرفه ئې تفصیلی جواب لیکلې دې،

(۱) که څوک سړې صرف دا الفاظ اداکړی "یو طلاق دوه طلاق درې طلاق،، نو دا طلاق شمیرل دی په دې کښې د هست یا نیست حکم نه دې لګولې شوې،

فلیراجع الی محاورة السلیمانیین.

وقال العلامة الشامی: ان الصریح لا یحتاج الی النیة ولکن لا بد فی وقوعه قضاء ودیانة من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه ولم یصرفه الی ما یحتمله کما افاده فی الفتح. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۷ مطلب ان الصریح لا یحتاج فی وقوعه دیانة الی النیة)

وهکذا یشیر الیه کلام الفقهاء ایضا کما فی الشامیة: فلو قال انت طالق وسکت ثم قال ثلاثا فواحدة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۹۵ مطلب الطلاق یقع بعدد قرن به لا به)

لاندې من اوعن ذکر کیږی، تاسو صاحبان خپله معائینه اوکړئ خپله رایه بیان کړئ چه دبنده فقیر تسلي اوشی؟

نظام الفتاوی صفحه:۲۱۹ جلد: ۲ کښې عبارت دادې:

سوال: څه فرمائی علماء دین دې مسئلې کښې چه زید دالفاظ اووئیل یودوه درې طلاقه ده په ماباندې دخپلې منکوحې زینب په باره کښې که چرې دا زما کورته واپس راغله لیکن نیمه ګنټه پس زینب کورته راغله داطلاق مغلظه شو؟

الجواب: وبالله التوفیق: په دې کښې دحرمت مغلظه کیدلو هیڅ وجه نشته، لانه عد الطلاق اولاوعدالطلاق لیس بطلاق فبقی لفظ الصریح وهویوجب الرجعة کما فی الشامی. وهوالموفق

والله اعلم بالصواب..............مفتی محمدفریدعفی عنه

په دې جواب باندې سوال:

په دې کښې مدخول بهاوغیرمدخول بها آیا برابردی؟ همدارنګه دا عبارت په شامې صفحه مذکوره کښې نشته دې، په شرط مقدم او مؤخر کیدلو کښې مسئله هم داسی ده؟

الجواب: جناب یودوه درې نه صریح دې اونه کنایه دې صرف عدد طلاق دې، همدارنګه په دې کښې حکم هم نشته دې اودخبریه محوله په بناء باندې داسې عددسره طلاق نه واقع کیږی، په دې کښې دعددپه ماباندې دطلاق کیدلوسره څه تعلق دظرفیت یامصدریت نشته دې، بس صرف یوطلاق په ما باندې طلاقیدوپه بناء باندې واقع کیږی، په دېکښې دمدخول بها او غیر مدخول بهایوشان حکم دې۔

جواب: دمفتی نظام الدین الاعظمی صاحب:

دا جمله (یودوه درې) په مختلف علاقو کښې دمختلف محاورو مطابق وئیلی شی نو په دغه علاقه کښې ددغه علاقی دمحاورې مطابق حکم کیږی، په تقاضا دآیت کریمه ومارسلنامن رسول الابلسان قومه. (الایة) پس کومه علاقه

کښې چه عرف عام اومشهوروی چه مذکوره جمله یوائې دخپل قوة ظاهرولو دپاره اومخاطب دخپلې ارادې نه خبرولودپاره وائی اوددې تعلق ددې نه وروسته لفظ سره نه وی نوپه دغه علاقه کښې په دې سوال کښې دې ذکر شوې جملې باندې په صرف دیوطلاق واقع کیدوحکم کیږی- اوکومه علاقه کښې چه داعرف عام مشهوروی چه دامذکوره جمله (یودوه درې) ددې نه د وروسته لفظ به دشماردپاره وائی نوددې نه وروسته لفظ معدودوی اومفهوم چه داوی (یوطلاق دوه طلاقه درې طلاقه) پس دغه علاقه هغه کښې په دې سوال کښې دمذکوره جملې نه درې طلاقه واقع کیږی حرمت مغلظه وی او کوم علاقه کښې چه ددې دواړوعرفونو نه یوعرف نه وی هلته به د خاوند وینا ته اعتباروی کوم به چه هغه سره دقسم نه بیانوی، لهذا دده دا دواړه جوابونه نیمګړی دی. فقط والله تعالی اعلم

کتبه: الاحقر نظام الدین غفرله دارالعلوم دیوبند.......۹۹\۵\۲۹ هـ

المستفتی: محمدوهاب عفی عنه مرتب فتاوی فریدیه....۲۰۰۱ء ۲۵\۷\۱

جواب: (۱) (یو دوه درې ته په ماباندې طلاقه ئې) دتغلیظ په اراده باندې دا استعمال غلط دې، دې سره طلاق رجعی واقع کیږی ځکه چه (یودوه درې) دڅه څیزشماره کیدلې شی نه انشاء، اوکه چرته دامرادویچه (یوطلاق دوه طلاقه درې طلاقه) نو دادطلاق شماره ده دیکښې حکم نشته دې نه هست نه نیست، اوکه چرې ائنده جمله (په ماباندې مطلقه ده) ددې خیال اوکړې شی نوددې جملې سره هیڅ رابطه نشته دې نه دمفعول مطلق اونه دَ تمیزوغیره، دادخپل فاسدګمان شماره ده، فلیراجع الی محاورة السلیمانیین. وهوالموفق

محمدفریدعفی عنه

(۲) څه ورځې پس حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم په دې باره کښې دویم جواب هم اولیکواوما ته ئې راکړوداستفادې دپاره هغه هم دلته کښې ذکر کولې شی:

په پښتنو کښې چه کوم دادستور دې چه کله څوک خپلې ښځې ته اووائی (ته طلاقه ئې یودوه درې) نودې سره طلاق مغلظه نه واقع کیږی، ځکه چه (۱) دې الفاظو نه مرادعدداوشماره وی نه انشاء د طلاق-(۲) همدارنګه دا اسماء معدوده دې په دې کښې حکم د ،، دې، یا ،، نه دې، نه وی (یعنی هست یا نیست)-(۳) که چرې دې کښې حکم اومنلې شی چه ددې معنی (یو طلاق دې دوه طلاقه دې درې طلاقه دې) نود محاورې په بناء باندې د ''په،، لفظ ضروری دې، ته په یو طلاق طلاقه ئې ته په دوه ته په درې،، حالانکه د ''په،، لفظ نه وی-(۴) اوکه چرې داکس دد ریو طلاقو نیت اوکړی او داالفاظ یودوه درې ددې منوی تفصیل وی نو صراحتا طلاقوکښې دد ریو طلاقو نیت غیر صحیح دې-وهوالموفق

کتبه محمدفرید عفی عنه

(۳) ددې نه وروسته بنده فقیر دحضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم ذاتی نسخه شامي باندې دحضرت صاحب دلاس لیکلې یو حاشیه اوکته، دمسئلې په مناسبت باندې هغه دلته نقل کول مناسب دی:

''اعلم انه اذاقال الزوج،، (په ماطلاقه ئی یودوه دری)،، والقی ثلاثا احجار، فقیل انها تصیر مغلظة، وقیل لا، لانه یعدالقاء الاحجار ظاناانه یقع به الطلاق، وقیل اراد عدالتطلیقات، قلت: فلایقع الطلاق بالشک مع ان العرف علی الاول ای عدالقاء الاحجار،، (هذاماحرره الشیخ علی هامش الشامیه بقلمه)......(ازمرتب)

صرف په کاڼې ویشتلو سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه ماجواری هم کوله او یوکس سره مې مزدورې هم کوله یوورځ ماهغه نه پیسې اوغوښتې هغه زما په لاس کښې درې کاڼې کیښودل هیڅ ئې اونه وئیل اوماهم هیڅ اونه وئیل، بیاهغه ته اووئیل چه داواغورزوه اواوایه چه زه جواری نه کوم، مالاس کښې واغستل هغه کاڼې مې اوغورځول اوپه خوله مې څه اونه وئیل، ایا په دې سره طلاق واقع شویدې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمداسحاق عرب امارات......۱۱۲ربیع الاول ۱۴۲۲ھ

الجواب: صرف په کاڼوغورزولو باندې طلاق نه واقع کیږی د طلاق دپاره الفاظو د طلاق باندې تلفظ یالیکل ضروری دی، کمافی ردالمحتار ۲:۵۹۰ فلایقع بالقاء ثلاثة احجار الیهاوبامرها بحلق شعرهاوان اعتقدالالقاء والحلق طلاقا کما قدمناه لان رکن الطلاق اللفظ اومایقوم مقامه مماذکر کمامر(۱). وهوالموفق

د درې کاڼو اغستلو او یو دوه درې وئیلو اود لفظ طلاق نه وئیلوحکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوښځې خاوندته اووئیل چه ماته طلاق راکړه. دزیاتې وینانه پس خاونددرې کاڼې واغسته ښځې ته ئې اووئیل، یودوه درې، اود طلاق لفظ ئې نه دې وئیلې، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل مولی.........۲۱۲۱ء۱۹۷۲

الجواب: په صورت مسئوله کښې طلاق نه دې واقع شوې. ځکه چه داالفاظ دعد یعنی دشمار دپاره استعمالیږی دون الانشاء، والعددالمحض من دون الحکم لایقع به الطلاق ونظیره مافی ردالمحتار ۲:۶۲۷ فلوقال انت طالق وسکت ثم قال ثلثا فواحدة انتهی(۲) فلفظ الثلث یرید به الطلاق جزماولکن لماانقطع عن قوله انت طالق فبقی عددمحض من غیر حکم. وهوالمصوب

د ښځې په لاس کښې جداجدا کاڼې ورکړی او اووائی ته زمانه آزاده ئې. ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوکس خپلې ښځې

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۵ اول باب الصریح)

(۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۹۵ مطلب الطلاق یقع بعدد قرن به لابه)

ته یو کانړي لاس کښې ورکړی او اووائی چه یو کانړي اُوبیادویم کانړي بیادریم او په آخرکښې اووائی چه ته زمانه ازاده ئې، یعنې درې طلاقه ئې مراد وی، او د ښځې هم خواهش داوی چه زه دده نه آزاده شم نو دا صورت د بائن دې که دمغلظ؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ رحمت الله کندیان شریف

جواب: کانړي ورکول او کانړي شمارل لغوه کارونه دي دې سره طلاق نه واقع کیږی. لعدم کونهمامن الفاظ الصریح والکنایات، صرح العلامة الشامی بالاول والثانی فی حکم الاول﴿۱﴾ او دا الفاظ چه ته زمانه آزاده ئې صریح دي او د عرف په اصطلاح باندې هغه صریح په کوم باندې چه طلاق واقع کیږی هغه بائن وی، کماحققه العلامة الشامی فی لفظ الحرام فلیراجع الی ردالمحتار ۲: ۳۰۰ ﴿۲، ۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة محمد امین ابن عابدین: ان من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلاثة احجار ینوی الطلاق ولم یذکر لفظا لا صریحا ولا کنایة لا یقع علیه کما افتی به الخیر الرملی وغیره.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق بحث ورکنه لفظ مخصوص)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: والحاصل ان المتأخرین خالفوا المتقدمین فی وقوع البائن بالحرام بلانیة حتی لا یصدق اذا قال لم انو لاجل العرف الحادث فی زمان المتأخرین فیتوقف الآن وقوع البائن به علی وجود العرف کما فی زمانهم واما اذا تعورف استعماله فی مجرد الطلاق لا بقید کونه بائنا یتعین وقوع الرجعی به کما فی فارسیة سرحتک ومثله ما قلمناه فی اول باب الصریح الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۰۴ قبیل مطلب لا اعتبار بالاعراب هنا)

﴿۳﴾ وقد رأیت علی هامش نسخة الشامیة من قلم سیدی وشیخی ومولائی المحدث الکبیر والمفتی الاعظم مولانامفتی محمد فرید دامت برکاتهم انه قد کتب وعلق علی الشامیة فی باب الصریح مطلب سن بوش یقع به الرجعی حیث قال: اعلم ان قول السلیمانیین "پرے مے خوده "چھوڑدیا" ای ترکتها ......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

" ته په ما باندې په درې کانړو باندې طلاقه ئې" کښې د دوو معنو احتمال دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو ښځې خپلې خوانښې سره جهګړه کوله د جهګړې په وخت کښې خاوند حاضرشوا وخپله ښځه وهل ئې شروع کړل او په دې الفاظوئې طلاق ورکړو، "ته په ما په درې کانړو طلاقه ئې"، ښځه خپل کورته لاړله تقریبا میاشت پس خاوند جرګه اوکړله اووئی وئیلې چه زه په قسم سره وایم چه ما طلاق نه دې ورکړې او ښځه باقاعده وائی چه ماته ښه معلومه ده چه ده ماته طلاق راکړې دې لیکن د ښځې سره ګواه نشته، اوس په دې الفاظو سره کوم یو طلاق واقع شویدې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل سبحان چارسده......... ۸۱۸۱ء۱۹۸۴

الجواب: واضحه دیوې چه دا کلام، "چه په ما په درې کانړو طلاقه ئې"، دوه معنی لری ﴿۱﴾ اول دا چه ته په ما باندې داسې طلاقه ئې څنګه چه خاوند درې کانړي اوغورزوی او اووائی یو دوه درې ته په ما طلاقه ئې، او ددې معنی په تقدیر باندې صرف یو طلاق واقع کیږی، ﴿۲﴾ دویم دا چه ته په ما باندې په درې طلاقو باندې مطلقه ئې او د کانړونه په طلاق تعبیر اوکړی نو دا د شیخ الاسلام په نزد باطل کیږی او د احمد قلانسی په نزد درې طلاقه واقع کیږی،

(بقیه حاشیه) ومثله کنایة فی العربیة کذا فی السلیمانیة لانه یستعمل شائعا فی غیر الطلاق ویراد به الطلاق عند القرائن الخارجیة فالظاهر انه کنایة فی السلیمانیة ایضا فاذا کرره فیقع به الواحدة لان البائن لا یلحق البائن ولو سلم انه صریح فالمعارف به وقوع البائن لانهم یقصدون ذلک فافهم.

(هذا من افادات شیخی دامت برکاتهم) ......(ازمرتب)

کمافی الهندیه ۱ :۴۰۸ الفصل السابع فی الطلاق بالالفاظ الفارسیة﴿۱﴾ بس که چرې په صورت مسئوله کښې خاوند منکروی او دښځې سره ګواه نشته دې نو خاوند به قسم او کړی او زبانی مراجعت به هم او کړی چه په یقین باندې عمل متحقق شی-وهو الموفق

په دریو ګوتو باندې اشاره او یو ځل د طلاق وئیلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه تهانیدار یو کس ته اووئیلې چه اووایه په ما باندې ښځه طلاقه ده که چرې ما دغه کار کړې وی، او دې سره ئې دلاس په دریو ګوتو اشاره او کړله او دې کس دهغه درې ګوتې په لاس کښې اونیولې او صرف دومره ئې اووئیل چه په ما باندې طلاقه ده که چرې ما دغه کار کړې وی لیکن په حقیقت کښې ده هغه کار کړې دې، نو دې سره کوم یو طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد امیر بجلی ګهر رامداس پشاور....۱۹۸۲ء\۲۱\۲۵

الجواب: که چرې په صورة مسطوره کښې د(هکذا)لفظ نه وی وئیلې نو دحنث په صورت کښې صرف یو طلاق رجعی واقع کیږی، کمافی ردالمحتار۲ :۶۱۶ باب الصریح،قوله ولولم یقل هکذا ای بان قال انت طالق واشار بثلاث اصابع ونوی الثلث ولم یذکر بلسانه فانها تطلق واحدة،خانیة﴿۲﴾.وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: وفی مجموع النوازل سئل شیخ الاسلام عمن ضرب امرأته فقال دار طلاق (خذی الطلاق) قال لا تطلق وسئل الامام احمد القلانسی رحمه الله تعالیٰ عمن وکز امرأته وقال اینک یک طلاق (هاک طلقة) ثم وکزها ثانیا وقال اینک دو طلاق (هاک طلقتین) وکذا الثالث قال تطلق ثلاثا فشیخ الاسلام یقول سمی الضرب طلاقا فیبطل والامام احمد یقول سمی الطلاق فیقع.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱ :۳۸۲ الفصل السابع فی الطلاق بالالفاظ الفارسیة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار۲ :۴۸۶ بعید مطلب فی قول الامام ایمانی کایمان جبریل)

په یو سوال باندې دوباره استفسار او د دارالعلوم کراچۍ فتوٰی

سوال: محترم مفتی صاحب!ددې استفتاء او جواب یو نقل دارالعلوم کراچی نمبر۱۴ ته هم لیګلې وو ،ددې جواب حرف بحرف لاندې نقل کیږی-

الجواب: فی الدارالمختارفی ایمان الفتح مالفظه وقدعرف فی الطلاق انه لوقال ان دخلت الدارفانت طالق ان دخلت الدارفانت ظالق ان دخلت الدارفانت طالق وقع الثلاث فتح اقره المصنف ثم رده.(بحواله امدادالفتاوی۲ :۳۵۴)دې روایت نه دامعلومه شوه چه که چرې زید درې ځله داوئیلی وی چه زما ښځه هنده که خپل رور بکر کره لاړه تو هغه زما د طرفنه طلاقه ده،او س که چرې هنده خپله رور بکر کره لاړه شی نو په دې باندې درې طلاقه واقع کیږی په دې شرط چه الفاظ ئې داسې وئیلې وی چه کوم په سوال کښې لیکلی شوي دی-والله اعلم

رفیع الله خادم دارالافتاء دارالعلوم کراچی نمبر۱۴......۵۲\۳۱۴

الجواب الصحیح

بنده محمدشفیع عفاالله عنه

المستفتی: محمد اختر داجل براسته بهکرمیاں والی....۱۹۲۹ء\۴۱\۱۲

الجواب: محترم المقام دالسلام علیکم نه پس واضحه دي وی چه فتاوی هندیه مصری ۱ :۴۲۱﴿۱﴾ کښې په حواله دخلاصه او ردالمحتار۲ :۷۰۹ داجزئیه

﴿۱﴾وفی الهندیة: ولو خلل الشرط فقال انت طالق ان دخلت الدار انت طالق ان دخلت الدار انت طالق ان دخلت الدار او قدم الشرط مالم تدخل لا یقع الطلاق فاذا دخلت وقعت ثلاث تطلیقات بالاتفاق کذا فی الخلاصة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱ :۴۳۰ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان واذا)

والظاهرانه ان نوى التاكيد مسطوره ده اوعلامه شامى دې نه پس ليکلى دى. دين انتهى﴿١﴾او حضرت تهانوى رحمه الله عليه هم په امدادالفتاوى کښې ددې عبارة نه پس ليکلى دى: اوکه چرې دسائل څه نورنيت وى نوبيابه ترينه تپوس اوکړې شى﴿٢﴾دې عباراتونه معلومه شوه چه دتغليظ اوتحفيف دارومدار په نيت باندې دې که چرې دتاکيداودخپل اول کلام پخولواومضبوطولوپه اراده باندې تکرارکړې نويوطلاق واقع کيږى اوزمونږ تولـه علاقـه کښې دامشهوره ده چه کله طلاق وغيره دوقفې وقفې نه پس مکررکړى نوتاکيدئې مرادوى لهذا مونږ دتخفيف فتوى ورکړې ده اودزيات احتياط دپاره ددې کس (زيد) نيت اواراده معلومه کړه چه ده تکراردتاکيدپه اراده سره کړې دې اوکه نه د تکثيرپه اراده سره، اودنيت دنه معلوميدوپه وخت مونږ عرف نشو نظرانداز کولې اود تغليظ فتوىٰ نشو ورکولې﴿٣﴾-وهوالموفق

په دولسو ځلوطلاق وئيلو باندې د تاسيس او تاکيد مسئله او د غيرمقلدينو د فتوىٰ حکم

سوال: څه فرمائى علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه زيد خپلې ښځې ته ډير ځله تقريبادولس ځل طلاق ورکړې دې په دې صورت کښې دَطلاق څه

﴿١﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٥٥٩ فروع بعيد مطلب فيما لو تعدد الاستثناء)

﴿٢﴾(امداد الفتاوىٰ ٢: ٤١١ رقم سوال: ٤٩٣ لا يلحق البائن البائن كتاب الطلاق)

﴿٣﴾قال العلامة الشامى: فللمفتى اتباع عرفه الحادث فى الالفاظ العرفيه وكذا فى الاحكام التى بناها المجتهد على ماكان فى عرف زمانه وتغير عرفه الى عرف آخر...... وفى القنية ليس للمفتى ولا للقاضى ان يحكما على ظاهر المذهب ويتركا العرف...... فقد ظهر لک ان جمود المفتى او القاضى على ظاهر المنقول مع ترک العرف والقرائن الواضحة والجهل باحوال الناس يلزم منه تضييع حقوق كثيرة وظلم خلق كثيرين.

(شرح عقود رسم المفتى ٣٨، ٣٩، ٤٠ والعرف فى الشرع له اعتبار)

حکم دې؟ اوکه چرې کوم غيرمقلدعالم څه فتوى ورکړې نودهغې په باره کښې موږ څه رائې ده؟ بينوا توجروا

المستفتى: حاجى محمددين حافظ آبادگجرانواله........١٩٨٨ء١٦١٦٢

الجواب: کوم خاوندچه متعددځله ښځې ته طلاق ورکړى نوکه چرته هغې خاوند دتاکيداواصرارپه نيت باندې داتکرارکړې وى صرف يوطلاق رجعى واقع کيږى اوکه چرې دتاسيس اواستيناف په نيت سره ئې تکرارکړيوى نوښځه مطلقه مغلظه کيږى﴿١﴾ دسلفيانواواهل حديثوپه مذهب باندې عمل کولوسره کارنه جوړيږى﴿٢﴾

﴿١﴾وفى الهندية: ولو قال لها انت طالق طالق او انت طالق انت طالق او قال قد طلقتک قد طلقتک او قال انت طالق وقد طلقتک تقع ثنتان اذا كانت المرأة مدخولا بها ولو قال عنيت بالثانى الاخبار عن الاول لم يصدق فى القضاء ويصدق فيما بينه وبين الله تعالىٰ.

(فتاوىٰ عالمگيرية ١: ٣٥٥ الباب الثانى فى ايقاع الطلاق الفصل الاول فى الصريح)

﴿٢﴾قال شيخ الاسلام الحافظ ابن تيمية: فيمن نكح عند شهود فسقة ثم طلقها ثلاثا فاراد التخلص من الحرمة بان النكاح كان فاسدا فى الاصل على مذهب الشافعى فلم يقع الطلاق ما نصه وهذا القول يخالف اجماع المسلمين فانهم متفقون على ان من اعتقد حل الشيئ كان عليه ان يعتقد ذلک سواء وافق غرضه او خالف ومن اعتقد تحريمه كان عليه ان يعتقد ذلک فى الحالين وهؤلاء المطلقون لا يقولون بفساد النكاح بفسق الولى الا عند الطلاق الثلاث لا عند الاستمتاع والتوارث يكونون فى وقت يقلدون من يفسده وفى وقت يقلدون من يصححه بحسب الغرض والهوىٰ ومثل هذا لا يجوز باتفاق الامة...... وكذا من بنى على صحة ولاية الفاسق فى حال نكاحه وبنى على فساد ولايته حال طلاقه لم يجز ذلک باجماع المسلمين ولو قال المستفتى المعين انا لم اكن اعرف ذلک وانا اليوم التزم ذلک لم يكن من ذلک له لان ذلک يفتح باب التلاعب بالدين ويفتح الذريعة الى ان يكون التحليل والتحريم بحسب الاهواء. (فتاوىٰ ابن تيمية ٢: ٢٤٠)

وقال العلامة ابن عابدين: وان من يكتفى......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

او که چرې داخاوند خالی الذهن وی نو یو طلاق رجعی واقع کیږی (شامی ۶۳۲:۲ باب الطلاق غیرمدخول بها)﴿۱﴾.وهوالموفق

(بقیه حاشیه) بان یکون فتواه او عمله موافقا لقول اووجه فی المسئلةویعمل بما شاء من الاقوال والوجوه من غیر نظر فی الترجیح فقد جهل وخرق الاجماع...... وبعد الورقین...... واما اتباع الهوی فی الحکم والفتیا فحرام اجماعا واما الحکم والفتیابما هو مرجوح فخلاف الاجماع. (شرح عقود رسم المفتی ۱۰۰،۱۰۰۴ آخر النظم)

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین، قال ابن عابدین: ای ووقع الکل قضاء وکذا اذا طلق اشباه ای بان لم ینو استینافا ولا تاکیدا لان الاصل عدم التاکید.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۴۹۹:۲ فروع باب طلاق غیر المدخول بها)

....

فصل فی طلاق المکره والصبی والمجنون والسکران وغیرهم

په زبردستئ د طلاق لیکلو یا په بل چا لیکلو کښې د زوراو زبردستئ نوعیت

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه که چرې په زبردستئ دخاوندنه طلاق نامه لیکلې شوې وی یادستخط یاګوته لګولې شوې وی اوخاوند دزړه نه طلاق نه وی ورکړې یعنی مجبورائې کړې وی نو داصحیح ده چه طلاق نه واقع کیږی؟ اوس خبره داده چه طلاق څه لوبه خونه ده چه په خوشحالئې سره لوبه کوی یائې لوبه کړې وی داسی کارونه خو مجبورا کولې شی ددې مجبورئې،اوجبراوزبردستئ په شریعت کښې څه تعریف دې؟ ډیره مهربانی دزبردستئ دشرعی نوعیت نه موخبردار کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی:مسټر محمدبشیراخترنمک منډی راولپنډی۱۳\۱۱رمضان ۱۳۸۸ھ

جواب: ددې جبراوزبردستئ شرعی نوعیت دادې که چرې داخاوندنه طلاق لیکی اونه ئې په بل چالیکی نودازبردستئ کولو والاداقتلوی یائې یو اندام کټ کوی یادامحبوس اوبندکوی یائې تړی قال فی الهندیه ۳۹:۵ فالاکراه الملجئ هوالاکراه بوعیدتلف النفس اوبوعیدتلف عضومن الاعضاء والاکراه الذی هوغیرملجئ هوالاکراه بالحبس والتقید﴿۱﴾ اوهمدارنګه کله چه د سختو وهلو قوی اندیښنه وی نوداهم زبردستی ده،

﴿۱﴾ (فتاوٰی عالمگیریة ۳۵:۵ کتاب الاکراه الفصل الاول)

صرح به العلامة الشامی ٥:٨٣(٥)وهو الموفق

د جبراطلاق لیکلو یا په بل چا د لیکلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس خپلې ښځې ته داسې طلاق لیکلې دې او ورکړې دې چه زه فلان ولدفلان په هوش او حواس خمسه کښې بلااکره وجبرخپلې ښځې ته درې طلاقه ورکوم چرته چه هم غواړې واده کولې شی زماڅه عذراوحق نشته دې، څه ورځې پس داخبره ظاهره شوه چه دې جینئ ته جبراطلاق اچولې شوې دې بهرحال ددواړه طرفونو نه لیکل اوکړئ ایاجبرایاپرې د شراب څکولو طلاق واقع کیږی او که نه؟بینوا توجروا

المستفتی:محمد طاهرمدرس پرائمری سکول بیروټ مری ١٧١١٢١١٩٧٢ء

جواب: که چرې داثابت شی چه خاوند جبرا او کرهاطلاق لیکلې دې او یا جبرا او کرها د شراب څکلو نه پس ئې طلاق لیکلې دې نو په دې سرې ښځه مطلقه نه ده، یدل علیه مافی ردالمختار ٢:٥٧٩وفی البحران المرادالاکراه علی التلفظ بالطلاق فلواکره علی ان یکتب طلاق امراته فکتب لاتطلق(٢)وفیه ایضا ٢:٥٨٣قوله(واختلف التصحیح الخ)فصحح فی التحفه وغیرها عدم الوقوع وجزم فی الخلاصة بالوقوع قال فی الفتح والاول احسن لان موجب الوقوع عند زوال العقل لیس الاالتسبب فی زواله بسبب محظوروهومنتف وفی النهرعن تصحیح القدوری انه التحقیق(٣).وهو الموفق

---

(١) قال العلامة ابن عابدین: وعبر فی الشرنبلالیة عن البرهان بقوله او ضرب یخاف منه علی نفسه او عضو من اعضائه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٨٩ کتاب الاکراه)

(٢) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٥٧ مطلب فی الاکراه علی التوکیل بالطلاق)

(٣) (ردالمحتار هامش الدر المختار ٢:٤٦٠ مطلب فی الحشیشة والافیون والبنج)

د نکاح نه وړاندې او روسته په زبردستئ طلاق اخستلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه(١)ایاپه زبردستی طلاق واقع کیږی؟(٢) که چرې څوک په کوژدن کښې په زبردستئ طلاق واخلی نو څه حکم دې؟(٣) که چرې څوک سرې چاته په زبردستئ دااووائی چه په تا باندې طلاق دې که چرې تا فلانې کاراوکړو نو آیا طلاق واقع کیږی کله چه هغه هم هغه کارکوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالباری دمام سعودی عرب........١٢٠صفر١٤٠٣ھ

جواب:(١) زبردستئ سره طلاق واقع کیږی البته زبردستئ سره لیکل شوې طلاق بغیرد نیت نه نه واقع کیږی(١)-(٢)که چرې د کوژندې په صورت کښې نکاح نه وی شوی نو طلاق لغوه او باطل دې او که چرې نکاح شوې وی نو طلاق واقع کیږی(٢)-(٣)په دې صورت کښې طلاق واقع کیږی(٣)
(ماخوذ ازشامی وبحر ومشکوة).وهو الموفق

---

(١) قال العلامة ابن عابدین: وفی البحر ان المراد الاکراه علی التلفظ بالطلاق فلو اکره علی ان یکتب طلاق امرأته فکتب لا تطلق لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة هنا کذا فی الخانیة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٥٧ مطلب فی الاکراه علی التوکیل بالطلاق)

(٢) عن علی عن النبی ﷺ قال لا طلاق قبل نکاح ولا عتاق الا بعد ملک...... وعن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال: قال رسول الله ﷺ: لا نذر لابن آدم فیما لا یملک ولا عتق فیما لا یملک ولا طلاق فیما لا یملک رواه الترمذی وزاد ابوداؤد ولا بیع الا فیما یملک. (مشکواة المصابیح ٢:٣٠٦ باب الخلع والطلاق الفصل الثانی)

وقال العلامة ابن نجیم: فلو قال لاجنبیة ان زرت زیدا فانت طالق فنکحها فزارت لم تطلق لانه حین صدر لا یصح جعله ایقاعا لعدم المحل.
(البحر الرائق ٤:٨ باب التعلیق تحت قوله فلو قال لاجنبیة)

(٣) وفی الهندیة: واذا اضافه (ای الطلاق) الی الشرط وقع عقیبه اتفاقا.
(فتاویٰ عالمگیریة ١:٤٢٠ الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان واذا)

د مکره طلاق بالکتابت منظور نه دي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې څه چه دلاندې بیاناتو نه معلومیږي **(۱) بیان د قیوم خان:** اشهدزه بیان کوم چه تقریبادرې میاشتې وړاندې ماته ښځې اووئیل ایا ته ماسره بدی کوی یعنی طلاق راکوی؟ خبرې مو کولې کولې آخرمایه قرآن کریم باندې لاس کیښودواواومی ویل چه زه تاته طلا ق نه درکوم، اوهغې زمایه دې قسم باندې اعتبار اوکړو، څه موده پس مانه زماسخرغلام خان بالجبر طلاق اغستل غوښتل، دې وخت کښې حیدرخان زماښځې ته اووئیل اوهغې نه ئې پوښتنه اوکړه چه طلاقیدل غواړې؟ دې اووئیل چه زه طلاقیدل نه غواړم، دې نه پس حیدرخان ماته اووئیل چه ته به طلاق اچوی ما اووئیل چه زه طلاق نه اچوم، په دې خبره ئې ډیرتکرار اوکړو. دې نه پس حیدرخان لاړو، ددې نه پس امام خان او اجمل اوئیل چه ته به طلاق اچوې او ډیرتکرار اوشوچه زه طلاق نه کوم، دې نه پس زه دکورنه اووتم بیازه دوو کسانو واپس راوستلم اودهغې نه پس ماته علم نشته، نه ما طلاق نامه لیدلې ده اونه ماته دستخط کول یاددی، چه چا اوکړو څه ئې وکړه، څه ماته معلوم نه دي...... دستخط قیوم خان

(۲) بیان د ګواه عمرخان: اشهد زه بیان کوم چه قیوم خان ته ما اووئیل چه غلام خان دخپلې لورطلاق غواړې ستاڅه اراده ده؟ نوهغه اووئیل چه ما قتل کړه لیکن زه طلا ق نه ورکوم، په دې شپه حیدرخان هم موجوددونو قیوم خان زمونږ سره بهراووتو. دهغه په غیر موجودګئ کښې طلاق نامه اولیکلې شوه اود ګواهانو دستخط ئې هم وړاندنه کړي وو. بیائې قیوم خان تلاش کړو ډیروخت پس ئې هغه راوستلو اوهغه دبې هوشی په حالت کښې وودده ښځې ډیرو سرو ته منت اوزاری اوکړل هغې زمایه خپوباندې هم(++) ۴۲۲) اووئې وئیلی چه زه طلاق نه غواړم اوفریادئې کووماد هغې پلار غلام خان ته

منت اوکړو لیکن هغه په جواب کښې اووئیل که چرې دامړهشی نوددې لاش به زه ضرورددې ځائې نه وړم، دښځې ددې فریادپه دوران کښې قیوم خان بیووړې کمرې ته راوستو، د شپې وخت وو، دته اوئیلې شو چه کاغذدې کتلې دې ده اوئیل اوده ته اووئیلې شوچه په دې باندې دستخط اوکړه، ده په دې باندې دستخط اوکړو دې نه پس دائې دهغه ځائې نه واپس راوستلو اوهغه دبې هوشئ په حالت کښې وو اوبیا ئې لس ورځې هغه دبې هوشئ په حالت کښې ؤو.....دستخط عمرخان

(۳) بیان د ګواه حاجی الله خان: اشهد زه بیان کوم چه طلاق نامه ئې وړاندلیکلې وه، اوقیوم خان وتلې وواوهغه ئې دبهرنه راوستلواوهغه وئیلې چه زه طلاق نه ورکوم اګرچه ماقتل کړی اواومړمې کړې، څوځل اووتلولیکن کسان ئې ورپسې لیګل اوواپس ئې راوستوآخرکښې قیوم خان اووئیل چه دطلاق اختیار زمادښځې سره دې هغه مختاره ده، دې نه پس قیوم خان ته طلاق نامه راوړلې شوه اوورته ئې اووئیل چه دااوګوره نوقیوم خان اووئیل چه بس کتلې مې ده اودهغه نه ئې دستخط واغستلواوپه ژبه ئې هیڅ اونه وئیل، لیکن د قیوم خان ښځې وئیل چه زه دخاوندسره اوسیږم زه طلاق نه غواړم هریوته ئې منت زارې کوله اوفریادئې کولواودخپل پلارپه سرئې دسرکپړه اچوله چه ما مړه حساب کړه. اودالله واسطه ئې ورته اچوله اوپه موجوده کسانوکښې هر یوته ئې منت اوزارې کول، لیکن په دې وخت کښې دقیوم خان حالت بې هوشی، سترګې سرې اومخ بدل وو......دستخط: حاجی الله خان

په دې حالا تو کښې ددې طلاق نامې اودطلاق شرعئ حیثیت څه دې؟

الجواب: په صورت مسئوله کښې مسمی قیوم خان نه طلاق نامه لیکلې ده او نه ئې په بل چاباندې لیکلې ده اونه دیده دانسته دطلاق نیت اواراده کړې ده لهذا په ده باندې ښځه مطلقه نه ده. لان الطلاق بالکتابة لایقع بـالاکراه

کمافی ردالمحتار ۲: ۵۷۹ لواکره علی ان یکتب طلاق امراته فکتب لاتطلق لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتبارالحاجة ولاحاجة هنا کما فی الخانیة، انتهی﴿۱﴾قلت:حکم الاکراه والهزل واحد کماصر حوابه﴿۲﴾وهو الموفق

طلاق د مکره کښې په مذهب غیرفتوٰی جائزنه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس په زورآورې سره دویم کس ته دقتل دهمکی ورکړی طلاق پرې او غورزوی نوایا طلاق د مکره واقع کیږی؟اودضرورت په وجه په دې کښې به دمذهب غیردفتوی ورکولو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:..............نامعلوم

الجواب: طلاق بالاکراه کښې عموم بلوی نشته دې لهذا په صورت مسئوله کښې په مذهب غیرباندې فتوی ورکول بې قاعده اوغلط امردې،فی ردالمحتار: ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولوتقدیرا(بدائع)لیدخل السکران ولوعبدااومکرهافان طلاقه صحیح،

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۴۵۷ مطلب فی الاکراه علی التوکیل بالطلاق)

﴿۲﴾قال العلامة الشامی: واما ما فی اکراه الخانیة لو اکره علی ان یقر بالطلاق فاقر لا یقع کما لو اقر بالطلاق هازلا او کاذبا فقال فی البحر ان مراده لعدم الوقوع فی المشبه به عدمه دیانة ثم نقل عن البزازیة و القنیة لو اراد به الخبر عن الماضی کذبا لا یقع دیانة و ان اشهد قبل ذلک لایقع قضاء ایضا،ویمکن حمل ما فی الخانیة علی ما اذا اشهد علی انه یقربالطلاق هازلا ثم لا یخفی ان ما مر عن الخلاصة انما هو فیما لو انشأ الطلاق هازلا وما فی الخانیة فیما لو اقربه هازلا فلا منافاة بینهما قال فی التلویح و کما انه یبطل الاقرار بالطلاق والعتقاق مکرها کذلک یبطل الاقرار بهما هازلا لان الهزل دلیل الکذب کالاکراه الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۹ قبیل مطلب فی تعریف السکران وحکمه)

درمختار ۲: ۵۷۹﴿۱﴾ومسئلة جوازالافتاء بمذهب الغیرعند الضرورة وعدم الجوازعندعدمهافی رسالة رسم المفتی ۵۰ فلیراجع﴿۲﴾.وهوالموفق

نابالغ نه خپله طلاق ورکولې شی او نه ځوک وکیل د طلاق جوړولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیونابالغ هلک نکاح دیوبالغې جینئ سره اوشوداجینئ طلاق اخستل غواړی ایاداهلک په خپله طلاق ورکړی نوواقع کیږی اوکه نه؟ یا دپلارطلاق ورکول کافی کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ عبدالاکبرنریاب هنګو.........۲۴۱۱۱۱۹۸۷ء

الجواب: نابالغ نه په خپله طلاق ورکولې شی اونه ځوک وکیل جوړولې شی اونه پلاروغیره دده دطرفنه خلع کولې شی، کمافی الهندیه ۱: ۳۷۶ ولایقع طلاق الصبی وان کان یعقل﴿۳﴾ وفی ردالمحتار ۲: ۵۷۹ ثم کلامه شامل لمااذاوکل به او اجازه من الفضولی نهر﴿۴﴾ وفی الهندیه ۱: ۵۲۹ اذاخالع الاب علی ابنه الصغیر لایصح ولا یتوقف علی اجازته﴿۵﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۵۶ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾قال العلامة الشامی: وقولی لکنما القاضی به لا یقضی الخ ای لا یقضی بالضعیف من مذهبه و کذا بمذهب الغیر. (شرح عقود رسم المفتی ۴۴ ولا یجوز بالضعیف العمل)

﴿۳﴾(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۵۳ فصل فیمن یقع طلاقه وفیمن لا یقع طلاقه)

﴿۴﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۶ قبیل مطلب الاکراه علی التوکیل بالطلاق الخ)

﴿۵﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۵۰۴ قبیل الباب التاسع فی الظهار)

نابالغ هلک خپلې ښځې یا دده پلاردده ښځې ته طلاق نه شی ورکولې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه زید اوبکردواړه سکه ورونړه دی زید دوه لونړه دبکردوه نابالغ هلکانو ته ورکړلې د ګواهانو په مخامخ ایجاب اوقبول اوشو .دزید اوبکریو تنازعه شروع شوه بکرزید ته وائی چه د شرعی پابندې لازمی ده لیکن زید دښار اکثر اعتباریانو نه پرده نه کوله، چاته خپل وروراوچاته دښځې ورور وئیل کور کښې تګ راتګ کیده لیکن بکرشرعی پردې باندې قائم وو .دزیدیوه لوربالغه شوه اوواده اوشولیکن دپردې خبره بیا مینځ ته راغله اوناراضګی دطلاق صورت اختیارکړو .بیازید مطالبه اوکړه چه بکردې ځماوړې لورته هم طلاق ورکړې لیکن بکرانکاراوکړوچه د ''الطلاق لمن اخذ بالساق،، مطابق ځماځوې نابالغه دې طلاق نه شی ورکولې اونه ماته شرعاحق حاصل دې چه زه طلاق ورکړم، دجهګړې د ختمولو په نیت سره بل فریق دزید په وینا باندې بکردا تحریر اولیکلو چه ځما وړه لوړسره هیڅ تعلق نشته زه بیزاریم ځماځوې چه ځوان شی څنګه ئې چه مرضی وی هغه به اوکړی زه شریعت ته زما سرښکته دې، زیددا تحریرد ضدبازی په بنیاد باندې طلاق ګڼړی اودجینئ په دویم ځائې کښې نکاح کول غواړی لیکن بکروائی چه کله پورې ځماځوې بالغ نه وی طلاق ورکولې نه شی ته په بل ځائې کښې دې جینئ ته مطابق دفقه حنفی نه شی ورکولې. داصول فقه او حدیث په اصطلاح کښې دوئ کښې دکوم کس خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد تاج الدین امام مسجد کنجور کیمل پور .١٩٦٩ء١١١٠١

الجواب: د بکردځوې نه بغیر هیڅ څوک دې جینئ ته طلاق نه شی ورکولې اود بکرهلک هم هغه وخت کښې دطلاق ورکولو مختاردې کله چه هغه بالغ شی دې نه وړاند طلاق ورکول نامنظوردی، قال رسول الله ﷺ: الطلاق لمن اخذبالساق، رواه ابن ماجه﴿١﴾ وفی الهندیة ١: ٣٧٦ یقع طلاق کل

﴿١﴾ الطلاق لمن اخذ بالساق رواه ابن ماجة: رواه عن ابن عباس من طریق فیها ابن لهیعة رواه الدارقطنی ایضامن غیرها کمافی الفتح ومراد تقویة الحدیث لان ابن لهیعة متکلم فیه فقد اختلف المحدثون فی جرحه وتوثیقه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٤٦٢ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش)

زوج اذاکان بالغا عاقلاوفیهاایضالایقع طلاق الصبی وان کان یعقل انتهی﴿١﴾

قلت: والاب لیس بزوج. وهوالموفق

د طلاق د صحت د پاره د خاوند بالغ کیدل شرط دی په خلاف د ښځې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه هلک کوم عمر کښې طلاق ورکولې شی؟ همدارنګه دښځې بلوغت طلاق دپاره شرط دې اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: صوبیدارعبدالکریم مینګوره سوات

الجواب: دصحت دطلاق دپاره دخاوندبالغ کیدل شرط دی، کمافی شرح التنویر: ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل(هامش ردالمحتار٢: ٥٧٩)﴿٢﴾وفی الهندیه: ولایقع طلاق الصبی(١: ٣٧٦)﴿٣﴾اوبلوغ داحتلام یاپنځلسو کاله پوره کیدونه معلوموليې شی﴿٤﴾ واضحه دې وې چه د صحت دطلاق دپاره دښځې بلوغت شرط نه دې-وهوالموفق

د بالغ خاوند نابالغې ته قبل الدخول د یو طلاق ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوهلک بالغ دې او

﴿١﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ١: ٣٥٣ فصل فیمن یقع طلاقه وفیمن لا یقع طلاقه)

﴿٢﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٤٥٦ کتاب الطلاق)

﴿٣﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ١: ٣٥٣ فصل فیمن یقع طلاقه وفیمن لا یقع طلاقه)

﴿٤﴾ قال العلامة الحصکفی: بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال والاصل هو الانزال والجاریة بالاحتلام والحیض والحبل ولم یذکر الانزال صریحا لانه قلما یعلم منهافان لم یوجد فیهما شیئ فحتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتی لقصر اعمار اهل زماننا وادنی مدته له اثنتا عشرة سنة وهو االمختار کمافی احکام الصغار.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٥: ١٠٧ فصل بلوغ الغلام بالاحتلام)

د جينۍ پـه نكاح باندې اخستې ده هلک د جينۍ كم عمره ماشومه ده اوده داجينۍ په نكاح باندې اخستي ده هلک د غصې په حالت كښې يو دطلاق لفظ دخولې نه ويستې دې دخپلورشته دارو مخكښې يادهم عمره هلكانو مخكښې .ددې بالغ ددې لفظ نه پـه دې نابالغـه باندې كوم يو طلاق واقع كيږى؟ بينوا توجروا

المستفتى: خليل الرحمن........................٧٤،٥١،٦

الجواب: كه چرې داجينۍ غير شادې شده وى نودبينونت پـه وجه باندې تجديد د نكـاح ضرورى ده﴿١﴾ اوكـه چرې شـادى شـده وى اوددې سـره مجامعت يـا خلوت شوې وى نومراجعت كـافى دې. كله چه ايام عـدت باقى وى﴿٢﴾ كينې تجديد د نكاح ضرورى ده﴿٣﴾ صرح به فى الهندية وردالمحتار .وهوالموفق

د مدهوش او مغلوب العقل د طلاق مسئله

سوال: څه فرمائى علماء دين ددې مسئلې په باره كښې چه يو كس پـه مدهوشئ او د مغلوب العقل كيدو پـه حالت كښې ښځې تـه دوه ځلـه داوئيلې دى چه تـه طلاقه ئې،دطلاق دوركولو په وخت كښې يو څو ګواهان هم موجود وو څوک چه حلفا وائى چه ده دمدهوشئ په كيفيت كښې طلاق وركړې دى اوس پـه صورت مسئوله كښې طلاق رجعى واقع كيږى اوكه بائن؟همدارنګـه ددې مدهوشئ پـه حالت كښې د دريو طلاقو وركولو څه حكم دې؟ د احنافو په كتابونو كښې د

﴿١﴾ قـال العـلامة الـحصكفى: وان فرق بوصف او خبر او جمل بعطف او غيره بانت بالاولىٰ لا الى عدة.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢:٤٩٤ باب طلاق غير المدخول بها)

﴿٢﴾ وفى الهـنـدية: الـرجـعة ابـقـاء النكاح على ما كان ما دامت فى العدة كذا فى التبيين.
(فتاوىٰ عالمگيرية ١:٤٦٨ الباب السادس فى الرجعة وفى ما تحل الخ)

﴿٣﴾ قـال الـعـلامة المرغينانى: واذا كان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها فى العدة وبعد انقضائها لان حل المحلية باق.

(هداية ٢:٣٧٨ باب الرجعة كتاب الطلاق)

معتوه طلاق غيرموثر ګرځولې شوې دې مذكوره صورت كښې ددې كس كيفيت دمعتوه پشان وو؟ بينوا بسند الكتاب توجروامن الله يوم الحساب

المستفتى: قاضى محمد مشتاق مانسهره

الجواب: كه چرې دخاوندمدهوش كيدل معروف يا مبرهن وي نودده طلاق نه واقـع كيږى برابـره خبره ده كـه دوه وى يـادرې. كمـــافى ردالمحتـــار ٢:٥٨٧ فليراجع﴿١﴾ اودغير مدهوش دوه ځلـه طلاق وئيلو باندې دوه طلاقـه رجعى واقـع كيږى﴿٢﴾قال الله تبارک وتعالىٰ:الطلاق مرتان فامساک بمعروف اوتسريح باحسان(الاية)﴿٣﴾ ليكن پـه دې شرط چه ددې نـه مخكښې ئې څه طلاق(دې ښځې ته) نه وى وركړى-وهوالموفق

د مدهوش او د پاګل د طلاق مسئله

سوال: څـه فرمائى علمـاء ديـن ددې مـسئلې پـه بـاره كـښې چه ديـو كس يو څو ظاهرى عـاداتو او اطوارونه معلوميږى چه دامحبوط الحواس دې ځكه اوهغه باقاعده مزدورى كوى،څـه ورځې مخكښې ده خپلې ښځې تـه طلاق ثلاثـه وركړل اودهغې بارباراعاده ئې اوكړه،تـردې پـورې ئې اووئيـل كـه چرې زه خپلې ښځې ته دوباره نزدې شومه نو دخپلې مورسره به مې رشتـه دزوجيت

﴿١﴾ قـال العـلامة ابـن عابدين: وسئل نظما فيمن طلق زوجته ثلاثا فى مجلس القاضى وهو مـغتـاظ مدهوش فاجاب نظما ايضا بان الدهش من اقسام الجنون فلا يقع واذا كان يعتاده بان عرف منه الدهش مرة يصدق بلا برهان.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٦٣ مطلب فى طلاق المدهوش)

﴿٢﴾ قال العلامة الزيلعى: كقوله انت طالق انت طالق فيقع رجعيتان اذا كانت مدخولا بها.

(تبيين الحقائق شرح كنز ٢:١٩٩ كتاب الطلاق)

﴿٣﴾ (سورة البقرة آيت:٢٢٩ پاره:٢ ركوع:١٣)

مترادف وی، د طلاق باوجود د ابد ستور د ښځې سره او سیږی، که چرې د ډاکټری معائنې نه پس د ده د دماغی خرابی پته اولګی نو بیا د دې څه حکم دې او که چرې دماغی توازن ئې صحیح وی نو بیا څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: شبیرحسین شاه هوتر تیرهی مری راولپنډی ۱۲۷شوال ۱۳۹۹ھ

الجواب: که چرې دا سړې مدهوش یا پاګل نه وی﴿۱﴾ نو د ده ښځه مطلقه مغلظه شویده﴿۲﴾_ وهوالموفق

د عقل د فاسدیدو په وخت کښې د طلاق لیکلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چه یو کس اووئیلې چه ماخپلې ښځې ته طلاق ورکړې دې روسته د ده نه تپوس اوشو که چرې واقعی تاخپلې ښځې ته طلاق ورکړې وی نو لیکل وکړه، ده اووئیل صحیح ده، یو ویونکی ده ته مضمون اووئیلو او ده اولیکلو، یعنی لیکلو الا دا په خپله دې او د وئیلو الا بل کس دې چه مضمون وائی او دائې لیکی، مضمون دادې:

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين: (قوله والمجنون) قال فی التلويح الجنون اختلال القوة المميزة بين الامور الحسنة والقبيحة المدركة للعواقب بان لا تظهر آثارها وتتعطل افعالها اما لنقصان جبل عليه دماغه فی اصل الخلقة واما لخروج مزاج الدماغ عن الاعتدال بسبب خلط او آفة...... (قوله والمدهوش)...... فی القاموس قال بعده او ذهب عقله من ذهل او وله بل اقتصر على هذا فی المصباح فقال دهش دهشا...... ذهب عقله حياء او خوفا وهذا هو المراد هنا ولذا جعله فی البحر داخلا فی المجنون الخ.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۲، ۴۶۳ قبيل مطلب فی طلاق المدهوش)

﴿۲﴾قال العلامة الموصلی: (ويقع طلاق كل زوج عاقل بالغ مستيقظ) لقوله عليه السلام: كل طلاق واقع الا طلاق الصبی والمعتوه (اخرجه الترمذی) وفی رواية "الاطلاق الصبی والمجنون" ولايقع طلاق الصبی والمجنون لما روينا ولانهما عديما العقل والتمييز الاهلية بهما. (الاختيار لتعليل المختار ۲: ۱۶۲ كتاب الطلاق)

"ماخپلې ښځې مسماة فلانئې ته طلاق ثلاثه ورکړې دې دادې زمانه د مهر مطالبه نه کوی او به زه د هغې د جهیز سامان سره چیرنه کوم"-

دا طلاق صرف په یو لیکلو کښې دې او په یو وخت کښې لیکلې شوې دې، لیکن یوه خبره داده چه دا سړې د دماغی خرابئې په وجه شپاړس ورځې یو غټ هسپتال کښې داخل وو او په علاج باندې تقریبا درې سوه روپئې لګیدلې دی، او د هسپتال سرټیفیکیټ هم د ده سره دې، ایا دا طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا الطاف الرحمن ماړی شرقی توټیال هزاره ۱۱۰محرم ۱۳۹۲ھ

جواب: که چرې دې سړی د عقل د فاسدیدو په وخت طلاق ورکړې وی یا لیکلې وی نو ښځه نه ده مطلقه شوې ګینی مغلظه شویده، فی الدرالمختار: والمجنون والمعتوه والمغمی علیه والمدهوش مختصرا (هامش ردالمحتار ۲: ۵۸۶)﴿۱﴾ وهوالموفق

د مدهوشئ او غضب په حالت کښې د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کښې چه زید چرس څکل کوم سره چه شرعاً نشه نه کیږی، لیکن په طبیعت کښې بې او دسی او عدم تحمل کیفیت پیدا کیږی په دې حالت کښې هغه کورته راغلو د ښځې سره ئې د روپو او پیسو په معامله کښې جهګړه اوشوه د کوم نه چه هغه سخت درون شو او په دماغو ئې چکر راغلو، د دې چکر په حالت کښې ده د کور سامان اوسوزولو، په دې حالت کښې ده ښځې ته درې طلاقه زبانی هم ورکړل او د یو کس په وینا باندې ده په لیکلو هم درې طلاقه ورکړل، کله چه ده هغه هوش په ځائې راغلو نو ده ته اووئیلې شو چه تا د کور سامان هم سوزولې دې او ښځې ته دې طلا ق هم ورکړې دې، اوس زید ته دومره شعور دې چه ده ښځې ته هم څه وئیلې دی او نور حرکتونه ئې هم کړې دی، لیکن څه چه شوې دی په بې هوشئ کښې شوې دی نو آیا دې سره طلاق ثلاثه واقع شوې دې؟

﴿۱﴾(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۴۶۲ مطلب فی طلاق المدهوش)

نوټ:.....دچرس څکلو تذکره په سوال کښې ددې دپاره هم ضروری ده چه دا یو امر واقعه دې که چرې په سوال کښې ددې تذکره نه وی نو بعض هلک دینه طلاق سکران جوړوی نو ددې وجې نه سوال نامکمل کیږی،ګینې مسئله د مدهوش اوغضبان ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید فقیرملک پشاور

الجواب: بشرط صدق دزید ښځه نه ده مطلقه شوې ځکه چه داالفاظ د زید دعقل دخرابیدو په وخت صادرشوي دي. فی ردالمحتار ۲: ۵۸۷: فالذی ینبغی التعویل علیه فی المدهوش ونحوه اناطة الحکم بغلبة الخلل فی اقواله وافعاله الخارجة عن عادته وکذا یقال فیمن اختل عقله لکبراولمرض اولمصیبة فاجاته فمادام فی حال غلبة الخلل فی الاقوال والافعال لاتعتبراقواله وان کان یعلمها ویریدها لان هذه المعرفة والارادة غیرمعتبرة لعدم حصولهاعن ادراک صحیح(۱).وهو الموفق

د وهلو په وجه سره بې هوشه شی ..طلاق ورکړی.. د وئیلوحکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس مورته بدې ردې اووئیلی اودمور دوجې نه ئې ښځه هم دوه درې سپېړې اووهله اوخپل پلار ته ئې هم یوڅو کنزلې اوکړې پلارئې غصه شو په لرګی باندې ئې دوه ځل اووهلو .اول ګذارددهٔ په شاړګ باندې اولګیده ،هغه بې هوشه راپریوتله درېم کس راغلودائې اوچت کړو اووئې مګلو ،دده دژبې نه درې ځلورځله دطلاق ورکولو الفاظ اووتل. کوم چه والدینو اوریدل اونوروهم،وروسته خلقو هغه ته اووئیل چه تاولې بې وجې ښځې ته طلاق ورکړو ،ده وئیل چه ماته هیڅ هم معلوم نه دی چه ماڅه وئیلی دی اوهغه حلفیه په قرآن هم لاس ایګدی وائی چه ماته علم نشته.دترغیب اوتخویف ټولی طریقې استعمال کړې شوې لیکن هغه بیاهم وائی چه ماته هیڅ هم معلوم نه دی چه ماڅه وئیلی دی،والدین ئې

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۳ مطلب فی طلاق المدهوش)

وائی چه او ده دطلاق الفاظ وئیلی دی اوخدائې پوهیږی چه بې هوشه وو اوکه نه،لیکن خورنګ ئې زیړووهمدارنګه په مقامی طورباندې چه کله چه دده حالت معلوم کړې شول چه داځنګه سړې دې چه خیانت ګر،دروغژن اوپه معاملاتو کښې ځنګه دې نو دمحلې چه کوم عزت مند خلق دی هغوی دده صفائی پیش کوی چه نیک سړې دې نو طلاق واقع دې اوکه نه؟بینوا توجروا

المستفتي: محمد اقبال کنزالعلوم مظفرګړه.........۳/۱۹/۱۹۷۵ء

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې کس باندې ښځه نه ده مطلقه شوی(۱) لکونه مغمی علیه وعلی انه ترک الاضافة الی الزوجة(۲) فلیراجع الی ردالمحتار ۲: ۵۸۶(۳) والهندیة ۱: ۴۰۱(۴).وهو الموفق

(۱) وفی الهندیة: ولو زال عقله بالضرب او ضرب هو علی رأسه حتی زال عقله وطلق لا یقع طلاقه کذا فی فتاویٰ قاضی خان.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۵۳ فصل فیمن یقع طلاقه الخ)

(۲) قال العلامة محمد امین: ان الصریح لا یحتاج الی النیة ولکن لا بد فی وقوعه قضاء ودیانة من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه ولم یصرفه الی ما یحتمله.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۷ مطلب ان الصریح لا یحتاج فی وقوعه الخ)

(۳) قال العلامة ابن عابدین: (قوله المغمیٰ علیه ای المغشی) قال فی التحریر الاغماء آفة فی القلب او الدماغ تعطل القوی المدرکة والمحرکة عن افعالها مع بقاء العقل مغلوبا...... وهو فوق النوم فلزمه مالزمه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۳ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش)

(۴) وفی الهندیة: ولا یقع طلاق الصبی والمجنون والنائم والمبرسم والمغمیٰ علیه والمدهوش هکذا فی فتح القدیر.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۵۳ فصل فیمن یقع طلاقه وفیمن لا یقع طلاقه)

د مسحور (جادو وهلی) کس د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زید خپلې ښځې ته طلاق ورکړو څه موده پس زید اووئیل چه په ماباندې بعض انسی شیطانانو د طلاق ورکولو زوراوکړو، اودخوف قتل دوجې نه ماطلاق ورکړواوددې نه علاوه په ماباندې سحرهم شوې وودکوم په وجه چه زماعقل اوهوش تلې وو هغه دارنګه چه زمونږ ددروازی نه لاندې نه څه تعویذات اوموندلې شوې په کوم کښې چه ستن. انسانی ویخته دچرګې نوکان، ګومنزاوڅه خاوره کاغذ کښې وه ددې سحرپه وجه زه بلکل معتوه جوړشوې وم اووهمونه اوغمونه په ماباندې پراته ووپه دې وخت کښې زمانه دغه دطلاق الفاظ صادرشوي وو، نو آیا د مسحوراومجنون یوحکم دې؟ اوپه دې صورت کښې ددې طلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی مولانابهادرخان c|o امام خواجه اسرارالدین کریم پوره
پشاور ۲۷\شوال ۱۳۸۹ھ

الجواب: زمونږ په نیزطلاق د مکره واقع کیږی، فی الدرالمختار: ویقع طلاق کل زوج ولوعبدااومکرها فان طلاقه صحیح(۱) واماالمسحور فان کان هومغلوب العقل بحیث اختل اکثرکلامه فلایقع طلاقه، قال العلامة الشامی: فالذی ینبغی التعویل علیه فی المدهوش ونحوه اناطة الحکم بغلبة الخلل فی اقواله وافعاله الخارجة عن عادته وکذایقال فی من اختال عقله لکبراولمرض اولمصیبة فاجاته فما دام فی حال غلبة الخلل فی الاقوال والافعال لاتعتبراقواله وان کان یعلمها ویریدها الخ(۲). وهوالموفق

---

(۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۵۶ کتاب الطلاق)

(۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۳ مطلب فی طلاق المدهوش)

په وسوسه او وهم کښې د مبتلاء سړی د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې که چرې یو سودائی (وسواسی اووهمی) سړې ته یوآسان کارپیداشواووئې وئیل که چرې داکار ما اونه کړو نوپه ماباندې خپله ښځه طلاقه ده، اوس ده ته ددې دوئیلواونه وئیلو شک دې، دطلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: ارشدعلی خان مردان.........۱۸\شعبان ۱۴۱۰ھ

الجواب: کوم کس چه دوسوسې اودوهم په بیمارئ کښې مبتلاء وی(۱) اوپه غیر ارادی طورباندې یاپه مشکوک طورباندې دده دخولې نه دطلاق الفاظ اوځی نوپه دې باندې طلاق نه واقع کیږی(۲)- وهوالموفق

دوسوسې په صورت کښې وئیل چه.په ښځه باندې منحوس الفاظ.ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زماښځې اووئیلې چه زه دفلانی کورته ځم،نومااووئیل که چرې ته لاړې نوپه تاباندې منحوس الفاظ،بیاچه کله دده موروائی چه هغه تلله نوماوئیلې که چرې لاړه نوپه دې

---

(۱) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدورها مالم تعمل به او تتکلم متفق علیه. قال الملا علی قاری: الخواطر ان کانت تدعو الی الرذائل فهی وسوسة...... ما وسوست صدورها ای ماخطر فی قلوبهم من الخواطر الردیئة...... (مالم تعمل به) ای ما دام لم یتعلق به العمل ان کان فعلیا، (او تتکلم به) ای مالم یتکلم به ان کان قولیا کذا فی الازهار الخ.

(مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۱: ۲۳۸ باب فی الوسوسة)

(۲) قال العلامة الحصکفی: علم انه حلف ولم یدر بطلاق او غیره لغا کما لو شک اطلق ام لا ولو شک اطلق واحدة او اکثر بنی علی الاقل.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۹۲ قبیل باب طلاق غیر المدخول بها)

باندې منحوس الفاظ، اوس په دې الفاظو کښې ماته د آوازپته نشته مګر خوله او ژبه حوزیدله بیازماپه دماغ کښې خلل راغلو او آواز وتلې دې او که نه نو ما همدارنګه اړول راړول او څوځل مې دوئیلو نیت نه دې کړې، وغیره، وغیره، کښې زه چونکه دوهم دبیمارئ مریض یم په دې صورت کښې دطلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: ماسټرمحمد حسین چکوال جهلم

الجواب: په صورت مسئوله کښې طلاق نه دې واقع شوې، لعدم الرکن وهواللفظ ولکون الزوج موسوسا﴿۱﴾فلیراجع الی ردالمحتار ۲:۵۷۸﴿۲﴾ و۲:۵۸۷﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عنی امتی ما وسوست به صدورها مالم تعمل به او تتکلم متفق علیه. قال الملا علی بن سلطان محمد القاری: (مالم تعمل به) ای مادام لم یتعلق به العمل ان کان فعلیا (او تتکلم) به ای مالم یتکلم به ان کان قولیا کذا فی الازهار.

(مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۱:۲۳۸ باب فی الوسوسة)

وقال العلامة ابن عابدین: وعن اللیث لا یجوز طلاق الموسوس قال یعنی المغلوب فی عقله وعن الحاکم هو المصاب فی عقله اذا تکلم یتکلم بغیر نظام کذا فی المغرب.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۳۱۲ باب المرتد)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله ورکنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح او کنایة فخرج الفسوخ علی ما مر واراد اللفظ ولو حکما لیدخل الکتابة المستبینة. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۴۵۳ کتاب الطلاق)

﴿۳﴾قال العلامة محمد امین: وعرفه فی التحریر بما یثبت حکمه الشرعی بلا نیة واراد بهااللفظ او ما یقوم مقامه...... لان رکن الطلاق اللفظ او مایقوم مقامه مما ذکر کما مر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۵ باب الصریح)

په مرض سرسام کښې د ورکړې طلاق مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس باندې د سرسام بیماری ده په بعض وختونو کښې په ده ددېوانو غوندې دحرکاتو کیفیت راځی، بې هوده او بې ربط خبرې کوی نوایاددې کس طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګل زمان بنوں..........۱۹۷۸ء۱۳۱۲۹

الجواب: که چرې دامرض دعقل ختمولو ترحد پورې رسیدلې وی﴿۱﴾اوپه دې صورت کښې یعنی دعقل دختمیدوپه وخت کښې دده نه طلاق صادرشوی وی نوطلاق نه واقع کیږی. فی شرح التنویر: والمبرسم من البرسام بالکسر علة کالمجنون﴿۲﴾لیکن متوازن خبرو کولو والا ته مجنون وئیل قابل تسلیم نه دی. وهوالموفق

په مالیخولیا کښې د مبتلا کس د طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې یو کس چه حافظ قرآن او حکیم حاذق دې دیونیم کال نه په ده باندې دویرې او غلبه ده او هریو کس ته مشکوک ګوری چه ګینی دائې مخالف دې ده نه زماځان ته خطره ده حالانکه دچا سره ئې ذاتی مخالفت نشته دې لیکن دااحساسات ئې هروخت په دماغو مسلط وی. په یو رشته داربandې اعتمادنه کوی. دده خوابښې بیماره وه کله

﴿۱﴾قال الجغمینی: السرسام...... دموی وصفراوی، اما الدموی فعلامته حمرة الوجه وعظم النبض وحمرة لون البول واختلاط العقل والسهر...... واما الصفراوی فعلامته صفرة الوجه وسواد اللسان وحدة النبض وناریة البول والحمی الحادة وشدة العطش واختلاط العقل والسهر والهذیان. (قانونچه (طب) ۱۲۰ الفصل الثانی فی السرسام)

﴿۲﴾(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۶۲ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش)

چه ده او کتلو نو ده او وئیل چه دا بیمارنه دې بلکه خپله لورزمانه د خلاصولو دپاره ئې منصوبه جوړه کړي ده حالانکه مرض ئې دومره سخت وو چه په هغه مرض کښې وفات شوبیائې دښځې په باره کښې وئیل شروع کړه چه زمانه طلاق اخستل غواړی حالانکه دشلو کالونه ددوئی نه چاته دطلاق تصورې قدری هم نه دې شوې بالاخره هغه کس خپلې ښځې ته یوطلاق رجعی ورکړو څه وخت پس ئې طلاق مغلظه ورکړو، دمذکوره کس وینا ده چه زه ددې کلې نه کوم بل ځائې ته منتقل کیږم ځکه چه دکلې خلق دده مخالف دی حالانکه دا خاندان دپنځه څلویښت کالونه په دې کلې کښې اوسیږی او دکلې ټول خلق دا په زړه سره خوښوی په دې وخت کښې دوی (امامت) هم پریښودو مګرخپل مونځ ځانته کوی بلکه دجمعې په ورځ باندې تقریرهم کوی او د خلقوسره خبرې هم صحیح کوی مګرددې باوجوددشمنانونه ځان ته خطره محسوسوی او کله چه دد شمن تپوس ترینه اوشی نوداوائی چه ماته معلوم نه دی، اوس سوال دادې چه د مذکوره کیفیاتوپه روښنئ کښې طلاق نافذ کیږی او که نه او ډاکټر ده ته مجنون وئیلې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالغفورقاضی محمدفضلی مانسهره هزاره

الجواب: بلاشک دمجنون طلاق نه واقع کیږی﴿۱﴾لیکن باوجود دمتوازن کلام کولو کس ته مجنون وئیل ناقابل تسلیم دی﴿۲﴾البته داکس په مالیخولیا او سودا کښې ګرفتار معلومیږی لیکن مالیخولیاپه جنون کښې داخلول مطلقا

﴿۱﴾قال العلامة صدر الشریعة: لا طلاق صبی ومجنون ونائم.
(شرح الوقایة ۲: ۷۱ باب ایقاع الطلاق)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین: الجنون اختلال القوة الممیزة بین الامور الحسنة والقبیحة المدرکة للعواقب بان لا تظهر آثارها وتتعطل افعالها اما لنقصان جبل علیه دماغه فی اصل الخلقة واما لخروج مزاج الدماغ عن الاعتدال بسبب خلط او آفة واما لاستیلاء الشیطان علیه والقاء الخیالات الفاسدة الیه بحیث یفرح ویفزع من غیر ما یصلح سببا.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۲ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش)

غیر صحیح دی﴿۱﴾ لهذا دا طلاق نافذ دې-وهوالموفق

په حالت د خوب کښې طلاق معتبرنه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې یوسړې په خوب کښې خبرې کوی یوځل ده دخوب په دوران کښې (کله چه هغه سخت اوده وو) اچانک ئې خبرې شروع کړې اووئې وئیل چه فلانئې (ښځه) ته طلاق طلاق طلاق دې، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید کمال صنوبر کلې مردان.........۱۹۷۷ء۳۱۱۲۶

الجواب: دخوب په حالت کښې دطلاق د الفاظوپه وئیلو باندې طلاق نه واقع کیږی ځکه چه نورې خبرې لغوه دی داسې طلاق هم لغوه دې، فی الدرالمختار: والنائم لانتفاء الارادة﴿۲﴾.وهوالموفق

د نشې، غصې او د جبر په صورت کښې د طلاق حکم

سوال: څه فرمائې علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه(۱)دنشې په حالت

﴿۱﴾ ډاکټر کیپټن اخترازلیکی: د مالی خولیا مریض بالکل د مې نیا د مرض ضد وی خاموش پروت وی ډیرې کمې خبرې کوی خوراك څکاك هم کم کوی یا بعضې وخت بالکل نه کوی، ولږه ختمه شی، د ولږې تندې، اودس ماتی، لامبلو یا کپړې بدلولو ډیر ورځو پورې خیال نه راځی سست پروت وی د پریشانئ خبرې کوی او په خبره خبره باندې ژاړی خپل ځان ګناهګار ګڼړی او خودکشئ ته تیاریږی، مې نیا او ډی پریشن (مالی خولیا) په اصل کښې د یومریض دوه حالتونه دی چه خپل مینځ کښې بدلیږی رابدلیږی دا بیماری د یو سائی کوسز قسم دې چه دې ته مینك ډیسپریسوسائی کوسز وئیلې شی. (ایلوپیتهك پریکټس آف میډیسن ۳۱۳ مالی خولیا یعنی ډی پریشن)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۶۳ مطلب فی طلاق المدهوش)

کښې د طلاق څه حکم دې؟(۲) د غصې په حالت کښې دطلاق څه حکم دې.
(۳) په جبری طورباندې دطلاق اخستلو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولاناشوکت علی اسماعلیه مردان......۲۹\صفر ۱۴۰۲ھ

الجواب: (۱)دنشې په حالت کښې طلاقِ نافذاوواقع دې تغلیظا(شامیه)《۱》.
(۲)دغیرمعمولې غصې په حالت کښې(ځکه چه ددې کس نه په دې حالت کښې اکثریاټولې خبرې بې هوده اوځ ی اویاپه غیر ارادې طورباندې دده دژبې نه خبرې اوځی)طلاق نه واقع کیږی(شامی)《۲》-(۳)په جبرې طورباندې طلاق نافذاوواقع کیږی《۳》-وهوالموفق

د نشې په حالت کښې طلاق واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې یوکس دبازارنه کلې ته راغلو اورچرس ئې اوسکل.په دې حالت کښې یوه ښځه دمردان دکوریوه وینزه

《۱》قال العلامة الحصکفی: او سکران ولو بنبیذ او حشیش او افیون او بنج زجراً به یفتیٰ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۶۰ مطلب فی تعریف السکران وحکمه)

《۲》قال العلامة الشامی: فالذی ینبغی التعویل علیه فی المدهوش ونحوه اناطة الحکم بغلبة الخلل فی اقواله وافعاله الخارجة عن عادته وکذا یقال فیمن اختل عقله لکبر او لمرض او لمصیبة فاجأته فما دام فی حال غلبة الخلل فی الاقوال والافعال لا تعتبر اقواله وان کان یعلمها ویریدها لان هذه المعرفة والارادة غیر معتبرة لعدم حصولها عن ادراک صحیح کما لا تعتبر من الصبی العاقل.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۶۳ مطلب فی طلاق المدهوش)

《۳》وفی الهندیة: یقع طلاق کل زوج اذا کان بالغا عاقلاسواء کان حرا او عبدا طائعا او مکرها کذا فی الجوهرة النیرة.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۵۳ فصل فیمن یقع طلاقه وفیمن لا یقع طلاقه)

ئې غوښتله دکورښځې وینزه ورکړه په دې وخت کښې دبهر نه راتلونکې کس په نشه کښې ووخپله ښځه ښه اووهله ځکه چه ددې بلې ښځې سره دکورنه بهرکس په لیدوباندې دته خیال راغلوچه شائدهغه دده دښځې سره خراب تعلقات ساتی.دښځې دوهلونه پس ئې طلاق ورکړودې نه پس دکورنه دهغه کس سره لاړوکوم چه ددې بلې ښځې سره دخادمې غوښتودپاره دده کورنه بهرولاړوو.هغه ته ئې اووئیل چه ستازمادښځې سره خراب تعلقات وودې وجې نه ماښځې ته طلا ق ورکړو.لهذاهغه خپل کورته راوله اوماته دهغې په بدله کښې خپله خورراکړه.وروسته چه کله دچرسونشه لاړه نوده قران اوچت کړوخلقوته ئې اووئیل چه ماښځې ته طلاق نه دې ورکړې لیکن په موقع باندې کله چه هغه طلاق ورکولودې کس دښځې مورهم موجوده وه هغه په خپله هم ګواه ده چه زمالورته ئې طلاق ورکړې دې.اوس عرض دادې چه دنشې په حالت کښې طلاق واقع کیږ ی اوکه نه؟دمسئلې مذکورې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدرفیق......۱۹۷۴ء۲۱\۲۰۱

الجواب: په ظاهره په دې سړې باندې ښځه طلاقه شوې دی،لمافی الدرالمختار: اوسکران بنبیذاوحشیش الخ《۱》وبمعناه فی جمیع الفتاویٰ《۲》.وهوالموفق

د نشې په حالت کښې .ته مې پریښې ئې.. د درې ځله وئیلوحکم

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې په باره کښې چه یوکس چرس په طور

《۱》(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۵۹ مطلب فی تعریف السکران وحکمه)

《۲》وفی الهندیة: وطلاق السکران واقع اذا سکر من الخمر او النبیذ وهو مذهب اصحابنا کذافی المحیط...... ومن سکر من البنج یقع طلاقه ویحد لفشو هذا الفعل بین الناس وعلیه الفتویٰ فی زماننا کذافی جواهر الاخلاطی.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۵۳ فصل فیمن یقع طلاق وفیمن لا یقع طلاقه)

د نشې سکی، دعادت په شان ئې چرس اوسکل دکوم په وجه چه دده په دماغو باندې بدِاثراوشوراغلونوکړ ئې هم اووهلو، کله چه کورته راغلونو دښځې سره ئې جهګړه شروع کړه وئې هم وهله، مورئې راغله دخلاصی کوشش ئې کولو هغه ئې هم اووهله په دې وخت کښې په کورکښې صرف ښځې موجودې وې اوس ښځې وائی چه ده درې ځلې وئیلی دی چه ته مې پریخې ئې پریخې ئې لیکن داسړې قسمیه وائی چه ماته څه علم نشته، اوس دطلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: الطاف حسن خان............۱۴۰۴ھ\۱۱\۹

الجواب: په صورت مسئوله کښې تجدید دنکاح کافی دې، ځکه چه، پریخې ئې ده،، محاوره کښې دطلاق اوغیر طلاق دواړو دپاره استعمالیږی، فیکون من الکنایات ویکون الواقع به بائنا والاصل ان البائن لایلحق البائن﴿۱﴾وحکم البائن الواحدتجدید النکاح﴿۲﴾اوکه چرته دالفظ صریح واخستلې شی نو اهل عرف داپه قطع نکاح اودبینونت په ارادې سره وائی لهذاپه دې صریح سره هم بائن واقع کیږی. کماحققه العلامة الشامی فی ردالمحتار۲:۶۳۹فی اوائل الکنایات﴿۴،۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: وعلی المشهور لا یلحق البائن البائن. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۱۰ باب الکنایات)

﴿۲﴾قال فی شرح التنویر: وینکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع ومنع غیره فیها لاشتباه النسب. (شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲:۵۸۲ مطلب فی العقد علی المبانة)

﴿۳﴾قال العلامة محمد امین: او حلال الله علیه حرام لا حاجة الی النیة وهو الصحیح المفتی به للعرف وانه یقع به البائن لانه المتعارف ثم فرق بینه وبین سرحتک فان سرحتک کنایة لکنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصریح فاذا قال رها کردم ای سرحتک یقع به الرجعی مع ان اصله کنایة ایضا...... والحاصل ان المتأخرین خالفوا المتقدمین فی وقوع البائن بالحرام بلا نیة حتی لا یصدق اذا قال لم انو لاجل العرف الحادث فی زمان المتأخرین فیتوقف الآن وقوع البائن به علی وجود العرف کما فی زمانهم واما اذا تعورف استعماله فی مجرد الطلاق لا بقید کونه بائنا یتعین وقوع الرجعی به کما فی فارسیة سرحتک...... وکونه التحقق بالصریح للعرف لا ینا فی وقوع البائن به فان الصریح قد یقع به البائن کتطلیقة شدیدة الخ. (فتاوىٰ شامیة ۲:۵۰۴ قبیل مطلب لا اعتبار بالاعراب هنا)

﴿۴﴾وقد رأیت علی هامش نسخة الشامیة حیث کتب......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د نشې په حالت کښې د طلاق او د ښځې د درې طلاقو دعوٰی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوسړی چرس اوسکل دنشې په حالت کښې کورته راغلودمیرنئ مورسره ئې جهګړه اوکړه، دې دوران کښې دده ښځه راغله دښځې دبیان مطآبق ده خپلې ښځې ته اووئیل که چرې ته زمادپلارکورته راغلې نوته په ماباندې په درې شرطونو طلاقه ئې، دسړی بیان دادې چه ماشرطونه نه دې یادکړی بلکه صرف دمره مې وئیلی دی که چرې ته زمادپلارکورته لاړې نوته په ماباندې طلاقه ئې، اوس چونکه ښځه دپلارکورته لاړله دمحلې خلقوجهګړه واوریده راغلی وو هغوئ وائی چه داالفاظ ئې دلګ لګ وقفې نه پس درې ځلونه هم زیات وئیلی دی اوس دخاونداوښځې په بیان کښې فرق دې ددې مسئلې حل څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحئ............۱۹۷۴\۳\۲۵

الجواب: که چرې ښځې ته په جزوی طورباندې یادوی چه خاونددرې طلاقه ورکړی دی نودیته دخاوندسره اوسیدل جائزنه دی، کمایدل علیه مافی الهندیه ۵:۳۴۶﴿۱﴾لان طلاق ....

(بقیه حاشیه) سیدی وشیخی ومولائی المحدث الکبیر والفقیه النبیل المفتی الاعظم العارف بالله مولانا مفتی محمد فرید دامت برکاتهم بقلمه: فقال: اعلم ان قول السلیمانیین (پټهان) "پرے مے خوده" ای ترکتها ومثله کنایة فی العربیة کذا فی السلیمانیة لانه یستعمل شائعا فی غیر الطلاق ویراد به الطلاق عند القرائن الخارجیة فالظاهر انه کنایة فی السلیمانیة ایضا فاذا کرره فیقع به الواحدة لان البائن لا یلحق البائن ولو سلم انه صریح فالمتعارف به وقوع البائن لانهم یقصدون ذلک فافهم. (من افادات حضرت مفتی اعظم دامت برکاتهم)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: وکذلک ان سمعت انه طلقها ثلاثا وجحد الزوج ذلک وحلف فردها علیه القاضی لم یسعها المقام معه وینبغی لها ان تفتدی بما لها او تهرب منه وان لم تقدر علی ذلک قتلته. (فتاوىٰ عالمگیریة ۵:۳۱۳ الفصل الثانی فی العمل بخبر الواحد فی المعاملات)

السکران واقع﴿۱﴾.وهوالموفق

د نشې په حالت کښې د طلاق او عدد کښې د شک مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړی د نشې په حالت کښې ښځې ته طلا ق ورکړو.دوه کسان دده دمسلوب العقل ګواهی ورکوی بیاده نشه کول پریخودل دوه کاله پس ده اووئیل چه ما طلاق نه دې ورکړې په شرع کښې ددې څه حکم دې.بینوا توجروا

المستفتی: امیرمحمد هرنائی بلوچستان.........۱۹۱۷۱۱۹۷۹

الجواب: دنشې په حالت کښې طلاق واقع کیږی، کمافی طلاق شرح التنویر﴿۲﴾ وغیره﴿۳﴾ لیکن عدد کښې دشک په وجه دتغلیظ حکم نه نافذ کیږی، یو طلاق واقع کیږی. کمافی الهندیة ۱:۳۶۳ اذاشک فی انه طلق واحدة اوثلثا فهی واحدة حتی یستیقن اویکون اکبرظنه علی خلافه﴿٤﴾. وهوالموفق

ښځې ته درې طلاق تعلیقی ورکړی بیا د نشې په حالت کښې د طلاق اقرار اوکړو ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه ماخپلې ښځې ته

﴿۱﴾قال العلامة ابن الهمام: وطلاق السکران واقع.

(فتح القدیر ۳:۳۴۵ فصل ویقع طلاق کل زوج الخ)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی: او سکران ولو بنبیذ او حشیش اوْ افیون او بنج زجرا به یفتی.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۶۰ مطلب فی تعریف السکران)

﴿۳﴾وفی الهندیة: ومن سکر من البنج یقع طلاقه ویحد لفشو هذا الفعل بین الناس وعلیه الفتویٰ فی زماننا کذافی جواهر الاخلاطی.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۵۳ فصل فیمن یقع طلاقه وفیمن لا یقع)

﴿۴﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۶۳ مطلب اذا شک انه مطلق واحدة او ثلاثا)

دوه ورځې وړاندِ وئیلی وو که چرې ته خاموش نه شولې نوزه به تا په درې طلاقو باندې پریږدم.ددې نه پس زما ښځه په ژړا شوه په دې کښې زما مشره خور کور ته راغله.زه د کور نه اووتم کله چه د شپې کورته راغلم ښځه مې په کور کښې نه وه.په دې وخت کښې زه په نشه کښې اوم.ددې نه پس زه دمولوی صاحب خواته بوتللې شوم دنشې په حالت کښې.ما مولوی صاحب ته بیان اوکړو په دې باندې مولوی صاحب دطلاق مغلظ حکم اولګوو اوس زه حلفیه بیان کوم چه ما صرف دا پاسنی کلمات ذکرکړې دی ایا په دې سره واقعی طلاق مغلظه واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی:ابوالخیرعبدالقدوس خطیب جامع مسجدډی آئ خان۱۹رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: بشرط صدق وثبوت په دې خاوند باندې ښځه نه ده مطلقه شوې ځکه چه ده تعلیق بالشرط کړې دې.والاصل ان المعلق بالشرط یجب ثبوته عندثبوت شرطه لاقبله﴿۱﴾والاقراربالطلاق وبالاطلاق،فان الاول راجع قضاء ودیانة عندالشامی والثانی یعتبرقضاء لادیانة کماصرحوابه فی الاقرار بالطلاق هاذلاًاو کاذبا﴿۲﴾فالظاهر ان السکرلایفوق الهزل فافهم ولاتعجل فی الردوالقبول فانی لم اجدالتصریح به.وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة الآتاسی: المعلق بالشرط یجب ثبوته عند ثبوت الشرط.

(شرح المجلة للآتاسی ۱:۲۳۲ ماده:۸۲)

﴿۲﴾قال العلامة محمد امین: (قوله او هازلا) ای فیقع قضاء ودیانة کما یذکره الشارح وبه صرح فی الخلاصة معللا بانه مکابر باللفظ فیستحق التغلیظ وکذا فی البزازیة واما ما فی اکراه الخانیة لو اکره علی ان یقر بالطلاق فاقر لا یقع کما لو اقربالطلاق هازلا او کاذبا فقال فی البحر ان مراده لعدم الوقوع فی المشبه به عدمه دیانة ثم نقل عن البزازیة والقنیة لو اراد به الخبر عن الماضی کذبا لا یقع دیانة وان اشهد قبل ذلک لا یقع قضاء ایضا، ویمکن حمل ما فی الخانیة علی ما اذا اشهد علی انه یقربالطلاق هازل......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

....

(بقيه حاشيه)ثم لا يخفى ان ما مر عن الخلاصة انما هو فيما لو انشأ الطلاق هازلا وما فى الخانية فيما لو اقربه هازلا فلا منافاة بينهما قال فى التلويح وكما انه يبطل الاقرار بالطلاق والعتاق مكرها كذلك يبطل الاقرار بهما هازلا لان الهزل دليل الكذب كالاكراه حتى لو اجاز ذلك لم يجز لان الاجازة انما تلحق سببا منعقدا يحتمل الصحة والبطلان و بالاجازة لا يصير الكذب صدقا وهذا بخلاف انشاء الطلاق والعتاق ونحوهما مما لا يحتمل الفسخ فانه لا اثر فيه للهزل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۹ قبيل مطلب فى تعريف السكران وحكمه)

....

باب ما لايقع به الطلاق

په معصيت سره په نكاح باندې اثرنه غورځيږي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه په مونږ کښې دا مشهوره ده چه کله کومه ښځه صرف نیمه ګانه هم اووائی ددې نکاح ماتيږي ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمید هائی سکول لدها وزیرستان...۱۲۴شعبان ۱۳۹۵ھ

الجواب: په معصیت سره په نکاح باندې اثرنه پریوځی، والمسئلة من الواضحات(۱). وهو الموفق

خپلې ښځې ته طلاق ورکول غواړم، دانشاء طلاق نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوکس په مسافرئ کښې دې ده خپلې مورته اولیکل چه زه خپلې ښځې ته طلاق ورکول غواړم لیکن مورئې داخبره اینګورته اونه کړله، په دې صورت کښې طلاق واقع شو اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی فضل شاه کرم ایجنسی..........۱۱/۱/۱۹۷۲ء

(۱) قال العلامة محمد عبد العزيز الفرهارى: ان الكبيرة التى هى غير الكفر لا تخرج العبد المؤمن من الايمان لبقاء التصديق الذى هو حقيقة الايمان...... ان حقيقة الايمان هو التصديق القلبى فلا يخرج العبد المؤمن عن الاتصاف به الا بما ينافيه وهو التكذيب.

(النبراس شرح شرح العقائد ۲۲۶ بحث الكبيرة لا تخرج عن الايمان)

جواب: داالفاظ دانشاء طلاق نه دی﴿۱﴾ په دې سره طلاق نه واقع کیږی برابره خبره ده که ښځې ته ئې اورسوی او که نه ـ وهوالموفق

ښځه وهلو اوغیر محرم سره یواځې پریخودلو باندې طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیو کس دواده تقریبا شپږ میاشتې شوي دی ددواړو په مینځ کښې ناروغی اوفسادشروع شو، یوورځ خاوندخپله ښځه ډیره زیاته اووهله بیائې په دې هم بس نه کړله بلکه هره ورځ به ئې وهله.یوورځ ئې غیرمحرم کس ته آوازاوکړو یواځې ئې دخپلې ښځې سره دننه پریخودو .هغه هم دده ښځه اووهله او دهغې کپړې ئې اوشلولې دهغې بې حرمتی ئې وکړه.ایاپه داسې قسم حالاتو کښې طلاق نه واقع کیږی چه غیر محرم سره ئې یواځې پریږدی؟بینوا توجروا

المستفتی: صوفی قائم دین راولپنډی.........۱۴\۱۲\۱۹۷۳ء

الجواب: بشرط صدق مستفتی داخاوند ظالم او بې غیرته دې﴿۲﴾ده ته پکار دی چه امساک بالمعروف یاتسریح بالاحسان اوکړې﴿۳﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: ورکنه لفظ مخصوص، **قال ابن عابدین: هو ما جعل دلالة** علی معنی الطلاق من صریح او کنایة...... **وارادالللفظ ولو حکما.**

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله یا قرطبان مرادف دیوث) **قال الزیلعی هو الذی یری مع** امرأته او محرمه رجلا فیدعه خالیا بها **وقیل هو المتسبب للجمع بین اثنین لمعنی غیر** ممدوح وقیل هو الذی یبعث امرأته مع غلام بالغ او مع مزارعه الی الضیعة او یأذن لهما بالدخول علیها فی غیبته. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۲۰۲ **قبیل فروع باب التعزیر)**

﴿۳﴾قال الله تبارک وتعالیٰ: **الطلاق مرتان فامساک بمعروف او تسریح باحسان.**

(سورة البقرة پاره: ۲ رکوع: ۱۳ آیت: ۲۲۹)

طلاق رجعی کښې د عدت تیرولو نه پس طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زیدخپلې ښځې ته طلاق رجعې ورکړو دعدت دختمیدو نه وروسته ددې سره ئې نکاح اوکړه، څه زمانه پس دخبرو په دوران کښې دده دښځې دخولې نه اووتل چه فلان بزرګ زما خدائې دې،ددې ویناشپږ میاشتې پس زیدپه احتیاط باندې تجدید د نکاح اوکړه.لیکن دحالاتو دنه ښه کیدو په وجه زیدبیایو طلاق رجعی ورکړو جینئ دمور کورته لاړه او عدت ئې هم تیرشو.ددې نه پس دجینئ دکوروالاچه کله د دوباره نکاح تقاضا اوکړه نوزید ددوئ په دې مطالبه باندې دې ښځې ته درې طلاقه نورورکړل.اوس دجینئ دکوروالا وائی چه دادرې طلاقه دعدت نه پس واقع شوي دی دې وجې نه دالغوه شو. د زیدښځه نه ده مغلظه شوې.دجینئ والا وائی چه دوه طلاق رجعی اول واقع شوي دی درې نورزیات واقع شول.ددې وجې نه نکاح بغیر دحلالې نه جائزنه دې،ددې مسئلې حل څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدعبدالله اداره تعلیم القرآن باغ محله،جهلم شهر ۴\۱۴\۱۹۷۰ء

الجواب: بشرط صدق داښځه مطلقه مغلظه نه ده.ځکه چه دادرې طلاقه کوم چه یوځل ورکړې دی دعدت تیریدلو په وجه نامنظور دې.لهذا په صورت مسئوله کښې دښځې په رضامندی باندې تجدید دنکاح جائز او کافی دې.

لانه یشترط لصحة النکاح اوالعدة فقط.قال فی الدارالمختارمع ردالمحتار:ومحله المنکوحه ای ولومعتدة عن طلاق رجعی الخ﴿۱﴾.وهوالموفق

د ښځې د ویرولو د پاره د طلاق د نوټس د لیکلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زیدد کورنی ورانئ په وجه باندې ښځه ویرولودپاره کچهروته لاړو عرائض نویس ته ئې اووئیل چه

﴿۱﴾ (**ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۵۲ مطلب طلاق الدور**)

زما ښځې ته دطلاق نوټس وليکه، عرائض نويس نوټس د طلاق درې باره شرع محمدى اوليکل، زيدهم بغير دوئيلونه په نوټس باندې دستخط اوکړو، زيدپه حالت حمل کښې نوټس ورکړو، ددې نه پس ئې دويم نوټس نه دې ورکړې، آيا زيد په ميعاد دننه رجوع کولې شى؟ بينوا توجروا

المستفتى: غلام جان کيمل پور........١٩٨٣ء١٠١١٩

الجواب: که چرې خاوند دالفاظ، ،طلاق درې باره شرع محمدى، ،نه ليکلې وى اونه ئې په بل چاليکلې دې اونه ده داليکل وئيلې وى اوياد خاوند ګمان او خيال دادې چه دښځې دوصولى نه پس به داطلاق موثر کيږى، نوپه دې صورتونو کښې داخاوندپه عدت کښې دننه رجوع کولې شى، ونظيره مافى الهندية: ٣:٦٦٩رجل قال لغيره طلق امرآتى فطلقها الوكيل ثلاثافان كان الزوج نوى الثلاث يقع الثلاث والالم يقع شيئ فى قول ابى حنيفة وفى قول صاحبيه تقع واحدة﴿١﴾.وهوالموفق

د طلاق نامې د ليکلو په وخت اراده د طلاق بدلول

سوال: څه فرمائى علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه يوکس ښځې ته د طلاق ورکولواراده اوکړه په دې عرض باندې کچهروته لاړواوسټامپ نويس ته ئى دطلاق ليکلواووئيل، هغه ليکل شروغ کړه مګرپه دغه وخت دده اراده بدله شوه اودخط ليکلونه ئې مخ واړولو، بهرحال هغه طلاق ثلاثه اوليکل ده سټامپ نويس ته اووئيل چه زه داسې نه کوم، سټامپ نويس ده ته اووئيل چه دستخط اوکړه اوکله پورې چه دانښځه وصول نه کړى طلاق نه واقع کيږى ده دستخط اوکړو، اياطلاق ثلاثه واقع شوي دې که نه ځکه چه ښځې ته ئى دانه دې ورکړې؟ بينوا توجروا

المستفتى: ګل شمروز چترال.......١٩٧٦ء١١١٨

الجواب: صورت مسئوله کښې تجديدد نکاح کافى دې ځکه چه دې خاوند د

﴿١﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ٣:٦١١ الفصل الثانى فى الوكالة بالطلاق والخلع)

طلاق ليکلوپه وخت کښې دطلاق ورکولواراده منقطع کړې وه، همدارنګه ده په خپل ګمان کښې دطلاق موثر کيدودښځې په وصول کولو موقوف کړى وو. وهوالموفق

د ښځې دا وينا چه ته زما خاوند نه ئې موجب د طلاق نه دې

سوال: څه فرمائى علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه خاوندښځې ته اووئيل چه ماته داخيزراکړه ښځه انکاراوکړى، خاوندد محبت په لهجه کښې اووائى چه اياته زمامحبوبه ښځه نه ئې؟ښځه اووائى چه محبت والاښځه پريږده ستا ښځه نه يمه، په دې باندې کوم يوطلاق واقع کيږى؟بينوا توجروا

المستفتى: عزيزالرحمٰن رابغ سعودى عرب.........١٤٠١١٧١٥هـ

الجواب: دښځې داوينا(دخوش طبعى په طورباندې)چه زه ستاښځه نه يم ضرر رسان نه دې اګرچه داکلام دروغ دې ياهزل، که چرې په ارادې طلاق سره اووائى بياهم طلاق نه دې، لحديث الطلاق لمن اخذ بالساق(ابن ماجــه)﴿١﴾. وهوالموفق

د شک په صورت کښې د تعليق طلاق مسئله

سوال: څه فرمائى علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه يوکس ديوکار مکمل اراده کړې وى مګرناکام شو، اوس په شک کښې دې چه هسې نه مادې سره داوئيلى وى که چرې ماداکارمکمل نه کړونوپه مابندې ښځه طلاقه ده ايا په شک سره طلاق واقع کيږى اوکه نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: الف، س، ع، ګوجرګړهى مردان........١١٢رمضان١٤٠٩هـ

الجواب: دشک په صورت کښې طلاق نه واقع کيږى(حموى)﴿٢﴾-وهوالموفق

﴿١﴾ (سنن ابن ماجة ١٥١ باب طلاق العبد)

﴿٢﴾ قال العلامة الحموى: فحلفه باطل اى فلا شيئ عليه قيل اما الطلاق والعتاق فانهما لا يقعان بالشک. (غمز عيون البصائر علىٰ الاشباه ١:١٩٨ القاعدة الثالثة)

په شک سره طلاق نه واقع کیږي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس په دې کلام کښې مشکوک دې چه مانت طالق یاطلقتهاباندې تلفظ کړي دې او که نه، لکه ځنګه چه سرې مونځ کوی اودهغه په ذهن کښې دکومې واقعې تصور راشی بیاده ته خطره راشی هسې نه چه ماپه دې واقعه باندې تلفظ کړي دې او هغه ته دمونځ خرابیدوخطره راشی. اودې کس ته داشک په مونځ کښې عارض شوي وی او که بغیر دمونځ نه. اوس دطلاق څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی: مولاناعبدالرشید حقانی ډیره اسماعیل خان

الجواب: چونکه چه نکاح یقیناًموجودده لیکن په طلاق کښې شک واقع شوي دې لهذادې امرمشکوک سره امرمتیقن نه زائله کیږي﴿۱﴾ قال فی الاشباه والنظائر القاعدة الثالثة:الیقین لایزول بالشک﴿۲﴾.وهوالموفق

پلار د نابالغه ځوئ ښځې ته طلاق نه شی ورکولې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې که چرې پلاردخپل نابالغ ځوئ دطرفه نه دده ښځې ته طلاق ورکړی نوداطلاق واقع کیږی او که نه؟ ځنګه چه په نکاح کښې نابالغ اولاددپاره دپلارولایت صحیح کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالودود معلم دینیات پائمال شریف هزاره...۲۰۱۸۱۱۹۷۲

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: ومنها شک هل طلق ام لا؟ لم یقع، شک انه طلق واحدة او اکثر؟ بنی علی الاقل کما ذکره الاسبیجابی.

(الاشباه والنظائر ٦۴ قاعدة من شک هل فعل ام لا)

﴿۲﴾ الاشباه والنظائر فی الفقه الحنفی ٦٠ القاعدة الثالثة)

الجواب: پلاردځوی ښځې ته نه طلاق ورکولې شی اونه دځوئ دطرفنه خلع کولې شی، لحدیث ابن ماجه :الطلاق لمن اخذبالساق﴿۱﴾قال الشامی: کنایة عن ملک المتعة﴿۲﴾فی الهندیة۱:۵۲۹ باب الخلع :اذاخالع الاب علی ابنه الصغیر لایصح ولا یتوقف علی اجازته وفیها.خلع الصبی باطل﴿۳﴾.وهوالموفق

.په ما باندې حلاله دنیا حرامه ده.. ونیلوسره دطلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس خپل افسر ته اولیکل چه زه فلا ن تاریخ ته کورته ځم او که لانړم نوپه ماباندې حلاله دنیا حرامه ده په دې لیکلوباندې دلیکونکی اودوه ګواهانودستخط دې لیکن تر مقرره وخت پورې شخص مذکوره کورته لانه ړوبلکه دې وخته پورې نه دې تلې، ایاپه مذکوره کس باندې ښځه مطلقه ده؟حالانکه ددې سړې دلیکلوپه وخت داوهم اوګمان هم نه ووچه، ،حلاله دنیاحرامه ده، ،سره هم طلاق واقع کیږی اوس ددې مسئلې څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی: محمدفاروق خطیب ملکوټ مری.........۱۴۱٦۱۸۸

الجواب: چونکه دایمان(قسم)دارومدارپه عرف باندې کیږی اوزمونږ دکلوپه عرف کښې دالفظ دجماع متعلق معروف نه دې اوداحالف هم دجماع متعلق خالی الذهن وو.لهذاپه دې حالف باندې ښځه نه ده مطلقه شوې نه قضاءً اونه دیانةً.والتفصیل فی کتاب ایمان ردالمحتار۳:۸۹﴿٤﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾ (سنن ابن ماجة ۱۵۱ باب طلاق العبد)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴٦۲ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۵۰۴ قبیل الباب التاسع فی الظهار)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدین: قال فی الهدایة: ولو قال کل حل علی حرام فهو علی الطعام والشراب الا ان ینوی غیر ذلک والقیاس ان یحنث ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

خپلي لورته کنزلي کولو باندي په نکاح باندي اثر نه پریوزي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه خپلې لورتـه بې هوده کنزلې کول حتی چه دااووائی چه زه تاسره زناکوم دې سره طلاق خونه واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: اسماعیل شاه مرزاکیمل پور

الجواب: داکنزلې حرامې دی﴿۱﴾ په نکاح باندې څه اثرنه پریوځی-وهوالموفق

دالیکشن په دوران کښې د خاوند نوم غلط خودل

په نکاح باندې اثرنه غورځیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دالیکشن په دوران کښې د ووټ اچولو پـه وخت کـښې یوښـځه دخپـل خاونـدویم نـوم و اخلی،یعنی دروغ اووائی لیکن ددې خاوندبل سړې دې نودې سره په نکاح کښې څه فرق غورځیږی اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: بادشاه نورناظم جمیعت علماء

(بقیه حاشیه) کمافرغ لانه باشر فعلا مباحا وهو التنفس ونحوه وهذا قول زفر وجه الاستحسان ان المقصود وهو البر لا یحصل مع اعتبار العموم فینصرف الی الطعام والشراب للعرف فانه یستعمل فیما یتناول عادة ولا یتناول المرأة الا بالنیه لاسقاط اعتبار العموم واذا نواها کان ایلاء ولا یصرف الیمین عن المأکول والمشروب وهذا کله جواب ظاهر الروایة الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۷۱ مطلب کل حل علیٰ حرام)

﴿۱﴾ عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق، قال النووی: السب فی اللغة الشتم والتکلم فی عرض الانسان بما یعیبه والفسق فی اللغة الخروج والمراد به فی الشرع الخروج عن الطاعة، واما معنی الحدیث فسب المسلم بغیر حق حرام باجماع الامة وفاعله فاسق کما اخبر به النبی ﷺ.

(مسلم شریف مع شرحه النواوی ۱: ۵۸ باب سباب المسلم فسوق)

الجواب: په دروغ وئیلوسره﴿۱﴾ نکاح باندې اثرنه غورځیږی-وهوالموفق

صرف په خیال او تصور کولوسره طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې که چرې یوکس صرف په خیال اوتصورکښې داتلفظ اوکړی چه کله زه ددې جینۍ سره نکاح اوکړم نو په مابانـدې طلاقه ده.یازه به هغه طلاقوم.اوس پلا رهغـه تـه هغه جینۍ په نکاح کښې راوسته.نودهغه تصوراوخیال والاخبرې څه حکم دې؟

بینوا توجروا

المستفتی: فریق الله عرف حبیب الله........ ۴/۵/۱۹۷۴

الجواب: صرف په تصوراونیت سره نه یو قسم طلاق واقع کیږی اونه تعلیق درست دې﴿۲﴾ ردالمحتار ۲: ۴۰۶﴿۳﴾.وهوالموفق

په طلاق کښې د دروغو دهوکې او د هزل فرق

سوال: څه فرمائی علماءدین ددې مسئلې په باره کښې چه دزیددوه ښځې دی

﴿۱﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: آیة المنافق ثلاث اذا حدث کذب واذا وعد اخلف واذا اؤتمن خان.

(مشکواة المصابیح ۱: ۱۸ کتاب الایمان فی الکبائر)

﴿۲﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدورها مالم تعمل به او تتکلم بها، متفق علیه.

(مشکواة المصابیح ۱: ۱۸ باب الوسوسة الفصل الاول)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: بلفظ مخصوص هو ما اشتمل علی الطلاق...... ورکنه لفظ مخصوص، قال ابن عابدین: هو ما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح او کنایة...... واراد اللفظ ولو حکما لیدخل الکتابة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق)

دواړه اکثرپه خپل مینځ کښې جهګړه کوي، یوځل زید دخپلې ښځې د
خاموش کولو دپاره داډرامه اوکړه چه ددویمې ښځې حقیقي نوم ئې
پریخودو فرضي نوم ئې اولیکلو یولیک ئې په صورت دطلاق نامې کښې
تیارکړو، اول الذکر ښځې نه ئې اووئیل چه اوګوره مادویمه ښځه فارغه کړې
ده دویمه ښځه مطمئنه شوه، اوس زید په شک کښې دې چه مانه خوخپلې
ښځې ته طلاق ورکړې اونه مې اراده وه، اونه مې اصلي نوم لیکلې دې، په
دې صورت کښې دا ښځه طلاقه شوه اوکنه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمود الحسن شنکیاری مانسهره... ۱۰رمضان۱۴۰۹ه

الجواب: د زید داکلام دروغ، دهوکه یاتدبیردې هزل نه دې، حکایت دې انشاء نه ده، لهذا په زیدباندې ښځه نه ده مطلقه شوې نه اول نه دویمه﴿۱﴾۔
وهوالموفق

د خر طلاق زویه، کنزلې دی طلاق نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زید دغصې په حالت کښې خپل زوی ته اووائی، دخر طلاق زویه، دې کلماتو سره زیدباندې طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: فضل مولا بابوزئی مردان........۱۹۷۲ء۱۹۱۷۱ه

﴿۱﴾ وفی الهندیة ولو قال امرأته الحبشیة طالق و لا نیه له فی طلاق امرأته وامرأته لیست بحبشیة لایقع علیها وعلی هذا اذا سمی بغیر اسمها ولا نیة له فی طلاق امرأته فان نوی طلاق امرأته فی هذه الوجوه طلقت امرأته کذافی الذخیرة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۵۸ الباب الثانی فی ایقاع الطلاق الفصل الاول)

وقال العلامة ابن نجیم: لو قال امرأته الحبشیة طالق وامرأته لیست بحبشیة لا یقع...... وفی المحیط الاصل انه متی وجدت النسبة وغیر اسمها بغیره لا یقع لان التعریف لا یحصل بالتسمیة متی بدل اسمها لان بذلک الاسم تکون امرأة اجنبیة.

(البحر الرائق ۳:۲۷۳ باب طلاق الصریح)

الجواب: چونکه دالفظ(سب) دکنزلو دپاره استعمالیږی نه د انشاء دطلاق دپاره، لعدم الاضافه الی المراة، لهذاپه دې کس باندې ښځه نه ده مطلقه شوې﴿۱﴾ والدلیل علی السب ان هذا اللفظ یستعمله الایم ایضا،فافهم. وهوالموفق

د مختلف احتمالاتو په وجه باندې د طلاق حکم لګول بې قاعدې امردې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیوکس دوه ښځې دې دخپل کورزیورات په ډیر احتیاط باندې په خپل تحویل کښې ساتی بیا هغه زیورات ورک شول دده دسخت اخلاقونه اودګنده کرداراوسیرت په بناء باندې دکلې ټول خلق ددې ورک شوې واقعه ددې کس خپل فریب ګڼړی داپه ضد دې چه زیورات ورک شوې دی، لیکن خلق ئې منلوته تیارنه دی نوهغه خپله صفائی په دې الفاظوسره کوی، که چرې زمازیورات نه وی ورک شوی، نو په مابانډې خپله ښځه په هردرې طلاقوسره حرامه ده یاماته دهغې څه علم وی یاماپه خپله دبل چاپه حواله کړې وی، دقسم کولونه پس داخپلې دواړه ښځې مجرمې ګڼړی، ښځې دقسم کولودپاره تیارې دی لیکن دادقسم اچولو په ځائې بدستورهغوئ ملزمانې جوړوی، څه ورځې پس دده دویمه(نوی)ښځې سره په معمولې خبره باندې جهګړه اوشوه، په غصه کښې هغه دواړه خالی لاس اولیګی اوداله دپلارکره لاړه شی ددې نه پس دې سړې دخپلې یوې ښځې په نوم یونوټس جارې کړوپه کوم کښې ئې چه الزام لګولې دې چه تازماپه عدم موجودګئ کښې زیورات اونقدې وړې دی اوخپل والدینو کره تلې ئې، دنوټس ملاویدوسره ټول سامان سره واپس کورته راشه ګینې زه دیوانی دعوی لیکمه

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: والکنایات ثلاث ما یحتمل الرد او ما یصلح للسب اولا ولا، قال ابن عابدین: (قوله خلیة) ای خالیة اما عن النکاح او عن الخیر ای فهو علی الاول جواب وعلی الثانی سب وشتم ومثله ما یأتی.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۵۰۲،۵۰۳ باب الکنایات)

په دې باندې ددې سرې دګوتې نښان اودعرائض نویس دستخط اومهرهم لګیدلې دې. په نوښس کښې دزیوراتواندراج دې چه دده نه دده د وینامطابق ورانډې ورک شوې ووبل طرفته ئې هغه دوه ښځې طلاقې کړې دااعلان کوی چه زیورات ورک شوي دی اواوس وائی چه دښځې سره دی یعنی دلیک په طور باندې دورک شوو زیوراتوپه موجودګئ (خپل کورکښې) تسلیم کړی دویم ځل دښځې په سر باندې اړوی. حالانکه ښځه ده یک یواځې خالی لاس دکورنه ویستلې ده نوددې تضادبیانی په وجه دده طلاق واقع دې اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام رسول کانجوډیره اسماعیل خان........۱۹۷۵ء۱۸۱۲۵

الجواب: چونکه دطلاق اچولونه پس دزیوراتوپیداکیدواحتمال موجوددې همدارنګه دنوروزیوراتوجوړولواحتمال هم موجوددې اوددروغ بیانی (څنګه چه ئې عام طورباندې په نوښسونوکښې کړي ده) هم احتمال موجوددې لهذاددې احتمالاتوپه موجودګئ کښې دښځومطلقه کیدل بې قاعدې امردې﴿۱﴾-وهوالموفق

..د فلانی تقریرکه مې واوریدو نو ښځه مې طلاقه..

بیانې دټیپ ریکارډ نه واوری دد ې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زیداووئیل که چرې دفلانی تقریرمې واوریدونوزمابنځه طلاقه ده. بیاهغه اچانک ټیپ ریکارډ اولګولونوپه هغې کښې دغه کس تقریرووا وڅه الفاظ ئې واوریدل سمدستی ئې بند کړو. ایاطلاق واقع شو؟بینوا توجروا

المستفتی: احمدعلی حقانی جنوبی وزیرستان............۱۹۸۷ء۱۹۱۱۴

﴿۱﴾ دصدق الزوج فی الشرط په صورت کښې دا احتمالات مفید اود کذب په صورت کښې بې فائدې دی..........(سیف الله حقانی)

جواب: داکس نه حانث کیږی ځکه چه ده تقریرنه دې اوریدلې، بلکه دتقریر عکس ئې اوریدلې دې﴿۱﴾-وهوالموفق

..که دا کار ما اوکړو نو زه به طلاقی یم..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې که چرې یوکس اووائی څنګه چه عام رواج دې،، که ماداکاراونه کړونوزه به طلاقی یم،، یعنی که چرې زما دا کاراوکړونوزه طلاقی یم، نوایاددې کارکولونه پس طلاق واقع کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولاناسراج الدین حقانی خطیب سفید مسجدبدرشی نوشهره ۱۹۸۴ء۱۳۱۶

الجواب: په دې کس باندې ښځه نه ده مطلقه شوې عرف کښې دا الفاظ سب د (کنزلو) په طورباندې استعمالیږی نه د انشاء طلاق په ارادې سره﴿۲﴾ همدارنګه په دې کښې اضافت هم موجودنه دې﴿۳﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن نجیم: ولو حلف لا یتکلم...... ولو کتب الیه کتابا او ارسل الیه رسولا لا یحنث لانه لایسمی کلاما عرفا...... واعلم ان الکلام لا یکون الا باللسان فلا یکون بالاشارة ولا بالکتابة والاخبار والاقرار والبشارة تکون بالکتابة لا بالاشارة والایماء والاظهار والافشاء والاعلام یکون بالاشارة ایضا الخ.

(البحر الرائق ۴:۳۳۳ باب الیمین فی الاکل والشرب واللبس والکلام)

﴿۲﴾قال العلامة ابن نجیم لو قال لها یا مطلقة ان لم یکن لها زوج طلقها قبله او کان لها زوج لکن مات وقع الطلاق علیها وان کان لها زوج طلقها قبله ان لم ینو الاخبار طلقت، وان نوی به الاخبار صدق دیانة وقضاء علی الصحیح ولو نوی به الشتم دین.

(الاشباه والنظائر ۱۵۱ التاسع بیان محل النیة)

﴿۳﴾قال العلامة ابن عابدین: ان الصریح لا یحتاج ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د خپلې ښځې په ځائې د بلې ښځې نوم واخلی طلاق نه واقع کيږی

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه ديو کس نکاح د صاحبزادګئ سره اوشوه بيا په خپلو کښې داختلاف په وجه بعض خلقودې مجبورکړو چه دې ښځې ته طلا ق ورکړه، دسخت مجبورئ په وجه ده داحيله وکړله چه دده دښځې دخورنوم نواب زادګئې ده هغې ته اووئيل چه دده دښځې نوم څه دې؟دې وخت کښې دجينئ رشته دارموجودنه وو، او نورو خلقوته هم ددې نوم نه ورتلو، نواب زادګئ قصدااووئيل، دوئ ددې دطلاق ورکولومطالبه اوکړه نودې کس اووئيل چه مانواب زادګئ پريخې ده درې ځله ئې اوئيل، نوايادده په غلط نوم اخستلوباندې طلاق واقع کيږی کله چه ئې خپلې ښځې صاحبزادګئې ته دطلاق ورکولواراده نه وی؟بينوا توجروا

المستفتی: مولوی محمدامين مهتمم مدرسه تعليم الاسلام قائدآبادسرګودها١٩٧٧ء

الجواب: په صورت مسئوله کښې په دې خاوندباندې ښځه نه ده مطلقه شوې، کمافی الهندية ١:٣٨٢ قال امراته عمرة بنت صبيح طالق وامراته عمرة بن حفص ولانية له لاتطلق امراته(الی ان قال)ولوقال امراته الحبيشية طالق ولانية له

(بقيه حاشيه) الى النية ولكن لابد فی وقوعه قضاء وديانة من قصد اضافة لفظ الطلاق اليها عالما بمعناه ولم يصرفه الى ما يحتمله كما افاده فی الفتح وحققه فی النهر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٤٦٧ مطلب ان الصريح يحتاج فی وقوعه ديانة الى النية)

وفی الهندية: وفی الفتاویٰ رجل قال لامرأته اگر تو زن منی سه طلاق (ان كنت امرأتی طالق ثلاثا) مع حذف الياء لا يقع اذا قال لم انو الطلاق لانه لما حذف لم يكن مضيفا اليها.

(فتاویٰ عالمگيرية ١:٣٨٢ الفصل السابع فی الطلاق بالفارسية)

فی طلاق امراته وامراته ليست بحبشية لايقع عليهاوعلى هذااذاسمی بغير اسمها ولانية له فی طلاق امرآته﴿١﴾.وهوالموفق

د خپلې ښځې متعلق څوئې ته دا وئيل چه ..دا ځما ښځه ده اوکه ستا..ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه يوکس دخپلې ښځې ځوئ ته چه کوم ددې ددويم خاوندنه ووهغه ته اووائی چه، .دازمانبځه ده اوکه ستا، .يعنی دهغه حقيقی مورهغه ته دښځې په نسبت منسوب کړی، آيا په دې خبرې سره حرمت واقع کيږی؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد فاضل هزاره...............١٩٧٧ء١٩١/٣

الجواب: دا جاهلانه کلام دې ګنهګاريږې ليکن طلاق ياحرمت نه واقع کيږی. وهوالموفق

بغير د اضافت او حکم نه..اووه طلاقه.. وئيل لغوه دي

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې مسئلې باره کښې چه يوکس اووئيل چه ''اووه طلاقه، .يعنې صرف دااووائی نورڅه ئې نه دې وئيلې وروسته ئې اووئيل چه قسم دې ددې څه حکم دې؟بينوا توجروا

المستفتی: طالب جان حقانی...............يکم ذيقعده١٤٠١ھ

الجواب: دې کښې نه اضافت الی الزوج موجوددې اونه حکم، پس دالفظ لغوه دې﴿٢﴾-وهوالموفق

﴿١﴾ (فتاویٰ عالمگيرية ١:٣٥٨ الباب الثانی فی ايقاع الطلاق الفصل الاول)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصكفی: صريحه مال لم يستعمل الا فيه كطلقتک وانت طالق ومطلقة قيد بخطابها لانه لو قال ان خرجت يقع الطلاق او لا تخرجی الا باذنی فانی حلفت بالطلاق فخرجت لم يقع لتركه الاضافة اليها، قال ابن عابدين: لتركه الاضافة ای المعنوية فانها الشرط والخطاب من الاضافة المعنوية وكذا الاشارة نحو هذه طالق.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ٢:٤٦٦ باب الصريح)

..اې طلاق دې وی که ئې اوخوړو..

یعنی طلاق دې که چرې اونې خوړلو.ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دبغض خلقو میلمانه راشی کوروالاور ته دګډ ذبح کولواراده اوکړه نویومیلمه اوویل چه مونږ داګډ نه خوروا والفاظ دطلاق ئې دارنګه په پښتوکښې استعمال کړل،، اې طلاق دې وی که ئې اوخوړلو ،،په دې صورت کښې ددې څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی:مولانامحمدهاشم حقانی....۲۷ دسمبر ۱۹۸۷ء

الجواب: په ظاهره دالفظ لغوه دې دې سره طلاق نه واقع کیږی ځکه چه په دې کښې اضافت ښځې ته نه لفظاموجوددې اونه معنی،اول خو ظاهردې﴿۱﴾ او دویم ځکه چه داالفاظ غیر شادی شده هم استعمالوی-وهوالموفق

ښځې ته د مورسختې کنزلې کولو سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس دښځې مور ته سختې کنزلې کوی آیاپه دې سره په نکاح باندې دطلاق وغیره اثر غورځیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل رازق امان کوټ پښاور............۱۹۷۲ء۲۱۱۱

الجواب: چونکه دمورسختې کنزلې دالفاظو طلاق نه نه دې نه صریح دې اونه

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: **لو قال ان خرجت يقع الطلاق او لا تخرجي الا باذني فاني حلفت بالطلاق فخرجت لم يقع لتركه الاضافة اليها. قال ابن عابدين: اى المعنوية فانها الشرط.**

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۶۶ قبيل مطلب من الصريح الالفاظ المصحفة)

کنایة دې.لهذادې سره طلاق نه واقع کیږی﴿۱﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: **(قوله مالم يستعمل الا فيه) اى غالبا كما يفيده كلام البحر وعرفه فى التحرير بما يثبت حكمه الشرعى بلا نية واراد بما اللفظ او ما يقوم مقامه من الكتابة المستبينة او الاشارة المفهومة...... لان ركن الطلاق اللفظ او ما يقوم مقامه.**

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۵ باب الصريح)

,,اې طلاق دې وی که ئې اوخوړو،،

یعنی طلاق دې که چرې اوئې خوړلو.ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دبغض خلقو میلمانه راشی کورو الاور ته دګډ د ذبح کولواراده او کړه نویو میلمه اووئیل چه مونږ داګډ نه خوروا والفاظ دطلاق ئې دارنګه په پښتو کښې استعمال کړل،، اې طلاق دې وی که ئې اوخوړلو ،،په دې صورت کښې ددې څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی:مولانامحمدهاشم حقانی....۲۷؍دسمبر۱۹۸۷ء

الجواب: په ظاهره دالفظ لغوه دې دې سره طلاق نه واقع کیږی ځکه چه په دې کښې اضافت ښځې ته نه لفظاموجوددې اونه معنی،اول خو ظاهردې﴿۱﴾او دویم ځکه چه داالفاظ غیر شادی شده هم استعمالوی-وهوالموفق

ښځې ته د مورسختې کنزلې کولو سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس دښځې مور ته سختې کنزلې کوی آیاپه دې سره په نکاح باندې دطلاق وغیره اثر غورځیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل رازق امان کوټ پشاور............۱۹۷۶ء۱۱؍۲

الجواب: چونکه دمورسختې کنزلې دالفاظودطلاق نه نه دې نه صریح دې اونه

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: لو قال ان خرجت یقع الطلاق او لا تخرجی الا باذنی فانی حلفت بالطلاق فخرجت لم یقع لترکه الاضافة الیها. قال ابن عابدین: ای المعنویة فانها الشرط.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۲۶۶ قبیل مطلب من الصریح الالفاظ المصحفة)

کنایة دې.لهذادې سره طلاق نه واقع کیږی﴿۱﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله مالم یستعمل الا فیه) ای غالبا کما یفیده کلام البحر وعرفه فی التحریر بما یثبت حکمه الشرعی بلا نیة واراد بما اللفظ او ما یقوم مقامه من الکتابة المستبینة او الاشارة المفهومة...... لان رکن الطلاق اللفظ او ما یقوم مقامه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۶۵ باب الصریح)

....

باب القضاء ودعوی الطلاق والنکاح

ښځه د طلاق ثلاثه دعوی اوکړی او خاوند منکروی ددې څه حکم دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیوښځې بیان دې چه زما خاوند ماته درې طلاقه په یووخت راکړل دواقعې ګواهې ددې ښځې د پنځلسو کالولوروکوی چه زما پلار طلاق ورکړې دې اودرې طلاق ئې په یوځل ورکړې دی.لیکن خاوند منکردې اووائی چه ماطلاق نه دې ورکړې بلکه ماوئیلی دی چه زه ستامورته آوازکوم اودهغې په مخ کښې تاته طلاق درکوم او فارغوم دې،ددې نه علاوه داخاوند کچه خبرووالادې اودروغ هم وائی په خپله خبره قائم نه پاتې کیږی لیکن ښځه نیک چلنه اود پخو خبرو والا ده او ریښتونې ښځه ده.لهذاددې طلا ق حکم واضح کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی:عبدالخالق جامع مسجد حاجیه ایبټ آباد...۱۲۱شوال۱۴۰۲ھ

الجواب: بشرط صدق وثبوت داښځه په دې خاوندباندې حرامه شوې ده په دې ښځه اوددې په اولیاء باندې ضرورې ده چه دې خاوندته په جماع وغیره باندې قدرت ورنه کړی. کمافی الهندیة ۵:۲۴۶ وکذلک ان سمعت انه طلقها ثلاثاوجحدالزوج ذلک وحلف فردهاعلیه القاضی لم یسعها المقام معه وینبغی لها ان تفتدی لهابمالهااوتهرب منه وان لم تقدرعلی ذلک قتلته الخ(۱).وهوالموفق

ښځه د درې طلاقو مدعیه ده او خاوند د طلاق رجعی مدعی دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه مسمی زید خپلې

(۱)(فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۱۳الفصل الثانی فی العمل بخبر الواحد فی المعاملات)

ښځې ته طلاق ورکړې دې عمرحلفیه ګواهی ورکوی چه زیددرې طلاقه ورکړې دی اوبکرداګواهی ورکوی چه زیدطلاق رجعی ورکړې دې،زیدپه خپله هم وائی چه ماطلاق رجعی ورکړې دې اوهندهٔ وائی چه زه ئې په درې طلاقو باندې طلاقه کړې یمه،اوس فیصله په څه قسم ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل واحد..........۸۱۵۱ء۱۹۷۷

الجواب: په صورت مسئوله کښې که چرې ښځې درې طلاقه په خپله اوریدلې وی نوداښځه دې خاوندته نه شی حلالیدې اګرچه خاوند مکمل نصاب د شهادت پیش کړی.وفی الهندیة :۵:۳۴۶ وکذلک ان سمعت انه طلقها ثلاثا وجحد الزوج ذلک وحلف فردهاعلیه القاضی لم یسعهاالمقام معه(۱)انتهی بقدر الضرورة واماشهادة بینة الزوج فهی علی النفی فتکون ردا(۲).وهوالموفق

خاوند طلاق ورکولونه پس منکرشی اوښځه قسم خوری په طلاق باندې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوکس خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی اوبیامنکرشی اوښځه قسم خوری چه ده ماته درې طلاق راکړی دی ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: شوکت علی اسماعیله مردان........۲۷۱۹۱ء۱۹۷۴

جواب: که چرې واقعی درې طلاقه ئې ورکړې وی نوبیادې کس باندې داښځه

(۱)(فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۱۳قبیل الباب الثانی فی العمل بغالب الرأی)

(۲)وفی الهندیة: شاهد ان شهدا علی رجل بقول او بفعل یلزمه بذلک اجارة او کتابة او بیع او قصاص او مال او طلاق او عتاق فی موضع وصفاه او فی یوم سمیاه فاقام المشهود علیه بینة انه لم یکن فی ذلک الموضع اولا فی ذلک الیوم فی الموضع الذی وصفاه لم تقبل منه البینة علی ذلک. (فتاویٰ عالمگیریة ۳:۵۱۲ الباب التاسع فی الشهادة علی النفی)

ساتل یابنځي ته ددې خاوند سره وخت تېرول ناجائزدی﴿۱﴾ خو که چرې حلاله اوکړی نو جائزده﴿۲﴾-

نوټ:......دا ښځه ددې خاوند نه تختیدې شی.﴿۳﴾-وهوالموفق

د خاوند اوښځې د طلاق په تعداد کښې داختلاف په صورت کښې فیصله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوجینئ وائی چه ماته زماخاونددوه ځله طلاقه ښو څه زمانه مخکښې راکړی وو بیائې ددې نه پس یکدم درې طلاقه راکړل. ګویاچه ټول پنځه طلاقه ئې راکړی دی؟ددې په جواب کښې هلک داولودوه ځلواقرارکوی مګرده چه په کوم کلمات باندې د تلفظ اقرارکړي دې هغه الفاظ هغه کس دطلاق الفاظ نه ګڼړی.دده په خیال کښې هغه صرف دهمکی وه یاپه مستقبل کښې دطلاق ورکولواراده ده او روسته دوه ځله طلاق منی،ددریم طلاق هغه اقرارنه کوی،دجینئ پلارته ددې

﴿۱﴾وفی الهندیة: واما حکم (الطلاق) فوقوع الفرقة بانقضاء العدة فی الرجعی وبدونه فی البائن وزوال حل المناکحة متی تم ثلاثا کذا فی محیط السرخسی.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۴۸ کتاب الطلاق الباب الاول)

﴿۲﴾وفی الهندیة: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذا فی الهدایة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

﴿۳﴾وفی الهندیة: وکذلک ان سمعت انه طلقها ثلاثا وجحد الزوج ذلک وحلف فردها علیه القاضی لم یسعها المقام معه وینبغی لها ان تفتدی بمالها او تهرب منه وان لم تقدر علی ذلک قتلته واذا هربت منه لم یسعها ان تعتد وتتزوج بزوج آخر قال شمس الائمة السرخسی رحمه الله تعالیٰ ما ذکر انها اذا هربت لیس لها ان تعتد وتتزوج بزوج آخر جواب القضاء اما فیما بینها وبین الله تعالیٰ فلها ان تتزوج بزوج آخر بعد ما اعتدت کذا فی المحیط. (فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۱۳ الفصل الثانی فی العمل بخبر الواحد فی المعاملات)

واقعې پته اولګیده هغه دمونځ روژوپابنداودین دارسړې دې هغه وائی چه طبعا خوماته داخوخه ده چه نکاح ماته نه شی اودارشته قائمه پاتې شی لیکن دشریعت حکم اګرچه بل څه دې نوزه هغه تسلیمؤم،لهذاهغه د دواړو بیانات په خپله دهغوئ نه اولیکل اویوعالم دېن ته ئې حواله کړل چه ددې بیاناتوپه روښنئ کښې تاسوفیصله اوکړئ اوشرعی حکم واضح کړئ چه آیاحرمت مغلظه ثابت کیږی اوکه نه طلاق رجعی دې؟

دجدائئ نه پس ډیرمفاسددی اونکاح په خپل حال پاتې کیدلو باندې دجینئ اصراردې چه ماته هر کله ښۀ یقین دې ماپه خپله په خپلوغوږونو پنځه ځله دطلاق داالفاظ اوریدلي دی اوزه قسم خورم اووائم چه ماته د تفسیرقرآن او بهشتی زیورنه اوس مسئله هم معلومه شویده چه زمادپاره دده سره اوسیدل حرام دی. نوزه څنګه دداسې کس ښځه جوړه شم،په دې صورت حال کښې ستاسو په خدمت کښې دااستفتاء درلیږم تاسود دواړو لیکل شوې بیان غور سره اوګورئ ددې متعلق شرعی حکم اولیکئ.

(۱) دجینئ هغه الفاظ کوم چه دوه ځله مخکښې وئیلی وو ،،طلاق واخله،، آیا موجب دطلاق دې؟ (۲) جینئ وائی چه که چرې ګواه نشته نوایاپه خپله ددې لیکلونه ثابتیږی چه ده ماته دوه ځله طلاق ښومخکښې راکړې دې اوورسته ددوه ځله هم هغه اقرارکوی نوزه پنځه ځله وایم اوهغه څلورځله منی په دې صورت کښې شرعی حکم څه دې؟ (۳)که چرې هغه په دوه ځله باندې قسم خوری نوزه درې ځله بلکه په پنځه ځلو باندې قسم خوړوته تیاره یم- (۴) هغه عالم دین ددې په باره کښې څه فیصله صادر کړی چه دجینئ پلارته هغه خبره معلومه شی اوهغه جینئ په دې باندې آماده کړی اوعمل پرې اوکړی خواه که هغه وصل وی اوکه فصل؟ بینوا توجروا

المستفتی: .... نامعلوم ....

الجواب: که چرې دڅلوروالاواقعه دسابقه واقعې نه په مقداردعدت تیریدلونه پس وی نودا ښځه دې خاوندته بغیردتحلیل نه واپس کیدې شی،په شرط ددې چه رجعت قولی یاعملی نه وی شوی.لان کلمة ‘‘جا،،

یتکلم بهاعادة لاعلی نیة الطلاق،و کلمة،،طلاق لے لو،،یقع بهـاالطلاق کمـافی الهندیة ۱:۴۰۸ ولوقال لها خذی طلاقک یقع مـن غیرنیـة﴿۱﴾اوکه چرې د ځلورو واقعه دعدت تیریدونه مخکښې وی اویادرجعت نه وروسته وی نو خاوند ته به قسم ورکولې شی. لکونه منکرا،اوکه چرې دقسم کولوپه صورت کښې به فیصله په ظاهره د خاوند په حق کښې کیږی،لیکن دفتوی په روسره دابښځه ازاده ده. کما فی الهندیة ۵:۳۴۶ وکذلک ان سمعت انه طلقها ثلاثاوجحدالزوج ذلک وحلف فردهاعلیه القاضی لم یسعهاالمقام معه وینبغی لهاان تفتدی بمالها اوتهرب منه وان لم تقدرعلی ذالک قتلته واذاهربت منه لم یسعها ان تعتدوتتزوج بزوج آخرقال شمس الائمة السرخسی ماذکرانهااذاهربت لیس لها ان تعتد وتتزوج بزوج آخر جواب القضاء امافیمابینهما وبین الله تعـالی فلـها ان تتزوج بزوج آخر بعد ما اعتدت کذافی المحیط﴿۲﴾.وهوالموفق

خاوند د طلاق ورکولو باوجود انکارکوی اوښځه اقرارکوی نو....؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوې ښځې دعوی اوکړه چه زماخاوندماته په حالت دجهګړې کښې پرله پسې دوه ځله وئیلی دی چه ته مې په درې طلاقه کړې ئې.خاوندپه جواب کښې اووئیلو چه زماد ښځې دمور دعوی غلطه اودروغ ده په مینځ کښې څه شهادت نشته دې. په دې بناء باندې خاوندته قسم واچولې شو،خاوند حلفیه اووئیل چه ما د مدعیه ذکرکړې شوی الفاظو باندې طلاق وغیره څه نه دې ورکړی.په دې حالت کښې مدعیه په خپل بیان باندې کلکه ده نوپه دې صورت کښې هغه د خاوند سرد اوسیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدعبدالحیٔ ماهره ډی آئی خان............ ۱۹۷۵ء/۳۱/۳۰

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۸۳ الفصل السابع فی الطلاق بالالفاظ الفارسیة)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۱۳ قبیل الباب الثانی فی العمل بغالب الرأی کتاب الکراهیة)

الجواب: که چرې ښځې ته ددې تغلیظ جزم اویقین وی اوخاوندمنکروی نوکه چرې دا ښځه په خلع یافرارباندې قدرت نه لری نودحاکم یامحکم ته دې مرافعه اوکړی پس که چرې خاوند حلف واخستونوپه دې تقدیر باندې دې ښځې ته ددې سړی سره اوسیدلو کښې به ګناه نه وی، کمافی ردالمحتار:ترفع الامر للقاضی فان حلف ولابینة فالاثم علیه وان قتلته فلاشیئ علیها،وفی ردالمحتار ۲:۷۴۸وینبغی تقییده بمااذالم تقدرعلی الافتداء اوالهرب﴿۱﴾.وهوالموفق

که چرې ګواه عادل وی نو د طلاق نه انکارغیر معتبردې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دوه کسانوګواهی ورکړه چه زیدزمونږ په مخامخ خپلې ښځې ته طلاق ورکړې دې لیکن خاوند منکردې په دې صورت کښې دطلاق څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی: پرویزاحمدګوجرخان پنډی............ ۱۹۸۵ء/۲۱/۲۶

الجواب: که چرې دواړه ګواهان عادلان وی نودخاوند انکارغیرمعتبردې اوطلاق واقع دې. کمافی الدرالمختار۴:۵۱۵ ونصابهالغیرهامن الحقوق سـواء کان الحق مالااوغیره کنکـاح وطـلاق ووکالـة الخ رجـلان الخ اورجـل وامرتان﴿۲﴾.وهوالموفق

په طلاق کښې مختلف اومضطرب شهادت او په الفاظو د طلاق کښې د اختلاف حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه ماخپله ښځه په اجازت په خپله دوالدینو کورته اولیږله،اته میاشتې پس دهغې راوستلو دپاره لاړم،خواخې ته مې اووئیل چه جینئ ماسره روانه کړه،په دې کښې زمونږپه مینځ کښې سخت کلامی راغله.په دې وخت کښې دشدت اوغضب په

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۵۹۰،۵۹۱ قبیل باب الایلاء)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴:۴۱۳ کتاب الشهادات)

که چرې ته دا زما سره نه وې نو زه به دې پرېږدم ... که چرې ته دا زما سره نه حالت کښې زما د خولې نه درې ځله دا الفاظ اووتل، که چرې ته دا زما سره نه پرېږدې نو زه طلاق ورکوم. الفاظ خومې ياددی ليکن قصد او اراده مې نه وه، ماڅه نور څه وئيل ليکن زما د خولې نه دا الفاظ اووتل، يوه نيمه مياشت پس سخر ګنئ مې د طلاقه کيدلو دعوه اوکړه، ما ورته اووئيل چه ما د مستقبل الفاظ وئيلی دی بيا زما سخر مانه تپوس اوکړو ليکن هغه په دې مجلس کښې نه وو چه زوم مې څه وئيلی دی، ښځو د الاندې شهادتونه ورکړی دی، يوې ښځې اووئيل چه الله حاضر او ناظر ګنړلو حلفيه بيان ورکوم چه ده د کورنه د وتلو په وخت درې ځله د طلاق لفظ صرف وئيلې دې ددې نه وروسته او وړاندې ئې څه نه دی وئيلی، دويم دا ګواهی ورکړه چه ده درې ځله دا الفاظ وئيلی دی زه طلاق ورکوم، دوه ځله په ناسته وو او يو ځل او دريدو، يوې جينئ دا ګواهی ورکړه چه يو ځل په کټ باندې ناست وو او دوه ځله اودريدو او دا الفاظ ئې وئيلی دی چه ما طلاق ورکړو، منورا ووئيل چه تقريباً د شپې يوولس بجې د وقفې وقفې نه پس درې ځله دا الفاظ ئې استعمال کړل چه ما طلاق درکړې، اوس هر کله چه د ګواهانو بيانات هم مختلف دی همدارنګه دا هم يقين دې چه دا پنځه سړی او ښځه کوم چه ګواهان دی زمونږ او ددوی په مينځ کښې دنيوی عداوت هم دې، دې پورې چه زمونږ او ددوئې په مينځ کښې زبانی جهګړې هم شوې دی په دې صورت کښې د طلاق دوقوع څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالرشيد حيدرآباد سنده.........١٩٧٢ء١٨١٢٤

الجواب: په صورت مسئوله کښې دا ښځه مطلقه مغلظه نه ده ځکه چه د اختلاف او اضطراب په وجه دا ګواهی کالعدم او ناقابل کيږی﴿١﴾ البته که چرې

﴿١﴾قال العلامة ابن الشحنة: وفى المنبع الموافقة كما تشترط بين الشهادة والدعوىٰ فكذلک تشترط بين شهادة الشاهدين فيما يشترط فيه العدد حتى لو وقع الاختلاف بين شهادتهما لم تقبل شهادتهما وهذا لان اختلافهما اختلاف بين الدعوىٰ والشهادة.

(لسان الحكام الملحقة بمعين الحكام ٢٤٧ نوع فى الاختلاف فى الشهادة)

ښځې په خپله د طلاق الفاظ (يعنی طلاقه ده او طلاقه کيږی وغيره) اوريدلې وی نو ددې د پاره ددې خاوند سره اوسيدل حرام دې، کمافی الهندية ٥:٣٤٦ وكذلک ان سمعت انه طلقها ثلاثا وجحدالزوج ذلک وحلف فردها عليه القاضى لم يسعها المقام معه وينبغى لهاان تفتدى بمالها اوتهرب منه وان لم تقدرعلى ذالک قتلته﴿١﴾. وهوالموفق

په طلاق کښې د مدعيی مطلقې ګواهان منظور او د ناكح منکر نامنظور دي

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه يو کس سره روپئ نه وې د اعتبار د پاره ئې دا الفاظ اووائيلې که چرې زه صبا دې وخته پورې روپئ درنه کړم نو په ما باندې ښځه طلاقه ده درې ځله ئې دا الفاظ اووئيل او ددې واقعې ګواهان موجود دې اوس هغه کس انکار کوی اوس ددې فيصله په څه ډول کيدې شی د چا ګواهی معتبرده؟ بينوا توجروا

المستفتي: عتيق الله.............١٣٩١١٦١٣هـ

الجواب: په صورت مسئوله کښې منکوحه مدعيه طلاق ثلاثه ده او ناكح منکر دې پس د مدعيه ګواهان منظور دې، لان البينة للمدعى واليمين على من انكر﴿٢﴾ او د ناكح ګواهی نامنظور دې. لانها شهادة على النفى،

﴿١﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ٥: ٣١٣ الفصل الثانى فى العمل بخبر الواحد فى المعاملات)

﴿٢﴾ قال الشيخ محمد خالد الآتاسى: البينة علىٰ المدعى واليمين على من انكر..... وهذه القاعدة بعينها لفظ حديث مشهور تلقته الائمة بالقبول، منقول فى شرح العناية بهذا اللفظ، وفى رواية: البينة على المدعى واليمين على المدعى عليه وفى رواية مسلم واحمد: لو اعطى الناس بدعواهم لا دعى ناس دماء رجال واموالهم لكن البينة على المدعى الخ.

(شرح المجلة ١: ٢١٤ مادة: ٧٦)

كما فى ردالمحتار ۳:۳۸۸﴿۱﴾وغيره فليراجع-هوالموفق.

په طلاق کښې د پنځو گواهانوپه بیان کښې داختلاف په صورت کښې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوکس خپلې ښځې ته خور اووئیل اوطلاق ئې ورکړو په دې باندې گواهان موجوددې،یوگواه نه عدد هیر شوې دې اودوه وائی چه درې ځله ئې خوراودوه ځله ئې طلاق وئیلې دې او باقې دوه گواهان وائی چه صرف دوه ځله ئې وئیلی دی،اوس په دې صورت کښې دطلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام جیلانی ناظم مدرسه تدریس القرآن فتح جنگ۱۹۷۳ء۱۸۱۷۱

الجواب: واضحه دې وی چه په صورت مسئوله کښې په دې کس باندې ښځه مطلقه مغلظه نه ده شوې.دده دپاره زبانی مراجعت کافی دې،لیکن په یو خاص وجه باندې تجدیدنکاح کول بهتردې،والدليل على المرام ان اطلاق الاخت على الزوجة وان كان يكره لكن لايقع به الطلاق لمافى الدرالمختار ۲:۳۹ والاينوشيئا اوحذف الكاف لغاوتعين الادنى اى البرويكره قوله انت امى ويابنتى وياختى ونحوه انتهى﴿۲﴾ وراجع الى ردالمحتار،وكذا الشاهد الواحدلايخبر عن العدد والاثنان يخبران عن التغليظ وآخران عن غيرالتغليظ اى عن طلقتين فتهاترت البينتان لمافى الدرالمختار۳:۶۲ ولوشهداحدهما بالف والآخربالفين اومأة

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين: (قوله لم تقبل) اى عندهما لانها قامت على النفى...... وحاصله انه لا يفصل فى النفى بين ان يحيط به علم الشاهد فتقبل الشهاذة به اولا فلا بل لا تقبل على النفى مطلقا نعم تقبل على النفى فى الشروط حتى لو قال لعبده ان لم تدخل الدار اليوم فانت حر فشهدا انه لم يدخلها قبلت ويقضى بعتقه كما فى المبسوط. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۱۳۷ باب اليمين فى البيع مطلب شهادة النفى لا تقبل فى الشروط)

﴿۲﴾(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۶۲۶ باب الظهار)

ومأتين اوطلقة وطلقتين اوثلاث ردت لاختلاف المعنيين،انتهى﴿۱﴾

پس چونکه دا څلورگواهان په دوه طلاقومتفق دی اودریم کښې مختلف دی لهذادادوه واقع کیږی اوچونکه دادواړه صریح دې لهذاپه عدت کښې دننه رجوع درست ده.وهوالموفق

محکم ته باقاعده د ثبوت راوړلو نه بغیر ښځه مطلقه نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه ماخپله ښځه د گاونډیانو دکورونو ته تللونه منع کړه،دښځې په دې حرکت نه سمیدو باندې زمونږ په مینځ کښې تنازعه پیداشوه،زمادسخرخواهش دې چه ځماښځه زما نه جداکړی اوبله قبیله کښې نکاح کړی،دشپې وخت کښې زمونږ بحث او مباحثه اوتکرارجارې ووحتی چه په ماباندې ئې دباؤ واچولو بلکه دقتل دهمکی ئې راکړه چه خپله ښځه دگاونډیانوکره دتللونه مه منع کوه،چنانچه ما صرف داسې اووئیل چه دازماځه موریا خورنه ده زه ئې هیڅ کله هم دا گاونډیانوکره نه پریږدم دجینئ د والدینو اودطرفدارئ کولو والاخوکسان ځما خلاف بیان کوی چه ماپه یوځل طلاقه ثلاثه وئیلی دی اوښځه په خپله زمانه جدا کوی،اوس وضاحت اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: بشیر روشن کوهاله هری پورهزاره.:.......۱۹۷۵ء۸۱۴۱

الجواب: حسب بیان مستفتی په دې خاوندباندې نه څه کفاره واجب ده

﴿۱﴾(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۴:۴۳۳ باب الاختلاف فى الشهادة)

....

اونه ښځه طلاقه شویده لیکن محکم ته د باقاعده ثبوت راؤړلونه پس به ښځه مطلقه وی ﴿۱﴾- وهوالموفق

طلاق مغلظه او په دې باندې د شهادت موجودګئ کښې د زوجیت دعوی مردود ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس خپلې منکوحې ښځې ته طلاق ثلاثه ورکړل جدائې کړه او دده ګواهان هم موجوددې ښځې دعدت تیرولونه پس دویم ځائې کښې نکاح اوکړه چه دهغې اووه بچی پیداشول. اوس شل کاله پس هغه کس وائی چه ماطلاق نه دې ورکړې اود منکوحې کیدودعوی کوی لیکن شل کاله هغه خاموش و. ایاد دوو ګواهانو په مخکښې زبانی طلاق کیږی؟ آیا شل کاله تیریدونه پس دده دا حق شته چه محض د عناد د وجې نه هغه خپله سابقه ښځه بدناموی؟ **بینوا توجروا**

المسفتی: نامعلوم.............. ۱۴\۲\۱۹۷۳ء

الجواب: په شرط دصدق دمستفتی په دې کس باندې ښځه مطلقه مغلظه شوې ده اودشهادت طلاق په موجودګئې کښې به دده دعوی مردودولې شی﴿۲﴾فی الدر المختار: ورکنه لفظ مخصوص خال عن الاستثناء(هامش ردالمحتار ۲: ۵۷٤)﴿۳﴾- وهوالموفق

د وفات نه پس د طلاق د خبرحکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زما پلار یو وادهٔ

﴿۱﴾ وفی الهندیة: وشرط فیها شهادة رجلین او رجل وامرأتین سواء کان الحق مالا او غیر مال کالنکاح والطلاق. (فتاوئ عالمگیریة ۳: ۴۵۱ کتاب الشهادات الباب الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ونصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا او غیره کنکاح وطلاق ووکالة...... رجلان...... او رجل وامرأتان. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴: ۴۱۳ کتاب الشهادات)

﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق)

اوکړو بیائې دویم واده اوکړو. ددویم واده نه ئې څه اولاددې چه په هغې کښې زمونږ مشر وروړهم وو. مشر وروړپلارددریم واده نه منع کول غوښتل چه دریم واده مه کوه لیکن پلارمودریم واده اوکړو، چه دهغې نه څه اولاد پیدا شول، اوس موپلاروفات شوې دې دمال موروثة دتقسیم مسئله ده، اوس مشر ورور مو وائی چه په مال متروکه کښې ددریم واده والاداولادڅه حصه نشته دې ځکه چه کله موپلاردریم واده کولونوزما دمنع کولوپه وجه هغه اووئیل که چرې زه دریم واده اوکړم نوپه ماباندې هغه طلاقه ده. لیکن دهغې باوجوددفعل حرام مرتکب شولهذا هغه اولادکوم چه ددریمې ښځې نه دې دهغوی په دې کښې څه حق نشته دې، اومشرورورداهم زیاتوی چه ماته داحق دې چه زه ددې اظهار اوکړم ورنه عندالله زه مجرم یم، ایا دا دعوی (دمشر ورور) صحیح ده، **بینوا توجروا**

المستفتی: عبدالستاربلوچستان............... ۲۶\۱۰\۱۹۷۷ء

الجواب: کله چه مدعی اوګواهان تاحین وفات ساکت وی﴿۱﴾ نودفسق اود تهمت په وجه نه ددوی خبرواجب القبول نه کیږی﴿۲﴾ خصوصاً چه درې الفاظو باندې

﴿۱﴾ قال الشیخ الافغانی: والدعوی تندفع بمرور الزمان ایضا اذا کان الترک بلاعذر من کون المدعی غائبا او صبیا او مجنونا ولیس لهما ولی او کون المدعی علیه امیرا جائراً یخاف منه الخ.

(معین القضاة والمفتیین ۲۴ الفصل الخامس فی دفع الدعاوی)

﴿۲﴾ قال العلامة الطرابلسی: ومنه ما حکاه عن شرح الزیادات: مات عن امرأة وورثة فشهد الشهود انه کان اقر بحرمتها حال صحته ولم یشهدوا بذلک حال حیاته لا تقبل اذا کانت هذه المرأة مع هذا الرجل وسکوته لانهم فسقوا وشهادة الفاسق لاتقبل.

(معین الحکام ۷۲ فصل حد العدالة الخ)

دري طلاق ورکول او دحسب العرف دتجديد نکاح احتمال ﴿۱﴾ او تحليل ﴿۲﴾ يا قبول بالفعل ﴿۳﴾ يادامام محمد په قول باندي دعمل کولو احتمال موجود دي ﴿٤﴾۔ وهو الموفق

د نکاح د ثبوت د پاره د نکاح خوان په ځائي ددويم امام د ګواهئ حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين ددي مسئلي په باره کښي چه ديوښځي دنکاح تقريبا لس کاله شوي دی ديو کس سره شوي وه حقوق زوجيت ئي اداکول، اوس دا ښځه يوبل کس سره اوتختيده اوپه حکومت کښي ئي دعوی اوکړه چه زما نکاح ددي مخکينی کس سره نه ده شوي. اوس هغه امام کوم چه نکاح تړلي

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم: ولو كرر لفظ الطلاق فان قصد الاستئناف وقع الكل او التاكيد فواحدة ديانة والكل قضاء و كذا اذا اطلق. (الاشباه والنظائر ۵۷ قبيل القاعدة الثالثة

چونکه زمونږ په عرف کښي دطلاق تکرار دتاکيد دپاره وی اوبغير د نيت نه په عرف کښي هم تاکيد مراد اخستلي شی په دي وجه دي صورت کښي زمونږ شيخ دامت برکاتهم د طلاق رجعی حکم ورکوی خالانکه بعضي علماء دا تکرار په بائن باندي محمول کوی په دي وجه د نکاح تجديد حکم هم کوی.

(فليراجع الى فصل عد الطلاق والقاء الاحجار من هذه الفتاوىٰ)

﴿۲﴾ مثلاق طلاق مغلظه ئي ورکړی وی اوبيا دحلاله نهٔ پس دوباره ددهٔ په نکاح کښي راغلي وی

كما فى الهداية: وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة او ثنتين فى الامة لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها. (الهداية ۲: ۳۹۹ باب الرجعة كتاب الطلاق)

﴿۳﴾ قال العلامة الشامي: اذا قال كل امرأة اتزوجها طالق والحيلة فيه ما فى البحر من انه يزوجه فضولى ويجيز بالفعل كسوق الواجب اليها.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۳۷ مطلب فسخ اليمين المضافة الى الملک)

﴿۴﴾ قال العلامة الحصكفى: وفى المجتبىٰ عن محمد فى المضافة لا يقع وبه افتى ائمة خوارزم انتهى وهو قول الشافعى وللحنفى تقليده بفسخ قاض بل محكم بل افتاء عدل وبفتوتين فى حادثتين وهذا يعلم ولا يفتى به بزازية. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲: ۵۳۸، ۵۳۹ مطلب فى فسخ اليمين المضافة الى الملک)

ده حکومت کښي دعوی نه کوی ځکه چه مدعليه اوامام ديوقوم دی، اوس که چرې ددي امام په ځائي دويم امام دنکاح کولو ګواهی ورکړی نو دا حيله څنګه ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: نظام الدين احاطه مدنيه دارالعلوم حقانيه

الجواب: که چرې دعرف نه معلومه وی چه داخاوندوغيره به دمقدمي ګټلونه پس دا ښځه قتل کړی نو ددي امام دوم دپاره دقتل کيد وسبب جوړيدل سخت دي په نسبت دزناءکاری باندي اطلاع کيدلونه. ځکه دا امام دوم ددوي د زنا سبب نه دي جوړشوي-وهو الموفق

د خاوند په طلاق باندي مجبوره کولو وجوهات او د خنثی مشکل حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين ددي مسئلي په باره کښي چه ښځه خاوند په کوم وخت کښي په طلاق باندي مجبوره کولي شی؟ همدارنګه خنثی مشکل فاعل يا مفعول جوړيدي شی؟ بينوا توجروا

المستفتی: تخته خان سعودی عرب.........۲ذی القعده۱۴۰۳ھ

الجواب: خاوند په ماسيوا دظهار ﴿۱﴾ لعان ﴿۲﴾ اوعنيت نه ﴿۳﴾ په نورو صورتونو کښي په طلاق نه شی مجبوره کولي، اوخنثی مشکل نه فاعل جوړيدي شی

﴿۱﴾ وفى الهندية: المظاهر اذا لم يكفر ورفع امره الى القاضى يحبسه القاضى حتى يكفر او يطلق كذا فى الظهيرية. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۵۰۷ الباب التاسع فى الظهار)

﴿۲﴾ وفى الهندية: اذا التعنا فرق الحاكم بينهما ولا تقع الفرقة حتى يقضى بالفرقة على الزوج فيفارقها بالطلاق فان امتنع فرق القاضى بينهما.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۵۱۶ الباب الحادى عشر فى اللعان)

﴿۳﴾ وفى الهندية: ان اختارت الفرقة امر القاضى ان يطلقها طلقة بائنة فان ابى فرق بينهما هكذا ذكر محمد رحمه الله فى الاصل كذا فى التبيين والفرقة تطليقة بائنة كذا فى الكافى.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۵۲۴ الباب الثانى عشر فى العنين)

اونه مفعول یعنی نه خاوند جوړیدې شی اونه ښځه(ردالمحتار)﴿۱﴾.وهوالموفق

خاوند طلاق معلق ورکړی ؤاوؤه کاله پس ښځي انکاراوکړو اوس څه حکم دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوخاوند خپلې ښځې ته اووائی که چرې ته زمادااجازت نه بغیر خپل مورپلارکورته لاړې نوتاته درې طلاقه دی هغه ښځه لاړله.اوس اووه کاله پس ښځه وائی چه ماته خاونداجازت راکړې نوهله زه لاړم،اوخاوندوائی چه ماته صحیح طورباندې یادنه دی چه مااجازت ورکړې اوکه نه؟اوس شرعی حکم څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: دستی خان............۱۷\ربیع الاول۱۴۰۳ھ

الجواب: په صورت مسئوله کښې که چرې دې ښځې په شهادت عادله سره اجازت ثابت کړونو مطلقه مغلظه نه ده. که چرې دښځې سره شهادت عادله د خاوند اجازت نه وی﴿۲﴾اوخاوندته دااجازت ورکولواونه ورکولو متعلق معلومات نه وی نوصرف دشک په وجه باندې طلاق نه واقع کیږی لیکن که چرې خاونداجازت ورکولونه انکارعلی وجه الجزم کړې وی نودې خاوندته به قسم ورکړې شی اوکه چرې دقسم نه انکاراوکړی نوښځه مطلقه مغلظه نه

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله فخرج الذکر والخنثیٰ المشکل) ای ان یراد العقد علیهما لا یفید ملک استمتاع الرجل بهما لعدم محلیتهما له وکذا علی الخنثی لامرأة او لمثله ففی البحر عن الزیلعی فی کتاب الخنثی لو زوجه ابوه او مولاه امرأة او رجلا لا یحکم بصحته حتی یتبین حاله انه رجل او امرأة فاذا ظهر انه خلاف ما زوج به تبین ان العقد کان صحیحا والافباطل لعدم مصادفة المحل وکذا اذا زوج خنثی من خنثی آخر لا یحکم بصحة النکاح حتی یظهر ان احدهما ذکرو الآخر انثی.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۸۱ کتاب النکاح)

﴿۲﴾وفی الهندیة: وشرط فیها شهادة رجلین او رجل وامرأتین سواء کان الحق مالا او غیر مال کالنکاح والطلاق. (فتاویٰ عالمگیریة ۳: ۴۵۱ کتاب الشهادات الباب الاول)

کیږی اوکه چرې قسم اوکړی نوښځه مطلقه مغلظه ده﴿۱﴾-وهوالموفق

د خیاربلوغ په وجه باندې د تنسیخ نکاح په صورت کښې دصحیح فیصلې صورت

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیوکس نکاح په شرعی طورباندې یوجینئ سره اوشوه،بلکه جینئ نابالغه وه اوداکاردهغې دمورپه سرپرستئ کښې اوشو،بیادهغې موروفات شوه اوروروئې ذهغې سرپرست جوړشو،دجینئ دبلوغ نه پنځه کاله پس دچاپه شرارت باندې د دې جینئ دعوی کړیده چه مادبلوغ په کال باندې دناراضګئ اظهارکړې دې او نکاح مې فسخه کړې ده،قاضی ته فیصله پیش شوه،قاضی صاحب ددې جینئ نه په دعوه باندې ګواهان طلب کړل اوهغې ګواهان پیش نه کړل، قاضی صاحب ددې نه دپردې نه اخواء قسم واخستو،داهم معلومه نه ده چه داهغه جینئ وه اوکه بله،بیاقاضی صاحب دخاوندنه دڅه مطالبه اونه کړه ځکه چه هغه دعوی کوی چه دبلوغ په وخت دې جینئ سکوت اختیارکړې وو اوپه دې خبرې باندې ګواه هم موجوددې،اوس سوال دادې چه ددې قاضی فیصله درسته ده اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی:محمداسحاق میاں مایارتیمرګره دیر۱۹\۱جمادی الثانی ۱۳۸۹ھ

الجواب: ددې قاضی دافیصله غلطه ده ځکه چه ښځې ته هغه وخت قسم ورکولې شی کله چه داصل نکاح په رداوسکوت کښې اختلاف وی،زوج وائی چه تادنکاح د ردنه سکوت کړیدې اوښځه بالغه وائی چه ماردکړیده او دامسئله بحرالرائق۳:۱۱۷باندې لیکلې شوې ده﴿۲﴾

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: فان اختلفا فی وجود الشرط ای ثبوته لیعم العدمی فالقول له مع الیمین...... الا اذا برهنت فان البینة تقبل علی الشرط وان کان نفیا کان لم تجئ صهرتی اللیلة فامرأتی کذا فشهد انها لم تجئه قبلت وصلقت. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۴۵،۵۴۶ مطلب اختلاف الزوجین فی وجود الشرط)

﴿۲﴾قال العلامة ابن نجیم: ای لو قال الزوج بلغک النکاح فسکت وقال رددت ولا بینة لهما ولم یکن دخل بها فالقول قولها الخ. (البحر الرائق ۳: ۱۱۷ باب الاولیاء والاکفاء)

لیکن داخیاربلوغ په وجه سره درداوسکوت مسئله ده کوم کښي چه ښځه دفسخ مدعیه ده او خاوند منکردي لهذاګواهان به دښځي منظوروی اوقسم به خاوندته ورکولي شی(فی الهندیة ۱: ۳۰۴)ولووقع الاختلاف فی خیار البلوغ فقالت المراة احترت نفسی ورددت النکاح کمابلغت،وقال الزوج بل سکت وسقط خیارک فالقول قول الزوج کذافی المحیط انتهی﴿۱﴾،لهذاقاضی مذکوردوه واضح غلطیانی کړیدی-وهوالموفق

شرعی نکاح شوي ده خاوند منکردي په دي صورت کښي دعدالتی ډګری حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښي چه دیوې ښځې شرعی نکاح دګواهانو مخکښي شوي دي لیکن زید دچانکاح چه ددې ښځې سره شوي دي هغې په عدالت کښي خلفابیان کړي دي چه زمانکاح دده سره نه ده شوي،عدالت هم حکم جاری کړیدي چه دابنځه دزید ښځه نه ده آیا شرعًا دا نکاح قائمه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی:عبدالعزیزکالاباغ هزاره......۱۱۷ذی قعده ۱۳۹۲ھ

الجواب: که چرې دنکاح په وخت کښي داښځه نابالغه وه یابالغه کیدلوپه صورت کښي والددې ښځي په رضانکاح کړي وی نوددې عدالتی کاروایئ نه پس هم دانکاح په قانونی طورسره خوکالعدم لیکن شرعی طور باندې به لازم او نافذدي،لعدم وجودرافع النکاح.وهوالموفق

بلا قاعده عدالتی طلاق قانونی کیدې شی شرعی نه

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښي چه ماخپله لورکومه چه کم عمره اونابالغه وه،امیرګل ته په نکاح باندې ورکړه لیکن نه زمالورپه دي

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۸۶ الباب الرابع فی الاولیاء)،

نکاح باندې راضی وه اونه هلک په دې وخت کښي بالغ وو،مجبوراً دغه وخت نکاح اوشوه، بیا هلک دویم واده اوکړو،وروسته مادهلک والدینوته اووئیل چه زماد لور واده اوکړه،لیکن هغه نه واده ته تیاروواونه په طلاق ورکولو باندې ، بیا مافیملی کورټ ته رجوع اوکړه،عدالت کښي هلک حاضرشو زما د لورسره واده ته تیاروواوراضی وولیکن جینئ راضی نه وه بیاعدالت فیصله واوروله چه جینئ راضی نه ده دې وجې نه عدالت طلاق ورکړې دې،دشرع په رو باندې ددې طلاق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: پیرغلام دره پیزوبنوں.........۸۱۸۱۱۹۹۰

جواب: که چرې داهلک واده کول غواړی اوپه حقوق زوجیت اداکولوباندې قادر وی یعنی مستقل کمره اونفقه ورکولي شی نوداعدالتی طلاق صرف عدالتی اوقانونی طلاق دې نه اسلامی اوشرعی طلاق﴿۱﴾-وهوالموفق

د ارتداد اود الفاظ کفریه نه پس بلا طلاق دویم خاوند سره دنکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښي چه یومسلمانې واده شوې ښځې لفظاً اقرار اوکړو چه حضرت عیسی علیه السلام (نعوذبالله) د خدائې

﴿۱﴾قال الشیخ شمس الحق الافغانی: حکم القاضی علی خلاف النص کالحکم بحل متروک التسمیة عمداً او علی خلاف السنة المشهورة کالحکم بتحلیل المطلقة ثلاثا بمجرد عقد المحلل بلا دخول او علی خلاف الاجماع کالحکم بصحة نکاح المتعة باطل ولکل قاض نقضه اذا رفع الیه...... الخطاء الذی قضی به القاضی اما ان یختلف الفقهاء فی کونه خطاء اولا یختلفوا الثانی یرجع عنه ویرده لا محالة...... الثانیة اذا قضیٰ ثم ظهر له خطأه فی القضاء بان ظهر ان الشهود کانوا عبیدا او محدودین فی قذف ینقض قضائه الثالثة اذا قضیٰ بخلاف مذهبه علی طبق ما مر سابقا.

(معین القضاة والمفتیین ۲۸،۷۰ اقسام القضاء وما یرد منها ومالا یرد)

خوئي دې اود زړه نه ئې ددې تصدیق اوکړواوپه دې باندې عقیده جوړه کړه
دې عقیده ساتلوباندې هغه مرتده شوه اوهغې خپل ښار پریخودو بل ښار
ته لاړله، اوهلته ددوباره مسلمانیدونه پس ددویم کس سره ئې نکاح اوکړه،
نو آیا ددې دواړو ښځې خاوند جماع وغیره جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالرب حیدرآبارسنده............ ۲۹۱۹۱ء۱۹۷۹

الجواب: بناپه قول مفتی به (وهوقول مشائخ بلخ) دا ښځه داول خاوند په نکاح کښې ده ﴿۱﴾ دې دویم خاوند ته ددې ښځې سره جماع وغیره حرام دی، ځنګه چه اول خاوند ته د تجدید نکاح نه وړاندې استمتاع حرام ده، والتفصیل فی الحیلة الناجزة ۱۵۸ ﴿۲﴾.....

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: لو ارتدت لمجئ الفرقة منها...... وتجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر...... وافتی مشایخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرا وتیسیرا لا سیما التی تقع فی المکفر ثم تنکر قال فی النهر والافتاء بهذا اولی من الافتاء بما فی النوادر. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۲۶ باب نکاح الکافر)

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: حاصل دادې چه که ښځه مرتده شی نو دهغې دنکاح په باره کښې د احنافو درې قوله دی، یودا چه نکاح فسخ کیږی لیکن د اسلام د تجدید نه پس به هغۀ لره دنکاح په تجدید باندې مجبوره کولې شی اوبل ځائې کښې دنکاح کولو اختیار به نه شی ورکولې، وهو ظاهر الروایة، دویم دا چه نکاح به نه فسخ کیږی بلکه دوی دواړه دغه شان ښځه اوخاوند اوسیږی، دریم دا چه ښځه به د وینځې په طور ساتلې شی.

په دې دریو واړو اقوالو کښې اګرچه لږ اختلاف شته لیکن په دومره خبره درې واړه متفق دی چه ښځې ته به په هیڅ شان داحق نه ورکولې کیږی چه هغه دخپل ړومبی خاوند دنکاح نه جدا شی اوبل ځائې کښې نکاح اوکړی، په دې کښې دا خبره متفق علیه شوه چه ښځې ته به بل ځائې کښې د نکاح بالکل اختیارنه وی، اوس په هندوستان کښې په موجوده حالت کښې په دې متفق علیه صورت باندې عمل کول ناممکن دی..... اود نوادر په روایت باندې عمل کول خود ظاهرالروایت نه هم زیات مشکل بلکه په موجوده حالت کښې غیرممکن دی. په دې وجه اوس بغیر ددې نه بل هیڅ صورت باندې عمل نه شی کیدې چه د بلخ او سمرقند دمشائخو قول اختیار کړې شی اوپه دې باندې فتوٰی ورکړې شی.

دبلخ د مشائخو دقول موافق چه دنکاح د بقاء....... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

کفایت ۱٦۷ ﴿۱﴾. وهوالموفق

د مرتد او کافر کیدو والا نکاح په خپله ختمیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه نولس کاله شوي دې چه زما واده دیو کس سره شوي دې په دې وخت کښې زما دوه بچی دی زما خاوند د اتو کالو نه ما د اسلامی رکنیت نه منع کوی حتی چه مونځ، روزه، تلاوت کلام پاک او کلمه شریفه ته مې نه پریږدی. که چرې ځما دخولې نه کلمه اوځی نو ما وهی ټکوی، ما یوځل کلام پاک شروع کړلو نو قرآن پاک ئې او غورزولو، ما پټ په غلا باندې مونځ کوو نو اوئې لیدم زه ئې داسې اووهلم چه بې هوشه شوم، په رمضان شریف کښې ما مونځ شروع کړو نو هغه دورځې زما د

(بقیه حاشیه)... فتوٰی ورکړې شی نو دې سره ددې خبرې لحاظ ساتل ضروری دی چه د اسلام د تجدید نه مخکښې خاوند دپاره دغې مرتدې سره استمتاع یعنی جماع او ددې دواعی مثلاً تقبیل، لمس بالشهوة وغیره ته به جائز نه شی وئیلې، ځکه چه آیت کریمه لا تنکحوا المشرکات حتّی یؤمن په وجه کافرو ښځو سره نکاح او استمتاع حرام کیدل ښکاره دی اوپه دې اجماع هم ده،... ددې مجموعه خلاصې نه ددې فتوې حاصل دا شو چه ښځه به دمخکښې په شان ددې خاوند په قبضه او نکاح کښې اوسیږی بل سړی سره نکاح کول بالکل نه دی جائز. لیکن چه ترڅو پورې تجدید داسلام کولو سره تجدید دنکاح اونه کړی ترهغه وخته پورې به ددې سره جماع او دواعی دجماع ته جائز نه وئیلې کیږی. (حیله ناجزه ۱۸۲ تا ۱۸۵ حکم ارتداد زوجه)

﴿۲﴾ قال المفتی الاعظم مولانا کفایت الله الدهلوی: مرتد کیدو سره ړومبئ نکاح ختمه شوه لیکن مسلمانیدو سره بل سړی سره نکاح نه شی کولې، بلکه مجاز قاضی به جبراً ړومبی خاوند سره ددې نکاح کوی،

وارتداد احدهما فسخ عاجل فللموطوءة کل مهرها ولغیرها نصفه لو ارتد، ولاشئ لو ارتدت وتجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوٰی والوالجیة (درمختار مختصراً).

(کفایت المفتی ٦: ۱۳۹ چوتها باب مرتده اور مرتد)

روژي ماتؤلو كوشش اوكړو بلكه زمادلاس روټۍ هم نه خوري،زماخاوندنه غسل جنابت كوي اونه ماورته پريږدي نه هغه داسلام قائل دي ماتول روداد چيئرمين پيپلزپارټي حله كړان ته بيان اوكړو،هغه اووئيل چه په دي باره كښي دعلماء سره مشوره كول لازم دي.هغه زمادابيان قلمبند كړواوئي وئيل چه مولانا عبدالحق صاحب اكوړه خټك والاچه كومه فيصله اوكړي هغه مونږ ته منظوره،هغه زمونږ دټولو غټ مذهبي پيشوادي نوپه دي باره كښي دشريعت څه حكم دي ايازمانكاح ددي كس سره باقي پاتي كيدلي شي؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: شاه زبيركرا.........۱۹۷۳ء۲۵۱۲۱

الجواب: بشرط صدق وثبوت ددي كس نكاح باطل اوكالعدم ده دده ښځه د عدت تيرولونه پس بل ځائي كښي نكاح كولي شي﴿۱﴾ ځكه چه داكس د اهانت قرآن اودانكارشريعت وغيره په وجه كافر اومرتددي﴿۲﴾-وهوالموفق

محمد فريدعفي عنه دارالعلوم حقانية اكوړه خټك

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وارتداد احدهما اى الزوجين فسخ...... عاجل بلا قضاء، قال ابن عابدين: اى بلا توقف على قضاء القاضي وكذا بلاتوقف على مضى عدة فى المدخول بها...... وافاد وجوب العدة سواء ارتد او ارتدت بالحيض او بالاشهر لو صغيرة او آئيسة او بوضع الحمل كما فى البحر. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۴۲۵ باب نكاح الكافر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: ان الشارع جعل بعض المعاصى امارة على عدم وجود التصديق كالهزل المذكور وكما لو سجد لصنم او وضع مصحفا فى قاذورة فانه يكفر وان كان مصدقا لان ذلك فى حكم التكذيب...... فان فعل ذلك استخفاف واستهانةبالدين فهو امارة عدم التصديق ولذا قال فى المسايرة وبالجملة فقد ضم الى التصديق بالقلب او بالقلب واللسان فى تحقيق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان اتفاقا كترك السجود لصنم وقتل نبى والاستخفاف به وبالمصحف والكعبة وكذا مخالفة او انكار ما اجمع عليه بعد العلم به لان ذلك دليل على ان التصديق مفقود. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۱۰ باب المرتد)

فصل فى تنسيخ النكاح

د موجوده عدالتونو د تنسيخ نكاح فيصلې كه څرې باقاعده وى نو تسليمولې به شى ګينى نه

سوال: محترمى ومكرمى جناب مولانامفتي محمدفريدصاحب زيدمجدكم السلام عليكم ورحمة الله وبركاته! ستاسوصاحبانوخيريت نيک مطلوب دي اودعاګانوخصوصي اپيل دي.دايومسئله مونږ ته راپيښه شويده چه موجوده ګورنمنټ دشريعت ديمين اويسارنه دلاعلمى باوجودتنسيخ طلاق فيصلې كوى،دګوجرانواله مفتى اوزمونږ دمدرسې مهتمم صاحب تنسيخ نكاح نافذګڼړى.مونږ اوريدلى چه مولاناخيرمحمدصاحب مرحوم و مغفورهم ددي په حق كيدي.ليكن ماته په دي بانديز صبراونه شو،جج اګرچه مسلمان هم دي ليكن نه دمتعنت مفهوم پيژني اونه تحقيق كوى-بلكه په اكثر اوقاتو كښي دخاوند په نه حاضرئي كښي يوطرفه فيصله كوى كومه چه قضاء على الغائب ده،حضرت مولاناتهانوى رحمه الله په الحيلة الناجزة كښي چه كوم شرائط ذكركړيدى زمايه نظركښي په مسئله مسئوله كښي مفقود دى اميددي تاسو د جواب نه خبركړئ؟ **بينوا توجروا**

المرسل: امان الله ګوجرانواله.........۱۹۷۳ء۱۰۱۴۱

الجواب: محترمى المقام مولانا امان الله صاحب وفقه الله تعالى لمايحب ويرضى وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته! نه پس واضحه دي وى چه زه په بفضله تعالى خيريت سره يم الله كريم دي تاسوپه خيريت سره ساتى،اودعلم دين په خدمت كښي دي مشغول اوساتى.آمين

محترم! تاسو ته به شايدمعلومه وى چه د علماء په كوششونوسره دابعض مسائل په قانون كښي داخل كړى شوى وو.ليكن دي اهل هوى په

هغه مسائلو کښې ترمیمات کړی دی بس مونږ ددوی فیصلې ته چه کله باقاعده وی نافذه وګڼی مسترد کوو ئې (۱) داحکام په خپل خیال کښې دا مسائل محمدین لا شریعت ګڼړی -فقط

محمد فرید عفی عنه....دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

په ابتدائی عدالت او وړاندنی عدالت کښې د متضادو فیصلو په صورت کښې د تنسیخ نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوښځې په ابتدائی عدالت کښې دخاوند په نوم تنسیخ نکاح دائر کړلو. ابتدائی عدالت خاوند طلب کړو. خاوند بیان ورکړو چه ښځې ته زه نان نفقه ورکوم او آبادول ئې غواړم ښځې دتنسیخ نکاح په دعوی کښې اظهار اوکړو چه څلورو کالو نه ماته خاوند څه نان نفقه نه دې راکړې او نه ئې حقوق زوجیت اداکړی دی ابتدائی عدالت دښځې دعوی تنسیخ نکاح خارج کړله او دخاوند په حق کښې فیصله صادر کړه، په پاس عدالت کښې دښځې په اپیل باندې بغیر د خاوند نه بیانونه واخستل، عدالت پاسنی دتنسیخ نکاح حکم صادر کړو او عدالت ابتدائی یعنی د ماتحت فیصله مسترد کړه. ایا شرعا دا تنسیخ نکاح درست دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: خواجه عبدالمجید مانسهره هزاره

الجواب: که چرې دمقدمې لیکلو نه وړاندې داخاوند نه ښځه ازادوی او نه باقاعده ابادوی او دحاکم وړاندې اوس آبادولو ته تیار دې نو ددې خاوند نه څه بعیده ده چه داخبره صرف دفع الوقتی وغیره دپاره کوی. لهذا ددې تنسیخ عدم نفاذ متعلق مونږ فیصله نه شو کولې -وهو الموفق

---

(۱) قال العلامة بدر الدين الشهير بابن قاضی سماونه: قضايا القضاة ثلاثة اقسام الاول: حكمه بخلاف نص واجماع وهذا باطل فلكل من القضاة نقضه اذا رفع اليه وليس لاحد ان يجيزه، الثانی: حكمه فيما اختلف فيه فهو ينفذ وليس لاحد نقضه، الثالث: حكمه بشئ يتعين فيه الخلاف بعد الحكم ان يكون الخلاف فی نفس الحكم فقيل نفذ وقيل يوقف على امضاء آخر فلو امضاه يصير كان القاضی الثانی حكم فی مختلف فيه فليس للثالث نقضه فلو ابطله الثانی بطل وليس لاحد ان يجيزه الخ. (جامع الفصولين ۱: ۲۴ قبيل توكيل ابن القاضی وما يتصل به)

د دروغو ګواهیانو سره د تنسیخ نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زمونږ یو پیش امام (ناخوانده) خپله لور دیو کس سره عقد نکاح اوکړله ورئې کړه. دا خاوند باشعور او صحت مند کس دې قومی لحاظ سره هم کفو او ښځه هم درې څلور کاله دده سره اباده وه. د ناچاقئ په بناء باندې دې پیش امام خپله لور پټه کورته راوسته او څه وخت پس ئې دخاوند خلاف باندې دعویٰ دتنسیخ نکاح دائر کړله. د دروغو ګواهئې ئې قائمې کړې فیصله ئې دخاوند خلاف اوکړه. آیا دجج په طلاق باندې طلاق واقع کیږی؟ دویم ځائې کښې نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: احمد عبدالرحمٰن صدیقی ناظم انجمن خدام القرآن نوشهره ۱۹۲۹ء۱۹۱۵۱

الجواب: دکوموو وجوهاتو په بنا باندې چه مسلمان حاکم دفسخ نکاح (طلاق) مجاز دې که چرې بالفرض هغه وجوهات د دروغ ګواهئې نه ثابت کړې شوې وی بیاهم دافسخ او طلاق صحیح دې او دویم ځائې کښې نکاح مشروع دې، ځکه حاکم عالم الغیب نه دې. مدعی علیه دپاره ضروری دی چه هغه جرح اوکړی. فی الدر المختار: ولوقضی بطلاقها بشهادة الزور مع علمها بذلک نفذ وحل لها التزوج بآخر بعدالعدة (وفی ردالمحتار ۲: ۴۰۴) قوله وبقولهما یفتی قال الکمال وقول الامام اوجه واستدل له بدلالة الاجماع الخ (۱). وهو الموفق

بې قاعده تنسیخ نکاح شرعا مسترد او په دې کښې معاونت وغیره حرام دي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دهندې او زید نکاح په حالت دبلوغ کښې شوې ده ددوی مورپلار هم مجلس نکاح کښې موجود وو شاهدین او د نکاح تړلو والا د مسجد امام هم موجود دې

---

(۱) (الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۳۱۹ قبیل باب الولی)

او په رجسټر کښې هم په فارمونو باندې د دستخطونو سره هرڅه موجود دي پس څه زمانه پس د دواړو پلارانو په مینځ کښې ناکرې پیدا شوه، نو دهندې پلار دبل کس سره ملاوشو د جینئ د طرفنه ئې په عدالت کښې دفسخ نکاح دعوی اولیکله، ددې نه وړاندې د زید پلار خوجرګې دهندې په پلار باندې کړې وې، رشته واپس کړې او ورتې کړې، لیکن دهندې پلار اول اخوا دیخوا کول وروسته ددې نه صفا منکر شو او بیائې دفسخ نکاح دعوی اولیکله، په عدالت کښې نکاح خوان اوګواهانو د جینئ د بلوغ کیدلو او ټولو تقاضو پوره کولو او دنکاح پوره کیدلو ګواهی ورکړه او زید په عدالت کښې باربار او وئیل چه هغه جینئ ابادول غواړې لیکن ددې هرڅه باوجود عدالت دفسخ نکاح فیصله د جینئ یعنی دهندې په حق کښې اوکړه او دنکاح ثانی اجازت ئې ورکړو آیا په شرع کښې دانکاح فسخه کیدلې شی؟ او نکاح ثانی کولې شی؟ او د دویمې نکاح تړلو والا او ګواهانو جوړیدلو والو شرعا څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرؤف قریشی ګړهی حبیب الله خان..... ۷/۱۲/۱۹۷۲ء

الجواب: کله چه خاوند د ښځې باقاعده آبادولو ته تیار وو نو دا فسخ شرعا مسترد ده. لانه فسخ من غیر ضرورة﴿۱﴾ او نکاح ثانی او په دې کښې شهادت او معاونت وغیره حرام دی﴿۲﴾- وهو الموفق

بلا وجه شرعی د تنسیخ نکاح ډګری وغیره شرعا قبول نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یوې ښځې دخاوند د

﴿۱﴾ قال العلامة شمس الحق الافغانی: الخطاء الذی قضی به القاضی اما ان یختلف الفقهاء فی کونه خطاءً اولا یختلفوا، الثانی یرجع عنه ویرده لا محالة والاول یمضیه اذا کان بعد دعوی صحیحة وشهادة مستقیمة.

(معین القضاة والمفتیین ۷۰ الفصل الثامن فی رجوع القاضی عن حکمه)

﴿۲﴾ قال الله تبارک وتعالیٰ: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان (الآیة).

(سورة المائدة آیت: ۲ رکوع: ؛ پاره:۶)

وفات نه دوه کاله پس د لیور سره په خپله نکاح د شرع په طریقه اوکړه درې ورځې خاوند سره د تیرولو نه پس د مذکوره ښځې پلار د لالچ په وجه خپله لور جدا کړه او د نکاح بالجبر دعوی ئې اوکړه، د سیشن جج په عدالت کښې مقدمه دروغ ثابته شوه د فیصلې اوړولو نه پس د تحقیق نه وروسته ثابته شوه چه د مذکوره ښځې پلار کمینه اخلاقو والا دې او دا هرڅه ئې د څه لالچ په خاطر کړې دی او دا نکاح د رضا او رغبت په وجه درست ده او دمدعی دروغ دعوی ئې ختم کړه. ددې نه پس د مذکوره ښځې پلار جونئیر سول عدالت کښې د تنسیخ دعوی اوکړه او دې عدالت د سیشن جج د فیصلې خلاف د خلع ډګری ورکړه مقدمه ئې خارج کړه، ددې تنسیخ څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فرمان الدین او نور مشران جلبی صوابی ۱۲۰ جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: که چرې دا امر تسلیم شده یا د شهادت شرعیه نه ثابت شده وی چه دې ښځې ددې لیور سره په رضا او رغبت نکاح کړې وی نو دا نکاح لازم او نا قابل فسخ ده، لوجود رکن النکاح وشرائطه﴿۱﴾ وهو الموفق

د نابالغه د خیار بلوغ او د ډی سی د طرف نه د طلاق نامې د ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوه نابالغه جینئ پلار په نکاح شرعی باندې ورکړه، دې جینئ په دې وخت د نکاح نه انکار اوکړو، بیا دا مقدمه ډی سی صاحب د کوهاټ سره پیش شوه او هلک او جینئ هم موجود شو، جناب ډی سی صاحب دې کس په مخ کښې طلاق نامه ورکړه او خاوند هم موجود وو، اوس دا نکاح فسخ کیدې شی او که نه؟ او د نابالغه جینئ انکار قوی دې او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محبت خان مندوری ضلع کوهاټ..... ۲۱/۱۱/۱۹۶۹ء

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: نفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضا ولی...... وله ای للولی اذا کان عصبة...... الاعتراض فی غیر الکفء، قال ابن عابدین:: (فیفسخه القاضی) فلا تثبت هذه الفرقة الا بالقضاء لانه مجتهد فیه وکل من الخصمین یتشبث بدلیل فلا ینقطع النکاح الا بفعل القاضی. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۳۲۲ باب الولی)

الجواب: چونکه نکاح ئې پلار تړلې ده لهذا اجینئ د اعقد او نکاح نه شی فسخ کولې. نه دقبول په وخت نه د قبول نه وړاندې﴿۱﴾او چونکه حاکم صرف د ناکح په مخکښې طلاق نامه ورکړې ده ناکح خو طلاق نه دې ورکړې لهذا افسخ دنکاح دپاره ناکافی ده﴿۲﴾-وهو الموفق

سره د آبادولو نه خاوند ته د تنسیخ نکاح ډګری ورکول شرعًا کالعدم ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دکوثربی بی واده د رشید خان سره شوې دی. درواج مطابق یوورځ خاوند کره اووسیده د پلار کورته لاړه. شپږمیاشتې پس دې دتنسیخ نکاح دعوی او کړه لیکن رشید خان بهرملک ته لاړووا اودې ښځې وئیلی ووچه زه دخاوند په عدم موجودګئې کښې دپلار کور کښې او سیږم او نان نفقه نه راؤړی لیکن ددې باوجودئې خپل زور د تنسیخ نکاح پیروئ ته مقرر کړو. کیس شروع شو دمقدمې په وخت کښې رشید خان په خپله په عدالت کښې حاضر شو او دا بیان ئې ورکړو چه دادمال په واپسئ یعنی دمهریا دڅه په صورت کښې ښځه طلاقول نه غواړی بلکه هغه دا په هرصورت کښې آبادوی. لیکن عدالت دطلاق خلع ډګری ورکړه. آیا دا طلاق واقع کیدې شی او نکاح فسخ شوې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرشید ګوجرخان راولپنډی......۱۵\ذی قعده ۱۴۰۱ھ

﴿۱﴾وفی الهندیة: فان زوجهما الاب والجد فلا خیار لهما بعد بلوغهما وان زوجهما غیر الاب والجد فلکل واحد منهما الخیار اذا بلغ ان شاء اقام علی النکاح وان شاء فسخ.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۲﴾وفی الهندیة: وکذلک کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یملهٰ بنفسه لا یقع به الطلاق اذا لم یقر انه کتابه کذا فی المحیط.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۳۷۹ قبیل الفصل السابع فی الطلاق بالفارسیة)

الجواب: کومه ښځه چه خاوند باقاعده آبادوی او ابادولې شی نو هغه دتنسیخ نکاح حقداره نه ده او ده ته دتنسیخ نکاح ډګری ورکول شرعا کالعدم دې﴿۱﴾-وهو الموفق

مجبورا ښځه تنسیخ نکاح په مسلمان جج باندې کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دهندې نکاح دصابرخان سره په پاکستان کښې اوشوه ددې نه یوه جینئ پیدا شوه دهغې نوم ئې په پاسپورټ کښې اولیکلو، صابر دانګلینډ نه دخپلې ښځې هندې په نوم طلاق اولیکلو اوراوئ لیګو. هندې دعدت نه پس دحسین خان سره واده او کړو اودا ماشومه ددې سره په پرورش کښې وه، کله چه پیغله شوه نو دهغې واده انګلینډ کښې دنثارعلی سره باقاعده شرعی اوشوه. ایجاب او قبول دعالم دین په مخ کښې اوشو. مګر دهغې ځائې دقانونی اعتبار سره نکاح رجسټرډ نه شوه دخاوند خیال ووچه دا دپلار یوه لورده لهذا ډیر دولت سره به راځی، په دې کښې صابرخان اووئیل چه دازما لورنه ده او دناکح په خیالاتو کښې تبدیلی شروع شوه چه دولت خو اوس نه راځی لهذا خاوند اوس ددې دښځې جوړولو نه انکار او کړو، چه دازما ښځه نه ده او نه مې ورسره نکاح شوې ده، په دې کښې د نثارعلی نه یو هلک هم پیدا شوې وو او درې میاشتې پس هغه مړ شو، اوس دا هلک دازدواجی تعلقاتو نه منکر دې. او طلاق هم نه ورکوی چه فارغه ئې کړی او وائی چه اول پنځه زره پونډه راکړئ نو مونږ به ئې فارغه کړو، لیکن دجینئ والا ددې رقم نه معذوره دی اوس جینئ په دې چکر کښې ده لهذا که چرې د خلاصی څه صورت وی نووئی لیکئ او پیش ئې کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: یو بنده مسلم برمنګهم انګلینډ........۲۷\محرم ۱۴۰۳

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ولا یفرق بینهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولا بعدم ایفائه لو غائبا حقها ولو موسرا وجوزه الشافعی باعسار الزوج وبتضررها بغیبته ولو قضی به حنفی لم ینفذ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۱۲ مطلب فی فسخ النکاح بالعجز عن النفقة)

الجواب: په صورت مسئوله کښې دامجبوره ښځه دمسلمان جج په ذریعې سره طلاق (تنسیخ نکاح) حاصلولې شی. اوعدت تیرولونه پس بل ځائې کښې نکاح کولې شی (حیله ناجزه) ﴿۱﴾- وهوالموفق

تنسیخ نکاح په ظاهره خلع بالاکراه او حقیقت کښې طلاق بائن دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه عدالت دتنسیخ نکاح فیصله صادره کړې ده ایاپه دې سره ښځه طلاقیږی، اودویم ځائې کښې نکاح کولې شی؟ که چرې طلاق واقع کیږی نوددې څه صورت دې؟ خلع اوکه بل صورت؟ ددې په باره کښې فیصله صادره کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری محمدانور ګلواله سرګودها........ ۱۹۷۹ء۱۵۱۹۱

الجواب: کوم خاوند چه ښځه نه باقاعده آباده وی اونه ئې آزادوی، نودامظلومه ښځه د تنسیخ نکاح مستحقه ده اودا تنسیخ نکاح جائز اونافذه دې ﴿۲﴾ اودا تنسیخ په

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: اوصورت دتفریق (زوجه متعنت) دادې چه ښځه خپله مقدمه داسلام قاضی یا مسلمان حاکم اوددوی دنۀ موجود کیدوپه صورت کښې دمسلمانانو جماعت ته پیش کړی اوچاته چه پیش کړې شی هغه دشرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی اوکه دښځې دعوٰی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی نودهغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه ګنی مونږ به ئې درنه جدا کړو، که ددې نه پس هم دغه ظالم په دې صورت باندې عمل اونه کړی نو قاضی یا شرعاً چه څوک دهغۀ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړی. (حیله ناجزه ۴۷ حکم زوجه متعنت)

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: زوجه متعنت له اول لازم دی چه په څه طریقه خاوند سره خلع وغیره اوکړی لیکن که د ډیر کوشش باوجود هم څه صورت نه جوړ نه شی نود سختې مجبورئ په حالت کښې په مالکی مذهب باندې دعمل کولو ګنجائش شته.....صورت: د تفریق دادې چه ښځه خپله مقدمه داسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی دنۀ موجود کیدوپه صورت کښې دمسلمانانو جماعت ته پیش کړی اوچاته چه پیش کړې شی هغه دشرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی اوکه دښځې دعوٰی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی نودهغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه ګنی مونږ........ (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ظاهره خلع بالاکراه اوپه حقیقت کښې طلاق بائن دې ﴿۱﴾- وهوالموفق

چرته چه قاضی نه وی هلته دعلماء جمعیت د ضرورت په وجې سره تنسیخ نکاح کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیو کس دوه ښځې دی دیوې ښځې څه نه څه حقوق اداکوی لیکن دویمه په خپل ځائې باندې همداسې پریخې ده حقوق شرعی ئې نه اداکوی اونه ئې دنان نفقې څه بندوبست کوی اوداځائې داسې آزاده علاقه ده هلته څه قاضی وغیره نشته دې چه هغه دا ښځه آزاده کړی اوحال دادې چه خاوندئې هم طلاق نه ورکوی، پس که چرې دا ښځه په دې حالت کښې دطلاق نه بغیرد خاوند نه جدا شی او دویم واده اوکړی چه خاوند دچاخبره نه اوری نوښځې ته ایاداکارکول جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ شیرعالم دوآبه هنګوکوهاټ.......... ۱۴۰۱۱۷۱۶ھ

الجواب: که چرې دتفحص اوتحقیق نه پس دامعلومه شی چه داخاوندظالم دې نه دا ښځه آبادوی اونه ئې آزادوی نودځو بااثره علماء په جمعیت کښې ددې تحقیق نه پس دا ښځه طلاقولې شی اودادامام مالک رحمه الله مذهب دې اود

(بقیه حاشیه).. به ئې درنه جدا کړو، که ددې نه پس هم دغه ظالم په دې صورت باندې عمل اونه کړی نو قاضی یا شرعاً چه څوک دهغۀ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړی. په دې کښې دڅه مودې انتظار اومهلت ته په اتفاق د مالکیه ضرورت نشته.

(الحیلة الناجزه ۷۴ حکم زوجه متعنت)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ان اختارت الفرقة امر القاضی ان یطلقها طلقة بائنة فان ابی فرق بینهما هکذا ذکر محمد رحمه الله تعالیٰ فی الاصل کذا فی التبیین والفرقة تطلیقة بائنة کذا فی الکافی.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۵۲۴ الباب الثانی عشر فی العنین)

ضروت په وخت داحنافو په نزد په دې باندې عمل کول جائزدي ﴿۱﴾ وهو الموفق

د باقاعده تحقيق نه پس د قاضي يکطرفه د تنسيخ نکاح فيصله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه مونږ دخپلې خور نکاح درفیق خان سره کړي وه کله چه دواده وخت راځی نوهغه یودوه ورځې وړاندې اوتحتی ډیره پریشانی ده دخور عمر موهم پنځه ویش کاله دې د مور پلار په کورکښې ده پنځه نیم کاله وړاندې ئې نکاح شوي ده اورفیق خان همدغه روپوشی اختیاروی لهذا زمونږ خورپه عدالت کښې درخواست ورکړو او تنسیخ نکاح ئې اوکړو نو آیا دخاوند د روپوشئ باوجود دا سرټیفیکیټ حاصلول دعدالت نه درست دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حامد شیر شیلډ بلاک اټک........ ۱۴۰۱\۲\۱۲هـ

الجواب: کله چه خاوند جوندې غائب شی نوباقاعده دتحقیق نه پس جج غائبانه

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: اوچرته چه مسلمان حاکم موجود نه وی یا مسلمان حاکم ته په عدالت کښې د مقدمې اوړلو قانوناً اختیارنه وی یا مسلمان حاکم د شرعی قواعدو مطابق فیصله نه کوی نوپه دې صورت کښې دفقه حنفی مطابق خو دښځې جداکولو دپاره دخاوند دطلاق وغیره نه بغیر هیڅ صورت نشته، او ممکن حده پورې لازم ده چه دخلع وغیره کوشش اوکړی لیکن که خاوند په هیڅ شان نه منی یا دمجنون کیدوپه وجه یا د لاپته کیدوپه وجه هغۀ سره خلع وغیره ممکن نه وی او ښځه صبرنه شی کولې نومجبوراً دمالکی مذهب مطابق د دینداره مسلمانانو جماعت کښې معاملې پیش کولو ګنجائش شته. لیکن په مالکی مذهب کښې د قاضی وغیره نه کیدوحالت کښې داصورت هم جائزدې چه دمحلې د دینداره مسلمانانو یو جماعت چه ددوی شمیرکم ازکم درې وی مشری اوکړی او د واقعې تحقیق اوکړی اود شریعت موافق حکم اوکړی نوداهم د قاضی د قضاء قائم مقام کیدې شی.
صرح بذلک العلامة الصالح التونسی مفتی المالکية فی المسجد النبوی بالمدينة المنورة فی فتواه الملحقة بهذه الرسالة فی الرواية السابعة عشر،
اود سخت ضرورت اود عام ابتلاء په وخت د احنافو په نزد د نورو امامانو مذهب اختیارولو سره په هغې باندې فتوی ورکول هم جائزدی. الخ (الحيلة الناجزة ۳۴ تفريق زوجين بحکم حاکم)

فیصله (یکطرفه فیصله) کولو مجازوی، کذافی قضاء ردالمحتار عن جامع الفصولین ﴿۱﴾. وهو الموفق

بلا وجه تنسيخ نکاح کول غيرمعتبراود ديني امورو ختمول دي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې که چرې ښځه دخاوند نه په څه خبره خفه شی اوکورته لاړله شی اوبیاتنسیخ نکاح اوکړی. نو آیا ددې تنسیخ څه اعتبارشته؟ بینوا توجروا

المستفتی: چوهدری صفدر راولپنډی..... ۱۲ربیع الثانی ۱۴۰۲هـ

الجواب: که چرې خاونددا ښځه نه آبادوی اونه ئې په ښه طریقه آزادوی نود تحقیق نه پس د مسلمان جج د تنسیخ نکاح ډګری جاری کول قابل قبول ده، او د عدت نه پس دې ښځې ته دویم ځائې کښې نکاح جائز کیږی (حیله ناجزه) ﴿۲﴾ اوکه چرې ښځه آبادوی یائې په ښه طریقه ازادوی نوبیاددی تنسیخ شرعا اعتبار نشته، اودویم ځائې کښې نکاح درست نه ده اوددینی امورود پامالئ

﴿۱﴾ **قال العلامة الشامی: لکن فی الخامس من جامع الفصولين عن الخانية: غاب المدعى عليه بعد ما برهن عليه او غاب الوکيل بعد قبول البينة قبل التعديل او مات الوکيل ثم عدلت تلک البينة لا يحکم بها وقال ابويوسف يحکم وهذا ارفق بالناس. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۴: ۳۷۳ مطلب فی القضاء علی الغائب)**

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: ښځه دې خپله مقدمه داسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی دنۀ موجود کیدوپه صورت کښې دمسلمانانو جماعت ته پیش کړی اوچاته چه پیش کړې شی هغه دشرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی اوکه دښځې دعوٰی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی نودهغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه ګنی مونږ به ئې درنه جدا کړو، که ددې نه پس هم دغه ظالم په دې صورت باندې عمل اونه کړی نو قاضی یا شرعاً چه څوك دهغۀ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړی په دې کښې دڅه مودې انتظار اومهلت ته په اتفاق د مالکیه ضرورت نشته.
(الحيلة الناجزه ۱۶۴ المرقومات للمظلومات حکم متعنت فی النفقة)

مترادف دي﴿۱﴾-وهو الموفق

د تعنت فی النفقة په وجه په مذهب غیرباندې فتوٰی او د قضاء علی الغائب حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه هنده ددې خاوند تر څلورو کالوپورې غیرآباده اوساتله اودخوړلو دپاره نه نان نفقه ورکوی نه ئې معاف کړه اونه ئې دې عرصه کښې دننه خبرواخستلو دهندې اقرباء اورشته دارو خاوند کافی پوهه کړواوډیرخطوط ئې ورله اولیږل چه هنده آباده کړه ګینې د خرچې دعوی به درباندې اولیکو ،لیکن خاوندهیڅ پرواونه کړه، آخر دهندې پلاردخاوند پلاربکرطرفته څوخطوط اولیکل اویورجسټری ئې وراولیګل چه زما دلورڅه انتظام اوکړه ګینې زه دتنسیخ نکاح دعوی کوم، چنانچه مجبورا عدالت سول جج دمسلمان په عدالت کښې هندې دتنسیخ نکاح دعوه اولیکله عدالت څوځله سمن رجسټرپه نوم دخاوندکوم چه دپلارسره اوسیږی ور او لیګله باوجوددعلم نه درجسټریانونه پټیږی اووده پلارلیکی چه فلان چک کښې اوسیږی لهذاواپس لاړشئی، په اخبارکښې نوټس جاری کړې شو لیکن عدالت ته حاضرنه شو ،بالآخره دخاوندپلارته ئې رجسټری اولیږله چه ته هلک عدالت ته حاضر کړه اویاپه خپله حاضرشه د مقدمې پیرداری اوکړه مګرپه دواړوکښې یوهم حاضرعدالت نه شو ،آخر عدالت دخاوندپه عدم موجودګۍ کښې دطلاق حکم ورکړو ،ایاشرعاهم داطلاق واقع کیږی؟آیا شرعی تقاضی په تقاضائې فقه حنفی په دې کښې پوره دې؟بینوا توجروا

المستفتی: محبوب الهی ساهیوال............ ۳۱۱۵۱۱۹۷۰ء

الجواب: په صورت مسئوله کښې دا ښځه مطلقه شویده دعدت دتیرولونه پس

﴿۱﴾ قال العلامة ابن قاضی سماونه: حکم القاضی بخلاف نص واجماع وهذا باطل فلکل من القضاة نقضه اذا رفع الیه ولیس لاحد ان یجیزه.
(جامع الفصولین ۲۴ الفصل الثانی فی القضاء فی المجتهد فیه)

بل ځائې کښې نکاح کولې شی په دې شرط چه ددې ښځې دنفقې څه انتظام نه وی یعنی نه ئې په خپله کولی شی اونه ئې بل څوک ذمه اخلی اویادنفقې انتظام ممکن وی لیکن بغیردخاوندنه دعصمت د(وقوع زنا)ویره موجود وی، دلیل ددې دادې چه دتعنت فی الفقه په وجه دامام مالک په نزدفسخ نکاح جائزدې﴿۱﴾ اوداحنافو په نزدپه مذهب غیرباندې قضاء اوفتوی دضرورت په وخت جائزده، صرح به فی ردالمحتارفی مواضع منها (۳:۴۵۶)﴿۲﴾اوقضاء علی الغائب هم عندالضرورت جائزدې، قال العلامة الشامی فی ردالمحتار ۴:۲۳۹

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: زوجه متعنت له اول لازم دی چه په څه طریقه خاوند سره خلع وغیره اوکړی لیکن که د ډیرکوشش باوجود هم څه صورت نه جوړ نه شی نود سختې مجبورئ په حالت کښې په مالکی مذهب باندې دعمل کولو ګنجائش شته ځکه چه ددوی په نزد زوجه متعنت ته د تفریق حق ملاویږی، اود سختې مجبورئ دوه صورته دی یودا چه دښځې دخرچ څه انتظام نه کیږی،.....او دویم داچه دخاوند نه جدا اوسیدو کښې په معصیت کښې د مبتلا کیدو قوی خطره وی.او صورت د تفریق دادې چه ښځه خپله مقدمه داسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی دنۀ موجود کیدوپه صورت کښې دمسلمانانو جماعت ته پیش کړی اوچاته چه پیش کړې شی هغه دشرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی اوکه دښځې دعوٰی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی نودهغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه ګنی مونږ به ئې درنه جدا کړو، که ددې نه پس هم دغه ظالم په دې صورت باندې عمل اونه کړی نو قاضی یا شرعاً چه څوک دهغۀ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړی.په دې کښې دڅه مودې انتظار اومهلت ته په اتفاق د مالکیه ضرورت نشته.
(الحیلة الناجزة ۱۶۴ حکم زوجه متعنت فی النفقة المرقومات للمظلومات)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله خلافا لمالک)...... لقول القهستانی لو افتیٰ به فی موضع الضرورة لا بأس به علی ما اظن قلت ونظیر هذه المسئلة عدة ممتدة الطهر التی بلغت برؤیة الدم ثلاثة ایام...... وعند مالک تنقضی عدتها بتسعة اشهر وقد قال فی البزازیة الفتویٰ فی زماننا علی قول مالک وقال الزاهدی کان بعض اصحابنا یفتون به للضرورة واعترضه فی النهر وغیره بانه لا داعی الی الافتاء بمذهب الغیر لا مکان الترافع الی مالکی یحکم بمذهبه وعلی ذلک مشی ابن وهبان فی منظومته هناک لکن قدمنا ان الکلام عند تحقق الضرورة حیث لم یوجد مالکی یحکم به. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳:۳۶۲ مطلب فی الافتاء بمذهب مالک فی زوجة المفقود)

فالظاهر عندی ان یتامل فی الوقائع ویحتاط ویلاحظ الحرج والضرورات فیفتی بحسبها جوازا وفسادا لخ ﴿۱﴾. وهو الموفق

د باقاعده آبادئ په صورت کښې د طلاق ورکولو نه بغیر په تنسیخ نکاح باندې ډګرې د کارنه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زمونږ یو دوست د لور واده پنځه کاله مخکښې په پاکستان کښې شوي دې دواده نه پس دښځې او خاوند جهګړه اوشوه جینئ هالینډ ته دوالدینو خواته راغله، ددې ځائې نه په لاهور کورټ کښې په ذریعه دوکیل د طلاق مطالبه اوشوه کیس اوس هم چلیږی. جینئ دڅلورو کالونه په هالینډ کښې ده دلته ددې بچی هم پیدا شو اوس دا جینئ دویم ځائې کښې واده کول غواړی لیکن هغې ته طلاق نه دې ملاؤ شوې. ایا شرعاً دیته د جواز ګنجائش دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد طارق خان هالینډ............ ۱۹۷۴ء/۱۱/۱۲

الجواب: که چرې ددې ښځې خاوند دا ښځه باقاعده آباده ساتله په حقوق کښې دڅه شی مرتکب نه وو نو بیا ددې باوجود دښځې او خاوند په مینځ کښې د نالګئ په صورت کښې دخاوند د طرف نه باقاعده د طلاق نه بغیر ښځه نه شی آزادیدلې، او په داسې صورت کښې دعدالت نه تنسیخ نکاح ډګرې حاصلولو سره هم ښځه نه آزادیږی﴿۲﴾ پس په صورت مسئوله کښې دحالات مسطورو

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۴: ۳۷۷ قبیل مطلب فی القضاء علی المسخر)

﴿۲﴾ قال الشیخ شمس الحق الافغانی: حکم القاضی علی خلاف النص کالحکم بحل متروک التسمیة عمدا او علی خلاف السنة المشهورة کالحکم بتحلیل المطلقة ثلاثا بمجرد عقد المحلل بلا دخول او علی خلاف الاجماع کالحکم بصحة نکاح المتعة باطل ولکل قاض نقضه اذا رفع الیه.

(معین القضاة والمفتیین ۶۸ الفصل السادس فی اقسام القضاء)

مطابق دا ښځه تراوسه پورې آزاده نه ده ددې دخاوند سره چه رابطه قائمه شی د طلاق اچولو نه پس به دا ښځه آزاده شی﴿۱﴾- وهو الموفق

مجبوره ښځه اولاً مصالحت ثانیاً خلع او په آخر کښې د تنسیخ نکاح مطالبه کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوه ښځه چه دڅو بچو مورده خاوند هغه اوس په کور کښې نه اوسوی او دکورنه ئې ویستې ده ددې تقریباً دوو کالونه زیات موده شوې ده چه دوالدینو په کور کښې کښې ده او خاوند نان نفقه هم نه ورکوی ددې څه حل دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد فرید عباسی مری....... ۱۹۷۸ء/۱۰/۱۲

الجواب: اول ددې زوجینو په درمیان کښې د مصالحت کوشش دې اوکړې شی، ثانیاً په خلع باندې راضی کړئ او که چرې دا دواړه کارونه ناممکن وی نو بیا کوم مسلمان حاکم یا د مسلمان نیک او دصلحاء د جماعت په واسطه دې تنسیخ نکاح اوکړې شی (از حیله ناجزه)﴿۲﴾- وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: اوچرته چه مسلمان حاکم موجود نه وی یا مسلمان حاکم ته په عدالت کښې د مقدمې اوړلو قانوناً اختیار نه وی یا مسلمان حاکم د شرعی قواعدو مطابق فیصله نه کوی نو په دې صورت کښې دفقه حنفی مطابق خو دښځې جدا کولو دپاره دخاوند د طلاق وغیره نه بغیر هیڅ صورت نشته. او ممکن حده پورې لازم ده چه دخلع وغیره کوشش اوکړی. (الحیلة الناجزه ۳۴ جماعت مسلمین کاحکم)

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: زوجه متعنت له اول لازم دی چه په څه طریقه خاوند سره خلع وغیره اوکړی لیکن که د ډیر کوشش باوجود هم څه صورت نه جوړ نه شی نو د سختې مجبورئ په حالت کښې په مالکی مذهب باندې دعمل کولو ګنجائش شته ځکه چه ددوی په نزد زوجه متعنت ته د تفریق حق ملاویږی. او د سختې مجبورئ دوه صورته دی..... صورت د تفریق دادې چه ښځه خپله مقدمه د اسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی دنه موجود کیدو په صورت کښې د مسلمانانو جماعت ته پیش کړی او چاته چه پیش کړې شی هغه د شرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی او که دښځې دعوٰی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی.......... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

صرف د مهر نه ورکولو په وجه باندې تنسیخ نکاح نه کیږي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوې ښځې په عدالت حاضره کښې دمهردعوی اوکړه چه ماته دې خاوند مهر راکړي، خاوند په عدالت کښې حاضرنه شوعدالت تنسیخ نکاح اوکړه، ایاداښځه اوس بل ځائې کښې نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی دواخانه اندرون مهربان ګیټ بنوں...... ۲۹۱۸۱ء۱۹۸۵

الجواب: په ظاهره دا تنسیخ نکاح قانونی تنسیخ دې نه اسلامی، نکاح دڅه د ماشومانو لوبې نه دی چه په هرعلت سره ختمیږي﴿۱﴾-وهوالموفق

د خاوند اراده د قتل او نفقه نه ورکولو په صورت کښې د تنسیخ یا د خلع حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زید هندې سره نکاح اوکړه، دزید سره ئې وخت تیرکړولیکن دبلوغه پورې نه وه رسیدلې، یوه ورځ زیدمورد کورنه دبوتلوپه بهانه په لاره کښې ددې دقتل په اراده باندې په ټوپک ډزې اوکړې اواوتختیدو، ښځه زخمی شوه اوپلارکورکښې اوسیږي علاج ئې کولوپنځلس کاله تیرشول اوخاوند په دې موده کښې تپوس اونه کړو، نوپه دې عمل طلاق واقع کیږي اوکه نه؟ اودویم ځائې کښې واده کولې

(بقیه حاشیه)......نودغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه ګنې مونږ به ئې درنه جدا کړو، که ددې نه پس هم دغه ظالم په دې صورت باندې عمل اونه کړي نوقاضی یاشرعاًچه څوک دهغهٔ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړي په دې کښې دڅه مودې انتظار اومهلت ته په اتفاق د مالکیه ضرورت نشته.
(الحیلة الناجزه ۷۳ حکم زوجه متعنت)

﴿۱﴾ قال العلامة شمس الحق الافغانی: الاعسار بالصداق یوجب التخیر اذا لم یدخل بها وبه قال الشافعی ومالک، وقال ابو حنیفة هو غریم من الغرما لا یفرق بینهما، واما الاعسار بالنفقة فقال مالک والشافعی واحمد یفرق بینهما وقال ابو حنیفة لا، کما فی بدایة المجتهد.
(معین القضاة والمفتین ۸۹ الفصل الرابع عشر فی زوجة المفقود والمجنون وغیره)

شی اوکه نه؟ که چرې نه ئې شی کولې نودخلاصی څه صورت دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: خائسته رحمن...... ۲۰۱۴۱ء۱۹۷۴

الجواب: قتل اودقتل اراده اونفقه نه ورکول ټول په ټول حرام اوناجائزدی لیکن دې سره ښځه نه طلاقیږي﴿۱﴾ لهٰذا طلاق یاخلع یادمسلمان حاکم تنسیخ نکاح نه وړاندې داښځه بل ځائې کښې نکاح نه شی کولې﴿۲﴾-وهوالموفق

د عجزعن النفقه وغیره په وجه باندې د جرګې فیصله دتنسیخ نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه تنسیخ نکاح د لاندینو بیاناتوپه روشنئ کښې شوې ده ایاشرعاًدا تسلیم دې؟ بیانات دادی.

بیان مدعیه:...... زه فلانه ولدفلان قوم فلان تحصیل بهکرمیاں والی دعوی کوم چه درې څلورکالونه پیغله شوې یم مسمیٰ فلان ولدفلان سره ځما پلار ځما نکاح کړې وه، هغه په وخت دنکاح اواوس هم نابالغ دې د حقوق زوجیت اوواده کولوپه مذکورکښې صلاحیت نشته دې هغه په خپله اونه ئې پلار آئنده دواده کولواراده ساتی، ځمادنان نفقې اودزندګئ دضروریاتوخرچه ورکولونه هم دهلک والداوهلک انکاری دې زه په خپله هم دزندګئ د ضروریاتو متکفل نه یم ځکه چه ځماپلاروفات شوې دې لهٰذاجرګه کوم چه په یولسو کالوباندې مشتمل ده استدعاکوی چه ناکح اودده پلارځمادنان او نفقه قطعاانتظام نه شی کولې مجبوراجرګه مذکورحکم تسلیم کوم چه زما نکاح فسخ کړي.

دستخط اودګوتې نشان

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ورکنه لفظ مخصوص خال عن الاستثناء طلقة الخ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۵۳ کتاب الطلاق)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: لا یجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذلک المعتدة کذافی السراج الوهاج. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۸۰ القسم السادس المحرمات التی یتعلق بها حق الغیر)

پنځم ټوک 35

بیان والد مدعاعلیه.......مسماه فلانه په ما باندې اوزمانابالغ ځوې مسمی فلان والالفظ په لفظ ماوروُلي ده دمسماه فلانې باندې چه دعوه کیرېده جرګې دعوی بلکل صحیح ده زه خپل ځوئ ته نه واده کوم اونه دنان نفقې (تربلوغ هلک) په وجه اوچتوم نه هلک په خپله دنان نفقې کفیل کیدی شی لهذا دفسخ نکاح کومه فیصله چه جرګه اوکړی نوهغه ماته په حیثیت دمتولی منظورده.

دستخط د پلاراو ځوی

المستفتی: شیرعباس اعوان کلورکوټ میان والی........ ٣٠١٣١٤١٩٧٠

الجواب: چونکه د شوافع اوحنابله وغیره په نزدعجز عن النفقه په وجه فسخ نکاح صحیح ده اوفقهاء احناف دضرورت په وخت کښې په مذهب غیر فتوی ورکول جائزګرزؤلي دی ﴿١﴾ لهذاکه چرې ددې ښځې دنفقې څه انتظام نه وی اونه ئې څوک ذمه اخلی نوپه دې صورت کښې دمسلمان جج په ذریعې سره فسخ نکاح فیصله حاصلول جائزدې. یعنی حاکم دتحقیق نه پس دافیصله اوکړی چه ماستانکاح فسخه کړه صرف اختیاراومرضی باندې به ئې نه پرېږدی اوداهم جائزده چه مقامی بااثرعلماء اوغیرعلماء (چیرمین ممبران) د تحقیق نه پس که چرې دافیصله اوکړی چه مونږ دانکاح فسخه کړه نوداهم کافی ده﴿٢﴾-وهوالموفق

﴿١﴾قال الشیخ شمس الحق الافغانی: طریق تطلیق زوجة المفقود او الغائب الذی تعذر الارسال الیه او ارسل الیه فتعاند لعدم النفقة فان الزوجة تثبت بشاهدین ان فلانا زوجها وغاب عنها ولم یترک لها نفقة ولا وکیلا بها ولا اسقطتها عنه وتحلف علی ذلک فیقول الحاکم فسخت النکاح او طلقتک منه او یأمرها بذلک ثم یحکم به وهذا بعد التلوم بنحو شهر او باجتهاده عند المالکیة او فورا او متراخیا عند الحنابلة.

(معین القضاة والمفتین ٨٩ الفصل الرابع عشر فی زوجة المفقود وغیره)

﴿٢﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: زوجه متعنت له اول لازم دی چه په څه طریقه خاوند سره خلع وغیره اوکړی لیکن که د ډیرکوشش باوجود هم څه صورت نه جوړ نه شی نو د سختې مجبورئ په حالت کښې په........(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ښځه د مجبورئ په وجه باندې تنسیخ نکاح کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوه جینئ کومه چه عیسائی مذهب کښې وه د کومې نوم چه مارګریټ وو هغه جینئ ځوانه شوه مسلمانه شوه اودیومسلمان کس سره ئې نکاح اوکړه ددې نوم بشیره بی بی کیخودلې شو. دخاوند سره څلورکاله وه. څلورکاله پس خاوندهغه دکورنه ویسته نه نان نفقه ورکوی اونه ورسره څه تعلقات ساتی تقریبادوه څلورځله په جرګه امام صاحب اودوه څلورکسان دده خواته لاړل چه خپله ښځه بشیره بی بی ځان سره اوساته اویاخرچه ورکوه. لیکن خاوندوائی چه نه داکورکښې پرېږدم اونه خرچه ورکوم اونه دیته طلاق ورکوم اوس ددې مسئلې شرعی حل څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمداکبراسلام آباد

الجواب: داجینئ مسلمان حاکم یاباآثرجمعیت د مسلمانان په کوم چه اکثریت علماء وی. په ذریعه فسخ نکاح حاصلولې شی اوددګرئ نه پس کله چه عدت تیرشی نوبل ځائې کښې نکاح کولې شی (هکذافی الحیلة الناجزه)﴿١﴾وهوالموفق

(بقیه حاشیه)... مالکی مذهب باندې دعمل کولو ګنجائش شته څکه چه ددوی په نزد زوجه متعنت ته د تفریق حق ملاویږی... اوصورت د تفریق دادې چه ښځه خپله مقدمه داسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی دنۀ موجود کیدوپه صورت کښې دمسلمانانو جماعت ته پیش کړی اوچاته چه پیش کړې شی هغه دشرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی اوکه دښځې دعوی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی نودهغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه ګنې مونږ به ئې درنه جدا کړو. که ددې نه پس هم دغه ظالم په دې صورت باندې عمل اونه کړی نوقاضی یاشرعاً چه څوك دهغۀ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړی په دې کښې دڅه مودې انتظار اومهلت ته په اتفاق د مالکیه ضرورت نشته (الحیلة الناجزة ١٦٤ حکم زوجه متعنت فی النفقة)

﴿١﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: اوصورت د تفریق دادې چه ښځه خپله مقدمه داسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی........(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مجبوره ښځه باقاعده د مسلمان جج په ذریعه تنسیخ نکاح کولې شي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوښځه دکومې نکاح چه دیو کس سره شوې وولیکن یولس کالوپورې خاوند تعلقات منقطع کړی اوبیادویمه نکاح اوکړی اوس دقرآن اوحدیث په روشنئ کښې ددې مجبوره ښځې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد اسلم پنډ گهیپ اټک...... ۹۱۱۱،۱۹۹۱

الجواب: کومه ښځه چه خاوندنه ابادوی اونه ئې ازادوی نوداسې مجبوره ښځه په ذریعه دمسلمان جج تنسیخ نکاح کولې شی اوعدت تیریدلونه پس بل ځائې کښې نکاح کولې شی (والتفصیل فی الحیلة الناجزه) ﴿۱﴾. وهوالموفق

(بقیه حاشیه)..... دنۀ موجود کیدوپه صورت کښې دمسلمانانو جماعت ته پیش کړی اوچاته چه پیش کړې شی هغه دشرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی اوکه دښځې دعوٰی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی نودهغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه گنی مونږ به ئې درنه جدا کړو، که ددې نه پس هم دغه ظالم په دې صورت باندې عمل اونه کړی نوقاضی یاشرعاً چه څوك دهغۀ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړی.په دې کښې دڅه مودې انتظار اومهلت ته په اتفاق د مالکیه ضرورت نشته.(الحیلة الناجزة ۱٦٤ حکم زوجه متعنت فی النفقة)

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: زوجه متعنت له اول لازم دی چه په څه طریقه خاوند سره خلع وغیره اوکړی لیکن که د ډیر کوشش باوجود هم څه صورت نه جوړ نه شی نود سختې مجبورئ په حالت کښې په مالکی مذهب باندې دعمل کولو گنجائش شته ځکه چه ددوی په نزد زوجه متعنت ته د تفریق حق ملاویږی،اود سختې مجبورئ دوه صورته دی یودا چه دښځې دخرچ څه انتظام نه کیږی،.....او دویم داچه دخاوند نه جدا اوسیدو کښې په معصیت کښې د مبتلا کیدو قوی خطره وی.او صورت د تفریق دادې چه ښځه خپله مقدمه داسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی دنۀ موجود کیدوپه صورت کښې دمسلمانانو جماعت ته پیش کړی اوچاته چه پیش کړې شی هغه دشرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی اوکه دښځې دعوٰی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی نودهغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه گنی مونږ به ئې درنه جدا کړو،.............(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دغلط تنسیخ نکاح نه پس ددویم وادۀ دوجې نه دطعن اوبائیکاټ مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه تقریبا ۱۹۳۹ء کښې د زینب خاوند دقتل عمد په جرم کښې دعمرقید سزاتورې اوبه شو، زینب مذکوره دسول جج په په عدالت کښې دتنسیخ نکاح دعوی اوکړه،جج د یو طرفه کاروائی لاندې نکاح فسخه کړه اوښځې دویمه نکاح اوکړله، علماء کرامو داتنسیخ ناجائزاوگرزؤلو اودنوی خاوند مثلازید نه ئې دبائیکاټ حکم اوکړو بلکه بعض علماء په خپله فتوی کښې کافرهم کړو (چه حرام ته حلال وائی) څو میاشتې اوشوې چه زید مړشو،اوعام خلق دعلماء د بائیکاټ دوجې نه ډیرکم تعدادباندې په جنازه کښې شریک شواوحال دا دې چه زید په ژوند کښې داول خاوند درهائې نه پس په دې کښې هرقسمه کوششونه اوکړل چه هغه خلع اوکړی یاطلاق علی المال ورکړی لیکن هغه او نه منله،دده دوفات نه پس ددې ښځې بچوهم کوشش اوکړومگرهغه په ضددې اوس دتپوس دا دې چه په زینب باندې طعن کول،ددې نه بائیکاټ کول،ددې دمرگ په صورت کښې عوامو ته ددې په جنازه شرکت نه کول وغیره څه حکم دې؟بینوا توجروا

المستفتی:مولاناعبدالسلام مدرسه اشاعت القرآن حضرو ۱۳شعبان ۱٤۰۲ھ

الجواب: واضحه دې وی دعصمت دخوف په صورت کښې دمسلمان حاکم تنسیخ نکاح نافذ او منظوریږی ﴿۱﴾ همدارنگه واضحه دې وی چه بغیر د

(بقیه حاشیه)..... که ددې نه پس هم دغه ظالم په دې صورت باندې عمل اونه کړی نو قاضی یا شرعاً چه څوك دهغۀ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړی.په دې کښې دڅه مودې انتظار اومهلت ته په اتفاق د مالکیه ضرورت نشته.للروایة الثالثة والعشرین من الفتوٰی للعلامة سعید بن صدیق.(الحیلة الناجزة ۷٤ حکم زوجه متعنت)

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: زوجه متعنت له اول لازم دی چه په څه طریقه خاوند سره خلع وغیره اوکړی لیکن که د ډیر کوشش باوجود هم څه صورت نه جوړ نه شی نود سختې مجبورئ په حالت کښې په مالکی مذهب باندې دعمل کولو گنجائش شته ځکه چه ددوی په نزد زوجه متعنت ته د تفریق حق ملاویږی،اود سختې مجبورئ دوه صورته دی یودا چه دښځې دخرچ څه...(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ضرورت نه تنسیخ نکاح نامنظوره وی. خو بیاهم ددویم خاوند دوفات دوجې نه اصرار گناه ختم شو اودهرې گناه نه پس توبه منظورده. لمافی الحدیث: التائب من الذنب کمن لاذنب له(الحدیث)﴿۱﴾بس بهرحال په صورت مسئوله کښې بائیکاټ ختمول پکاردی. وهوالموفق

په رسم سوره کښې د نابالغو جینکو د ورکولو صورت کښې د حق تنسیخ نکاح او د خیار مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه په دووقبیلو کښې جهګړه وه په مینځ کښې جنګونه اوشول اوپه دې جنګ کښې... دخیل څه کسان زخمی شول څه ورځې پس صلح اوشوه اوپه صلح کښې دافیصله اوشوه چه..... چه خیل دې لس زره روپۍ اودوه جینکۍ ورکړی دوئ داسی اوکړل لیکن دجینکو خاوندنامعلوم وودمهرذکرهم نه ووشوې والدین په دې باندې هرګز راضی نه وو. څه زمانه پس په فیصله کښې خلل پیداشولو.... خیل درې جینکۍ نورې ورکړې. دلته هم دجینکو پلاران موجودنه وو. داهم یادساته چه دا ټولې جینکۍ نابالغې وې اوس سوال دادې چه ایا داجینکۍ تنسیخ نکاح کولې شی اوکه نه؟ لیکن داهم اندیښنه ده چه کله داجینکۍ بالغې شی نو د نورو سره به اوتختی؟ براه کرم زرنه زرددې مسئلې وضاحت اوفرمایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: پیرعبدالرزاق مالی باغ کوئټه بلوچستان..... ۱۹۸۴ء۱۵۱۹

الجواب: په صورت مسئوله کښې داجینکۍ دخیاربلوغ په وجه باندې باقاعده تنسیخ نکاح کولې شی. لان العاقدهٰهناغیرالاب والجد﴿۲﴾وعلی تقدیر کون غیر

(بقیه حاشیه)...انتظام نه کیږی. اونه پخپله د کار کسب طاقت لرلې شی. او دویم صورت د مجبورئ داچه اګرچه په سهولت یا په مشکله د خرچ انتظام کیدې شی لیکن دخاوند نه جدا اوسیدو کښې په معصیت کښې د مبتلا کیدو قوی خطره وی.

(الحیلة الناجزة ۷۳ حکم زوجه متعنت)

﴿۱﴾(رواه ابن ماجه والبیهقی فی شعب الایمان مشکواة المصابیح ۱:۲۰۶ باب الاستغفار والتوبة)

﴿۲﴾وفی الهندیة: وان زوجها غیر الاب والجد فلکل واحدٍ منهما الخیار اذا بلغ ان شاء اقام علی النکاح وان شاء فسخ وهذا عند ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالیٰ ویشترط فیه القضاء. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

الاب عاقدا کونه معروفابسوء الاختیارمانع من لزوم النکاح﴿۱﴾واعلم ان انکارالآباء علی نکاح بناتهم الغیر البالغات یفسخ به النکاح الموقوف﴿۲﴾. وهوالموفق

د بلوغ نه پس د جج د تنسیخ نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زیددخپلې نابالغې خور واده دبکرسره اوکړو. دبکرپلارعمردخپلې لورزینب نکاح دخالد سره اوکړو دزیدچه کشرروردې هغه سره ئې په نکاح کړه. یعنی دتبادلې اوشغار نکاح شوه. هنده نابالغه اووړه ده دکوم چه رخصتی نه ده شوې اودویم ځائې کښې زینب یعنی دعمرلور کومه چه بالغه وه ددې رخصتی شوې وه. بیا څو کالونه پس عمرخپله لورزینب دهوکه کړه اودخاوند دکوردا وسیدو نه انکاری کړه زینب دخاوند کورپریخودو اودوالد سره اوسیده. ډیره موده پس ئې دتنسیخ نکاح اوکړه اودخالد دطرفنه جج زینب ته طلاق ورکړو اودبکرښځې هندې ته جج طلاق ورکړو. ددې تنسیخ نکاح شرعی حیثیت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګل منان کرک........ ۱۹۹۰ء۱۷۱۲۴

الجواب: که چرې داخاوند دا ښځه آبادوله اوکولې هم شوه نودمسلمان جج دا

﴿۱﴾قال العلامة الشامی: والحاصل ان المانع هو کون الاب مشهورا بسوء الاختیار قبل العقد فاذا لم یکن مشهورا بذلک ثم تزوج بنته من فاسق صح وان تحقق بذلک انه سیئ الاختیار واشتهر به عند الناس فلو زوج بنتا اخریٰ من فاسق لم یصح الثانی لانه کان مشهورا بسوء الاختیار قبله بخلاف العقد الاول لعدم وجود المانع قبله.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۳۰ باب الولی)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین: (والا الخ) ای وان لم یستووا فی الدرجة وقد رضی الابعد فللاقرب الاعتراض بحر عن الفتح وغیره.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۲۳ باب الولی)

تنسيخ نكاح صرف قانوني تنسيخ دي شرعي نه دي﴿۱﴾او كه چرې دي منكوحې دعلم بلوغ نه پس متصل په دې نكاح باندې دناراضګئ اظهار كړې وى نو حاكم ددې تنسيخ نكاح كولې شي ګينې نشي كولې﴿۲﴾وهو الموفق

د سيئ الاختيار نيكه او د عدالت د يو طرفه تنسيخ نكاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين ددې مسئلې په باره كښې چه نيكه دخپلې نمسئ رشته په وخت دپيدائش كښې وكړله ليكن دجينئ پلار راضي نه وو .درې كالو پورې رشته په خپل ځائې وه او بيا دجينئ والد وفات شو .دوالد دوفات نه پس په فريقينو كښې جهګړې شروع شوې .نيكه چه ئې كوم ځائې كښې رشته وركړې وه هغه انكار او كړو او فوراً ئې دنمسئ نكاح دخپل نمسي سره او كړه ددې دپاره چه هرخاص اوعام ته پته اولګی چه رشته ختمه شوه نوسې ئې په وخت دنكاح كښې نابالغه وو .دجينئ دطرفنه نيكه ايجاب او قبول او كړو كومه چه ددې نمسي په نامه (كويژدن) وه .اوس مسئله داده چه د نابالغه جينئ نكاح ددې پلار يا نيكه او كړې نو دې ته خيار بلوغ نه وى .مګر چه نيكه يا پلار په سيئ الاختيار كيدل ثابت شى .نو ايا په دې صورت كښې چه د نابالغه نمسئ نكاح د نوسى سره ئې او كړه .بيا څه وخت پس دنمسي دتره لور سره ئې نكاح او كړه آيا د نمسئ سره زياتې نه دې كه چرې داسيئ الاختيار نه وى نو دائې ولې كول چه هغه رشته دنمسئ دپاره بهتره نه وه مزيد تحقيق دادې چه جينئ مجبوره شوه عدالت ته لاړه .هغه په عدالت كښې حاضر نه شو عدالت يو نيم كال پس يو طرفه فيصله دجينئ په حق كښې او كړه .اوس ددې حالاتو پيش نظر جينئ خيار بلوغ

﴿۱﴾ قال العلامة شمس الحق الافغاني: حكم القاضي على خلاف النص...... او على خلاف السنة المشهورة...... او على خلاف الاجماع...... باطل ولكل قاض نقضه اذا رفع اليه.
(معين القضاة والمفتيين ۶۸ الفصل السادس فى اقسام القضاء وما يرد منها)

﴿۲﴾ قال الحصكفي: ولكن لهما اى لصغير وصغيرة خيار الفسخ ولو بعد الدخول بالبلوغ او العلم بالنكاح بعد...... بشرط القضاء للفسخ.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۳۲ باب الولى)

حاصلولې شي او عدالتي فيصله شرعاً جائزه ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: مشتاق احمد سنګهوئي جهلم......... ۱۳/۱۰/۱۹۷۲ء

الجواب: كه چرې داكس (زوج) دا جينئ باقاعده نه آبادوى او نه ئې ازادوى او په دې بناء باندې حاكم مسلمان فسخ نكاح د (طلاق) فيصله كړې وى نو شرعًا دا جينئ آزاده شوې ده، بل ځائې كښې نكاح كولې شى﴿۱﴾ او كه چرې دا تنسيخ د خيار بلوغ په بناء باندې شوې وى نو دنيكه سيئ الاختيار د غير معروف كيدلو په وجه نامنظوره ده ځكه چه نه د نوسې سره نكاح عقد كولو كښې څه سوء الاختيار موجود دې او نه ئې سابق نكاح كښې سوء الاختيار معلوم دى. فى ردالمحتار ۲: ۴۱۸: والحاصل ان المانع هو كون الاب مشهورا بسوء الاختيار قبل العقد فاذا لم يكن مشهورا بذلك ثم زوج بنته من فاسق صح الخ﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ وفى الحيلة الناجزة: زوجه متعنت له اول لازم دى چه په څه طريقه خاوند سره خلع وغيره اوكړى ليكن كه د ډير كوشش باوجود هم څه صورت نه جوړ نه شى نو سختې مجبورئ په حالت كښې په مالكى مذهب باندې دعمل كولو ګنجائش شته ځكه چه ددوى په نزد زوجه متعنت ته د تفريق حق ملاويږى، او صورت د تفريق دادې چه ښځه خپله مقدمه د اسلام قاضى يا مسلمان حاكم ته اوددوى دنه موجود كيدو په صورت كښې دمسلمانانو جماعت ته پيش كړى او چاته چه پيش كړې شى هغه د شرعى شهادت وغيره ذريعې سره د معاملې پوره تحقيق اوكړى او كه دښځې دعوى صحيح ثابته شى چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه وركوى نو دهغې خاوند ته دې او وئيلې شى چه دخپلې ښځې حقوق اداكړه يا طلاق وركړه ګني مونږ به ئې درنه جدا كړو، كه ددې نه پس هم دغه ظالم په څه صورت باندې عمل اونه كړى نو قاضى يا شرعاً چه څوك دهغه قائم مقام وى طلاق دې واقع كړى په دې كښې دڅه مودې انتظار او مهلت ته په اتفاق د مالكيه ضرورت نشته.
(الحيلة الناجزه ۱۶۳ المرقومات للمظلومات حكم زوجه متعنت فى النفقة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۳۰ قبيل مطلب مهم هل للعصبة تزويج باب الولى)

د پلار دوکیل کړې د نکاح په وجې سره جینۍ

ته د خیاربلوغ او د تنسیخ حق حاصل دي

سوال: څه فرمائي علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زید په یوناحقه قتل کیس کښې ګرفتارشو په کوم کښې چه څلورواقعي قاتلان اوزیدهسې هم بدنام وو. بالآخر دملزمانو ورثاء دمقتول دوارثانو سره صلح او کړه. په صلح کښې دقاتلینو ورثه ددرې جینکو رشتې او څلورزره روپۍ باندې رضامند شول. درې دتی ماشومانو جینکو عقدنکاح ئې او کړه اوورئې کړلې د زید د لورنکاح دهغه پنځه دیرش کالوعمرکس سره او کړې شوه کوم چه دمقتول روراولوفر کس وودزید په اجازت باندې عقدنکاح او کړي شوورو سته پنځو ملزمانوته د سزائې موت حکم واورولې شو. څلورزره روپۍ خوثالث دورکولونه انکار او کړو چه تادهو که کړیده لهذادمقتول وارثان حقدارنه دی لیکن عقد خو وړاندې شوي وؤ. اوس لس پنځلس کاله پس دزیدلورځوانه شوله نوهغې دخپل عقددتنسیخ اعلان او کړو. اوس شرعی طورباندې مسئله پکارده چه پلارئې کله دمرګ اوژوند کشمکش کښې مبتلاء وو اود دښمن په کورکښې د تی دماشومې جینئې عقداوکړوبله داچه یولوفر اوپه عمرکښې ددمره غټ تضاد باوجودصرف دخپل ځان دخلاصولودپاره اوددې مظلومې جینۍ به هلته ذلت اوخواری نصیب شي ایاشرعاداعقددرست دې؟ آیا داجینۍ بل ځائې کښې دعقدکولواوزندګې تیرولومجازده؟ ایا په پلار باندې په دې صورة کښې د سوء الاختیارمسئله نه جاری کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: خدابخش سرګودها.........۲۷۱۹۱،۱۹۶۹

الجواب: چونکه داعقددپلاروکیل کړي دې اوپلارپه خپله نه دې کړې لهذا د خیاربلوغ په وجه سره حاکم(مسلمان)ددې نکاح تنسیخ کولې شی اوددې نه پس بل ځائې کښې نکاح کولې شی. فی الدرالمختار: وان کان المزوج غیرهما ای غیرالاب وجده ولوالام اوالقاضی اووکیل الاب.......لایصح النکاح من غیر

کفؤ......وبمهرالمثل صح، ولکن لهماای لصغیر وصغیرة خیارالفسخ ولوبعد الدخول بشرط القضاء للفسخ انتهی مختصرا(۱)وهکذا فی کتب الفروع.

نوټ:......چونکه دانکاح ددفع دفتنې دپاره دې لهذاددې وجې نه پلارسیئ الاختیارنه جوړیږی(۲)-وهوالموفق

د عاقلې بالغې نکاح کښې د والدینو د عدم موجودګئ

په بناء باندې د عدالت د تنسیخ نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې که دجینئ اوددې د والدینو اوقریبی رشته دارانو په رضامندئې اودګواهانو په موجودګئې کښې په حکم دوالدجرګې ته دنکاح کولو داجازت باوجودکه چرې اوس والدین دا اعتراض اوکړی چه دانکاح زمونږ په عدم موجودګئ کښې شوي ده نوایاددې وجې نه په عدالت عالیه کښې دتنسیخ نکاح شرعی لحاظ سره حق رسیږی؟

---

(۱)(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۳۱،۳۳۲ مطلب مهم هل للعصبة تزویج الصغیر امرأة غیر کفئ له)

(۲)قال العلامة ابن عابدین: ان المانع هو کون الاب مشهورا بسوء الاختیار قبل العقد فاذا لم یکن مشهورابذلک ثم زوج بنته من فاسق صح وان تحقق بذلک انه سیئ الاختیار واشتهر به عند الناس فلو زوج بنتا اخری من فاسق لم یصح الثانی لانه کان مشهورا بسوء الاختیار قبله بخلاف العقد الاول لعدم وجود المانع قبله...... قلت ومقتضی التعلیل ان السکران او المعروف بسوء الاختیار لوزوجها من کفئ بمهر المثل صح لعدم الضرر المحض ومعنی قوله والظاهر من حال الصاحی انه یتأمل ای انه لو فور شفقته بالابوة لا یزوج بنته من غیر کفئ او بغبن فاحش الا لمصلحة تزید علی هذا الضرر کعلمه بحسن العشرة معها وقلة الاذی ونحو ذلک الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۳۰،۳۳۱ قبیل مطلب مهم هل للعصبة تزویج الصغیر)

چه هر کله ئې دګواهانوپه مخامخ ئې ددووکنالوزمکې مهرهم مقرر کړې وو، همدارنګه دجینۍ عمرکاغذی اوډاکټری دواړو لحاظ سره تقریباًاتلس کاله وو؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمدروشن کوکاروی.........۱۹۷۳ء

الجواب: دعاقلې بالغې په خپله مرضۍ نکاح کول نافذاولازم ناقابل تنسیخ دي، اګرچه والدین راضی نه وی.فی الهندية ۱:۳۰۵ نفذنکاح حرة مكلفة بلاولی عندابی حنيفة وابی يوسف رحمهماالله تعالى كذافی التبين﴿۱﴾وفی الهندية ۲۹۳:۲ وينعقد نكاح الحرة العاقلة البالغة برضائهاوان لم يعقد عليها ولی الخ﴿۲﴾ والمسئلة واضحة.وهوالموفق

د صغیرې د پلار د فسخ نکاح د اختیار په باره کښې د حیله ناجزه د عبارة وضاحت

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه حیلة الناجزه ۱۴۸ باندې خزانة المفتيين په حواله لیکلې دي چه..دصغیرې پلارته دنکاح فسخ کولو اختیارشته دې کله چه دته معلومه شی چه هغه نان نفقه اود مهر معجل ورکولونه قاصردې یادته یعنې پلارته ددې ګمان اوشی چه هغه به قاصروی دنان نفقې اومعجل نه..اوس ددې فسخ کولو دپاره به پلار ازروئ شرع کوم طریقه اختیاروی دجواب نه موخبر کړې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولاناحافظ ګل رحیم جامع مسجداډه ضلع صوابی ۱۹۷۴ء۵\۱۵\۵

الجواب: ددې مقصد دادې چه والد دحاکم یادجماعت علماء په وساطت سره نکاح باقاعده فسخ کولې شی په خپله ئې نه شی کولې﴿۳﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۲﴾(هدایه ۲:۲۹۳ باب فی الاولیاء والاکفاء)

﴿۳﴾☆وفی الهندیة: ولا یکون التفریق بذلک الا عند القاضی اما بدون فسخ القاضی فلا ینفسخ النکاح بینهما وتکون هذه فرقة بغیر طلاق حتی......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د والدینو د نابالغو کړې شوې نکاح ناقابل فسخ دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیونابالغې جینۍ نکاح ددې پلاردیونابالغه هلک سره اوکړی،دهلک اوجینۍ دطرفنه ایجاب او قبول ددواړووالدین اوکړی،اوس ددواړووالدین غواړی چه دانکاح باقی پاتې نه شی،هلک اوجینۍ اوسه پورې نابالغ دې ایاپه دې صورت کښې د هلک پلارته داحق حاصل دې چه دخپل نابالغ ځوئ د طرفنه نابالغه جینۍ ته طلاق ورکړی یائې فسخ کړی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحیم پیش امام مسجدمیان خانی مایارمردان ۱۹۷۳ء۳۱\۲۶\۲

الجواب: دانکاح دفسخ قابله نه ده.فی الهندية(۱:۳۷۶)لايقع طلاق الصبی وان كان يعقل﴿۱﴾وفيها ايضا(۱:۵۲۹)اذاخالع الاب على ابنه الصغير لايصح ولا يتوقف على اجازته كذافی فتاوی قاضی خان﴿۲﴾وفی ردالمحتار(۲:۵۸۵)قوله الطلاق لمن اخذبالساق كناية عن ملك المتعة انتهى﴿۳﴾ولاملك للاب، فافهم. وهوالموفق

(بقیه حاشیه) لو لم یکن الزوج دخل بها فلا شیئ لها من المهر. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۹۲ الباب الخامس فی الاکفاء)

:: وفی الحیلة الناجزة: په دې ټولو صورتونو کښې دښځې خلاصولو دپاره شرعی صورتونه جدا جدا دی چه دا به تفصیل سره لیکلې شی لیکن په دغه ټولو کښې دا خبره مشترک ده چه په دې آزادولو کښې ښځه یا دهغې اولیاء خود مختاره نه دی بلکه قضاء د قاضی شرط ده یعنی ضروری ده چه ښځه خپله مقدمه د قاضی په عدالت کښې پیش کړی او قاضی د باقاعده شرعی تحقیق نه پس د تفریق وغیره حکم اوکړی.(حیله ناجزه ۱۴۸ مقدمه فسخ نکاح)

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۵۳ فصل فیمن یقع طلاقه وفیمن لا یقع طلاقه)

﴿۲﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۵۰۴ قبیل الباب التاسع فی الظهار)

﴿۳﴾(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۴۶۲ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش)

د مهرنه اداکولو په وجه باندې ښځې ته د تنسیخ نکاح حق حاصل نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو ښځه دخاوند سره آباده وی او مبلغ پنځه زره روپۍ مهر مقرر شو .او ددې اداکول هم او نه شول. ښځې دعوی او کړه چه ماته دې مهر راکړې شی او یا دې په بل ځائې کښې دنکاح کولو حکم راکړې شی. داد شپږ کالو نه دخپل مور پلار په کور کښې غیر آباده ده داسې ښځې ته ددویمې نکاح کولو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد احمد........ ۲۱۴۱،۱۹۷۴

الجواب: چونکه دا مهر معجل نه دې .لهذا د طلاق یا مرګ نه وړاندې په خاوند باندې اداکول ضروری نه دې .لما فی الهندیة ۱: ۳۳۹ وان کان لاالی غایة معلومة فقد اختلف المشائخ فیه قال بعضهم یصح وهو الصحیح وهذا لان الغایة معلومة فی نفسها وهو الطلاق او الموت﴿۱﴾ پس ددې ښځې دپاره دمهر دوجې نه د تنسیخ نکاح حق حاصل نه دې- وهو الموفق

د نکاح په وخت، په عدالت کښې بلا خلع د فسخ نکاح، شرط لګولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زید دزینب سره نکاح او کړه او په سټامپ کښې ئې اولیکل که چرې زمونږ په مینځ کښې نالګی راغله نو رجوع عدالت ته کولو سره زینب بلا خلع د فسخ نکاح حق لری. اوس بغیر د نالګۍ نه زینب رجوع عدالت ته کړې د فسخ نکاح حکم ئې اخستې دې ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مقبول الرحمن هزاره...... ۲۹۱۱۲۱،۱۹۷۵

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګیریة ۱: ۳۱۸ الفصل الحادی عشر فی منع المرأة نفسها بمهرها الخ)

الجواب: بشرط صدق مستفتی دا تنسیخ دبلاوجې نه شرعا درست نه دې﴿۱﴾- وهو الموفق

د جنازې د مونځ نه د منکر او د لوفر خاوند نه نکاح فسخ کول

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زما واده فلان بن فلان سره اوشوه .ده او دده کورو الاؤ زما سره ناروا سلوک شروع کړل. کله چه زه مونځ کوم نو هغه ماته وائی چه زه کمیونسټ یم زما په مخ کښې مونځ مه کوه. زما د خیټې نه مړبچې هسپتال کښې پیدا شو ما او ئیلې چه د مړبچې جنازه نشته دې بیاده او وئیلې چه کمیونسټ یم زما په مخ کښې د جنازې د مونځ ذکر مه کوه .ددې نه علاوه زما خاوند دشپې ځانته کمره کښې غلطو خلقو سره د قوم لوط په فعل کښې مصروفه وی .په دې حالاتو کښې خما نکاح دده سره برقراره ده یا خود بخود ختمه شوې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مسماة.....سټیلایټ ټاؤن راولپنډی.... ۱۷\شعبان ۱۴۱۰ھ

الجواب: که چرې دا خاوند انکاری نه وی نو ستا دده سره نکاح ختمه شوې ده﴿۲﴾ (البته دقانونی خطراتو نه دبچ کیدلو دپاره حاکم ته مرافعه ضروری ده) وهو الموفق

د بې غیرته خاوند سره اوسیدل حرام او تختیدل ضروری دي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو بد کردار کس دې

﴿۱﴾ قال الشیخ سلیم رستم باز: المعلق بالشرط یجب ثبوته عند ثبوت الشرط ای اذا علق بالشرط یلزم ثبوت المعلق به مثلا اذا قال لآخر انا ضامن مالک اذا سرقه فلان فمتی ثبت الشرط ای السرقة یثبت المعلق به ای الضمان.

(شرح المجلة لرستم باز ۱: ۵۴ المادة: ۸۲).

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ارتد احد الزوجین عن الاسلام وقعت الفرقة بغیر طلاق فی الحال قبل الدخول وبعده. (فتاویٰ عالمګیریة ۱: ۳۳۹ الباب العاشر فی نکاح الکفار)

او خپلې ښځې باندې جبرازناكوى ښځې كافى منت اوزارى اوكړل چه د خدائې نه اوويريږه زه ددلت رزق نه غواړم مادعذاب الهى نه بچ كړه. مگرهغه خاوند يوخبره هم نه منى، دخاوندڅه حلال كاروبارنشته دې اونه څه مزدورى كوى ښځه ددې بې غيرته اوذليل نه اوتختيده ديورشته دارپه كوركښې ناسته ده او.س دابنځه ديوشريف انسان سره واده كول غواړى ليكن بې غيرته خاوند طلاق نه وركوى نواياددې خاوند (كوم چه ښځه چلوى په بدچلنى باندې ئې مجبوره وى) سره ددې ښځې نكاح باقى ده؟بينوا توجروا

المستفتى: عزيزخان خيبربازارپشاور........ ۱۹۷۷ء۱۸۱۳۰

الجواب: دې ښځې ته ددې خاوندسره اوسيدل حرام دى اوددې خاوندنه تختيدل ضرورى دې اودابنځه بغير دطلاق نه يابغيردتنسيخ نكاح نه بل ځائې كښې نكاح نشى كولې په گناه اوزناسره نكاح نه ماتيږى﴿۱﴾- وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الشيخ عزيزالرحمن الديوبندى: هركله چه داسړې دومره شريرالنفس او ظالم او بدكاردې (يعنى په بدفعلئ اوكسب كولو باندې مجبوره كوى) كوم چه په سوال كښې ذكردى او سائله په معصيت باندې مجبوره كوى نوپه مذكوره حالت كښې دهغۀ سره اوسيدل پكارنه دى. او داسې ظالم اوفاسق سره اوسيدلو باندې شريعت نه مجبوره كوى البته دهغۀ (خاوند) د طلاق وركولو نه بغير دنكاح ماتيدلو اود بلې نكاح كولو د جواز هيڅ صورت نشته. پس چه هرڅنگه وى د حكام وغيره په ذريعه په هغۀ باندې زور راوستلې شى اوپه زبردستئ سره په هغۀ طلاق وركړې شى د طلاق او عدت تيرولو نه روسته دويمه نكاح صحيح ده.

(فتاوىٰ دارالعلوم ديوبند ۲۴۹: ۱۰ باب سيزدهم، د نامرد مجنون وغيره احكام)

....

فصل فى تفريق زوجة

مفقود الخبر والمجنون وغيره

د مفقود الخبر د ښځې د پاره د تنسيخ نكاح مسئله

سوال: څه فرمائى علماء دين ددې مسئلې په باره كښې چه يوكس دڅلوركاله اووه مياشتونه مفقوددې دډيرتالاش نه پس اوسه پورې دهغه څه پته اونه لگيده، اوټول رشته دارئې نااميده شوي دى، دمفقوديوځوئ اوځوانه ښځه هم شته، اوښځې مطالبه كړې ده چه يازماخاوندپيداكړئ، يازه په خپل اختيار دويم واده كول غواړم دمفقودرشته دارهم تنگ راغلى دى اوښځه هم هغوئ تنگوى لهذاددې باره كښې شرعى حكم څه دې؟بينوا توجروا

المستفتى: عصمت الله ناوگئ ۱۹۷۵ء۱۱۱۲۸

الجواب: كه چرې دابنځه دنفقې انتظام نه شى كولې، ياپه عصمت باندې ويريږى نود مسلمان حاكم (جج) په ذريعه تنسيخ نكاح كولې شى، په داسې طريقه چه مسلمان حاكم باقاعده دتفتيش نه پس ديته دكم ازكم دڅلوركال زيات انتظار حكم وركړى اوداهم ظاهره كړئ چه په دې زيات وخت كښې دمايوسئ په صورت كښې (ديوكال تيريدونه پس) دعدت نه پس نكاح كولې شى اوداظاهره كړى چه نكاح ماتنسيخ كړيدې، والتفصيل فى الحيلة الناجزة﴿۱﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة اشرف على التهانوى: د مفقود دښځې دپاره د نورو څلورو كالو د انتظار حكم په دې صورت كښې خو بالاتفاق ضرورى دې كله چه ښځه دومره مودې پورې صبر او برداشت او پاكدامنئ سره تيرولې شى ليكن كه دا صورت ممكن نه وى يعنى ښځه د ابتلاء خطره ښكاره كړى اوهغې يوې اوږدې مودې پورې د مفقود د انتظاركولو نه پس مجبوره كيدو.. (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د مفقودالخبر د ښځې په فسخ نکاح کښې د شرائطو رعایت ضروري دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چه د یو جینئ نکاح د ماما دخوئ سره شوې وه اوده ئې په کم عمر کښې شوې وه هغه هلک بیا د سخرګنئ سره او سیدلو څه وخت پس د غه هلک د خپلې منکوحې ښځې خور او تختوله لیکن هغه جینئ په لاره کښې اونیولې شوه او واپس راغله څه وخت پس هغه هلک واپس راغلو چه زما ښځه ما سره اولیګئ ګینې ما سره د خپلې جینئ فیصله اوکړې، نو د جینئ پلار او وئیل چه زمونږه تاسره د فیصلې ضرورت نشته دې مونږ په عدالت فیصله کړې ده. فیصله داسې شوې وه چه د جینئ والو چیئرمین یونین کونسل ته درخواست ورکړو چه زمونږ لور ډیرې زمانې نه غیر آباده ده او د دې خاوند د کله نه ورک شوې دې. چیئرمین قاضی صاحب ته د فیصلې لیکلو اووئیل قاضی صاحب د هلک د تالاش کولو اووئیل او که چرې د تالاش نه پس هلک ملاؤنه شو نو په عدالت کښې به نکاح فسخ کړې شی، څه زمانه پس د جینئ والا د قاضی خواته لاړل چه هلک مونږه تالاش کړو لیکن مونږ ته ملاؤنه شو. قاضی صاحب عدالت ته ولیکل چه هلک د دمره وخت نه ورک دې نو د دې وجې نه دې نکاح فسخه کړې شی. عدالت نکاح فسخه کړه اوس چونکه زه د نکاح رجسترار یم د زما خواته راغلو چه نکاح رجسټرډ کړه. ما اووئیل چه زه دا مسئله نه منم د دې وجې نه زه د نکاح مجلس ته نه راځم او نه نکاح رجسټرډ کوم او نکاح د محلې امام اوتړله. اوس د محلې خلق

(بقیه حاشیه)...... سره په دې حالت کښې درخواست ورکړې وی چه د صبر نه عاجزه شوه نو په دې صورت کښې د دې ګنجائش هم شته چه د مالکیه مذهب موافق د څلورو کالو په موده کښې کموالې اوکړې شی ځکه چه کله د ښځې د ابتلاء سخته خطره وی نو د دوی په نزد کم از کم د یو کال صبر نه پس تفریق جائز دې...... لیکن چرته چه د قوی قرائنو نه په زنا کښې د مبتلا کیدو قوی خطره وی نو د یو کال په قول باندې هم حاکم له د حکم ورکولو ګنجائش شته خو معامله د الله تعالی سره ده بهانه د دې تلاش نه کړې شی.

(الحیلة الناجزة ۷۱ اندیشه ابتلاء کی وقت ایک مزید وسعت)

وائی چه دې امام پسې مونځ نه کیږی، ځکه چه نکاح نه ده فسخه شوې ترڅو پورې چه خاوند طلاق ورنه کړی، بیا د یونین کونسل د طرفنه ما ته حکم ملاؤ شو چه نکاح رجسټرډ کړه، ما نکاح رجسټرډ کړه، ایا په ما باندې څه شرعی حکم عائد کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد امین کیملپور......۲۰/۷/۱۹۷۴ء

الجواب: واضحه دې وی چه اولا دا هلک مفقود نه دې ثانیا په دې فسخ کښې د شرائطو رعایت هم نه کړې شوې، مثلا کم از کم یو کال نه زیات انتظار کول (۱) لهٰذا په جینئ والو ضروري ده چه دغه هلک په خلع باندې راضی کړی د دې نه مخکښې په نکاح کښې کوم قسم اعانت کول اګرچه قانونی طور باندې جائز دې لیکن د اسلامی اصولو په بناء باندې ناجائز دی، او ضروري ده چه د الله تعالی نه معافی طلب کړی- وهو الموفق

زوجه مفقودالخبر کښې قضاء د قاضی یا د علماء جماعت ضروري دې په فتوی باندې اکتفاء کافی نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چه یو کس د لسو کالو نه د محنت او مزدورئ د پاره د کورنه وتلې دې او اوسه پورې واپس رانغلو، د

(۱) قال العلامة شمس الحق الافغانی: المفقود غائب لم تدر حیاته ولا موته کما فی البحر وهو حی فی حق نفسه لا تتزوج امرأته...... عن ابی حنیفة ان مدة الفقد مفوض الی رأی القاضی فیحکم بما ادی الیه اجتهاده فیقسم ماله حینئذ بین الاحیاء من ورثته فتاوی انقروی واختار الزیلعی تفویضه للامام قال فی الفتح فای وقت رأی المصلحة حکم بموته قال فی النهر وفی الینابیع قیل یفوض الی رأی القاضی ولا تقدیر فیه فی ظاهر الروایة کذا فی ردالمحتار...... وتعتد زوجة المفقود بعد مضی اربع سنین عند مالک وهو مذهب الشافعی القدیم...... قال القهستانی لو افتی بقول مالک فی موضع الضرورة لا بأس به علی ما اظن (من المحل المذبور).

(معین القضاة والمفتیین ۸۸ الفصل الرابع عشر فی زوجة مفقود)

پاکستان په ګوټ ګوټ کښې دده کلک تالاش اوکړې شومګرپته ئې اونه لګیده،دده په جائیداد باندې هم بل وارث قابض دې ښځه دخوان عمروالاده د خواهشاتونفسیانی اونان نفقې نه مجبوره ده دحرامودارتکاب احتمال غالب دې آیا شرعًاددې ښځه لاره کیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم..........۱۹٦۸ء/۱۱/۲۲

الجواب: بتوفیق الملک الوهاب هواعلم بالـصواب:شرعاداول نه اختلاف بـین الائمة المجتهـدین واقع دې،پـه مذهب حنفیه کښې ښځه لاره نشته ځنګه چه د حضرت علی رضی الله عنه قول دې چه دهغې مؤید حدیث شریف دې مګرد محدثینو په نزد ددې سندضعیف دې کوم چه دهدایه په حاشیه باندې مفصل تشریح شوي دې اوموده اویااونوی کاله دی،پـه مسلک د امام مالک باندې فتوی حاصلولې شی چه د قاضی دحکم نه پس عدت تیرکړی ا وبل ځائې کښې نکاح اوکړی نجات حاصلولې شی،هدایة ۲:٦۰۲ وقال مالک اذامضی اربـع سنین یفرق القاضی بینه وبین امراته تعتدعدة الوفات ثم تزوج من شاء ت لان عمر هکذا قضی فی الذی استهواه الجن بالمدینة وکفی به اماما الخ،اودامام مالک رحمة الله علیه نه طاؤس روایت کوی،ان عمربن الخطاب قال ایماامراة فقدت زوجها فلم تدراین هوفانها تنتظراربع سنین ثم تعتداربعة اشهروعـشراثم تحـل لـلازواج، اومحمدبن عبدالباقی ددې په شرح کښې لیکی:وروی نحوه عن عثمان وعلی قیل واجمـع الصحابة علیه ولم یعلم لهم مخالف فی عصرهم وعلیه جماعة مـن التـابعین،دامام مالک رحمة الله علیه په مذهب باندې دافتوٰی ضرورة جائز ده. په جـامع الرمـوز٤٦۸ کښې دی:وقال مالک والاوزاعی الی اربع سنین فینکح عرسه بعدها کمافی النظم فلوافتی به فی موضع الضرورة،ینبعی ان لاباس به علـی ماظن،اوردالمحتار حاشـیه درمختارکښې دی:ذکرابن وهبان فی منظومة انه لوافتی بقول مالـک فی موضـع الـضرورة یجـوز،اوپـه فتاوی عبدالحئ ۱:۱۳۹ کښې فتوی ورکړې ده دمفقودالخبرپه موت باندې پـه موجب د مسلک دامام مالک پـه دې کښې اختلاف بین الصحابة والتابعین وبین الائمـة المجتهـدین شوې دې نوپـه صورت

مجبورئ کښې په قول دحضرت عمر رضی الله عنه په مذکوره صورت کښې ښځه وخته پـورې تفتیـشات اوبیادورکیدوپـه شـهادت بانـدې جـائز ده چـه دویـم خاوندنکاحاحاصل کړی،دفیصله شرعی نه بغیر نکاح هرګز جائز نه ده،پـه دې باندې زیات حکومت اسلامی. فقط

کتبه.........محمدمرتضٰی مولیا..........۲۲/۱۱/٦۸

الجواب صحیح: لانه جازالافتاء عندالضرورة بمذهب مالک وغیره صـرح بـه العلامة الشامی وغیره﴿۱﴾ لکن لابدمن قضاء القاضی المسلم اوحکـم جماعـة العلماء وعامة المسلمین،ولایصح الاکتفاء بالافتاء وتفصیل المـسئلة مـسطورفی الحیلة الناجزة فلیراجع الیها﴿۲﴾.وهوالموفق......محمدفریدعفی عنه

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: لقول القهستانی لو افتی به فی موضع الضرورة لا بأس به علی مـا اظن...... وقد قال فی البزازیة الفتوىٰ فی زماننا علی قول مالک وقال الزاهدی کان بعض اصحـابنـا یفتـون به للضرورة...... لکن قدمنا ان الکلام عند تحقق الضرورة حیث لم یوجد مالکی یحکم به.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۳٦۲ کتاب المفقود)

﴿۲﴾ وفی الحیلة الناجزة: مـالکیه پـه نزد د مفقـود دښـځې دپـاره د مفقـود د زوجیت نـه آزادولو دپاره په دارالاسلام کښې خودا صورت دې چه ښځه د قاضی پـه عدالت کښې مرافعه پیش کړی او د شرعی شهادت پـه ذریعـه دا ثابتـه کړی چـه زما نکاح فلانی سړی سره شوې وه........کما فی المنتقی للباجی المالکی......ددې نـه پـس ګواهانو سره دهغهٔ (خاوند) لاپته کیدل ثابته کړی.ددې نه پس دې قاضی پخپله هم د مفقود تفتیش اوتلاش اوکړی......د مفقود ښځه پـه هیڅ صورت کښې دنکاح نه خارجیدو کښې خود مختاره نـه ده، بلکـه پـه هرحـال کـښې قـضاء د قاضی شرط ده......اوکـه مـسلمان حـاکم موجـود نـه وی.....نوبیـا د مـالکی مـذهب موافـق د دینـداره مـسلمانانو یـو جماعـت مـشری اوکـړی اود مـذکوره بیـان مطابق دې تحقیق اوکړی اود کامل تحقیق نه پس دې فیصله اوکړی نودا فیصله به هم د قاضی د قضاء پـه حکم کښې وی،الخ.(الحیلة الناجزة ٦۲، ٦٤ حکم زوجه مفقود)

په افغان جنګ کښې د مفقود مجاهدینو د ښځو د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه څه مجاهدین په محاذجنګ افغانستان کښې په محاصره کښې راغلل یاشهیدان شول دشپږ اوؤه کالونه مفقود دی ددوئ ښځې په کورونو کښې موجودې دی ایاد ښځې بل ځائې کښې نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمود حقانی افغانستان......۱۹۸۷ء۱۴۱۲۱

الجواب: ددې خاوندانو ښځې دضرورت په وخت کښې (یعنی دخوف زنایاد خوف د نفقې) مسلمان حاکم یادبااثرعلماء په وساطت سره تنسیخ نکاح کولې شی(۱) وهومذهب مالک وجازعلیه الفتوی کما فی ردالمحتارباب المفقود(۲). وهوالموفق

په جهاد افغانستان کښې د مفقود الخبر مجاهدینو د ښځو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین په حق د مجاهدینو د افغانستان کښې چه په

---

(۱) قال الشاه اشرف علی التهانوی: که چرې ښځه د ابتلاء خطره ښکاره کړی اوهغې یو اوردې مودې پورې د مفقود د انتظارکولو نه پس مجبوره کیدو سره په دې حالت کښې درخواست ورکړې وی چه د صبر نه عاجزه شوه نوپه دې صورت کښې ددې ګنجائش هم شته چه د مالکیه مذهب موافق د څلورو کالوپه موده کښې کموالې اوکړې شی ځکه چه کله د ښځې د ابتلاء سخته خطره وی نو ددوی په نزد کم ازکم د یو کال صبر نه پس تفریق جائزدې. کما فی الروایة الثانیة من فتوی العلامة الفاهاشم ......لیکن چرته چه د قوی قرائنو نه په زنا کښې د مبتلا کیدو قوی خطره وی نود یو کال په قول باندې هم حاکم له دحکم ورکولو ګنجائش شته. (الحیلة الناجزة ۷۱ فائده)

(۲) قال العلامة الشامی: وقال فی الدرالمنتقی لیس باولی لقول القهستانی لو افتی به فی موضع الضرورة لا بأس به علی ما اظن...... وقد قال فی البزازیة الفتویٰ فی زماننا علی قول مالک وقال الزاهدی کان بعض اصحابنا یفتون به للضرورة الخ.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۶۲ مطلب فی الافتاء بمذهب مالک فی المفقود)

صفوف د جنګ کښې د کفارو سره په معرکه کښې مفقود شوې دی او اوسه پورې ئې د مرګ اوژوند حالت معلوم نه دې او غالبه داده چه د دهریانو ظلم په وجه سره مړه شوې دی اوس ددوئ د ښځو د نکاح څه مسئله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سیدرسول مجاهد اکوړه مهاجرکیمپ......۱۹۸۵ء۱۲۱۱۰۱

الجواب: په دې صورت کښې پس د حاکم نه په مرګ ددې مفقود، په دې مفقود باندې احکام د مړی جاری کیږی. کمافی ردالمحتار ۳: ۴۵۷ ومقتضاه انه یجتهد ویحکم القرائن الظاهرة الدالة علی موته الخ(۱). وهوالموفق

د سقوط مشرقی پاکستان په وخت د مفقود ازواج د ښځو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه د سقوط مشرقی پاکستان په وخت کوم فوجیان چه هلته ورک شوی دی اوس خوټول قیدیان واپس شوې دی اوددې ورک شویو فوجیانو نومونه حکومت د شهداء په فهرست کښې درج کړې دی اودته ئې پنشن جاری کړې دې ددې مفقود الخبر فوجیانو ښځې دویمه نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سعید شاه شکری علی خیل کرک......۱۹۷۵ء۱۲۱۱۰۱

الجواب: داښځې د مسلمان حاکم یاد څو بااثره علماؤ په ذریعه باندې فسخ نکاح (حکم بالموت) حاصلولې شی کله چه حکم ورکونکی دباقاعده تلاش کولو نه پس فیصله اوکړی. یدل علیه مافی ردالمحتار ۳: ۳۳۱ ومقتضاه انه یجتهد ویحکم بالقرائن الظاهرة الدالة علی موته وعلی هذایتنی مافی جامع الفتاوی حیث قال واذا فقد فی المهلکة فموته غالب فیحکم به کما اذافقدوقت الملاقاة مع العدو، قال العلامة الشامی لکن لایخفی انه لابدمن مضی مدة طویلة حتی یغلب

---

(۱) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳: ۳۶۳ مطلب الافتاء بمذهب مالک فی زوجة المفقود)

على الظن موته لابمجرد فقده عندملاقاة العدواخ﴿۱﴾ اوددې حکم نه پس دې عدت وفات تیرکړی دویمه نکاح کولې شی﴿۲﴾۔ وهوالموفق

د مفقود الخبر ښځې ته د مسلمان حاکم په ذریعه د حکم بالموت حاصلولو فیصله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس په مشرقی پاکستان (بنګله دیش) په مخکښې جنګ کښې ورک شوې دې ددې نه مخکښې هغه په باقاعدګۍ سره کله کله کورته تلو راتلو او خطونه ئې هم لیکل دې ځائې نه دده په تالاش کښې خلق هم لاړل مګر هلته ئې دنشت والې نه علاوه هیڅ اونه لیدل. اوس په داسې جنګ کښې په کوم کښې چه دعام مغربی پاکستان خلقو قتل مقاتله وی. په دې صورت کښې ښځه بل ځائې کښې نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګل عظیم جهلم.......۲۱۱۱۱ء۱۹۷۵

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳: ۳٦۲ کتاب المفقود)

﴿۲﴾ قال العلامة شمس الحق الافغانی: عن ابی حنیفة ان مدة الفقد مفوض الی رأی القاضی فیحکم بما ادی الیه اجتهاده فیقسم ماله حینئذ بین الاحیاء من ورثته فتاویٰ انقرویة، واختار الزیلعی تفویضه للامام قال فی الفتح فای وقت رأی المصلحة حکم بموته قال فی النهر وفی الینا بیع قیل یفوض الی رأی القاضی ولاتقدیر فیه فی ظاهر الروایة کذا فی ردالمحتار...... وتعتد زوجة المفقود بعد مضی اربع سنین عند مالک وهو مذهب الشافعی القدیم...... وعند احمد ان کان یغلب علی حاله الهلاک کمن فقد فی الصفین او فی مرکب قد انکسر او خرج لحاجة قریبة فلم یرجع فهذا بعد اربع سنین یقسم ماله وتعتد زوجته بخلاف ما اذا لم یغلب کالمسافر لتجارة او سیاحة فانه یفوض الی رأی الحاکم فی روایة...... قال القهستانی لو افتی بقول مالک فی موضع الضرورة لا بأس به علی ما اظن (من المحل المزبور).

(معین القضاة والمفتیین ۸۸ الفصل الرابع عشر فی زوجة المفقود)

الجواب: په صورت مسئوله کښې دمسلمان حاکم دحکم بالموت یادحکم طلاق نه وړاندې دامنکوحه دا بل ځائې کښې نکاح نه شی کولې. لان هذا المفقود لم یبلغ سبعین سنة ومافقدفی المهلکة کمااذافقدفی وقت الملاقات مع العدووقال العلامة الشامی فی حقه: لایخفی انه لابدمن مضی مدة طویلة حتی یغلب عن الظن موته لابمجرد فقده عندملاقات العدواوسفر البحر ونحوه (ردالمحتار۳: ٤۵۸)﴿۱﴾ واماتطلیق الحاکم فبناء علی الافتاء بمذهب الامام مالک عندالضرورة﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳: ۳٦۳ کتاب المفقود)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد امین: لقول القهستانی لو افتی به فی موضع الضرورة لا بأس به علی ما اظن...... وقد قال فی البزازیة الفتویٰ فی زماننا علی قول مالک وقال الزاهدی کان بعض اصحابنا یفتون به للضرورة...... لکن قدمنا ان الکلام عند تحقق الضرورة حیث لم یوجد مالکی یحکم به.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳٦۲ کتاب المفقود مطلب الافتاء بمذهب مالک)

☆ وقال العلامة عبد الحیٔ اللکنوی: عمل کرده شود (برمذهب امام مالک) فی جامع الرموز: وقال مالک والاوزاعی الی اربع سنین فینکح عرسه بعده کما فی النظم فلو افتی به فی موضع الضرورة ینبغی ان لا بأس به کما اظن انتهیٰ، وفی تعالیق الانوار علی الدر المختار: نعم مذهب مالک والقدیم من مذهب الشافعی تقدیره باربع سنین لکن فی حق عرسه لا غیر فینکح بعدها کما فی النظم فلو افتیٰ به فی موضع الضرورة ینبغی ان لا بأس به علی ما اظن کما فی القهستانی، انتهیٰ، وفی حسب المفتیین: قول مالک معمول به فی هذه المسئلة وهو احد قولی الشافعی ولو افتی الحنفی فذلک یجوز فتواه لان عمر رضی الله عنه قضیٰ هکذا فی الذی استهوته الجن بالمدینة و کفی به اماما و لانه منع حقها بالغیبة فیفرق القاضی بینهما بمضی هذه المدة اعتبارا بالایلاء فی العدد وبالعنه فی السنة عملا بالشبهین انتهیٰ.

(مجموعة الفتاویٰ علی هامش خلاصة الفتاویٰ ۴: ۴۳۷ کتاب المفقود)

د مفقود الخبر خاوند په باره کښې د مسلمان حاکم د فیصلې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوکس د څلورو کالو نه ورک دې ددې کس ښځه اوبچې هم دې ډېر کوشش باوجودهم ورک دې اوس ښځه وائی چه زه ددویم خاوند سره واده کؤم مقامی علماء دیونیم کال نور انتظارکولو ووئیل مګرښځه وائی چه زه نکاح کول غواړم، ایاپه دې صورت کښې څه شرعی جوازشته؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی نورالحق باړه پشاور......۱۸\۱۰شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دابنځه دې حکومت ته مرافعه اوکړی اوحکومت دې باقاعده دتفتیش نه پس کله چه مایوسه شی نودې ښځې ته دې کم ازکم دیوکال انتظارحکم اوکړی اویادې حالاتنسیخ نکاح اوکړی په حالت اولی کښې دې دیوکال ختمیدو نه پس عدت دوفات تیرکړی اوپه دویم صورت کښې دې عدت د طلاق تیرکړی اوبل ځائې کښې دې عقدنکاح اوکړی﴿۱﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: دمالکیه په نزد د مفقود دښځې دپاره د مفقود د زوجیت نه آزادولو دپاره په دارالاسلام کښې خودا صورت دې چه ښځه د قاضی په عدالت کښې مرافعه پیش کړی او د شرعی شهادت په ذریعه دا ثابته کړی چه زما نکاح فلانی سړی سره شوې وه......ددې نه پس ګواهانو سره دهغهٔ (خاوند) لاپته کیدل ثابته کړی.ددې نه پس دې قاضی پخپله هم،د مفقود تفتیش اوتلاش اوکړی اوکله چه د پتې ملاویدو نه مایوسه شی نوښځې ته د نورو څلورو کالو دانتظار حکم ورکړی بیا که په دې څلورو کالو کښې دننه هم د مفقود پته اونه لګی نو مفقود به ددې څلورو کالو مودې ختمیدو باندې مړ تصورکولې شی،او ددې څلورو کالو تیریدو نه پس به څلورمیاشتې او لس ورځې د وفات عدت تیرولو سره به ښځې ته بل ځائې کښې د نکاح کولو اختیاروی......فائده:که چرې دا صورت ممکن نه وی یعنی ښځه د ابتلاء خطره ښکاره کړی اوهغې یوې اوږدې مودې پورې د مفقود د انتظارکولو نه پس مجبوره کیدو سره په دې حالت کښې درخواست ورکړې وی چه د صبر نه عاجزه شوه نوپه دې صورت کښې ددې ګنجائش هم شته چه د مالکیه مذهب موافق د څلورو کالوپه موده کښې کموالې اوکړې شی ځکه چه کله د ښځې د ابتلاء سخته خطره وی نو ددوی په نزد...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د مفقودالخبر په باره کښې ظاهرالروایت او په مذهب د امام مالک باندې د فتوٰی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیوښځې خاوند چرته ورک شوي دې ددې ښځې دنکاح په باره کښې زمونږ په مذهب کښې مفتٰی به قول کوم دې؟ اوپه دې مسئله کښې دامام مالک مذهب اختیارول څنګه دی یعنې دهغه په مذهب باندې فتوی ورکول ضروری دی اوکه نه د ضرورت په وخت کښې پرې فتوی ورکړې شی؟دامسئله په دلیل سره اولیکئ مهربانی به مووی؟ بینوا توجروا

المستفتی:مولاناعبدالقاهربندررود پشین بازارکوئټه... ۱۹۷۷ء۱۸۱\۲۰

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم! دالسلام علیکم نه پس واضحه دې وی چه تاسو ددې سوالاتو تفصیلی جوابات په حیله ناجزه کښې اوګورئ﴿۱﴾ مختصر طورباندې زه هم څه لیکمه،هغه دادې چه دمفقود متعلق ظاهر الروایت موت الاقران دې. کمافی شرح التنویرفی باب المفقودبل یوقت قسطه الی موت اقرانه فی بلده علی المذهب﴿۲﴾الی آخر کلامه،که چرې تعین دمودې وی نو اویا کاله(دپیدائش دورځې نه)ارجح دې په نسبت دنوروا قوالو، کمافی ردالمحتار: وقدره ابن الهمام بسبعین للحدیث لانهانهایة هذاالغالب﴿۳﴾اودضرورت

(بقیه حاشیه)....کم ازکم د یوکال صبر نه پس تفریق جائزدې، که چرې تفریق ددې قاعدې موافق اوکړې شی نوددې خبرې خیال ساتل ضروری دی چه دا تفریق به طلاق رجعی وی اوپه دې صورت کښې به د مفقود ښځه د وفات د عدت په ځائې د طلاق عدت درې حیضه تیروی.(الحیلة الناجزة ۶۲، ۷۱ حکم زوجه مفقود)

﴿۱﴾(الحیلة الناجزة ۵۶ ! زوجه مفقود کا حکم)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۳۶۲ مطلب الافتاء بمذهب مالک فی زوجة المفقود)

﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار۳: ۳۶۳ مطلب الافتاء بمذهب مالک باب المفقود)

په وخت یعنی کله چه دښځي دنفقي څه انتظام نه وی یابغیر دخاوند نه په گناه کښې دابتلاء ظن غالب وی نوپه مذهب غیرباندې فتوی جائزده، وفی ردالمحتار: وقال الزاهدی کان بعض اصحابنایفتون به للضرورة الخ﴿۱﴾ (۳۳۰:۳) اودفتوی ورکولونه پس به دې دیته مذهب حنفی وئیلې شی فافهم﴿۲﴾.وهوالموفق

د مفقود الخبر د ښځې د پاره د انتظار مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه د مفقود الخبرښځه څومره وخته پورې بل خاوندنه شی کولې؟ بینوا توجروا

المستفتی: گل محمدخان سرائې نورنگ........ ۱۹۷۴ء۱۵۱۴

الجواب: کم ازکم اویا کالو رسیدلوپورې انتظارضروری دې﴿۳﴾ یاپه موافق د

﴿۱﴾ (فتاوٰی شامیة ۳: ۳۶۳ مطلب فی الافتاء بمذهب مالک باب المفقود)

﴿۲﴾ وفی البشرٰی لارباب الفتوٰی: لما کان الافتاء علیه عند الضرورة من اصول الحنفیة کان الحکم المبنی علیه مذهب الحنفیة ایضا لابتناء ه علی قواعدهم کما صرح به العلامة الشامی فی عقود رسم المفتی فیما اذا خالف فیه الاصحاب امامهم الاعظم.

(البشرٰی لارباب الفتوٰی ۳۷ الفصل السادس الافتاء بالقول المرجوح وبمذهب غیره)

﴿۳﴾ قال العلامة الشامی: (قوله علی المذهب) وقیل یقدر بتسعین سنة بتقدیم التاء من حین ولادته واختاره فی الکنز وهوالارفق هدایة وعلیه الفتوٰی ذخیره وقیل بمأة وقیل بمأة وعشرین واختار المتأخرون ستین سنة واختار ابن الهمام سبعین لقوله علیه الصلاة والسلام اعمار امتی ما بین الستین الی السبعین فکانت المنتهی غالبا وذکر فی شرح الوهبانیة انه حکاه فی الینا بیع عن بعضهم قال فی البحر والعجب کیف یختارون خلاف ظاهر المذهب مع انه واجب الاتباع علی مقلد ابی حنیفة واجاب فی النهر بان التفحص عن موت الاقران غیر ممکن او فیه حرج فعن هذا اختاروا تقدیره بالسن الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۶۲ کتاب المفقود)

مذهب دامام مالک رحمه الله حکم بالموت دې حاصل کړی. والتفصیل فی الحیلة الناجزة﴿۱﴾.وهوالموفق

په بل ځائې کښې د نکاح نه پس د مفقودالخبر د واپسئ د صورت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوکس تقریبااته کاله مفقودالخبروی، په دې وخت کښې دده ښځې دویم خاوند اختیارکړو، حالانکه دې خاوندښځې ته ډیراخراجات پریخې وو، اوس هغه کس اچانک کورته راغلواوښځه ئې ددویم خاوندسره واده کښې اومونده، دابال بچه داره هم دې ددې کس په حق کښې شرعی فیصله به څنگه وی؟بینوا توجروا

المستفتی: مولاناعزیرالرحمٰن خطیب کوهاله........ ۱۹۷۵ء۱۱\۲۲

الجواب: په صورت مسئوله کښې دا ښځه به اول خاوندته حواله کیولې شی، او که چرې ددویم خاوندنه ئې اولادپیداشوې وی نوداولاددویم خاوندنه ثابت النسب دې اول خاوندته دتجدیدنکاح ضرورت نشته دې لیکن ددویم خاوند د جماع وغیره په وجې سره عدت تیرول واجب دې (والتفصیل فی الحیلة الناجزة ۱۰۴تا۱۰۷)﴿۲﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: دمالکیه په نزد د مفقود دښځې دپاره د مفقود د زوجیت نه آزادولو دپاره په دارالاسلام کښې خوداصورت دې چه ښځه د قاضی په عدالت کښې مرافعه پیش کړی اودشرعی شهادت په ذریعه داثابته کړی چه زما نکاح فلانی سړی سره شوې وه.......ددې نه پس گواهانو سره دهغهٔ (خاوند) لاپته کیدل ثابته کړی.ددې نه پس دې قاضی پخپله هم د مفقود تفتیش اوتلاش اوکړی اوکله چه د پتې ملاویدو نه مایوسه شی نوښځې ته د نورو څلورو کالو دانتظار حکم ورکړی بیاکه په دې څلوروکالوکښې دننه هم د مفقود پته اونه لگی نو مفقود به ددې څلوروکالو مودې ختمیدو باندې مړ تصورکولې شی، او ددې څلورو کالو تیریدو نه پس به څلورمیاشتې اولس ورځې د وفات عدت تیرولو سره به ښځې ته بل ځائې کښې د نکاح کولو اختیاروی.....(الحیلة الناجزة ۶۲ حکم زوجه مفقود)

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: دامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب په دې باره کښې دادې چه که چرې مفقود دحکم بالموت نه پس هم واپس راشی نو دهغهٔ ښځه به په هرحال کښې هغهٔ ته ملاویږی...........(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د غائب خاوند واپس راتلل اود ښځې دويم واده اود طلاق اونکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه يوکس واده کړې دولس کالونه ورک وو دده ښځې ددويم خاوند سره نکاح کړي ده دولس کاله پس هغه واپس راغلو اوس دده دښځې دطلاق يانکاح متعلق دشريعت څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: بشيرخټک کوهاټ شهر.........۱۱۴رمضان ۱۴۱۰ھ

(بقيه حاشيه)...که د وفات په عدت کښې دننه راشی اوکه د عدت تيريدو نه پس، يا اګرچه دنکاح ثانی اود خلوت اوصحبت نه پس راشی اوکه مخکښې.
کما صرح به شمس الائمة فی المبسوط حيث قال وقد صح زجوعه (يعنی عمر رضی الله عنه) عنه الی قول علی رضی الله عنه فانه (ای عليا رضی الله عنه) کان يقول ترد الی زوجها الاول ويفرق بينها وبين الآخر ولها المهر بما استحل من فرجها ولا يقربها الاول حتی تنقضی عدتها من الآخر وبهذا کان يأخذ ابراهيم فيقول قول علی رضی الله عنه احب الی من قول عمر رضی الله عنه وبه نأخذ ايضا (۱۱:۳۷) وفی ميزان الشعرانی ۲:۱۲۴ ومن ذلک قول ابی حنيفة ان المفقود اذا قدم بعد ان تزوجت زوجته بعد التربص يبطل العقد وهی للاول وان کان الثانی وطئها فعليه مهر المثل وتعتد من الثانی ثم ترد الی الاول،
او احنافو د پاره د غيراحنافو په مذهب باندې فتوٰی ورکول د سخت ضرورت په وخت جائزدی لکه د مفقود د ښځې تاجيل وغيره صورتونو کښې، ليکن د مفقود د واپسۍ په صورت کښې په بل مذهب باندې دعمل کولو ضرورت داعی نشته.
(وقال فی ذيله: وما فی العالمگيرية ۳:۱۷۶ عن التاتارخانية فان عاد زوجها بعد مضی المدة فهو احق بها وان تزوجت فلا سبيل له عليها الخ فلا يعول عليه فی مقابلة تصريح المبسوط والله اعلم)...... ددې اولاد نسب به دويم خاوند نه ثابت وی، کما صرح به العلامة الشامی فی ردالمحتار (باب المفقود ۳:۳۶۱) واليه ذهب المالکية ايضا کما صرح به فی الرواية الثالثة والثلاثين من فتوٰی العلامة الصالح المالکی الملحقة بآخر الکتاب.
(الحيلة الناجزة ۶۸،۷۱ واپسی مفقود کے احکام)

الجواب: که چرې دې ښځې دتنسيخ نکاح نه پس بل واده کړې وی نو دا ښځه ددې دويم خاوند سره به اوسيږي. اوکه چرې دتنسيخ نکاح نه بغيرئې دويم واده کړې وی نو داول خاوند مرضی ده چه طلاق ورکوی اوکه واپس ئې اخلی.
نوټ:.........د عدت خيال ساتل ضروری دی ﴿۱﴾-وهوالموفق

د مفقود او متعنت فی النفقه په وجه باندې د تنسيخ نکاح په صورت کښې د خاوند د واپسۍ مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه يوښځه کومه چه د خاوند نه پنځلس کاله جدا اوسيږی. اودې خاوندپه دې موده کښې ديته څه خرچه وغيره نه وی ورکړی. پنځلس کاله پس دې ښځې دکوم بل کس سره دويم

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: که غائب دحکم بالطلاق نه پس راشی نوددې دوه صورتونه دی يو داچه په عدت کښې دننه دننه واپس راشی او باقاعده په خرچ ورکولو باندې راضی وی نو په دې صورت کښې خو دۀ ته د رجعت حق شته که رجعت اوکړی نوصحيح به وی اوکه رجعت اونه کړی تو د عدت نه پس به ددۀ د نکاح نه بالکل آزاده شی.
دويم صورت داچه دعدت ختميدونه پس واپس راغلې وی نو په دې کښې تفصيل دې چه که هغۀ د ښځې د دعوې خلاف څه خبره ثابته کړه مثلاً داچه ما دې ته دمخکښې نه خرچ ورکړې وو يا داچه دهغه ځائې نه به مې راليږلو يا داچه ښځې نفقه معاف کړې وه بيا خوبه هغۀ ته په هرحال کښې ښځه ملاويږی يعنی اګرچه دغه ښځې دعدت نه پس دويمه نکاح هم کړې وی تردې که چرې د دويم خاوند نه ئې اولاد هم وی بيا به هم د ړومبی خاوند نکاح باقی ګڼړلې کيږی. اود دويم خاوند نکاح به اوس باطل ګرځولې شی اوکه خاوند د ښځې ددعوې خلاف څه خبره ثابته نه کړه نو ښځه به هغۀ ته نه ملاويږی ځکه چه د عدت ختميدو نه پس د رجعت حق نه پاتې کيږی. وهذا کله مصرح فی الرواية الرابعة عشر والسادسة عشر. اود دويم صورت په ړومبی جزء کښې کوم کښې چه ړومبی خاوند ته ښځه ملاويږی هغې کښې نه تجديد دنکاح ته ضرورت شته نه تجديد د مهر ته. البته چه دويم خاوند سره ئې خلوت صحيحه شوې وی نو عدت واجب دې يعنی د عدت تيريدو نه مخکښې ړومبی خاوندته دجماع او ددې د دواعی ارتکاب جائز نه دې.
(الحيلة الناجزة ۷۸، ۷۹ حکم زوجه غائب غيرمفقود)

داخستو واده وکړو، اوس پنځلس کاله پس هغه سابقه خاوند ددې ښځې دپاره راشی نوآیا سابقه خاوند ددې ښځې حقداردی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نثارالله بقلم خود

الجواب: که چرې مسلمان حاکم ددې غائب نکاح د تعنت فی النفقه(ښځې ته نان نفقه نه ورکول) په وجه باندې فسخ کړی وی نودا ښځه به ددویم خاوند سره اوسیږی﴿۱﴾اوکه چرې حاکم دافسخ دمفقوداودورکیدوپه وجه کړې وی نودا ښځه به اول خاوندته واپس کولې شی،دویم خاوندته دطلاق ورکولو اوداول خاوند سره دتجدید نکاح څه ضرورت نشته،لیکن اول خاوند به دعدت تیریدو نه پس جماع کوی.ددې نه وړاندې جماع کول جائزنه ده﴿۲﴾ والتفصیل فی الحیلة الناجزة ۱۰۴.وهوالموفق

د مفقود الخبر دمرګ په باره کښې د یوکس په خبر باندې داعتماد مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه جان احمد غالبًا د دوؤ کالونه مفقوددې دده سره ماماګل احمدهم وو،یوڅوورځې هغه دده نه غائب شوي ووروسته چااووئیل چه فلانی کس مړشوي دې کله چه هغه هلته

﴿۱﴾قال العلامة اشرف علی التهانوی: متعنت که دخپل حرکت نه هغه وخت منع شی کله چه حاکم دهغهٔ په ښځه باندې طلاق واقع کړی او عدت هم تیرشی نو اوس دهغهٔ هیڅ اختیار په ښځه باندې نه پاتې کیږی...الخ.

(الحیلة الناجزة ۷۴ حکم زوجه متعنت)

﴿۲﴾قال العلامة التهانوی: لیکن دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مذهب په دې باره کښې دادې چه که مفقود دحکم بالموت نه پس هم واپس راشی نودهغهٔ ښځه به هرحال کښې هغهٔ ته ملاویږی که د وفات په عدت کښې دننه راشی یا دعدت تیریدو نه پس،اوکه د دویمې نکاح او خلوت اوصحبت نه پس راشی یا مخکښې، کما صرح به شمس الائمة فی المبسوط.....الخ، (الحیلة الناجزة ۶۸ واپسی مفقود کی احکام)

حاضرشونوپولیس والاهلته جمع ووااوهغه ئې په خپل تحویل کښې واخسته او هغه مړ وو بیاهغه وائی چه زه چونکه هلته بیماراوم دې وجې نه درې میاشتې پس مې دهغه خورته اطلاع ورکړه چه جان احمدمړشوې دې اوس سوال دادې چه دده په ښځه باندې دوقوع زناسخته خطره ده اودنان نفقې والائې هم څوک نشته نودې ښځې ته دنکاح ثانی څه حکم دې؟

بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن حقانی لنډیوه بنوں........۱۵\محرم۱۳۹۲ھ

الجواب: دې ښځې ته ددې کس په خبرباندې اعتمادکول جائزدې،فی الهندیة ۳۴۶:۵ اذاغاب الرجل عن امراته فاتاهامسلم عدل فاخبرها ان زوجها طلقها ثلثااومات عنهافلها ان تعتدوتتزوج بزوج آخروان کان المخبر فاسقاتتحری، ثم اذا اخبرها عدل مسلم انه مات زوجها انما تعتمد علی خبره اذاقال عاینته میتااوقال شهدت جنازته امااذاقال اخبرنی مخبرلا تعتمد علی خبره﴿۱﴾.داجواب په دې تقدیر باندې دې چه دې کس ګل احمد دمرګ مشاهده کړې وی یاپه جنازه کښې شریک وی اوکه چرې نه ئې مشاهده کړې وی اونه ئې په جنازه کښې شریک شوې وی اویائې دپولیس وغیره معین کسانونه اوریدلی وی چه فلانی مړ شوې دې نوپه دې باندې هم اعتماددرست دې،لمافی ردالمحتارعن جامع الفصولین: ولوسمع من هذالرجل آخرله ان له ان یشهدلانه من باب الدین فیثبت بخبر الواحد (ردالمحتار۲:۸۴۷).وهوالموفق

د پنځلس کالو نه د ورک شوی خاوند ښځې ته دتنسیخ نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوښځه دخپل

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۱۲الفصل الثانی فی العمل بخبرالواحد فی المعاملات)

خاوند په نکاح کښې ده اودمهرڅه رقم ئې هم اداکړې دی،دواده نه پس ئې څو میاشتې تیرې کړې ورک شوورو سته پته اولګیده چه هغه په کراچئ کښې دې او دویم واده ئې کړې دې.په کراچئ کښې په اوسیدوپځلس کاله تیرشو،اوس اوله ښځه مطالبه کوی چه یادې زماخاوند ماته طلاق راکړی یادې زما سره زندګی تیره وی،دې ښځې په عدالت کښې مقدمه درج کړې ده،دحکومت د بار بار اطلاع اود اخباری اشتهازاتو باوجود خاوند نه حاضریږی،اوس ښځې ته دشرعی فتوی مطابق څه کارپکاردې ددې دپاره چه دامعامله حل شی؟ بینوا توجروا

المستفتی:مولانامحمدیوسف قریشی جامعه اشرفیه پشاور۱۹۸۵ء۱۷\۲۲

الجواب: کومه ښځه چه خاوندنه باقاعده آبادوی اونه ازادوی،نودامجبوره ښځه دمسلمان حاکم په ذریعه تنسیخ نکاح کولې شی،یعنی کله چه ددې د نفقې څه انتظام نه وی اویابغیر دخاوندنه په عصمت باندې ویریږی (ماخوذ ازحیله ناجزه)﴿۱﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: زوجه متعنت له اول لازم دی چه په څه طریقه خاوند سره خلع وغیره اوکړی لیکن که د ډیرکوشش باوجوُد هم څه صورت نه جوړ نه شی نود سختې مجبورئ په حالت کښې په مالکی مذهب باندې دعمل کولو ګنجائش شته.....اود سختې مجبورئ دوه صورته دی یودا چه دښځې دخرچ څه انتظام نه کیږی.....او دویم داچه اګرچه په آسانئ یا په مشکله سره دخرچ انتظام کیدې شی لیکن دخاوند نه جدا اوسیدوکښې په معصیت کښې د مبتلا کیدو قوی خطره وی. اوصورت د تفریق دا دې چه ښځه خپله مقدمه د اسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی دنهٔ موجود کیدوپه صورت کښې دمسلمانانو جماعت ته پیش کړی اوچاته چه پیش کړې شی هغه دشرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی اوکه دښځې دعوٰی صحیح ثابته شی چه د وسعت (طاقت) باوجود خرچ نه ورکوی نودهغې خاوند ته دې اووئیلې شی چه دخپلې ښځې حقوق اداکړه یا طلاق ورکړه ګنی مونږ به ئې درنه جدا کړو.که ددې نه پس هم دغه ظالم په هیڅ صورت باندې عمل اونه کړی نو قاضی یا شرعاً چه څوک دهغهٔ قائم مقام وی طلاق دې واقع کړی.....وبعد صفحتین.......(زوجه غائب غیرمفقود) اول دې قاضی ته مقدمه پیش کړی د ګواهانو په ذریعه دې دې غائب سره.........(بقیهٔ حاشیه په راروانه صفحه)

د مفقودالخبر لوفر سړی د ښځې د پاره بل ځائې کښې د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زیدیوآواره اودبد کردار والا انسان دې،یوه جینئ ئې اوتختوله اوپټ شو،داتوکالونه دده څه پته نشته چه ژوندې یامړیاچرته دې،وارثانوئې ډیرکوشش اوکړو لیکن څه پته ئې اونه لګیده،اوس ددې زیدمنکوحه داتوکالونه بې یاره او مددګاره ده اوځوانه ده، ایاددې دپاره بل ځائې کښې واده کول جائزدی؟بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن.......۱۹۷۴ء۱۷\۱۴

الجواب: دمسلمان حاکم دحکم بالموت یادتنسیخ نکاح نه وړاندې ددې ښځې سره دچا نکاح کول مشروع نه دې﴿۱﴾ قال الله تبارک وتعالی:والمحصنت من النساء(الایة)﴿۲﴾.وهوالموفق

د خاوند په لرې وطن کښې د ښځې اوسولو او بیا هلته د تلو نه د انکار وغیره مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه زیدعمرته خپله لور په دې شرط سره په نکاح ورکړه چه عمربه جینئ خپل وطن ته نه بوځی بلکه دزیدپه وطن کښې به اوسیږی.عمرشرط منظورکړونکاح ئې اوکړه،څه موده

(بقیه حاشیه).....دخپلې نکاح کول ثابت کړی بیا دې دا ثابت کړی چه ده ماته نفقه نه وه راکړې او تلې وو اونه ئې دهغه ځائې نه ماته نفقه رالیږله، نهٔ ئې دلته څه انتظام اوکړو اونه ورته ما نفقه معاف کړې ده.......قاضی دې دغه سړی ته حکم اولیږی چه یا خوته پخپله حاضر شه دخپلې ښځې حقوق ادا کړه یا دا ځانته اوغواړه یا ددغه ځائې نه څه انتظام اوکړه ګنی دې ته طلاق ورکړه اوکه تا په دې خبروکښې یوه خبره هم اونه منله نوبیا به مونږ په خپله دواړو کښې جدائی راولو...الخ
(الحیلة الناجزة ۷۳،۷۷ حکم زوجه متعنت وحکم زوجه غائب غیر مفقود)
﴿۱﴾(الحیلة الناجزة ۵۹ حکم زوجه مفقود)
﴿۲﴾(سورة النساء آیت: ۲۴ پاره:۵ رکوع:۱)

پس ئې یوبچې هم پیداشو، ددې نه پس عمرخپل وطن بدخشان ته لاړو او غائب شو، بیایوه ورځ دیو خط په ذریعه ئې خپلې ښځې ته دبدخشان تللو اووئیل، لیکن والدینوبدخشان ته دتګ نه منع کړه اګرچه هغه غواړی چه بدخشان ته لاړه شی، په دې وخت کښې اوه کاله تیرشو، بنده عارض وطن بدخشان ته لاړو نو هلته معلومه شوه چه دزید وطن ته لاړشه مګرعمراوئیل چه زه هیڅ کاله نه ځم اونه طلاق ورکوی دازمابښځه ده اودلته به وی چه زه ددې دټولو اخراجاتو ذمه واریم که چرې دپلارکورکښې اوسیږی نوصحیح ده خرچه به ورکوم لیکن طلاق به هیڅ صورت کښې نه ورکوم اوس د زید د وطن نه بعض مولیانوپه بل مذهب باندې فتوی ورکړې ده چه دانکاح ددویم خاوندسره نکاح کولې شی اګرچه عمرطلاق ورنه کړی صحیح مسئله څه ده؟

بینوا توجروا

المستفتی: لعل بادشاه مهمند........ ۱۹۷۲ء۱۵۱۰۳

الجواب: د زید دا شرط لګول بې سوده دې ځکه چه ددې شرط په عدم ایفاء باندې نکاح ته نقصان نه رسی، فی الدرالمختار: ومایصح ولایبطل بالشرط الفاسد القرض والهبة والصدقة والنکاح،(هامش ردالمحتار ٤:٢٢٨)﴿١﴾

قلت:هذالشرط فاسد عندنایخالف قوله تعالی:اسکنوهن من حیث سکنتم﴿٢﴾ خلافاللامام احمد والامام البخاری﴿٣﴾

﴿١﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴:۲۵۴ کتاب البیوع، ما یبطل بالشرط الفاسد ولا یصح تعلیقه به)

﴿٢﴾(سورة الطلاق پاره:۲۸ آیت:٦)

﴿٣﴾وفی المنهاج: اعلم! ان الشرائط ثلثة اقسام، الاول ما یکون مقتضی النکاح کالنفقة وهو مقبول، والثانی ما یکون معارضا للوحی وهو ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

وافتی فقهاء نابمذهب الغیر عندالضرورة والظاهرانه لاضرورة ههنالرضاء الزوجة بالذهاب الی بدخشان﴿١﴾.وهوالموفق

(بقیه حاشیه)مردود لحدیث البخاری کل شرط لیس فی کتاب الله فهو باطل، والثالث ما لا یکون کذلک فیلزم عند الاشتراط، قوله وشرط لها ان لا یخرجها من مصرها: فیلزم الایفاء به لحدیث الباب ولما ذکره البخاری عن عمر رضی الله عنه ووصله سعید بن منصور وابن ابی شیبة، مقاطع الحقوق عند الشروط، ای ایها الزوج کان لک حق الاخراج شرعا ولکن لما قبلت عند العقد شرطها بعدم الاخراج فقطعت حقک، وقال فقهاء نا لا یلزم الایفاء بهذا الشرط لانه معارض بقوله تعالیٰ: اسکنوهن من حیث سکنتم، وهو عبارة فی المطلقات ودلالة فی المنکوحات، ولما ذکره الترمذی وغیره عن علی رضی الله عنه، والجواب عن حدیث الباب واضح لانه شرط معارض بالقرآن، والجواب عن اثر عمر ان ابن وهب روی عن عمر انه وضع الشرط وقال: المرأة مع زوجها، قال ابو عبید تضادت الروایات عن عمر فی هذا، فبقی اثر علی بلا معارض فیکون اولیٰ بالعمل وهی روایة عن مالک والشافعی ایضا (فائدة) قال الله تعالیٰ: ﴿ولا تضاروهن لتضیقوا علیهن﴾ فلا بد للقاضی والمفتی من ان یجتهد حتی یعلم المفسد من المصلح.

(منهاج السنن شرح سنن الترمذی ۴:۲۷٦ باب فی الشرط عند عقدة النکاح)

﴿١﴾قال العلامة الشامی: واختار فی الفصول قول القاضی فیفتی بما یقع عنده من المضارة وعدمها لان المفتی انما یفتی بحسب ما یقع عنده من المصلحة، فقوله فیفتی الخ صریح فی انه لم یجزم بقول الفقیه ولا بقول القاضی وانما جزم بفویض ذلک الی المفتی المسئول عن الحادثة وانه لا ینبغی طرد الافتاء بواحد من القولین علی الاطلاق فقد یکون الزوج غیرمامون علیها یرید نقلها من بین اهلها لیؤذیها او یأخذ مالها بل نقل بعضهم ان رجلا سافر بزوجته وادعی انها امته وباعها فمن علم منه المفتی شیئا من ذلک لا یحل له ان یفتیه بظاهر الروایة لانا نعلم یقینا ان الامام لم یقل بالجواز فی......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د دیوانه او عمر قید کس د ښځې د نکاح د تنسیخ مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیو ښځې خاوند دیوانه او پاګل وی نو هغه به خپلې ښځې ته څنګه طلاق ورکوی چه په شریعت کښې هغه درست وی، همدارنګه چه دیو ښځې خاوند تقریباً شل کاله قیدشی نو دده ښځه طلاق حاصلولې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ملک ممتاز پشاور......۱۷ رمضان ۱۳۹۹ھ

الجواب: دیوانه د طلاق ورکولو اهل نه دې﴿۱﴾ البته په بعض سورتونو کښې د دیوانه ښځه د مسلمان حاکم په ذریعه تنسیخ نکاح کولې شی﴿۲﴾.........

(بقیه حاشیه) مثل هذه الصورة والحاصل انه لم یوجد الضرر الذی علل به القائل بخلافه بل وجد الضرر للزوج دونها فنعلم یقینا ایضا ان من افتی بخلاف ظاهر الروایة لا یقول بالجواز فی مثل هذه الصورة الا تری ان من ذهب بزوجته للحج فقام بها فی مکة مدة ثم حج وامتنعت من السفر معه الی بلده هل یقول احد بمنعه عن السفر بها وبترکها وحدها تفعل ما ارادت فتعین تفویض الامر الی المفتی ولیس هذا خاصا بهذه المسئلة الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۹۱ مطلب فی السفر بالزوجة)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: لا یقع طلاق...... والمجنون والصبی الخ . (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۲۲ قبیل مطلب فی طلاق المدهوش)

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: اصل په دې باره کښې دادې چه هغه جنون چه دهغې په وجه ښځې ته دامام محمد رحمه الله په نزد خیار فسخ حاصلیدې شی ددې په حد بیانولو کښې مختلف الفاظ مذکور دی د مبسوط الفاظ دادی لا تطیق المقام معه، او په کتاب الاثار کښې یخاف علیها قتله مذکور دی په دې دواړو کښې د تطبیق صورت دا کیدې شی چه کوم مجنون نقصان رسولې شی دهغهٔ متعلق د غالب عادت نه اکثر دا خطره هم وی چه کیدې شی قتل ئې کړی خلاصه دا شوه چه دکوم مجنون نه چه ناقابل برداشت ایذاء رسیږی دهغهٔ دا حکم دې....الخ

(الحیلة الناجزة ۵۲ حکم زوجه مجنون)........ (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

همدارنګه د عمر قید کس ښځه هم﴿۱﴾ (حیلة ناجزه). وهو الموفق ....

(بقیه حاشیه)......☆قال الشیخ شمس الحق الافغانی: زوجة المجنون اذا کانت لا تطیق المقام معه فلها خیار الفسخ کاللعنة عند محمد کما فی کتاب الآثار لمحمد فی باب الرجل یتزوج وبه العیب، ان کان الجنون حادثا وان کان قدیما او به مرض لا یرجیٰ برئه کالجب فلها الخیار ان شاء ت رضیت وان شاء ت رفعت الامر الی الحاکم حتی یفرق بینهما کذا فی المضمرات وفی الهندیة عن الحاوی القدسی وبه ناخذ .

(معین القضاة والمفتیین ۸۹ الفصل الرابع عشر فی زوجة المفقود)

﴿۱﴾ حیله ناجزه کښې دی: وجه متعنت له اول لازم دی چه په څه طریقه خاوند سره خلع وغیره اوکړی لیکن که د ډیر کوشش باوجود هم څه صورت نه جوړ نه شی نو د سختې مجبورئ په حالت کښې په مالکی مذهب باندې د عمل کولو ګنجائش شته. اود سختې مجبورئ دوه صورته دی....... دویم صورت د سختې مجبورئ دا چه اګرچه په آسانئ یا په مشکله سره د خرچ انتظام کیدې شی لیکن د خاوند نه جدا اوسیدو کښې په معصیت کښې د مبتلا کیدو قوی خطره وی. او صورت د تفریق دادې چه ښځه خپله مقدمه د اسلام قاضی یا مسلمان حاکم ته اوددوی دنه موجود کیدو په صورت کښې د مسلمانانو جماعت ته پیش کړی او چاته چه پیش کړې شی هغه د شرعی شهادت وغیره ذریعې سره د معاملې پوره تحقیق اوکړی.........په دې کښې د څه مودې انتظار او مهلت ته په داتفاق د مالکیه ضرورت نشته انتهیٰ، هم دې زوجه متعنت سره د جدید اضافې په طور باندې د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله فتویٰ ملحق کړې شوې ده. دوی فرمائی: اصل خبره داده چه د غائب غیرمفقود د نکاح د فسخ مسئله د مالکی مذهب نه اخستې شوې ده خو بعضې قیود او شرائط احتیاطاً زیات کړې شوی دی او په آخر کښې لیکی بناءً علیه خیال هم دادې چه په مذکوره صورت کښې فسخ د نکاح شرعاً صحیح او درست او نافذ شوې ده.(حیله ناجزه ۳۷ حکم زوجه متعنت، وفتویٰ درباره بیس ساله قیدی)

په فتاوی دارالعلوم دیوبند کښې د دیرشو کالو د قیدی باره کښې مولانا مفتی عزیزالرحمٰن صاحب لیکی: اصل مذهب د احنافو په دې صورت کښې دادې چه نکاح نه فسخ کیږی اود خاوند د طلاق ورکولو نه بغیر دویمه نکاح ښځې له کول صحیح نه دی. کما فی الدر المختار: ولا یفرق بینهما بعجزه عنها ولا بعدم ایفائه لوغائبا حقها الخ درمختار، لیکن بعضې نور آئمه په داسې صورت کښې (بقیه حاشیه په راروانه صفحه

د مجنون منکوحه د خوف زنا او عدم نفقې وغیره په وجه تنسیخ نکاح کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یوښځه دیو کس په نکاح کښې ده اودلس کالونه زیاتې شوې دی چه هغه پاګل دې دددې پاګل والدین دې ښځې ته نان نفقه نه شی ورکولې، جینۍ دلسو کالونه دوالدینو په کور کښې ده، ددې والدین هم غریبانان دې ښځه هم ځوانه ده اوس دې ښځې ته ددویم کس سره دنکاح شرعی اجازت به څنګه وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ماسټرعنایت علی نوشهره........٢٨١٦١ء١٩٧٢

(بقیه حاشیه)...فسخ د نکاح ته جائز وائی. او احنافو له په وخت د ضرورت کښې دې باندې عمل کول صحیح دی، او احوط دادی چه دچا مذهب د تفریق او دنکاح د فسخ کولو دې په هغې باندې فسخ اوکړی.

قال فی الدرالمختار: وجوزه الشافعی باعسار الزوج وبتضررها بغیبته ولو قضیٰ به حنفی لم ینفذحکمه نعم لو امر شافعیا فقضی به نفذ اذا لم یرتش الآمر والمأمور، بحر درمختار، او په شامی کی دی: والحاصل ان عند الشافعی اذا اعسر الزوج بالنفقة فلها الفسخ وکذا اذا غاب وتعذر تحصیلها منه علی ما اختاره کثیرون منهم لکن الاصح المعتمد عندهم ان لا فسخ ما دام موسرا، (شامی) وفیه بعد اسطر قال فی غرر الافکار ثم اعلم ان مشائخنا استحسنوا ان ینصب القاضی الحنفی نائبا لمن مذهبه التفریق بینهما اذا کان الزوج حاضرا وابی عن الطلاق لان رفع الحاجة الدائمة لا یتیسر بالاستدانة اذا لظاهر انها لا تجد من یقرضها وغنی الزوج مآلا امر متوهم فالتفریق ضروری اذا طلبته وان کان غائبا......

پس ښکاره ده چه روایات په دې باره کښې ډیرمختلف او مضطرب دی لیکن په وخت د ضرورت کښې حنفی له ګنجائش شته چه تفریق اوکړی اود عدت نه پس د دویمې نکاح دجواز فتویٰ ورکړی.

(فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ١٠:٢٣٠ کتاب الطلاق سوال: ٩٤٩)

الجواب: دا ښځه ددې وجوهاتو په بناء باندې (یعنی دزنادویرې اودعدم انتظام نفقه(١)) په ذریعه دمسلمان حاکم فسخ نکاح حاصلولې شی، اودفسخې نه پس باقاعده بل ځائې کښې نکاح کولې شی. کذافی الحیلة الناجزة(٢) وهوالموفق

په خاوند باندې د جنون راتلو په وجه باندې تنسیخ نکاح کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس دواده نه پس پاګل شو اود پنځو کالونه ئې دماغی توازن خراب دې، اوپه ظاهره دده دصحیح کیدلو توقع نشته دې، نواياده ښځه په ذریعه دعدالت تنسیخ نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل الرحمٰن........١٩١٥١ء١٩٧٤

(١) قال العلامة اشرف علی التهانوی: د سختې مجبورئ په حالت کښې په مالکی مذهب باندې دعمل کولو ګنجائش شته. څکه چه ددوی په نزد زوجه متعنت ته د تفریق حق ملاویږی. اود سختې مجبورئ دوه صورته دی یوداچه دښځې د خرچ څه انتظام نه کیږی یعنی نه خوڅوك سړې دخرچ بندوبست کوی اونه پخپله ښځه دعزت حفاظت سره په کسب دمعاش باندې قدرت ساتلې شی. اودویم صورت دمجبورئ دادې... دخاوند نه جدا اوسیدو کښې په معصیت کښې د مبتلا کیدو قوی خطره وی.

(حیله ناجزه ٣٧ حکم زوجه متعنت

(٢) قال الشاه اشرف علی التهانوی: صورت د تفریق دادې چه د مجنون ښځه د قاضی په عدالت کښې درخواست ورکړی اود خاوند خطرناك مجنون کیدل ثابت کړی قاضی د واقعې تحقیق کولو سره که صحیح ثابته شی نومجنون ته دې علاج دپاره د یو کال مهلت ورکړی اود کال ختمیدو نه پس که ښځه بیا درخواست ورکړی اود خاوند دجنون مرض اوس موجود وی نوښځې ته دې اختیار ورکړې شی په دې باندې که ښځه هم په دغه مجلس دتخییر کښې جدائی طلب کړی نوقاضی دې تفریق اوکړی. کما مر فی الجواب الاول من العالمگیریة.

(الحیله الناجزة ٥٤ حکم زوجه مجنون

الجواب: که چرې دجنون د حادث کیدلونه پس، ښځې نه په رضامندئ باندې تصریح کړې وی او نه ئې په جماع وغیره باندې قدرت ورکړې وی نو په دې صورت کښې دا ښځه دمسلمان حاکم په ذریعه طلاق حاصلولې شی په دې شرط چه داجنون خطرناک وی. دناقابل برداشت تکلیف سخته خطره وی، نو دا ښځه به حاکم ته مرافعه اوکړی حاکم به دعلاج دپاره نور یو کال موقع ورکړی پس که چرې صحیح نه شو نو ښځې ته به اختیارورکولې شی او ښځه به په هغه مجلس کښې نکاح ختمه کړی او واضحه دې وی که چرې دنان نفقې څه انتظام نه وی نو په دې صورت کښې هم مسلمان حاکم طلاق ورکولې شی او تنسیخ نکاح کولې شی. په دې شرط چه د لیونتوب دحادث کیدونه وړاندې یعنی دنکاح په وخت دا کس غریب نه وو. والتفصیل فی الحیلة الناجزة﴿۱﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: دمذکوره عباراتونه معلومه شوه چه د شیخینو په نزد خو دخاوند دجنون په وجه ښځې ته دنکاح فسخ کولو اختیارنشته لیکن دامام محمد رحمه الله په نزد دې ته دا اختیارحاصل دې چه قاضی ته درخواست ورکړی اود تفریق مطالبه اوکړی اوبیا خپل ځان د مجنون د زوجیت نه جدا کړي په دې شرط چه جنون دومره وی چه دهغهٔ سره اوسیدل د قدرت نه بهروی مثلاً دهغهٔ نه د قتل خطره وی......خلاصه دا شوه چه دکوم مجنون نه ناقابل برداشت تکلیف رسیږی دهغې حکم دادې......صورت د تفریق دادې چه دمجنون ښځه دقاضی په عدالت کښې درخواست ورکړی اود خاوند خطرناك مجنون کیدل ثابت کړی، قاضی د واقعې تحقیق کولو سره که صحیح ثابته شی نومجنون ته دې علاج دپاره د یو کال مهلت ورکړی.......په دې کښې اکثر شرائط داختیار دمجنون ښځې دپاره هم دی چه دهغې اجمال دادې (۱) دنکاح نه مخکښې ښځې ته دخاوند د مجنون کیدو علم نه وی. (۲) دنکاح نه پس علم کیدو باندې د رضا صراحت نه وی. (۳) کله چه د مهلت کال تیریدو نه پس په دوباره درخواست باندې قاضی ښځې ته اختیار ورکړی نو ښځه هم په دغه مجلس کښې جدائی اختیارکړی.....فائده: د مجنون د زوجې دنکاح فسخ کولو دپاره چه کوم شرائط پورته مذکوردی که دا شرائط چرته موجود نه وی نود جنون په بنا باندې تفریق نه شی کیدې لیکن که دا مجنون د آمدنئ څه ذریعه نه لری او ښځې دپاره دخپلې نفقې څه بله لاره هم نه وی نو په داسې صورت کښې مفتی دپاره دښځې د اضطرار (مجبورئ) پوره تحقیق کیدلو او د یو څو عالمانو سره د مشورې نه پس ددې فتوې ګنجائش دې چه د مالکی مذهب په بنیاد باندې دعدم نفقې په وجه قاضی یا دهغهٔ قائم مقام په دوی واړو کښې جدائی اوکړی.....چه دهغې نه یو شرط دا هم دې چه (بقیه په راروانه صفحه)

د لیونتوب په وجه باندې د تنسیخ نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو دماغی مریض دډاکټرپه مشورې سره واده اوکړو لیکن دې بیمارئ زیات شدت اختیارکړو اوس دده ښځه ددې کس په نکاح کښې اوسیدل نه غواړی ځکه چه دا ښځه ځوانه ده بغیر دخاوندنه اوسیدلو کښې په عصمت باندې ویریږی دنان نفقې هم څه انتظام نشته ددې دماغی مریض کس دوه بچی دی یو دیولسو کالودې دویمه جینئ د اتو کالوده. داتو کالونه ددې ښځې سره څه همبستری نه ده شوې بلکه دخاوندنه ئې دمرګ خطره ده تردې پورې چه دمرګ په ویره باندې مونږ هغه په یو ځانله کوټه کښې بند کړې شرعی حل څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: سید رحمٰن تهانه متنی پشاور.........۱۹۸۵ء۱۴۱۷۱

الجواب: که چرې دې لیونتوب شدت اختیارکړې وی ښځه دده نه دهلاکت خطره لری او په دې ښځه باندې بغیر دخاوندنه دعصمت ویره وی اویا دا ښځه داخراجاتونه په خپله طاقت لری او نه ئې بل څوک دکفالت بوج اوچتوی نو ددې وجوهاتو په وجه باندې دامجبوره ښځه تنسیخ نکاح کولې شی﴿۱﴾.

نوټ: که چرې دا دیوانه صاحب جائیدادوی نو صرف په اوله وجه هم تنسیخ نکاح کولې شی-وهوالموفق

(بقیه حاشیه)...عدم نفقې په وجه دنکاح د فسخې حکم هغه وخت ورکولې شی کله چه د عقد نکاح نه مخکښې هغې ته دخاوند د فقیر او غریب کیدو علم نه وی ګنی که د فقیرئ علم کیدو سره عقد دنکاح شوې دې نود عدم نفقې په وجه به هغې ته د تفریق دمطالبې حق نه وی....الخ (الحیلة الناجزة ۵۲ تا ۵۸ حکم زوجه مجنون)

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: دامام محمد رحمه الله په نزد هغې ته داحق حاصل دې چه قاضی ته درخواست ورکړی اود تفریق مطالبه اوکړی اوخپل ځان دمجنون د زوجیت نه جدا کړی په دې شرط چه جنون دومره زیات وی چه هغهٔ سره اوسیدل دقدرت نه بهروی مثلاً دهغهٔ نه د قتل خطره وی، اصل په دې باره کښې دادې چه هغه جنون چه دهغې په وجه ښځې ته دامام محمد رحمه الله په نزد خیار د فسخې حاصل دې کیدې شی چه..........(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د لیونتوب په وجه باندې د امام محمد او امام مالک رحمهماالله په نزد فسخ نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې که چرې خاوند پاګل شی نو ښځې په درخواست باندې ددوئ په مینځ کښې جدائی کیدلې شی؟ داجواب لیکلې شوې دې که چرې جنون حادث شی نو دعنین په شان به یو کال مهلت ورکولې شی ددې نه پس که چرې صحیح نه شو نو ښځې ته اختیار دې او که چرې لیونتوب مطبق وی نو نکاح فی الفور فسخ کولې شی،دمهلت ورکولو حاجت نشته دې.فی المجمع البرکات ان کان بالزوج جنون اوجذام اوبرص فلا خیارلها وقال محمدلها الخیاردفعا للضررعنها کمافی الجب والعنة کذافی الکافی، قال محمدان کان الجنون حادثا یومایؤجله سنة کالعنة ثم یخیرالمراة بعد الحول اذالم یبراوان کان مطبقا فهو کالجب وبه ناخذ کذا فی فتاوی العالمگیریة ناقلا من الحاوی (ازمجموعة الفتاوی ۲:۸۶)لوکان احدهما مجنونافانه لایؤخرالی عقله فی الجب والعنة لعدم الفائدة،ویفرق بینهما للحال،باب العنین بحرالرائق جلدچهارم صفحه ۱۲۳ ،وقدکتبنافی القواعد الفقهیة من مذهب الحنفیة ان القاضی لوقضی برد احد الزوجین بعیب نفذ قضاءه،ازبحرالرائق ۴:۱۲۷،که چرې داجواب صحیح نه وی نو مفصل جواب نه موخبرکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالمالک مهمند ایجنسی

(بقیه حاشیه)...چه ددې په حد بیانولو کښې مختلف الفاظ مذکوردی د مبسوط الفاظ دادی لا تطیق المقام معه، اوپه کتاب الاثارکښې یخاف علیها قتله مذکور دی په دې دواړو کښې د تطبیق صورت دا کیدې شی چه کوم مجنون نقصان رسولې شی دهغهٔ متعلق د غالب عادت نه اکثر دا خطره هم وی چه کیدې شی قتل ئې کړی خلاصه داشوه چه دکوم مجنون ناقابل برداشت ایذاء رسیږی دهغهٔ دا حکم دې. (حیلة الناجزة ۵۲ حکم زوجه مجنون)

الجواب: کوم لیونتوب چه دنکاح نه مخکښې موجودوی ددې وجې نه فسخ د نکاح دامام محمد رحمه الله په نزد جائزده،اوکوم لیونتوب چه دنکاح نه پس حادث وی نو ددې په وجه باندې دمالکیانو په نزدفسخ نکاح جائزده،په دې شرط چه ښځه ددې لیونتوب په موجب دفسخ کیدلو دعلم نه پس دې خاوندته په خپل اختیاراواراده باندې قدرت علی الجماع والدواعی نه وی ورکړې، ګینې دې ښځې ته حق دفسخ نکاح نه حاصلیږی،څنګه چه دزبانی رضاپه وخت دا اختیارنه دې حاصل،واجازه الفقهاء عندالضرورة والتفصیل فی الحیلة الناجزة ۹۵﴿۱﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾(الحیلة الناجزة ۵۱ حکم زوجه مجنون) (قد مر مراً)

....

د محکمه عالیه قضاء د سوات ریاست متفقه فیصله

الحکم المحمود فی مسئلة المفقود

سوال: په حضورعالی مفتی اعظم شیخ الحدیث مولانامفتی محمدفرید صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک زمونږ دنیکه مولانافضل سبحان صاحب (کاکاجی) رحمه الله اومولانافضل الرحمن صاحب (لالاجی) رحمه الله په ذاتی کتب خانه کښې د مسئله مفقودپه باره کښې دعلماء اوقضاة سوات متفقه فیصله اوفتوی په نوم د (الحکم المحمودفی مسئلة المفقود) داقلمی نسخه موجوده ده ایادامسئله اوفیصله صحیح اوقابل عمل ده. دمسئلې فوټوکافی هم ورسره ده.

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی، امابعدفاقول: داعلی حضرت میاں گل عبدالودودصاحب بادشاه صاحب ریاست سوات خلدالله ملکه دخپل ریاست علماء دمفقودخاونددښځې په باره کښې په مذهب مالکی باندې د فتوی طلب کولووجه داوه چه څه ضروریات اواسباب کوم چه علماء مالکیه په دې مسئله کښې دفتوی اوعمل سبب جوړکړې دي یعنی دمفقود ښځې ته د مفقود نه دجداکولونه پس دمیعادڅلورکاله هغه اسباب دادی:

(۱) دخاوند نه واجب نفقه نه ملاویدل (۲) دخاوندحق واجبه نه اداکول (۳) اود خاوند دخپلې ښځې سره نه اوسیدل چه په دې کښې ډیرمفاسددی (۴) ضروری مسکن نه مهیاکول (۵) اوددې حقوق دفوت کیدلوپه وجه باندې ښځه په زنا کښې مبتلاکیدل وغیره.

داهغه اسباب دي کومو که چه مختلف وطنونواوممالکوکښې علمائې احناف په مذهب غیرباندې په فتوی ورکولوباندې مجبورکړې. مثلاً ددې

علماء احنافونه یوصاحب جامع الرموزدي. دویم ابن عابدین صاحب فتاویٰ شامیه دي دریم صاحب بزازیه دي. څلورم مولاناعبدالحئ صاحب دي، صاحب مجموعة الفتاوی، اوهمداسې ډیرعلماء دی لکه علماء دیوبند، علماء مظاهرالعلوم سهارنپوروغیره وغیره.

اوداواقعات دااسې قسم ښځودی چه دهغوئې خاوندانو دوئ پریخې وی اودابلانفقه، بلامسکن، بلاشوهر، په زناکښې مبتلاء، دحقوق شرعیه نه محروم، دبې اسرې اوخاوندانودراتلوپه نااميدی سره خپل وطنونوکښې زندگی تیروي حکومت سوات ته پیش وو، نوحکومت ددې فسادعظیم په ازاله او رفع باندې مجبورشو، اوددې فساددفع په مذهب مالکی باندې دفتوی نه بغیرنه شو کیدې ددې وجې نه علماء ریاست سوات صانها الله عن الآفات خاص په مسئله مفقودکښې دوخت دمجبورئ په وجه باندې په مذهب مالکیه باندې عمل اوفتوی ورکړه. چه په لاندینوشروطوباندې مشروط ده کوم چه علماء مالکیه معتبرمنلی دی.

(۱) ښځې دپاره مرافعه الی القاضی یاقائم مقام د قاضی ته (۲) ددې ښځې ددې مفقودسره دنکاح شرعی اثبات (۳) ددې مفقودپه شهادت شرعی سره د مفقودیت اثبات (۴) دقاضی په خپله ددې مفقودپه حال اوتحقیق دمیلاویدو پته (۵) دقاضی دپاره دنااميدئ اومایوسئ نه پس دښځې دپاره څلورکاله نور انتظار (۶) څلورکاله تیریدونه پس که چرې دمفقودمعلومات اونه شو نودا مفقود به مړمتصورکیږی اوقاضی به دې ښځې ته دعدت وفات تیرولوحکم کوی، دعدت دمودې تیریدونه پس به دې ښځې ته اختیاروی چه نکاح ثانی کوی اوکه صبراختیارکوی اوکه چرې نکاح ثانی کوی نوددې دپاره حکم دقاضی شرط دي (۷) دڅلوروکالودمودې ابتداء به قاضی ته د مرافعه کولواود قاضی ددې مفقودد حالت او پته لګولونه پس کیږی.

نور تاکیددادې چه قاضی به صرف په ښځه اوددې داولیاء په بیان باندې اکتفاء نه کوی، بلکه په خپله به دمفقودتحقیق اوطلب کوی.

په وجه مذکوره لیکل شوی وجوهات مع دلائل. اوپه وجه دلحاظ د وخت

اوپه ضرورت شدیده کښې یعني خادم الاسلام قاضی محکمه عالیه حضور شاهي برنګل په وجه دعدم وجودفتوی اتفاقیه په مذهب حنفی کښې ما په دې مخصوص مسئله کښې دضرورت په بناء باندې په مذهب دامام مالک باندې فتوی ورکړه، باسنادقوله تعالی: وماجعل علیکم فی الدین من حرج، وبدلیل قوله علیه السلام: الدین یسر.

اوددې وجوهاتو په وجه باندې جمع عظیم علماء عظام ریاست سوات دضرورت احساس اوکړو اوددفع فساداودجرم زنا لحاظ ئې اوکړو اوداهل اسلام حتی الوسع اصلاح ئې خپل فرض منصبی وګڼړله نودافتوی ئې لازمی او واجبی جوړه کړه اووئې وئیلې چه مونږ خادمین اسلام (کوم چه لاندینی علماء دی) ته په دې مسئله باندې عمل دې.

دستخط د علماؤ دسوات ریاست

(۱) العامل قاضی عبدالجلیل خادم باباجی سیدوشریف (۲) مولوی عبد المتین الپورئ (۳) قاضی محمود برکانجو (۴) قاضی عبدالکریم شیرپلم (۵) مولوی عبدالحکیم صاحب چارباغ (۶) مولوی خونه ګل کیملپور چارباغ (۷) قاضی امیرحاجیان علی ګرامه (۸) مولوی شیرزاده مینګوره (۹) مولوی محمدعلم ګل سیدوشریف (۱۰) مولوی عبدالرحیم منګوره (۱۱) مولوی فضل الرحمٰن (لالاجی) منګلور (۱۲) مولوی رحیم الله درديال (۱۳) شفیع الرحمٰن قاسم خیل (۱۴) مولوی عبدالغنی تندوډاګ (۱۵) مولوی امیرزاده مینګوره (۱۶) احقرالعباد محمد مفتاح الدین جوره (۱۷) مولوی ګل نبی تندوډاګ (۱۸) مولوی حبیب الله چارباغ (۱۹) قاضی سیدباچا کوزه بانډئ (۲۰) مولوی عبدالمستعان کاټیلی (۲۱) کاکا میاں صاحب نلکوټ (۲۲) قاضی محمدحق صاحب الحق دوبیر (۲۳) مولوی محمدیعقوب دوبیر (۲۴) قاضی پائنده خان دوبیر (۲۵) قاضی خلیل الرحمٰن قاسم خیل (۲۶) مولوی فضل سبحان منګلور (۲۷) قاضی ټیغک بقلم خود۔

استفتاء

څه فرمائی علماء دین متین د مفقود په مسئله کښې دضرورت شدیده په وخت چه حنفی علماء فتوی اوعمل دامام مالک په مذهب باندې دشرائطو سره کولې شی اوکه نه؟ اوکومه فتوی چه حنفی علماؤ په دې خاص مسئله مثلاً دمفقود دښځې د تفریق اود نکاح ثانی اجازت دڅلورو کالو میعاد تیریدو نه پس جاری کړې ده اودامام مالک دمذهب تقلیدئې کړیدې څنګه چه په لاندینی کتب حنفیه کښې لیکلی شوی دی صحیح دې اوکه نه؟

(۱) جامع الرموز (۲) فتاوی جوهری (۳) فتاوی بزازیة (۴) شامیة (۵) مجموعة الفتاوی مولاناعبدالحئ صاحب (۶) مولانااشرف علی صاحب (۷) علماء دارالعلوم دیوبند (۸) علماء مظاهرالعلوم سهارنپور - بینوا توجروا

اوفقکم الله تعالی للبیان وایاناللعمل بالبیان فقط

الجواب الاول من دارالافتاء مدرسه امینیه دهلی

علماء حنفیه دحضرت امام مالک رحمه الله دمذهب موافق دمفقود دښځې په باره کښې دمالکیه مذهب دشرائطو په رعایت سره دڅلورو کالوانتظار نه پس د تفریق دجواز فتوی اوحنفی قاضی حکم تفریق ورکولې شی، بلاشبه د ضرورت شدیده په وخت کښې داسې فتوی اوحکم جائزدې، والله اعلم

محمدکفایت الله کان الله له دهلی

الجواب الثانی من دارالافتاء دارالعلوم دیوبند

دمفقود دښځې په باره کښې علماء احنافو دضرورت شدیده په وخت په لیکلو مطابق فقهاؤ احنافو دامام مالک په مسلک باندې فتوی ورکړې ده اودحاکم او مفتی دپاره اجازت شته چه دضرورت شدیده په وخت ددوئ په مسلک باندې عمل اوکړی. لیکن دعمل په وخت دمالکیانو دټولو شرائطو لحاظ ساتل هم ضروری دې اوکه چرې په څه وخت کښې دشرائطو دمذهب خلاف فیصله اوکړې شوه نودافیصله به شرعاغیر صحیح اوناقابل اعتباروی.

علماء دیوبند دبعض ښځو دتکلیف اومظلومیت په خیال سره په مسئله مذکوره اوهمدارنګه په بعض مسائلوکښې دجزیات فکراوسوچ او دمحنت شاقه نه پس دامام مالک په مسلک باندې فتوی ورکړې ده او احتیاط ئې دومره کړې دې چه مالکی علماؤسره هم په دې مسائلوکښې خط اوکتابت کړې اطمینان قلب ئې حاصل کړې ددې نه پس ئې دیورسالې په شکل کښې دا ټول مسائل شائع کړی دی ددې رسالې نوم ''الحیلة الناجزة،، دې چه په اردوکښې ده په هغې کښې دلیونی ښځه،مفقود،عنین،دمتعنت وغیره مسائل بالتفصیل سره دشرائطولیکلی شوی دی،فی زمانه هرحاکم ته ضروری ده چه داکتاب په مطالعه کښې اوساتی اوواضحه دې وی چه دامام مالک دمسلک په اعتبارسره صرف څلورکالوتیریدوباندې دنکاح ثانی اجازت نه شی ورکولې بلکه دښځې دعوی اودهغې دتحقیق نه پس کله چه حاکم دتلاش نه عاجزشی نودڅلورکالومیعاددې مقررکړی پس که چرې په څلورکاله تیریدوهم هغه رانغلونودابه مړمتصورکیږی،اوددې نه پس به څلورمیاشتې لس ورځې دعدت موده تیروی،بیادې ښځې ته دنکاح ثانی کولو اجازه شته دې بلکه دضرورت اووخت په لحاظ باندې مالکیانودلته په دې څلورکالوکښې هم تخفیف کړې دې اوصرف دیوکال دانتظاراجازت ئې ورکړې دې لیکن هغه داوخت دې چه کله ښځه څلورکاله صبراوتحمل اوعفت سره نه شی تیرولې،اودابتلاء قوی اندیښنه دحاکم په مخکښې بیان کړی،لیکن په دې صورت اوپه صورت اول کښې فرق دادې چه دیوکال د انتظار دحکم په صورت کښې دکال تمامیدونه پس حاکم ته د اطلاع ورکول پکاردی چه مفقودنه دې راغلې،اودهغه څه پته اونه لګیده،په دې درخواست باندې به حاکم تحقیق دواقعې اوکړی اوپه دې دواړوکښې به د جدایئ حکم اوکړی.او هغه تفریق طلاق رجعی دې اوعدت ئې درې حیض دی اوپه صورت اول کښې د څلورکالودتمامیدونه پس دحاکم نه دحکم

بالموت حاصلولوعندالمالکیه هیڅ ضروری نه دې لیکن احتیاط په دې کښې دې چه دحاکم نه دې حکم بالموت حاصل کړې شی۔

اودادې هم واضحه وی چه په مذکوره کرخوکښې چه کله هم دحاکم لفظ راغلې دې ددې نه حاکم مسلمان مراددې ځکه چه دحاکم غیر مسلم فیصله شرعاغیرمعتبره ده اودهغه په حکم سره فسخ وغیره هیڅ کله نشی کیدلې،لان الکافر لیس باهل للقضاء علی المسلم کماهو مصرح فی جمیع الکتب الفقه والله اعلم

لیکونکې....سیداحمدعلی سعیدنګینوی المفتی دارالعلوم دیوبند

الجواب الثالث من دارالافتاء دارالعلوم دیوبند

داجواب صحیح دې په مسئله مفقودکښې ددې لیکلوپه بناء فقهاء حنفیه د مالکیه مذهب په لحاظ دشرائطودشدیدضرورت په وخت اختیارکړې دې لیکن په هرضرورت کښې هرکس په داسې کولومختارنه دې چه کومه مسئله غواړی په خپل نزدهغه ضرورت اوګڼړی دبل امام مذهب اختیارکړی بلکه ضرورت هغه معتبردې کوم چه فقهاؤ تسلیم کړې. والله اعلم

بنده محمدشفیع عفاالله عنه المفتی دارالعلوم دیوبند

الجواب الرابع

درمقام ضرورت چنانچه خوف زناباشدفتوی بمذهب امام مالک جائزاست، کماقال فی الدرالمختارقبیل باب الاذان لاباس بالتقلید عندالضرورة انتهی ملخصا، درشرح صراط المستقیم :۲۱ گفته علماء برانندکه انتقال ازمذهب بشهوت نفس واتباع هواوتتبع رخص درست نبود.مگردرواقعه صعب وحرج عظیم مبتلاء گردد وبجزرجوع بمذهب دیگرمخلصي نیابد،بحکم ضرورت در این صورت جائزبودانتهی ملخصا،قال فی جسب المفتین:وقول مالک فی هذه

المسئلة معمول به وهواحدقولی الشافعی رحمه الله ،ولوافتی الحنفی بذلک یجوزفتواه لان عمر رضی الله عنه حکم هکذافی من استهواه الجن بالمدینة وکفی به امام انتهی.

وفی جامع الرموز:وقال مالک والاوزاعی الی اربعین سنین فلینکح عرسه بعدکما فی النظم فلوافتی به فی موضع الضرورة ینبغی ان لاباس به کماظن انتهی وایضا فی الدرالملتقی وکذافی تعالیق الانوارعلی الدرالمختار.انتهی

وقال صاحب ردالمحتارفی باب المفقودنقلاعن جامع الرموز:لوافتی به فی موضع الضرورة لاباس به علی ماظن انتهی،ونظیرهذه المسئلة عدة ممتدة الطهر التی بلغت برؤیة الدم ثلاثة ایام ثم امتدطهرها فانها تبقی فی العدة الی ان تحیض ثلاثا حیض وعندمالک تنقضی عدتها بتسعة اشهروقدقال فی البزازیة الفتوی فی زماننا علی قول مالک،وقال الزهری کان بعض اصحابنایفتون به للضرورة واعترضه فی النهر وغیره بانه لاداعی الی الافتاء بمذهب الغیر لامکان الرفع الی مالکی یحکم بمذهبه وعلی ذلک مشی ابن وهبان فی منظومته هناک لکن قدمناان الکلام عندتحقق الضرورة حیث لم یوجدمالکی یحکم به انتهی وماذکرفی شرح الهدایة انه خبراخرجه الدارقطنی فی سننه عن سواربن مصعب حدثنا محمدبن شرحبیل عن المغیرة بن شعبة قال ابن ابی حاتم فی العلل سئلت ابی عن حدیث رواه سوارعن محمدعن المغیرة فقال ابی هذا حدیث منکرومحمدمتروک الحدیث یروی عن المغیرة مناکیرواباطیل.

وذکرعبدالحق فی احکامه من طریق الداروعللة بمحمدبن شرحبیل وقال انه متروک وقال ابن القطان فی کتابه سواراشهرفی المتروکین انتهی ملخصا.وهکذا فی عمدة الرعایة حاشیة شرح الوقایة،وقال فی شرح الموطا للزرقانی مالک عن یحیی بن سعیدعن سعیدبن المسیب ان عمربن الخطاب رضی الله عنه

قال ایماامراة فقدت زوجهافلم تدر این هوفانها تنتظراربع سنین ثم تعتداربعة اشهروعشرثم تحل للازواج وروی نحوه عن عثمان وعلی،وقیل اجمع الصحابة ولویعلم لهم مخالف فی عصرهم وعلیه جماعة من التابعین انتهی ملخصا.وفی العینی شرح البخاری وقال ابن بطال اختلف العلماء فی حکم المفقوداذالم یعلم مکانه وعمی خبره فان امراته لاتنکح ابداولایفرق بینه وبینها حتی یوقن بوفاته اوینقضی تعمیره وسبیل زوجته.....وروی هذا القول عن علی وهوقول الثوری وابی حنیفة ومحمدوالشافعی والیه ذهب البخاری،وقالت طائفة تتربص امراته اربع سنین ثم تعتدعدة الوفات وروی ایضا عن علی بن ابی طالب وابن عباس وابن عمروعطاابن ابی رباح والیه ذهب مالک و اهل المدینة واحمدواسحاق انتهی ملخصا(۹:۵۸۸).

وتائیدمیدهدقول شامی ودرمختاربقول مذکورراکه درموضع ضرورت فتوی برمذهب غیر جائزاست چنانچه درباب سرقه بدي تصریح نموده است(۲:۲۰۷) ولایقطع بسرقته مثل دینه اذاکان من جنسه واطلق الشافعی اخذخلاف الجنس للمجانسة فی المالیة قال فی المجتبی وهواوسع فیعمل به عندالضرورة انتهی ملخصا.

درمختاروفی ردالمحتارقوله اطلق الشافعی رحمه الله الخ وهذااوسع فیجوزالاخذبه وان لم یکن مذهبنافان الانسان یعذرفی العمل به عندالضرورة به وایضاصرح الشامی فی باب الرجعة ۲:۵۵۲ ان امام مالک کالتلمیذلابی حنیفة ولذامال اصحابنا الی بعض اقواله ضرورة کمافی دیباجة المصفی القهستانی،انتهی ملخصاوقال الطحطاوی:وجازللحنفی ان یفتی بمذهب مالک انتهی وایضا،وقال الشامی فی کتاب القضاء ذیل قول المصنف لایقضی علی الغائب عن الفتح

القدیرمن باب المفقودولایجوزالقضاء علی الغائب الااذارای القاضی مصلحته فی الحکم له وعلیه فحکم بانه مجتهدفیه الخ قلت وظاهره ولوکان القاضی حنفیة ولوفی زماننا ولامنافی مامرلان تجویزهذاللمصلحة والضرورة وایضاقال الشامی فی جلدالخامس ۱۱۰ وموضع الضرورة مستثناة من قواعدالشرع انتهی،ایضاقال الشامی فی الجلدالخامس ۳۶فی عدم جوازالاستیجارعلی الطاعة بعد نقل اقوال العلماء فهذاالمجموع ما افتی به المتاخرون من مشائخناوهم البلخیون علی خلاف فی بعضه المخالفین ماذهب الیه الامام وصاحباه وقداتفقت کلمتهم جمیعًا فی الشروح والفتاوی علی التعلیل بالضرورة انتهی.

وشاه عبدلعزیزدهلوی درفتاوی عزیزی گفته :اگرحنفی المذهب درضیقي مبتلاء شودکه گزاره بدون مذهب شافعی نماندعمل برمذهب شافعی نمایدمثل احکام میاه دراین دیاریااحکام مفقودانتهی(۱:۱۸۴)-

ازمولوی نیازالدین صاحب اتکی دوآبه هشنگر

لیکونکی:مرزاعبدالغفارکوکاروی سوات ستهیته۱۹۴۱ء۱۸\۱۲

المستفتی: مولانا اقبال علی حقانی منگلورسوات..........۲۰۰۲ء۳۱\۱۱۲

الجواب: وبالله التوفیق:نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد!فقدرایت رسالة ''الحکم المحمودفی مسئلة المفقود،،تفصیلافوجدتهاموافقة لمافی الحیلة الناجزة لشاه اشرف علی التهانوی،حیث افتی علماء الاعلام فی هذه المسئلة بمذهب مالک، وقال شیخنا الزروبوی فی البشری لارباب الفتوی:لماکان الافتاء علیه عندالضرورة من اصول الحنفیه کان الحکم المبنی علیه ایضامذهب الحنفیه لابتناءه علی قواعدهم کماصرح به العلامة الشامی فی شرح عقودرسم المفتی فیما اذا خالف فیه الاصحاب امامهم الاعظم.(انظرالبشری لارباب الفتوی۳۷)وقال شیخنا زروبوی دامت برکاتهم بعدمطالعة هذه الرسالة:انه لابدفی هذه المسئلة من

قضاء القاضی المسلم اوحکم جماعة العلماء وعامة المسلمین ولایصح الاکتفاء بالافتاء فقط فنقول هذه الرسالة صحیحة وموافقة لمذهب الحنفیة واصول الفقه. وهوالموفق

الجواب الصحیح

محمدفرید عفی عنه

لیکونکي محمدوهاب منگلوری عفی عنه

دارالافتاء دارالعلوم صدیقیه زروبی(صوابی) ۲۰۰۲ء۱۵\۲

فصل فی العنین

د هیجړا د پاره واده جائز او ښځې ته د تنسیخ نکاح حق حاصل دي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیو جینئ رشته دیو شریف ځوان اوکړې شوه. وروسته دارازافشاء شوچه دا ځوان داول نه ډاکټر د واده ناقابل ګنړلې وو چه دا **unfit** دې اوکه چرې واده اوکړی نو اولاد به ئې هرګز نه کیږی. لیکن دجینئ والائې په دهوکه کښې واچول اوخبره ئې پټه کړه رشته ئې اوکړه ددې واده څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدزکریا آصف مسلم بازارډی آئ خان........ ۳۰/۱۷/۱۹۸۲ء

الجواب: هیجړاته واده کول ناجائزنه دي لیکن هغه ښځې ته دتنسیخ نکاح حق حاصل دي﴿۱﴾ ډیرځله د ډاکټرانو تشخیص غلط ثابت کیدې شی بس دې معاملې ته دهوکه اوفریب نه شی وئیلې﴿۲﴾-وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحداد الیمنی: قوله: فان کان عنینا اجله الحاکم حولا کاملا فان وصل الیها والا فرق الحاکم بینهما ان طلبت المرأة ذلک هذا اذا لم تکن رتقا اما اذا کانت رتقا فلا خیار لها الخ.

(الجوهرة النیرة ۲:۹۰ قبیل کتاب الرضاع)

﴿۲﴾ یدل علیه ما قال العلامة ابن نجیم: لکن قالوا فی العنین لوادعی الوطء وانکرت وقلن بکر خیرت وان قلن: ثیب فالقول له لکونه منکرا استحقاق الفرقة علیه والاصل السلامة من العنة.

(الاشباه والنظائر ۶۵ قاعدة الاصل العدم)

د نامرد یعنی د عنین د تنسیخ نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه کس خپله لور د یوکس سره واده اوکړو. یوکال پس پته اولګیده چه هلک نامرددي. هلک ته د جینئ والدینو اووئیل چه جینئ رهاکړې. اوداهلک جینئ ته دنان نفقې انتظام هم نه شی کولې اوطلاق هم نه ورکوی. اوس دې جینئ ته به خاوند طلاق ورکوی یاحاکم؟ بینوا توجروا

المستفتی: حفیظ الله تجوړی لکی مروت........ ۱۷/۶/۱۹۲۹ء

الجواب: که چرې داکس واقعی نامردوی اوښځې ته دنکاح نه مخکښې دهغه د نامردئ علم نه وی اوښځې دنامردئ معلوم کیدلونه پس درضاتصریح نه وی کړې مثلادائې نه وی وئیلی چه هرڅنګه وی اوس خوبه زه دهغه سره زندګی تیروم. اودنکاح نه پس یوځل ئې هم جماع نه وی کړې نوحاکم به ور ته دیوکال علاج دپاره مهلت ورکوی که چرې دمهلت باوجودجماع او نه کړې شی او ښځه دده سره په اوسیدونه وی راضی نوکه چرې داخاوند طلاق نه ورکوی نو مسلمان حاکم دنکاح فسخ(طلاق)کولې شی اوپه شریعت کښې د اطلاق او فسخ منظورده﴿۱﴾ فلیراجع الی الهندیة ۲:۱۵۶﴿۲﴾........

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: دعنین ښځې ته دخپل خاوند نه دجداکیدو اختیار څه شرائطوسره حاصلیدې شی، (۱) دنکاح نه مخکښې ښځې ته دخاوند د عنین کیدو علم نه وی. (۲) دنکاح نه پس ئې یوځل هم دې ښځې سره جماع نه وی کړې (۳) کله نه چه دې ښځې ته دخاوند د عنین کیدو خبرشوې دې دهغه وخت نه ښځې دده سره په اوسیدو باندې رضا نه وی ښکاره کړې (۴) کله چه د پوره کال موده تیریدو نه پس قاضی ښځې ته اختیارورکړی نوښځه هم په دغه مجلس کښې جدائی اختیارکړی (۵) دا ټول امور د قاضی د قضاء محتاج دی دقاضی دحکم نه بغیر ښځې ته پخپله د جداکیدو اختیار نشته الخ........(الحیلة الناجزة ۷۴ حکم زوجه عنین)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: اذا رفعت المرأة زوجها الی القاضی ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

........ورد المحتار ۲: ۹۷۷﴿۱﴾ والدر المختار ۲: ۹۸۱﴿۲﴾ والهداية باب العنين ﴿۳﴾. وهو الموفق

(بقيه حاشيه) وادعت انه عنين وطلبت الفرقة فان القاضى يسأله هل وصل اليها اولم يصل فان اقر انه لم يصل اجله سنة سواء كانت المرأة بكرا ام ثيبا وان انكر وادعى الوصول اليها فان كانت المرأة ثيبا فالقول قوله مع يمينه انه وصل اليها......وبعد صفحة...... ان اختارت الفرقة امر القاضى ان يطلقها بائنةً فان ابى فرق بينهما هكذا ذكر محمد رحمه الله فى الاصل والفرقة تطليقة بائنة كذا فى الكافى.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۵۲۴ الباب الثانى عشر فى العنين)

﴿۱﴾ قال العلامة الشامى: (قوله على جماع فرج زوجته) اى مع وجود الآلة سواء كانت تقوم اولا اخرج الدبر فلا يخرج عن العنة بالادخال فيه خلافا لابن عقيل من الحنابلة معراج لان الادخال فيه وان كان اشد لكنه قد يكون ممنوعا عن الادخال فى الفرج لسحر...... لكن قولهم لو رضيت به فلا خيار لها ينافيه وله نظير ان احدهما لو خرب المستأجر الدار الثانى لو اتلف البائع المبيع قبل القبض اى فانه ليس له فسخ الاجارة ولا الرجوع بالثمن.

(ردالمحتار ۲: ۶۴۳ باب العنين وغيره)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: ولو وجدته عنينا هو من لا يصل الى النساء لمرض او كبر او سحر...... او خصيا...... اجل سنة لا شتما لها على الفصول الاربعة ولا عبرة بتأجيل غير قاضى البلدة الخ.

(الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲: ۶۴۵ مطلب لفک المسحور والمربوط)

﴿۳﴾ قال العلامة المرغينانى: واذا كان الزوج عنينا اجله الحاكم سنة فان وصل اليها فبها والا فرق بينهما اذا طلبت المرأة ذلک هكذا روى عن عمر وعلى وابن مسعود ولان الحق ثابت لها فى الوطى ويحتمل ان يكون الامتناع لعلة معترضة ويحتمل لآفة اصلية فلا بد من مدة معرفة لذلک وقدرناها بالسنة لاشتمالها ......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

عنه (د نامردۍ) په صورت کښې د يوکال مهلت نه بغير تنسيخ نکاح منظورنه ده

سوال: څه فرمائی علماء دين ددې مسئلې په باره کښې چه يوښځې دخپل خاوند خلاف دتنسيخ نکاح دعوی داسې اوليکله چه زما خاوند نامرد دې اود حق زوجيت اداکولو قابل نه دې، عدالت مدعی عليه طلب کړو مګرهغه قصداً حاضرنه شو، عدالت يوطرفه کاروائی اوکړه دتنسيخ نکاح فيصله ئې اوکړه، آيا موجوده عدالتونوته دتفريق بين الزوجين حق حاصل دې څنګه چه شرعی عدالت کښې قاضی ته حاصل دی؟ بينوا توجروا

المستفتی: حافظ غلام رسول ناظم جميعت علماء السلام
تهنه کوئی صوابی ۲۲/۱۲/۱۹۷۳ء

الجواب: مسلمان جج وغيره باقاعده تنسيخ نکاح کولې شی اودضرورت په وخت يوطرفه کاروائی هم کولې شی (والتفصيل فی الحيلة الناجزة) ﴿۱﴾ ليکن

(بقيه حاشيه) على الفصول الاربعة فاذا مضت المدة ولم يصل اليها تبين ان العجز بآفة اصلية ففات الامساک بالمعروف ووجب عليه التسريح بالاحسان فاذا امتنع ناب القاضى منا به ففرق بينهما ولا بد من طلبها لان التفريق حقها وتلک الفرقة تطليقة بائنة الخ.

(هداية ۲: ۳۹۹ باب العنين وغيره)

﴿۱﴾ وفى الحيلة الناجزة: د ارسال الى الغائب دپاره شهادت شرط کيدل په کتاب القاضی الی القاضی باندې قياس کولو سره ليکلی شوی دی حالانکه دلته هيڅ يوه فيصله د قضاء ديو طرف نه بل طرف ته نهٔ منتقل کيږی بلکه صرف د دومره خبرې تحقيق او ثبوت مطلوب دې چه دقاضی په عدالت کښې د مقدمې پيش کولو اطلاع هغهٔ ته داسې صورت سره اوشی چه په هغې باندې يقين يا ظن غالب اوشی په دې وجه کوم صورت کښې چه ارسال الی الغائب متعذر او ناممکن وی هلته د ارسال د خبر نه هم فيصله د تفريق صادر کول په مالکی مذهب کښې مصرح دی ....که چرې ارسال الی الغائب اوبيا د غائب دطرفه د تعاذر ثبوت په شرعی شهادت باندې موقوف وې اوددې نه بغير قضاء د قاضی نه نافذ کيده نود تعذر په دې صورت کښې هم د قضاء د نفاذ هيڅ معقوله وجه نه شوه کيدې، ددې نه معلوميږی چه د قضاء دنفاذ په دې باندې مدار نشته....الخ

(الحيلة الناجزة ۷۵ تحت مبحث حكم زوجه متعنت)

چونکه په صورت مسئوله کښې داتنسیخ دیو کال مهلت ورکولونه وړاندې دې لهذاداتنسیخ شرعامنظورنه دې﴿۱﴾وهو الموفق

نامرد که ښځې په طلاق یا خلع باندې راضي نه وي نوښځه باقاعده تنسیخ نکاح کولې شي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس درې کاله وړاندې دیوجینۍ سره نکاح کړې وه.دې نه پس دې کس ډیرعلاج اوکړو لیکن معلومه شوه چه دانامرددې اوپه مذکوره درې کالوکښې داپه حقوق زوجیت اداکولونه دې قادرشوې ایاددې کس ښځه ددې کس نه جداکیدې شي؟ ‹د سی ایم ایچ مری د ډاکټرصاحب سند نامردۍ ورسره لګیدلې دې.بینوا توجروا

المستفتی: نورافضل خان مری......۱۹۸۵ء/۱۰/۱/۴

الجواب: په صورت مسئوله کښې که چرې داخاوند طلاق ورکولو یاخلع کولوته تیارنه دې نوداجینۍ دمسلمان جج په ذریعه باقاعده تنسیخ نکاح کولې شي﴿۲﴾.وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی:ولو وجدته عنینا هو من لا یصل الی النساء لمرض او کبر او سحر...... اجل سنة لاشتمالها علی الفصول الاربعة...... فان وطئ مرة فبها والا بانت بالتفریق من القاضی ان ابی طلاقها بطلبها الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۴۵، ۶۴۷ باب العنین وغیره)

﴿۲﴾قال الشیخ الغنیمی المیدانی: وان کان الزوج عنینا وهو من لا یصل الی النساء یصل الی الثیب دون الابکار...... فهو عنین فی حق من لا یصل الیها فاذا رفعته الی الحاکم اجله الحاکم المولی حولا تاما لاشتماله علی الفصول الاربعة فان وصل الیها مرة فی ذلک الحول فبها والا فرق القاضی بینهما ان طلبت المرأة ذلک وابی الزوج الطلاق.

(اللباب فی شرح الکتاب ۳: ۱۵۸ کتاب النکاح)

د مقطوع الذکر (مجبوب) خاوند حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه دیو کس اله تناسل کټ شوې دې بالکل ترآخری حصی پورې نشته دې ایاددې کس ښځه دده نه جدائی اختیارولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: سیدنواب نریاب هنګو........۱۹۷۲ء/۱۲/۱۳

الجواب: مقطوع الذکرچه په جماع باندې قادرنه وی بغیر دځه مهلت ورکولونه قاضی ددوئ په مینځ کښې تفریق کولې شی.په دې شرط چه ښځه مطالبه کوی،وفی الدرالمختار اذاوجدت المراة زوجها مجبوباًاومقطوع الذکرالخ فرق الحاکم بطلبها بینهما فی الحال﴿۱﴾.وهو الموفق

په رسم.سوره. کښې معمرکس ته د ورکړې شوې جینۍ په صورت کښې د عنین مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه قاتل پلار د مصالحت په وجه خپله نابالغه لور پنځه پنځوس کاله بوډاته ورکړه.نکاح هم اوتړلې شوه اوس داکس دبوډاوالی په وجه باندې مجامعت باندې هم قادر نه دې، نوایادې جینۍ ته به بعد البلوغ خیاردفسخ حاصل وی؟ اودا پلاربه معروف په سوء الاختیاروی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغفور نوشهره........۱۹۸۲ء/۱۷/۱۱/۳

الجواب: دا اقدام سوء الاختیارنه دې ځکه چه ددې منشامصلحت دې لالچ نه دې﴿۲﴾البته که چرې دامعمرددې دنهو کالوجینۍ په صحبت باندې قدرت نه

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۴۴ باب العنین وغیره)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: والحاصل ان المانع هو کون الاب مشهورا بسوء الاختیار قبل العقد فاذا لم یکن مشهورا بذلک ثم زوج بنته من فاسق صح وان تحقق بذلک انه سیئ الاختیار واشتهر به عند الناس فلو زوج بنتا اخری من فاسق لم یصح الثانی لانه کان مشهورا بسوء الاختیار قبله بخلاف العقد الاول لعدم وجود المانع... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه

لری نو په دې بوډا باندې دعنین احکام جاری کیږی﴿۱﴾-وهو الموفق

د هیجړا سره د نکاح په صورت کښې د تنسیخ نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه ددوؤ یادرې کالونه دیو جینئ واده دهیجړا (خنثٰی) سره شوی،دې کس خپلو رشته دارانو ته دواده نه وړاندې وئیلی وو چه زه دواده لائق نه یم بلکه پیدائشی (خنثٰی، هیجړا) یم لیکن ددې باوجود ده ته واده اوکړې شو اوس دشریعت مطابق ده ته څه حکم دې او جینئ هم دده دهیجړا کیدو ثبوت ورکوی یعنی دواړه ثبوت ورکوی اوس ددوې دجدایئ دپاره شرعا څه طریقه ده؟بینوا توجروا

المستفتی: مولاناعبد الحلیم صاحب خطیب دروازه هزاره.۱۹۶۹ء\۴\۲۶

الجواب: دې نامردته ضروری ده چه په طلاق یاخلع باندې راضی شی ګینې په ذریعه دمسلمان حاکم باقاعده طلاق حاصل کړې شی﴿۲﴾-وهو الموفق

(بقیه حاشیه) قبله ولو کان المانع مجرد تحقق سوء الاختیار بدون الاشتهار لزم احالة المسئلة اعنی قولهم ولزم النکاح ولو بغبن فاحش او بغیر کفء ان کان الولی ابا او جداً.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲ : ۳۳۰ باب الولی)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: العنین هو...... من لا یقدر علی جماع فرج زوجته یعنی لمانع منه ککبر سن او سحر اذالرتقاء لاخیار لها للمانع منها الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۶۴۴ باب العنین وغیره)

﴿۲﴾ قال العلامة الموصلی الحنفی: والعنین الذی لا یصل الی النساء او یصل الی الثیب دون الابکار او یصل الی غیر زوجته ولا یصل الیها وتکون العنة لمرض او ضعف او کبر سن او من اخذ بسحر فاذا کان الزوج عنینا وخاصمته المرأة فی ذلک اجله القاضی سنة فان وصل الیها والا فرق بینهما ان طلبت المرأة ذلک......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د عقیم کس نه د تنسیخ نکاح مطالبه صحیح نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کښې چه یو کس په جماع باندې قادر دې لیکن دډاکټرې رپورټ مطابق دده ماده منویه د اولاد پیدا کولو صلاحیت نه لری،او ښځه دبچی پیدا کولو صلاحیت لری ایا ښځه د فسخ نکاح مطالبه کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګل نوازدی آئ خان.........۱۹۷۵ء\۳\۲۵

الجواب: اولاد ورکول او نه ورکول دالله تعالی په قدرت کښې دی﴿۱﴾ او خاوند چه کله په جماع باندې قادر وی نو عدم صلاحیت داولاد څه داسی عیب نه دې چه دهغې په وجه ښځه تنسیخ نکاح اوکړی او نه دحاکم داتنسیخ کول منظور دې-وهو الموفق

(بقیه حاشیه) لان لها حقاً فی الوطء فلها المطالبة به ویجوز ان یکون ذلک لمرض ویحتمل ان یکون لآفة اصلیة فجعلت السنة معرفة لذلک لاشتما لها علی الفصول الاربعة...... فاذا مضت السنة ولم یصل الیها علم انه لآفة فتخیر فان اختارت نفسها قال ابو یوسف ومحمد بانت وهو ظاهر الروایة وروی الحسن عن ابی حنیفة لا تبین الا بتفریق القاضی وهو المشهور من مذهبه...... وله ان النکاح عقد لازم وملک الزوج فیه معصوم فلا یزول الا بازالته دفعا للضرر عنه لکن لما وجب علیه الامساک بالمعروف او التسریح بالاحسان وقد عجز عن الاول بالعنة ولا یمکن القاضی النیابة فیه فوجب علیه التسریح بالاحسان فاذا امتنع عنه ناب القاضی منا به لانه نصب لدفع الظلم فلا تبین بدون تفریق القاضی فاذا فرق یصیر کانه طلقها بنفسه فتکون تطلیقة بائنة لیحصل مقصودها وهو دفع الظلم عنها بملکها نفسها ویشترط طلبها لان الفرقة حقها. (الاختیار لتعلیل المختار ۲ : ۱۵۰ فصل فی العیوب التی یثبت بها الخیار)

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ: یهب لمن یشاء اناثاً ویهب لمن یشاء الذکور، او یزوجهم ذکرانا واناثا ویجعل من یشاء عقیما، انه علیم قدیر. (سورة الشوریٰ آیت: ۴۹، ۵۰ پاره: ۱۵)

مجموع الفتاوی

مشهوره په

مسائل رفعت قاسمی

مکمله او مدلـــه

د قرآن اوسنت په رنړا کښې

د دارالعلوم دیوبند د لویو مفتیانو
او علماء کرامو تصدیق سره

تالیف

حضرت مولانا محمد رفعت قاسمی صاحب
مفتی ومدرس دارالعلوم دیوبند

ناشر

مکتبـــه رشـــیدیه

سردار پلازه اکوړه خټک